الثمر المستطاب فی فقه السنة والکتاب

فتاوی الدین الخالص

پښتو

۳

تالیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

لاتنسونا من صالح دعائکم - موقع دین الحق

فتاوى الدين الخالص

{الثمرالمستطاب فی فقة السنة والکتاب }

تألیف

فضیلة الشیخ علامه ابومحمد امین الله پیشاوری حفظه الله

مترجم

فضیلة الشیخ ابوسلمان حضرت محمد حفظه الله

دریم جلد

(پښتو)

ناشر

کانال تلگرام مکتبة منهاج السنة

(@Mbmenhajsa96)



بسم الله الرحمن الرحيم

إِن الـحـمـد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا، من يهـده الله فـلا مضل له، ومن يضلل فلا هادی له، واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له، واشهد ان محمدا عبده ورسوله.

اما بعد : د الله پـه فضل سره کله چه د [**فتـاوی الدين الخالص**] دوه جـلدونه د طالب عـلـمـانـو او عـلـمـاؤ لاس تـه ورغـلـل او هغوئ قبول او خوښ کړل، نو ما نه هغه مخلصو ورونو چه هغوئ صحيح دين خوښوی، غوښتنه وکړه چه زه دريم جلد فتاویٰ تياره کړم او د چاپ کـولـو اراده ئے وکـړم۔ او مقصد به داوی چه مونږ ټول د الله پيغام په صفا سوتره او واضحے طريقے سره خلکو ته ورسوو۔

او دعـوت لکه څنګه چه په ژبه سره وی، داشان په توره او نيزه، قلم او ګوتو سره هم وی۔ بـلـکـه الله سبـحـانـه وتـعـالیٰ هـغـه دعـوت تـه چه په قرآن سره وی، لوئے جهاد ويلے۔ لکه فرمائی: ﴿ وَجَاهِدُهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا﴾ (ددے قرآن په ذريعه خلکو سره لوئے جهاد کوه)۔

بيـا هـر دعـوت تـه جـهـاد نـهٔ ويلے کيږی۔ جهاد هغه دعوت ته ويلے کيږی چه په قرآن او صحيح حديث سره وی۔ دے وجے نه د علم او پوهے خاوندانو له پکار دی چه خپل علم د الله د هـغـه بـندګانو ترمينځه خور کړی چه هغوئ ديته ډير زيات حاجت لری، په دے وجه چه په دوئ باندے ناپوهئ او دنيا ډيره غلبه کړے۔

پـه دے وخت کښے پـه عـامـو ملکونو کښے د مسلمانانو نه صحيح دين پټ شوے دے، سره ددے چه کتابونه او تصنيفونه ډير زيات دی۔ زما په خيال ددے دوه سببه دی :

۱ – **اول** : مسـلـمـانـان شـرعی علم ته ډيره کمه توجه کوی، خلك په خواهشاتو او دنيا کښے ډيـر زيـات ورنـنـوتی دی۔ دوئ سره دومره وخت نشته چه شرعی علم په کښے طلب کـړی۔ او د ډيـرو خـلـکـو خـو دا خيـال دے چـه عـلـم بـه صرف هغه خلك طلب کوی چه د هغوئ نهٔ کور کلے وی او نهٔ دکان۔ حالانکه دا خيال سراسر غلط دے۔ علم طلب کول په هر

مسلمان باندے فرض دی، لکه دا خبره په صحیح حدیث کښے راغلے۔
۲ – دویم : علماء او طالبان په عامه توګه خپله عقیده، علم او عمل د صحیح ځائے، مصدر او مرجع نه نۀ اخلی چه هغه قرآن او صحیح حدیث دے۔ بلکه دوئ دا د مقلدینو د کتابونو او د خپل هغه مذهب د کتابونو نه اخلی چه هغه ئے د خپل ځان دپاره د خپل طرفه مقرر کړے۔ په دے کښے دوئ د صحیح او ضعیف، راجح او مرجوح ترمینځه فرق او تمیز نۀ کوی۔ حالانکه دا کار په هر مفتی او عالم باندے واجب دے۔ او هم دیته علم ویلے کیږی۔ علم دا نۀ دے چه یو عالم یا مفتی صاحب صرف د خپل مذهب د کتاب نه مسئله رانقل کړی۔
ډیر علماء داسے دی چه هغوئ ته په مسئله کښے د امامانو یا د خپل امام یا د بعضے مقلدینو اقوال یاد وی خو د دغه مسئلے دپاره د صحیح دلیل پیژندلو نه ناخبره وی، ددے باوجود دغه صاحب دا ګمان کوی چه ګنے دا محقق عالم دے۔ حالانکه دا کس د علم او معرفت نه ډیر لرے وی۔
دے وجے نه مونږ په دے مبارکه فتاویٰ کښے دا التزام کړے چه حتی الوسع به مونږ شرعی حکم په شرعی دلیل سره نقل کوو۔ دے دپاره چه په دے باندے عمل کونکے او دے ته دعوت کونکے او په دے باندے فتویٰ ورکونکے په بصیرت باندے روان وی۔
د لوئے الله نه غواړم چه دا کتاب د هغۀ د عزتمند مخ دپاره وګرځوی او ماته او زما ملګرو او دوستانو او ټولو مسلمانانو ته په دے کتاب سره په خپل فضل او کرم سره نفع ورکړی، او الله تعالیٰ دا په خپل دربار کښے او د خلکو ترمینځه مقبولِ عام وګرځوی۔
دا جلد – د مخکنو دوه جلدونو پشان – په ځینے مهمو عقائدو، کتاب الحیض او کتاب الصلاة باندے مشتمل دے۔

ستاسو ورور

ابو محمد امین الله البشاوری۔

ربیع الاول : ۳/۱۹/ ربیع الاول/۱۴۱۹هـ

یوم الخمیس مسجد حمزه پیښور۔



كتاب العقيدة

د عقيدے د مسائلو بيان

د ايمان خوند او حقيقت ته رسوونكى خويونه

۴۳۲ - **سوال** : هغه كوم خويونه دى چه د هغے په وجه بنده د ايمان حقيقت ته رسيږى او د ايمان خوند مومى ؟

جواب : دے مسئلے تـه هر مسلمان محتاج دے۔ زۀ اوس په دے مسئله كښے راغلى حديثونه ذكر كوم، دے دپاره چه الله رب العزت مونږ او ټولو مسلمانانو له په هغے باندے د عمل كولو توفيق راكړى۔

۱ - **انس بن مالك** رضي الله عنه فرمائى : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : (د هيڅ يو بنده ايمان تر هغه وختـه پورے برابريدے نشى تر څو چه د هغۀ زړۀ سم شوے نۀ وى۔ او تر هغه وخته پورے ئے زړۀ نـه سميږى تر څو چه ژبه ئے سمه شوے نۀ وى۔ او جنت ته به هغه سړے نه ځى چه ګاونډے د هغۀ د تكليفونو نه په امن نۀ دے)۔

(احمد : ۱۹۸/۳، ابن ابى الدنيا فى الصمت ص : ۳۸)۔

ددې حدیث په سند کښې ضعف دې ځکه په دې کښې علی بن مسعدة راوی راغلې چه دهٔ ته یوې ډلې د محدثینو ضعیف ویلی دی او نورو ورته ثقه ویلی. په دې سند کښې د حسن کیدو احتمال شته دې.

[الترغیب : ٣/٥٢٧، مجمع الزوائد : ١/٥٣].

٢ – انس رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوی : (هیڅ یو بنده تر هغې پورې د ایمان حقیقت ته نشي رسیدې تردې چه خپله ژبه کنټرول کړی).

[الطبرانی فی الصغیر والأوسط، الترغیب : ٣/٥٢٦، مجمع الزوائد : ١٠/٣٠٢).

په دې سند کښې داؤد بن هلال دې. ابن ابی حاتم ددهٔ حالات ذکر کړی دی خو په دهٔ کښې ئې د ضعیف والی تذکره نه ده کړې.اوباقی راویان ئې د بخاري او مسلم راویان دی.

٣ – ابو الدرداء رضی الله عنه فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل : (هیڅ یو بنده د ایمان حقیقت ته تر هغې پورې نشي رسیدې تر څو چه دا وپیژنی چه کوم شې دهٔ ته ورسیدهٔ هغه ددهٔ نه خطا کیدونکې نهٔ وو. او کوم شې چه ددهٔ نه خطا شو هغه دهٔ ته رسیدونکې نهٔ وو).

[أخرجه البزار، مجمع الزوائد : ١/٥٨، انظر الصحیحة : ٥/٦٠٧،ابن عاصم رقم : ٢٤٦).

بزار ددې حدیث سند ته حسن ویلی.

په الصحیحة کښې دی : (د هر یو شئ دپاره یو حقیقت وی او انسان تر هغې پورې د ایمان حقیقت ته نشي رسیدې تر څو چه دا وپیژنی چه کوم شې دهٔ ته ورسیدهٔ هغه ددهٔ نه تیروتونکې نهٔ وو، اوکوم شې چه ترې تیروتو هغه ورته رسیدونکې نهٔ وو).

٤ – عمرو بن الحمق رضی الله عنه فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (هیڅ یو بنده تر هغې پورې د ایمان حقیقت ته نشي رسیدې تر دې چه د هغهٔ غصه د الله دپاره وی او د هغهٔ خوشحالیدل د الله دپاره وی. کله چه دا کار وکړی نو د ایمان د حقیقت حقدار شو. او بیشکه زما ملګری او دوستان هغه خلك دی چه هغوئ زما په یاد باندې یادیږی او زهٔ د هغوئ په یاد باندې یادیږم).

[الطبرانی فی الاوسط، مجمع الزوائد :١/٥٨).

ددې حدیث په سند کښې رشدین بن سعد دې. او په دهٔ کښې خبرې اترې شته دې. او ددې حدیث معنیٰ صحیح ده.

٥ - ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :
[لَا يُؤْمِنُ الْعَبْدُ الْإِيمَانَ كُلَّهُ حَتّٰى يَتْرُكَ الْكَذِبَ فِي الْمَزَاحَةِ وَالْمِرَاءِ وَإِنْ كَانَ صَادِقًا].
(هیڅ یو بنده تر هغه وخته پورے پوره مؤمن کیدے نشی تر څو چه په ټوقو او جګړه دواړو کښے دروغ پریدی اګرکه رشتینے هم وی).
[احمد : ٢/٣٥٢، الطبرانی فی الاوسط، وسنده جید : ٢/٩٢].
٦ - عمر بن خطاب رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (بنده تر هغه وخته پورے خالص ایمان ته نشی رسیدے تر څو چه خوش طبیعتی او دروغ پریدی. او جګړے پریدی اګرکه په حقه هم وی).
[رواه أبو یعلیٰ فی الکبیر، المجمع : ١/٩٢].
ددے حدیث سند د محمد بن عثمان او سلیمان په وجه ضعیف دے. هیثمی رحمه الله فرمائی : ما څوك نه دی لیدلی چه ددے دواړو تذکره ئے کړے وی.
(وانظر المطالب العالیة رقم : ٢٨٩٥).
٧ - انس رضي الله عنه نه روایت دے، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (بنده تر هغه وخته پورے د ایمان خوند نشی موندلے تر څو چه دا ویپژنی چه کوم شے دۀ ته ورسیده هغه دده نه بچ کیدونکے نۀ وو، او کوم شے چه ددۀ نه بچ شو هغه دۀ ته رسیدونکے نۀ وو).
(ابن ابی عاصم ٢٤٧، الصحیحة :٥/٥٦٨).
٨ - عمرو بن شعیب د خپل پلار په واسطه د خپل نیکۀ نه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد نقل کوی چه : (هیڅ یو بنده تر هغے پورے مؤمن کیدے نشی تر څو چه په ښۀ او بد تقدیر باندے ایمان ولری، او تر څو چه دا ویپژنی چه کوم شے دۀ ته ورسیدۀ هغه ددۀ نه بچ کیدونکے نه وو او کوم شے چه ددۀ نه بچ شو هغه دۀ ته رسیدونکے نۀ وو).
[الترمذی :٢/٢١، وابن عدی فی الکامل ١/٢١٧].
٩ - عیسیٰ ابن مریم علیه السلام فرمائی : (مونږ د ایمان حقیقت ته تر هغے پورے نشو رسیدے تر څو چه مونږ دا باك ونه کړو چه دنیا چا وخوړله).
[البدایة والنهایة : ٢/٨١].
١٠ - عمار بن یاسر رضي الله عنه فرمائی : (درے خویونه دی، څوك چه دا راجمع کړی نو هغۀ د

ايمان خويونه راجمع کړل. (۱) د غريبئ باوجود خرچ کول. (۲) خپل ځان نه انصاف غوښتل. (۳) هر چاته سلام کول، که پيژني ئے اوکه نه).

[الطبراني، مجمع الزوائد : ۵۷/۱، مرفوعًا، ورواه البخاري : ۹/۱، تعليقًا].

۱۱ – ابن مسعود رضي الله عنه **فرمائی :** [اَلصَّبرُ نِصفُ الاِيمَانِ وَاليَقِينُ الاِيمَانُ كُلُّهٗ].

(صبر نيمائی ايمان دے او يقين پوره ايمان دے).

[الطبراني، مجمع الزوائد : ۵۷/۱، وذكره البخاري في صحيحه تعليقًا].

۱۲ – حارث بن مالك انصاري رضي الله عنه **نه روايت دے چه دے په نبی اکرم ﷺ باندے ورتير شو نو هغوئ ورته وفرمايل : حارثه په څه حالت کښے دے صبا کړو ؟ هغهٔ ويلے : د ايمان په حالت کښے مے صبا کړو. نبی ﷺ وفرمايل : سوچ کوه څه وائے ؟ ځکه د هرے خبرے يو حقيقت وی نو ستا د ايمان حقيقت څه دے ؟ هغهٔ ويلے : ما د دنيا نه ځان غائب کړے دے نو خپله شپه مے شوګير کړے او خپله ورځ مے تږے کړے ده. او ګوياکه زهٔ د خپل رب عرش وينم چه ښکاره دے. اوګوياکه زهٔ جنتيان خلك وينم چه هغوئ په دے کښے د يو بل سره ملاقات کوی. اوګوياکه زهٔ دوزخيان وينم چه په هغے کښے چغے او سورے وهی. نبی ﷺ ورته وفرمايل : حارثه ! تهٔ پوهه شوے ئے دا کار ټينګ کړه).**

[الطبراني في الكبير، كما في المجمع : ۵۷/۱].

امام هيثمیؒ فرمائی : په دے حديث کښے ابن لهيعه او نور داسے راويان شته دے چه د هغوئ احوال کتل پکار دی.

۱۳ – د بخاری او مسلم حديث دے چه نبی اکرم ﷺ فرمائی :

[اَلمُسلِمُ مَن سَلِمَ المُسلِمُونَ مِن لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ].

(مسلمان خو هغه دے چه د هغهٔ د لاس او د ژبے د ضرر نه نور مسلمانان په امن وی).

۱۴ – دا رنګه په دے کښے دا هم دی چه : [وَالمُؤمِنُ مَن اَمِنَهُ النَّاسُ عَلٰی دِمَائِهِم وَاَموَالِهِم] **(او مومن هغه څوك دے چه نور خلك د خپلو وينو اومالونو په باره کښے دهٔ نه بيغمه وی).**

[بخاری، مسلم، مشکاة : ۱۵/۱].

په دے مضمون باندے نور حديثونه هم شته. الله تعالی دے مونږ او تاسو له په دے باندے د عمل کولو توفيق راکړی. آمين.

په خوب کښې الله ليدل او د هغې قِسمونه

۴۳۳ - **سوال** : الله تعالیٰ په خوب کښې ليدل ممکن دی که نه ؟

جواب : په آخرت کښې د الله تعالیٰ ليدل خو خامخا ممکن دی. چه دده نه صرف ظالمان خلك انکار کوی. او هر چه په دنيا کښې د نبی اکرم ﷺ الله تعالیٰ لره ليدل دی نو دا د صحابه کرامو ترمينځ يوه اختلافی مسئله وه. چا ويلې نبی اکرم ﷺ د معراج په شپه الله ليدلے او چا ويلې چه نه ئے دے ليدلے.

او هرچه په خوب کښې د الله سبحانه وتعالیٰ ليدل دی (نبی وی که غير نبی) نو په دے باره کښې بعضے آثار راغلی دی :

(عبد الرحمن بن عائش رضی الله عنه نه روايت دے دا فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : [رَأَيْتُ رَبِّی فِیْ أَحْسَنِ صُوْرَةٍ قَالَ : فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْاَعْلیٰ......الحديث] (ما خپل رب په ډير ښائسته صورت کښې وليدهٔ، ويلې ملأ اعلیٰ په څه کښې بحث او مباحثه کوی ؟ (تر آخره پورے).

[رواه الدارمی : ۵۱/۲، باب فی رؤية الرب سبحانه وتعالیٰ، احمد : ۲۹۰/۱، ۲۸۵/۱، ابن ابی عاصم رقم : ۴۶۷، مشکاة ۷۰/۱ مختصر العلو للذهبی : ۷۹، ص : ۱۱۸].

★ د ابی بن کعب رضی الله عنه ښځه ام الطفيل k فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : (ما په خوب کښې خپل رب د يو رُعبناك ښائسته ځوان په شکل په شين لباس کښې وليدهٔ چه د سرو زرو پيزارئے اچولی وو، د هغهٔ په مخ د سرو زرو پتنګان وو).

[الطبرانی، مجمع الزوائد : ۱۷۹/۷، البيهقی فی الاسماء والصفات ص ۴۴۷].

هيثمیؒ وائی : دا منکر حديث دے. البانیؒ ورته په (تخريج السنة لابن ابی عاصم رقم ۴۷۱) کښې صحيح ويلی. امام بيهقیؒ فرمائی : دا د خوب واقعه ده. په کنز العمال (۱۱۵۲) کښې د ابو زرعهؒ نه نقل دی چه دا صحيح حديث دے. زهٔ وايم : دا په خوب کښې ليدل دی.

★ محمد بن سيرينؒ فرمائی : (چا چه خپل رب په خوب کښې وليدهٔ، جنت ته به ځی).

[رواه الدارمی : ۵۱/۲].

نبراس کښې ورسره دی : (او د غم نه به خلاصيږی).

★ امام احمدؒ فرمائی : ما الله تعالیٰ په خوب کښې وليدهٔ او پښتنه مې ترې وکړه چه د ټولو نه بهترين عبادت کوم يو دے ؟ ورے فرمايل : دقرآن تلاوت۔

[حاشيه شرح العقائد ص ٦٠]۔

★ او په همدے حاشيه کښې دی چه د امام ابو حنيفهؒ نه نقل دی چه هغهٔ سل ځله الله تعالیٰ په خوب کښې ليدلے وو۔

په كنز العمال (۲۲۸/۱) کښې درے حديثونه وګوره۔

ملا علی قاریؒ او مبارکفوریؒ فرمائی : په دے حديث کښې هيڅ اشکال نشته ځکه په خوب کښې ليدونکے کله غير متشکل شے متشکل وينی او کله متشکل شے د خپل اصلی شکل نه سيوا په بل شکل وينی۔

[المرقاة : ۲۰۹/۲، المرعاة : ۲۳٤/۲]۔

په شرح عقائد (ص : ٦٠) کښې دی : او هر چه په خوب کښې ليدل دی نو دا خو د ډيرو سلفو نه نقل دی۔ او دا يو قِسم د زړهٔ مشاهده ده نه د سترګے۔

★ د حمزة القاریؒ نه نقل دی چه هغهٔ په خوب کښې د الله تعالیٰ مخامخ قرآن لوستلے وو۔

★ ابن حجرؒ فرمائی : د تعبير عالمانو د الله عز وجل په خوب کښې ليدل جائز ګڼړلی دی، برابره خبره ده که ليدونکے نبی اکرم ﷺ وی او که د هغوئ نه علاوه بل څوك وی۔ بيا ئے د امام غزالی نه نقل کړی دی چه هغه هم په خوب کښې د الله تعالیٰ د ليدلو قائل دے۔

[كتاب الرؤيا والأحلام ص : ۸۷، وانظر المرقاة : ۲٥/۹]۔

OOOOOOOOOO

اسباب الکفران ونواقض الایمان

د کفر د اسبابو او د ایمان ماتوونکو څیزونو بیان

٤٣٤ - **سوال** : د کفر اسباب څه دی او د یو معین او معلوم شخص کافر کول څه حکم لري ؟ او د معلوم او نا معلوم شخص د کافر ګرځولو ترمینځه څۀ فرق دے ؟ او په چا باندے چه د کفر حکم لګول کیږي هغه کوم کوم دی ؟

جواب : دے مسئلے ته ډیر زیات ضرورت دے ځکه الله تعالیٰ په ایمان کښے دا خبره شرط کړیده چه په طاغوت باندے به کفر کیږي۔ او دا هله حاصلیږي چه کفر او د هغے اسباب وپیژندلے شي۔

نو مونږ وایو : د اسلام ځینے نواقض او ماتوونکي څیزونه په (دویم جلد ، مسئله نمبر : ۱۵) کښے هم ذکر شوي دي۔ دلته مونږ هغه تفصیل سره بیانوو، او ورسره داخبره هم بیانوو چه د یو کس په باره کښے د کفر فتویٰ او فیصله کول ډیر زیات ګران کار دے، ددے نه ځان ساتل پکار دی او په دے میدان کښے جلتي او تادي نه دي کول پکار۔

نو دا اسباب خو ډیر زیات دي :

۱ - **اول** : الله سره د هغۀ په عبادت او بندګئ کښے شریك جوړول۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا یَغۡفِرُ اَنۡ یُّشۡرَكَ بِهٖ وَیَغۡفِرُ مَا دُوۡنَ ذٰلِكَ لِمَنۡ یَّشَآءُ﴾.

(بیشکه الله دا نۀ ښښي چه د هغۀ سره برخه دار جوړ کړے شي او ددے نه سیوا نور ګناهونه ښښي چاته ئے خوښه شي)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِنَّهٗ مَنۡ یُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ فَقَدۡ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَیۡهِ الۡجَنَّةَ وَمَاۡوٰهُ النَّارُ وَمَا لِلظّٰلِمِیۡنَ مِنۡ اَنۡصَارٍ ﴾ (بیشکه چا چه د الله سره برخه دار جوړ کړو نو په دۀ باندے الله تعالیٰ جنت حرام کړے دے او ددۀ ځائے اور دے او د ظالمانو څوك مدد ګار نشته)۔

دا هم په شرك کښے راځي چه څوك د الله نه سیوا بل چاته د نزدیکت دپاره ښاروی ذبح

کوی لکه د پیری یا قبر وغیره دپاره ځاروے ذبح کوی. د شرك اکبر ګنړ قسمونه دی، ددے د تفصیل دپاره د شیخ عبد السلام حفظه الله کتاب : (تنشیط الاذهان)، او مجموعة التوحید د محمد بن عبد الوهاب رحمه الله کتل پکار دی.

۲ – دویم : څوك چه د الله او د بندګانو دپاره واسطے لټوی، هغوئ د خپلو حاجتونو دپاره رابلی، په هغوئ باندے توکل کوی او د هغوئ نه سفارشونه غواړی. دا په اتفاق د علماؤ سره کفر دے.

۳ – دریم : څوك چه مشرکانو ته کافر نه وائی او یا د هغوئ په کفر کښے شك کوی او یا د هغوئ مذهب صحیح ګنړی، دا کس په دے سره کافر کیږی.

٤ – څلورم : څوك چه دا عقیده ولری چه د نبی اکرم ﷺ نه علاوه د بل چا لاره او طریقه ډیره کامله ده. او یا د بل چا حکم او فیصله د هغهٔ د حکم او فیصلے نه زیاته ښه ده. نو دا په دے عقیدے لرلو سره کافر شو. لکه هغه خلك چه هغوئ د طاغوت فیصلے د نبی اکرم ﷺ د فیصلو نه غوره ګنړی.

شیخ ابن باز رحمه الله فرمائی : په دے څلورم قِسم کښے هغه څوك هم داخل دے چه هغه دا عقیده لری چه کوم قوانین او نظامونه خلکو جاری کړی دی هغه د اسلامی شریعت نه غوره دی. او یا دا عقیده ولری چه اسلامی شریعت په شلمه صدئ کښے نشی چلیدے. او یا شریعت د انسانانو د تنزل او پاتے کیدو سبب دے. او یا اسلام د هر چا ذاتی شے دے، د زندګئ په نورو شعبو کښے ددے هیڅ کار نشته. نو دا کفری عقیده ده.

دغه شان په دے کښے هغه څوك هم داخل دے چه هغه وائی : د غل نه لاس پریکول یا زنا کار سنګسارول ددے زمانے سره مناسب نهٔ دی. یا دا عقیده لری چه په معاملاتو یا حدودو یا نورو اړخونو کښے د الله د شریعت نه سیوا په نورو قوانینو باندے فیصله کول جائز دی. اګرکه هغه نور قوانین په شرعی قوانینو باندے غوره نه ګنړی، نو دا هم کفر دے. ځکه چه دے کس په دے عقیده لرلو سره هغه شے حلال وګنړلو کوم چه الله حرام کړے وو. او څوك چه هر هغه شے جائز وګنړی چه هغه الله حرام کړے وی او د هغے حرام والے د دین د ضروریاتو نه وی لکه زنا، شراب، سود او د الله د شریعت نه سیوا په بل شئ باندے فیصله کول. نو دا په اتفاق د مسلمانانو سره کافر دے.

[مجموع مقالات متنوعة : ۱/۱۳۷]۔

٥ – **پنځم : څوك چه د رسول الله ﷺ په راوړى دين كښې يوه خبره هم ناخوښه وګڼړى، اګركه عمل پرې هم كوى، نو دا په اتفاق د علماؤ سره كافر دے۔ ځكه الله تعالىٰ فرمائى :**

﴿ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴾.

(دا په دے وجه چه دوئ هغه شے بد ګڼړلے چه هغه الله نازل كړے نو الله د دوئ عملونه برباد كړل)۔

٦ – **شپږم : څوك چه د رسول الله ﷺ د راوړى دين په يو څيز پورے هم خندا وكړى او يا د ثواب يا عذاب په يوه خبره پورے ټوقے وكړى نو دا كافر دے۔ الله تعالىٰ فرمائى :**

﴿ قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيَاتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ لَا تَعْتَذِرُوْا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ﴾۔

(ورته ووايه ! آيا په الله پورے او د هغهٔ په آيتونو او د هغهٔ په رسول پورے تاسو ټوقے كوئ، عذرونه مه پيش كوئ بيشكه چه تاسو د خپلو ايمانونو نه پس كفر كړے دے)۔

٧ – **اووم** : جادو كول۔ او اړول راړول كول۔ **څوك چه دا كار وكړى او يا په دے باندے راضى وى، هغه كافر شو۔ دليل په دے باندے دا آيتِ كريمه دے :**

﴿ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَا اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ﴾ (اودے دواړو ملائكو به هيچا ته تر هغے وخته پورے ښودنه نه كوله تر څو چه به هغوئ دواړو ووئيل چه مونږ خو د آزمائش دپاره راغلى يو نو تاسو – د جادو په زده كولو – كفر مهٔ كوئ)۔

د جادو د تفصيل دپاره دا كتابونه وګورئ۔

[تفسير ابن كثير : ۱/۲۰۱، الصارم البتار د شيخ وحيد عبد السلام بالى، ص : ۸۱، تفسير قرطبى : ۲/۴۸).

او په مسئله نمبر (٤٤) كښې د جادوګر حكم تيرشوے۔

٨ – **اتم : مشركانو سره د مسلمانانو په خلاف كښې مدد كول۔ په دے باندے دليل دا قول د الله تعالىٰ دے :** ﴿ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاِنَّهٗ مِنْهُمْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾.

(څوك چه په تاسو كښے د دوئ سره دوستى وكړى نو دا د دوئ نه حساب دے، بيشكه الله ظالمان خلك نه خوښوى)۔

او الله تعالىٰ فرمائى :﴿ لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَادُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْا اٰبَآئَهُمْ ﴾ (تهٔ به داسے خلك نه مومے چه په الله او په ورځ د آخرت ايمان لرى او (ددے

سره سره) د هغه چا سره دوستي کوي چه هغوئ د الله او د رسول سره دشمني کوي. اګرکه هغوئ د دوئ پلرونو هم وي......).

په دے مضمون باندے ډير آيتونه شته دے.

[انظر الموالاة والمعاداة لمحماس الجلعود : ۱/ ٤٤٢].

۹ – نهم : څوك چه دا عقيده ولري چه ځينے خلکو دپاره د نبي کريم ﷺ د راوړي شريعت نه وتل جائز دي، لکه څنګه چه د خضر علیه السلام دپاره د موسیٰ علیه السلام د شريعت نه وتل جائز وو. دا هم کفري عقيده ده. ځکه الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ وَمَآ اَرۡسَلۡنَاكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيۡرًا وَّنَذِيۡرًا ﴾.

(اومونږ تهٔ خامخا ټولو خلکو ته زيرے ورکونکے او ويره ورکونکے ليږلے ئے).

صرف درے کسه داسے دي چه د هغوئ نه قلم پورته شوے دے.

۱۰ – لسم : د الله د دين نه اعراض کول چه نه ئے زده کوي او نهٔ پرے عمل کوي. دا هم کفر دے. په دے باندے دليل دالله تعالیٰ دا وينا ده :

﴿ وَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنۡ ذُكِّرَ بِاٰيَاتِ رَبِّهٖ ثُمَّ اَعۡرَضَ عَنۡهَا اِنَّا مِنَ الۡمُجۡرِمِيۡنَ مُنۡتَقِمُوۡنَ ﴾.

(د هغه چا نه بل لوئے ظالم څوك کيدے شي چه هغهٔ له د هغهٔ د رب په آيتونو سره يادګيرنه ورکړے شوه بيا هغه د هغے نه مخ اړوي، بيشکه مونږ د مجرمانو نه بدله اخستونکي يو).

علماء فرمائي : په دغه ذکر شوو ټولو نواقضو کښے رشتيا او ټوقه هر څه برابر دي. البته ددے نه صرف هغه څوك بهر دے چه په هغهٔ باندے زبردستي شوے وي. ټولو مسلمانانو له پکار دي چه ددے خطرناکو اسبابو نه ځان وساتي او خپل ځان ددے نه بچ کړي.

[البرهان والدليل على كفر من حكم بغير التنزيل ص : ٤٤، التوقف والتبيين لمحمد سرور : ۲/ ۱۳۲].

۱۱ – يولسم : بت يا نمر يا سپوږمئ يا ستوري ته سجده کول.

۱۲ – دولسم : قرآن شريف يا د حديثو کتاب په پليتئ کښے اچول يا پرے په خپو ختل يا د هغے په مسئلو پورے ټوقے يا سپکاوے کول.

۱۳ – ديارلسم : حرام کارونه کول او هغه جائز ګنړل. مثلاً زنا کول او دا په عامه توګه يا صرف ځان لپاره جائز ګنړل. يا لکه شراب خوري کول او د دے ګناه خلکو وژل او د هغوئ

نه مالونه اخستل جائز ګڼړل.

۱۴ – **څوارلسم** : د الله د ربوبیت نه انکار کول لکه دا دعویٰ وکړی چه د کائناتو دپاره هیڅ اِله نشته، او یا د الله د وحدانیت نه منکر شی او د الله دپاره شریك وګنړی او یا ورله ښځه یا بچی وګنړی.

۱۵ – **پنځلسم** : دا عقیده لرل چه د شریعت ټول یا بعضے احکام دائمی نه دی بلکه دا د یو وخت او معاشرے دپاره وو. او یا دا عقیده ولری چه شریعت ددے دپاره نه دے راغلے چه د افرادو او ټولګیو دارنګه د حاکم او محکوم ترمینځه علاقه سمه کړی.

۱۶ – د عالَم د قدیم والی عقیده لرل یا دا عقیده لرل چه ددے دپاره پیدا کوونکے نشته، یا د صانع د حدوث عقیده لرل. یا دا عقیده لرل چه خالق او مخلوق یو شے دے. یا د ارواحو د تناسخ عقیده لرل (چه کله یو انسان مړ شی نو د هغهٔ روح په بل انسان یا بل حیوان کښے اچول کول کیږی).

۱۷ – دا عقیده لرل چه قرآن د الله له اړخه نه دے، یا دا عقیده لرل چه محمد (ﷺ) دروغژن دے (والعیاذ بالله). او یا د نبی اکرم ﷺ نه روسته د نبوت دعویٰ کول. او یا ددے دعوے کوونکے رشتینے ګنړل. او یا د انبیاء کرامو علیهم السلام تکذیب کول.

۱۸ – صحابه کرامو ﷡ ته د کفر نسبت کول، یا په هغویٔ باندے لعنت ویل جائز ګنړل، یا هغویٔ پسے خبرے کول او هغویٔ شرمول، یا امهات المؤمنین کښے چاته د زنا او بے حیایئ نسبت کول.

۱۹ – د ملائکو یا د پیریانو د وجود نه انکار کول، او یا دا ګمان کول چه ملائك د الله لونړه دی، یا هغویٔ پورے ټوقے کول، یا په هغویٔ کښے چاته ردے بدے ویل، یا دا عقیده لرل چه د ابلیس وجود نشته بلکه دا هسے ګپ دے.

۲۰ – د آخرت د ورځے نه انکار کول. یا د حساب کتاب، میزان، صراط پل، یا د الله د پیشئ نه یا د جنت یا جهنم نه انکار کول. او یا د مړو په ژوندی کولو کښے شك کول، یا د جنت یا د اور د همیش والی نه انکارکول.

۲۱ – د رسول الله ﷺ د بشریت نه انکار کول. ولے چه د دویٔ بشریت په قرآن، حدیث او اجماع د امت سره ثابت دے. نو د دویٔ په باره کښے دا عقیده لرل چه هغه صرف نور او

بشر متشكل وو.

[تفسير روح المعاني للآلوسي : ٤/١١٣].

٢٢ – يا د نبي اكرم ﷺ په باره كښې دا وينا كول چه ماته پته نشته چه هغه د عربو نه وو اوكه د عجمو نه.

د شيخ ولي الدين العراقيؒ نه پوښتنه وشوه چه آيا په ايمان كښې دا شرط ده چه انسان به دا عقيده لري چه نبي اكرم ﷺ عربي پيغمبر وو ؟ اوكه دا فرض كفائي خبره ده ؟ نو هغوئ جواب وركړو چه : د ايمان د صحيح كيدو دپاره دغه خبره شرط ده.

بيا فرمائي : كه څوك داسې ووائي چه : زهٔ د محمد رسول الله ﷺ رسالت او ټولې دنيا والو دپاره د هغوئ پيغمبر جوړيدل منم خو ماته دا معلومه نه ده چه آيا هغه انسان وو كه ملَك، كه پيرې ؟ يا ماته پته نشته چه هغه عربي وو كه عجمي ؟ نو ددې انسان په كفر كښې شك نشته. ځكه دې د قرآن پاك تكذيب كوى او د يوې داسې خبرې نه انكار كوى چه تمام امت، سلف او خلف په دې باندې متفق دي او د خاص او عام په نيز باندې دا خبره معلومه ده. په دې كښې د هيڅ اختلاف نشته. او كه چرې دغه كس غبي او كند ذهنې وو نو هغهٔ ته ددې وربنودل واجب دي، اوكه ددې نه پس ئې بيا هم انكار كولو نو مونږ به دده د كفر فيصله وكړو.

[تفسير روح المعاني :٤/١١٣].

٢٣ – څوك چه دا عقيده ولري چه نبي اكرم ﷺ يا يو ولي په غيبو پوهيږي او يا هغهٔ سره كُلي او محيط علم دې نو دا كس په اتفاق د مسلمانانو كافر دې. ځكه چه دهٔ د قرآن پاك تكذيب وكړو. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ﴾ (ورته ووايه په زمكه او آسمانونو كښې چه څوك دي هغوئ په غيبو خبر نهٔ دي سيوا د الله نه). دارنګه د خپل نبي نه خبر وركوى فرمائي : ﴿ وَلَا اَعْلَمُ الْغَيْبَ ﴾.

(او زهٔ په غيبو نه پوهيږم).

٢٤ – څوك چه دا عقيده لري چه الله په راتلونكې حالت خبر نهٔ دې چه ديته شيعه ګان د (بداء) عقيده وائي نو دا سخت ترينه كفري عقيده ده.

٢٥ – د غير الله په نوم يا د غير الله د نزديكت دپاره ذبح كول كفر دې.

[اقتضاء الصراط المستقیم ص : ۲۵٦]۔

۲٦ – شرعي څیزونو باندے عیب ویل لکه ګیره یا پرده وغیره، نو دا هم کفر دے ځکه چه دا په الله او د هغهٔ په رسول (ﷺ) باندے اعتراض کول دی۔

[أحسن الفتاوی : ۱/۴۲، ۵۴]۔

۲۷ – په ګناهونو باندے فخر کول۔ دا هم کفر دے۔ او څوك چه د کفر په الفاظو پورے ټوقے کوی نو دا هم مرتد دے اګرکه ددے عقیده نهٔ لری خو په دے کښے سپکاوے دے۔

[احسن الفتاویٰ : ۱/۳۹، رد المحتار]۔

۲۸ – د علم او علماؤ سپکاوے کول په دے وجه چه دوئ د الله د دین حاملین او باروونکی دی، دا هم کفر دے۔ [احسن الفتاوی : ۱/۳۸]۔

۲۹ – څوك چه د اسلام او اهلِ اسلام سره نه مینه لری او نهٔ ورسره بغض کوی نو دا ناقص الایمان دے که مسلمان وی۔ خو دا نقصان کله شرك ته رسول کوی که چرے داسے څه قرائن نهٔ وی چه هغه دے لره واړوی۔

۳۰ – څوك چه په شرك باندے رد نهٔ کوی او د مشرکانو سره دشمنی نه لری نو دا مؤمن نه دے اګرکه یواځے د الله عبادت هم کوی۔ ځکه د توحید د صحت دپاره شرط دادے چه د طاغوت او اهلِ طاغوت نه به انکار کوی۔ او ددے معنیٰ داده چه شرك او مشرکانو سره به بغض او کینه لری۔

۳۱ – څوك چه اسلام بدے ګنړی یا هغه څوك بدے ګنړی چه د مسلمانانو ډلے سره یوځائے شی نو دا کافر دے اګرکه د اسلام دعویٰ ګیر وی او په دے باندے عمل کوی۔

۳۲ – څوك چه کفری خبرو ته دعوت ورکوی او یا د کفارو مدد او تائید کوی او هغه چا سره مینه کوی چه هغوئ هم دا کار کوی او څوك چه ددے خلاف کوی هغه بدے ګنړی نو دا هم کافر دے، اګرکه په خپل ګمان باندے دا ځانته مسلمان وائی او خپل دا عمل د اسلام سره ټکراؤ نه ګنړی۔

۳۳ – د الله نه سیوا د بتانو او مړو نه مدد غوښتل شرك دے۔ دغه شان [یا علی مدد] **ویل۔ یا** [یا رسول الله مدد] **ویل شرك دے۔ دغه شان څوك چه دا عقیده لری چه رسول الله ﷺ په هر مکان او هر مجلس کښے حاضر دے نو دا هم کافر دے۔**

[الفتاوى الإسلامية ۱/۲٤، معارج القبول : ۱/۳٥۱، تيسير العزيز الحميد ص : ۳/۲/۲۰۹، انظر الأضاحي من هذا الكتاب].

۳٤ – موحد لپاره ضروري ده چه كفر بالطاغوت وكړي (د طاغوت نه انكار وكړي) ځكه د كلمے طيبے معنیٰ هله پوره كيږي چه د هغه چا د عبادت نه انكار وكړے شي څوك د الله سره په عبادت كښے شريك ګڼړلے شوے دے. لكه په صحيح حديث كښے دي :

[مَنْ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَكَفَرَ بِمَا يُعْبَدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ، حَرُمَ مَالُهٗ وَدَمُهٗ وَحِسَابُهٗ عَلَى اللّٰهِ] **(چا چه كلمه طيبه وويله او د هغه معبودانو نه ئے انكار وكړو چه د الله نه سيوا د هغوئ عبادت كيږي، نو ددهٔ مال او وينه محفوظه شوه او حساب ئے په الله باندے دے).**

[مسلم : ۱/۳۷، احمد : ۳/٤۷۲].

نو [وَكَفَرَ بِمَا يُعْبَدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ] تاكيد دے د نفي، او ددے نه معلومه شوه چه د انسان وينه او مال به هله محفوظ كيږي چه كله دغه كار وكړي، نو كه په دے كښے شك او تردّد وكړي نو بيا به ئے مال او ځان محفوظ نه وي.

نودے پورتنو كارونو سره د توحيد كمال او پوره والے راځي، ځكه په احاديثو كښے د كلمے طيبے درانهٔ شرطونه راغلي دي لكه علم، اخلاص، صدق، يقين او شك نهٔ كول. نو انسان به هله موحد جوړيږي چه په دهٔ كښے دغه پورتني ټول شيان راجمع شي او ددے عقيده ولري او هغه قبول كړي او د هغے سره محبت ولري، او ددے دپاره دوستي او دشمني كوي.

بيا محمد بن عبد الوهاب رحمه الله فرمائي : په دے باره كښے مخالفين په يوڅو قِسمه دي، د ټولو نه سخت هغه مخالف دے چه په دے ټولو كښے مخالفت كوي او شرك قبلوي او دا خپل دين ګڼړي. د توحيد نه انكار كوي او ديته باطل وائي. لكه چه دا د زياتره خلكو حالت دے. بيا فرمائي :

○ ځينے خلك صرف د الله بندګي كوي خو شرك باندے رد نه كوي او د مشركانو سره كينه لري. نو دا كس هم مشرك دے.

○ او ځينے خلك د مشركانو سره دشمني لري خو كافر ورته نه وائي. نو دا هم د هغوئ پشان دے.

○ اوځينے خلك نهٔ د توحيد سره مينه لري اونه ورسره دشمني كوي. دا هم كافر دے.

○ او ځینے خلك نهٔ د شرك سره کینه لری اونهٔ ورسره مینه لری. دا هم مشرك دے.
○ او ځینے خلك نهٔ شرك پیژنی اونهٔ پرے رد کوی اونهٔ ئے بدے ګڼړی، دا هم موحد نه دے.
○ او ځینے خلك نهٔ توحید پیژنی اونهٔ پرے رد کوی، دا ځناور هم کافر دے.
پـه دے ټولو کښے خطرناك هغه ثوك دے چه هغه په توحید باندے عمل کوی او د هغے قدر نه پیژنی او د توحید پریښودونکی سره بغض او کینه نه لری اونهٔ ئے کافر ګڼړی.
○ او ځینے هغه دی چه هغوئ خو شرك پریښے دے او بدے ئے ګڼړلے دے خو د هغے مرتبه اوخطرناکی ئے نه ده پیژندلے.
[مجموعة التوحید : ۱/۴۲، د محمد بن عبد الوهابؒ].
۳۵ – پـه غیـر د عـذر نـه قـصـدًا فرض مونځ پریښودل، د راجح او غوره قول مطابق کفر دے. لکه چه په همدے جلد کښے به په کتاب الصلاة کښے راشی ان شاء الله.
نبی اکرم ﷺ فرمائی : [مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ كَفَرَ].
(چا چه قصدًا مونځ پریښودهٔ، نو په تحقیق سره کافر شو).
[أخرجه اصحاب السنن، وسنده صحیح].
داسے اسباب نـور هـم ډیر دی چه علماؤ په خپلو کتابونو کښے ذکر کړی دی لکه : [شرح فقه اکبر د ملا علی قاری ص : ۲۱۷، خلاصة الفتاوی : ۴/۳۸۳].
نـو هـرکله چه دا اسباب ټول یا ځینے په یو کس کښے راشی نو دا بیشکه کافر دے، اګرکه ددهٔ خیال داوی چه دا مسلمان دے او ځانته بزرګ وائی.
البته که په چا کښے په دے راتلونکو عذرونو کښے یو عذر موجود وو، نو بیا به ورته کافر نشی ویلے او نهٔ به پرے د کافر فیصله کیږی.
○ هغه **عذرونه** دادی :

د کفر اووه موانع

۱ – اول سبب : اکـراهِ ملجئ : یعنی که په چا باندے داسے زبردستی وشی چه هغے سره ددهٔ اختیـار پـوره ختـم شی. هسے ویـره تـر هـه نه ده مراد. نو د زبردستئ په صورت کښے انسان معذوره دے. الله تعالیٰ په قرآن کریم کښے فرمائی :

﴿اِلَّا مَنۡ اُکۡرِهَ وَقَلۡبُهٗ مُطۡمَئِنٌّۢ بِالۡاِیۡمَانِ﴾.

(مګر په چا چه زبردستی وشوه او په ایمان باندے خاطر جمع وو)۔

خو په اکراه او زبردستئ کښے الله دا شرط لږولے چه په چا باندے زبردستی کیږی، د هغه زړهٔ به په ایمان سره مطمئن وی، په زړهٔ کښے به یقین لرونکے وی۔ او دا سبب د ټول امت په نیز اتفاقی دے۔ په دے باره کښے بعضے احادیث هم راغلی۔ لکه نبی اکرم ﷺ عمار بن یاسر رضی الله عنه ته فرمایلی وو :

[وَاِنۡ عَادُوۡا لَكَ فَعُدۡ] (که چرے دوئ دربانده بیا زبردستی وکړی نو تهٔ هم د دوئ دے خبرے ته واپس شه)۔

[أخرجه البیهقی کما فی التفسیر لابن کثیر : ۲/۷۷٦]۔

۲ – دویم سبب : جهل او ناپوهی : جهل په دے باب کښے عذر دے خو د جهل او ناپوهئ نه مراد څه دے ؟ او چرته به جهل معتبر وی ؟ نو مونږ وایو : دلته مطلق جهل مراد نهٔ دے بلکه هغه جهل مراد دے چه د هغے په لرے کولو اوختمولو باندے انسان قادر نهٔ وی۔ یا خو د جهل اسباب داسے وی چه ددهٔ له خوا موجود وی۔ او یا داسے اسباب وی چه د هغے تعلق د علمی مصادرو او مراجعو سره وی۔ نو کله چه دا کس په علم زده کولو او ناپوهئ ختمولو باندے قادر وی او بیا هم دهٔ کوتاهی وکړه نو دا بیا په خپلے ناپوهئ کښے معذوره نهٔ حسابیږی بلکه حُکمًا به دا کس عالم او پوهه ګڼړلے شی او په حکم د عالِم کښے به ګڼړلے شی اګرکه په واقع کښے عالم نهٔ وی۔

[الجامع لطلب العلم الشریف : ۲/٤۹۸]۔

دا وجه ده، ابن حزمؒ فرمائی : ځینے خلك وائی چه شرعی احکام په هغه چا لازم نه دی چه څوك په هغے باندے نهٔ پوهیږی اونهٔ په هغه چا لازم دی چه شرعی احکام ورته نهٔ وی رسیدلی۔ خو د دوئ دا خبره باطله ده، بلکه دغه احکام په دوئ لازم دی، ځکه رسول الله ﷺ ټولو انسانانو او پیریانو ته رالیږلے شوے۔ دغه شان هر هغه چاته رالیږلے شوے چه لا تر اوسه پیدا هم نهٔ دے او روسته به پیدا کیږی او بیا به بالغ ګرځی۔ الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته حکم کوی چه خلکو ته ووائی : ﴿اِنِّیۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ اِلَیۡکُمۡ جَمِیۡعًا﴾ (بیشکه زهٔ تاسو ټولو ته رسول رالیږلے شوے یم)۔ نو په دے آیت کریمه کښے چه کوم عموم دے په دے کښے

د هيچا تخصيص نهٔ دے شوے۔ او فرمائی :﴿ اَيَحۡسَبُ الۡاِنۡسَانُ اَنۡ يُّتۡرَكَ سُدًى ﴾.

(آيا د انسان دا گمان دے چه دے به بيكاره پريښودے شى)۔ يعنى دۀ ته به امر او نهى نهٔ كيږى۔ نو دا خبره ئے باطله كړه۔

البته انسان د جهل او ناپوهئ د وجے معذوره جوړيدے شى، خو چاته چه په مخ د زمكه باندے د نبى كريم ﷺ يادوونه وشوه هر چرته چه دغه كس وى، نو په هغهٔ باندے فرض دى چه په دے باره كښے تفتيش او تالاش وكړى۔ او هر كله چه ورته د نبى اكرم ﷺ نذارت او دعوت ورسيدهٔ نو په هغهٔ باندے فرض دى چه دا رشتينے وګڼړى او ددے تابعدارى شروع كړى، د هغهٔ د دين طلب شروع كړى، ددے دپاره د خپل وطن نه بهر وځى۔ كه دا كارئے ونه كړو نو د قرآن كريم د صريح حكم مطابق به دا كس د كفر او عذاب مستحق جوړيږى۔

الله تعالى فرمائى : ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيۡنَ حَتّٰى نَبۡعَثَ رَسُوۡلًا ﴾.

(او مونږ تر هغه وخته پورے چاله عذاب نهٔ وركوو تر څو چه مو ورته رسول نهٔ وى ليږلے)۔ نو ددے نه ثابته شوه چه تر څو پورے يو كافر ته د رسول الله ﷺ دعوت نهٔ وى رسيدلے، هغهٔ له به عذاب نهٔ وركړے كيږى۔ او چاته چه د نبى اكرم ﷺ دعوت ورسيدهٔ او په دغه ښاريه او كلى كښے ئے داسے څوك بيانهٔ موندهٔ چه هغه ورته ددے خبر وركړى نو په دۀ باندے فرض دى چه ددے حقائقو د تفتيش او تالاش دپاره د خپل كور كلى نه ووځى۔

[الملل والنحل لابن حزم : ١٠٦/٤، الإحكام : ١١٨/٥]۔

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمائى : مكلفينو ته د الله حكم هله متوجه كيږى چه كله هغوئ د هغے په پيژندلو باندے قادر شى، او دا د تهولو نه زيات صحيح قول دے۔

دارنګه فرمائى : الله تعالىٰ فرمايلى دى :﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيۡنَ حَتّٰى نَبۡعَثَ رَسُوۡلًا ﴾.

او په بندګانو باندے حجت او دليل په دوه شيانو سره قائميږى :

(١) يو دا چه دوئ په هغه شئ باندے پوهه شى كوم چه الله تعالىٰ نازل كړے دے۔

(٢) دويم دا چه په دے باندے په عمل كولو باندے قدرت ولرى۔

[مجموعة الفتاوى : ٢٠/٢٥، ٥٩، ٤٧٩/١٢]۔

ابن قيم رحمه الله فرمائى : دا خبره د ايمان سره تړلے او لازم ده چه بنده ددے اقرار وكړى چه د الله حجت په دۀ باندے قائم شو۔ اخوا كه دے خبره منى اوكه نه ئے منى۔ ځكه چه الله

رسول راوليږۀ او كتاب ئے نازل كړو او دۀ ته ئے دعوت ورساوۀ او دے ئے ددے په پيژندلو باندے قادر كړو، نو د الله حجت په بنده باندے قائم شو. برابره خبره ده كه بنده ئے اوس پيژنى اوكه نه. نو هر هغه څوك چه د الله په امر او نهى پيژندو باندے قادر شو او بيا ئے كوتاهى وكړه او دا ئے ونه پيژندۀ نو په دۀ باندے خامخا حجت قائم دے.

[مدارج السالكين : ۱/۲۳۹، ۱/۱۱۳].

نو هر كله چه دا سړے د خپل جهل او ناپوهئ په لرے كولو باندے قادر نۀ وى نو بيا دا كس معذور دے. پاتے شو هغه څوك چه د خپلے ناپوهئ په لرے كولو قادر وى خو ددے باوجود په اسلام باندے څه باك ونه كړى، د هغے فرائض او احكام زده نه كړى، نودا كس كافر دے.

دغه شان هغه څوك هم معذور نۀ دے چه هغه په دارِ اسلام كښے وى. او يا په دارِ كفر كښے وى خو علماء هلته موجود وى او د هغوئ نه د زده كړے پروګرام آسان وى. او سره ددے نه دا انسان جاهل پاتے شو نو دا جهل او ناپوهى معتبره نۀ ده.

[الجامع فى طلب العلم الشريف : ۱/۳۹۰].

د قيامِ حجت او فهم حجت ترمينځه فرق

○ بيا د **قيامِ** حجت او د **فهمِ** حجت ترمينځه فرق شته اوكه نه ؟

نو شيخ محمد بن عبد الوهاب رحمه الله ذكر كړى دى چه په مسلمان باندے د حجت پيژندل واجب نۀ دى بلكه په كفارو او مشركانو باندے د حجت قائميدل كافى دى.

[انظر كتاب الرسائل الشخصية ص : ۲٤٤].

شيخ عبد اللطيف رحمه الله فرمائى : پكار ده چه د قيامِ حجت او د فهمِ حجت ترمينځه فرق وپيژندلے شى، ځكه چاته چه د رسولانو دعوت رسيدلے وى نو په هغۀ باندے حجت قائم شو. هر كله چه په داسے طريقه وى چه د هغے پيژندل ممكن وى. او په حجت قائميدو كښے دا شرط نۀ دى چه د الله او د رسول په خبرو باندے داسے پوهه شى څنګه چه ايمان، قبولتيا اوانقياد والا پوهيږى. الله تعالىٰ فرمائى :

﴿ اَمْ تَحْسَبُ اَنَّ اَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُوْنَ اَوْ يَعْقِلُوْنَ اِنْ هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴾.

(آیا تهٔ ګمان کوے چه په دوئ کښې زیاتره خلك آوریدل کوی یا پو هیږی، حالانکه دوئ خو د څناورو پشان دی بلکه ددے نه هم زیات ے لارے دی)۔

صحیح خبره داده چه اقامت د حجت صرف په هغه وخت کښې صحیح دے کله چه ددغه حجت په معنیٰ مراده باندے پو هه شی۔ اوکه پو هه نشی نو دوئ د ایمان او قبول والا دی۔ ځکه فهم دوه قسمه دے :

یو : په داسے طریقه سره دلیل پیژندل په کومه طریقه سره ئے چه ایمان والا پیژنی نو دا په اقامت د حجت کښے شرط نهٔ دے۔

دویم : داسے فهم د حجت چه د هغے معنیٰ مراده وپیژنی۔ نو دا شرط دے۔ ځکه کفار د رسولانو علیهم السلام په دعوت باندے پو هه شوی وو چه دوئ توحید ته دعوت ورکوی او د شرك نه خلك منع کوی۔ دا وجه ده چه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی : د الله تعالیٰ ددے قول : ﴿فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلَامَ اللهِ﴾ (نو پناه ورته ورکړه تردے چه د الله خبرے واوری) ددے قول نه مراد دادے چه د الله خبرے داسے واوری چه د هغے د آوریدو سره په هغه معنیٰ باندے هم ځان پو هه کړی کومه چه ددے نه مراد شوے ده۔ ځکه یواځے د لفظ په آوریدو سره مقصد نه حاصلیږی هر کله چه ددے په معنیٰ مراده پیژندلو باندے قادر نهٔ وی۔

[والتفصیل فی کتاب الجامع لطلب العلم الشریف : ۱/۳۸۸]۔

۳ – دریم سبب : خطا کیدل دی۔ هغه دا چه مقصد ئے یو لفظ وی او په ژبه ئے په غیر د قصد نه د کفر کلمه جاری شی۔ لکه یو توبه ګار د ډیر خوشحالئ نه خطا شو او داسے ئے وویل : [أَنْتَ عَبْدِیْ وَأَنَا رَبُّكَ] (اے الله ! تهٔ زما بنده ئے او زهٔ ستا رب یم)۔

[بخاری، مسلم].

٤ – څلورم سبب : تاویل کول۔ یعنی په تاویل کښے خطا کیدل۔ تاویل ویلے کیږی : شرعی دلیل ے ځایه کیښودل د وجے د اجتهاد نه او یا د وجے د یو ے شبهے نه چه هغه د نص د دلالت د نهٔ پیژندلو د وجے نه راپیدا شوے وی۔ نو مکلف د کفر په یو کار باندے اقدام وکړی په داسے حال کښے چه هغه ئے کفر نه ګنړی ځکه چه دے په داسے دلیل سره دلیل نیسی چه د هغے د معنیٰ په پیژندګلو کښے دے خطا شوے دے۔ نو په دے خطا کیدو سره د هغهٔ قصد ختم شو او په تاویل کښے خطا کیدل د هغهٔ د کافر کولو نه مانع او رکاوټ واقع

شو۔ خو کله چه په دهٔ حجت قائم کړے شي او دهٔ ته ددهٔ خطا ورپه ګوته کړے شي او بيا هم په خپل دے کار باندے ټينګ پاتے شي نو په دے وخت کښے به بيا کافر وي۔

ددے مثال داسے دے لکه قدامة بن مظعون شراب حلال ګنړلي وو، او دليل کښے ئے دا آيتِ کريمه پيش کولو :﴿ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْا ﴾.

(په ايمان او عمل صالح والو باندے په هغه خوراك کښے هيڅ ګناه نشته چه دوئ خوړلے دے)۔ نو ددے تاويل کونکی په کفر به فيصله نه کيږی مګر کله چه دے په دے باندے ټينګ پاتے شي او د عناد نه کار واخلي۔

خو دا خبره ياد ساتل پکار دی چه په هر يو تاويل کښے خطا کيدل مقبول عذر نهٔ دے او نه د تکفير نه مانع دے۔ په هغه تاويل کښے خطا کيدل عذر دے چه هغه په شرعی دليل کښے د نظر کولو نه پس راغلے وی او د هغے په فهم کښے انسان خطا شوے وی۔ پاتے شو هغه تاويل چه د هغے په خطا کيدو کښے انسان معذور نهٔ حسابيږی، دا هغه تاويل دے چه د محضِ رائے او خواهش نه پيدا شوے وی، هيڅ شرعی دليل نهٔ لری۔ لکه منع کيدل د ابليس د سجدے کولو نه آدم ته۔ په دے دليل باندے چه دے د آدم نه غوره دے۔

﴿ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴾.

نو دا د ابليس سو چه غلطه رائے وه۔ يا لکه د باطنيه فرقے هغه تاويلونه چه د هغے په ذريعه ئے شرعی واجبات غورزولی دی ځکه چه دا محض رائے اوخواهشات دی۔

۵ – **پنځم سبب** : هغه بے هوشی چه هغے سره عقل زائله شی۔ ددے په معتبرولو کښے اختلاف دے خو علامه ابن قيمؒ دے ته ترجيح ورکړے چه دا معتبر دے۔ او همدا قول د احنافو هم دے۔

[انظر : اعلام الموقعين : ۳/٦٥، المغنى : ١٠/١٠٩ كشاف القناع : ٦/١٧٦]۔

٦ – **شپږم سبب** : د کفر حکايت او نقل کول۔ لکه کفر بل چا کړے وی خو يو انسان ئے د هغهٔ نه رانقل کړی۔ لکه يوسړے د کافرانو هغه خبره ولولی چه الله تعالیٰ په قرآن کريم کښے مونږ ته ويلے ده او مونږ ته ئے د قرآن کريم د لوستلو حکم کړے۔ يا لکه ګواه د قاضی په مخکښے د چا کفری خبره رانقل کړی۔

خو دا خبره هم هله ده چه کله د يو صحيح او شرعی غرض په وجه کفر نقل کړے شي۔

ګڼے چا چه دا د بنۀ ګڼړلو اوپه دے باندے د راضی کیدلو د وجے نه نقل کړو نو دا په دے سره کافر کیږی۔ او دا تفصیل به د حالاتو د قرینے په وجه پیژندلے شی۔

او تهوقے په خطا او نسیان کښے داخلے نۀ دی۔ بلکه په تهوقو سره د کفری خبرے کولو د وجے نه په اتفاق د علماؤ سره انسان کافر کیږی۔

۷ - **اووم سبب** : ماشوم توب، لیونتوب او خوب : دا درے واړه عذرونه دی۔

نبی اکرم ﷺ **فرمائی** : [رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ : عَنِ الصَّبِيِّ حَتّٰى يَحْتَلِمَ، وَعَنِ النَّائِمِ حَتّٰى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الْمَجْنُوْنِ حَتّٰى يَفِيْقَ] (د درے کسانو نه قلم پورته شوے دے : د ماشوم نه تر بالغ کیدو پورے، د اودۀ نه تر راویښیدو پورے او د لیونی نه تر رغیدو پورے)۔

[ابوداود : ٤/٢٤٥، السنن الكبرى للنسائى : ٣/٣٦٠، ترمذى : ٤/٣٢، ابن ماجه : ١/٦٥٨، بيهقى : ٤/٢٦٩، وهو حديث صحيح].

نو ددے تحقیق نه ثابته شوه چه کفر کله په وینا سره وی اوکله په عمل سره وی، او کله په اعتقاد سره وی۔ نو د بعضے خلکو دا خبره غلطه ده چه وائی : کفر صرف په اعتقاد لرلو سره راځی۔

۲ - **دویمه مسئله** : د خاص او معلوم کس تکفیر :

نو مونږ وایو : یو دے مطلق تکفیر۔ اوبل دے تکفیر د خاص او معلوم کس۔

نو مطلق تکفیر دادے چه په سبب باندے د کفر فیصله وکړے شی۔ مثلًا داسے وویل شی چه چا دا وینا وکړه دا کافر دے، یا چا دا کار وکړو، کافر دے۔ یعنی حکم مطلقًا پیژندل، نۀ د یو خاص او معلوم کس کافر کول۔ اګرکه هغۀ کښے دغه سبب موجود شوے وی۔

او هرچه د معین او معلوم کس کافر کول دی۔ نو دا دیته وائی چه په یو خاص کس باندے د کافر کوونکے وینا یا د کافر کونکی عمل د وجے د کفر فیصله وکړے شی۔ نو دا جائز دے خو په دے شرط چه په دغه کس کښے موانع د کفر موجود نۀ وی او شرائط موجود وی۔ خو په دے مسئله کښے احتیاط پکار دے ځکه ډیر کرته داسے وشی چه په یو کس کښے د کفر سبب موجود وی خو په دے سره هغه نۀ کافر کیږی ځکه چه په هغۀ کښے د کفر مانع موجود وی چه هغه جهل او ناپو هی ده او یا قدرت نۀ لرل دی، او یا لیونتوب یا

بل يو شيز وى۔ لكه په صحيح بخارى كښې دى چه (يو سړى په خپل ځان باندے زياتے كړے وو، او كله چه مړ كيدو نو خپلو بچو ته ئے حكم وكړو چه ما وسوزوئ۔ په هغه حديث كښې دا الفاظ دى : [لَئِنْ قَدَرَ اللّٰهُ عَلَيَّ لَيُعَذِّبَنِّيْ...... الحديث] (كه چرے الله په ما قادر شو نو خامخا به راله سخت عذاب راكړى)۔

نو دے سړى د الله د قدرت نه انكار كړے وو، حالانكه قدرت د الله د صفاتو نه يو صفت دے۔

يا لكه د يو تفسير مطابق د عيسىٰ عليه السلام د حوارينو (مخلصو دوستانو) دا وينا شوه چه : ﴿هَلْ يَسْتَطِيْعُ رَبُّكَ﴾ (آيا ستا رب طاقت لرى)۔

يا لكه دا وينا د نوو مسلمانانو شوه نبى كريم ﷺ ته چه : [اِجْعَلْ لَّنَا ذَاتَ اَنْوَاطٍ كَمَا لَهُمْ ذَاتَ اَنْوَاطٍ] (زمونږ دپاره هم داسے ونه مقرر كړه چه هغے ته وسله زوړندوو، لكه څنګه چه ددے خلكو دپاره داسے ونه شته دے)۔ دا مسلمانان په دے خبره كافر شوى نۀ دى، ځكه دلته د كافر ګرځولو نه مانع او ركاوټ موجود دے (چه هغه د شرك او كفر نه د دوئ تازه راګرځيدل دى)۔

[انظر : الجامع لطلب العلم الشريف تفصيلًا : ٢/ ٥٠١، احكام عصاة المؤمنين لابن تيمية ص : ٤٨].

○ او دا خبره چه د يوكس د كافر كولو فيصله به څوك كوى ؟ نو دا هغه قاضى اومفتى دے چه ددے حكم لرولو اهل او لائق وى۔ او مناسبه داده چه دا مجتهد وى، په اسبابو، شرائطو او موانعو باندے خبردار وى۔ متعصب او سر تيزه مذهبى نۀ وى۔

[حواله سابقه : ٢/ ٥٠١]۔

خو د افسوس خبره داده چه اوس په دے زمانه كښې د كفر فتوے ډيرے شوے دى، ځكه د الله نه ويره كمه شوے او خواهشات غالبه شوى دى، دا رنګه خلكو ګمراه كُن بدعات غوره كړى دى او د هدايت طريقے ئے پريښى دى۔ فالى الله المشتكىٰ.

د جادوګر وژلو حكم

٤٣٥ – **سوال** : يوه ښځه ده چه په خپلے بنے، د هغے په بچو او تهول كور والو باندے ئے جادو كړے دے، او دا جادوګره ښځه مونځ هم نۀ كوى۔ نو آيا د فساد ختمولو دپاره مونږ له ددے وژل روا دى ؟ د جادوګر د وژلو په باره كښې د شريعت حكم څه دے ؟

جواب : صحيح خبره داده چه جادوګر به وژلے شي برابره خبره ده که دے په جادو کولو سره کافر شوے وي اوکه نهٔ وي. ددهٔ جزاء داده چه په توره ووهلے شي. ددے **دلائل** دادي :

۱ – **اول** : بجله بن عبدهؒ فرمائي : **عمر بن خطاب** ﷠ دا ليکلے فرمان صادر کړو چه هر جادوګر سړے او جادوګره ښځه ووژنئ. راوي وائي : نو مونږ درے جادوګرے ښځے ووژلے.

[بخاري : ١/٤٤٧، احمد : ١/١٩٠، الشافعي : ٢/٨٩].

خو د بخاري کومه نسخه چه مونږ سره ده په هغے کښے دا نشته دے.

۲ – **دويم** : جندب ﷠ فرمائي : **رسول الله** ﷺ وفرمايل : (د جادوګر حد دادے چه په توره ووهلے شي).

[ترمذي : ١/١٥٠١، مشكاة : ٢/٣٠٨].

ددے حديث سند ضعيف دے، ځکه په دے کښے حسن بصري د جندب نه روايت کوي، او په دے کښے اسماعيل بن مسلم ضعيف دے. ابن کثيرؒ فرمائي : طبراني په بل سند سره مرفوع روايت کړے دے.

۳ – **دريم** : محمد بن عبد الرحمن بن سعد بن زرارة نه روايت دے چه دهٔ ته دا خبره رسيدلے ده چه د نبي اکرم ﷺ بي بي، **حفصه** k خپله هغه وينځه وژلے وه چه په هغے باندے ئے جادو کړے وو، اودغه بي بي دغه وينځه مدبره کړے وه، نو حفصے حکم وکړو نو هغه ووژلے شوه).

[موطأ مالك : ٢/٦٧٨، عبد الرزاق].

٤ – **څلورم** : امام بخاريؒ په خپل تاريخ کښے د ابو عثمان نهديؒ نه روايت کړې دی چه دهٔ وفرمايل : (د وليد سره يو سړے وو چه لوبے ئے کولے، نو هغهٔ يو انسان ذبح کړو او د هغهٔ نه ئے سر جدا کړو. نو مونږ تعجب وکړو نو هغهٔ ورته بيرته سر واپس کړو. په دے کښے جندب ازدي راغے او هغه ئے قتل کړو).

امام بيهقيؒ دا حديث اوږد روايت کړے او په هغے کښے دا الفاظ دي : نو خلکو ووېل : سبحان الله ! دا کس خو مړی ژوندی کوی.او د مهاجرينو يو نيك سړی دهٔ له وليدلو او ورته ئے وکتل. کله چه صبا شو نو خپله توره ئے د ځان سره پټه ونيوله. نو دغه سړی بيا خپله دغه لوبه کوله نو هغه نيك سړی پسے توره راوښکله او څټ ئے ورله وواهۀ او وے

فرمایل: كه چرے دے رشتینی وی نو خپل ځان دے ژوندے كړی۔ نو ولید حكم وكړو چه دا كس جیل ته وا چوئ نو هغه جیل ته وا چولے شو)۔ ددے حدیث ډیر سندونه دی۔

نو دا په دے خبره دلیل دے چه د امیر او بادشاه نه بغیر عوام خلك هم جادوګر سړے وژلے شی۔

امام احمدؒ فرمائی: د درے صحابه كرامو نه ثابته ده چه هغوئ جادوګر وژلے دے: عمر، جندب، اوحفصه j۔

[راجع تیسیر العزیز الحمید ص: ٣٩٠]۔

ابن قدامهؒ فرمائی: د جادوګر سزا داده چه ووژلے شی، لكه دا خبره د عمر، عثمان بن عفان، ابن عمر، حفصے، جندب بن عبد الله، جندب بن كعب، قیس بن سعد او عمر بن عبد العزیز (j) نه روایت شوے ده او دا د ابو حنیفه او مالك قول دے۔

[المغنی: ١٠/٢١٥].

امام مالكؒ فرمائی: هغه جادوګر چه خپله جادو كوی او دا كار ورله بل چا نۀ وی كړے، دا د هغه خلكو پشان دے چه الله تعالیٰ د هغوئ په باره كښے په خپل كتاب كښے فرمایلی دی: ﴿ وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَالَهٗ فِی الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴾ (او دوئ ته خامخا معلومه وه چه څوك جادو غوره كړی نو دۀ له په آخرت كښے هیڅ برخه نشته)۔

نو زما رائے داده چه جادوګر ووژلے شی، كله چه د جادو دا كار دۀ په خپله كړے وی۔

[موطأ امام مالك ص: ٦٧٨].

قرطبیؒ فرمائی: د مسلمان او ذمی جادوګر په باره كښے د فقهاؤ اختلاف دے۔ د امام مالكؒ رائے داده چه كله مسلمان په خپله داسے جادو وكړی چه هغه د كفر خبرے وی نو دا به وژلے شی او ددۀ نه به توبه نه طلب كیږی او نۀ ئے توبه قبوله ده۔ ځكه دا یو پټ شے دے لكه زندیق او زنا كار۔ بله دا چه الله تعالیٰ جادو ته كفر ویلے دے، فرمائی:

﴿ وَمَا یُعَلِّمَانِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰی یَقُوْلَا اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ﴾ او دا د احمد بن حنبلؒ، ابو ثورؒ، اسحاقؒ، شافعیؒ او ابو حنیفهؒ قول دے۔

ابن منذرؒ فرمائی: كله چه یو سړے دا اقرار وكړی چه دۀ دداسے خبرو په ذریعه جادو كړے دے چه هغه كفر دے نو ددے سړی وژل واجب دی كه چرے توبه ئے ونه ویستله۔ دغه شان كه په دۀ باندے ګواهان قائم شو چه دۀ په كفری خبرو سره جادو كړے دے نو هم به وژلے شی۔

اوکه چرې دداسې خبرو په ذریعه ئې جادو کړې وي چه هغه کفر نۀ وي، نو بیا ئې وژل جائز نۀ دي. البته که په جادو کړې شوی کس کښې دده داسې جنایت ښکاره شو چه هغه قصاص لازموي نو د جادوګر نه به قصاص واغستې شي په دې شرط چه قصدًا ئې دا کار کړې وي. اوکه چرې داسې جنایت وو چه په هغې کښې قصاص نۀ وو، نو بیابه ددې دیت ورکوي.

[تفسیر قرطبی : ۲/۴۸].

ابن کثیرؒ فرمائي : د آیتِ کریمه : ﴿ وَلَوْ اَنَّهُمْ آمَنُوْا وَاتَّقَوْا ﴾ (که چرې دوئ ایمان راوړې وې او تقویٰ ئې اختیار کړې وې) ددې نه هغه چا دلیل نیولې چه هغوئ د جادوګر د کفر قائل دي، لکه دا د احمد بن حنبلؒ او د سلفو د یوې ډلې نه نقل شوي دي. او بعضې وائي: په دې سره نۀ کافر کیږي خو جزاء ئې داده چه ووژلې شي. بیا ئې دغه مخکنی حدیثونه ذکر کړي دي.

[تفسیر ابن کثیر: ۱/۲۰۱].

حافظ ابن حجرؒ وائي : ابن بطالؒ فرمائي چه د امام مالكؒ او زهريؒ په نیز د اهلِ کتابو جادوګر به نشي وژلې مګر کله ئې چه په دې جادو سره څوك وژلې وي نو بیا به وژلې شي او دا د ابوحنیفهؒ او شافعيؒ وینا ده. امام مالكؒ نه نقل دي: که په خپل جادو سره ئې مسلمان ته داسې ضرر ورکړو چه په هغې باندې دده سره معاهده نۀ وه شوې نو په دې سره دده معاهده ماته شوه او وژل ئې جائز دي. او نبي کریم ﷺ لبید بن اعصم یهودي په دې وجه ونۀ وژلو چه هغوئ به د خپل ځان دپاره د چانه بدله نه اغسته. بله دا چه نبي اکرم ﷺ سره اندیښنه وه چه که دا ووژني نو د مسلمانانو او د هغوئ سره د معاهده کونکو انصارو ترمینځه به فتنه واقع شي. او دا داسې وه لکه نبي کریم ﷺ د منافقانو سره جنګ کول پریښي وو برابره خبره ده که لبید بن اعصم یهودي وي اوکه منافق وي. د امام مالكؒ په نیز د جادوګر حکم د زندیق پشان دې، دده توبه نۀ قبلیږي او د سزا په توګه به وژلې شي هر کله چه په دۀ باندې ددې ثبوت وشي. او دا د احمدؒ رائې هم ده. شافعيؒ وائي چه دا به نشي وژلې البته که دۀ اقرار وکړو چه دۀ په خپل جادو سره څوك وژلې دې نو بیا به د هغۀ په بدله کښې ووژل شي. اوکه دۀ دا اقرار وکړو چه دده جادو کله څوك وژني اوکله ئې نۀ وژني. او دۀ په یو کس باندې جادو کړې او هغه مړ شوې دې، نو په دۀ باندې قصاص واجب نۀ دې بلکه دده

په مال کښې په دۀ بانـدې ديت واجب دے۔ ددۀ په عاقله (نزدې خپلوانو) باندې واجب نۀ دے۔او په ګواهانو سره دانۀ معلومېږی چه په جادو سره وژل کړے شوی دی۔ ابو بکر رازیؒ په احکامو کښې دعوىٰ کړے ده چه شافعیؒ په خپل دے قول باندې تفرد (او ځانګړتيا) کړے چه جادوګر به د قصاص په توګه وژلے شی هر کله چه دے اقرار وکړی چه دۀ په خپل جادو سره څوك وژلے دے۔ نوویؒ فرمائی : که په جادو کښې داسے قول یا فعل وی چه دکفر تقاضا کوی نو جادوګر به کافر وګنړلے شی اوکه توبه وباسی نو توبه ئے قبوله ده زمونږ په نيز۔ اوکه ددۀ په جادو کښې داسے څه مواد نۀ وی چه په هغے سره څوك کافر شی نو دۀ له به تعزير ورکړے شی او توبه به پرے وښکلے شی۔

[فتح البارى : ١٠/١٩٤].

امام عبد الرزاق د سعيد بن مسيبؒ او عروهؒ وغيره نه نقل کړی دی چه د اهل کتابو جادوګر به نۀ وژل کيږی۔

[مصنف عبد الرزاق :٦/٦٥].

البته عبد الرزاق د کتاب (المعاقل والعقول) په آخر کښې داسے احاديث ذکر کړی چه هغه د مطلق جادوګر په وژلو باندې دلالت کوی۔

[ونحو ذلك فى الفتح : ٦/١٩٧]۔

خلاصه : صحيح خبره داده چه جادوګر به د سزا په توګه وژلے شی۔ او دا د جمهورو علماؤ قول دے۔ [انظر الصارم البتار ص : ٨٤]۔

پاتے شوه دا خبره چه حدود به څوك قائموی ؟ ددے جواب به په (کتاب الحدود) کښې راشی ان شاء الله تعالىٰ۔ [وبالله التوفيق]۔

د [لَوْ كَانَ مُوسٰى وَعِيسٰى حَيَّيْنِ] حديث تحقيق

٤٣٦ – **سوال** : يو حديث په دے الفاظو راغلے دے : [لَوْ كَانَ مُوسٰى وَعِيسٰى حَيَّيْنِ لَمَا وَسِعَهُمَا اِلَّا اتِّبَاعِىْ] (که چرے موسىٰ او عيسىٰ – عليهما السلام – ژوندی وے نو هغوئ لپاره به هم ځمانه علاوه د بل چا تابعداری جائز نۀ وے) ددے حديث حواله څه ده ؟ او دا صحيح دے که نه ؟

جواب : ددې حدیث هیڅ بنیاد نشته۔ او نۀ دا د احادیثو په کتابونو کښې شته، او نۀ ددې څه سند شته، بلکه دا د هغه متواترو حدیثونو خلاف دې کوم چه د عیسیٰ ؑ آسمان ته د ختلو او هلته د هغۀ د ژوند په باره کښې راغلي دي، او دا د پنځوسو نه زیات حدیثونه دي۔

او دا حدیث ابن کثیرؒ په خپل تفسیر (۳۷۸/۱) کښې د الله تعالیٰ ددې وینا د لاندې ذکر کړې : ﴿ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِیْثَاقَ النَّبِیّٖنَ ﴾ دارنګه د موسیٰ او خضر علیهما السلام د قیصې په تفسیر کښې ئې ذکر کړې۔

[تفسیر ابن کثیر : ۱۰۰/۳]۔

او ملا علی قاری په شرح فقه اکبر (ص : ۱۱۲) کښې ددې پشان حدیث ذکر کړې دې خو هغه ددې هیڅ حواله نۀ ده ورکړې۔ داسې ښکاري چه دا د دوئ په کتابونو کښې چا د ځانه ور داخل کړې دې۔

○○○○○○○○○

كتاب الحيض والاستحاضة

د حیض او استحاضې بیان

د حیض کمه او زیاته موده شرعًا مقرر نۀ ده

۴۳۷ - **سوال** : بعضې فقهاؤ د حیض شروع کیدل په نهو کلونو باندې اندازه کړې دی۔ او د حیض بندیدل ئې په پنځوسو کلونو سره اندازه کړې دی۔ آیا په دې باندې دلیل شته دې ؟

جواب : صحیح خبره داده چه دا تحدید او اندازه لګول صحیح نۀ دی ځکه په دې تحدید باندې د قرآن او صحیح سنت نه هیڅ دلیل نشته۔ شارع په دې باره کښې هیڅ تحدید نۀ دې مقرر کړې۔ دا تحدیدات خو بعضې فقهاؤ – رحمهم الله – د خپل طرفه په اجتهاد سره مقرر کړی۔ او هغوئ ددې بنیاد دا ګرځولے چه عام طور سره د نهو کالو نه مخکښې د زنانه حیض نۀ راځی۔ او د پنځوسو کالونه روسته د هغې حیض بندیږی۔

خو صحیح خبره داده چه زنانه کله هغه وینه ووینی چه هغه زنانو ته معلومه ده نو دا به حیض وی۔ ځکه د الله تعالیٰ دا وینا عامه ده چه : ﴿وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ قُلْ هُوَ اَذًى﴾ نو الله تعالیٰ په حیض پورې حکم تړلے او په دې باره کښې ئې د کلونو هیڅ تعیین او تحدید نۀ دې کړې۔ بس کله چه حیض موجود شی نو حکم به ئې هم ثابت وی۔ او کله چه دغه خاصه وینه نۀ وی نو حکم به ئې هم نۀ وی۔ نو کله چه هم زنانه وینه ووینی نو دا به حائضه وی اګرکه د نهو کالو نه کمه وی یا د پنځوسو کالو نه زیاته وی۔ ځکه تحدید دپاره دلیل ضروری دې، او په دې دلیل نشته۔

بله دا چه د حیض په باره کښې د ښځو مزاجونه هم مختلف دی۔ د ځینو ښځو بدن آباد وی نو د پنځوسو کالو نه پس ئې هم حیض راځی۔ او ځینې ښځې کمزورې وی نو د پنځوسو کلونو نه مخکښې ئې وینه بنده شی۔

امام دارمیؒ په دے باره کښے د اختلاف ذکر کولو نه پس فرمائی : دا ټول زما په نیز خطا دی، ځکه په دے باب کښے به رجوع وجود د حیض ته کولے شی، نو کومه اندازه چه موجوده شوه، په هر حال او په هر عُمر کښے چه موجوده شی، هغه حیض ګرځول واجب دی۔

[انظر المجموع شرح المهذب : ۲/۳۷٤].

شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ دا قول غوره کړے، او همدا حق دے، ځکه مقادیر او اندازے د شریعت نه علاوه په رائے او اجتهاد سره نۀ معلومیږی۔ او شارع په دے باره کښے حد نۀ دے مقرر کړے۔

او هر چه دا وینا د عائشے k ده چه : (کله جینۍ نهو کالو ته ورسیږی، هغه ښځه ده)۔ نو ددے نه تحدید او حد بندی نۀ معلومیږی۔

[بیهقی : ۱/۳۲۰، ترمذی : ۱/۲۰۷، ارواء الغلیل : ۱/۱۹۹].

ابن حزمؒ فرمائی : که ډیرے بوډۍ توره وینه ولیدله نو دا حیض دے چه مونځ منع کوی۔

[المحلی : ٤۰٤۱].

د پنځوس کلنۍ نه پس وینه راتلل، او زیړه یا خړه وینه لیدل

٤۳۸ – **سوال** : یوه ښځه ده چه د پنځوسو کالو نه ئے عمر زیات شو او په معلومے طریقے سره ئے وینه راځی۔ او یوه بله ښځه ده چه هغے ته وینه راځی خو په معلومے طریقے سره نۀ راځی بلکه زیړه یا خړه وینه وی۔ ددے دواړو څه حکم دے ؟

جواب : (۱) د مخکښے نه دا خبره معلومه شوه چه د غوره قول مطابق د حیض د کلونو حد بندی مقرر نۀ ده۔ دے وجے نه کومه ښځه چه په معلومے طریقے سره وینه وینی نو هغه حیض دے اګرکه د پنځوس کلنۍ نه پس راغلے وی۔ په دے به د حیض احکام جاری کیږی، مثلًا مونځ، روژه او جماع وغیره به پریږدی۔

(۲) – پاتے شوه هغه ښځه چه هغه د خپل عادت په ورځو کښے زیړوالے یا خړوالے وینی، نو دا حیض دے۔ اوکه چرے د خپل عادت زمانه ئے نۀ وه نو بیا دا حیض نۀ دے۔ ځکه ام عطیه k فرمائی : [كُنَّا لَا نَعُدُّ الصُّفْرَةَ وَالْكُدْرَةَ بَعْدَ الطُّهْرِ شَيْئًا].

(مونږ به د پاکیدو نه پس زیړوالی او خړوالی له هیڅ اعتبار نۀ ورکولو)۔

[بخاری: ۱/۴۷].

دے نه معلومه شوه چه زیړوالے او خړوالے د حیض په زمانه کښے حیض دے او ددے نه پس زیړوالی او خړوالی له هیڅ اعتبار نشته۔ ښځ ځان پو هه کړه !

پاتے شوه هغه ښځه چه هغه د پنځوسو کلونو نه آوښتی وی او هغے ته وینه راشی۔ خو د خپل وخت نه مخکښے یا روستو راشی، نو دے له هیڅ تاثیر نشته، او دا حیض دے ځکه حیض ډیر کرته کله روستو راځی او کله مخکښے۔

[مجموع فتاوی عثیمین: ۴/۲۷۰].

د حیض په حالت کښے د مونځ کولو حکم

۴۳۹ – **سوال**: یوه ښځه شرمیدله او د حیض په حالت کښے ئے مونځ وکړو، ددے ښځے دا عمل څه حکم لری ؟

جواب: دا قبیحه او خرابه حیاء ده، ځکه حیض یوه داسے بیماری ده چه د مسلمانانو او کافرانو ټولوپه نیز معلومه ده۔ او ښځه په شریعت کښے د حیض په حالت کښے د مونځ، روژے نه منع شوے ده۔ نبی کریم ﷺ فرمائی: [اَلَيْسَ اِذَا حَاضَتُ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ].

(آیا داسے نه ده چه کله ښځه حائضه شی نو نۀ مونځ کوی او نۀ روژه نیسی ؟)۔

[بخاری، مسلم، مشکاة: ۱/۱۳].

او عائشه k فرمائی: مونږ ته به د روژو د قضائی راوړو امر کیدۀ او د مانځه د قضاء راوړو امر به راته نۀ کیدۀ)۔

[رواه الجماعة، کما فی الإرواء: ۱/۲۲۰].

نو د شرم د وجے نه د حائضے ښځے او جنب سړی مونځ کول حرام دی۔ بلکه بعضے علماؤ ویلی دی چه دا د کفر کار دے ځکه چه دا د الله تعالیٰ په آیتونو پورے ټوقے کول دی۔

[کما فی مجموع فتاوی عثیمین: ۴/۲۸۶].

دے وجے نه دغه ښځے له پکار دی چه د الله نه استغفار وغواړی او توبه وباسی۔ بعضے ځوانان هم دا کار کوی هر کله چه دوئ چرته میلمانۀ شی او غسل پرے واوړی، حالانکه دا کار ناجائز دے۔

که علاج کولو په وخت وینه راشي نو دابه حیض وي که نه ؟

٤٤٠ - **سوال** : یوې ښځې د ځان علاج کولو او هغې ته د حیض وینه راغله، نو آیا دابه حیض ګڼړلے شي اوکه نه ؟ ځکه چه دا په تکلف سره راغلې ده ؟

جواب : صحیح خبره داده چه دا به حیض ګڼړلے شي اګرکه د علاج په سبب وي، ځکه حیض د وینې نوم دے نو کله چه وینه موجوده شوه، حکم به ئې موجود وي۔ لکه څنګه چه ښځه حیض بندوونکې دوائي وخوري او حیض ئې بند شي نو دا ښځه پاکه شوه، دا به مونځ کوي او روژه به نیسي۔ لکه چه مخکښې په دویم جلد (٢/٤٩٠) کښې دا مسئله تیره شوه۔ ځکه چه حکم د خپل علت سره ګرځي راګرځي۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ قُلْ هُوَ اَذًى ﴾ نو کله چه دا (اذی) یعنی ګندګی موجوده شوه نو حکم به ئې ثابت وي۔ اوکله چه موجوده نهٔ وي نو حکم به ئې هم ثابت نهٔ وي۔

بله دا چه کله د ټوپ یا سخت زور یا جماع وغیره په وجه هم حیض راځي، او دا ټول د حیض اسباب دي۔

حیض سره تړلی احکام

٤٤١ - **سوال** : حیض سره کوم احکام تړلی دي ؟

جواب : حیض سره تړلی احکام ډیر دي۔ مونږ هغه احکام ذکر کوو چه په هغې باندې دلیل موجود وي۔

١ - **اول** : حیض او طهارت پاکی منع کوي، البته د حج وغیره غسل نهٔ منع کوي ځکه چه دا طهارت ته احتیاج نهٔ لري۔

ځکه د جابر رضی الله عنه په حدیث کښې دي : کله چه مونږ ذو الحلیفه ته راغلو نو د اسماء بنت عمیس ځوئې محمد بن ابی بکر پیدا شو، نو هغې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خبر ورکړو چه زهٔ څه وکړم ؟ وې فرمایل : غسل وکړه او کپړه وتړه او احرام وتړه۔

[مسلم : ١/٣٩٤، مشکاة : ١/٢٢٤].

نو ددې حدیث نه معلومه شوه چه نفاس، د احرام په غسل کښې خنډ نه جوړیږي۔

[المجموع شرح المهذب : ۲/۳٦۷].

دویم : د عبادت په نیت اودس کول حرام دی. البته د حج وغیره دپاره غسل کول ددے نه مستثنیٰ دی.

دریم : د مونځ واجب والے منع کوی. ددے دلیل د ابو سعید خدری رضی الله عنه حدیث دے کوم چه د بخاری اومسلم په حواله مخکښے تیر شو : [اَلَيۡسَ اِذَا حَاضَتۡ لَمۡ تُصَلِّ وَلَمۡ تَصُمۡ] (آیا داسے نه ده چه کله ښځه حائضه شی نو نۀ مونځ کوی او نۀ روژه نیسی ؟).

[بخاری، مسلم، مشکاة : ۱/۱۳].

څلورم : مونځ کول حراموی. ځکه چه حیض پلیتی ده او د پلیتئ په حالت الله تعالیٰ ته تقرب او ځان نزدے کول حرام دی. بلکه دا د الله د آیتونو پورے توقے کول دی.

پنځم : د مونځ صحیح والے بندوی.

شپږم : د روژے واجب والے منع کوی.

اووم : روژه نیول حراموی.

اتم : د روژے صحیح والے بندوی.

نهم : قرآن کریم له لاس وروړل او هغه راوچتول حراموی. لکه مخکښے په مسئله نمبر (۳٦٤) کښے ددے پوره تفصیل موجود دے.

دارنګه د حائضے ښځے دپاره په جومات کښے ایساریدل او په هغے کښے تیریدل دواړه حرام دی. په دے باندے دلیل حدیث د عائشے k دے چه دا وائی : ماته نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (ماله د جومات نه جانماز راکړه. ما عرض وکړو، زۀ خو حائضه یم. وے فرمایل : ستا حیض خو څه ستا په لاس کښے نۀ دے).

[بخاری، مشکاة : ۱/٥٦].

دے حدیث نه معلومه شوه چه د حائضے ښځے دپاره مسجد ته ننوتل جائز نۀ دی، البته د مسجد نه که څه شے راخلی نو په دے کښے څۀ باك نشته.

او کله چه عائشه k د مکے په لاره کښے حائضه شوه، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : [اِفۡعَلِىۡ مَا يَفۡعَلُ الۡحَاجُّ غَيۡرَ اَنۡ لَّا تَطُوۡفِىۡ بِالۡبَيۡتِ حَتّٰى تَطۡهُرِيۡنَ] (تۀ هر هغه کار کوه چه یو حاجی ئے کوی، البته د بیت الله طواف به هله کوے چه پاکه شے).

[بخاری : ۱/٤٤].

پاتے شو هغه حدیث چه په هغے کښے دا راغلی دی چه : (ددے کوټو مخونه د مسجد نه واړوئ ځکه چه زۀ جومات د حائضے اوجنب دپاره جائز نۀ گنړم).

[ابوداود : ۲۳۲، مشکاة : ۱/٤۹].

نو دا حدیث ضعیف دے. په دے کښے جسرة او افلت بن خلیفه دواړه ضعیف دی.

[ارواء الغلیل : ۱/۱۹۳].

البته د حائضے دپاره دا راتلونکی شیان جائز دی :

ذکر کول، الله اکبر، سبحان الله، او الحمد لله ویل. د خوراك وغیره په وخت بسم الله ویل. حدیث لوستل. د فقهے او تفسیر کتابونه لوستل. دعاء کول او په هغے باندے آمین ویل. قرآن کریم آوریدل. دا شیان د ښځے دپاره حرام نۀ دی. د بخاری اومسلم وغیره په حدیث کښے ثابت دی چه نبی کریم ﷺ به د عائشے k په غیږه کښے قرآن لوستلو او هغه به حائضه وه.

[مشکاة : ۱/٥٦].

او د ام عطیه k په حدیث کښے دی. نبی کریم ﷺ فرمائی : (د اختر مانځه ته به پیغلے او پرده نشینے او حائضے ښځے وځی، او خیر او د مومنانو دعاگانو ته به حاضریږی، البته حائضے ښځے به د مانځه د ځائے نه ډډه کوی).

[بخاری : ۱٥٦۹، مسلم : ۲۰۹۳].

دے حدیث نه معلومه شوه چه په مسجد کښے د حائضے ښځے دپاره ایساریدل منع دی.

لسم : د حائضے دپاره د شکر سجده او د تلاوت سجده کول د صحیح قول مطابق جائز دی. لکه چه ددے تحقیق امام بخاریؒ په خپل صحیح (۱/۱٤٦) کښے کړے دے. فرمائی :

[باب سجود المسلمین مع المشرکین والمشرك نجس لا وضوء له وکان ابن عمر یسجد علی غیر وضوء].

(مسلمانانو د مشرکانو سره شریکه سجده کړے ده او مشرك پلیت وی، بے اودسه وی. او ابن عمر به بے د تلاوت سجده بے اودسه کوله).

دارنگه د ابن عمرؓ سره د شعبیؒ نه هم دا نقل شوی دی.

[ابن ابی شیبه : ۲/۱٤].

بله دا چه د تلاوت او د شکر سجدے دواړه مونځونه نهٔ دی، نو ځکه ورله هغه شیان شرط نهٔ دی کوم چه د مانځه دپاره شرط دی لکه طهارت او قبلے ته مخ کول۔

[المحلی لابن حزم : ٣/٣٣٠].

علامه شوکانیؒ فرمائی : د تلاوت د سجدے په حدیثونو کښے دا خبره نهٔ ده راغلی چه سجده کونکے به اودس لرونکے وی۔ د نبی کریم ﷺ سره به هغه چا هم شریکه سجده کوله ثوك به چه د نبی کریم ﷺ تلاوت ته حاضر وو، او دا نهٔ دی نقل چه نبی کریم ﷺ دوئ ته د اوداسهٔ حکم کړے وی۔ او دا خبره هم لرے ده چه دغه ټول خلك دے په دغه وخت کښے په اوداسهٔ کښے وی۔

[فقه السنة : ١/١٨٨].

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی : هر کله چه د بے اودسه کس دپاره قرآن لوستل جائز دی نو ددهٔ دپاره به سجده کول په طریقه اولیٰ سره جائز وی، ځکه چه قرآن د سجدے نه زیات عظیم الشان دے۔

[مجموعة الفتاوی : ٢١/٢٩٣].

بل ځائے فرمائی : د هیڅ یو صحابی نه دا نقل نهٔ دی چه د تلاوت د سجدے دپاره ئے اودس شرط ګرځولے وی۔ د فرعون ساحرانو هم د بے اودسئ په حالت کښے سجده کړے وه۔

[حواله سابقه : ٢٦/١٩٤].

زهریؒ او قتادهؒ نه هم نقل دی چه حائضه ښځه د تلاوت سجده کولے شی۔

[مصنف عبد الرزاق : ١/٣٢١]۔

ددے مسئلے تفصیل به په خپل ځائے کښے راشی ان شاء الله۔

یولسم : اعتکاف ورله حرام دے او حیض ددے صحت منع کوی۔ ځکه چه اعتکاف په جومات کښے کیږی او حائضه په جومات کښے نشی پاتے کیدے۔ پاتے شو په کورونو کښے اعتکاف کول نو دا نهٔ د نارینهٔ دپاره جائز دی اونهٔ د زنانو دپاره۔ لکه چه دا به هم په خپل ځائے کښے راشی ان شاء الله۔

نو یو خو حائضه ښځه جومات ته نشی ننوتے۔ بله دا چه د عائشے رضی الله عنها په حدیث کښے راغلی دی : [وَلَا اِعْتِكَافَ اِلَّا بِصَوْمٍ] (اعتکاف د روژے نه بغیر نهٔ کیږی)۔

[ابوداود، باسناد صحیح، مشکاة : ۱/۱۸۳].

او د حیض په حالت کښې روژه نیول صحیح نهٔ دی۔

دولسم : د حیض په وجه د طوافِ وَداع واجب والے ختمیږی۔ لکه د ابن عباس رضی الله عنه په حدیث کښې دی : **خلك به هر طرف نه واپس کیدل۔نو رسول الله** صلی الله علیه وسلم **وفرمایل : (په تاسو کښې دے هیڅوك تر هغه وخته پورے نهٔ واپس کیږی تر څو چه آخری ملاقات ئے بیت الله سره نهٔ وی کړے، البته حائضے ښځے له ددے د پریښودو سهولت ورکړے شوے)۔**

[بخاری، مسلم، مشکاة : ۱/۲۳٤].

نو طوافِ وداع په حائضه واجب نهٔ دے او نهٔ ددے د پریښودلو په وجه پرے دم شته۔ بعضے صحابه کرامو ژ **په دے مسئله کښې اختلاف کولو، خو کله چه ورته دا حدیث ورسیدهٔ نو اختلاف ئے ختم کړو او دے حدیث ته ئے رجوع وکړه، لکه چه دا د هر مسلمان شان دے۔**

[انظر الفتاوی الإسلامية : ۱/۲۳۷].

دیارلسم : **حائضے ښځے سره کوروالے کول حرام دی۔ او ددے په حرمت باندے د ټولو مسلمانانو اتفاق دے، ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿فَاعۡتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الۡمَحِيۡضِ﴾ (د حیض په وخت تاسو د خپلو ښځو نه ډډه وکړئ)۔ او نبی کریم** صلی الله علیه وسلم **فرمائی : (چا چه حائضے ښځے سره جماع وکړه او یا ئے ښځے سره په شا طرف کښې کوروالے وکړو او یا تروپتی ته راغے نو دهٔ په هغه شئ باندے کفر وکړو چه هغه په محمد (**صلی الله علیه وسلم**) باندے نازل شوے دے)۔**

[ترمذی : ۱/۳۵، ابن ماجه : ٦۳۹، دارمی : ۱/۲۰۷، مشکاة : ٥٦۱].

پاتے شو د ښځے د نامهٔ او زنګون ترمینځه برخه استعمالول نو صحیح خبره داده چه دا جائز دی خو د هغے شرمګاه به نهٔ استعمالوی۔ ځکه حدیث کښې دی :

[اِصۡنَعُوۡا كُلَّ شَيۡءٍ اِلَّا النِّكَاحَ] **(د کوروالی نه سیوا تاسو ښځو سره هر کار کولے شئ)۔**

[صحیح مسلم : ۱/۱٤۱].

ددے حدیث د عموم نه معلومه شوه چه دا کار جائز دے۔

علامه صنعانیؒ فرمائی : ځینے خلکو دے کار ته مکروه ویلی او چا ورته حرام ویلی، خو غوره خبره داده چه دا کار جائز دے، ځکه چه په دے باندے دغه دلیل قائم شوے دے۔

[سبل السلام : ۱/۲۱۵].

خو غوره خبره داده چه ددے کار نه هم ډډه وکړے شي، ځکه د عائشے k په حدیث کښے دی : (نبی کریم ﷺ به ماته حکم وکړو، ما به لنګ وتړلو نو بیا به راسره څملاستلو او زۀ به حائضه ووم)۔

[بخاری، مسلم، وتقدم رقم : ٤٢٥].

څوارلسم : خاوند دپاره حرام دی چه د حیض په حالت کښے ښځے له طلاق ورکړی۔ ځکه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ يَآاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ ﴾.

(اے نبی ! کله چه تاسو ښځو له طلاق ورکوئ نو د عدت په وخت ورله طلاق ورکړئ)۔ (یعنی په پاکئ کښے)۔ او په صحیحینو کښے روایت دے چه ابن عمر رضی الله عنه خپلے ښځے له د حیض په حالت کښے طلاق ورکړے وو، نو د هغۀ پلار (عُمر رضی الله عنه) نبی کریم ﷺ ته ددے خبر ورکړو، نو رسول الله ﷺ غصه شو او وے فرمایل : (حکم ورته وکړه چه رجوع ورته وکړی، بیا دے ئے وساتی تردے چه پاکه شی، بیا ئے حیض راشی او بیا پاکه شی، بیا ئے که خوښه وی نو ددے نه پس دے ئے وساتی او که خوښه ئے وی نو د جماع نه مخکښے دے ورله طلاق ورکړی۔ نو دا هغه عدت دے چه الله حکم کړے دے چه ددے په وخت دے ښځو له طلاق ورکړے شی)۔

[بخاری، مسلم : ۳۷۲۵، ونحوه فی المشکاة : ۲/۲۸۳].

نو که چرے یو سړی خپلے ښځے له د حیض په حالت کښے طلاق ورکړو، نو دا کس ګنهګار دے او په دۀ لازم دی چه الله ته توبه کړی او د ابن عمرؓ په دغه پورتنی حدیث عمل وکړی۔ هغه دا چه دغه ښځه بیرته خپلے ولقے ته راولی او بیا د دویم حیض تیریدو نه پس که خوښه ئے وی طلاق ورته ورکړی۔

○ د حیض په حالت کښے د طلاقو د حراموالی نه دا درے مسئلے **مستثنیٰ** دی :

اوله مسئله : کله چه خاوند خپلے ښځے له په داسے حال کښے طلاق ورکړی وی چه هغے سره ئے یو ځائے والے نۀ وی کړے اونۀ ئے هغه مسه کړے وی، نو بیا په دے کښے باک نشته چه هغے له د حیض په حالت کښے طلاق ورکړی۔ لکه د الله تعالیٰ ددے وینا نه معلومیږی : ﴿ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ ﴾.

(په تاسو ګناه نشته که تاسو ښځو له طلاق ورکوئ تر څو پورې چه تاسو مسه کړې نۀ وی)۔ یعنی په هر حالت کښې چه ورله طلاق ورکوئ، جائز دی، د پاکئ حالت وی اوکه د حیض۔ [تفسیر الخازن : ۱۷۸/۱].

دویمه مسئله : کله چه طلاق د عوض په مقابله کښې وی (یعنی ښځه د خاوند سره خلع وکړی) نو په دې صورت کښې هم د حیض او د طهارت دواړو حالتونو کښې ورله طلاق ورکول جائز دی۔ ځکه چه د غوره قول مطابق خلع د نکاح ختمول دی۔ لکه چه دا خبره به په کتاب النکاح کښې راشی ان شاء الله۔

[انظر المغنی : ۱۷۵/۸].

دریمه مسئله : کله چه ښځه حامله وی او حیض ئې هم راځی نو په دې حالت کښې هم ورله طلاق ورکول جائز دی، ځکه د حمل په حالت کښې وینه راتلل دا د حیض وینه نۀ ده بلکه هسې خرابه وینه ده۔ لکه دا مسئله مخکښې په (٤٢٧) نمبر کښې تیره شوه۔

پاتې شو د حیض په حالت کښې په ښځه باندې نکاح تړل نو په دې کښې څه باك نشته، خو مناسبه نۀ ده چه د حیض په حالت کښې ښځه را وادۀ شی، ځکه هسې نه خاوند ورسره په دې حالت کښې کور والے وکړی۔

پنځلسم : حیض سره عدت او استبراء (رحم پاکول) تړلی دی۔

شپاړسم : د غسل لازم والے۔ حائضه چه کله پاکه شی او وینه ئې بنده شی نو په دې باندې واجب دی چه غسل وکړی او خپل ټول بدن ووینځی۔ ځکه نبی کریم ﷺ فاطمې بنت ابی حبیش k ته فرمایلی وو : [فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلَاةَ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي] (کله چه حیض راشی نو مونځ پریده او کله چه شا کړی نو غسل کوه او مونځ کوه)۔

[بخاری: ٤٦/۱، مشکاة : ٥٦/۱].

د حیض په غسل کښې کمه اندازه داده چه خپل ټول بدن ووینځی تردې چه د ویښتانو لاندې برخه هم ووینځی۔ او بهتره داده چه په هغه طریقه غسل وکړی کومه چه د حیض د غسل په باره کښې د نبی کریم ﷺ نه نقل شوې ده۔ هغه دا چه د نبی کریم ﷺ نه چه اسماء k د حیض د غسل په باره کښې پوښتنه وکړه نو هغۀ وفرمایل : (په تاسو کښې دې یوه ښځه اوبۀ او د بیرې پاڼې راواخلی او په هغې سره دې ښائسته پاکی حاصله کړی، بیا

دے په خپل سر باندے اوبۀ راواړوی او هغه دے کلك کلك ومږی تردے چه د ويښتانو ستهو ته اوبۀ ورسی، بيا دے په هغے اوبۀ راواړوی بيا دے يوه داسے کپړه را واخلی چه په هغے باندے مشك لړيدلی وی په هغے سره دے خپل ځان پاکيزه کړی. نو اسماء عرض وکړو: په دے باندے به خپل ځان څنګه پاك کړی؟ نبی ﷺ وفرمايل: سبحان الله! نو عائشے ورته وويل: د وينے اثر دے پرے ختم کړی.

[صحيح مسلم: ١/١٥٠].

او په ښځه باندے لازم دی چه د خپل سر ويښتۀ وسپړی او سر ووينځی هر کله ئے چه کوځۍ کړے وی. خپل ټول سر ته به اوبۀ رسوی، لکه مخکښے په مسئله نمبر (٤٠٩) کښے تير شو.

او کله چه د مانځه وخت وی او د هغے په مينځ کښے ښځه پاکه شی نو په هغے باندے واجب دی چه په تادۍ سره غسل وکړی او مونځ اداء کړی. او دا ورله جائز نۀ دی چه د وخت د تنګۍ په بهانه غسل روستو کړی. يا دا عقيده ولری چه ګنے په دے ورځ کښے غسل کول جائز نۀ دی لکه چه ځينے ناپوهه ښځے دا کار کوی.

ولسم: حائضے ښځے له د بيت الله طواف کول حرام دی، برابره خبره که نفلی وی اوکه فرضی. اونۀ ددے طواف صحيح کيږی. ځکه نبی کريم ﷺ عائشے رضی الله عنها ته فرمايلی وو: (ټول هغه کارونه کوه چه يو حاجی ئے کوی، مګر د بيت الله طواف به هله کوے چه پاکه شے).

[صحيح بخاری: ١/٤٦].

او د طواف نه علاوه باقی افعال کولے شی لکه د صفا مروه ترمينځه سعی، وقوف د عرفات، وقوف د مزدلفے او د منیٰ. دا کارونه کولے شی. البته په اوسنی وخت کښے ورله سعی کول هم جائز نۀ دی، ځکه صفا مروه اوس دواړه په جومات کښے داخل شوی دی، او دا جومات ته نشی داخليدے.

اتلسم: په حيض راتلو سره په اتفاق د علماؤ سره جينۍ بالغه ګرځی.

[ملخصًا من المجموع شرح المهذب، وفتاویٰ عثيمين: ٤/٣٠٩، مع زيادة و ترجيح، راجع المعتمد: ١/٨٥، و كشاف القناع: ١/١٩٧].

د هغه وینې حکم چه په هغې کښې د حیض او د غیر حیض اشتباه راشي

٤٤٢ – **سوال** : کله چه د یوې ښځې د وینې په باره کښې اشتباه پیدا شي چه آیا دا به حیض وي که استحاضه اوکه بله وینه، نو دا وینه به کومه یوه ګڼړی ؟

جواب : اصل داده چه کومه وینه د ښځې نه بهیږي نو دا به حیض وي۔ ددې نه به صرف په دلیل سره آؤښتل کیږي کله چه ورته واضحه شي چه دا وینه د حیض وینه نۀ ده۔ او هر کله چه ورته ښکاره معلومه شوې نۀ وي نو بیا به ئې حیض ګڼړي۔ ځکه د اصل نه به اعراض هله کیږي چه دلیل موجود شي۔ او دلته دلیل نشته۔

د یوې ښځې نهه ورځې حیض راغې، بیا ورته بیا وینه راغله

٤٤٣ – **سوال** : د یوې ښځې نهه ورځې حیض راغې او دا ګمان ئې وکړو چه همدا حیض دې، بیا ورته یو څو ورځې پس حیض راغې، او یقین ئې راغې چه همدا حقیقي حیض دې او په دې نهه ورځو کښې ئې مونځ پریښودۀ، نو آیا ددې قضائي به راوړي اوکه نه ؟

جواب : (١) په یوه میاشت کښې دوه ځله هم حیض راتلې شي۔ بلکه امام بخاریؒ ذکر کړي دي چه په یوه میاشت کښې درې ځله هم حیض راتلې شي۔

[صحیح بخاری : ١/٤٧].

نو کله چه ښځې ته معلومه وي چه اولنۍ او دویمه وینه یوشان ده، نو دا حیض دې او دې چه کوم مونځونه پریښي دي نو دا صحیح دي، په دې باندې هیڅ مونځ راګرځول نشته۔

(٢) او کله چه اولنۍ وینه په نهو ورځو کښې د استحاضې وینه وه، او کومه وینه چه ورته روستو راغله هغه د حیض وینه وه، او دې په دې وینه کښې مونځونه پریښي دي نو په دې ښځه باندې د مونځونو قضائي نشته۔ ځکه نبي اکرم ﷺ فاطمې بنت جحش رضی الله عنها ته د هغه مونځونو د قضائي راوړو امر نۀ وو کړې کوم مونځونه چه هغې د خپل استحاض په زمانه کښې پریښي وو۔ ځکه هغې ویلي وو۔ (زۀ یوه داسې ښځه یم چه وینه مې روانه وي او بندیږي نۀ، نو آیا زۀ به مونځونه پریږدم ؟)۔

[بخاری : ٢٢٦، مسلم : ٣٣٣، مشکاة : ١/٥٦].

خو که دے ښځے په دے وجه مونځونه پریښي وو چه کوتاهي ددے د طرفه وه ځکه چه دے د مسئلے پوښتنه نۀ وه کړے، نو د مونځونو قضائی راوړل ښۀ دی۔

د وخت په آخره کښے د ښځے حیض راغے نو د مونځ قضائی به راوړی اوکه نه ؟

٤٤٤ – **سوال** : یوے ښځے باندے د ماښځه وخت راغے، او دے لا مونځ نۀ وو کړے چه په دے کښے پرے حیض راغے، نو آیا دا چه کله پاکه شی نو د دغه مونځ قضائی به راوړی اوکه نه ؟

جواب : دلته دوه مسئلے دی : (۱) **اوله مسئله** : کله چه ښځه د حیض نه پاکه شی او د ماښځه په وخت کښے د یو یا زیات رکعت هومره وخت باقی وو، نو دا ښځه به په همدغه وخت کښے چه پاکه شوه مونځ کوی۔ ځکه نبی کریم ﷺ فرمائی :

[مَنْ اَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ اَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَقَدْ اَدْرَكَ الصُّبْحَ، وَمَنْ اَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ اَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ اَدْرَكَ الْعَصْرَ] (**چا چه نمر خاتۀ نه مخکښے د سهار د مانځه نه یو رکعت رالاندے کړو، نو دۀ د سهار مونځ را لاندے کړو، او چا چه نمر پریواتۀ نه مخکښے د مازیګر د مانځه نه یو رکعت را لاندے کړو نو دۀ د مازیګر مونځ رالاندے کړو**)۔

[بخاری : ۷۹/۱، مسلم : ۲۲۱/۱، مشکاة : ۶۱/۱].

نو دلته نبی کریم ﷺ په یو رکعت را لاندے کولو باندے د دغه دواړو مونځونو د را لاندے کولو فیصله فرمایلے ده۔ نو کله چه ښځے ته د یو رکعت هومره وخت ملاؤ شی نو په دے دغه مونځ واجب شو۔ اوکه چرے د غسل کولو نه پس هغے ته د یو رکعت هومره وخت هم ملاؤ نشو، نو بیا په هغے باندے هیڅ شے لازم نۀ دے۔

○ او د حنفی علماؤ دا خبره چه : کله حائضه ښځه د تکبیرِ تحریمے په اندازه وخت را لاندے کړی نو په هغے باندے مونځ واجب کیږی : په دے خبره هیڅ دلیل نشته بلکه دا د دوئ محض رائے ده۔

[کما فی نور الأنوار ص ۵۲، ۵۷، فی بیان القدرة الممكنة].

(۱) **دویمه مسئله** : کله چه په ښځه باندے د ماښځه وخت راشی خو هغے لا مونځ نۀ وی کړے چه حیض ورته راشی ؟ نو په دے باره کښے د علماؤ دوه قوله دی :

○ **اول** دا چه : دغه ښځه به ددے مونځ قضائی راوړی۔ ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿اِنَّ

الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا ﴾ (بیشکه مونځ په مومنانو باندے په خپل خپل وخت کښے فرض شوے دے)۔

[مجموع فتاوی عثیمین : ٣٧٦/٤].

○ **دویم قول :** ښځه چه کله د مانځه د وخت په آخره کښے حائضه شی نو په دے باندے دغه مونځ نشته۔ ځکه وخت د مانځه دپاره سبب دے، او سببیت د اول وخت نه دویم ته او بیا دریم ته او دغسے په مخه روان وی منتقل کیږی۔ دا وجه ده علماؤ ویلی دی : په کوم انسان باندے چه د مانځه وخت داخل شی او هغه د مونځ کولو نه مخکښے سفر شروع کړی نو دا کس به قصر کوی۔

علامه ابن منذرؒ فرمائی : د ټولو علماؤ په دے خبره اتفاق دے چه دغه کس قصر مونځ کولے شی۔ [المغنی : ١٢٨/٢، نور الانوار ص : ٥٧]۔

نو معلومه شوه چه په دغه ښځه باندے د دغه مانځه قضائی نشته۔

ابن حزمؒ فرمائی : که یوه ښځه د مانځه په اول یا آخر وخت کښے حائضه شوه، او دغه مونځ ئے نهٔ وو کړے، نو د هغے نه دغه مونځ ساقط شو او په هغے باندے د دغه مونځ راګرځول نشته۔ او دا د ابوحنیفهؒ، اوزاعیؒ او زمونږ د ملګرو وینا ده۔او دا د محمد بن سیرینؒ قول هم دے۔ بیا فرمائی : ددے خبرے دلیل دادے چه الله تعالیٰ د مانځه دپاره یو مقرر وخت ټاکلے دے چه اول او آخر لری۔ او د رسول الله ﷺ نه ثابته ده چه هغویٔ په اول او آخر دواړو وختونو کښے مونځ کړے دے۔ نو ثابته شوه چه په آخر وخت کښے مونځ کونکے ګنهګار نهٔ دے، ځکه نبی اکرم ﷺ د ګناه کار نهٔ کوی۔ نو هر کله چه ښځه ګنهګاره نهٔ ده نو دغه مونځ په دے باندے متعین شوے هم نهٔ دے، بلکه د هغے دپاره ددے تاخیر جائز دے، نو کله چه دیته په روستنی وخت کښے حیض راغے نو ددے نه دغه مونځ ساقط شو۔

[المحلی : ٣٩٤/١، مسأله نمبر : ٢٥٨].

د آپریشن نه پس که وینه راشی نو دا به حیض وی اوکه نه ؟

٤٤٥ – سوال : یوے ښځے آپریشن وکړو، او د هغے نه پس ئے وینه ولیدله خو دا د هغے د

عادت نه مخکښې راغلې وه۔ نو آیا داوینه به د حیض وینه ګڼړلې شي اوکه نه ؟
جواب : د ښځې یقین وو چه دا د رحم وینه ده او د حیض وینه ده او وې پیژندله نو دا به د حیض وینه ګڼړلې شي، ځکه عادت کله مخکښې روستو کیږي۔
اوکه ددې غالب ګمان دا وو چه دا وینه د رګونو وینه ده او د آپریشن د وجې نه راغلې ده نو دا بیا د استحاض (بیماریٔ) وینه ده۔ ځکه نبی ﷺ فرمائی : [اِنَّ ذٰلِكَ دَمُ عِرُقٍ] (دا د رګ وینه ده)۔ دې نه معلومه شوه چه کومه وینه د رګ نه بهیږي، چه د همدې نه د آپریشن وینه هم ده، نو دا به حیض نهٔ شمارل کیږي، او ددې ښځې احکام به د حائضې ښځې نهٔ وي، مونځ روژه وغیره ورله حرام نهٔ دي۔ نو کومه وینه چه د رحم نه راوځي هغه حیض دې۔ اوکومه چه د رګونو نه راوځي هغه حیض نهٔ دې بلکه استحاض دې۔ ځکه د حیض تعریف دادې چه : دا یوه وینه ده چه د بالغې او روغې رمتې جینیٔ د رحم نه په غیر د څهٔ بیماریٔ نه بهیږي۔

که د مقرر عادت نه زیاته وینه راغله نو دابه حیض وي اوکه نه ؟

٤٤٦ – **سوال** : د یوې ښځې د حیض عادت شپږ ورځې وو، بیا د هغې د عادت ورځې زیاتې شوې، نو ددې څه حکم دې ؟
جواب : کله چه د دغه ښځې عادت شپږ ورځې وو، بیا دغه موده اوږده شوه او نهه یا لس یا یوولس ورځې شوه، نو دا به مونځ نهٔ کوي بلکه د پاکیٔ پورې به انتظار کوي۔ ځکه نبی کریم ﷺ د حیض د ورځو خاصه اندازه نهٔ ده مقرر کړې۔ او الله تعالیٰ فرمایلي دي : ﴿وَيَسۡئَلُوۡنَكَ عَنِ الۡمَحِيۡضِ قُلۡ هُوَ اَذًى﴾ ۔ نو تر څو پورې چه دغه وینه باقي وي، ښځه به په خپل حال باندې پاتې وي تردې چه پاکه شي او غسل وکړي بیا به مونځ کوي۔ بیا چه په بله میاشت کښې ددې نه کم حیض راشي نو غسل به هله کوي چه کله پاکه شي اګرکه د مخکنیٔ مودې هومره بیماري ئې نهٔ وي راغلې۔
مقصد دا چه تر څو پورې په زنانه کښې حیض موجود وي نو مونځ به نهٔ کوي، برابره خبره ده که دغه حیض ددې د زوړ عادت موافق وي اوکه د هغې نه کم کوز وي۔ اوکله چه پاکه شي مونځ به کوي۔ ځکه د حیض مخکښې والې یا روستو والې یا کموالې زیات والې په

حیض کیدو باندے هیڅ اثر نۀ غورزوی۔

په یوه میاشت کښې د ښځې دوه یا درے حیضونه راتلے شی او که نه ؟

٤٤٧ - **سوال** : یوے ښځے ته ماهواری (حیض) راغے بیا پاکه شوه او غسل ئے وکړو او نهه ورځے ئے مونځ وکړو۔ بیا ورته درے ورځے وینه راغله، بیا پاکه شوه او یوولس ورځے ئے مونځ وکړو۔ بیا ورته د عادت مطابق ماهواری راغله۔ نو آیا په دے درے ورځو کښې چه دے کوم مونځونه پریښی وو، د هغے قضائی به راوړی او که نه ؟

جواب : حیض چه کله هم راځی نو دا حیض دے برابره خبره ده که ددے او د مخکنی حیض ترمینځه موده اوږده وی او که لنډه۔ نو کله چه ښځه حائضه شوه او پنځه یا شپږ یا لس ورځے پس ورته بیا حیض راغے نو دا حیض ګڼړلے کیږی، انتظار به کوی او مونځ به نۀ کوی۔ دغسے که هر وخت ښځه پاکه شوه او بیا ورته حیض راغے نو دا به انتظار کوی مونځ وغیره به نۀ کوی۔ البته که وینه پرے دغسے همیشه روانه وه، او یا د لږے لږے وقفے نه علاوه نۀ بندیدله، نو دا ښځه مستحاضه ده۔ نو بیا ددے حکم دادے چه دا به صرف د عادت په ورځو کښې ځان حائضه شماری، او یا به د عامو ښځو په عادت باندے عمل کوی۔ لکه چه مخکښې تیر شو۔

د هغه زیړو اوبو حکم چه د حیض نه دوه ورځے مخکښې بهیږی

٤٤٨ - **سوال** : هغه زیړے اوبه چه د حیض راتلو نه دوه ورځے مخکښې د ښځے نه بهیږی د هغے څه حکم دے ؟

جواب : کله چه دا زیړے اوبۀ د حیض راتلو نه مخکښې بهیږی نو دے له هیڅ اعتبار نشته۔ لکه ام عطیه رضی الله عنها فرمائی : [كُنَّا لَا نَعُدُّ الصُّفْرَةَ وَالْكُدْرَةَ بَعْدَ الطُّهْرِ شَيْئًا].

(مونږ به د پاکیدو نه پس زیړوالی او خړوالی له هیڅ اعتبار نۀ ورکولو)۔

[بخاری : ١/٤٧، ابوداود]۔

نو کله چه دا زیړے اوبۀ د حیض نه مخکښې راځی او بیا په حیض سره بندے شی، نو دے له هیڅ اعتبار نشته۔ البته که ښځے ته دا پته وی چه دا زیړے اوبۀ ددے د حیض مقدمه او

ننبه ده نو بیا به د پاکیدو پورے انتظار کوی۔

.[انظر : صحیح البخاری : ٤٧/١، باب الصفرة والکدرة فی غیر أیام الحیض].

اوکله چه ښځه سپینے اوبهٔ (یا سپین تار) ووینی نو دا پاکه شوه او د پاکیدو نه پس چه کوم خړوالے یا زیړوالے یا داغ یا لوندوالے وینی، نو دا ټول د حیض نه نهٔ حسابیږی۔

امام بیهقیؒ فرمائی : زیړوالے او خړوالے د حیض په ورځو شپو کښے حیض دے۔

[بیهقی : ٣٣٥/١].

دے وجے نه کله چه دا شیان د حیض د ورځو نه علاوه په نورو ورځو کښے وی نو دا به نهٔ د مونځ نه منع کولے شی او نهٔ د روژے او د کوروالی وغیره نه۔

صحابیاتو به عائشے k ته مالوچ رالیږل نو هغے به ورته ویلے: تادی مهٔ کوئ تردے چه تاسو سپین تار ووینئ۔

[بخاری : ١٢١/١].

د هغه سپینو اوبو حکم چه د ښځے نه بهیږی

٤٤٩ – **سوال** : د هغه سپینو اوبو څهٔ حکم دے چه د ځینے ښځو نه بهیږی، آیا دا پلیتے دی اوکه نه ؟ او دے سره اودس ماتیږی اوکه نه ؟

جواب : د ښځے د شرمګاه نه چه کومے اوبهٔ په غیر د شهوت نه وځی نو ددے په پلیتئ کښے د علماؤ اختلاف دے۔ ظاهره داده چه کوم رطوبت د رحم نه وځی هغه پلیت نهٔ دے، ځکه ددے په پلیت کیدو باندے نهٔ د قرآن نه دلیل شته، نهٔ د حدیث او نهٔ د اجماع نه۔

دا وجه ده، د جماع نه روستو د سړی اندام مخصوصه وینځل د پلیتئ په توګه نهٔ دی۔

○ پاتے شو هغه لوندوالے چه د ښځے د تشو متیازو د ځائے نه وځی نو دا پلیت دے، ځکه چه ددے حکم د تشو متیازو پشان دے۔ الله تعالیٰ په ښځه کښے دوه سوری پیدا کړی دی، د یوے لارے نه تشے متیازے وځی اودا وړوکے سورے دے، او بل هغه لاره ده چه د هغے نه ولد پیدا کیږی۔ دے وجے نه د رحم رطوبتونه پلیت نهٔ دی، او د تشو متیازو د ځائے نه وتلے رطوبت پلیت دے او حکم ئے د متیازو دے ځکه دا د مثانے نه وځی۔

○ او هر چه د اودس ماتیدو مسئله ده : نو راجحه داده چه اودس په دغه دواړو رطوبتونو

ماتیږی۔ لکه امام بخاریؒ فرمائی : (ددې خبرې بیان چه د مخکنۍ او روستنۍ دوه لارو نه سیوا د بل ځائے نه د څه وتلو په وجه اودس نۀ ماتیږی)۔ [بخاری : ۲۹/۱]۔

نو هر هغه شے چه ددې دواړو نه وځی، که هغه پاك وی اوکه پلیت وی، هغے سره اودس ماتیږی۔ لکه دَ دُبر نه چه کومه هواء وځی هغه پاکه ده خو په اتفاق د علماؤ سره اودس ماتوی۔ دې وجے نه د اودس ماتیدو دپاره د پلیتۍ وتل شرط نۀ دی۔

[انظر المغنی : ۱۹۱/۱].

او ابن حزمؒ چه دا ویلی دی چه زیړوالے اوخړوالے اوسره وینه حیض نۀ دې او نۀ د رګ وینه ده، دې وجے نه اودس نۀ ماتوی : نو په دې خبره هیڅ دلیل نشته۔

[المحلی : ۲٤۳/۱].

دې وجے نه کوم شے چه د لاندینو دواړو لارو نه وځی، برابره خبره ده که هغه معتاد وی اوکه غیر معتاد وی (هر وخت وځی اوکه کله نا کله) نو دې سره اودس ماتیږی، ځکه دې پورې خامخا لوندوالے نښتے وی نو په دې سره اودس ماتیږی۔ او مستحاضے ښځے ته نبی کریم ﷺ هر مانځه دپاره د اودس کولو حکم کړے دے، حالانکه د هغے وینه غیر معتاد وتونکے شے دے۔

[انظر المغنی : ۱۹۱/۱، رقم : ۲۳٤، فتاوی عثیمین : ۲۸٤/٤، وقال البخاری : ۳۱٤/۱ : باب غسل ما یصیب من فرج المرأة].

اوکه چرې دا بهیدونکے اوبۀ ددې ښځے نه همیشه روانے وې نو دا ښځه د مستحاضے په حکم کښې ده چه هر مانځه ته به اودس کوی۔ او کله چه وخت ووځی نو ددې اودس به ماتیږی۔

او دا نرۍ اوبۀ چه د رحم نه راوځی، ددې نه کپړه او بدن وینځل واجب نۀ دی۔ او کوم لوندوالے چه د مثانے نه راوځی نو د هغے نه بدن او جامه دواړه وینځل واجب دی ځکه چه دا پلیت دے۔

د حیض په دوران کښې د سر وینځلو حکم

٤۵۰ – **سوال** : د حیض په دوران کښې ښځه خپل سر وینځلے شی که نه ؟

جواب : هو ! په دے کښے شرعًا هیڅ باك نشته۔ حائضے ښځے له جائز دی چه خوشبوئے ولږوی، غسل وکړی او ځان ډولی کړی۔ لیکن که دا اندیښنه ورسره وه چه خاوند به په دے بانـدے ورپریـوځی نو بیا ددے نه احتیاطًا ډډه کول پکار دی۔ ځکه ښځے دپاره جائز نهٔ دی چه د حیض په حالت کښے خپل خاوند په ځان باندے قادر کړی۔

او حائضے ښځے دپاره په لاسونو او خپو باندے نکریزے مږل هم جائز دی، ځکه چه بدن تـه د اوبـو په رسیدو کښے دا خنډ نه جوړیږی۔ خو ناخن پالش ورله استعمالول جائز نهٔ دی، ځکه دے سره بیا غسل نهٔ وځی۔

کله چه نفاس د څلویښتو ورځو نه مخکښے بند شی

٤٥١ – **سوال** : د نفاس وینه د ماشوم پیدا کیدو نه لس ورځے پس بنده شوه، ښځے غسل وکړو او مونځونه ئے کول، بیا ورته وینه راغله او د څلویښتو ورځو نه واؤښته، نو آیا دا وینه به حیض شمارلے شی اوکه استحاضه ؟

جواب : کله چه د څلویښتو ورځو نه مخکښے پاکه شی نو په دے باندے واجب دی چه غسل وکړی او مونځ کوی او دا په حکم د پاکو ښځو کښے ده بلکه دا حقیقةً پاکه ده، او د څلویښتو ورځو انتظار به نهٔ کوی، لکه څنګه چه د دین نه ناخبره ښځے دا کار کوی۔

پاتے شوه هغه وینه چه د څلویښتو ورځو نه پس ورته راشی، نو هغے ته به ښځه وګوری، کـه چرے د هغے د عادت سره ئے سمون خوړلو او یائے رنګ تور وو، او یا ښځے ته معلومه شوه چه دا حیض دے نو دا به حیض وی۔ ځکه حیض کله د نفاس نه پس نزدے وخت کښے هم راځی۔ اوکه ښځے ته په نښو نښانو سره معلومه شوه چه دا حیض نهٔ دے، نو دا به بیا حیض نهٔ وی، بلکه استحاض به وی ان شاء الله، او ښځے له په دے باره کښے د احتیاط نه کار اخستل پکار دی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

حیض یا حمل بندوونکے ګولئ استعمالول

٤٥٢ – **سوال** : هغه ګولئ چه حمل منع کوی یائے غورزوی نو د هغے استعمالول جائز دی که نه ؟

جواب: حمل بندول دوه قِسمه دی: (۱) **یو** همیشه دپاره حمل بندول: نو دا کار جائز نهٔ دے ځکه چه دا خو نسل ختمول دی او دا د شریعت د مقصد خلاف دی، ځکه د شارع مقصد، اسلامی امت ډیرول دی۔نبی کریم ﷺ فرمایلی دی: [تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّيْ مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ]۔(تاسو هغه ښځے سره وادهٔ کوئ چه هغه ډیرے مینے محبت والا او ډیر اولاد راوړونکے وی، ځکه زهٔ به ستاسو د ډیروالی په ذریعه په نورو امتونو باندے فخر کووم)۔

[ابوداود: ۲۸۷، نسائی: ۲/۷۰، مشکاة: ۲/۲٦۷، وسنده صحیح].

لیکن په سړی باندے د خپل اولاد تربیت کول لازم دی، ځکه رسول الله ﷺ به د خپل امت په فاسقانو اوجاهلانو باندے څه فخر وکړی؟ بله دا چه کیدے شی چه د ښځے موجوده اولاد مړهٔ شی نو بیا به بوره بورچنډه پاتے شی۔

دویم: وقتی طور سره حمل بندول: لکه یوه ښځه وی چه د هغے حمل زر زر راځی نو هغه غواړی چه په ماشومانو کښے یو کال دوه کاله یا کم وزیات وقفه وکړی، نو دا جائز دی، خو په دے شرط چه د خپل خاوند سره به مشوره کوی او بله دا چه په دے سره به ښځے ته څه ضرر هم نهٔ ملاویږی۔

ددے دلیل دادے چه صحابه کرامو ز به د رسول الله ﷺ په زمانه کښے د خپلو ښځو سره عزل کولو (د کور والی په وخت به ئے خپل اندام بهر خلاصولو)، دے دپاره چه د دوئ ښځے امیدوارے نشی، نو هغوئ ددے کار نه منع شوی نهٔ وو۔

[انظر الأحادیث فی المشکاة: ۲/۲۷۵]۔

په الانصاف (۱/۳۸٦) کښے وائی: د نطفے د غورزولو دپاره دوائی څښکل جائز دی۔

شیخ تقی الدینؒ فرمائی: ډیره احتیاطی خبره داده چه داسے دوائی استعمال نکړے شی چه هغه د سړی اوبهٔ د حمل ځائے ته د رسیدو نه منع کړی۔

او هر چه **حمل** غورزول دی، نو دا هم دوه قسمه دی:

○ **اول**: دا چه د غورزولو نه مقصد د ماشوم بربادول وی: نو که دا کار په ماشوم کښے د روح اچولو نه پس وی نو دا په قرآن او سنت او اجماع د مسلمانانو سره حرام دی۔ ځکه چه دا یو محترم نفس په ناحقه وژل دی۔

○ اوکه په ماشوم کښې د روح اچولو نه پس غورزول وی، نو ددے په غورزولو کښې د علماؤ اختلاف دے۔ صحیح خبره داده چه ددے غورزول جائز نهٔ دی۔ مګر کله چه ضرورت وی، هغه داسے چه مور ئے ناجوړه وی او د حمل طاقت نهٔ لری یا بله کومه مجبوری وی۔ نو په دے وخت کښے ددے غورزول جائز دی۔ البته که دومره وخت ئے شوے وی چه په هغے کښے د هغهٔ اندامونه راښکاره شوی وی نو بیا منع دے۔

دویم : د ماشوم د پیدا کیدو په وخت داسے دوائی استعمالول چه په آسانئ سره پیدا شی، نو دا جائز دی په دے شرط چه مور ته ئے په دے دوائی سره څه تکلیف نهٔ وی او نهٔ ماشوم ته کوم نقصان رسیږی۔

[انظر مجموع فتاوى عثيمين : ٣٣٢/٤]۔

ابن عابدین وائی : د حمل غورزولو دپاره دوائی څښکل مکروه دی۔ البته د عذر د وجے جائز دی لکه یوه مور ماشوم ته پیٔ ورکوی او د هغے بل ماشوم په ګیډه شی او پیٔ ئے بند شی او د بچی د پلار وسه نهٔ کیږی چه دائی ورله ونیسی او یا د بچی د هلاکیدو اندیښنه ورسره وی، نو فقهاؤ ویلی دی چه دے ښځے له جائز دی چه داسے دوائی وغیره استعمال کړی چه وینه را ماته کړی تر څو چه حمل د وینے ټوټه وی یا کرپندے وی او اندامونه په کښے نهٔ وی جوړ شوی۔ او دوئ ددے اندازه په (۱۲۰) یو سلو شلو ورځو سره لړولے ده۔ او ددے د جواز وجه داده چه دا انسان نهٔ دے، او بل طرفته په دے کښے د انسان حفاظت دے۔

[رد المحتار ٢٧٦/٥، مع الدر المختار، ونحوه فی أحسن الفتاوى : ٤٣٣/٥].

سید سابق صاحبؒ وائی : هر کله چه په رحم کښے نطفے قرارے ونیولو، نو د یو سلو شلو (۱۲۰) ورځو نه روسته ددے ماشوم غورزول حلال نهٔ دی، ځکه چه په دے وخت کښے دا کار کول په انسانی نفس باندے تیرے کول دی چه دا په دنیا او آخرت دواړو کښے د عذاب مستحقه خبره ده۔ بیا ئے د ابن مسعود رضی الله عنه حدیث پیش کړے دے : (بیشکه په تاسو کښے د یو کس پیدائش د هغهٔ د مور په خیټه کښے څلویښتو ورځو پورے د نطفے په شکل راجمع وی، بیا څلویښت ورځے پس د وینے ټوټه شی، بیا هم دومره ورځے کرپندے شی بیا په کښے روح وپو کلے شی)۔

[بخاری : ٦٥٩٤/١، مشكاة : ٢٠/١].

او هر چه ددے مودے نه مخکښے ماشوم غورزول یا نطفه خرابول دی، نو دا جائز دی هر کله چه ضرورت وی۔ اوکه چرے حقیقی سبب ئے نۀ وی نو بیا مکروه دی۔
[فقه السنة : ٢/١٧٧].

علامه صنعانیؒ فرمائی : څوك چه عزل جائز ګنړی هغوئ ښځے دپاره دا جائز ګنړی چه د روح پوکلو نه مخکښے نطفه وغورزوی، او څوك چه عزل نا جائز ګنړی هغوئ دیته هم ناجائز وائی۔ او دے سره دا خبره هم تړلے ده چه ښځه داسے دوائی استعمال کړی چه د بنیاد نه حمل ختم کړی۔

امام غزالیؒ رائے داده چه : ماشوم غورزول جنایت دے۔ او ددے یو څو مرتبے دی : یو دا چه نطفه په رحم کښے پریوزی او د ښځے د اوبو سره ګډه شی او د ژوند قبلولو صلاحیت په کښے پیدا شی، نو ددے خرابول جنایت دے۔ اوکه د وینے ټوټه او کرپندے شی نو جنایت به نور هم زیات شی، اوکه روح په کښے وپوکلے شی او پیدائش په کښے پوره شی نو جنایت به ددے نه هم زیاتیږی۔ [سبل السلام]

ابن قیم رحمه الله د عزل او په دے کښے د علماؤ اختلاف ذکرکړے دے۔
[زاد المعاد : ٥/١٢٨].

د حیرانے مستحاضے او د درے حالتونو بیان

٤٥٣ – **سوال** : حیرانه مستحاضه کومه یوه ښځه ده ؟ او ددے حکم څه دے ؟

جواب : دا خبره یاده لرل پکار دی چه دین آسان دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ﴾ (الله په تاسو باندے ستاسو په دین کښے هیڅ تنګسیا نۀ ده ایښے)۔ او د اسلام هغه احکام چه په قرآن او سنت کښے ثابت دی، هغه آسان دی۔ پاتے شو اجتهادی احکام او د علماؤ رائے نو په دے عمل کول د ګرانئ او سختئ سبب جوړیږی۔ دا وجه ده دلته هم بعضِ فقهاؤ د حیرانے مستحاضے دپاره ګنړے مسئلے ذکر کړی او اوږدۀ اختلافات ئے جوړ کړی چه د هغے هیڅ ضابطه نشته۔ او ځینو په دے باره کښے څو جلده کتابونه لیکلی دی۔
[کما فی رد المحتار : ١/١٩٠، المجموع شرح المهذب ٢/٤٣٤، درس ترمذی : ١/٣٦٢]۔

○ حالانکه په دې باره کښې صحیح خبره داده چه د مستحاضې دپاره درې حالتونه دي :

١ – **اولنې حالت** : دادې چه ددې دپاره د استحاضې نه وړاندې معلوم حیض وي، نو په دې وخت کښې به مستحاضه د خپل حیض معلومو ورځو ته رجوع کوي او د هغې په اندازه به انتظار کوي او د حیض ټول احکام ددې لپاره ثابت دي. او ددې نه سیوا دا استحاض او بیماري ده او د مستحاضې احکام به پرې جاري کیږي.

مثلًا : د یوې ښځې د هرې میاشتې په اول کښې شپږ ورځې حیض راتلو او بیا هغې ته د استحاضې بیماري ولږیده او وینه ئې همیشه روانه وه، نو ددې ښځې حیض به د هرې میاشتې په شروع کښې دغه شپږ ورځې وي او باقي به استحاضه وي.

په دې باندې دلیل د عائشې k حدیث دې چه فاطمې بنت ابی حبیش k رسول الله ﷺ ته عرض وکړو : (اې د الله رسوله ! په ما استحاضه راځي او زۀ نه پاکیږم نو آیا زۀ به مونځ پریږدمه ؟ ورته ئې وفرمایل : نه ! دا خو د رګ وینه ده. لیکن تۀ د هغې ورځو په اندازه مونځونه پریده په کومو ورځو کښې چه ستا حیض راتلو، بیا غسل وکړه او مونځ کوه).

[بخاری : ٤٦/١].

دویم حالت : چه ددې ښځې دپاره د استحاضې نه مخکښې د حیض موده معلومه نۀ وي، هغه داسې چه د پیغلتوب سره سَم ددې وینه روانه وي، نو دا ښځه به په تمیز عمل کوي، یعنی دا به حیض د وینې په توروالي او ټینګ والي یا بوئې سره معلوموي. نو ددې وینې دپاره به د حیض احکام ثابتیږي او ددې نه علاوه به استحاضه وي.

ددې دلیل د فاطمې k حدیث دې : (کله چه د حیض وینه راشي چه دا توره وینه ده ښځې ئې پیژني نو په دې وخت کښې تۀ د مانځه نه بنده شه، اوکله چه هغه بل رنګ وینه وي نو اودس کوه او مونځ کوه ځکه چه دا د رګ وینه ده).

[ابوداود : ٤٣/١، نسائی : ٤٥/١، وصححه ابن حبان والحاکم].

دې حدیث ته بعضې احنافو ضعیف ویلي. [کما فی درس ترمذی : ٣٦٣١].

خو تحقیقي خبره داده چه دا حدیث حسن دې.

[کما فی سنن ابی داود : ٥٥/١، بل صحیح کما فی الإرواء : ٢٢٣/١].

دریم حالت : دا چه د ښځې دپاره د حیض معلومې ورځې نۀ وي او نۀ د وینې د رنګونو او

صفتونو تميز او جدا والے كولے شى، هغه داسے چه د پيغلتوب سره سَم پرے وينه روانه وى او وينه ئے په يو صفت باندے وى او يا په گډوډو صفتونو باندے وى۔ نو ددے ښځے حكم دادے چه دا به د ښځو په غالب عادت باندے عمل كوى، چه ددے حيض به په هره مياشت كښے شپږ يا اووۀ ورځے وى۔ ددے دليل حديث د حمنے بنت جحش k دے، دا وائى: مانه به ډيره زياته وينه روانه وه نو نبى كريم ﷺ ماته وفرمايل : [إِنَّمَا هِيَ رَكْضَةٌ مِنَ الشَّيْطَانِ فَتَحَيَّضِى سِتَّةَ أَيَّامٍ أَوْ سَبْعَةَ أَيَّامٍ، ثُمَّ اغْتَسِلِى، فَإِذَا اسْتَنْقَأْتِ فَصَلِّى أَرْبَعَةً وَعِشْرِينَ أَوْ ثَلَاثَةً وَعِشْرِينَ وَصُومِى وَصَلِّى]۔

.[ابوداود، احمد، ترمذى، وهو حديث صحيح، انظر نيل الاوطار : ۱/۳۳۹]۔

(دا خو د شيطان يوه لَته ده، دے وجے نه تۀ شپږ يا اووۀ ورځے حيض تيروه، بيا غسل كوه، او كله چه تۀ ښه پاكه شے نو څليريشت يا دريشت ورځے مونځونه كوه او (نفلى، فرضى) روژے نيسه)۔

نو كه دا قواعد يو انسان ياد كړى نو د مستحاضے په باره كښے د حيرانتيا نه بچ كيږى ان شاء الله۔ او كوم مسائل چه د متحيرے په باره كښے متأخرينو فقهاؤ په خپلو كتابونو كښے ذكر كړى دى، دا نۀ د الله په كتاب كښے شته، نۀ د هغۀ د نبى ﷺ په سنت كښے او نۀ د صحابه كرامو j په اقوالو كښے۔ دے وجے نه كه علماء قرآن او حديث ته رجوع وكړى نو بيا د حيرانتيا څۀ خبره نۀ پاتے كيږى۔ حيرانتيا ځكه راځى چه خلك د قرآن او سنت نه علاوه د فروعو او جزئياتو مسائلو ته رجوع كوى لكه (رد المحتار او المجموع) وغيره شو۔ چه په دے باندے دوئ هيڅ دليل نۀ دے قائم كړے۔

امام شوكانى رحمه الله ډيره ښه خبره كړے، هغه دا چه : د فقه كتابونو والو د مستحاضے په باره كښے خبره ډيره زياته اوږده كړے او گډے وډے خبرے ئے كړى، چه په هغے باندے ذكى طالبان هم نۀ پو هيږى پاتے لا هغه ساده گانے ښځے چه هغوئ د عقل او دين په اعتبار سره نيمگړے دى۔ حالانكه صحيح حديثونو نه ددے صورتونو وجود نۀ معلوميږى، په دے كښے د حيض د راتلو او بنديدو تذكره ده، دارنگه د حيض د وينے او د رگونو د وينے د جداوالى تذكره ده، چه دے سره د متحيرے مسائل بيخى ختميږى۔ ولله الحمد۔

[نيل الاوطار : ۱/۳۳۹، ۱/۱٤٦].

دا خبره ياده ساتل پكار دي چه بعضے وخت په ښځه باندے د رحم وغيره د آپريشن په وجه وينه راماتيدے شي نو دا په دوه قسمه ده :

اول قسم : دا چه ښځے ته پته ولږى چه آپريشن نه پس ددے حيض راتلل ممكن نۀ دى ځكه چه رحم بيخي ختم شوے يا بند شوے دے چه ددے نه وينه نۀ راځي۔ نو ددے ښځے دپاره د مستحاضے احكام نۀ ثابتيږى، دا به مونځ او روژه هيڅ كله نۀ پريدى۔

دويم قسم : چه ديته دا يقين نۀ وى چه د آپريشن نه پس ورته حيض نۀ راځي، بلكه حيض راتلل ورله ممكن وى، نو ددے ښځے حكم د مستحاضے د حكم پشان دے۔ ددے دليل دادے چه فاطمے بنت ابى حبيش k ته رسول الله ﷺ فرمايلى وو : بيشكه دا خو د رګ وينه ده او حيض نۀ دے نو كله چه حيض راشي مونځ پريده۔

نو (كله چه حيض راشي) دے نه معلومه شوه چه د كومے مستحاضے حيض راتلل ممكن وى نو د هغے دغه حكم دے۔ او د كومے مستحاضے چه حيض نۀ وى نو د هغے وينه په هر صورت كښے د رګ وينه ده۔

[انظر مجموع فتاوى عثيمين : ٤/٣٢٤]۔

د مستحاضے، سلس البول والا او نورو معذورانو حكم

٤٥٤ – **سوال** : يو سړى نه مذى يا تشے متيازے روانے وى، يا ئے د پوزے نه وينه روانه وى، يا ئے د زخم نه وينه روانه وى، نو دا كس به څه كوى ؟

جواب : على رضي الله عنه نه روايت دے دا فرمائى : زۀ يو داسے سړے ووم چه مانه به ډيره زياته مذى وتله، او زما په نكاح كښے د رسول الله ﷺ لور (فاطمه) وه، نو ما د شرم د وجے د نبى ﷺ نه پوښتنه نشوه كولے، نو ما مقداد ته حكم وكړو چه تۀ د نبى ﷺ نه پوښتنه وكړه نو هغۀ ترے پوښتنه وكړه، نبى ﷺ وفرمايل : كله چه تۀ دا ښامومے نو خپل اندامِ مخصوصه وينځه او اودس وكړه۔

[بيهقى : ١/٣٥٦]۔

نو ددے حديث نه معلومه شوه چه كله د انسان نه مذى ووځى نو ددے حكم دادے چه خپل اندامِ مخصوصه دے ووينځى او اودس دے وكړى۔ او بل حديث كښے د اندامِ

مخصوصه سره د هګو وينځل هم راغلي.

عطاء رحمه الله فرمائي : علي رضي الله عنه نه به ډيره مذي وتله نو هغهٔ به يو تار را واغستلو او د خپل اندام په سر کښې به ئے کيښودلو.

[بيهقي : ٣٥٦/١].

او دا داسے دے لکه په حديث کښے چه د مستحاضے دپاره استثفار راغلے. (يعني په کپړے سره اندامِ مخصوصه تړل).

خارجه بن زيدؒ وائي : زيد بن ثابت رضي الله عنه نه به د تشو متيازو څاڅکي تلل، نو هغهٔ به دا په کپړے سره کنټرول کول، خو کله چه د کنټرول نه ووتل نو دغسے ئے پريښودهٔ، نو هغهٔ به په داسے حال کښے مونځ کولو چه څاڅکي به بهيدل.

[بيهقي : ٣٥٦/١].

د عمر رضي الله عنه نه نقل دي چه هغهٔ به په داسے حال کښے مونځ کولو چه د زخم نه به ئے وينه روانه وه. [پورتنۍ حواله].

عکرمهٔ د هغه کس په باره کښے وائي چه د هغهٔ د پوزے نه وينه روانه وي او بنديږي نهٔ : خپله پوزه به بنده کړي او اودس به کوي او مونځ به کوي.

[حواله سابقه، وانظر ايضا : كتاب المعرفة للبيهقي : ٣٨٥/١، شرح السنة : ٤٢٧/١، رقم : ٣٣١، موطأ مالك رقم : ٧٩].

په مستحاضه باندے صرف يو ځل غسل کول فرض دي

٤٥٥ - **سوال** : مستحاضه ښځه به د حيض نه پس يو ځل غسل کوي اوکه نه ؟ اوکله چه هغه جمع بين الصلاتين کوي نو اودس کول ورله ضروري دي اوکه نه ؟

جواب : د حيض نه پس يو ځل غسل کول فرض دي. او د هر مانځه دپاره غسل کول يا د جمع بين الصلاتين دپاره غسل کول سنت دي.

اسماء بنت عميس k وائي : ما عرض وکړو يا رسول الله ! فاطمه بنت ابي حبيش د دومره مودے راسے مستحاضه ده او مونځ نهٔ کوي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : سبحان الله ! دا شيطاني حرکت دے !

[لِتَجۡلِسۡ فِيۡ مِرۡكَنٍ، فَإِذَا رَأَتۡ صُفۡرَةً فَوۡقَ الۡمَاءِ فَلۡتَغۡتَسِلۡ لِلظُّهۡرِ وَالۡعَصۡرِ غُسۡلًا وَاحِدًا، وَتَغۡتَسِلۡ لِلۡمَغۡرِبِ

وَالْعِشَاءِ غُسْلًا وَاحِدًا، وَتَغْتَسِلُ لِلْفَجْرِ غُسْلًا وَاحِدًا، وَتَتَوَضَّأُ فِيمَا بَيْنَ ذٰلِكَ].

((هغې له پکار دی چه په خانك کښې کينی اوکله چه د اوبو دپاسه زيړوالے ووينی نو د ماسپخين او مازيګر (دواړو مونځونو) دپاره دے يو غسل وکړی، او (دغه شان) د ماښام او ماسختن (مونځونو) دپاره دے يو غسل وکړی، او د سهار (مانځه) دپاره دے هم يو غسل وکړی او ددے په مينځ کښې دے اودس کوی)).

امام ابوداودؒ فرمائی: مجاهدؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی دی چه هر کله هغې ته غسل کول ګران شو نو نبی صلی الله علیه وسلم هغې ته د جمع بين الصلاتين امر وکړو.

[ابوداود: ١/٤٣، مشكاة : ١/٥٧].

عائشه k وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د مستحاضې په باره کښې پوښتنه وشوه، وې فرمايل : (د حيض په ورځو کښې به مونځ پريدی بيا به يو غسل کوی، بيا به د هر مانځه په وخت اودس کوی).

[صحيح ابن حبان : ٢/٣١٩، باسناد على شرط الشيخين، انظر نصب الراية : ١/٢٠٢].

سليمان بن يسارؒ نه روايت دے : يوه ښځه ام سلمې ته راغله چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ورله د استحاضې په باره کښې پوښتنه وکړی، نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمايل : (د خپل حيض په ورځو کښې به مونځ پريدی، بيا به غسل کوی او د اندامِ مخصوصه نه به کپړه راتاووی، او هر مانځه ته به اودس کوی او بل دے وخته پورې به مونځ کوی).

او دا ښځه فاطمه بنت ابی حبيش ده.

[ابن ابی شيبه، نصب الراية : ٢/٢٠٢، نيل الاوطار : ١/٣٤٥].

او په دے باندے د حمنة بنت جحش k حديث هم دلالت کوی، ځکه په هغې کښې چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته په يو غسل سره د ماسپخين او مازيګر، او په بل غسل سره د ماښام ماسختن مونځونو جمع کولو حکم وکړو او د سهار دپاره د جدا غسل کولو حکم وکړو نو ورته ئے وفرمايل : دا کار ماته ډير خوښ دے.

[احمد، ابوداود : ١/٤٦، ترمذی : ١/٣٣، مشكاة : ١/٥٧].

نو ددے نه معلومه شوه چه دا غسل مستحب دے. دارنګه په دے حديث کښې چه کومه جمع بين الصلاتين ذکر ده، دا جمع صوری ده، نۀ جمع حقيقی. جمع حقيقی د مسافر

وغیره دپاره مشروع اوجائز ده، لکه چه دا به په (باب المواقیت) کښې راشي ان شاء الله۔
علامه شوکانيؒ فرمائی : د فاطمې بنت ابی حبیش د حدیث نه معلومه شوه چه د حیض بندیدو نه پس غسل کول ضروري دی۔ پاتې شو هر مانځه ته غسل کول یا دوه مونځونو دپاره غسل کول، نو دا په مستحاضه باندې واجب نهٔ دی۔
[نیل الاوطار : ۱/۳۳۹].

مستحاضه ښځه به هر مانځه ته اودس کوی

۴۵۶ - **سوال** : مستحاضه ښځه به هر مانځه دپاره اودس کوی، اوکه د هر مانځه د وخت دپاره ؟

جواب :ظاهره داده چه هر مانځه ته به اودس کوی۔ ځکه نبی ﷺ فاطمې بنت ابی حبیش ته وفرمایل : (هر مانځه دپاره به غسل کوې)۔ [بخاری : ۱/۳۶]۔
مطلب دا چه مستحاضه ښځه به هله اودس کوی کله چه د مانځه وخت داخل شي۔ اوکله چه مونځ غیر موقت وی نو د هغې د اداء کولو د ارادې په وخت به هغې له اودس کوی۔ [مجموع فتاویٰ عثیمین : ۴/۳۲۵]۔
حافظ ابن حجرؒ فرمائی : مستحاضه ښځه به هر مانځه دپاره اودس کوی خو په دې اودس به صرف یو فرض مونځ کوی، زیات فرض مونځونه به نهٔ کوی، برابره خبره ده که وقتي مونځونه وی اوکه فوتي۔ ځکه د (هر مانځه دپاره اودس کوه) ددې الفاظو ظاهر هم دادې۔ او دا د جمهورو قول دې۔ احناف وائی : اودس د مانځه د وخته پورې متعلق دې، دې وجې نه مستحاضه ښځه په دې اودس باندې وقتي اوفوتي ټول مونځونه کولې شي تر څو چه د حاضر مونځ وخت نهٔ وی تیر شوې۔ دوئ وائی چه د [تَوَضَّئِیُ لِکُلِّ صَلَاۃٍ] معنیٰ داده چه [تَوَضَّئِیُ لِوَقْتِ کُلِّ صَلَاۃٍ] خو دا خبره دلیل ته احتیاج لری۔
[فتح الباری : ۱/۳۲۵]۔
او صاحبِ هدایه په دلیل کښې دا الفاظ پیش کړی چه [تَوَضَّئِیُ لِوَقْتِ کُلِّ صَلَاۃٍ] خو صحیح خبره داده چه دا حدیث په دې الفاظو ثابت نهٔ دې۔ بلکه په مخکنو الفاظو ثابت دې۔ چه د هغې نه دا معلومه ده چه هر مانځه ته به اودس کوی۔ ابن حزمؒ فرمائیٔ : داسې

طهارت مونږ ته معلوم نۀ دے چه د وخت په تیریدو سره ماتیږی او د وخت د موجودیدو په وخت صحیح وی۔

[نیل الاوطار : ۳٤۷/۱، المحلی : ۲۳٤/۱]۔

او امام نوویؒ چه [تَوَضَّئِيُ لِكُلِّ صَلَاةٍ] حدیث ته په اتفاق د حفاظو سره ضعیف ویلی، نو دا د هغۀ خطائی ده چه د قلة التحقیق نه صادره شوے ده۔ بیا وائی : مستحاضه به د وخت نه مخکښے اودس نۀ کوی۔

[المجموع : ۵۳۵/۲، تحفة الاحوذی : ۱۱۸/۱]۔

کله چه ښځه په آخر وخت کښے پاکه شی

٤۵۷ – **مسئله** : کله چه حائضه ښځه د مانځه په دومره آخری وخت کښے پاکه شی چه ایله په کښے غسل او اودس کولے شی تردے چه ددے نه پس وخت ووځی، نو په دے دغه مونځ لازم نۀ دے او نۀ ددے قضائی پرے شته۔

په دے باندے دلیل دادے چه الله تعالیٰ مونځ په پاکئ سره لازم کړے دے او د مانځه دپاره ئے وختونه مقرر کړی دی، نو کله چه په وخت کښے دننه ښځه نشی پاکیدے، نوپه دے باندے دغه مونځ لازم نۀ دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾ (د خپل وس مطابق د الله نه یره کوئ)۔ او د ښځے په وس کښے دا مونځ نۀ دے ځکه چه ددے وخت دا نشی رالاندے کولے۔

[المحلی : ۳۹۵/۱، المغنی : ٤٤۱/۱]۔

د طهر متخلل حکم

٤۵۸ – **سوال** : طهرِ متخلل څه ته وائی کوم چه صاحب د شرح الوقایه وغیره په مغلق عبارت او مشکل اختلافاتو سره ذکر کړے، آیا په شریعتِ مطهره کښے ددے څه حقیقت شته دے ؟

جواب : په شریعت کښے د طهر (پاکوالی) نۀ کمه موده مقرر شوے او نۀ زیاته۔ بس کله چه ښځه وینه بیامومی نو دا حیض دے، مګر که دا وینه په ښځه باندے میاشتے پورے یا

ددې نه زياته اوږده شي. او کله چه اوچه شي نو دا پاکه شوه، غسل به کوي او مونځ به کوي. او دا د علي بن ابي طالب، شريح او ابن عباس رضي الله عنهم وينا ده.

[المحلى : ١/٤١٢].

ابن حزمؒ فرمائي : د هيڅ يو صحابي نه د دوئ خلاف نه دے نقل.

امام بخاريؒ هم ديته په دے باب لړولو سره اشاره کړے : باب دے په بيان ددے کښے چه کله ښځه په يوه مياشت کښے درے ځله حائضه شي.

نو د احنافو وغيره په کتابونو کښے چه د طهرِ متخلل کومه مسئله راغلے، دا نۀ په قرآن کښے شته، نۀ په سنت کښے او نۀ په اجماع د امت کښے.

او هر چه دا قول د صاحب الهدايه [١/٦٦] دے چه : (کمه موده د طهر پنځلس ورځے ده، لکه چه دا د ابراهيم نخعيؒ نه نقل شوي دي، او دا صرف توقيفًا معلوميدے شي). نو دا خبره صحيح نۀ ده، ځکه چه د ابراهيم نخعيؒ خبره حجت نۀ دے. که چرے دا حجت شي نو بيا خو د تمامو تابعينوؒ اقوال حجت ګرځي، او په هغے کښے هم هغه خبره کيدے شي کومه چه د ابراهيم نخعيؒ په خبره کښے شوے ده. حالانکه دا خبره درست نۀ ده.

دارنګه په فتح القدير [١/١٥٥] کښے د ابن الهمامؒ دا خبره چه بعضو ويلي دي چه په دے باندے د صحابو اجماع ده : نو دا خبره ښکاره غلطه ده، ځکه مونږ د علي او ابن عباس j نه ددے خلاف خبره نقل کړه، او ددوئ مخالف نۀ دے معلوم شوے.

که د شرمګاه په ځائے، په آپريشن سره ماشوم پيدا شي نو څۀ حکم دے؟

٤٥٩ - **سوال** : کله چه په ښځه باندے ماشوم زيږيدنه سخته شي او آپريشن ته ئے ضرورت پيدا شي، او ماشوم ئے د شرمګاه نه بغير د خيټے نه را اوښکلے شي، نو آيا په دے سره دا نفاس والا ګرځي اوکه نه ؟

جواب : که ددے ښځے د شرمګاه نه وينه وبهيدله نو دا نفاس والا ده، اوکه وينه بهيده نو دا په حکم د پاکو ښځو کښے ده، مونځ به کوي او روژه به نيسي، ځکه د نفاس حکم وينے پورے اړه لري، که موجوده شي نو نفساء به وي ګڼے نۀ به وي.

[فتاوى اللجنة : ١/٤٢٠].

ماشوم پیدا شو او وینه ونه بهیده نو څهٔ حکم دے ؟

٤٦٠ - **سوال** : کـه د ښـځـے ماشوم پیدا شو، خو وینه ترے ونه بهیدله، نو آیا دا ښځه به مونځ او روژه کوی ؟

جواب : کـلـه چـه حـامـلـه ښځه ماشوم وزیګوی او وینه ونه وځی نو په دے باندے غسل لازم دے او مـونـځ او روژه بـه کوی، او خاوند ورسره د لامبلو نه روسته جماع هم کولے شی، ځکه د زیګون سره غالبًا وینه بهیږی اګرکه کمه وی اوکله ترے روسته راځی۔

[فتاوی اللجنة : ١/٤٢٠]۔

د حیض د مودے په حقله یو اشکال او د هغے جواب

٤٦١ - **سوال** : تـاسـو پـه مسئله نمبر (٤٣٣) کښے وویل چه : په شریعت کښے د حیض نـهٔ کمه موده معلومه ده اونهٔ زیاته۔ حالانکه عبد الرزاق (١/٢٩٩) د ام حبیبه k نه روایت کـړی دی چـه دا مسـتـحـاضـه شوه نو رسول الله ﷺ د هغے د حیض کمه موده شپږ یا اووه ورځے مـقرر کړه۔ او د انس بن مالك رضی الله عنه نـه نـقـل دی چه هغه فرمائی : د حیض کمه موده لس ورځے ده۔

جواب : دا خبره مـونـږه د علامه شوکانیؒ د خبرے سره ذکر کړے ده هغه وائی : (که داسے وویـل شی چه د حیض زیاته موده اووه ورځے ده نو دا څهٔ وجه لری)۔ خو تحقیقی خبره داده چه نبی کریم ﷺ په دے باره کښے هیڅ حد نهٔ دے مقرر کړے۔ دا وجه ده هغه فرمائی : (نو شپږ ورځے یـا اووه ورځے، څـه چـه د الله پـه عـلـم کښے وی، حیض تیروه)۔ ددے الفاظو نه معلومیږی چه د حیض موده نهٔ ده معلومه، ځکه (یا) د شك دپاره ده او (د الله علم) مونږ ته د حیض په باره کښے معلوم نهٔ دے۔

او کـوم حدیث چه تا ذکر کړو نو زما د علم مطابق په دے باندے په ائمه اربعهؒ وغیره کښے هیـڅـا قول نهٔ دے کړے۔ او ددے سند ضعیف دے۔ ځکه ابن جریج مدلس دے او عنعنه ئے کړے۔ دارنـګـه پـه دے کښے عبد الله بن محمد بن عقیل دے او ددهٔ په حدیث کښے ضعف دے او پـه آخـر عُـمـر کښے ددهٔ په حافظه کښے تغیر راغلے وو۔ اوکه بالفرض ثابت شی نو بیا

هم په تحديد باندې دليل نۀ جوړېږي ځکه کيدې شي چه د ام حبيبې د حيض موده شپږ يا اووه ورځې وه، لکه مخکښې په مسائلو کښې تير شو.

او هر چه د انس رضي الله عنه حديث دې، نو دا موقوف دې، دا د هغۀ خپله رائې ده، دا حجت نۀ دې. دارنګه په دې کښې جلد بن ايوب بصري دې او دا متروك (پريښودل شوې) راوي دې لکه څنګه چه دارقطنيؒ فرمايلي دي. او نورو امامانو هم ورته ضعيف ويلي.

[لسان الميزان : ٢/١٣٣، وانظر مجمع الزوائد : ١/٢٨٠].

دې وجې نه د حيض د مودې د تحديد په باره کښې هيڅ صحيح حديث نشته.

آيا حايضه به د مانځه په وخت اودس کوي او ذکر به کوي ؟

٤٦٢ – **سوال** : آيا حائضې ښځې باندې لازم دي چه د مانځه په وخت به اودس کوي او د الله ذکر به کوي، لکه چه بعضې علماؤ ويلي دي ؟

جواب : په دې باندې دا واجب نۀ دي. اونۀ نبي کريم ﷺ په دې کار باندې امر کړې. او ذکر او تسبيح او تکبير د حائضې دپاره د حيض په حالت کښې هم مشروع او جائز دې. خو دا پرې لازم نۀ دي چه د مانځه په وخت به مخ په قبله کيني او د الله ذکر به کوي. ځکه ددې خبرې ثبوت نشته، او غوره کار هغه وي چه سنت وي.

معمرؒ د طاووس د ځوئې نه پوښتنه وکړه، آيا ستا پلار (طاوس) به (حائضې) ښځو ته حکم کولو چه د مانځه په وخت کښې اودس او ذکر کوي ؟ هغۀ ويل : نه.

ابن جريجؒ وائي : ما عطاء ته وويل : آيا حائضې ښځې ته به ددې حکم کيدۀ چه د هر مانځه په وخت اودس وکړي بيا کيني د الله ذکر او تکبير څه ساعت دپاره وکړي ؟ هغۀ ويل: دې باره کښې هيڅ شې ماته نۀ دې رارسيدلې. او دا کار ښۀ دې. معمرؒ وائي : ماته را رسيدلې ده چه حائضې ته به د هر مانځه په وخت ددې حکم کيدۀ.

[المصنف لعبد الرزاق : ١/٣١٨].

د حيض وينه پليته ده

٤٦٣ – **سوال** : د حيض د وينې وينځل ضروري دي اوکه نه ؟

جواب : هو ! ځکه د حیض وینه په اتفاق د علماؤ سره پلیته ده، نبی کریم ﷺ ددے د وینځلو حکم کړے، هغه فرمائی : [تَقْرُصُهُ بِالْمَاءِ ثُمَّ تَنْضَحُهُ وَتُصَلِّيْ].

(اول به ئے په اوبو سره وګروی بیا به ئے ووینځی او مونځ به کوی).

[بخاری، مسلم، مصنف عبد الرزاق : ٣١٩/١].

او د لږے او ډیرے وینے یو حکم دے.

او کوم حدیث کښے چه راغلی دی چه : (مونځ به د یو درهم وینے نه راګرځولے شی).

[دارقطنی : ٤٠١/١، وغیره].

نو دا منکرت او د ځانه جوړ شوے حدیث دے. ځکه په دے کښے روح بن غطیف دے او په بل سند کښے نوح بن ابی مریم دے، او دا دواړه پریښودل شوی راویان دی. او دا حدیث په مسئله نمبر (١٤٢) کښے هم تیر شو.

[انظر السلسلة : ١٨٠/١، رقم : ١٤٨].

حائضه ښځه که یوه ورځ هم پاکه شی نو مونځ به کوی

٤٦٤ - **سوال** : د یوے ښځے شپږ ورځے حیض راغے بیا ئے یوه ورځ وینه بنده شوه، بیا ورته راغله، نو آیا دابه په دغه ورځ کښے مونځ او روژه کوی اوکه نه ؟

جواب : په دے باندے واجب دی چه دا غسل وکړی او هغه مونځ وکړی چه د هغے وخت ئے په داسے حالت کښے را لاندے کړے دے چه دا پاکه وه. ځکه ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : (کله چه ښځه سره وینه وینی نو دا به مونځ نهٔ کوی، اوکله چه یو ساعت دپاره پاکی ووینی نو غسل به کوی).

[ابوداود : ١١٥/١، دارمی : ٢٢٤/١، بیهقی : ٣٤٠/١، بإسناد صحیح]

او د دوه وینو ترمینځه چه کوم طهر دے که دا پوره یو شوا روز وی اوکه ددے نه کم وی، په دے ښځه باندے غسل واجب دے، ځکه د حائضے ښځے وینه چه بنده شی نو نرے اوبهٔ یا رطوبت د حیض په ورځو کښے بیا هم موجود وی. او ددے ښځے دا نشته دے بلکه دا بیخی وچه شوے ده او د حیض هیڅ اثر نهٔ وینی. دے وجے نه دا پاکه حسابیږی. او مخکښے تیر شو چه حکم د علت سره ګرځی را ګرځی نو کله چه وینه یا ددے آثار موجود

وی نو دا ښځه به حائضه گڼلے شی، اوکه نهٔ وی نو دا ښځه پاکه ده۔

نفاس والا ښځه د کوره وتل جائز دی

٤٦٥ – **سوال** : نفاس والا ښځه د کوره وتلے شی که نه ؟

جواب : هو ! نفاس والا ښځه د نورو ښځو پشان ده، د ضرورت دپاره د کوره وتلے شی، اوکه ضرورت نهٔ وی نو د ټولو ښځو دپاره بهتره داده چه په کورونو کښے پاتے شی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَقَرۡنَ فِىۡ بُيُوۡتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ الۡجَاهِلِيَّةِ الۡاُوۡلٰى ﴾ (او په خپلو کورونو کښے برقرارے پاتے شئ او د پخوانی جاهلیت والو پشان ډول او سینگار مهٔ ښکاره کوئ)۔

[الفتاوی الاسلامیة : ١٦٣/١]۔

که مستحاضه ښځه په مانځه کښے دننه پاکه شوه نو څهٔ حکم دے ؟

٤٦٦ – **سوال** : که مستحاضه ښځه په مانځه کښے دننه روغه شوه، نو دغه مونځ ددے صحیح دے اوکه نه ؟

جواب : په دے مسئله کښے درے صورته دی :

اول صورت : دادے چه مستحاضه ښځه د مونځ شروع کولو نه مخکښے پاکه او روغه شی، نو په دے واجب دی چه وینه ووینځی او اودس دوباره وکړی، ځکه ددے عذر ختم شو او ددے حکم اوس د عامو مونځ گذارو پشان دے، دا به اودس کوی او وینه به د ځانه وینځی او ددے نه پس به مونځ کوی۔

نبی کریم ﷺ فرمائی : [فَاغۡسِلِىۡ عَنۡكِ الدَّمَ وَصَلِّىۡ]۔

(تهٔ د خپل ځان نه وینه ووینځه او مونځ کوه)۔

[صحیح بخاری : ٦٣، کتاب الوضوء]

دویم صورت : چه د مونځ نه پس پاکه شوے وی۔ نو ددے دا مونځ صحیح دے او د راتلونکی مونځ دپاره ددے دا اودس باطل دے۔ فرض وی که نفل۔

دریم صورت : چه د مانځه په دوران کښے ئے وینه بنده شی او روغه شی۔ نو په دے کښے صحیح خبره داده چه ددے ښځے طهارت او مونځ دواړه باطل شو۔

[المجموع : ٢/٥٣٨، وهو قول الحنابلة كما في الانصاف : ١/٣٨٠، كشاف القناع : ١/٢١٤]۔

او صرف وينې بنديدو سره په دې باندې واجب دي چه مونځ ختم كړي، ځكه اودس ئې باطل شوې دې۔

او دليل په دې خبره، چه د مانځه په دوران كښې مستحاضه پاكه شي نو اودس او مونځ دواړه به راګرځوي، دا وينا د الله تعالىٰ ده : ﴿فَاتَّقُوا اللهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾۔

او نبي ﷺ فرمايلي دي : [وَاِذَا اَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ] (كله چه زۀ تاسو ته د يو كار حكم وكړم نو د خپل وس مطابق هغې ته راتګ كوئ)۔ [صحيح بخاري]۔

نو دې ښځې ته د اودس او مونځ دواړو امر متوجه دې۔

او د اولنو دوو صورتونو دليل دادې چه كله ښځه په مانځه كښې لا شروع شوې نۀ وي او عذرئې ختم شي۔ او يا د مانځه نه پس پاكه شوه، نو ددې دليل هغه حديث دې چه په هغې كښې دا راغلي دي چه دوه سړو تيمم وكړو، او بيا د مونځ كولو نه پس ورته اوبۀ ملاؤ شوې نو يو كس مونځ را وګرځولو او هغه بل را ونه ګرځولو۔ نو نبي ﷺ هغه كس ته چه هغۀ مونځ را ونه ګرځولو وفرمايل : (تۀ سنت ته ورسيدې)۔

[ابوداود : ١/١٣٣، نسائي : ١/٢١٣، مشكاة : ١/٥٥، واسناده صحيح]۔

دې وجې نه چا چه په داسې طريقه مونځ وكړو چه الله ورته حكم كړې وو، نو په دۀ باندې مونځ راګرځول نشته۔ او دې مستحاضې ته هم حكم شوې وو چه دا به د وينې سره مونځ كوي، او دې ورسره مونځ كړې دې۔ دې وجې نه په دې باندې د مانځه راګرځول نشته۔

د حيض په حالت كښې رنګ يا نكريزې لړول جائز دي

٤٦٧ - **سوال** : د حيض په دوران كښې رنګ يا نكريزې لړول څۀ حكم لري ؟

جواب : علامه ابن جريرؒ فرمائي: د علماؤ په دې اجماع ده چه د حائضې دپاره جائز دي چه خپل لاسونه په داسې رنګ او نكريزو سره رنګ كړي چه د هغې اثر د غسل نه پس هم پاتې وي۔ دارنګه د حائضې سره خوراك څكاك، اختلاط، بوس او كنار كول او د هغې شرمګاه نه سيوا د هغې نه فائده اخستل هر څۀ جائز دي۔ دارنګه هغه د كار او د پخلي او د وړو اخكلو او د روټۍ پخولو نه او لوندو شيانو كښې د لاس ننه ايستلو نه منع نۀ ده۔ او د اصيلې او د

وينزے دواړو په حيض او نفاس کښے فرق نشته، مګر په عدت کښے فرق شته دے۔

[انظر المجموع : ٥٤٣/٢]۔

ددے مسائلو دلائل د حديثو په کتابونو کښے موجود دی۔

[انظر المشکاة : ٥٦/١]۔

که معذور په خپل خاص اندام کښے مالوچ کيدی او هغه لوند شی

٤٦٨ – **سوال** : يو معذور سړی د خپل خاص اندام په سر کښے مالوچ ننه ايستل، او د هغے دننه طرف لوند شو، نو ددهٔ اودس مات شو که نه ؟ او معذور به هر مانځه ته جامے بدلوی او که نه ؟

جواب : په معذور دا لازم نهٔ دی چه مالوچ يا تار کيدی۔ هو ! د علی رضي الله عنه نه نقل دی چه هغهٔ ته به ډيره مذی راتلله نو هغهٔ به د خپل خاص اندام په سر کښے تار کيښودلو۔

[أخرجه البيهقی : ٣٥٦/١]۔

دارنګه نبی کريم صلی الله عليه وسلم مستحاضے ښځے ته د کپړے استعمالولو حکم کړے۔ لکه ام سلمه k وائی : (د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کښے به د يوے ښځے نه ډيره زياته وينه بهيدله، نو ام سلمے د هغے لپاره د نبی صلی الله عليه وسلم نه فتویٰ وپوښتله، نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل : دے ښځے چه د خپل دے تکليف نه مخکښے څومره ورځے حيض تيرولو، د هغے انتظار دے وکړی، ددے په اندازه ورځو کښے دے په مياشت کښے مونځ پريدی، او کله چه دا تيرے شی نو غسل دے وکړی، او د خپلے شرمګاه نه دے کپړه را تاؤ کړی، او بيا دے مونځ کوی)۔

[موطأ مالك، ابوداود : ٤٣/١، مشکاة : ٥٧/١]۔

او نبی صلی الله عليه وسلم خپلے ښينے حمنے بنت جحش ته وفرمايل : (زهٔ تاته د مالوچو صفت کوم ځکه هغه وينه بندوی۔ هغے ويل : هغه وينه زياته ده، په دے سره نهٔ بنديږی۔ وے فرمايل: کپړه ترے راتاؤ کړه۔ هغے ويل : هغه ددے نه هم زياته ده۔ وے فرمايل : بيا د خپل ځان لاندے جامه ږده۔ [ذکره الخطيب فی المشکاة : ٥٧/١]۔

نو کله چه دغه کس د خپل اندام په سر کښے تار يا مالوچ ايښے وی او د هغے دننه طرف لوند شی، نو دے سره د دغه معذور اودس نهٔ ماتيږی، ځکه چه دا لوندوالے بهر طرفته نهٔ

دے راوتے۔ [انظر: رد المحتار: ١٣٨/١]۔
پاتے شو د معذور جامے بدلول، نو که په دے کښے مشقت او تکليف نۀ وو، نو هغه دے وينځى او يا دے جامے بدلے کړى۔ اوکه مشقت په کښے وو نو بيا وينځل يا بدلول ضرورى نۀ دى۔ لکه امام بخاريؒ ذکرکړى دى: (حسن بصريؒ فرمائى: مسلمانانو به هميشه دپاره په خپلو زخمونو کښے مونځونه کول، او عمر رضي الله عنه به په داسے حالت کښے مونځ کولو چه د زخم نه به ئے وينه بهيدله)۔
[صحيح بخارى: ٣٦/١]۔
ابن قدامهؒ فرمائى: سلس البول او ډيرے مذئ والا چه نۀ بنديږى دا د مستحاضے پشان دى چه هر مانځه ته به اودس کوى او د اودس نه مخکښے به خپل اندام وينځى۔
لنډه دا چه: د چانه تشے متيازے روانے وى، يا ترے مذى روانه وى، يا هواء روانه وى، يا هغه زخم وى چه نۀ رغيږى يا ددے پشان بل هغه کس وى چه هغۀ سره يے اودسى هميشه دپاره وى او خپل طهارت محفوظ نشى ساتلے۔ دا به اول دغه ځائے ووينځى او بيا به ئے په مالوچو وغيره سره بند کړى، دے دپاره چه وينه بنده شى۔ او د هر مانځه دپاره به اودس کوى۔ (بيا ئے دغه پورتنى حديثونه ذکرکړى)۔
بيا فرمائى: نو کله چه دغه مستحاضے ښځے دا کار وکړو او بيا ترے وينه ووتله نو ګورى به: که چرے سستے تړلے شوے وه نو دوباره به ئے مضبوطه وتړى او اودس به بيا وکړى۔ اوکه په دے وجه وينه وتلے وه چه وينه ډيره وه او قوى وه او د هغے تړل او بندول په هيڅ طريقه نشوه کيدے، نو بيا اودس مات نۀ دے، ځکه ددے نه ځان ساتل ممکن نۀ دى نو دغسے به مونځ کوى اګرکه وينه روانه وى۔ عائشه k فرمائى: (رسول الله ﷺ سره يوے بى بى اعتکاف وکړو، نو هغے به وينه او زيړوالے ليدلو او د مانځه په وخت به هغے ته لاندے لګن پروت وو)۔ (صحيح بخارى)۔
او په بل حديث کښے دى: (مونځ کوه اګرکه په بزکى باندے وينه څاڅى)۔
[سنن النسائى بأحكام الألبانى: ١٠٤/١، صحيح].
او دا حکم د هر هغه چا هم دے چه د چانه تشے متيازے روانے وى او يا ترے ډيره مذى ځى، دا به د خپل خاص اندام سر په کپړے سره وتړى او څومره چه کيدے شى ځان به د

پليتيئ نه بچ کوي او پورتنے کار به کوي۔ او همدا حکم د هغه زخم والا هم دے چه د هغے وينه نهٔ بنديږي يا د يو کس هواء نهٔ بنديږي۔ دارنګه په چا باندے چه بواسير وي يا ئے يو زخم ناسور شوے وي او د هغے وينه په هيڅ کپړے وغيره باندے نهٔ بنديږي نو دغسے په دے حالت کښے به دا کسان مونځ کوي۔ لکه مخکښے د عمر ﷛ عمل تير شو چه هغهٔ به مونځ کولو او د زخم نه به ئے وينه روانه وه۔

[المغنى : ١/٣٨٨، ومثله فى رد المحتار : ١/٥٦٣]۔

○ اوس معذور په دے لاندينو شرائطو سره معذور ګرځي :

اول شرط : چه ددهٔ دا عذر دومره وخت نيسي چه په هغے کښے اودس او مونځ نشي کيدے۔

دويم شرط : چه دا يقين ئے وي چه که دے خپلے جامے ووينځي نو مونځ پکښے نشي کولے بلکه هغه ترے پليتيږي۔

دريم شرط: چه په پټئ يا کپړے وغيره تړلو سره ددهٔ عذر زائله کيدل ممکن نهٔ وي۔ که چرے په دے سره ددهٔ عذر زائله کيدل ممکن وو نو بيا به دا کس معذوره نهٔ شمارل کيږي۔

په خوب سره د معذور د اودس ماتيدو حکم

٤٦٩ – **سوال** : يو کس نه بے اختياره هواء روانه وي، نو ددهٔ اودس په خوب سره ماتيږي اوکه نه ؟

جواب : ددے کس اودس په خوب سره ماتيږي، ځکه په خوب سره د اودس ماتيدو په باره کښے راغلي حديثونه مطلق دي۔ لکه د صفوان بن عسال ﷛ په حديث کښے دي : (البته د ډکو او تشو متيازو او خوب نه به موزے وباسو)۔

بله دا چه نبي کريم ﷺ مستحاضے ته فرمايلي دي : (هر مانځه ته اودس کوه) نو کله چه معذور د مانځه اراده وکړي نو هغے له به اودس کوي اوکله چه دا اداء کړي نو اودس ئے مات شو، نو د بل مانځه دپاره به نوے اودس کوي۔ لکه مخکښے تير شو۔

ابن حزمؒ فرمائي : خوب بذاتِ خود اودس ماتوونکے دے، لږ وي که ډير، بيا ئے د صفوان ﷛ پورتنے حديث ذکر کړے۔ [المحلى : ١/٢١٢]۔

او شامي چه د ثعلبي د فتاویٰ نه د نۀ ماتیدو خبره غوره ګرځولے۔ نو دا خبره ئے ضعیفه ده۔ او د صفوان بن عسال رضي الله عنه د حدیث خلاف ده۔

[رد المحتار : ١/١٣١، احسن الفتاوی :٢/٧٨]۔

که رکوع او سجدے په وجه چانه متیازے ځی نو څۀ به کوی ؟

٤٧٠ – **سوال** : یو بیمار باندے بواسیر دی، که دے په رکوع او سجدے سره مونځ کوی نو متیازے ترے ځی۔ اوکه په ولاړه مونځ کوی نوبیا نۀ ځی۔ نو آیا دے به په اشارے سره په ولاړه مونځ کوی اوکه د متیازو وتو باوجود به رکوع او سجدے سره مونځ کوی ؟

جواب : ښکاره خبره ده چه الله رکوع، سجده، قیام، طهارت او عورت پټول فرض کړی دی۔ نو په دے کښے هیڅ یو فرض په غیر د عذر نه نۀ ساقطیږی۔

نو که څوك په رکوع او سجده باندے قادر وی خو د خپل طهارت په ساتلو قادر نۀ وی، نو دا کس به د رکوع او سجدے سره مونځ کوی اګرکه متیازے ترے روانے وی۔ ځکه دا معذور دے او د معذور مونځ د متیازو بهیدو سره هم صحیح دے۔

د سهل بن سعد رضي الله عنه په حدیث کښے راغلی دی، دا فرمائی: (څه سړو به د نبي صلی الله علیه وسلم سره په داسے حال کښے مونځ کولو چه د ماشومانو پشان به ئے خپل لنګونه خپلو څټونو پورے تړلی وو، نو (د جماعت په مانځه کښے شریکو) ښځو ته به ویل کیدل چه : تاسو د سړو د کیناستو نه مخکښے خپل سرونه د سجدے نه مۀ راپورته کوئ)۔

علامه عینیؒ فرمائی : دا ځکه چه هسے نه چه د سجدے نه سر پورته کولو په وخت د سړو په عورتونو باندے د ښځو نظر ولږیږی۔ [عمدة القاری]۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دا علت صراحةً د احمد او ابوداود په حدیث کښے راغلے، چه د هغے الفاظ دادی : (نو هغه به خپل سر نۀ پورته کوی تردے چه سړی خپل سرونه پورته کړی، هسے نه چه ښځے د سړو عورتونه ووینی)۔

[فتح الباری : ١/٣٧٦]۔

نو دے حدیث نه معلومه شوه چه نبي صلی الله علیه وسلم سړو ته د سجدے په پریښودلو یا په سجده کښے د عورت ښکاره کیدو د ضرورت د وجے نه زمکے پورے د جوختیدلو حکم ونۀ

فرمايلو.

دے وجے نه په حنفي فقه لکه په احسن الفتاوی (۸۰/۲) کښے چه دا راغلی دی چه معذور انسان به سجده او رکوع دواړه پریدی او په ولاړه به په اشارے سره مونځ کوی، هر کله چه په رکوع او سجده کښے ترے متیازے ځی او په ولاړه نۀ ځی : نو دا خبره صحیح نۀ ده. ځکه په دے باندے هیڅ دلیل نشته. بله دا چه یو فرض شے چه په هغے باندے انسان قادر وی د بل هغه فرض د وجے نه چه په هغے باندے انسان قادر نۀ وی، پریښودل جائز نۀ دی. او دا مسئله به ان شاء الله د مریض د مانځه په بیان کښے راشی.

که حائضه د مازیګر په وخت پاکه شوه نو ماسپخین مونځ به کوی اوکه نه ؟

٤٧١ - **سوال** : ځینے فقهاؤ ویلی دی چه کله حائضه ښځه د مازیګر د مانځه په وخت پاکه شی، نو دا به د ماسپښین د مانځه قضائی هم راوړی، نو آیا دا خبره صحیح ده ؟

جواب : صحیح خبره داده چه په دے باندے د ماسپښین د مانځه قضائی راوړل نشته. ځکه په دے دلیل نشته. د نبی کریم ﷺ په زمانه کښے به د ښځو حیض راتللو خو نبی ﷺ هغوئ ته د دے حکم نۀ دے کړے.

دارنګه د ماسپښین او د مازیګر وختونه یو شمارل د شیعه ګانو بدعتی قول دے. اګرکه د مسافر او د عذر والا دپاره جمع بین الصلاتین جائز ده. او کله کله نبی کریم ﷺ په مدینه کښے هم د ماسپښین او مازیګر مونځونه جمع کړی دی، دے دپاره چه امت ئے په تنګسیا کښے پرے نۀ وځی. لکه دا مسئله روستو راځی.

او کومه خبره چه مونږ په حائضه کښے ذکر کړه، دا حکم د ماشوم هم دے کله چه بالغ شی او د کافر هم دے کله چه مسلمان شی.

[المحلی : ۱۹۸/۲].

دے وجے نه د دغه دواړو مونځونو راګرځولو خبره خطا او بے دلیله ده.

○○○○○○

کتاب الصلاة

د مانځه احکام او مسائل

مونځ پرېښودونکے کافر دے اوکه نه ؟

۴۷۲ – **سوال** : مونځ پرېښودونکے څه حکم لري ؟ آيا دا کافر او د اسلام نه بهر دے ؟ او ددۀ نه ددۀ ښځه جدا کيږي اوکه نه ؟ او د هميشه مونځ پرېښودونکي او د کله نا کله مونځ پرېښودونکے ترمينځه فرق شته دے اوکه نه ؟

جواب : دا خبره ياد لره چه مونځ د اسلام په ارکانو کښې عظيم ترين رکن دے، او دا د دين ستن ده۔ او د حديثونو په کتابونو کښې ددے ډير زيات فضائل راغلي۔ الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې ددے ډير زيات اهتمام کړے، دا ئے څه دپاسه اتيا (۸۰) ځايه ذکر کړے۔ نو ددے پرېښودل ډيره لويه ګناه ده۔

اوس زۀ د تَارِكُ الصَّلَاة (مونځ پرېښودونکی) په باره کښې د علماؤ اختلاف او د هريو قول دلائل ذکر کوم۔ په غور سره ئے وګورئ :

په دے خبره خو د ټولو مسلمانانو اتفاق دے چه د مانځه د فرضيت منکر کافر او مرتد دے هر کله چه سره د پوهے نه انکار کوي۔

اختلاف د هغه چا په باره کښې دے چه د مونځ فرضيت منی خو د سستئ او ناراستئ د وجے نه ئے پرېږدي۔

○ نو د اکثرو سلفو قول دادے چه دا کس په کفرِ اکبر سره کافر دے، او دا به د خپل مرتد والي په وجه وژل کيږي، او په دۀ باندے به د مرتدينو احکام جاري کيږي۔

دوئ په دے موقف باندے قرآن، سنت، اجماعِ امت، د علماؤ اقوال او صحيح قياس په

دلیل کښې پیش کوی.

○ **د قرآن او سنت نه دلائل :**

هر چه **قرآنی** دلائل دی نو دا ډیر زیات دی، ځینې د هغې نه دادی :

۱ – اول آیت : دا قول د الله تعالیٰ دے : ﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَّيُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴾ [القلم : ۳۵]. (په کومه ورځ چه د پُنډۍ نه پرده لرے کړے شی او دوئ ته سجدے ته را وبللے شی خو طاقت به نۀ لری).

امام ابن تیمیہؒ فرمائی : الله عز وجل د کافرانو صفت دا فرمایلے دے چه دوئ د سجدے نه منع کیږی. [مجموع الفتاوی : ۶۱۱/۷].

علامه ابن قیمؒ فرمائی : که چرے دغه خلك مسلمانان وے نو خامخا به ئے دوئ ته د سجدے اجازت ورکړے وے لکه څنګه ئے چه مسلمانانو ته اجازت ورکړے.

[کتاب الصلاۃ ص : ۳۷]

۲ – دویم آیت : ﴿ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ اِلَّا اَصْحابَ الْيَمِيْنِ فِيْ جَنَّاتٍ يَّتَسَآئَلُوْنَ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ مَاسَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرٍ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴾ (هر یو نفس د عمل سره ګانړه دے، البته ښی لاس والا به په جنتونو کښې وی، پوښتنه به کوی د مجرمانو نه چه تاسو دے جهنم ته څۀ شی راوستئ هغوئ به وائی مونږ به مونځ نه کولو).

نو ددے آیت نه معلومه شوه چه کوم خلك په اور کښې همیشه پراتۀ دی هغوئ به مونځ نۀ کولو. لکه چه دیته محمد بن نصر المروزیؒ په خپل کتاب [تعظیم قدر الصلاۃ : ۱۰۷/۲] کښې اشاره کړے. او ابن قیم رحمه الله فرمائی : الله تعالیٰ په دے آیت کښې مجرمان د مسلمانانو ضد جوړ کړی دی، او تارك الصلاۃ د هغه مجرمانو نه حساب دے چه هغوئ جهنم ته تلی دی.

[کتاب الصلاۃ، ص : ۳۷].

۳ – دریم آیت : ﴿ فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴾ (نو د دوئ نه پس نا اهله جانشین خلك راغلل چه مونځونه ئے برباد کړل او خوا هشاتو پسے روان شول نو زر دے چه دوئ به د خپلے سرکشئ د جزاء سره مخامخ شی).

دلته د مونځونو بربادولو نه مراد مونځونه پریښودل دی. لکه دا تفسیر ابن جریرؒ او

نورو غوره کړې. [انظر الطبری : ٦٦/١٦، ابن کثیر : ١٢٥/٣، فتح القدیر للشوکانی : ٣٣٩/٣].

نو مونځ پریښودونکے به د اور په لاندینئ طبقه کښې وی. که چرے دا صرف ګنهګار وے نو د اور په پاسنئ طبقه کښې به وے.

[کتاب الصلاة د ابن قیم ص : ٤١].

٤ – څلورم آیت : ﴿ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَآتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ﴾ **(که چرے دوئ توبه کړه او پابندی د مانځه ئے کوله او زکوة ئے ورکولو نو ستاسو دینی ورونه دی).**

ددے آیت نه معلومه شوه چه که دوئ د مانځه پابندی ونه کړه، نو بیا به د مومنانو ورونه نهٔ وی، او د چانه چه د مومنانو ورور ولی ختمه شی نو هغه د کافرانو نه وی. ځکه ﴿ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ ﴾ (مومنان ټول سره ورونه ورونه دی). او ایمانی دینی ورور ولی په ګناه سره – اګر که هر څومره غټه وی – نهٔ ختمیږی. البته د اسلام نه په وتو سره ختمیږی.

[مجموع الفتاوی : ٦١٣/٧، کتاب الصلاة، ص: ٤١، اضواء البیان للشنقیطی : ٣١١/٤، رسالة الطهارة والصلاة لابن عثیمین ص : ٥٨].

٥ – پنځم آیت : ﴿ فَلَا صَدَّقَ وَلَاصَلّٰى وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴾.

(نو نهٔ ئے تصدیق وکړو اونهٔ ئے مونځ وکړو، لیکن تکذیب ئے وکړو او شا ئے راواړوله).

امام محمد بن نصر المروزیؒ فرمائی : تکذیب د تصدیق ضد دے، او تولی وائی مونځ وغیره فرائض پریښودلو ته.

ابن قیمؒ فرمائی: هر کله چه اسلام د خبرے تصدیق او د امر انقیاد ته وائی نو الله سبحانه وتعالیٰ ددے دپاره دوه ضدین مقرر کړل. یو تصدیق نهٔ کول. دویم مونځ نهٔ کول. او د تصدیق په مقابله کښې ئے تکذیب ذکر کړو، او د صلاة په مقابله کښې ئے ګرځیدل ذکر کړل. ﴿ وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴾ نو لکه څنګه چه مکذب کافر دے نو دغه شان د مانځه نه مخ اړونکے هم کافر دے. اولکه څنګه چه د اسلام نوم په تکذیب سره ختمیږی، نو دغه شان د مانځه نه په مخ اړولو سره هم ختمیږی.

[کتاب الصلاة ص : ٤٢].

٦ – شپږم آیت : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَا اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَمَنْ يَّفْعَلْ

ذٰلِكَ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُوْنَ ﴾ ۔(اے ایمان والو ! تاسو لره دے ستاسو مالونه او اولاد د الله د ذکر نه غافله نهٔ کړی او چا چه دا کار وکړو نو همدا خلك پوره تاوانیان دی)۔

عطاء بن ابی رباحؒ فرمائی : د الله د ذکر نه مراد فرض مونځ دے۔

[اخرجه البيهقي في شعب الإيمان ٣/٧٦، والسيوطي في الدر المنثور : ١٨٠/٨]۔

طریقـه د استـدلال داده چـه الله تعالیٰ د پوره خسران او تاوان فیصله په هغه چا کړے چه هغهٔ لره د هغهٔ مال او اولاد د مانځه نه غافله کړو۔او پوره تاوان به صرف کافرانو ته حاصل وی۔ نو په دے آیت کښے څو مره تاکید پروت دے !

۷ – **اووم آیت** : ﴿ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا يَرْكَعُوْنَ ﴾.

(اوکله چه دوئ ته وویل شی چه رکوع وکړئ نو رکوع نهٔ کوی)۔

دوئ لـره ئـے د رکـوع یعنی د مونځ په پرینښودلو دهمکی ورکړے هر کله چه دوئ هغے ته را وبـلـلے شی۔ څوك دے دا نهٔ وائی چه الله دوئ له د تکذیب په وجه دهمکی ورکړے، ځکه الله سبـحـانـه وتـعالیٰ ددے خبر ورکړے چه دوئ مونځ نهٔ کوی، او په همدے باندے دهمکی ورکړے شوے۔

بـلـه دا چـه څـوك دا خبـره مـنـی چـه الله تعالیٰ په مانځه امر کړے، هغه هیڅ کله ددے په پـریـښـودلـو بـانـدے همیش والے نهٔ کوی۔ ځکه دا خبره په عادت او طبیعت کښے محاله ده چـه یـو سـړے دے پـه دے خبـره پـوخ تصدیق لری چه الله په دهٔ باندے په شواروز کښے پنځه مـونـځـونـه فـرض کـړی، اوکـه دا پریدی نو سخت عذاب ورته ورکوی۔ او ددے باوجود دے هـغـه ددے پـه پـریـښـودو بـانـدے همیش والے کونکے وی۔ دا خبره قطعًا نشی کیدے۔ددے همیشه پریښودونکے هیڅ کله ددے په فرضیت تصدیق کونکے نهٔ دے۔ ځکه ایماندار ته د هـغـهٔ ایـمـان ددے خبـرے حـکـم کوی چه مونځ وکړه۔ نو کله چه ددهٔ په زړهٔ کښے داسے امر کونکے نهٔ وی نو معلومیږی چه ددهٔ په زړهٔ کښے هیڅ ایمان نشته۔

[كتاب الصلاة ص : ٤٢].

دارنګه فرمائی: دا د سره کیدے نشی چه د یو بنده په زړهٔ کښے پوخ ایمان وی او هغه دے د نیکئ کولو غوښتنه نهٔ کوی او یا دے د ګناه پریښودلو غوښتنه نهٔ کوی۔

۸ – **اتم آیت** : ﴿ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ وَاَقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَلَاتَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴾.

(تاسو رجوع کوونکي جوړ شئ الله ته او د هغهٔ نه يره کوئ او د مانځه پابندي کوئ او د مشرکانو نه مهٔ جوړیږئ)۔

نو دے آیتِ کریمه کښے الله تعالیٰ دا وضاحت وکړو چه د يو انسان د مشرك كيدو نښه داده چه مونځ پریدی۔

[تعظیم قدر الصلاة : ۱۰۰۵/۲، فتح الباری : ۷/۲].

د سنت نه دلائل :

د سنت نه دلائل هم ډير زيات دی، ځینے دادی :

اول حدیث : نبی کریم ﷺ فرمائی : [اِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ] (بیشکه د سړی او د شرك او د كفر ترمینځه حدِ فاصل مونځ پریښودل دی)۔

[صحیح مسلم : ٦١/١، عن جابر]۔

نو د اسلام او د کفر ترمینځه حدِ فاصل مونځ پریښودل وګرځول شو، نو څوك چه مونځ کوی هغه مسلمان دے او څوك ئے چه پریږدی هغه کافر دے۔

امام بیهقیؒ فرمائی : په عباداتو کښے داسے عبادت نشته چه الله ورته ايمان ويلے وی او رسول الله ﷺ ددے پریښودلو ته كفر ويلے وی سیوا د مونځ نه۔

[شعب الإیمان : ٣٣/٣]۔

علامه شوکانیؒ فرمائی : حقه خبره داده چه مونځ پریښودونکے کافر دے او وژلے به شی۔ کافر خو ځکه دے چه مونځ پریښودونکی ته شارع کافر ويلے، او د سړی او ددے نوم ترمینځه حدِ فاصل ئے مونځ مقرر کړے۔ دے وجے نه مونځ پریښودونکے ددے حقدار دے چه هغهٔ ته کافر وويلے شی۔

[نیل الاوطار : ١٣/٢]۔

علامه شنقیطیؒ فرمائی : دا حدیث واضح دلیل دے چه مونځ پریښودونکے کافر دے، ځکه په دے کښے د کفر سره شرك هم ذکر شوے، دا ددے خبر قوی تاکید دے چه دا کس کافر دے۔ [اضواء البیان : ٣١١/٤]۔

دویم حدیث : نبی کریم ﷺ فرمائی : [اَلْعَهْدُ الَّذِیْ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ] (هغه لوظ چه زمونږ او د دوئ (منافقانو) ترمینځه دے هغه مونځ دے، نو چا چه دا

پریښودوو نو واقعي چه دهٔ کفر وکړو)۔

[احمد : ۳۴٦/۵، ترمذی :۲٦۲۱، نسائی : ۱۸۷/۱، وغیرهم، وهو حدیث صحیح]۔

علامه مبارکفوریؒ فرمائی : معنیٰ دا چه په دوئ باندے په اسلامی احکامو جاری کولو کښے د اعتماد وړ شے دادے چه دوئ د مسلمانانو سره مشابه دی، د هغوئ مونځونو ته حاضریږی، د هغوئ د جماعت التزام کوی او د هغوئ ظاهری احکامو ته ئے غاړه ایښے ده، نو کله چه دوئ دا پریدی نو دوئ او کافران به برابر وی۔

[تحفة الاحوذی]۔

دریم حدیث : ثوبان رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ وَالإِيمَانِ الصَّلَاةُ، فَإِذَا تَرَكَهَا فَقَدْ أَشْرَكَ].

(د بنده او د کفر او ایمان ترمینځه مونځ دے، کله چه دهٔ دا پریښودو نو دهٔ شرك وکړو)۔

[الترغیب والترهیب : ۳۷۹/۱، وإسناده صحیح کما قال المنذری]۔

څلورم حدیث : نبی کریم ﷺ فرمائی : (چا چه د مانځه پابندی وکړه نو دا به هغهٔ دپاره د قیامت په ورځ رڼړا او دلیل او د نجات ذریعه وی۔ او چا چه ددے پابندی ونه کړه نو دا به ورله نهٔ رڼړا وی اونهٔ دلیل او نهٔ د نجات ذریعه۔ او دے به د قیامت په ورځ د قارون، فرعون، هامان او اُبی بن خلف سره وی)۔

[احمد :۱٦۹/۲، ابن حبان : ۱۴۴۸، مشکاة : ۵۹/۱]۔

علامه شنقیطیؒ فرمائی : دا حدیث د مونځ د پریښودونکی په کفر باندے ډیر زیات واضح دلیل دے۔ [اضواء البیان : ۳۱۳/۴]۔

پنځم حدیث : نبی اکرم ﷺ فرمائی : (فرض مونځ قصدًا مهٔ پریده ځکه څوك چه دا قصدًا پریدی نو ددهٔ نه د الله ذمه ختمه شوه)۔

[صحیح الترغیب : ۲۷۷/۱، مشکاة : ۵۹/۱، وهو حدیث حسن، وصححه الألبانی]۔

علامه ابن قیمؒ فرمائی : که چرے مونځ نهٔ کونکے په اسلام باندے پاتے وے نو خامخا به ددهٔ لپاره د اسلام ذمه وے۔ [کتاب الصلاة، ص : ۴۸]۔

شپږم حدیث : نبی اکرم ﷺ فرمائی : (مونځ د دین ستن ده)۔

[احمد : ۲۳۱/۵، صحیح الجامع : ۵۰۱۲، ترمذی: ۲٦۱٦]۔

امام احمدؒ فرمائی : آیا تاته پته نشته چه کله د خیمے ستن وغورزیږی نو خیمه غورزیږی او طنابونه او پړی بیا فائده نهٔ ورکوی۔ اوکله چه خیمه ولاړه وی نو بیا تهٔ د طنابونو او پړو نه نفع اخلے۔

[کتاب الصلاة ص : ٤٨، جامع العلوم والحکم : ١/١٤٦]۔

اووم حدیث : نبی اکرم ﷺ فرمائی : (څوك چه زمونږ پشان مونځ کوی، زمونږ قبلے ته مخ کوی او زمونږ ذبیحه خوری، نو دا هغه مسلمان دے چه ددهٔ دپاره د الله او د هغهٔ د رسول ذمه ده)۔ په بل روایت کښے دی : (نو ددهٔ لپاره هغه څه دی کوم چه زمونږ لپاره دی، اوپه دهٔ باندے هغه څهٔ دی چه په مونږ باندے دی)۔

[صحیح بخاری : ١/٥٦، مشکاة : ١/١٢]۔

نو څوك چه مونځ نهٔ کوی دا مسلمان نهٔ دے۔

اتم حدیث : نبی اکرم ﷺ یو سړی ته وفرمایل : [مَا مَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ الْقَوْمِ، أَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ ؟ قَالَ : بَلٰی......الحدیث]۔

(څه وجه ده چه تا ددے خلکو سره مونځ ونه کړو ؟ آیا تهٔ مسلمان سړے نهٔ یے ؟ هغهٔ ویل: ولے نه، خو ما په کور کښے کړے وو)۔

[موطأ مالك : ١/١٣٢، احمد : ٤/٣٤، نسائی : ٢/٨٧، حاکم : ١/٢٤٤، وصححه الألبانی فی صحیح الجامع : ٤٨٠، مشکاة : ١/١٠٣]۔

دے حدیث نه معلومه شوه چه څوك مونځ نهٔ کوی هغه مسلمان نهٔ دے۔

[التمهید لابن عبد البر : ٤/٢٢٤]۔

ابن قیم رحمه الله فرمائی : نو د مسلمان او کافر ترمینځه فرق کونکے شے یے مونځ وګرځولو۔ [کتاب الصلاة]۔

نهم حدیث : نبی اکرم ﷺ فرمائی : [إِنَّ أُمَّتِیْ یُدْعَوْنَ غُرًّا مُحَجَّلِیْنَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوْءِ]۔

(زما امت به په داسے حال کښے رابللے شی چه د هغوئ مخونه اولاسونه خپے به د اوداسهٔ د وجے نه تك سپین وی)۔

[بخاری : ١/٢٥، مسلم : ١/١٣٦، مشکاة : ١/٣٩]۔

حافظ ابن تیمیهؒ فرمائی : دے نه معلومه شوه چه د چا مخونه او لاسونه خپے د اوداسهٔ د

وجے نـه سپین نـۀ وی، هغـه به نبی اکرم ﷺ نۀ پیژنی۔ نو هغه به د هغوئ د امت نه نۀ حسابیږی۔ [مجموع الفتاوی : ٦١٢/٧]۔

لسم حدیث : خالد بن ولید رضی الله عنه د یـو سړی په حقله عرض وکړو : (اے د الله رسوله ! ددے سړی څټ ونۀ وهم ؟ ورته ئے وفرمایل : نه ! کیدے شی چه دا مونځ کوی)۔

[بخاری : ٤٣٥١، مسلم : ٣٣٧/١، مشکاة : ٣٠٨/٢]۔

او په بل حدیث کښے دی، نبی اکرم ﷺ فرمائی : [اِنِّیۡ نُهِیۡتُ عَنۡ قَتۡلِ الۡمُصَلِّیۡنَ]. (زۀ د مونځ گذارو وژلو نه منع شوے یم)۔

[أخرجه ابوداود فی الأدب : ٤٩٢٨، والدارقطنی :٥٤/٢، وهو فی صحیح الجامع : ٢٥٠٢]۔

ددے دواړو حدیثونو نه معلومه شوه چه مونځ کول د وژل کیدونه مانع دی۔او نۀ کونکے بـه د مـرتـد کیـدو په وجه وژلے شی، ځکه مسلمان وژل صرف په درے صورتونو کښے جائز دی۔ (١) وادۀ کړے سړے زنـا وکـړی۔ (٢) بـل څـوك ئے وژلے وی۔ (٣) مرتد شوے وی۔ نو مونځ پریښودونکے مرتد دے۔

[انظر ضوابط التکفیر لعبد الله القرنی ص : ٢٠٦]۔

یوولسم حدیث : نبی کریم ﷺ د هغه امامانو په باره کښے چه هغوئ د خپل وخت نه مـونـځـونـه روستـو کـوی فرمائی : (ترڅو پورے چه هغوئ په تاسو کښے مونځ کوی (نو جنگ به ورسره نۀ کوئ)۔[صحیح مسلم]۔

او پـه بـل حـدیث کښے دی : (صحابو عرض وکړو : آیا مونږ د دوئ سره جنگ وکړو ؟ وے فرمایل : نه ! ترڅو چه دوئ مونځ کوی)۔ [صحیح مسلم]۔

او په بل حدیث کښے دی : (چه مونږ به د اقتدار والو سره چه اهل وی جنگ نۀ کوو، البته که تاسو د هغۀ نه ښکاره کفر ووینئ چه د الله د طرفه تاسو سره په دے باندے دلیل وی)۔

[بخاری، مسلم، مشکاة : ٣١٩/٢]۔

نو ددے ټولو حدیثونو نه معلومه شوه چه مونځ پریښودل داسے کفر دے چه د الله د طرفه په دے کښے دلیل شته دے۔

دولسم حدیث : نبی کـریـم ﷺ ارشـاد دے : (کـلـه چـه بنیادم د سجدے آیت ولولی او سـجـده وکـړی نـو شیطان یو طرفته شی ژاړی او وائی : هائے افسوس ! انسان ته د سجدے

حکم وشو نو هغهٔ سجده وکړه نو هغهٔ لپاره جنت دے۔ او ماته د سجدے حکم وشو او ما انکار وکړو نو ما دپاره اور دے)۔

[صحیح مسلم : ۸۷/۱، احمد : ۴۴۳/۲]۔

اسحق بن راهویہؒ فرمائی : ابلیس په دے وجه کافر شو چه د الله حکم ئے پریښودهٔ، نو څه خلکو مونځ پریښودل په دے باندے قیاس کړی دی، دوئ وائی : څوك چه الله ته قصدًا سجده کول پریدی په داسے حال کښے چه الله په دهٔ فرض کړے ده اگرکه ددے د فرضیت اقرار کوی، ددهٔ گناه د ابلیس نه هم زیاته ده چه هغهٔ آدم ته سجده پریښے وه۔

[تعظیم قدر الصلاة : ۹۳۴/۲]۔

دیارلسم حدیث : نبی اکرم ﷺ فرمائی : [لَا تَتْرُكُوا الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدِيْنَ، فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْمِلَّةِ].

(تاسو قصدًا مونځ مهٔ پریدئ ځکه څوك چه قصدًا مونځ پریدی نو دا د دین نه ووتهٔ)۔

[أخرجه الطبرانی ومحمد بن نصر فی کتاب الصلاة وذکر المنذری فی الترغیب : ۳۷۹/۱ : بإسنادین لا بأس بهما].

څوارلسم حدیث : انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے، رسول الله ﷺ وفرمایل : [مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ كَفَرَ جِهَارًا].

(چا چه قصدًا مونځ پریښودهٔ نو دا ښکاره کافر شو)۔

[رواه الطبرانی بإسناد لا بأس به، کما قال المنذری فی الترغیب : ۳۸۲/۱]۔

پنځلسم حدیث : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : نبی ﷺ وفرمایل: (د اسلام کړئ او د دین ستنے درے دی چه په دے باندے د اسلام بنیاد ولاړ دے۔ چا چه ددے نه یو هم پریښودو نو هغه ددے د وجے نه کافر دے او وینه ئے حلاله ده : (۱) د کلمے طیبے گواهی۔ (۲) فرض مونځ۔ (۳) د رمضان روژه)۔

په بل روایت کښے دی : (دے په الله باندے کفر کونکے دے، ددهٔ نه به نهٔ فرض قبلیږی اونهٔ نفل او ددهٔ مال او وینه حلال دی)۔

[أخرجه أبو یعلیٰ، قال المنذری بإسناد حسن]۔

شیخ البانیؒ فرمائی : دا حدیث ضعیف دے، ځکه عمرو ته صرف ابن حبان ثقه ویلی، بیا فرمائی : غالب گمان دادے چه دا حدیث که اصل لری نو دا په ابن عباس رضی الله عنه

باندے موقوف دے، یعنی د هغۀ خپله خبره ده۔

[السلسلة الضعيفة : ٩٤]۔

د اجماع دلیل او د علماؤ اقوال :

۱ – عبد الله بن شقیق العقیلی رحمه الله فرمائی : د رسول الله ﷺ ملګرو به د مونځ نه علاوه بل هیڅ یو عمل پریښودل کفر نۀ ګڼړلو۔

[ترمذی : ٣٦٢٢، محمد بن نصر فی تعظیم الصلاة ٢/٩٠٥، قال النووی فی المجموع : ١٩/٣ : إسناده صحیح، وصححه الألبانی فی صحیح الترغیب : ٢٢٧/١، مشکاة : ٥٩/١] ۔

ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : د رسول الله ﷺ ملګرو به د مونځ نه علاوه بل هیڅ یو عمل پریښودل کفر نۀ ګڼړلو۔

[مستدرك للحاکم : ٧/١]۔

امام شوکانیؒ فرمائی : دا الفاظ په دے خبره دلالت کوی چه په دے خبره د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع وه۔ ځکه دا الفاظ استعمالول په همدے معنیٰ کښے مشهور دی۔

[نیل الاوطار : ١٦/٢]۔

اسحاق بن راهویهؒ فرمائی : رسول الله ﷺ نه صحیح ثابته ده چه قصدًا مونځ پریښودونکے کافر دے۔ دارنګه د نبی کریم ﷺ د زمانے نه واخله تر زمونږ ددے زمانے پورے دا د علماؤ رائے ده، چه په غیر د څۀ عذر نه قصدًا مونځ پریښودونکے – تردے چه د دغه مونځ وخت تیر شی – دا کافر دے۔

[تعظیم قدر الصلاة لمحمد بن نصر : ٩٣٠/٢، التمهید لابن عبد البر : ٢٢٦/٤، الترغیب : ٣٨٦/١، موطأ مالك : ٤٠/١، کتاب الإیمان لابن ابی شیبة : ١٠٣، بتحقیق الألبانی].

مسور بن مخرمهؓ فرمائی : عمر بن خطاب رضی الله عنه چه کله په نیزه ووهل شو نو دے (یعنی مسور) او ابن عباس دواړه ورته ورغلل، هر کله چه صبا شو نو هغوئ ماته راپاسولو، نو هغه ګهبراؤ شو، او وے فرمایل : هو ! په اسلام کښے د هغه چا هیڅ برخه نشته چه هغه مونځ پریدی، نو په داسے حال کښے ئے مونځ وکړو چه زخم نه ئے وینه بهیدله۔

ابن قیمؒ فرمائی : عمر فاروق رضی الله عنه دا خبره د صحابو په حضور کښے وکړه او په هغۀ باندے هیچا رد ونه کړو۔ [کتاب الصلاة ص : ٥٠]۔

محمد بن نصر مروزیؒ فرمائی: مونږ د نبی کریم ﷺ نه هغه حدیثونه ذکر کړی دی چه هغه د مانځه د پریښودونکی په کفر او د دین نه د هغهٔ په وښکلو او د هغې د کولو نه د منع کیدونکی په وژلو دلالت کوی۔ بیا د صحابو ﷺ نه مونږ ته ددې پشان خبرې رانقل کړې شوې۔ او په دوئ کښې د هیچا نه ددې خلاف هیڅ نهٔ دی نقل۔

[تعظیم قدر الصلاة ص: ۹۲۵/۲]۔

۲ – علی ﷺ فرمائی: څوك چه مونځ نهٔ کوی کافر دې۔

[ابن ابی شیبة کتاب الإیمان: ۱۵/۵، تاریخ بخاری، کما فی الترغیب: ۳۸۵/۱]۔

۳ – ابن عباس ﷺ فرمائی: چاچه مونځ پریښودو نو یقینًا چه هغه کافر شو۔

[محمد بن نصر المروزی و ابن عبد البر موقوفًا، کما فی الترغیب: ۳۸۵/۱].

٤ – ابن مسعود ﷺ فرمائی: څوك چه مونځ پریدی هغه هیڅ دلیل نهٔ لری۔

[رواه محمد بن نصر موقوفًا، الترغیب: ۳۸۵/۱]۔

۵ – جابر ﷺ فرمائی: څوك چه مونځ نهٔ کوی کافر دې۔

[رواه ابن عبد البر موقوفا کما فی الترغیب: ۳۸۵/۱].

٦ – ابودرداء ﷺ فرمائی: د هغه چا ایمان نشته چه د هغهٔ مونځ نهٔ وی او د هغه چا مونځ نشته چه د هغه اودس نهٔ وی۔

[رواه ابن عبد البر موقوفًا].

ابو بکر بن ابی شیبهؒ فرمائی: نبی کریم ﷺ فرمائی: (څوك چه مونځ پریدی کافر دې)۔

حماد بن زیدؒ د ایوبؒ نه نقل کوی: مونځ پریښودل داسې کفر دې چه په دې کښې به اختلاف نهٔ کیږی۔

[انظر الترغیب: ۳۸٦/۱، مفصلا].

ابو محمد بن حزمؒ فرمائی: د عمر، عبد الرحمن بن عوف، معاذ بن جبل، ابو هریره او نورو صحابه کرامو ﷺ نه نقل دی چه: څوك یو فرض مونځ قصدًا پریدی تردې چه وخت ئې ووځی نو دا کافر او مرتد دې، او مونږ ته ددې صحابه کرامو خلاف کونکې معلوم نهٔ دې۔

حافظ عبد العظیم منذریؒ فرمائی: د صحابو او د هغوئ نه روستو د یوې ډلې د علماؤ مذهب دادې چه څوك قصدًا مونځ پریدی تردې چه د هغې ټول وخت ووځی نو دا کافر

دے۔ لکه عمر بن خطاب، عبد الله بن مسعود، عبد الله بن عباس، معاذ بن جبل، جابر بن عبد الله، ابودرداء j۔ او د صحابو نه علاوه : احمد بن حنبل، اسحاق بن راهويه، عبد الله بن المبارك، نخعی، حكم بن عتیبه، ایوب سختیانی، ابوداود طیالسی، ابو بكر بن شیبه او زهیر بن حرب او نور رحمهم الله۔

[الفصل: ٣/٢٧٤، المحلى: ٢/٣٢٦، التمهيد: ٤/٢٢٥، نواقض الإيمان للدكتور عبد العزيز بن محمد ص: ٤٥٠].

○ او كوم خلك چه مونځ پریښودونكی ته كافر نۀ وائی، هغوئ د دغه ذكر شوو دلائل نه ضعیف جوابونه كړی دی۔ هغوئ وائی :

١ – په كومو احادیثو كښے چه تارك الصلاة ته كافر ویل شوے، نو د دغه كفر نه مراد كفر النعمة (ناشكری) ده۔ لكه بل حدیث كښے دی : [مَنْ تَعَلَّمَ الرَّمْيَ ثُمَّ تَرَكَهُ فَهِيَ نِعْمَةٌ كَفَرَهَا] (چا چه غشی ویشتل زده كړل او بیائے پریښودل نو دا یو نعمت دے چه دۀ ئے ناشكری وكړه)۔

[ابوداود : ٢٥١٣، وغیره، مشكاة : ٢/٣٣٦]۔

٢ – بعضے وائی : دا كُفْرٌ دُوْنَ كُفْرٍ دے (یعنی یو خاص قِسم كفر دے) چه ببښنه او شفاعت نۀ منع كوی۔

[كتاب الصلاة لابن القيم ص : ٥١، مشكل الآثار للطحاوی : ٤/٢٢٧، نيل الاوطار : ٢/٢٠].

٣ – كوم احادیث چه د تارك الصلاة په تكفیر كښے راغلی، هغه د تغلیظ او سخت زجر په توګه راغلی، نۀ د حقیقت په توګه۔ دے وجے نه د هغے ظاهر مراد نۀ دے۔

[المغنی : ١/٥٥٥، فتح الباری : ٢/٣٢، احكام القرآن لابن العربی : ١/٤١].

٤ – یا دا قِسم نصوص په دے معنیٰ باندے حمل دی چه دغه كس د كافر سره په بعضے احكامو كښے شریك دے چه هغه وجوب د قتل دے۔ (یعنی لكه څنګه چه كافر وژل كیږی نو دغسے تارك الصلاة هم وژل كیږی)۔

امام نوویؒ فرمائی : دا تاویل به خامخا كولے شی دے دپاره چه د شریعت نصوص او قواعد خپلو كښے موافق شی۔

[المجموع : ٣/٢٠، شرح مسلم : ١/٦١].

٥ – یا ددے حدیثونو نه مراد هغه څوك دے چه هغه مونځ پریښودل جائز ګڼړی، او یا د

انکار په توګه ئے په غیر د عذر نه پریږدی۔

[التمهید لابن عبد البر : ٤/٢٣٦، شرح مسلم للنووی : ١/٦١].

○ د اولنئ ډلے په نیز ددے **جوابونو** ضعف او کمزور والے دادے چه دا جوابونه د حدیثونو د ظاهر خلاف دی، ځکه دا جائز نۀ ده چه د نبی کریم ﷺ ددے حدیث : (د بنده او د کفر ترمینځه حدِ فاصل مونځ پریښودل دی) دا معنیٰ وکړے شی چه دلته د کفر نه مراد ناشکری ده۔

امام ابوعبید قاسم بن سلامؒ دا جواب په کتاب الایمان (ص : ٨٨) کښے ضعیف کړے۔ او هر چه دا قول د دوئ دے چه دلته د (کفر) نه مرد كُفُرٌ دُوْنَ كُفُرٍ دے، نو دا خبره مخکښے تیره شوه چه دلته الکفر (په الف لام سره) ذکر شوے، چه معهود او معلوم کفر ترے معلومیږی۔ ځکه د (الکفر) او د (کفر) ترمینځ فرق دے۔

پاتے شو دا خبره کول چه دا حدیثونه د تغلیظ او سختئ په توګه راغلی او ظاهرئے مراد نۀ دے، نو دا خبره محققینو رد کړے ده۔

حافظ ابن تیمیهؒ فرمائی : دا خبره چه دا هسے دهمکی او سختی ده، حقیقت نۀ لری، کله د شریعت تعطیل او د عذاب او سزا باطل والی ته اوړی۔

[مجموع الفتاوی : ١٩/١٥٠].

ابو عبیدؒ فرمائی : د تغلیظ والا خبره کول رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ته د یوے خطرناکے خبرے نسبت کول دی، چه دوئ د الله او د هغۀ د دین نه خبر ورکول هسے دهمکی ګرځولے ده چه د هغے لاندے حقیقت نشته۔ او ددے سر د عذاب په بیکار والی باندے تمامیږی۔ ځکه که دا کار په یو کښے ممکن شی نو په نورو عقوباتو او عذابونو کښے هم ممکن کیدے شی۔

[الایمان لأبی عبید : ٨٨].

فضیل بن عیاضؒ فرمائی : مرجئه چه کله داسے حدیث واوری چه په دے کښے ویره وی، دوئ وائی : دا هسے دهمکی ده۔ او مومن د الله د دهمکئ، ویرولو او تخویف او عذاب نه یریږی، او د هغۀ د وعدو امید ساتی۔ او د مخالف معامله ددے برعکس ده۔

[کتاب السنة لعبد الله بن الامام احمد : ١/٣٧٧].

ابن حزمؒ فرمائی : ځوك چه دا خبره جائزه ګڼړی چه د وعید او عذاب راتلو نه مراد دهمکی ده او حقیقت نهٔ لری، نو ددهٔ مخے ته شریعت زائل شو او کیدے شی چه د کافرانو وعید او عذاب هم داسے وی۔ او ځوك چه داسے مرتبے ته ورسیږی نو هغهٔ سره خبرے کول هم پکار نهٔ وی۔ [الإحکام : ۲۸۳/۱].

علامه قاسمیؒ فرمائی : ځوك چه د نبی کریم ﷺ قدر پیژنی هغه په دے جواب نهٔ خوشحالیږی، او ددے جواب سره چه کوم شے لازم ګرځی نو کیدے شی چه دوئ د هغے نه غافل شوی وی، هغه دا چه د زجر او رټنے د وجے نه د واقع خلاف خبر ورکول۔ حالانکه دا خبره هیڅ عالم نهٔ خوښوی چه هغهٔ ته منسوبه شی۔

[تفسیر قاسمی : ۵۳۶/۳].

او هر چه دا خبره د امام نوویؒ ده چه : د کفر نه مراد دادے چه دا سړے د کافرانو سره په وجوب القتل کښے شریك شو، نو دا هم ضعیفه ده، ځکه د مسلمان وژل صرف په درے صورتونو کښے جائز دی څنګه چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی۔

دویم قول : د ډیرو فقهاؤ او نورو علماؤ دے هغه دا چه :

مونځ پریښودونکے کافر نهٔ دے۔ د دوئ دلائل دادی :

۱ – دا قول د الله تعالیٰ دے : ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾ (بیشکه الله دا نهٔ ښنی چه هغهٔ سره شرك وکړے شی او ددے نه سیوا چاته ئے چه خوښه شی ښننه کوی)۔

او مونځ پریښودل د شرك نه علاوه ګناهونو کښے داخل دے۔

۲ – نبی کریم ﷺ فرمائی: (پنځه مونځونه دی چه الله تعالیٰ فرض کړی دی، چاچه ددے ښهٔ اودس وکړو او په خپل وخت ئے اداء کړل، ددے رکوع او سجده ئے په پوره توګه وکړه، نو په الله باندے ددهٔ دپاره دا لوظ دے چه دهٔ ته به ښننه کوی۔ او چاچه دا کار ونه کړو نو په الله ددهٔ دپاره هیڅ لوظ نشته، که وغواړی ښننه به ورته وکړی او که وغواړی عذاب به ورکړی)۔

[احمد : ۳۱۹/۵، موطأ مالك : ۱۲۳/۱، مشکاة : ۵۸/۱، وهو حديث صحيح].

ابن تیمیهؒ فرمائی : د دوئ په ټولو دلائلو کښے دا ډیر زیات قوی دلیل دے۔

[مجموع الفتاوی : ٦١٤/٧].

حافظ ابن عبد البرؒ فرمائی : دے حدیث نه معلومه شوه چه مونځ پریښودونکے په دے سره د اسلام نه نۀ دے وتلے، چه مرتد او مشرك جوړ شی، ځکه الله تعالیٰ جنت ته مشرك نۀ داخلوی۔ [التمهید : ٢٩٠/٢٣].

امام زرقانیؒ فرمائی : دے حدیث نه معلومه شوه چه مونځ پریښودونکے نۀ کافر دے او نۀ خامخا عذاب والا دے بلکه د الله د مشیت او ارادے لاندے دے۔

[المنتقی شرح الموطأ : ٢٥٥/١].

٣ – حدیث د حذیفه رضي الله عنه دے چه : (کلمة الاخلاص به دوئ له نجات ورکوی، درے ځله ئے دا خبره وکړه)۔ یعنی لا اله الا الله به دوئ له د اور نه خلاصے ورکوی، اګرکه مونځ، روژه، قربانی اوصدقه ئے نۀ وی کړی۔

[ابن ماجه : ٤٠٤٩، الحاکم : ٤٧٣/٤، وصححه فی الصحیحة : ٨٧/١].

٤ – په حدیث کښے دی : (ما د خپل امت دپاره دعاء وغوښتله۔ عرض وشو، نو تاسو له څه جواب درکړے شو ؟وے فرمایل : زما هغه خبره قبوله شوه چه که په هغے باندے ډیر خلك خبر شو نو مونځ به پریدی)۔

[احمد : ١٧٠/٥، ابن ماجه : ١٣٥٠، الهیثمی فی المجمع :٢١٣/٢، ورجاله ثقات].

٥ – استدلال کوی په هغه حدیث باندے چه په هغے کښے راغلی دی چه په نفلو سره به د فرائضو کمے پوره کولے شی۔

[احمد : ٢٩٠/٢، الصحیحة :٢٧٣، المشکاة : ١١٧/١].

دا حدیث عام دے هغه صورت ته هم شامل دے چه په هغے کښے قصدًا فرض مونځ پریښودل شوے وی۔ [اضواء البیان : ٣١٩/٤].

٦ – په یو حدیث کښے دی چه : (صحابو جنازه بار کړے وه، نبی صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : دا څوك دے ؟ عرض ئے وکړو، د فلانئ قبیلے غلام دے۔ نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د کلمے طیبے ګواهی ئے کوله ؟ خلکو ویل هو ! خو داسے خبرے شته دے۔ نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : مونځ ئے کولو ؟ خلکو ویل : مونځ به ئے کولو هم او پریښودلو هم۔ وے فرمایل : دا واپس کړئ غسل وکړئ، کفن ورکړئ او جنازه پرے وکړئ او خخ ئے کړئ۔ په هغه ذات مے دے

قسم وی چه زما ساه د هغهٔ په لاس کښې ده ! ملائك نزدے وو چه زما او د هغهٔ ترمينځه ركاوټ واقع شوی وے)۔

[أخرجه الخلال في جامعه كما في المغني : ۲/۱٤۹۰].

خو ددے په سند کښے عبد الوهاب بن عطاء دے او دا رشتينے دے خو ډير کرته خطا کيږی۔ شيخ البانیؒ دے حديث ته ضعيف ويلی۔

[الضعيفة رقم : ٦۰۳٦].

۷ – دارنګه دوئ د شفاعت د احاديثو نه استدلال کړے، چه په هغے کښے راغلی : بيا به الله تعالیٰ وفرمائی: (ملائکو هم شفاعت وکړو، انبياؤ هم شفاعت وکړو، مومنانو هم شفاعت، خو اوس ارحم الراحمين پاتے دے۔ نو بيا به الله د اور نه د خلکو يو موټے يا ئے وويل چه دوه موټے را واخلی چه هغوئ به د الله دپاره د هيڅ خير عمل نهٔ وی کړے، چه هغوئ به سوزيدلی وی تردے چه سکارهٔ شوی به وی)۔

شيخ البانیؒ فرمائی: نو دا حديث قطعی دليل دے په دے چه مونځ پريښودونکے چه کله مسلمان مړ شوے وی او د کلمے طيبے ګواهی کوی، نو دا به د مشرکانو سره په اور کښے شريك هميشه دپاره نهٔ پاتے کيږی۔ نو په دے کښے ډير قوی دليل دے په دے چه دا هم د مشيت د لاندے دے۔

[حكم تارك الصلاة للألباني ص : ۳۵].

۸ – دارنګه دوئ په نورو عامو دلائلو استدلال کړے، لکه دا حديث شو : [مَنْ شَهِدَ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، وَأَنَّ عِيسىٰ عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ وَكَلِمَتُهٗ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِنْهُ، وَأَنَّ الْجَنَّةَ حَقٌّ وَالنَّارَ حَقٌّ، أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ عَلىٰ مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ].

(چا چه ګواهی وکړه چه د الله نه سيوا بل لائق د عبادت نشته، يوائے دے، هيڅ شريك نهٔ لری، او محمد (صلى الله عليه وسلم) د الله بنده او رسول دے، او عيسیٰ د الله بنده او رسول دے او د الله کلمه ده چه مريم ته ئے اچولے وه او د هغهٔ د طرفه روح دے۔ او جنت حق دے او اور حق دے۔ نو الله به ئے جنت ته ننباسی اګرکه هر عمل ئے کړے وی)۔

[بخاری، مسلم، مشكاة : ۱/۱٤].

۹ – او دوئ اجماع هم په دليل کښے پيش کوی۔ دوئ وائی : مونږ ته په اسلامی ښارونو

کښې هیڅ یو مونځ پرېښودونکې داسې نۀ دې معلوم چه د هغۀ غسل، تکفین او د مسلمانانو په هدیره کښې د هغۀ خخول پرېښودلې شوی وی، یائې ورثه د هغۀ د میراث نه محروم شوی وی، یا هغه خپله د خپل مورث د میراث نه محروم شوې وی.

اونۀ مونږ ته داسې ښځه او خاوند معلوم دی چه د هغوئ ترمینځه جدائی راوستل شوی وی په دې وجه چه په هغوئ کښې یو کس مونځ کوی او بل ئې نۀ کوی. سره ددې چه مونځ پرېښودونکی ډېر زیات دی، که چرې دا کس کافر وې، نو دا ټول احکام به ورله ثابت وې. او د مسلمانانو ترمینځه په دې اتفاق دې چه په دۀ باندې د مونځ قضاء واجب ده، که چرې دا مرتد وې نو په دۀ به نۀ مونځ قضائی راوړل لازم وې اونۀ د روژې.

[المغنی : ۲/۱۴۹۰، تعظیم قدر الصلاة: ۲/۹۵۶].

○ **د حجاز** علماؤ اولنې قول غوره کړې، او دوئ د هغه چا په کفر باندې فتویٰ ورکړې چه همیشه دپاره مونځ پریدی، او یائې کله نا کله د سستئ او بیباکئ د وجې پریدی. او دوئ د دویم قول والو د دلائلو نه داسې جواب ورکړې :

په کومو دلائلو باندې دې خلکو استدلال کړې نو یا خو په دې کښې هیڅ دلالت نشته، او یا دا په داسې یو وصف باندې مقید دی چه د هغې سره مونځ پرېښودل نۀ راځی، او یا په داسې حالت باندې مقید دی چه انسان په هغې کښې د مونځ په پرېښودو معذور دې، او یا دغه دلیل عام دې چه تخصیص د ترك الصلاة ترې شوې. نو د دویم فریق دلائل ددې څلورو حالاتو نه بهر نۀ دی.

[الفتاوی الإسلامیة : ۱/۳۷۱].

او د حدیث د شفاعت نه امام ابن خزیمهؒ داسې جواب کړې چه دا عام الفاظ دی خو مراد په دې سره خاص دې، بیا ئې په دې دلائل راوړی.

[کتاب التوحید : ۲/۷۲۷].

او صاحب د نواقض الایمان وائی : بلکه د ابو سعید خدری رضی الله عنه او د ګنهګارو د شفاعت په نورو حدیثونو کښې داسې الفاظ راغلی چه تارك الصلاة کافر دې. ځکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (تردې چه الله د خپلو بندګانو ترمینځه د فیصلې نه فارغ شی او د هغه خلکو د اور نه د را وښکلو اراده وکړی د چا په باره کښې چه د الله خوښه وی چه هغوی راوځی چه

هغوئ به د کلمې طيبې ګواهي کونکي وي، نو ملائکو ته به حکم وکړی چه دوئ راوباسي، نو ملائك به هغوئ د سجدې په نښو نښانو سره پيژني. او الله په اور باندې حرامه کړې ده چه د انسان د سجدې اثر وخوري).

[صحیح بخاری : ١/١١١، نواقض الإیمان ص : ٤٨٨].

معلومه شوه چه څوك الله ته سجده نهٔ کوی، اور به ئې ټول خوری.

سوال : په دې حدیث کښې دی چه (هیڅ د خیر عمل به ئې نهٔ وی کړې).

جواب : د خیر عمل نه مراد د ایمان او د مانځه نه علاوه نیکئ دی.

[نواقض الإیمان ص ٤٨٩]. والله أعلم.

نتیجه او ترجیح

د دلائلو پیش کولو نه پس مونږ وایو : راجح او غوره قول اولنې دې. ځکه چه د دوئ دلائل ډیر صریح او ډیر قوی دی په نسبت سره دلائلو د دویمې ډلې ته.

[أضواء البیان للشنقیطی : ٤/٣٢٢].

د نواقض الایمان مولف علامه عبد العزیز فرمائی : درمیانه او راجح قول په دې باره کښې دادې چه مونځ پریښودونکی ته چه کافر ویل شوې نو دا هغه پریښودونکې دې چه بیخی ئې پریږدی، یا خو ئې بالکل نهٔ کوی، او یائې زیاتره او غالبًا نهٔ کوی. او ددې نه مراد مطلق پریښودل نهٔ دی. چه ګنې څوك صرف یو مونځ پریږدی نو دا به کافر وی.

[ضوابط التکفیر ص : ٢١١١].

ددې تائید دا راتلونکی دلائل هم کوی :

١ - الله تعالیٰ فرمائی:﴿ فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلَاةَ ﴾.

(نو د هغوئ نه روسته نا اهله جانشین راغلل چه مونځ ئې برباد کړو).

دلته د مونځ بربادولو نه مراد بیخی پریښودل دی، لکه دا تفسیر محمد بن کعب قرظیؒ او زید بن اسلمؒ کړې، او ابن جریرؒ غوره ګڼړلې.

[تفسیر ابن جریر : ١٦/٦٦، تفسیر ابن کثیر : ٣/١٢٥].

٢ - او حدیث کښې دی نبی کریم ﷺ فرمائی : (پنځه مونځونه الله تعالیٰ په شو اروز

کښې په خلکو فرض کړی دی، چاچه ددې اهتمام وکړو نو ده په الله باندې لوظ دے چه جنت ته به ئے ننباسی، او چاچه ددې پابندی ونه کړه نو په الله باندې ددهٔ هیڅ لوظ نشته، که وغواړی عذاب به ورکړی اوکه خوښه ئے شی نو جنت ته به ئے ننباسی)۔

ابن تیمیه رحمه الله فرمائی: نبی کریم ﷺ هغه څوك د الله د مشیت لاندې داخل کړے چه هغه مونځ کوی خو د هغې پابندی او اهتمام نهٔ کوی، هغه څوك ئے نهٔ دے داخل کړے چه هغه بیخی مونځ پریدی، ځکه پابندی نهٔ کولو نه معلومیږی چه دوئ مونځ خو کوی خو د هغې اهتمام نهٔ کوی۔ بیا فرمائی: په ډیرو اسلامی ښارونو کښې زیاتره مسلمانان د پنځو مونځونو اهتمام نهٔ کوی او نهٔ ئے بیخی پریدی، بلکه کله ئے کوی اوکله ئے پریدی۔ نو په دې خلکو کښې ایمان او منافقت دواړه شته دے، او په دوئ باندې د اسلام ظاهری احکام جاری کیږی۔

[مجموع الفتاوی: ٧/٦١٦].

په بله موقعه فرمائی: پاتې شو هغه څوك چه هغه د مونځ په پریښودو باندې همیش والے کونکے دے، هیڅ کله مونځ نهٔ کوی، او په همدې همیش والی او پریښودلو باندې مړ شی نو دا مسلمان نهٔ دے۔ لیکن زیاتره خلك کله مونځ کوی او کله ئے پریدی۔ نو دوئ د مانځه پابندی نهٔ کوی او دا خلك د وعید او عذاب لاندې دی، او همدا هغه خلك دے چه د دوئ په باره کښې په سننو کښې د عباده بن صامت رضی الله عنه مذکوره حدیث راغلے۔

[مجموع الفتاوی: ٢٢/٤٩، الصارم المسلول: ٥٥٤].

۳ – نبی کریم ﷺ فرمائی: (اولنے هغې شے چه بنده سره د هغې حساب کیږی ددهٔ مونځ دے، کـه هغه ئے په پوره توګه کړے وی نو ډیره ښه ده، که نهٔ وی نو ددهٔ نوافل به وکتلے شی که نوافل ئے وی نو ددې نه به ددهٔ فرائض پوره کړے شی)۔

نو ددې حدیث نه هم معلومیږی چه دهٔ بیخی مونځونه نهٔ دی پریښی بلکه کله ئے کړی اوکله ئے پریښی دی، دارنګه نیمګړی ئے کړی دی چه دا کفر نهٔ ګڼړلے کیږی۔

[نواقض الإیمان ص ٤٩٨].

امام ابن قیمؒ هم دیته د خپل بحث په آخر کښې اشاره کړے، لکه فرمائی:

د علماؤ دا اختلاف د هغه چا په باره کښې نهٔ دے چه هغه د مانځه د وجوب نه منکر دے

اونهٔ د هغه چا په باره کښې دے چه هغه مونځ خو کوی خو د هغې د وجوب منکر دے۔
[کما فی المجموع ۱٦/۳، والفتاوی لابن تیمیة ۹۷/۲۰] اونهٔ د هغه چا په باره کښې دے چه مونځ سپك گنړی او دے پورے ټوقے کوی نو ځکه ئے پریدی، ځکه چه دا خلك خو په اتفاق د مسلمانانو سره کافر دی۔ او څوك چه مونځ پریدی او په دے پریښودلو باندے ټینګ ولاړ وی تردے چه ووژل شی نو دا هم اتفاقًا کافر دے۔ ځکه څوك چه د مانځه نه بند شو تردے چه ووژل شو نو دا کس په زړهٔ کښې د هغې د وجوب اقرار کونکے نهٔ دے اونهٔ د هغې د کولو التزام کونکے دے۔

متاخرینو فقهاؤ دلته یوه فرضی مسئله لیکلې چه هغه نهٔ واقع کیږی، هغه دا چه کله یو سړے د مانځه د فرضیت اقرار کوی او هغې طرفته ورته دعوت ورکړے شو او هغه ددے د کولو نه منع شو او هغهٔ نه د توبے مطالبه هم وکړے شوه او د وژلو دهمکی ورکړے شوه خو هغهٔ بیا هم مونځ ونه کړو تردے چه ووژل شو، نو آیا دا کس به کافر مری او که فاسق ؟ نو په دے کښې دوه قوله دی۔

نو دا یوه باطله فرضی مسئله ده ځکه فطری لحاظ سره دا خبره منع ده چه یو سړے دے د مانځه د فرضیت او د هغې د پریښودلو د عذاب عقیده لرونکے وی او سره ددے دے هغهٔ وژلو ته ځان نیولے وی او الله تعالیٰ ته دے یوه سجده هم نهٔ لروی ؟

[کتاب الصلاة ص : ٦۲، انظر مجموع الفتاوی : ۲۱۹/۷، ۴۸/۲۲، ۱۰٦/۳۵].

ابن قیمؒ په هغه چا تعجب ښکاره کړے چه هغه دے قِسم خلکو ته کافر نهٔ وائی۔

اختلاف خو د هغه چا په باره کښې دے چه کله ئے کوی او کله ئے پریدی او یا ئے زیاتره پریدی۔ اوتا د دواړو ډلو دلائل واوریدل او درمیانه قول او د هغې دلائل دے هم واوریدل۔

وبالله التوفیق.

ooooooo

باب المواقیت

د مانځه د وختونو بیان

سهار مونځ وختی کول غوره دی

۴۷۳ – **سوال** : د سهار مونځ په تیاره کښې وختی کول غوره دی که په رڼا کښې ناوخته؟

جواب : په ډیرو حدیثونو کښې سهار مونځ وختی کول راغلی دی۔ لکه :

۱ – ابو برزه اسلمی رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم عمل مونږ ته رانقل کوی فرمائی : (نبی صلی الله علیه وسلم به د سهار د مانځه نه په داسې وخت کښې واپس کیدهٔ کله به چه سړی خپل ملګرے پیژندلو، او نبی صلی الله علیه وسلم به په مانځه کښې د شپیتو نه واخله تر سلو آیتونو پورې لوستل)۔

[بخاری : ۱/۷۷، مسلم : ۱/۲۲۵، مشکاة : ۱/۶۰].

دې حدیث نه معلومه شوه چه نبی صلی الله علیه وسلم به وختی مونځ کولو۔

۲ – جابر رضی الله عنه فرمائی : (نبی صلی الله علیه وسلم به د ماسپښین مونځ په غرمه کښې کولو، او مازیګر به ئې په داسې وخت کښې کولو چه نمر به ژوندې وو، او ماښام به ئې نمر پریواتهٔ سره کولو، او ماسخوتن به ئې که خلك ډیر وو په تادئ سره کولو، اوکه خلك به کم وو نو په تاخیر سره به ئې کولو۔ او د سهار مونځ به ئې په تیارهٔ کښې کولو)۔

[بخاری : ۱/۷۷، مسلم : ۱/۲۲۶، مشکاة : ۱/۶۰].

دې حدیث کښې د تیرې دپاره [غَلَس] لفظ راغلې، غلس ویل کیږی، د شپې د آخری برخې تیارهٔ چه د صبا د رڼا سره ګډه شی۔

۳ – عائشه i فرمائی : [كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُصَلِّى الصُّبْحَ فَتَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوْطِهِنَّ مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ] (رسول الله صلی الله علیه وسلم به د سهار مونځ وکړو نو مونځ له راغلې ښځې به په داسې حالت کښې کورونو ته واپس کیدې چه څادریانو کښې به ئې ځانونه نغښتلی وو

او د تیارې د وجې نه به نۀ پیژندل کیدلے)۔

[صحیح بخاری : ۸۲/۱].

٤ – سهل بن سعد ﷺ **فرمائی: مابه په خپل کور کښې پیشمنې وکړو، بیا به ما تادی کوله چه زۀ د رسول الله ﷺ سره د سهار مونځ رالاندې کړم۔**

[صحیح بخاری : ۸۲۱].

٥ – انس ﷺ **نه نقل دی چه زید بن ثابت** ﷺ **دۀ ته حدیث بیان کړو چه دوئ به د نبی اکرم** ﷺ **سره پیشمنې وکړو، بیابه مانځه ته ودریدل۔ قتادۃؒ عرض وکړو، د مونځ او پیشمنی ترمینځه څومره وخت وو؟ وے فرمایل: د پنځوسو یا شپیتو آیتونو په اندازه)۔** [صحیح بخاری : ۸۱/۱].

علامه مبارکفوریؒ فرمائی: ددے حدیثونو نه معلومه شوه چه سهار مونځ په تیاره کښې کول، په رڼا کښې د کولو نه افضل دی۔ او همدا د مالك، شافعی، احمد او اسحاق (رحمهم الله) وینا ده۔ ابن عبد البرؒ فرمائی: د رسول الله ﷺ، ابو بکر، عمر او عثمان نه صحیح ثابته ده چه دوئ به په تیارۀ کښې مونځ کولو۔او دا خبره نشی کیدے چه دوئ دے بهتر عمل پریدی او ناغوره عمل دے اختیار کړی، حالانکه دوئ به هر وخت د غوره عملونو آخری سرته څان رسولو۔بیائے احادیث ذکرکړی دی، بیا ئے د ابو مسعود ﷺ **حدیث ذکر کړے چه (مونږ ته رسول الله ﷺ یو ځل د سهار مونځ په تیارۀ کښې راکړو، بیا ئے یو ځل بیا دغه مونځ وکړو خو په رڼا کښې ئے وکړو۔ بیا ددے نه پس د نبی کریم ﷺ دا مونځ به همیشه په تیارۀ کښې کیدۀ تردے چه نبی ﷺ وفات شو، بیا په رڼا کښې مونځ کولو ته واپس شوے نۀ دے)۔**

[رواه الحازمی وأبوداود، وصححه ابن خزیمة وغیره].

دا حدیث صحیح دے او ددے تفصیل په تحفة الاحوذی : ۱٤۳/۱، **کښې وګوره۔**

[مرعاة : ۳۰٦/۲].

امام حازمیؒ فرمائی: د سهار مونځ په تیارۀ کښې کول د نبی کریم ﷺ نه ثابت دی او هغوئ په دے باندے تر مرګه پورې همیش والے کړے، او رسول الله ﷺ به همیش والے نۀ کولو مګر په افضل او بهتر عمل باندے، دغه شان د هغوئ نه پس د هغوئ صحابو به هم

په دې کښې د هغوئ اقتداء کوله. بیائې دغه پورتنې حدیث ذکر کړې او صحیح ئې ګرځولې. علامه خطابیؒ فرمائی : ددې حدیث سند صحیح دې. شوکانیؒ فرمائی : ددې راویان د صحیح بخاري راویان دی.

او په کوم حدیث د رافع بن خدیج ﷺ کښې چه دا راغلی چه، رسول الله ﷺ وفرمایل : [اَسۡفِرُوۡا بِالۡفَجۡرِ فَاِنَّهٗ اَعۡظَمُ لِلۡاَجۡرِ] (تاسو د سهار مونځ په رنړا کښې کوئ ځکه دا د ثواب زیاتیدو سبب دې). او د ابوداود په روایت کښې دی : [أَصۡبِحُوۡا بِالصُّبۡحِ].

نو ددې حدیث او د مخکنو حدیثونو ترمینځه تطبیق او توفیق په یو څو وجو سره دې:

۱ – **اول** : امام ابن تیمیهؒ فرمائی: دا حدیث شاذ دې.

[مجموع الفتاوی : ۲۲/۹۵].

خودا جواب ضعیف دې، ځکه دا حدیث بې شماره محققینو صحیح کړې.

[انظر صحیح السنن للألبانیؒ].

۲ – **دویم** : [أَسۡفِرُوۡا بِالصُّبۡحِ] دا روایت بالمعنیٰ دې.او اصل الفاظ : [أَصۡبِحُوۡا بِالصُّبۡحِ] دی او ددې معنیٰ داده چه د سهار مونځ د صبا راختو سره سَم کوئ نۀ ددې نه مخکښې.لکه په دې باندې دویم روایت دلالت کوی. او (اعظم) لفظ په دې کښې د اسم تفضیل دپاره نۀ دې. دې جواب ته علامه سندیؒ د ابن ماجه په حاشیه کښې مردود، او عبید الله مبارکفوریؒ صحیح ویلی دی.

[المرعاة : ۲/۳۲۲].

۳ – **دریم جواب** غوره دې : هغه دا چه د اِسفار نه مراد دَوَامًا دې نۀ اِبتداءً. ابن قیمؒ فرمائی : که دا حدیث ثابت شی نو بیا ددې مقصد دادې چه شروع په تیارۀ کښې وکړې شی او فراغت په رنړا کښې، لکه څنګه چه د نبی کریم ﷺ عادت مبارك وو. نو د نبی کریم ﷺ وینا د هغۀ د عمل سره موافقه ده، د هغې ماتونکې نۀ ده. او په نبی اکرم ﷺ باندې دا ګمان څنګه کیدې شی چه اجر او ثواب دې په یو عمل کښې زیات وی او نبی ﷺ دې ددې عمل په خلاف په بل عمل باندې همیش والې کوی ؟

[اعلام الموقعین].

او همدا خبره امام طحاویؒ هم غوره کړې، هغه وائی : مناسبه داده چه مونځ دې وختی

شروع کړے شی او د هغے نه دے په رنړا کښے فراغت حاصل کړے شی دے دپاره چه د رسول الله ﷺ او د هغۀ د ملګرو د عمل سره سمون او موافقت راشی۔ او همدا د ابوحنیفهؒ، ابو یوسفؒ او محمد بن الحسنؒ وینا ده۔

[شرح معانی الآثار : ۱/۱۳۰].

او همدا خبره شیخ البانیؒ هم ذکر کړے، چه په دغه حدیث کښے د مانځه د فراغت خبره ذکر ده نۀ د مونځ شروع کولو۔

[ارواء الغليل : ۱/۱۸۷].

او په دے جمع او تطبيق باندے د نبی کريم ﷺ فعلی حديث هم دليل دے۔ انس رضی الله عنه فرمائی: [كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُصَلِّي الصُّبْحَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ إِلٰى أَنْ يَّنْفَسِحَ الْبَصَرُ].

(نبی کريم ﷺ به د سهار مونځ د صبا راختو سره کولو تردے چه نظر به فراخه شو)۔

[أخرجه أحمد : ۳/۱۲۹].

او په کومو حديثونو کښے چه په رنړا کښے مونځ کول راغلی، نو هغه په بعضے وختونو باندے حمل دی، لکه په دے باندے حديث د عائشے i دلالت کوی۔ (نو ښځے به د سهار مونځ نه پس په داسے حال کښے واپس کيدلے چه د تيارے د وجے نه به نۀ پيژندل کيدے)۔ [مرعاة : ۲/۳۲۲].

او د ابن مسعود رضی الله عنه په حديث کښے چه دا راغلی چه : (ما رسول الله ﷺ نۀ دے ليدلے چه د خپل وخت نه مخکښے ئے مونځ کړے وی، سيوا د دوه مونځونو نه : ماښام اوماسخوتن په مزدلفه کښے۔ او د سهار مونځ ئے په دغه ورځ د خپل وخت نه مخکښے وکړو)۔ [بخاری، مسلم، مشکاة : ۱/۲۳۰].

نو په دے حديث کښے په رنړا کښے د مونځ کولو هيڅ تصريح نشته۔ بلکه ددے معنیٰ داده چه په دغه ورځ ئے د نورو ورځو په نسبت د سهار مونځ په ښۀ تيارۀ کښے وکړو۔

د سهار او مازيګر په وخت يو رکعت لاندے کولو سره مونځ رالاندے کيږی

۴۷۴ – **سوال** : ځينے حنفی فقهاؤ ويلی دی چه (څوك د مازيګر مانځه نه يو رکعت را لاندے کړی او بيا نمر ډوب شی، نو مونځ به پوره کوی۔ او که د سهار د مانځه نه ئے يو

رکعت را لاندے کړو او بیا نمر راوختهٔ نو مونځ به نهٔ پوره کوی، بلکه مونځ ئے فاسد شو او په دهٔ باندے ددے قضائی راوړل واجب دی)۔

آیا دا خبره صحیح ده او که نه ؟ په دے مسئله کښے حقه خبره څنګه ده ؟

جواب : صحیح خبره داده چه (څوك د نمر پریواتهٔ نه مخکښے د مازیګر د مانځه یو رکعت را لاندے کړی نو دهٔ د مازیګر مونځ را لاندے کړو، او څوك چه د نمر ختهٔ نه مخکښے د سهار د مانځه یو رکعت را لاندے کړی نو هغهٔ سهار مونځ رالاندے کړو)۔

په دے باندے راتلونکی صحیح **دلائل** دی :

١ – اول : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل :

[مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ، وَمَنْ اَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ اَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ اَدْرَكَ الْعَصْرَ].

(څوك چه د نمر ختهٔ نه مخکښے د سهار د مانځه نه یو رکعت را لاندے کړی، نو دهٔ د سهار مونځ رالاندے کړو، او څوك چه د نمر پریواتهٔ نه مخکښے د زمایګر مانځه نه یو رکعت را لاندے کړی نو دهٔ د مازیګر مونځ را لاندے کړو)۔

[بخاری : ٨٢/١، مسلم : ٢٢١/١، مشکاة : ٦١/١].

نو دا صریح نص دے او دا د نبی کریم ﷺ داسے فتویٰ ده چه هیڅ یو مفتی ددے په خلاف فتویٰ نشی ورکولے۔ د رسول الله ﷺ په خبرو کښے هیڅ کله تعارض نهٔ وی۔ دے وجے نه ددے حدیث سره د هغه احادیثو تعارض نهٔ راځی چه په هغے کښے د سهار دمانځه نه پس تر نمر ختهٔ پورے د مونځ کولو نه منع راغلے۔ ځکه هغه حدیثونه د نوافلو په باره کښے دی۔ لکه په دے باندے دلیل د ابن عمر رضی الله عنه حدیث دے :

[لَا تَحَيَّنُوا بِصَلَاتِكُمْ طُلُوْعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوْبِهَا]۔

(خپل مونځونه د نمر ختهٔ او نمر پریواتهٔ په وختونو کښے مهٔ واقع کوئ)۔

په بل روایت کښے دی : [لَا يَتَحَرّٰى أَحَدُكُمْ فَيُصَلِّيْ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَلَاعِنْدَ غُرُوْبِهَا].

(په تاسو کښے دے څوك د نمر ختهٔ او نمر پریواتهٔ د وختونو خیال نهٔ ساتی) چه ناست وی ناست وی مونځ نهٔ کوی خو چه کله دا وختونه شی نو بیا مانځه ته ودریږی۔

[مشکاة : ٩٤/١].

دے وجے نه تحرّی او تحیّن صرف په نوافلو کښے راتلے شی۔ ښهٔ سوچ وکړه !

نو د هغه چا خبره بیکاره شوه چه هغه وائی : دغه پورتنے حدیث د اوقاتِ مکروهه ؤ د احادیثو سره ټکراؤ دے۔ نه بلکه هیڅ ټکراؤ نشته۔

۲ – ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے، رسول الله ﷺ وفرمایل : (کله چه په تاسو کښے څوك د نمرډوبیدو نه مخکښے د مازیګر د مانځه نه یو رکعت بیامومی نو هغه دے خپل مونځ پوره کړی، اوکله چه د نمر خاتهٔ نه مخکښے د سهار د مانځه نه یو رکعت بیاموم‍ی هغه دے خپل مونځ پوره کړی)۔

[بخاری : ۸۲/۱، مشکاة : ۶۱/۱].

دا بل حدیث دے چه د اولنی حدیث نه هم زیات صریح او ډاګیز دے۔ او په دے کښے هیڅ قِسم تاویل صحیح نهٔ دے۔نو چا چه په دے کښے دا تاویل کړے چه د [فَقَدُ اَدُرَكَ الصُّبُحَ] نه مراد دادے چه په دهٔ باندے د سهار مونځ واجب شو او قضائی به ئے راوړی۔او وائی : دا حدیث د حائضے په باره کښے دے چه په دے وخت کښے پاکه شی، او د ماشوم په باره کښے دے چه کله بالغ شی او د کافر په باره کښے دے کله چه مسلمان شی۔لکه چه دا تاویل امام طحاویؒ کړے، نو دا تاویل صحیح نهٔ دے۔ ځکه په دے حدیث کښے د [فَلُیُتِمَّ صَلَاتَهٗ] الفاظ دی۔یعنی خپل شروع کړے مونځ دے پوره کړی۔

دغه شان د هغه چا خبره هم صحیح نهٔ ده چه هغوئ وائی چه د موندلو نه مراد د مانځه ثواب موندل دی۔ ځکه نبی کریم ﷺ دلته د پوره کولو امر کړے۔ اوکله چه مونځ پوره شو نو بیا د قضائی راوړلو څهٔ معنیٰ ؟

۳ – دغسے حدیث په صحیح مسلم او بیهقی کښے هم راغلے۔

[مسلم : ۲۲۱/۱، بیهقی : ۳۷۸/۲، عن عائشة رضی الله عنها]۔

٤ – دارنګه په بل حدیث کښے دا الفاظ دی :

[اِذَا صَلّٰی أَحَدُکُم رَکُعَةً مِنُ صَلَاةِ الصُّبُحِ ثُمَّ طَلَعَتِ الشَّمُسُ فَلُیُصَلِّ اِلَیُهَا أُخُریٰ].

(کله چه په تاسوکښے څوك د سهار د مانځه یو رکعت وکړی او بیا نمر راوخیژی، نو هغے سره دے بل رکعت هم وکړی)۔

[أخرجه الدارقطنی مرفوعًا].

۵ – په بل حدیث کښې دی چه ابو بکر صدیق رضي الله عنه د سهار په مانځه کښې سورتِ بقره لوستله، نو هغۀ ته وویل شو چه نزدې وه چه نمر راختلې وې. هغۀ وفرمایل: (که چرې راختلې وې نو مونږ به ئې غافله نۀ وې موندلې).

[انظر مجموع فتاوی ابن تیمیة: ۱۷۹/۲۳].

ددې نه هم معلومه شوه چه نمر راختل مونځ نۀ خرابوی.

○ او کوم احناف چه وائی چه: په پورتنی صورت کښې په نمر راختو سره د سهار مونځ خرابیږی، نو هغوئ د قیاس او د خود ساخته قاعدو په ذریعه پورتنی حدیثونه باطل کړی دی. او د نصوصو په مقابله کښې ئې قیاس کړې. او د تعارض دعویٰ ئې کړې. حالانکه تا وپیژندل چه په نصوصو کښې هیڅ قِسم تعارض نشته.

خپله بعضې احنافو په دې تاویلونو باندې رد کړې.

[الکوکب الدری د رشید احمد صاحب، حاشیة شرح الوقایة، ذکره صاحب المرعاة: ۳۱۰/۲].

○ او کله په حدیث د لیلة التعریس باندې استدلال کوی، چه (نبی کریم صلی الله علیه وسلم او بلال او نور صحابه کرام هغه وخت د خوب نه راپاسیدل چه نمر راختلې وو). په دې حدیث کښې دا الفاظ دی: (نبی صلی الله علیه وسلم حکم وکړو چه خپلې سورلئ ددې ځائے نه روانې کړئ نو هغوئ دا کار وکړو، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس وکړو). (تر آخره پورې).

[مسلم: ۲۳۹/۱، مشکاة: ۶۷/۱].

دوئ وائی: رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغه ځائے نه په دې وجه روان شو چه دغه مکروه وخت وو.

لیکن دا خبره صحیح نۀ ده. صحیح خبره داده چه د دغه ځائے نه دا روانیدل د بل مقصد دپاره وو، او هغه خپله په حدیث کښې ذکر شوې. (رسول الله صلی الله علیه وسلم دوئ ته حکم وکړو چه سوارۀ شی دې دپاره چه د دغه میدان نه ووځی، او وې فرمایل: [إِنَّ هٰذَاوَادٍ بِهِ شَيْطَانٌ].

(ځکه دې میدان کښې مونږ ته شیطان حاضر شوې وو).

نو د دغه ځائے نه د تللو وجه دا وه چه دلته شیطان دوئ ته حاضر شوې وو.

او دا خبره کول چه شیطان خو هر مانځه ته حاضریږی، نو دا علت نۀ صحیح کیږی.

نو دا خبره د نص په مقابله کښې قیاس کول دی. دې له هیڅ اعتبار نشته. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اقوالو کښې داسې پټ حکمتونه وی چه هغه ډیرو خلکو ته نشی معلومیدې.

حافظ ابن حجرؒ فرمائي: د نبي كريم ﷺ دا خبره چه (دے ميدان كښے شيطان دے) رد دے په هغه چا چه هغه وائي: ددے ميدان نه ځكه تلے وو چه دا مكروه وخت وو. بلكه ددے باب په حديث كښے راغلي چه (دوئ هغه وخت راويښ شول چه د نمر گرمائش ئے بيامونده) او د ابو هريره رضي الله عنه په حديث كښے دي چه (هغه وخت را بيدار شول چه نمر دوئ لره ووهلو) او دا هله وي چه مكروه وخت تير شوے وي. [مسلم].

[فتح الباري:٢/٥٣].

او د نسائي په كوم حديث كښے چه راغلي چه: (هله راويښ شو چه نمر يا د هغے ځينے برخه راوختــه) نو دا حديث منكر دے. او بله دا چه په دے الفاظو كښے د راوي شك دے.

[نسائي: ١/١٠٢، ضعيف النسائي: ٦٢٥].

نو د احنافو هر څۀ په سيند لاهو شو، او هغه بحث بيكاره شو چه رشيد احمد صاحب ورته عجيب تحقيق ويلے.

[احسن الفتاوىٰ: ٢/١٤٦].

ابن قيم رحمه الله فرمائي: احنافو صحيح، صريح او محكم سنت رد كړے دے په دے بهانه چه دا د اصولو خلاف دے. دارنگه په متشابهاتو سره ئے رد كوي چه د نمر خاتۀ په وخت د مونځ كولو نه نبي ﷺ منع كړے. بيائے تفصيل ذكركړے، هغے ته رجوع وكړه چه حق درته معلوم شي.

مقتديانو ته انتظار كول

٤٧٥ – **سوال**: كوم مونځ گذار چه لا نۀ وي راغلي اوهغه ددے جومات مقتديان وي، نو هغوئ ته انتظار كول بعضے وائي: شرك دے، نو دا خبره څنگه ده؟

جواب: جابر رضي الله عنه فرمائي: (نبي ﷺ به د ماسپښين مونځ په غرمه كښے كولو، او مازيگر به ئے په داسے وخت كښے كولو چه نمر به ژوندے وو، او ماښام به ئے نمر پريواتۀ سره كولو، او ماسخوتن به ئے كه خلك ډير وو په تادئ سره كولو، اوكه خلك به كم وو نو په تاخير سره به ئے كولو. او د سهار مونځ به ئے په تيارۀ كښے كولو).

[بخاري: ١/٧٧، مسلم: ١/٢٢٦، مشكاة: ١/٦٠].

ابن عمر رضي الله عنه فرمائی: (یو شپه مونږ د ماسخوتن د مانځه دپاره د رسول الله ﷺ انتظار کولو، نبی ﷺ مونږ ته په هغه وخت کښې راوواتهٔ چه دریمه برخه یا ددې نه زیاته وتې وه، نو مونږ ته پته ونه لږیده چه نبی ﷺ په څهٔ کار مشغول وو اوکه بله څه خبره وه؟ نو راوتو سره ئې وې فرمایل: آیا تاسو ددې مانځه انتظار کوئ؟ که چرې زما په امت باندې نهٔ ګرانیدې نو مابه خامخا همدا وخت دوئ ته مونځ کولې، بیا ئې مؤذن ته حکم وکړو نو هغهٔ د مانځه دپاره اقامت وکړو)۔

[مسلم: ۱/۲۲۹، ابوداود: ۱/۸۵].

نو ثابته شوه چه انتظار کول سنت دی او امام ته انتظار کول لازم دی هر کله چه د هغهٔ راتلل معلوم وی۔ لکه په دې باندې ګڼړ حدیثونه دلالت کوی۔ نبی کریم ﷺ فرمائی: (کله چه د مانځه اقامت وکړې شی نو تاسو تر هغه وخته پورې مهٔ ودریږئ تر څو چه ما وینئ)۔

او مسلمانانو ته انتظار کول، دې دپاره چه هغوئ د جماعت سره مونځ رالاندې کړی، دا د نیکئ او تقویٰ په کارونو کښې یو بل سره مدد کول دی چه په دې باندې امر راغلې۔ البته د چا د مالدارئ یا مرتبې یا سردارئ په خاطر به د هغهٔ انتظار نهٔ کوی ځکه چه دا شرکِ اصغر دې۔ او رکوع، سجده او آخیره قعده د راتلونکو مقتدیانو دپاره اوږدول بهتر دی، په دې شرط چه په دې سره د الله رضا مقصد وی او روستو مقتدیانو ته مونځ اوږدول تکلیف نهٔ وی، نو مناسب اوږدول جائز دی۔

[رد المحتار: ۱/۳۳۲].

ابن قدامهؒ فرمائی: دا داسې انتظار دې چه نفع ئې شته او ضرر ئې نشته۔ د خوف په مانځه کښې انتظار مشروع شوې، دې دپاره چه دویمه ډله مونځ را لاندې کړی۔ او نبی ﷺ به د جماعت انتظار کولو۔ (بیا فرمائی) نبی ﷺ به اولنې رکعت اوږدلو تردې چه د خلکو د خپو کشار به ئې نهٔ آوریدلو۔ او هغه وخت ئې سجده اوږده کړه کله چه د هغهٔ په شا باندې حَسَن سور شو، او وې فرمایل: زما دا ځوئې په ما سور شو نو ما بده وګڼړله چه زرئې کوز کړم۔ [الشرح الکبیر: ۲/۱۷].

په انتظار کولو باندې ډیر دلائل دی خو دومره انتظار چه خلکو ته نهٔ ګرانیږی۔ برابره خبره ده که مانځه نه مخکښې انتظار وی اوکه مانځه کښې دننه وی۔

او په حدیث کښې دي: (نبی ﷺ به په مانځه کښې ننواتۀ او دا اراده به ئې وه چه اوږد مونځ وکړي خو د ماشوم ژړا به ئې واوریده نو مونځ به ئې لنډ کړو، چه هسې نه مورئې په فتنه کښې پریوزي)۔

[مشکاة: ۱/۱۰۱].

○ دې سره ددې خبرې وضاحت کیږي چه نن صبا چه د مونځونو د وختونو دپاره کومې ګینټې او منټونه مقرر شوي دي چه مونځ هله شروع کوي چه دا پوره شي اګرکه خلك راجمع وي، او کله خلك په تحیة المسجد یا په سنتو کښې مشغول وي خو د هغوئ لږ انتظار هم نۀ کوي اګرکه جومات ډك وي۔ نودا کار باطل دې، ددې داسې ډیر التزام نۀ دي کول پکار۔

ماسپخین وخت مثلِ اول پورې دې

٤٧٦ - **سوال**: د ماسپښین وخت مثلِ اول پورې دې اوکه مثلِ ثاني پورې؟ تفصیلي جواب راکړئ، جزاکم الله خیرًا۔

جواب: په دې کښې د علماؤ دوه قوله دي، مونږ دا، سره د غوره قول نه ذکر کوو۔

اول قول: دادې چه د ماسپښین وخت هغه وخت ختمیږي چه کله د هریو شئ سورې د هغۀ برابر شي۔

ددې دلائل دادي:

اول دلیل: عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: (د ماسپښین وخت هله شروع کیږي چه نمر د نیمائي آسمان نه قبلې طرفته کوږ شي او د سړي سورې د هغۀ د اوږدوالي برابر شي، تر څو پورې چه مازیګر حاضر شوې نۀ وي۔ او د مازیګر وخت هغه وخته پورې دې چه لا نمر زیړ شوې نۀ وي)۔

[مسلم: ۱/۲۲۳].

دویم دلیل: ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: نبی ﷺ وفرمایل: (جبریل علیه السلام ماته دوه ځله امامتي راکړه نو په اولنئ ورځ کښې ئې د ماسپښین مونځ هغه وخت وکړو هرکله چه سورې د تسمې په اندازه شو، بیا ئې د مازیګر مونځ هغه وخت وکړو هر کله چه هریو شې د خپل سوري سره برابر شو۔ بیا ئې د ماښام مونځ هغه وخت وکړو چه نمر پریواتۀ او روژه دار

روژه ماتوله. او په دویمه ورځ ئې د ماسپښین مونځ هغه وخت وکړو چه د هر شئ سورے د هغهٔ برابر شو په کوم وخت کښې ئې چه پرون د مازیگر مونځ کړے وو، بیا ئې د مازیگر مونځ هغه وخت وکړو چه د هر یو شئ سورے دوچنده شو).

[ترمذی : ۱/۵۰، رقم : ۱۴۹، ابوداود : ٤١٦، راجع الإرواء : ۲٤٩، مشكاة : ۵۹/۱].

دریم دلیل : د پورتنی حدیث پشان حدیث ابو مسعود او جابر i هم روایت کړے. دارنگه د عمر بن خطاب ﷺ نه هم روایت شوے چه هغهٔ دغه شان فرمان خپلو عاملانو اوگورنرانو ته صادر کړے وو.

[بیهقی : ۳٦٥/۱، بسند صحیح، طحاوی : ۱۱۱/۱، وروایة عمر أخرجها مالك فی الموطأ : ۵/۱، بسند فیه انقطاع بین نافع وعمر، مشكاة : ۵۹/۱].

نو دا صریح دلائل دی چه په پورتنئ خبره دلالت کوی. او ددے قول په صحت باندے هغه حدیثونه هم دلالت کوی چه هغه د مازیگر د مانځه د وختی کولو په باره کښې راغلی، چه د هغے ځینې برخه په مسئله نمبر (٤٧٤) کښې روسته را روانه ده.

او همدا قول د اعتماد وړ قول دے.

○ **دویم قول** : دادے چه د ماسپښین وخت مثلینو پورے اوږدیږی.

ددے دلائل دادی:

اول دلیل : د ابن عمر ﷺ حدیث دے، چه رسول الله ﷺ وفرمایل : (ستاسو نیته د مخکنو قومونو په نسبت داسے ده لکه د مازیگر مانځه نه واخله تر نمر پریواتهٔ پورے. او ستاسو او د یهودو او نصاراؤ مثال د هغه سړی دے چه هغه مزدوران ونیول، ورته ئې وویل : زما دپاره به څوك په یو یو قیراط (یعنی د روپئ په شپږمه برخه) نیمائی ورځے پورے کار وکړی ؟ نو یهودو نیمائی ورځے پورے په یو یو قیراط باندے کار وکړو، بیا ئې وویل: زما دپاره به د نیمائی ورځے نه مازیگره پورے په یو یو قیراط باندے څوك كار وكړی؟ نو نصاراؤ د نیمائی ورځے نه مازیگره پورے په یو یو قیراط کار وکړو. بیا هغهٔ وویل : زما دپاره به د زمایگر مانځه نه نمر پریواتهٔ پورے څوك په دوه دوه قیراطونو باندے کار وکړی ؟ نبی ﷺ وفرمایل : نو تاسو (اے زما امته) هغه خلك یئ چه تاسو د مازیگر د مانځه نه تر نمر ډوبیدو پورے په دوه دوه قیراطونو باندے کار وکړو، او ستاسو دپاره دوچنده مزدوری

شوه. په دې بانـدې يهـود او نصارىٰ غصه شول، ويلې: مونږ كار ډير وكړو او مزدوری راته كمـه راكـړې شـوه. الله تـعالىٰ وفرمايل : آيا ما تاسو نه ستاسو حق وهلے دے ؟ دوئ وويل : نه. وې فرمايل : دا خو زما فضل دے چاته مې چه خوښه شي وركوم ئې).

[بخاری: ۱/۴۹۳، موطأ محمد].

په دے حديث باندې امام محمدؒ دا استدلال كړې چه د ماسپښين وخت د مازيګر د وخت نه زيات دے، نو ددے نه معلوميږی چه ماسپښين وخت تر مثلينو پورې اوږد دے.

خو دا استدلال په څو وجو سره ضعيف دے :

اوله وجه : دا حديث د اوقاتو د بيان دپاره نۀ دے ذكر شوې، او مخكنی حديثونه د اوقاتو د بيـان دپاره پـه ډاګـه دی. او دا د احـنـافو اصولی قاعده ده چه ظاهر د نص سره په تعارض كښې نشي راتلے، نو بيا مفهوم څنګه د نص په تعارض كښ راتلے شي؟

دويمه وجه : په دې حديث كښې نـه صراحةً دا خبره شته او نۀ اشارةً چه ګنې د مازيګر وخت د مـاسپښيـن نـه فراخه دے. په دے كښې خو صرف دادی چه يهود او نصاراؤ دا خبره وكړه چه مونږ كار ډير كړې او مزدوری مو لږه ده.

[المحلی لابن حزم : ۲/۲۱۰].

دويم دليل : ابو هريره ﷺ ارشاد دے : (زۀ تـاسـو تاته خبر دركوم، د ماسپښين مونځ هله كـوه چه سورې ستا برابر شي، او د مازيګر مونځ هله كوه چه كله ستا سورې ستا دوچنده شـي، او مـاښـام د نـمر ډوبيـدو سره او ماسخوتن تر دريمې برخې شپې پورې كوه. او د سهار مونځ په تيارۀ كښې كوه).

[أخرجه مالك فی الموطأ ص : ۵، وسنده صحيح كما فی آثار السنن].

خو په دے حديث كښې دا نشته چه ګنې د ماسپښين وخت مثلينو پورې اوږديږی. بلكه په دے كښې خودا دی چه د ماسپښين اخيرنے وخت مثلِ اول دے.

بـلـه دا چـه دا خو موقوف حديث دے، صرف د ابو هريره ﷺ ارشاد دے.او ددې په مقابله كښې هغه نور حديثونه مرفوع دی.

دريم دليل : ابوذر ﷺ نـه روايت دے چه رسول الله ﷺ په يو سفر كښې وو او د هغۀ سره بـلال هـم وو، بـلال اراده وكـړه چـه اقـامـت وكـړی. نبـی ﷺ ورتـه وفرمايل: لږ مونځ پـه

یخوالی کښې داخل کړه۔ بیا بلال اراده وکړه چه اقامت وکړي، رسول الله ﷺ وفرمایل: ماسپښین مونځ په یخوالي کښې داخل کړه۔ بلال وائي: تردې چه مونږ د ډیرکو سورې ولیدۀ، بیا بلال اقامت وکړو، او رسول الله ﷺ مونځ وکړو۔ بیا ئې وفرمایل: (بیشکه سخته ګرمي د جهنم د بړاس د وجې نه ده نو تاسو د ماسپښین مونځ په یخوالي کښې کوئ)۔ [بخاری: ۱/۸۷].

ددې حدیث نه داسې استدلال کوي چه د ډیرکو سورې هغه وخت راځي چه د هر یو شئ سورې دوچنده شي۔

خو دا استدلال ډیر زیات بعید او لرې دې۔ وجه داده چه ددې ضبط کول ګران دي۔ او ډیرکۍ مختلفې وي ځینې اوچتې وي او ځینې ښکته۔ نو ددې نه مثلین کله معلومیږي؟ دا وجه ده، خپله بعضِ احنافو دا استدلال رد کړې۔

نیموي حنفي صاحب وائي: احنافو په دې حدیثونو باندې دلیل نیولې چه د ماسپښین وخت د مثل اول نه پس نۀ ختمیږي، بلکه ددې نه پس هم پاتې وي او د ماسپښین وخت د مازیګر نه زیات وي۔ خو په دې دلیل نیولو کښې خبرې اترې شته دې!

او ما په خپل ځانی هیڅ داسې صریح، صحیح یا ضعیف حدیث نۀ دې موندلې چه د هغې نه دا معلومه شي چه د ماسپښین وخت تر مثلینو پورې اوږدیږي۔ او د امام ابوحنیفهؒ نه په دې باره کښې دوه قوله نقل دي۔

[آثار السنن ص: ۵۳].

وګورئ نیموي صاحب ته چه څنګه اقرار کوي! سره ددې چه دا په خپله د احنافو دپاره سخت تعصب کوي۔

نو په هغه چا باندې څومره تعجب دې؟ چه هغه د امام ابوحنیفهؒ نه په نقل شوی یو روایت باندې اعتماد کوي او دا متواتر حدیثونه پریدي۔ سره ددې چه د امام ابوحنیفهؒ نه درې روایتونه نقل دي۔ [کما فی درس ترمذی: ۱/۳۹۵].

تردې چه د امام ابوحنیفهؒ نه په دې مسئله کښې د هغه دواړو شاګردانو هم خلاف کړې۔ نو اوس په احنافو باندې څۀ سنړا خپه ایښې ده چه د امام ابوحنیفهؒ د یو ضعیف او شاذ قول د تابعدارئ دپاره متواتر حدیثونه پریدي کوم چه د نبی اکرم ﷺ نه ثابت دي!! حق

ته رجوع کول ډیر غوره دی !!

ځینې وائی : د امام ابوحنیفهؒ په قول کښې احتیاط دے۔ زهٔ وایم : احتیاط په دے کښې دے چه په صحیح سنت طریقه عمل وکړے شی۔ د نبی کریم ﷺ دا عادت مبارك وو چه د مازیګر مونځ به ئے وختی کولو، لکه چه دا خبره په صحیح او صریح حدیثونو کښې راغلے ده۔

او په هغه قول باندے په عمل کولو کښې هیڅ احتیاط نشته چه هغه شاذ وی او هیڅ صریح دلیل نهٔ لری۔

بعضِ احنافو لکه صاحب د (احسن الفتاویٰ) دیته ترجیح ورکړے چه اولنے قول غوره دے چه هغه د مثل اول قول دے۔

[أحسن الفتاویٰ : ۲/ ۱۲۲]. والله الموفق.

په هغه ملکونو کښې د مانځه حکم چه په هغے کښې ورځ ډیره زیاته اوږده وی

۴۷۷ – **سوال** : په کومو ملکونو کښې چه ورځ ډیره زیاته اوږده وی، یا هلته د ماسخوتن وخت نهٔ راځی، نو آیا ماسخوتن مونځ به دغه ملك والا نهٔ کوی ؟ لکه په دے باره کښې بعضے اصولیانو دا قاعده ایښے چه وخت سبب دے، نو کله چه سبب ختم شو، مسبب به هم ختمیږی۔ دا خبره څهٔ حیثیت لری ؟

جواب : الله رب العزت په تمام امت باندے پنځه مونځونه فرض کړی دی، چه ددے نه ئے د هیڅ یو ملك یا علاقے تخصیص نهٔ دے کړے۔

او هرچه د بعضے اصولیانو خبره ده نو دا غلطه ده او د هغه احکامو مقابله نشی کولے کوم چه په شریعتِ مطهره کښې ثابت دی۔ او دا خبره چه چا کړے ده نو د هغهٔ [فقه فی الدین] کمزورے ده۔ په دے باره کښې دلائل وګوره :

اول دلیل : د انس رضی الله عنه روایت کړے د معراج اوږد حدیث دے، په هغے کښې دا الفاظ دی : (نو ماته په هره ورځ کښې د پنځو مونځونو حکم وکړے شو، نو زهٔ موسیٰ ته واپس شوم، هغهٔ ویل : تاته د څهٔ خبرے حکم وشو ؟ ما ویل : هره ورځ د پنځو مونځونو حکم۔ وے فرمایل : ستا امت هره ورځ د پنځو مونځونو کولو طاقت نهٔ لری، او ما تانه مخکښې په

خلکو آزميښت کړے او بني اسرائيلو سره مے ډيره سخته ويستلے ده، ته داسے وکه چه خپل رب ته واپس شه او د هغهٔ نه د خپل امت دپاره آسانتيا وغواړه۔ نبي ﷺ وفرمايل : ما د خپل رب نه ډيره غوښتنه وکړه تردے چه نوره حيا راځي۔اوس زهٔ راضي يم او غاړه ږدم۔نبي ﷺ فرمائي : کله چه زهٔ وړاندے تير شوم نو يو آواز کونکي آواز وکړو چه ما خپله فريضه نافذه کړه او په خپلو بندګانو مے آساني راوسته)۔

[بخاري : ۱/ ۵۰، مسلم : ۱/ ۹۱، مشكاة : ۲/ ۵۲۸].

د معراج په ټولو حديثونو کښے ذکر شوي دي چه په ټول امت باندے پنځه مونځونه فرض دي، په دے کښے د بعضے ښارونو هيڅ تخصيص نشته۔

دويم دليل : نواس بن سمعان رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ دجال راياد کړو او، وے فرمايل : که چرے هغه راوځي اوزهٔ په تاسو کښے يم (نو زهٔ به ورسره جګړه کوم) په دے حديث کښے دي چا عرض وکړو : (دجال به په زمکه څومره مودے پورے ايسار وي؟ نبي ﷺ وفرمايل : څلويښتو ورځو پورے۔ يوه ورځ به د کال هومره اوږده وي، بله ورځ به د مياشتے هومره وي او بله به د جُمعے هومره او بله به ستاسو د عامو ورځو هومره وي۔ مونږ عرض وکړو : اے د الله رسوله ! دا کومه ورځ چه د کال هومره وي آيا په دے کښے به زمونږ دپاره د يوے ورځے مونځونه کافي وي ؟ نبي ﷺ فرمايل : نه ! د هغے ورځے اندازه به لږوئ)۔

[مسلم : ۲/ ۳۹۹، ترمذي : ۲/ ٤٨، مشكاة : ۲/ ٤٧٣].

نو دا حديث صريح نص دے په دے مسئله کښے چه کله ورځ د خپل عادي مقدار نه اوږده شي يا کمه شي نو د پنځو واړو مونځونو دپاره به د وختونو اندازه لږول کيږي۔

په دے باره کښے نور دلائل په فتاوىٰ هيئة كبار العلماء (۱/ ۲۱۳) کښے ذکر دي۔

په هغے کښے راغلي دي :

د علماؤ کميټئ ته دا اطلاع ملاؤ شوه چه په هغه ملکونو کښے د مونځ روژے څهٔ حکم دے ؟ چه په هغے کښے د کال په ځينے برخه کښے شپه ډيره زياته لنډه وي، او په ځينے برخه کښے ورځ ډيره زياته لنډه وي۔ يا هغه ملکونه چه په هغے کښے شپږ مياشتے نمر راختلے وي او شپږ مياشتے غيب وي۔

د پخوانيو او اوسنيو فقهاؤ د ليکنو کتلو نه پس په دے موضوع باندے دا فيصله وشوه:

هغه اطراف چه هغه په پلنو خطوطو باندے واقع وی او اوچت درجات لری، هغه په درے قِسمه دی :

اول : هغه دی چه په هغے کښے په مختلفو موسمونو کښے شپه او ورځ ځلیرشت ګینټے یا ددے نه زیاته وی۔ نو په دے حالت کښے به د مونځ او روژے وغیره وختونه په دغه اطرافو کښے د هغه علاقو په نسبت باندے اندازه کولے شی چه هغه دغه علاقو ته د ټولو نه زیات نزدے وی چه په هغے کښے شپه او ورځ په ځلیرشتو ګینټو کښے د یو بل نه جدا وی۔

دویم : هغه ملکونه چه په هغے کښے د غروب شفق نۀ غائبیږی تردے چه صبا را وخیژی، چه په هغے کښے د شروق شفق د غروب د شفق نه نۀ جدا کیږی۔

نو په دے اطرافو کښے به د ماسخوتن د مانځه وخت دارنګه روژه نیول او د سهار د مانځه وخت د هغه آخیرنی وخت په اعتبار سره اندازه کولے شی چه په هغے کښے دغه دواړه شفقه د یو بل نه جدا کیږی۔

دریم : هغه ملکونه دی چه په هغے کښے شپه او ورځ په ځلیرشتو ګینټو کښے راښکاره کیږی، او په هغے کښے اوقات د یو بل نه جدا کیږی۔ البته شپه د کال په یوه برخه کښے په هغے کښے شپه ډیره زیاته اوږده وی، دارنګه په بله برخه کښے ورځ د حد نه زیاته اوږده وی۔

او څوك چه په داسے ملکونو کښے وسیږی چه په هغے کښے په صبا راختو او نمر پریوتو سره شپه د ورځے نه جدا کیږی، مګر ورځ ئے په اوړی کښے ډیره زیاته اوږده وی او په ژمی کښے لنډه وی، نو په هغۀ باندے واجب دی چه پنځه واړه مونځونه په خپلو هغه اوقاتو کښے کوی چه د هغے دپاره شرعًا معلوم شوی دی۔ ځکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا﴾ (پابندی د مانځه کوه د نمر د زوال نه تر تیارے د شپے پورے، او د سهار په مانځه کښے قرآن لوله بیشکه د سهار په مانځه کښے قرآن لوستلو ته ملائك حاضریږی)۔

او بریده رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړی د نبی صلی الله علیه وسلم نه د مانځه د وخت په باره کښے پوښتنه وکړه، نو هغۀ ته ئے وفرمایل : (مونږ سره دا دوه ورځے مونځ وکړه، نو کله چه زوال وشو نو بلال ته ئے حکم وکړو، هغۀ اذان وکړو بیا ئے ورته حکم وکړو نو هغۀ د ماسپښین مانځه دپاره اقامت وکړو، بیائے ورته حکم وکړو نو هغۀ د مازیګر دپاره اقامت وکړو په داسے حال

کښې چه نمر جګ ولاړ وو او صفا سپین وو۔ بیا ئے ورته حکم وکړو نو هغهٔ د ماښام مانځه دپاره د نمر ډوبیدو نه پس اقامت وکړو، بیا ئے ورته حکم وکړو نو هغهٔ د ماسخوتن مانځه دپاره په داسے وخت کښې اقامت وکړو چه شفق غائب شو، بیا ئے ورته حکم وکړو نو هغهٔ د سهار مانځه دپاره هغه وخت اقامت وکړو چه صبا را وخاتهٔ۔ نو هر کله چه دویمه ورځ شوه نو حکم ئے ورته وکړو نو هغهٔ د ماسپښین مونځ یخ کړو او ښهٔ ئے یخ کړو (یعنی تاخیر سره ئے وکړو) او د مازیګر مونځ ئے په داسے حال کښې وکړو چه نمر لا جګ ولاړ وو خو د پرونۍ ورځے نه ئے روستو وکړو۔ او ماښام ئے د شفق پریوتو نه مخکښې وکړو، او د ماسخوتن مونځ ئے د شپے د دریمے برخے تیریدو نه پس وکړو، او د سهار مونځ ئے په رڼړا کښې وکړو، بیائے وفرمایل: د مانځه د وختونو په باره کښې پوښتنه کونکے څه شو؟ هغه سړی وویل : زهٔ یم یا رسول الله ! وے فرمایل: ستاسو د مونځونو وختونه ددے دواړو ورځو ترمینځه دی کوم چه تاسو ولیدل)۔ [بخاری، مسلم].

عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه نه روایت دے، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

[وَقْتُ الظُّهْرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُوْلِهِ مَالَمْ يَحْضُرِالْعَصْرِ، وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَالَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ، وَوَقْتُ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ مَالَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ، وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ الْاَوْسَطِ، وَوَقْتُ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ مَالَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ].

(د ماسپخین وخت هله شروع کیږی کله چه نمر (د آسمان د مینځ نه مغرب طرفته) واوړی او د سړی سورے ددهٔ د اوږدوالی (یعنی قد) برابر شی تر څو پورے چه د مازیګر وخت نهٔ وی حاضر شوے۔ او د مازیګر وخت تر هغے پورے دے چه لا نمر زیړ شوے نهٔ وی۔ او د ماښام وخت تر هغے پورے دے چه لا شفق (سُرخی) پریوتی نهٔ وی۔ او د ماسخوتن وخت د شپے درمیانی نصف پورے دے۔ او د سهار مانځه وخت د صبا راختو نه تر هغه وخته پورے دے چه لا نمر نهٔ وی راختلے)۔ [صحیح مسلم : ٦١٢].

او نور داسے حدیثونه شو چه هغه د پنځو واړو مونځونو د تحدید په باره کښې قولًا او عملًا راغلی دی۔ او په هغے کښې د ورځے د اوږد والی او لنډ والی فرق نهٔ دے شوے اونهٔ په کښې د شپے د اوږد والی او لنډ والی فرق شوے۔ تر څو پورے چه د مونځونو اوقات په هغه علاماتو سره د یو بل نه جدا وی کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کړی دی۔

دا خو د مونځونو د اوقاتو د تحدید په باره کښې خبره ده۔

○ او هر چه د دوئ د روژو د تحدید په باره کښې خبره ده، نو هغه دا ده چه په مکلفینو باندے دا واجب دی چه هره ورځ د خوراك، څکاك او باقی روژه ماتوونکو څیزونو نه د صبا راختو نه تر نمر ډوبیدو پورے په خپلو ملکونو کښې ځانونه وساتی تر څو پورے چه د دوئ په ملکونو کښې ورځ د شپے نه جدا کیږی، او ددے دواړو زمانه ځلیرشت ګینټے وی۔ او د دوئ دپاره د شپے خوراك، څکاك او جماع وغیره حلاله ده اګرکه شپه لنډه هم وی۔ ځکه اسلامی شریعت د ټولو خلکو دپاره او د ټولو ملکونو دپاره عام دے۔ او الله تعالیٰ فرمایلی دی: ﴿ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ﴾.

(او خوراك څكاك كوئ تردے چه تاسو ته سپین تار د صبا د تور تار نه ښهٔ ښکاره شی بیا تاسو تر شپے پورے روژے پوره کړئ)۔

او څوك چه د خپلے ورځے د روژے پوره کولو نه په دے وجه عاجزه شو چه هغه اوږده وه، او یا تجربے یا په ښښو نښانو سره او یا د یو هوښیار مسلمان طبیب په خبر ورکولو سره ورته معلومه شوه او یا ئے غالب ګمان راغے چه روژه به دهٔ لره هلاك کړی او یا به ئے په سخت مرض باندے پریباسی او یا به ئے مرض زیات کړی او یا به ئے رغون روستو شی، نو دا کس به روژه ماته کړی او څومره ورځے ئے چه روژے خوړلی وی د هغے قضائی به، په کومه میاشت کښې چه پرے قادر شو، راوړی۔ الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ﴾.

(نو څوك چه په تاسو کښې د رمضان په میاشت کښې حاضر وی نو هغه دے ددے روژے ونیسی او څوك چه بیمار یا مسافر وی نو په هغهٔ لازم دی چه د نورو ورځو نه دا شماره پوره کړی)۔

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ﴾ (او په تاسو باندے ئے ستاسو په دین کښې هیڅ تنګسیا نهٔ ده ایښے)۔

[فتاوى هيئة كبار العلماء: ۱/۲۱۳].

○○○○○○○○

سماحة الاسلام فی جواز الجمع بین الصلاتین للانام

د جمع بین الصلاتین احکام او مسائل

٤٧٨ - **سوال** : په دوه مونځونو جمع کولو باندې دلیل شته دې اوکه نه ؟ او دوه مونځونه په یو وخت کښې کول کله جائز دی ؟

جواب : د سهولت او آسانئ د وجې شریعتِ مطهره د اسلامی امت دپاره دا سهولت ورکړې چه په سفر، باران، مرض او (کله نا کله) په حضر کښې ئې دوه مونځونه په یو وخت کښې کول روا کړی دی۔ دې دپاره چه خلکو ته په دین باندې عمل کول آسان شی۔ او دا جمع بین الصلاتین په دوه قِسمه ده۔ (١) جمع تقدیم : چه دوه مونځونه د اولنی مونځ په وخت کښې وکړې شی، لکه ماسپښین او مازیګر مونځونه د ماسپښین په وخت کښې وکړې شی۔ (٢) جمع تاخیر : چه دوه مونځونه د روستنی مونځ په وخت کښې وکړې شی، مثلًا ماسپښین او مازیګر مونځونه د مازیګر په وخت کښې وکړې شی۔او دغه شان د ماښام او ماسخوتن مونځونه هم دی۔

اوس مونږ د احادیثو نه ددې دلائل ذکر کوو۔او بیا د هغې نه مسائل راوباسو :

اول حدیث : ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : (ما نبی صلی الله علیه وسلم ولیدلو چه کله به ئې په سفر کښې تادی وه نو د ماښام مونځ به ئې روستو کړو تردې چه د ماسخوتن سره به ئې یو ځائې وکړو)۔ سالمؒ وائی : ابن عمرؓ به چه کله په سفر کښې تادی کوله نو د ماښام دپاره به ئې اقامت وکړو او درې رکعته به ئې وکړل، بیابه ئې سلام واړولو بیا به ئې لږ شان وخت پس د ماسخوتن مانځه دپاره اقامت وکړو او دوه رکعته به ئې وکړل، بیا به ئې سلام واړولو او ددې دواړو مونځونو ترمینځه به ئې یو رکعت سنت هم نهٔ کولو اونهٔ به ئې د ماسخوتن نه پس یو رکعت کولو تردې چه د شپې په آخر کښې به پاسیدلو)۔

[بخاری : ١٤٩/١، مسلم : ٢٤٥/١، عبد الرزاق : ٥٤٤/٢].

دویم حدیث : انس رضي الله عنه فرمائی : (رسول الله صلی الله علیه وسلم به چه کله د زوال نه مخکښې کوچ وکړو نو ماسپښین مونځ به ئې د مازیګر وخت ته روستو کړو، بیا به کوز شو او دواړه مونځونه به ئې په یو ځائې وکړل۔ اوکه د کوچ کولو نه به مخکښې زوال شوې وو، نو د ماسپښین مونځ به ئې وکړو، بیا به سور شو)۔

د مسلم په روایت کښې دی : (ماسپښین به ئې د مازیګر اولنی وخت ته روستو کړو او دواړه به ئې یوځائې وکړل۔ او ماښام به ئې روستو کړو تردې چه دا به ئې د ماسخوتن مانځه سره هغه وخت وکړو چه شفق به غائب شو)۔

[بخاری : ۱/۱٤۹، مسلم : ۱/۲٤٥].

دې حدیث نه په ډاګه جمع حقیقی معلومیږی۔

دریم حدیث : ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې (رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به چه کله مزل پروت وو نو ماسپښین او مازیګر مونځونه به ئې دواړه په یو ځائې کول، او دغه شان ماښام او ماسخوتن مونځونه به ئې جمع کول)۔

[بخاری : ۱/۱٤۹].

څلورم حدیث : معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمائی : (رسول الله صلی الله علیه وسلم د تبوك دغزا په موقعه ماسپښین او مازیګر مونځونه، دارنګ ماښام او ماسخوتن مونځونه په یو ځائې وکړل۔ راوی وائی : ما عرض وکړو، دا کارئې ولې کولو ؟ معاذ وفرمایل : دائې غوښتل چه امت ئې په تنګسیا کښې پرې نۀ وځی)۔

[صحیح مسلم : ۱/۲٤٦].

پنځم حدیث : معاذ بن جبل رضي الله عنه نه روایت دې : (نبی صلی الله علیه وسلم به د تبوك د غزا په موقعه کله چه د نمر د زوال نه مخکښې روان شو نو ماسپښین مونځ به ئې روستو کړو تردې چه مازیګر سره به ئې یوځائې وکړو۔ بیا به لاړو۔ او کله به ئې چه د ماښام نه مخکښې سفر شروع کړو نو ماښام مونځ به ئې روستو کړو تردې چه د ماسخوتن سره به ئې یو ځائې اداء کړو۔ اوکله به ئې چه د ماښام نه پس سفر شروع کولو، نو ماسخوتن مونځ به ئې ماښام ته را مخکښې کړو او د ماښام سره به ئې وکړو)۔

[سنن ترمذی : ۱/۱۲٤، رقم : ٥٥۹، بإسناد صحیح، ورواه الدارقطنی : ۱/۳۹۲].

دا صحیح حدیث دے، ددے نه جمع تقدیم معلومه شوه۔او په دے حدیث کښې د قتیبهؒ تفرد هیڅ ضرر نهٔ کوی، ځکه چه دا ثقه امام دے، او زیادت د ثقه مقبول وی۔

شپږم حدیث : ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه (دهٔ ته ددهٔ د کور والو د بیمارئ په باره کښې خبر ورکړے شو، نو هغه په تادئ سره روان شو او ماښام ئے روستو کړو تردے چه شفق غائب شو، بیا کوز شو او دواړه مونځونه ئے په یو ځائے وکړل، بیا ئے دوئ ته خبر ورکړو چه کله به د رسول الله صلی الله علیه وسلم تادی وه نو داسے کار به ئے کولو)۔

[ترمذی : ۱/۱۲٤، احمد : ۲/٤، ۲/٥۱، ٥٤، ۸۰، ۱۰٦، ۱٤۸، ۱٥۰، بإسناد صحیح].

د مسند احمد په زیاتره ځایونو کښې [حِيۡنَ غَابَ الشَّفَقُ] الفاظ دی، دا صریح دلیل دے په دے چه دا جمع حقیقی وه، نهٔ صوری۔

اووم حدیث : علی بن ابی طالب رضی الله عنه فرمائی : (نبی صلی الله علیه وسلم به چه کله د نمر د زوال په وخت سفر کولو نو ماسپښین اومازیګر مونځونه به ئے یوځائے کول، اوکله به چه ورته اوږد مزل پروت وو، نو ماسپښین به ئے روستو کړو او مازیګر مونځ به ئے رامخکښې کړو او دواړه به ئے په یو ځل وکړل)۔

[دارقطنی : ۱/۳۹۱].

ددے حدیث سند د تابوسی د مجهولتیا په وجه ضعیف دے۔ لیکن د امام احمدؒ ځوئے عبد الله په (زیادات المسند) کښې په بل سند سره روایت کړے۔نو ددے سند حسن دے۔

[کما فی التعلیق المغنی علی سنن الدارقطنی : ۱/۳۹۱، تحفة الاحوذی : ۱/۳۸۷].

او دا حدیث د (جمع تقدیم او تاخیر) دواړو دپاره دلیل دے۔نو دادے ثوك نهٔ وائی چه په (جمع تقدیم) کښې صرف د معاذ رضی الله عنه حدیث راغلے۔

اتم حدیث : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : (نبی صلی الله علیه وسلم به چه کله د سفر اراده وکړه او په کور کښې به د نمر زوال وشو نو په سورلئ باندے د سوریدو نه مخکښې به ئے د ماسپښین او مازیګر دواړه مونځونه په یوځل وکړل۔ اوکله به ئے چه په کور کښې زوال نهٔ وو شوے، نو روان به شو او کله به چه د مازیګر مانځه وخت شو نو ماسپښین او مازیګر دواړه مونځونه به ئے جمع کړل۔ اوکله به ئے چه په کور کښې د ماښام د مانځه وخت وشو نو ماښام او ماسخوتن دواړه مونځونه به ئے جمع کړل۔اوکه په کور کښې به ئے د ماښام وخت

نـهٔ وو داخل شوے نو سور به شو تردے چه د ماسخوتن د مانځه وخت به شو نو کوز به شو او دواړه مونځونه به ئے جمع کړل۔

او د امام شافعیؒ پـه روایت کښے دی : (اوکلـه بـه چـه د زوال نـه مخکښے روان شو نو ماسپښین به ئے روستو کړو تردے چه د مازیګر د مانځه په وخت کښے به ئے د ماسپښین او مازیګر مونځونه وکړل)۔

[احمد : ۳٦٧/١، الشافعی : ١٨٦/١، وذكره فی المنتقی بشرح النيل : ۲٦١/۳، وإسناده صحيح].

دا حدیث هم پـه (جمع تقدیم) باندے دلالت کوی۔ او ددے نه دا هم معلومه شوه چه جمع بین الصلاتین یواځے د هغه سفر پورے خاص نهٔ ده چه په هغے کښے د انسان تادی او جلتی وی۔ لکه چه دا قید په مخکښو روایتونو کښے راغلے وو۔ دارنګه دا حدیث د امام ابوداودؒ په قول باندے رد دے چه هغهٔ وائی : د جمع تقدیم په باره کښے داسے حدیث نشته چه ثابت وی۔

[كما ذكر الشوكانی فی نيل الاوطار :٣٦٣/٣، عبد الرزاق : ٥٤٨/٢].

نهم حدیث : [كَانَ إِذَا كَانَ فِيْ سَفَرٍ فَزَالَتِ الشَّمْسُ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيْعًا ثُمَّ ارْتَحَلَ].

(انس رضی الله عنه فرمائی : نبی صلی الله علیه وسلم بـه چـه کلـه پـه سفر کښے وو او د نمر زوال بـه وشو نو ماسپښین او مازیګر دواړه مونځونه به ئے په یو ځائے وکړل او بیا به په سفر روان شو)۔

[أخرجه الإسماعيلی].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی: دا حدیث د شبابه نه یواځے اسحاق نقل کړے او بیا د اسحاق نه یواځے جعفر الفریابی نقل کړے، نو په دے وجه په دے کښے تفرد شوے۔ لیکن دا تفرد څه د عیب خبره نهٔ ده، ځکه دا دواړه امامان او حافظان دی۔

[فتح الباری : ٤٦٥/٢].

دارنګ فرمائی : دا الفاظ چه : [صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ ثُمَّ رَكِبَ] دا پـه بخاری او مسلم کښے پـه همدے سند سره راغلی خو په هغے کښے د (والعصر) لفظ نشته۔ او دا یو ناشنا زیادت دے چه ددے سند صحیح دے۔ امام منذریؒ او علائیؒ دواړو ورته صحیح ویلی او د حاکم نه ئے تعجب کړے چه په مستدرك کښے ئے دا ولے نهٔ دے ذکر کړے۔ او بیا ئے ددے دپاره بل سند هم ذکر کړے۔ چه د هغے الفاظ دادی :

[عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم كَانَ إِذَا كَانَ فِيْ سَفَرٍ فَزَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَحِلَ صَلَّى الظُّهْرَ

وَالْعَصْرَ جَمِيْعًا، وَإِنِ ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَزِيْغَ الشَّمْسُ، جَمَعَ بَيْنَهُمَا فِي أَوَّلِ الْعَصْرِ، وَكَانَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ]. وقال تفرد به يعقوب بن محمد.

[التلخيص الحبير : ۲/۴۹].

لسم حديث : ابن شهابؒ نه نقل دی چه دۀ د ابن عمرؓ د ځوئے سالمؒ نه پوښتنه وکړه چه : په سفر کښې د ماسپښين او مازيګر مونځونه يوځائے کولے شی ؟ وے فرمايل : هو ! هيڅ باك نۀ لری. آيا تۀ نه ګورے چه خلك په عرفات کښې دا دواړه مونځونه جمع کوی؟

[عبد الرزاق : ۲/۵۵۰].

دے نه معلومه شوه چه په عرفات کښې جمع بين الصلاتين کول د سفر د وجے دی، نۀ د حج د نسك او عبادت د وجے.

يولسم حديث : د حديثو ټولو امامانوؒ په خپلو کتابونو کښې دا حديث ذکرکړے چه : نبی ﷺ په عرفات کښې د ماسپښين او مازيګر مونځونو کښې جمع تقديم وکړه. او د ماښام او ماسخوتن مونځونو ترمينځه ئے په مزدلفه کښې جمع تاخير وکړه.

او دا ښۀ ښکاره دليل دے چه دا دواړه قِسمه جمع جائز دی. او دا اتفاقی مسئله ده، اګرکه بعضے خلکو دا د حج د افعالو نه ګرځولے. ليکن دا مضمون ترے بيخی واضح دے.

نو دا ټول حديثونه ښکاره دليل دے په دے خبره چه په ((سفر)) کښې جمع تقديم او جمع تاخير دواړه جائز دی. برابره خبره ده که مسافر په خپل سفر کښې جلتی کوی، اوکه ديره ئے اچولے وی. دارنګه که د مسافر څۀ عذر وی اوکه نۀ وی نودا دواړه جمعے جائز دی. ځکه سفر په خپله عذر دے.

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دا د ډيرو صحابو او تابعينو او د فقهاؤ نه د ثوریؒ، شافعیؒ، احمدؒ اسحاقؒ او اشهبؒ مذهب دے.

[فتح الباری : ۲/۴۶۳، ۲/۴۶۶، تحفة الاحوذی : ۱/۳۸۷، نيل الاوطار : ۲/۲۶۱].

دولسم حديث : ابو عثمانؒ فرمائی : سعيد بن زيدؓ او اسامهؓ دواړه په سفر ووتل نو دے دواړو به د ماسپښين او مازيګر دارنګه د ماښام او ماسخوتن مونځونه يو ځائے کول.

[عبد الرزاق : ۲/۵۴۹، ابن ابی شيبه : ۲/۴۵۷].

ديارلسم حديث : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : مونږ به په سفر کښې ماسپښين اومازيګر

مونځونه یو ځائے کول۔

[عبد الرزاق : ۲/۵٤۹].

څوارلسم حدیث : ابن عمر رضی اللہ عنہ فرمائی : (رسول الله ﷺ مونږ ته دوه مونځونه په داسے حال کښے یوځائے وکړل چه مقیم وو، مسافر نۀ وو، یعنی ماسپښین او مازیګر او ماښام۔ یو سړی ابن عمرؓ ته عرض وکړو، نبی ﷺ باندے څۀ ګمان کوے چه دا کارئے ولے وکړو ؟ هغۀ وفرمایل: چه امت ئے په تنګسیا کښے پرے نۀ وځی)۔

[عبد الرزاق : ۲/۵۵٦].

پنځلسم حدیث : سالمؒ بن عبد الله بن عمرؓ به خپلو ښځو ته حکم کولو چه په سفر کښے دوه مونځونه یوځائے کوی۔

[مصنف عبد الرزاق : ۲/۵۵۰].

شپارسم حدیث : هذیل بن شرحبیل اودیؒ وائی : (رسول الله ﷺ ماسپښین اومازیګر اوماښام او ماسخوتن مونځونه په سفر کښے جمع کړل)۔

[ابن ابی شیبه : ۲/٤۵٦].

ولسم حدیث : ابن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائی : (نبی ﷺ په سفر کښے دوه مونځونه جمع کړل)۔ [ابن ابی شیبه : ۲/٤۵۸].

اتلسم : یوسړے سعید بن مسیبؒ ته راغے اوعرض ئے وکړو، زۀ اوښان څرونکے یم او رالشـم ئے تردے چه زۀ بیګام کړم نو د ماښام مونځ وکړم بیا وغورزیږم او د ماسخوتن مونځ نـه اودۀ پاتے کیږم۔ ورته ئے وفرمایل : (د ماسخوتن مونځ کولو نه مخکښے مۀ اودۀ کیږه، اوکه دا ویره درسره وی چه تۀ به ترے اودۀ پاتے شے نو بیا ماښام او ماسخوتن دواړه مونځونه په یو ځائے کوه)۔ [ابن ابی شیبه : ۲/٤۵۹].

نولسم حدیث : ابن عمر رضی اللہ عنہ فرمائی : (رسول الله ﷺ به د بنو المصطلق په غزا کښے جمع بین الصلاتین کوله)۔ [پورتنئ حواله].

شلم حدیث : ابن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائی :(رسول الله ﷺ ماسپښین او مازیګر مونځونه او ماښام او ماسخوتن مونځونه سره جمع کړل، نو بعضے خلکو ورته عرض وکړو۔ نو هغۀ وفرمایل : دے دپاره چه زما امت ته تکلیف نۀ وی)۔

[الطبراني في الكبير : ٣٦٩/١٠، مجمع الزوائد : ١٦١/٢].

ددې حدیث په سند کښې عبد القدوس دې، دا رشتینې دې مګر د ضعیف راویانو نه روایت کوی. او دلته ئې د اعمش نه روایت کړې او دا ثقه امام دې.

یویشتم حدیث : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه دۀ په بصره کښې ماسپښین اومازیګر مونځ وکړو او ددې دواړو ترمینځه ئې هیڅ مونځ ونه کړو. دارنګه د ماښام او ماسخوتن مونځ ئې وکړو او ددې دواړو ترمینځه ئې هیڅ مونځ ونه کړو. او دا کارئې د مشغولتیا په وجه کړې وو. او د ابن عباسؓ وینا ده چه دۀ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مدینه کښې ماسپښین اومازیګر اته رکعته مونځ کړې وو، چه ددې دواړو ترمینځه ئې هیڅ مونځ نۀ وو کړې.

سعید بن جبیرؒ هم د ابن عباسؓ نه داسې نقل کړی.

[رواه الطيالسي رقم : ٢٦١٤، كما في الإرواء : ٣٥/٣].

دوه ویشتم حدیث : ابو علقمة الثقفیؒ نه روایت دې چه د ثقیفو وفد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغې او هغوئ نبی صلی الله علیه وسلم ته یوه هدیه ورکړه. (په دې حدیث کښې دی چه) هغوئ ترې پوښتنې کولې کولې تردې چه هغوئ د ماسپښین مونځ د مازیګر سره وکړو.

[ابوداود الطيالسي : ١٩٠، رقم : ١٣٣٦، وسنده حسن، كما في تحفة الاشراف : ٢٠٤/٧].

درویشتم حدیث : کثیر بن قاروند بن قنبرؒ وائی : مونږ د سالمؒ نه پوښتنه وکړه چه د هغۀ پلار (ابن عمرؓ) به په سفر کښې څنګه مونځ کولو. نو هغۀ د پلار نه خبر وکړو چه هغه به لاړ تردې چه ستوری ډیر زیات راوختل نو بیابه کوز شو او مؤذن ته به ئې وویل : اقامت کوه اوکله چه ما سلام واړولو نو بیا اقامت وکړه. نو مونځ ئې وکړو اوبیا را واپس شو او مونږ ته ئې مخ راواړولو او وې فرمایل : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : (کله چه په تاسو کښې چاته هغه کار راپیښ شی چه د هغې د فوت کیدو نه یریږی، نو هغه دې په دې وخت کښې مونځ وکړی).

[نسائی : ٦٨/١، طبرانی : ٣١٩/١٢، وحسنه الألباني].

○ او کوم حدیث کښې چه دا راغلی چه [مَنْ جَمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَقَدْ أَتَى بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْكَبَائِرِ] (څوك چه په غیر د عذر نه جمع بین الصلاتین وکړی نو دۀ د لویو ګناهونو نه یوې ګناه ته راتګ وکړو).

نو دا حدیث سخت ضعیف دے، په دے کښے حنش راوی دے، او دا متروك (پریښودلے شوے) دے. [نصب الراية : ۱/۱۹۳، وانظر التحقيق فى الصحيحة : ۱/۲٦۲].

علامه مشهور حسنؒ ذکر کړی دی چه همیشه دپاره په حضر کښے جمع بین الصلاتین کول د شیعه گانو مذهب دے. البته د حرج او مشقت د وجے نه جمع بین الصلاتین کول جائز دی، تر څو چه ددے نه عادت جوړ نۀ کړی، او همدا د محققینو علماؤ په نیز راجح دی. او جمع بین الصلاتین د راجح قول مطابق سنت ده.

[القول المبين ص : ٤١٠، وقد رد الشوكانى ذلك أيضًا فى السيل الجرار : ۱/۱۸۵].

○○○○○○○

احادیث فی الجمع فی المطر والمرض

۴۷۹ – باران او بیمارئ کښې د جمع بین الصلاتین د احادیثو بیان

۱– **حدیث** : نافعؒ فرمائی : (کله به چه امیرانو په باران کښې د ماښام او ماسخوتن مونځونه په یو وخت کښې کول نو ابن عمر رضی الله عنه به هم ورسره جمع کوله)۔

[موطأ مالك : ۱/۱۲۵، عبد الرزاق : ۲/۵۵۶].

۲ – **حدیث** : ابو سلمهؒ بن عبد الرحمنؓ فرمائی : (کله چه بارانی ورځ وی، نو سنت طریقه داده چه د ماښام او ماسخوتن مونځونه جمع کړې شی)۔

[رواه الأثرم فی سننه کما فی النیل : ۲/۲۶۸].

۳– **حدیث** : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: (رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه کښې په غیر د څۀ ویرې او باران نه د ماسپښین او مازیګر مونځونه او د ماښام او ماسخوتن مونځونه جمع کړل)۔

د وکیعؒ په روایت کښې دی، سعید بن جبیرؒ وائی : ما ابن عباسؓ ته وویل : دا کارئې ولې وکړو؟ وې فرمایل : دې دپاره چه خپل امت په مشقت کښې وانۀ چوی۔

[صحیح مسلم : ۱/۲۴۵].

ابو البرکاتؒ وائی : ددې حدیث نه د باران، ویرې او مرض په وخت جمع بین الصلاتین کول معلومیږی۔ .[نیل الاوطار : ۳/۲۶۸].

٤ – **حدیث** : عطاء رحمه الله فرمائی : مریض د ماښام او ماسخوتن مونځونه جمع کولې شی۔ د عبد الرزاق په روایت کښې دی : په جمع حقیقی سره۔

[أخرجه البخاری تعلیقًا عن عطاء : ۱/۸۹، وذکره عبد الرزاق فی المصنف : ۲/۵۵۰].

۵– **حدیث** : حمنې بنت جحش k ته رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کړې وو چه د ماسپښین او مازیګر، او د ماښام او ماسخوتن مونځونه یو ځائې کوه۔

[احمد، ابوداود : ۱/۴۱، ترمذی : ۱/۳۳، مشکاة : ۱/۵۷].

شوکانیؒ فرمائی : استحاضه هم یو قِسم مرض دې نو ددې نه معلومه شوه چه په

مرض کښې هم جمع بين الصلاتين جائز ده. او دغه بي بي به کله نا کله جمع صوري کوله. [نيل الاوطار : ۳/۲٦۸].

٦ – رجاء بن حيوة د نافعؒ نه پوښتنه وکړه : (آيا کله به چه خلکو د باران په شپه جمع بين الصلاتين کوله نو ابن عمرؓ به ورسره جمع بين الصلاتين کوله ؟ هغهٔ ويل هو!).

[مصنف عبد الرزاق : ۲/۵۵٦].

۷ – صفوان بن سليمؒ وائی : (عمر بن خطاب ﷺ د باران په شپه ماسپښين او مازيګر مونځونه شريك وکړل).

[مصنف عبد الرزاق : ۲/۵۵۰].

۸ – عطاءؒ او ضحاكؒ نه نقل دی، دا دواړه د مريض د مانځه په باره کښې فرمائی : (که خوښه ئې وی نو دوه مونځونه دې په يوځائې وکړی).

[المصنف لابن ابی شيبه ۲/۲۱۲].

۹ – د ابن عمر، ابن عباس، عمر بن عبد العزيز، سعيد بن المسيب، عروه بن الزبير (j) اونورو نه ثابت دی چه دوئ په باران کښې د شفق پريوتلو نه مخکښې د ماښام او ماسخوتن مونځونه يوځائې کړی دی.

[البيهقی : ۳/۱٦۸، ارواء الغليل : ۳/۳۲].

په دې باب کښې نور هم ډير زيات حديثونه راغلی، څوك چه ددې نه هم زيات تفصيل غواړی، نو هغه دې راتلونکو کتابونو ته رجوع وکړی.

[السنن الكبرى للبيهقی، المصنف لعبد الرزاق، تحفة الأحوذی، رسالة الشيخ عبد العزيز النورستانی حفظه الله].

د جمع بين الصلاتين اهم او ضروری مسائل

د حديثونو ذکر کولو نه پس اوس مونږ هغه ضروری مسائل ذکرکولو چه د دوه مونځونو يوځائې کولو سره تعلق لری.

۱ – **مسئله** : د جمع بين الصلاتين څۀ حکم دې ؟

نو دا رخصت او مباح ده. علامه عينیؒ د قاضی عياضؒ نه نقل کړی دی چه : دوه مونځونه په مشترکو اوقاتو کښې جمع کول کله سنت وی او کله رخصت وی. په عرفات

او مزدلفه کښې سنت دی، او په سفر، باران او مرض کښې رخصت دی. البته ابن عباسؓ به دیته هم سنت ویل.

[عمدة القاری :٥/٥٤، بیهقی : ١٦٥/٣، وغیره].

او په رخصت عمل کول هم افضله خبره ده، لکه نبی ﷺ فرمائی : [إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ أَنْ تُؤْتىٰ رُخَصُهٗ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ تُؤْتىٰ مَعْصِيَتُهٗ](الله تعالیٰ دا خوښوی چه د هغهٔ په رخصتونو عمل وکړے شی لکه څنګه چه دا بده ګڼړی چه د هغهٔ نافرمانی وکړے شی).

[احمد : ١٣٥/٨، مجمع الزوائد : ١٦٢/٣].

ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمایل ئے : (څوك چه د الله رخصت قبول نهٔ کړی نو په هغهٔ باندے لکه د عرفات د غرونو هومره ګناه ده).

[احمد : ٧١/٢، وسنده صحیح، کما فی المجمع : ١٦٣/٣].

٢ – **مسئله** : د جمع بین الصلاتین دپاره یو اذان او دوه اقامته دی. لکه څنګه چه جابر رضی الله عنه د نبی ﷺ نه نقل کړی دی چه هغوئ دا کار په مزدلفه کښې وکړو.

[صحیح مسلم : ٣٩٨/١].

او همدا د دلیل په اعتبار سره غوره خبره ده.

٣ – **مسئله** : نیت په ټولو عباداتو کښې لازم او ضروری دے.

او هر چه په جمع بین الصلاتین کښې د اولنی مونځ په شروع کښې یا د دویم مونځ په شروع کښې ددے دپاره نیت کول دی، نو په دے باندے قابلِ اعتماد دلیل نشته.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی : په دے کښې اختلاف دے چه جمع او قصر کښې نیت ضروری دے اوکه نه ؟ نو جمهور علماء وائی : نیت ته ضرورت نشته. او دا د مالك، ابو حنیفه مذهب او د احمد یو قول دے. او شافعی او یوه ډله د احمدؒ وائی : نیت ضروری دے. خو د جمهورو خبره صحیح ده. او په همدے باندے د رسول الله ﷺ سنت دلالت کوی. نبی ﷺ چه به کله خپلو ملګروته جمع او قصر کولو نو هغوئ ته به ئے د جمع او قصر د نیت حکم نهٔ کولو. بلکه د مدینے نه مکے ته ووانهٔ چه دوه رکعته به ئے کول، بیا ئے په عرفات کښې د ماسپښین مونځ وکړو او ملګروته ئے دا ونهٔ ښودل چه مازیګر مونځ به ددے نه پس کوی، بیا ئے ورته د مازیګر مونځ وکړو او هغوئ د جمع بین

الصلاتين نيت نۀ وو کړے۔

[مجموع الفتاوى :٢٤/٢٨].

بـل ځائے فرمائی : ماته په صحابوؓ او تابعينوؒ کښے هيڅوك معلوم نۀ دے چه هغویٔ په قصر يا جمع بين الصلاتين کښے نيت ضروری ګرځولے وی۔ نبی ﷺ مکے ته په داسے حال کښے وواتۀ چه ډير زيات خلك ورسره وو او په دویٔ کښے ښځے او هغه څوك هم شامل وو چه هغویٔ مسافرانه مونځ نۀ پيژاندۀ۔ نبی ﷺ هغویٔ ته د قصر د نيت کولو امر نۀ وو کړے۔ دغه شان په عرفات کښے ئے ورته جمع بين الصلاتين وکړه او دا ئے ورته ونه ويل چه زۀ به د ماسپښين مونځ کوم او بيابه د مازيګر مونځ۔

[پورتنیٔ حواله : ٢٤/١٠٤].

٤ - مسئله : لکه څنګه چه جمع بين الصلاتين په سفر کښے د تادیٔ په وخت جائز ده، نو په هغه وخت کښے هم جائز ده چه کله مسافر ديره اوپړاؤ اچولے وی۔ او ابن قيمؒ چه دا ويلی دی چه نبی ﷺ به صرف د تادیٔ په وخت جمع بين الصلاتين کوله، نودا خبره ئے ضعيفه ده۔

[انظر تحقيق هذه المسألة فى السلسلة الصحيحة : ١/٢٦٤، وكتاب الأم للشافعى : ٧/٢٠٥، والرسائل والمسائل لابن تيمية : ٢/٢٦، وفقه السنة : ١/٢٨٩].

٥ - مسئله : لکه څنګه چه جمع تاخير جائز ده، نو دارنګه جمع تقديم هم جائز ده۔ او په دے کښے هم ګڼړ حديثونه دی۔ بعضے خلك ګمان لری چه په دے باره کښے صرف يو حديث دے چه هغه د قتيبهؒ حديث دے۔ خو دا ګمان باطل دے۔ ځکه مخکښے مونږ د ابن عباس او معاذ z حديثونه ذکر کړی دی۔

[السلسلة الصحيحة: ١/٢٦٤].

٦ - مسئله : په باران کښے هم جمع بين الصلاتين جائز ده لکه څنګه چه په سفر کښے جائز ده۔ دے باره کښے حديثونه مخکښے ذکر شول۔

د عروهؒ، سعيد بن مسيبؒ او ابو بکر بن عبد الرحمنؒ نه نقل دی چه (دویٔ به په بارانی شپه کښے د ماښام او ماسختن مونځونه جمع کول، اوددے نه به ئے انکار نۀ کولو)۔

[بيهقى : ٣/١٦٨، ارواء الغليل : ٣/٤٠، وسنده صحيح].

۷ - **مسئله** : په حضر کښې هم کله نا کله جمع بين الصلاتين جائز ده، اګرکه څه ويره، بيماري يا باران نۀ وي. لکه چه دا د ابن عباس i نه ثابت ده. هغه فرمائي : (رسول الله ﷺ په غير د خوف او سفر نه د ماسپښين او مازيګر مونځ او د ماښام او ماسخوتن مونځ شريك وکړل. ابو الزبيرؒ وائي ما د خپل استاذ نه پوښتنه وکړه چه دا کارئے ولے وکړو؟ وے فرمايل: ما د ابن عباسؓ نه پوښتنه وکړه څنګه چه تا مانه پوښتنه وکړه، هغۀ وفرمايل : مقصد ئے دادے چه خپل امت په مشقت او تنګسيا کښے وانۀ چوي). [سنن النسائي الكبرى : ۱/٤٩١].

په بل روايت کښے دي (چه هيڅ يو امتي په تنګسيا کښے وانۀ چوي).

حافظ ابن حجرؒ فرمائي: ابن عباس ﷺ چه کوم سبب ښودلے دے (چه په امت باندے تنګسيا رانشي) دا په ښکاره توګه مطلق جمع ته شامل دے. او فرمائي : د امامانو يوے ډلے ددے حديث په ظاهر باندے عمل کړے او په حضر کښے ئے هم مطلقًا د حاجت د وجے نه د جمع بين الصلاتين اجازه ورکړے، ليکن شرط دادے چه ددے نه به عادت نۀ جوړوي.

د دغه علماؤ نه ابن سيرينؒ، ربيعهؒ، اشهبؒ او قفال کبيرؒ هم دے. اوخطابيؒ دا د اهلِ حديثو د يوے ډلے نه نقل کړے ده.

[فتح البارى : ۲/۲٤].

علامه شوکانيؒ هم ډير دلائل ذکر کړي دي په مطلقًا جمع بين الصلاتين باندے خو په دے شرط چه ددے نه به عادت نۀ جوړوي.

[نيل الأوطار : ۳/۲٦٤، وانظر شرح النووى على مسلم : ۱/۲٤٦، فتح البارى : ۱/۲۲٦، قسطلانى:۱/٤٩١].

ابن منذرؒ فرمائي: دا جمع په عذر باندے حملول هيڅ معنىٰ نۀ لري، ځکه ابن عباسؓ خپله دا علت بيان کړے چه (دا غواړي چه خپل امت په تنګسيا کښے ښکيل نۀ کړي).

۸ - **مسئله** : د څه مصروفتيا اومشغولتيا د وجے نه جمع بين الصلاتين کول جائز دي. لکه مخکښے حديثونه تير شول.

[راجع مجمع الزوائد : ۱/۱٦۱].

۹ - **مسئله** : د سختے ختے او د تيزے او يخے سيلۍ د وجے نه هم جمع بين الصلاتين کول جائز دي. لکه په دے باندے د ابن عباس ﷺ مخکښے حديث دليل دے.

دا وجه ده، ابن تیمیه رحمه الله فرمائی :
د سختې ختې او په تیارهٔ شپه کښې د سختې سیلئ وغیره په وجه جمع بین الصلاتین روا ده، اګرکه باران نهٔ وی۔ او دا راجح قول دے۔ ځکه په کورونو کښې د یواځې مونځ کولو نه دا بهتره ده چه په جومات کښې جمع بین الصلاتین وشی، ځکه جمع پریښودل او په کورونو کښې مونځونه کول بدعت دے، د سنت خلاف ده۔ سنت داده چه پنځه وخته مونځونه په جومات کښې وکړے شی۔او دا ددے نه بهتره ده چه په کورونو کښې یواځې یواځې مونځونه وکړے شی، او دا په اتفاق د هغه امامانو سره دے چه هغوئ جمع بین الصلاتین ته جائز وائی لکه مالك، شافعی او احمد رحمهم الله۔

[مجموع الفتاوی : ۲٤/۳۰].

۱۰ – **مسئله** : د مرض او بیمارئ د وجې هم جمع بین الصلاتین کول جائز دی۔ په دے باندے د مستحاضې حدیث دلالت کوی چه هغې ته نبی کریم ﷺ د جمع بین الصلاتین امر کړے وو، او استحاضه هم یو قِسم بیماری ده۔

امام بخاریؒ فرمائی : عطاءؒ فرمائی : مریض به د ماښام او ماسخوتن مونځونه جمع کوی۔او مخکښې د ابن عباسؓ په حدیث کښې تیر شو چه نبی ﷺ په غیر د خوف، باران او بیمارئ نه دا جمع کړے وه۔ نو ددینه معلومیږی چه په بیمارئ کښې جمع بین الصلاتین کول جائز دی۔

۱۱ – **مسئله** : په عرفات کښې به جمع تقدیم کیږی، او په مزدلفه کښې به جمع تاخیر کیږی۔او ددے ځایونو نه علاوه په نورو ځایونو کښې مسئله نوره هم فراخه ده، په هغې کښې هر قِسمه جمع بین الصلاتین (تقدیمی وی که تاخیری) جائز ده۔ لکه چه ددے وضاحت ابن تیمیه رحمه الله کړے۔

[مجموع الفتاوی : ٥٦/۲٤].

۱۲ – **مسئله** : جمع بین الصلاتین تقدیمی وی که تاخیری په دے کښې ترتیب لازم دے، ځکه نبی ﷺ په ترتیب سره جمع بین الصلاتین کړے، او بے ترتیبی د هغوئ نه نقل نهٔ ده۔ اونبی ﷺ فرمایلی دی : [صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي] (داسے مونځ کوئ څنګه چه تاسو ما وینئ چه زهٔ مونځ کووم)۔.[بخاری].

۱۳ – **مسئله** : په جمع بین الصلاتین کښې د دواړو مونځونو کولو ترمینځه پرله پسې والے ضروری نهٔ دے، نهٔ د اول مونځ په وخت کښې اونهٔ د دویم مونځ په وخت کښې۔ ځکه چه ددے په شریعت کښې څه حد نهٔ دے ښودلے شوے۔ بله دا چه ددے لحاظ ساتلو سره د رخصت مقصد ختمیږی۔

[مجموع الفتاوی : ٢٤/٥٤].

۱٤ – **مسئله** : سُننِ رواتب (د فرضو نه مخکښې روستو مقرر سنت) په جمع بین الصلاتین کښې پریښودلے شی خصوصًا په عرفات او مزدلفه کښې او په سفرونو کښې۔ ځکه نبی ﷺ به په سفر کښې ((مقرر سنتونه)) نهٔ کول۔بلکه د حدیثو ظاهر دادے چه په مطلق جمع بین الصلاتین کښې رواتب (مقرر سنتونه) پریښودلے شی۔

۱۵ – **مسئله** : د جمع بین الصلاتین په احادیثو کښې چه کومه جمع ذکر ده، د هغے نه جمع صوری اخستل جائز نهٔ دی۔ بلکه دا جمع حقیقی ده۔ ځکه یو خو بعضے احادیثو کښې د جمع حقیقی تصریح راغلے۔ بله دا چه د جمع بین الصلاتین کولو نه مقصد سهولت او آسانی راوستل دی په امت باندے۔ او په جمع صوری کښې خو په امت باندے تنګسیا راځی ځکه د عوام الناس دپاره د مانځه اولنی او آخری وختونه معلومول ګران او مشکل کار دے۔

[شرح النووی علی مسلم : ٢٤٥/١، المغنی : ١١٣/٢، وقال : هو قول أكثر اهل العلم، تحفة الاحوذی : ٣٨٨/١، عون المعبود : ٤٦٨/١].

علامه عبد الحی رحمه الله هم په جمع صوری باندے رد کړے۔

[التعلیق الممجد ص ١٣١، وفی الصحیحة : ٨١١/٦، تفصیل جید].

دا مسائل مونږ د احادیثو نه اصولی طور سره مختصر بیان کړل ځکه ددے تفصیل مستقل کتاب غواړی۔ هذا وبالله تعالیٰ التوفیق.

مازیګر مونځ وختی کول پکار دی

٤٨٠ – **سوال** : آیا مازیګر مونځ نا وخته کول مستحب دی ؟ او د تاخیر په باره کښې کوم حدیث راغلے اوکه نه ؟

جواب : په متواترو حدیثونو کښې مازیګر مونځ وختي کول راغلي دي، او د تاخیر په باره کښې هیڅ حدیث نشته. سیوا د یو حدیث نه چه هغه هم مجمل دے او په دے موضوع باندے دلالت نۀ کوي. او هغه د ام سلمے k حدیث دے چه :

(رسول الله ﷺ به ستاسو په نسبت په ماسپښین مونځ کښې ډیر زیات تادي کوله او تاسو د هغۀ په نسبت په مازیګر مانځه کښې ډیره تادي کوئ).

[ترمذی : ١/٥٤، مشکاة : ١/٦٢، رقم : ١٦٩٥].

او نور ګڼړ متواتر حدیثونه د مازیګر د مانځه په وختي کولو باندے دلالت کوي، لکه ځینې حدیثونه دادي :

اول : عائشه k فرمائي : (رسول الله ﷺ د مازیګر مونځ وکړو او نمر د هغے په حُجره کښې وو، د هغے د حُجرے نه سوری لا نۀ وو ښکاره شوے).

[ترمذی : ١/٥٣، ابن ماجه].

دویم : علاء بن عبد الرحمنؒ نه روایت دے چه کله دۀ د ماسپښین مونځ وکړو نو دا د انس بن مالك ﷛ کور ته ورغے چه په بصره کښې وو، او د هغۀ کور د جومات په څنګ کښې وو، نو انسؓ وفرمایل : ودریږئ چه مازیګر مونځ وکړئ. هغه وائي مونږ ودریدو او د مازیګر مونځ مو وکړو. کله چه مونږ واپس شو نو هغۀ وفرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي دي چه فرمایل ئے : (دا خو د منافق مونځ وي چه د نمر په انتظار ناست وي تردے چه هغه د شیطان د دوو ښکرونو ترمینځه شي نو پاسیږي او څلور ټونګے ووهي، په هغے کښې لږ شان الله یاد کړي).

[مسلم : ١/٢٢٥، ابوداود : ١/٦٥، ترمذی : ١/٥٤].

دریم : انس ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ به د مازیګر مونځ په داسے وخت کولو چه نمر به اوچت او ژوندے وو، نو (د مونځ نه پس به) یو کس باندو ته لاړو او نمر به لا جګ ولاړ وو. د مدینې نه ځینې باندے په څلور میله کښې لرے وے).

[بخاری مسلم].

د بخاري او مسلم نه سیوا په نورو روایتونو کښې دي چه باندے (شپږ میله لرے وے).

[کما فی المجمع : ١/٣٠٧، وغیره].

څلورم: رافع بن خديج رضي الله عنه فرمائي: (مونږ به د رسول الله ﷺ سره د مازيګر مونځ وکړو، بيا به اوښان ذبح کړے شول او هغه به په لسو برخو کښے ويشل شو، بيا به پاخهٔ کړے شو اومونږ به د نمر ډوبيدو نه مخکښے پخ شوے غوښه خوړله).

[بخاري: ۱/۷۸، مسلم: ۱/۲۲۵، مشكاة: ۱/٦۱].

نو دا او ددے پشان نور حديثونه په دے خبره دلالت کوي چه مازيګر مونځ به رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ژر وختي کولو. او دا اندازے هم صحابه کرامو ددے دپاره بيان کړي چه مازيګر مونځ به وختي کيدلو.

او مخکښے تير شو، راجحه خبره داده چه د مازيګر د مانځه وخت د مثلِ اول نه شروع کيږي، ځکه په دے باره کښے ګڼړ صريح قولي حديثونه راغلي دي:

اول: عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: (د ماسپښين وخت هله شروع کيږي چه د نمر زوال وشي او (دا روان وي تردے چه) د سړي سورے د هغهٔ د اوږدوالي هومره شي تر څو چه مازيګر نهٔ وي حاضر شوے).

[صحيح مسلم].

دويم: ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: (ماته د بيت الله په خوا کښے جبريل عليه السلام امامتي راکړه نو ماته ئے د ماسپښين مونځ هغه وخت وکړو کله چه زوال وشو او هغه د پيزار د تسمے برابر وو. او مازيګر مونځ ئے راته هغه وخت وکړو چه د هر شئ سورے د هغهٔ يو چند شو. او د ماښام مونځ ئے هغه وخت وکړو چه روژه دار په کښے روژه ماتوي. او د ماسخوتن مونځ ئے راته هغه وخت وکړو چه شفق ډوب شو. او د سهار مونځ ئے راته هغه وخت وکړو کله چه په روژه دار باندے خوراك څکاك بند شي. او صبا له ئے راته د ماسپښين مونځ هغه وخت وکړو کله چه د هغهٔ سورے د هغهٔ هومره (يو چند) شو. او د مازيګر مونځ ئے راته هغه وخت وکړو چه د هغهٔ سورے د هغهٔ دوه چنده شو. او ماښام ئے راته هغه وخت وکړو چه د روژه دار د روژے ماتولو وخت شو. او ماسخوتن ئے راته د شپے د دريمے برخے پورے وکړو. او سهار ئے راته په رڼرا کښے وکړو. بيا ئے راته وکتل او وے فرمايل: اے محمد! دا ستانه مخکښے د انبياؤ وخت وو، او وخت ددے دوه مونځونو ترمينځه دے).

[ابوداود: ۱/٦۲، ترمذي: ۱/۳۸، مشكاة: ۱/۵۹].

نو په دے حدیثونو کښے د سوچ کولو نه پس د مازیګر او ماسپښین مونځونو وخت په ډاګه معلومیږی۔

پاتے شو هغه حدیثونه چه په هغے باندے بعضے خلکو استدلال کړے چه د مازیګر وخت د مثلینو نه روسته شروع کیږی، نو هغه مجمل او غیر صریح حدیثونه دی۔نو صریح او صحیح حدیثونه پریښودل او داسے مجمل حدیثونه اخستل چه هغه د اوقاتو د بیان دپاره نۀ وی ذکر شوی، دا د کوږ والی او تعصب نښه ده۔

[راجع المجمع : ۲۰۷/۱۵، السنن الکبری : ۳۶۵/۱، النیل :۳۹۲/۱، مفصلاً، ابوداود :۶۵/۱].

علامه شوکانیؒ فرمائی : ددے حدیث نه معلومه شوه چه د مازیګر مونځ په خپل اول وخت کښے کول مستحب دی، ځکه د مازیګر مونځ نه پس دوه یا درے میله تلل او په زیړوالی سره د نمر نۀ بدلیدل دا هله کیدے شی چه مازیګر مونځ په مثلِ اول کښ شوے وی۔ [نیل الاوطار: ۳۹۲/۱].

امام نوویؒ فرمائی : دا حدیث د جمهورو د مذهب دپاره دلیل دے چه د مازیګر اول وخت په مثلِ اول سره شروع کیږی۔ اوپه دے کښے د ابوحنیفهؒ په مذهب باندے رد دے، ځکه هغه ویلی دی : د مازیګر وخت د مثلینو نه پس داخلیږی۔ (بیا دوه حدیثونو ذکر کولو نه پس فرمائی) دے دوه حدیثونو نه معلومه شوه چه د مازیګر مونځ وختی کول پکار دی، ځکه اوښان ذبح کول بیا هغه ویشل او پخول اوبیا پخه غوښه خوړل بیا د هغے نه د نمر پریواتۀ نه مخکښے اوزګاریدل، دا ټولے خبرے ښکاره دلیل دے په دے چه د مازیګر مونځ به وختی کیدلو۔ او دا د جمهورو دلیل دے۔ دارنګه د ابن عباس او جابر هغه حدیثونه چه هغه د جبریل ؑ د امامتئ په باره کښے راغلی، دا هم د ابوحنیفهؒ خبره رد کوی۔ او ددۀ نه خلکو خلاف کړے، او ددۀ شاګردانو هم ددۀ نه خلاف کړے۔

نو په دے کښے به څنګه د امام ابوحنیفهؒ تقلید په خلکو واجب شی ؟

OOOOOOOO

لا فدية للصلوات

د مونځونو فدیه شرعًا نشته

۴۸۱ – **سوال:** یو سړی مونځونه پریښي وو او بیا مړ شو نو آیا د روژو پشان ددهٔ د مانځه دپاره فدیه ورکول شته دے او که نه ؟

جواب : په شریعتِ مطهره کښې د مانځه د فدیئے هیڅ وجود نشته۔ دلائل ئے دادی :

اول : د مانځه د فدیئے دپاره نهٔ په قرآن کښې دلیل شته او نهٔ په سنت کښې۔ نهٔ په دے باندے کوم صحابیؓ قول کړے او نهٔ پرے ائمه اربعوؒ قول کړے۔ دومره ده چه امام محمدؒ ویلی دی : (زما امید دے چه د روژے د فدیئے پشان به د مونځ فدیه هم قبوله شی) او د همدے خبرے نه متاخرینو احنافو دا خبره معلومه کړے۔ اوبیا دا خبره د ډیرو بدعاتو دپاره سبب ګرځیدلے لکه حیلهٔ اسقاط او د هغے شروط۔

دے وجے نه دیته واجب یا مستحب ویل جائز نهٔ دی، ځکه استحباب د کوم عالم په خبره باندے نهٔ ثابتیږی۔ د امام محمد شیبانیؒ خبره حجت نهٔ دے چه په دے سره دے استحباب ثابت شی۔ او صرف همدا یو دلیل ددے د عدمِ ثبوت دپاره کافی دے۔

دویم : په اسلام کښې په هیڅ صورت کښې د مانځه پریښودل نشته۔ څوک چه په ولاړه مونځ کولو وس نهٔ لری هغه دے په ناسته مونځ وکړی یا دے په اړخ مونځ وکړی۔ په اشارے سره دے وکړی۔ اوکه په دے هم قادر نهٔ وی نو بیا په دهٔ مونځ واجب نهٔ دے۔ لکه روسته راځی۔ بلـه دا چه څوك قصدًا مونځ پریدی، نو د علماؤ د یو قول مطابق دا کس کافر دے، نو بیا ددهٔ د فدیئے ورکولو څه معنیٰ ؟

دریم : انس رضی الله عنه حدیث دے۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : [مَنْ نَسِيَ صَلَاةً أَوْ نَامَ عَنْهَا فَكَفَّارَتُهَا أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا، وَفِيْ رِوَايَةٍ : لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذٰلِكَ] (چانـه چه مونځ هیر شو اویاترے اودهٔ پاتے شو نو ددے کفاره داده چه یادیدو سره دے سَم هغه اداء کړی۔ بل روایت کښې دی : ددے

بس صرف دا یوه کفاره ده)۔

[بخاری، مسلم، مشکاة : ۱/۶۱].

نو په دې حدیث کښې ئې تاکید سره دا خبره وکړه چه د مانځه کفاره صرف او صرف داده چه د یادیدو یا بیداریدو په وخت هغه اداء کړے شي۔ نو که چرے د مانځه د پاتے کیدو دپاره بله کومه مالي کفاره وے نو خامخا به نبی کریم ﷺ ذکر کړے وے، ځکه هغه خو د دین بیانولو دپاره راغلے وو۔ هغۀ هیڅ یو داسے حکم نۀ دے پریښے چه هغے ته د اسلامی امت حاجت وی مگر هغه ئې خامخا بیان کړے۔ هغه ئې د چا رائے او قیاس ته نۀ دے حواله کړے۔ او دا ښۀ ښکاره دلیل دے خو چه د چا بصیرت کار کوی۔

امام خطابیؒ فرمائی: په دے حدیث کښے د نبی ﷺ مقصد دادے چه په دے سړی باندے چه مونځ ترے پاتے شوے دے هیڅ تاوان یا د صدقے وغیره داسے کفاره نۀ ده لازمه څنګه چه په غیر د عذر نه د رمضان د روژے په پریښودونکی باندے کفاره لازمیږی۔ یا په هغه محرم باندے کفاره لازمیږی چه هغه د خپل حج د افعالو نه یو فعل پریدی نو په هغۀ کفاره دَم وغیره لازمیږی۔

[معالم السنن، انظر المرعاة : ۲/۳۱۲].

څلورم : کوم خلك چه د مانځه د فدیئے قائل دی، هغوئ ددے دپاره نۀ د قرآن نه دلیل پیش کړے اونۀ د سنت نه۔ هغوئ خو یو د امام محمدؒ قول پیش کړے او بل ئې د مانځه قیاس په روژے باندے کړے۔ حالانکه دا دواړه خبرے هیڅ دلیل نۀ دے۔ ځکه د امام محمدؒ قول خو د هغۀ شخصی رائے ده، حجت نۀ دے۔ او قیاس هم دلته صحیح نۀ دے۔ ځکه قیاس په عباداتو کښے نۀ چلیږی۔ قیاس خو د ضرورت په وجه کیږی او دلته هیڅ ضرورت نشته۔

[انظر القصیدة ص : ۱۸۹].

بله داچه : مقادیر اواندازے خو صرف په نص سره معلومیږی، په دے کښے قیاس نۀ چلیږی۔ او دا د علماؤ اتفاقی قاعده ده چه مقادیر او اندازے به صرف په شریعت سره ثابتیږی۔ خپله صاحب د هدایه څو ځایه دا ذکر کړے ده۔

[هدایه : ۱/۶۶، ۱/۱۹۱، ۴/۴۴۶].

نو مونږ وايو: په شريعت کښې د مونځ د فديئے مقدار څۀ دے ؟

بـلـه دا چـه دا قيـاس ځـکه صحيح نۀ دے چه د مونځ فوت کول شرعًا جائز نۀ دی۔ او هر چـه روژه ده نـو هغه د سفر، مرض، حمل او رضاعت د عذرونو په وجه فوت کيدے شی۔ نو مونځ په روژه قياس کول صحيح نۀ دی۔

امام ابن قيم رحمه الله ددے خبرے تحقيق کړے چه قياس ته به صرف د ضرورت په وخت رجوع کيدے شی۔

[إعلام الموقعين : ۱/۳۳۷، القصيدة النونية ص : ۱۹۰].

او زۀ مسـلـمـانـانـو تـه خـصـوصًـا طـالبـانـو د عـلـم ته دا نصيحت کوم چه په دے قِسم بے ضرورته قياسونو کښې دے فراخی نۀ پيدا کوی، کـه نۀ وی نو د بدعتيانو دپاره به يوه لويه دروازه پـرانستے شی، او ډير خلك به دا گمان وکړی چه گنے شريعتِ مطهره او قرآن او سنت نيمگړے دے۔ او دا خبره زمونږ د تجربے او مشاهدے مطابق شوے هم ده۔

پنځم : د مـونـځ دپاره د فديئے په منلو کښې بل نقصان دادے چه خلکو دپاره دا په مانځه کښې د سستـئ کـولـو سبب گـرځـی۔ ولے ډير خلك د مانځه اهتمام نۀ کوی ځکه دوئ دا آوريدلی دی چه د مرگ نه پس به د مونځونو دپاره کفاره ورکړے شی۔

ددے پـه خـلاف کـه دوئ ته دا فتویٰ ورکړے شی چه د مانځه د پريښودو دپاره هيڅ فديه نشته نو بيا دوئ رابيدارے شی او د مانځه اهتمام کولے شی۔ ان شاء الله۔

او د ابن عباس رضی الله عنه په کوم اثر کښې چه دا راغلی دی چه :

[لَا يُصَلِّيُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ وَلَا يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ وَلٰكِنْ يُطْعِمُ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مُدَّ حِنْطَةٍ]

(هيڅوك دے د هيچا له طرفه نۀ مونځ کوی اونۀ دے روژه نيسی، خو د هغۀ له طرفه دے د هرے ورځے په بدل کښې يو مُد خوراك ورکړی)۔

[مشکل الآثار للطحاوی :۳/۱۴۱، مصنف عبد الرزاق : ۹/۶۱، نصب الراية : ۲/۴۶۳، الدراية ص ۱۷۷).

نـو پـه دے اثـر بـانـدے په مخکنو علماؤ کښې هيچا استدلال نۀ دے کړے۔ سيوا د بعضے اوسنو علماؤ نه۔ وگوره : [المنهاج الواضح د سرفراز صفدر صاحب].

حالانکه په دے استدلال کول د څو وجو نه صحيح نۀ دی :

اوله وجه : پـه دے اثـر کښے د روژے فديه ذکر ده، نۀ د مانځه۔ ځکه په دے کښے دا الفاظ

دی چه (د هرې ورځې په بدل کښې دې یو مُد غنم په خوراك كښې وركړی)۔ دارنګه په بل روایت کښې دی [كُلَّ يَوْمٍ مِسْكِيْنًا] (د هرې ورځې په بدل کښې دې یو مسکین ته خوراك وركړی)۔ نو دا خو د روژو فدیه ده چه د هرې ورځې په بدل کښې یو مُد خوراك راغلے۔ او دوئ خو د هر مانځه دپاره یو مُد غنم وركوی۔

دویمه وجه : دا اثر موقوف دے او حکمًا مرفوع نۀ دے لکه څنګه چه بعضو ویلی دی۔ بلکه دا دهغه صحیح مرفوع حدیث خلاف دے چه بخاری او مسلم د عائشې k نه نقل کړے، دا فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهٗ] (څوك چه مړ شو او په دۀ روژې پاتې وې نو دۀ نزدې خپلوان دې دۀ نه دا روژې ونیسی)۔

[بخاری، مسلم، مشکاة : ۱/۱۷۳].

امام بیهقیؒ ډیر حدیثونه ذکر کړی چه د مړی له طرفه د هغۀ نزدې خپلوان روژه نیولے شی۔[السنن الکبری : ٤/٢٥٤].

نو هر کله چه د ابن عباس رضی الله عنه دغه پورتنے اثر ددې حدیث خلاف شو نو دا دلیل نشی جوړیدے۔

دریمه وجه : په دغه پورتنی اثر کښې د مانځه د فدیئې هیڅ مقدار او اندازه نۀ ده ذکر شوې۔ چه دا خبره هم قابلِ غور ده۔

○ دارنګه د ابن عمر رضی الله عنه په کوم اثر کښې چه راغلی دی :

[لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ وَلَا يَصُوْمَنَّ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ وَلٰكِنْ إِنْ كُنْتَ فَاعِلًا تَصَدَّقْتَ عَنْهُ أَوْ أَهْدَيْتَ] (هیڅوك دې د هیچا له طرفه مونځ نۀ کوی اونۀ دې د هغۀ له خوا روژه نیسی، البته که تۀ خامخا څۀ کول غواړې نو د هغۀ له طرفه صدقه یا هدیه وركړه)۔

[مصنف عبد الرزاق : ٩/٦١، وذكره ابن التركمانی فی الجوهر النقی : ٤/٢٥٧].

نو په دې اثر کښې هم دغه پورتنئ خبره ده۔ هغه دا چه دا اثر ضعیف دے، ځکه په دې کښې عبد الله بن عمر العُمری راغلے او دا ضعیف دے۔

دارنګه په دې اثر کښې د فدیئې اندازه نۀ ده ذکر شوې۔ نو دا د فدیه په باره کښې نۀ دے بلکه د ایصالِ ثواب په باره کښې دے۔

نو دا اثر ضعیف هم دے او موقوف هم دے او د صحیح مرفوع حدیث خلاف هم دے۔ او

د فديئے څۀ اندازه او مقدار هم په کښے نۀ دے ذکر شوے۔ نو دا په دليل کښے پيش کول او په دے سره د مانځه فديه ثابتول سخت غفلت او ناخبرتيا ده۔

علامه شوکانیؒ فرمائی : څوك چه مړ شو او د هغۀ په ذمه مونځ پاتے وو، نو د هغۀ له طرفه به د هغے قضائی نشی راوړلے اونۀ به د هغے په بدل کښے د هغۀ له خوا خوراك ورکولے شی۔ ځکه نبی ﷺ فرمائی : (د مانځه بله هيڅ کفاره نشته سيوا ددے نه)۔ چه د يادېدو يا راويښېدو په وخت ئے وکړی۔

والله أعلم.

د هغه چا حکم چه د مانځه نه عاجز شی

---

۴۸۲ – **سوال** : تاسو ووېل چه په شريعتِ مطهره کښے د مانځه فديه نۀ ده راغلے۔ نو د هغه چا څه حکم دے چه هغه د مانځه نه عاجزه شی او په اشارے سره ئے هم نشی کولے ؟ آيا د هوش او حواسو باوجود د هغۀ نه مونځ ساقطيدے شی ؟ اوکه نه دا به خامخا مونځ کوی اګرکه د سترګو او زړۀ په اشارے سره وی ؟

جواب : شريعتِ مطهره د مانځه د فديئے حکم نۀ دے کړے ځکه د مانځه فوت کول د سره شته دے نۀ تر څو پورے چه د انسان عقل کار کوی۔ که د ودريدو طاقت لری نو په فرضو کښے ودريدل ضروری دی، که نۀ وی نو په ناسته دے وکړی، اوکه ددے طاقت هم نۀ لری نو په اړخ دے پريوځی او د سر په اشارے سره دے اداء کړی او په سجده کښے دے د رکوع په نسبت ښۀ ښکته کيږی۔ لکه د عمران بن حصين رضی الله عنه په حديث کښے دی ، دا فرمائی : (په ما باندے بواسير وو نو ما د رسول الله ﷺ نه د مانځه په باره کښے پوښتنه وکړه، وے فرمايل : په ولاړه مونځ کوه، که وس دے نۀ وی نو په ناسته ئے کوه، اوکه ددے وس دے هم نۀ وی نو په اړخ باندے ئے کوه)۔

[بخاری : ۱/۱۵۰].

او جابر رضی الله عنه نه روايت دے چه : (نبی ﷺ د يو بيمار پوښتنه وکړه، هغه ئے وليدۀ چه په بالښت به ئے سجده لږوله، نو هغه ئے را واخسته او لرے ئے ويشتله، نو هغه سړی لرګے را واخستو چه په هغے سجده ولږوی، نو هغه ئے ترے هم واخستو او لرے ئے ويشتلو، او وے

فرمایل: په زمکه مونځ کوه که وس دې کیږي اوکه نۀ وي نو بیا اشاره کوه او خپله سجده د خپلې رکوع نه ښکته ساته).

[رواه البزار والبیهقي في المعرفة كما في نصب الراية: ۲/۱۷۵، وسنده صحيح، كما في تمام المنة ص: ۳۱٤، والصحيحة رقم: ۳۲۳].

او که بیمار د سر د اشارې نه هم عاجزه شو نو آیا د سترګو او زړۀ په اشارې سره به مونځ کوي اوکه نه؟

په دې کښې د علماؤ دوه قوله دي. بهتره داده چه په سترګو سره به اشاره نۀ کوي ځکه په سترګو سره اشاره کول په کتاب او سنت کښې نۀ ده راغلې. بلکه ددۀ نه په دې حالت کښې مونځ ساقط دې او د سترګو په اشارې سره مونځ نۀ صحیح کیږي. او دا قول د دلیل په لحاظ ډېر صحیح دې او دا د امام ابو حنیفهؒ قول دې. ځکه سترګو سره اشاره کول داسې عمل نۀ دې چه په دې سره رکوع د سجدې نه یا قیام د قعود نه جدا کړې شي، بلکه دا یو قِسم عبث کار دې چه الله نۀ دې مشروع کړې. او هرچه په سر سره اشاره کول او هغه ښکته کول دي نو په دې سره مونځ ګذار ته حکم شوې. او نبي ﷺ فرمائي: (کله چه زۀ تاسو ته د یو کار حکم وکړم نو هغې ته د خپل وس مطابق راتګ کوئ) [بخاری، مسلم] او دا کس هم د سجدې په ځائې په دې اشاره باندې قادر دې. او هر چه سترګې خوزول دي نو دې سره سجده نۀ کیږي.

[مجموع الفتاوی: ۲۳/۷۳].

بیا که چا په دې حالت کښې مونځ ونه کړو او هغه مړ شو او ګڼړ مونځونه ترې پاتې شوي وو، او یا روغ شي نو آیا دا کس به ددې مونځونو قضائي راوړي؟ او په دۀ باندې فدیه شته دې اوکه نه؟

نو ظاهر د احادیثو دادې چه کله بیمار د سر په اشارې سره هم مونځ نشي کولې نو په دۀ باندې هیڅ شې واجب نۀ دې. [فقه السنة: ۱/۲٤۳].

او مخکښې تیر شو چه د مونځونو فدیه نشته. دا چا د ځانه جوړه کړې ده. او د مونځ دپاره په فدیه ورکولو باندې قائل کیدل په مانځه کښې د سستئ او لټوب سبب دې.

او احنافو ویلي دي: که مریض په داسې حال کښې مړ شو چه د سر په اشارې سره هم په

مونځ کولو قادر نۀ وو، نو په دۀ باندے ددے مونځونو وصیت کول لازم نۀ دی اګرکه کم ولے نۀ وی۔ [الفقه الاسلامی : ۲/۱۳٤].

نـو مـعـلـومـه شـوه چـه پـه دے کس باندے مونځ واجب نۀ دے هرکله چه د سر په اشارے باندے هم قادر نۀ وی۔

ابـن قدامهؒ فرمائی : د ابوحنیفهؒ نه نقل دی چه په دے حالت کښے ددۀ نه مونځ ساقط دے او دا د امـام احـمدؒ ظاهر قول هم دے۔ ځکه د ابو سعید خدریؓ نه روایت دے چه دۀ ته ددۀ په بیـمـارئ کښے وویل شو چه مونځ وکړه۔ نو دۀ وویل: بس زما دپاره مونځ کافی شو، ځکه عـمـل دصحت په حالت کښے کیږی۔ بله دا چه دا کس د مانځه د افعالو نه بیخی عاجز دے نوځکه ترے مونځ ساقط دے۔

[الشرح الکبیر لابن قدامة :۲/۸۹].

○○○○○○○○

اقامة الدليل على أن وقت العشاء يمتد الى نصف الليل

د ماسخوتن مانځه وخت نيمې شپې پورې دے

٤٨٣ - **سوال** : د ماسخوتن مانځه وخت کله ختميږي ؟ آيا دا د صبا راختو پورے اوږد دے اوکه نه ؟

جواب : صحيح خبره داده چه د ماسخوتن دمانځه وخت تر نيمې شپې پورے دے۔ او د نيمې شپې نه اخوا ختميږي۔ نو څوك چه د نيمې شپې تيريدو نه پس مونځ کوی، هغه به د قضائی راوړو نيت کوی۔ دليل دادے چه عبد الله بن عمرو ﷺ نه روايت دے، نبی ﷺ وفرمايل :

[وَقْتُ الظُّهرِ مَا لَمْ يَحْضُرِ الْعَصْرُ، وَوَقْتُ الْعَصرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ، وَوَقْتُ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَسْقُطْ فَوْرُ الشَّفَقِ، وَوَقْتُ الْعِشَاءِ اِلٰى نِصْفِ اللَّيْلِ، وَوَقْتُ صَلَاةِ الْفَجْرِ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ].

(د ماسپخين وخت تر هغه وخته پورے دے چه لا مازيگر نۀ وی راغلے، او د مازيگر د مانځه وخت تر هغه وخته پورے دے چه لا نمر نۀ وی زيړ شوے، او د ماښام د مانځه وخت تر هغه وخته پورے دے چه شفق نۀ وی پريوتے، او د ماسخوتن د مانځه وخت تر نيمې شپې پورے دے، او د سهار د مانځه وخت تر هغه وخته پورے دے چه لا نمر نۀ وی راختلے)۔

.[أبوداود : ٦٣/١، مسلم : ٢٢٢/١].

نو په دے حديث کښې د فرضی اوقاتو بيان دے، نۀ دے استحبابی اوقاتو۔ نو په دے کښې هيڅ تاويل نشی کيدے۔ او رسول الله ﷺ د بيان دپاره راغلے او په دغه ارشاد مبارك سره ئے مؤمنانو ته د هغوئ د مونځونو بيان کړے دے۔

او د ابو قتاده رضی الله عنه په کوم حديث کښې چه راغلی دی چه :

[أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ فِی النَّوْمِ تَفْرِيطٌ وَاِنَّمَا التَّفْرِيطُ عَلٰى مَنْ لَمْ يُصَلِّ الصَّلَاةَ حَتّٰى يَجِيْئَ وَقْتُ الصَّلَاةِ الْأُخْرٰی] (په خوب کښې کوتاهی نشته، کوتاهی خو په هغه چا باندے ده چه مونځ ونه

کړې تر دے چه د بل مانځه وخت راشي)۔
[صحيح مسلم : ١٣٨/٢].
نو دا حديث مجمل دے۔ په دے کښے د اوقاتو بيان نشته۔ په دے کښے خو صرف د هغه چا د ګناه بيان دے چه قصدًا مونځ پريدي تر دے چه د هغے وخت ووځي، برابره خبره که د دغه پريښودلي مونځ نه پس جوخت بل مونځ راځي لکه مازيګر او ماښام، او يا نۀ راځي لکه سهار او ماسپخين شو۔ په دے باندے دليل دادے چه دا حديث د سهار د مانځه په باره کښے راغلے هر کله چه د نبي ﷺ او د صحابو نه په سفر کښے د دوئ د اودۀ کيدو د وجے مونځ فوت شو او صحابو دا کار لوئے وګڼړلو نو نبي ﷺ ورته د تسلئ دپاره وفرمايل چه آيا تاسو ماته نۀ ګورئ چه مانه هم مونځ فوت شوے۔ بيا ئے دا حديث ورته ذکر کړو۔
اوس که ددے حديث مقصد داشي چه د هر مانځه وخت د بل مانځه سره نښتے دے نو بيا خو به د سهار د مانځه وخت تر د ماسپخين د مانځه پورے اوږد وي۔ حالانکه دا خبره هيچا نۀ ده کړے۔ نو دغسے د ماسخوتن مونځ هم دے۔
[انظر المحلى لابن حزم : ١٧٨/٣].
دا وجه ده، امام مالكؒ او طحاويؒ د عمر رضي الله عنه نه نقل کړی دی چه عمر رضي الله عنه ابو موسیٰ اشعري رضي الله عنه ته ليکلي وو : (ماسخوتن مونځ د شپے د دريمے برخے پورے کوه اوکه ددے نه دے هم روستو کړو نو بيا ئے نيمے شپے پورے کوه او د غافلانو نه مه جوړيږه)۔ [موطأ : ٥/١، معاني الآثار للطحاوي : ١١١/١].
نو دا حديث ښکاره دليل دے چه د ماسخوتن وخت تر شپے نيمائي پورے دے۔ نۀ صبا راختو پورے۔ او همدا خبره حقه ده۔
نو ځوك چه د حديث تابعداري کوي او ددے په مقابله کښے جمهور پريدي نو هغۀ له پکار دی چه په دے جليل القدر حديث عمل کوي۔
ددے خبرے بل تائيد دادے چه نبي اکرم ﷺ او د هغۀ صحابه کرامو ز د نيمائي شپے نه اخوا د ماسخوتن مونځ هيڅ کله نۀ دے روستو کړے۔ نوکه چرے ددے روستو کول جائز وے - اګرکه په درجه د کراهت کښے هم وے - نو نبي ﷺ به خامخا د جواز ښودلو دپاره يو ځل دا کار کړے وے۔

[راجع لتفصيل هذا القول : الدرر البهية والروضة الندية ص : ٦٩، والمحلى : ٢/٢٠٢، تمام المنة ص ١٤٠، وقد بوب البخاري : باب وقت العشاء إلى نصف الليل].

شیخ البانیؒ فرمائی : هر کله چه دا خبره ثابته شوه چه د دغه حدیث (د ابو قتادهؓ) نه دا نهٔ معلومیږی چه ګڼے د ماسخوتن مانځه تر صبا راختو پورے کیږی، نو بیا هغه احادیثو ته رجوع کول ضروری دی چه د هغے نه په ډاګه معلومیږی چه د ماسخوتن د مانځه وخت تر نیمائی شپے پورے دے۔ لکه په صحیح مسلم وغیره کښے د نبی کریم ﷺ دا ارشاد نقل شوے چه : (د ماسخوتن د مانځه وخت تر نیمائی شپے پورے دے)۔ دغه شان د عمر فاروق رضی الله عنه دغه پورتنے حدیث ئے ذکر کړے۔ بیا فرمائی : دا حدیث ښکاره دلیل دے په دے خبره چه د ماسخوتن وخت تر نیمائی شپے پورے دے۔ دا وجه ده، امام شوکانیؒ هم په [الدرر البهية، او السيل الجرار: ١/١٨٣] **کښے دا اختیار کړے۔ او شیخ صدیق حسنؒ هم په الروضة الندية کښے ددهٔ پیروی کړے۔**

[تمام المنة ص : ١٤١].

او دا قول د امام مالکؒ نه هم نقل شوے (کما فی بداية المجتهد) او دا شوافعو د یوے ډلے غوره مذهب هم دے، لکه ابو سعید اصطخریؒ وغیره۔ [المجموع : ٣/٤٠].

حافظ ابن حجرؒ هم ددے غوره والی ته اشاره کړے۔

[فتح الباری : ٢/٤١].

عبد الله بن عمرو رضی الله عنه فرمائی :

[وَصَلَاةُ الْعِشَاءِ دَرُكٌ حَتّٰى نِصْفِ اللَّيْلِ، وَمَا بَعْدَ ذٰلِكَ إِفْرَاطٌ]. **(د ماسخوتن مونځ تر نیمائی شپے پورے موندلے کیږی، او ددے نه ئے اخوا اړول کوتاهی ده)۔**

[مصنف عبد الرزاق : ١/٥٨١].

نو دا د یو داسے صحابی رضی الله عنه فتویٰ ده چه ددهٔ هیڅ یو مخالف نهٔ دے معلوم۔

نو په مسلمانانو باندے لازم دی چه د ماسخوتن مونځ دے د نیمے شپے نه نهٔ اړوی۔ او دا غالبًا په سفرونو کښے واقع کیږی۔

شفق څۀ ته وائی ؟ او ماښام او ماسخوتن ترمینځه څومره وخت دے ؟

٤٨٤ - **سوال** : شفق سوروالی ته وائی که سپین والی ته ؟ او د ماښام او ماسخوتن مانځه ترمینځه څومره وخت وی ؟

جواب : راجح او غوره قول دادے چه شفق سُرخئ ته وائی چه د آسمان په کنارو کښے وی. لکه د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل دی چه : [اَلشَّفَقُ الْحُمْرَةُ] (شفق سُرخئ ته وائی). [رواه الدارقطنی : ۱/۲۵۰، وصحح ابن خزیمة وغیره وقفه علی عمر].

امام بیهقیؒ فرمائی : دا حدیث د عمر، ابن عباس، عبادة بن الصامت، شداد بن اوس او ابو هریره ز نه هم روایت شوے، خو دا ثابت نۀ دے.

امیر صنعانیؒ فرمائی : دا لغوی بحث دے او په دے کښے به رجوع اهلِ لغتو ته کیږی، او ابن عمر رضي الله عنه هم لغوی او اصلی عرب دے نو دده کلام حجت دے اګرکه دغه حدیث دده موقوف دے. په قاموس کښے دی : شفق هغه سُرخئ ته وائی چه د نمر ډوبیدو نه واخله تر ماسخوتن مانځه یا دیته نزدے وخته پورے په کنارو کښے وی. [سبل السلام].

خلیل وائی : شفق هغه سوروالی ته وائی چه د نمر ډوبیدو نه تر ماسخوتنه پورے وی. کله چه دا ختم شی نو دیته شفق غائبیدل وائی.

فراء وائی : ما د عربو نه واوریدل چه ویل ئے: په دۀ باندے داسے جامه ده ګویا دا شفق دے او هغه جامه سره وه.

او همدا د امام شافعیؒ، مالکؒ، احمدؒ، ابویوسفؒ او محمدؒ رائے ده. ملا علی قاریؒ فرمائی په همدے باندے فتویٰ ده.

علامه خصفکیؒ وائی : شفق سوروالی ته وائی، او همدا د درے واړو امامانوؒ وینا ده، او دیته امام ابوحنیفهؒ رجوع هم کړے، نو همدا اوس مذهب دے. صدر الشریعهؒ وائی په همدے باندے فتویٰ ده. په (مواهب) کښے وائی : په همدے فتویٰ ده او همدیته ئے په البرهان کښے هم ترجیح ورکړے.

[انظر المرعاة للمبارکفوریؒ : ۲/۲۸٦، الدر المختار : ۱/۲٤۱].

او علامه ابن خزیمهؒ دیته ترجیح ورکړے چه شفق بیاض (سپین والی ته) وائی، او دا

خبره ئې ددې حدیث نه معلومه کړې چه: [وَيُصَلِّي الْعِشَاءَ حِينَ يَسْوَدُّ الْأُفُقُ] (او ماسخوتن به ئې هله کولو چه د آسمان کناره به توره شوه) هغه وائي: ددې نه معلومه شوه چه شفق بياض ته وائي نهٔ سور والي ته، ځکه تور والے د کنارے د آسمان د هغه سپين والي نه روسته راځي چه هغه د سور والي نه پس وي. ځکه چه سوروالے پريوځي نو د هغې نه پس سپين والے پاتے وي، بيا سپين والے ختم شي او کناره توره شي.

[صحيح ابن خزيمة: ۱/۱۸۱].

دارنګه ددهٔ بل دليل هغه حديث دے چه په هغې کښے راغلي چه: (آخرنے وخت د ماښام هغه وخت دے چه کله شفق غائب شي، او اولنے وخت د ماسخوتن هغه دے چه کله کناره غائبه شي). [ترمذی: ۱/۴۰].

او کناره غائبيدل دليل دے چه شفق نه مراد بياض دے، ځکه کناره هله ډوبيږي چه بياض غائب شي.

علامه ابن حزمؒ هم ديته ترجيح ورکړے چه د شفق نه مراد سور والے دے، او د سپينوالي غائبيدو نه مخکښے هم د ماسخوتن وخت داخل وي. [المحلى: ۲/۲۲۵].

○ او د ماښام او ماسخوتن ترمينځه څومره وخت وي؟

نو ددے تحديد نشته، تحديد ئې دادے چه شفق غائب شي. او په هغه ملکونو کښے چه هغه د خطِ استواء د لاندے وي په هغې کښے پنځه څلويښت (۴۵) منټه د سور شفق وي، او اووۀ پنځوس (۵۷) منټه د سپين شفق وي. خو دا هم په درميانه ورځو کښے.

او هغه ملکونه او منطقے چه هغه ددے نه سيوا وي نو د هغې دپاره تحديد نشته. بلکه مؤذنينو او مونځ ګذارو له پکار دي چه دوئ آسمان ته وګوري او کله چه د دوئ د نظرونو نه سور شفق غائب شي، نو دوئ له د ماسخوتن مونځ کول جائز دي، اوکه د سپين شفق غائبيدو پورے دوئ د ماسخوتن مونځ روستو کړي، نو دا به ښهٔ وي.

ماسخوتن مانځه نه پس د خبرو اترو حکم

۴۸۵ – **سوال**: ماسخوتن مانځه نه پس قيصه ګوئي اوخبرے اترے کول جائز دي که نه؟

جواب: د ماسخوتن مونځ په تاخير سره کولو کښے حکمت دادے چه په دے سره د

ماسخوتن نه پس قیصه ګوئی او خبرے اترے ختمیږی۔ ځکه ددے نه په ډاګه منع راغلے۔ ابوبرزه اسلمی رضی الله عنه نه روایت دے چه: [وَكَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيثَ بَعْدَهَا] وَفِي رِوَايَةٍ: [وَلَا يُحِبُّ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيثَ بَعْدَهَا] (نبی صلی الله علیه وسلم به د ماسخوتن مانځه نه مخکښے خوب کول او ددے نه روستـه خبرے اترے کول بدے ګنړل۔ او بل روایت کښے دی: ددے نه مخکښے خوب او ددے نه روستو خبرے به ئے نهٔ خوښولے)۔

[بخاری: ۲۲/۱، مشكاة: ۶۰/۱].

په مسند احمد کښے د شداد بن اوس رضی الله عنه نه روایت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (چا چه د ماسخوتن مانځه نه پس د شعرونو یو بیت جوړ کړو، نو ددهٔ د دغه شپے مونځ به قبول نشی)۔

[مسند احمد: ۱۲۵/۴، بزار، طبرانی، مرقاة: ۱۲۸/۲].

البته د ماسخوتن مونځ نه پس د مسافر، مونځ ګذار، او د علمی خبرو اترو او د کور والا سره د خبرو کولو اجازت راغلے۔ لکه په یو حدیث کښے دی: (قیصه ګوئی نشته مګر مونځ ګذار یا مسافر سره)۔[مسند احمد]

خو ددے په سند کښے مجهول (نامعلومه) راوی دے۔ [فتح الباری: ۱۷۳/۱].

امام بخاریؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی دی، دا فرمائی: (ما د خپلے ترور میمونه بنت حارث کره – چه د نبی صلی الله علیه وسلم بی بی ده – شپه تیره کړه او د نبی صلی الله علیه وسلم د شپے نمبر د هغے سره وو، نو هغهٔ د ماسخوتن مونځ وکړو او بیا خپل کور ته راغے او څلور رکعته ئے وکړل، بیا اودهٔ شو بیا پاسیدهٔ بیا ئے وویل: وړوکے هلك اودهٔ شو یا ددے پشان خبره ئے وکړه۔) په بل روایت کښے دی: (نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل کور والو سره یو ساعت خبرے اترے وکړے بیا اودهٔ شو)۔

دارنګ امام بخاریؒ باب تړلے: (د ماسخوتن مانځه نه پس د علمی خبرو اترو بیان)۔

دارنګه امام ترمذیؒ او نسائیؒ د عمر رضی الله عنه نه روایت کوی چه (نبی صلی الله علیه وسلم به د ابو بکر رضی الله عنه سره د مسلمانانو د کارونو په باره کښے د شپے خبرے اترے کولے)۔

[فتح الباری: ۱۷۲/۱].

اوحدیث کښے دی عمران بن حصین رضی الله عنه فرمائی: (نبی صلی الله علیه وسلم مونږ ته د بنی اسرائیلو نه د شپے په زیاتره برخه کښے خبرے اترے کولے، چه صرف مانځه ته به پاسیدهٔ)۔

[احمد: ۱۹۶/۳۳، ابوداود، وصححه ابن خزیمة].

او عمر بن خطاب رضی الله عنه د ابو موسیٰ رضی الله عنه سره په فقه کښې مذاکره کوله۔ نو ابو موسیٰ وویل : د مونځ وخت شو۔ نو عمر فاروق وفرمایل : زهٔ په مانځه کښې یم۔

[فتح الباری : ١/١٧٢].

او امام بخاریؒ باب قائم کړے چه (د ماسخوتن مانځه نه پس خبرے اترے مکروه دی) بیائے د ابو برزه اسلمی رضی الله عنه پورتنے حدیث ذکر کړے۔ بیا فرمائی : (په فقه او خیر کښې د ماسخوتن مانځه نه پس د خبرو اترو اجازت دے)۔ بیا ئے د انس رضی الله عنه حدیث ذکرکړے چه (نبی صلی الله علیه وسلم د شپے د یوے برخے تیریدو نه پس راغے او د مونځ کولو نه پس ئے وفرمایل : (خبردار! خلکو مونځ کړے دے او اودهٔ شول او تاسو همیشه په مانځه کښې وئ ترڅو چه تاسو د مانځه په انتظار ناست وئ)۔ بیا ئے د ابن عمر رضی الله عنه حدیث ذکر کړے چه (نبی صلی الله علیه وسلم د خپل ژوند په آخری دور کښې د ماسخوتن مونځ وکړو او کله ئے چه سلام واړولو نو وے فرمایل : (تاسو په خپله دے شپه باندے سوچ کړے ! نن ورځ چه کوم خلك په مخ د زمکه باندے ژوندی دی، د سلو کالو په سر باندے به د دوئ نه یو کس هم پاتے نهٔ وی)۔

بیا امام بخاریؒ فرمائی : (کور والا او میلمه سره د ماسخوتن مانځه نه پس د خبرو اترو بیان)۔او په دے باره کښې ئے د عبد الرحمن بن ابی بکر i حدیث ذکر کړے چه ددهٔ پلار څه میلمانهٔ راوستل او خپله لاړ او د ماسخوتن مانځه نه پس ئے د نبی صلی الله علیه وسلم سره خبرے اترے کولے۔ بیا راغے او عبد الرحمن او میلمنو ته غصه وو او قسم ئے وکړو چه خوراك به نهٔ کوی بیا ئے د خپل قسم کفاره ورکړه او د میلمنو سره ئے خوراك څکاك او خبرے اترے وکړے)۔

[صحیح بخاری : ١/٧٤، ٨٤].

نو دے حدیثونو نه معلومه شوه چه د ماسخوتن مونځ نه پس د مسافر سره خبرے اترے کول جائز دی دارنګه مونځ کونکی دپاره او د کور والو سره او علمی خبرے اترے کول جائز دی۔ دارنګه د مسلمانانو په اجتماعی کارونو کښې خبرے اترے کول جائز دی۔ او بے فائدے ګپ شپ لړول او بے ځایه قیصے قطارے کول جائز نهٔ دی۔ او نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : (د سړی ښائسته اسلام دادے چه غیر مناسب کارونه پریدی)۔ [ترمذی : ١/٤٢].

نمر راختو نه فورًا پس د مونځ کولو حکم

٤٨٦ – **سوال** : نمر راختو نه پس نزدے وخت کښے مونځ کول جائز دی که نه ؟

جواب : مونځ په دوه قسمه دے۔ فرض مونځ۔ او نفل مونځ۔

١ – فرض مونځ کول د نمر راختو په وخت او د راختو نه پس دواړو وختونو کښے مکروه نۀ دے، بلکه کله هم چه رابيدار شی نو په همدغه وخت کښے به مونځ کوی۔نبی ﷺ فرمايلی دی : (چانه چه مونځ هير شو يا ترے اودۀ شو نو ددے کفاره داده چه يادیدو سره سَم ئے وکړی)۔ په بل حديث کښے دی : (په خوب کښے کوتاهی نشته، کوتاهی خو په ويښه ده، نو کله چه په تاسو کښے د چانه مونځ هير شی او ياترے اودۀ شی نو يادیدو سره سَم دے هغه وکړی، ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِىْ ﴾.

(او مونځ زما د رايادیدو په وخت کوه)۔ [مشكاة : ١/٦١].

نو دا او ددے پشان حديثونه په دے خبره دليل دی چه فرض مونځ د نهی د اوقاتو نه مستثنیٰ دے، لکه ددے بيان راروان دے۔

٢ – او هر چه نفل دی : نو دا جائز نۀ دی تر څو چه ښۀ نمر راوخيژی او نمر د يوے نيزے برابر راوچت شی، او يا ورته انسان په اوږدۀ نظر سره نشی کتلے مگر په ډير تکليف سره۔ او دا حالت هله پيدا کيږی چه د نمر راختو لس (١٠) منټه وشی۔

اوپه دے باندے دليل حديث د عمرو بن عبسه رضي الله عنه دے، دا فرمائی: ما عرض وکړو، ما د مانځه په باره کښے خبر کړه۔ وے فرمايل : (د سهار مونځ وکړه بيا چه کله نمر راخيژی نو د مانځه نه بند شه ځکه دا د شيطان د دوه ښکرونو تر مينځه راخيژی او په دے وخت کښے ورته کافران سجده کوی)۔

[صحيح مسلم :١/٢٧٦، مشكاة : ١/٩٤].

او د ابو سعيد خدری رضي الله عنه په حديث کښے دی، رسول الله ﷺ وفرمايل : (د سهار د مانځه نه پس هيڅ مونځ نشته تردے چه نمر را وچت شی)۔

[بخاری، مسلم].

او د ابن عمر رضي الله عنه په حديث کښے دی : (کله چه نمر څړيکه ووهی نو تاسو مونځ روسته

کړئ تردے چه هغه راوچت شی، اوکله چه د نمر ځړیکه غائبه شی نو تاسو مونځ روسته کړئ تردے چه هغه ډوب شی)۔
[صحیح بخاری : ۱/۸۲].

د نمر ډوبیدو نښے نښانے

٤٨٧ – **سوال** : د نمر ډوبیدو نښے نښانے څه دی ؟ بعضے خلك چه کله په مشرقی کناره کښے تور والے ووینی نووائی : د ماښام وخت داخل شو۔ او د روژه ماتی وخت شو۔ نو دا خبره څۀ حقیقت لری ؟

جواب : د عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : [إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هٰهُنَا وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هٰهُنَا وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ].

(څۀ وخت چه شپه ددے مشرق د طرفه رامخامخ شی او ورځ ددے مغرب د طرفه پشا شی او نمر ډوب شی نو بیشکه چه اوس د روژه ماتی وخت شو)۔
[بخاری : ۱/۲۶۲، مسلم : ۱/۳۵۱، مشکاة : ۱/۱۷۵].

نو په دے حدیث کښے درے خبرے ذکر شوی، اودا په اصل کښے د یو بل سره لازمے دی اګرکه په ظاهر کښے د یو بل سره لازمے نۀ ښکاری، هغه دا چه کله په شپه باندے دا ګمان کیږی چه د مشرق د طرفه راوخته او هغه په حقیقت کښے نۀ وی راختلی بلکه یو داسے شے راغلے وی چه د هغے په وجه ئے د نمر رڼړا پټه کړے وی، دغه شان د ورځے پشا کیدل هم دی۔ نو دے وجے نه په دغه پورتنی حدیث کښے دا الفاظ ذکر شول چه (نمر ډوب شی) دا د شپے د راتلو او د ورځے د پشا کیدو تحقیق ته اشاره ده۔ او دا دواړه د نمر د ډوبیدو په وجه راځی۔ نۀ په بل سبب سره۔
[مرعاة : ٦/٤٥٦، فتح الباری].

نو ددے درے واړو خبرو لحاظ پکار دے۔ خو دا هم جائز نۀ دی چه انسان د ماښام مونځ د ستورو په یو بل کښے ننوتو پورے روستو کړی، ځکه چه دا کار د یهودو دے۔

په حدیث کښے دی : رافع بن خدیج رضی الله عنه فرمائی : (مونږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ماښام مونځ وکړو بیابه چه واپس کیدو نو په مونږ کښے به یو کس د خپلو غشو د لګیدلو

ځیونه لیدل)۔

[بخاری، مسلم، مشکاة : ١/٦٠].

دے وجے نه د افراط او تفریط نه ځان ساتل پکار دی او میانه روئ سره چلیدل پکار دی۔

واللّٰه أعلم.

د ماسپخین په حقله د اِبرَاد او د تعجیل د احادیثو ترمینځه تطبیق

٤٨٨ - **سوال** : یو قِسم احادیثو کښے راځی چه رسول الله ﷺ اِبرَاد بِالظُّهر کولو (یعنی ماسپښین مونځ به ئے په اوړی کښے لږ تاخیر سره کولو) او د جابر رضی الله عنه په حدیث کښے دی : (رسول الله ﷺ به د ماسپښین مونځ په غرمه کښے کولو) یعنی په اول وخت کښے به ئے کولو۔

ددے دواړو حدیثونو ترمینځه څهٔ جوړښت او تطبیق دے ؟

جواب : نبی کریم ﷺ نه ثابته ده چه هغوئ په ابراد بالظهر (یعنی د ګرمئ په موسم کښے د ماسپښین مونځ په روستو کولو) باندے امر کړے۔

لکه عبد الله بن عمر رضی الله عنه وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : (کله چه ګرمی سخته شی نو تاسو د ماسپښین مونځ په یخوالی کښے اداء کوئ ځکه سخته ګرمی د جهنم د بړاس نه ده)۔ [بخاری : ١/٧٦، مشکاة : ١/٦٠].

او د ابو ذر رضی الله عنه نه روایت دے، دا وائی : (د نبی ﷺ مؤذن د ماسپښین اذان وکړو، نبی ﷺ ورته وفرمایل : مونځ یخ کړه مونځ یخ کړه یا ئے داسے وویل چه : انتظار وکړه انتظار وکړه ! او وے فرمایل : سخته ګرمی د جهنم د بړاس د وجے وی، نو کله چه ګرمی سخته شی نو تاسو د ماسپښین مونځ په یخوالی کښے کوئ، تردے چه مونږ د ډیرکوسورے ولیدهٔ)۔

[صحیح بخاری : ١/٧٦].

بیا فرمائی : په سفر کښے د ماسپښین مونځ د یخولو بیان۔

ابو ذر غفاری رضی الله عنه فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کښے وو نو مؤذن اراده وکړه چه ماسپښین مونځ دپاره اذان وکړی، نو نبی ﷺ ورته وفرمایل : لږ انتظار وکړه، بیا

هغهٔ اراده وکړه چه اذان وکړی نو ورته ئے وفرمایل : لږ انتظار وکړه، تردے چه مونږ د ډیرَکو سورے ولیدهٔ۔ نبی ﷺ وفرمایل : (بیشکه سخته ګرمی د جهنم د براس نه ده نو کله چه ګرمی سخته شی نو تاسو د ماسپښین مونځ روستو کړئ)۔

[صحیح بخاری : ١/٧٦].

نو دا حدیثونه ټول په ابراد بالظهر باندے په ډاګه دلالت کوی۔

او د نبی ﷺ نه دا هم ثابت دی چه هغوئ : (د ماسپښین مونځ په غرمو کښے کړے)۔

انس رضی الله عنه وائی :(مونږ به چه کله د نبی ﷺ پسے د غرمے مونځ کولو نو مونږ به د ګرمئ نه د ځان ساتلو دپاره په خپلو جامو سجده کوله)۔

[بخاری : ١/٥٦، مسلم : ١/٢٢٥، مشکاة : ١/٦٠].

نو دا او ددے پشان نور حدیثونه دلالت کوی چه اِبْرَاد بِالظُّهر نهٔ دے شوے بلکه د ماسپښین مونځ وختی په غرمه کښے شوے۔

نو ددے دواړو حدیثونو ترمینځه تطبیق دادے :

(١) علامه مبارکفوریؒ فرمائی : څوك چه (اِبْراد) ته رخصت وائی او وختی کولو ته عزیمت وائی نو بیا خو هیڅ اشکال نشته۔ او څوك چه اِبْرَاد ته سنت وائی نو هغه وائی: مونځ وختی کول رخصت دے او تاخیر سره کول ئے سنت دی۔او یا وائی چه په ګرمئ کښے وختی مونځ کول په اِبْراد بالظهر سره منسوخ شوی دی۔ او ددے تائید د مغیره بن شعبه رضی الله عنه په حدیث سره کیږی چه : (مونږ به د رسول الله ﷺ سره د ماسپښین مونځ په غرمو کښے کولو، نو مونږ ته ئے وفرمایل : تاسو د ماسپښین مونځ – په سخته ګرمئ کښے – ناوخته کوئ ځکه سخته ګرمی د جهنم براس دے)۔

[ابن ماجه وغیره، وصححه أبو حاتم وأحمد، المرعاة : ٢/٢٩٩].

علامه شوکانیؒ هم فرمائی : په ګرمئ کښے د ماسپښین مونځ د وختی کولو حدیث په تاخیر سره کولو باندے منسوخ شوے دے۔ اوکه بالفرض تاریخ نامعلومه وی نو بیا دا وایو چه د ابراد بالظهر حدیثونه ډیر زیات راجح دی ځکه چه دا په صحیحینو بلکه په ټولو بنیادی کتابونو د حدیث کښے په مختلفو سندونو راغلی، او د خباب (د وختی کولو) حدیث صرف په صحیح مسلم کښے راغلے۔ او په دے کښے شك نشته چه متفق علیه او

ګنړو سندونو والا حديث به په دے صورت کښے مقدم او راجح وي.

[نيل الاوطار : ٣٨٦/٢].

(٢) يا داسے ووايه چه : په کومو احاديثو کښے چه په (ابراد) باندے امر راغلے دا قولي دي. او په غرمو کښے چه نبي کريم ﷺ مونځ کړے نو دا فعلي دي. او د تعارض په وخت به قولي حديث په فعلي حديث باندے مقدم او راجح وي.

(٣) يا داسے ووايه چه : په سخته ګرمۍ کښے د ماسپښين مونځ وختي کول جائز دي، او تاخير سره کول ئے مستحب دي.

[عمدة القاري للعيني : ١١٦/٤].

٤ – امام ترمذيؒ د امام شافعيؒ نه ددے دواړو حديثونو ترمينځه د تطبيق په باره کښے دا نقل کړي دي چه هغه وائي : ابراد بالظهر په هغه وخت کښے دے چه کله خلك مسجد ته د لرے نه راځي. اوپاتے شو هغه کس چه ځانله مونځ کوي او يا د خپل قوم په نزدے مسجد کښے مونځ کوي، نو زۀ ورله دا خوښوم چه په سخته ګرمۍ کښے دے مونځ نۀ روستو کوي.

خو امام ترمذيؒ په امام شافعيؒ باندے رد کوي فرمائي چه : حق ته نزدے خبره داده چه په ګرمۍ کښے دے مطلقًا د ماسپښين مونځ په تاخير سره وکړے شي. او پاتے شو د امام شافعيؒ خبره چه د مونځ روستو کولو رخصت صرف د هغه خلکو دپاره دے چه جومات ته د لرے نه راځي او مشقت پورته کوي، نو دا خبره صحيح نۀ ده ځکه د ابو ذر ؓ په حديث کښے مخکښے تير شو چه دغه ټول ملګري په سفر کښے وو او په يو ځائے راجمع شوي وو مګر بيا هم نبي ﷺ د ماسپښين مونځ ابراد او تاخير سره وکړو.

[سنن الترمذي : ٤٠/١].

علامه ابن حزمؒ فرمائي : ټول مونځونه په خپل اول وخت کښے کول په هر حالت کښے افضل دي. سيوا د ماسخوتن مانځه نه چه په هر حال کښے ددے روستو کول افضل دي، که چرے خلکو ته تکليف نۀ جوړيدۀ. اوکه جوړيدو نو بيا هغوئ سره نرمي کول بهتر دي. او سيوا د ماسپښين مونځ نه چه خاص په سخته ګرمۍ کښے خاص په جماعت سره اداء کيږي نو په دے کښے تاخير او ابراد کول افضل دي.

بيا فرمائي : په دے باندے دليل دا آيتِ کريمه دے : ﴿ وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ﴾ (او د

خپل رب ښښنے ته تادي وکړئ) نو خیر او ښیګړے ته جلتي اوتادي کول په دے قرآني نص سره افضل دي۔ او په حدیث کښے دي: (په اول وخت کښے مونځ کول افضل دي)۔

بیافرمائي: په ابراد بانددے چه کوم امر راغلے هغه د استحباب دپاره دے او دلیل په دے باندے د خباب رضي الله عنه حدیث دے چه هغه وائي: (مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د کانړو د ګرمیدو شکایت وکړو، نو هغوئ زمونږ شکایت ختم نهٔ کړو (یائے مونږ شکایت ته محتاج نهٔ کړو)۔ زهیر رحمه الله وائي: ما ابو اسحاق رحمه الله ته وویل: شکایت د ماسپښین مونځ په جلتۍ سره د کولو باره کښے وو؟ وے فرمایل: هو!)۔

[المحلی: ٢/٢١٤].

ماښام او ماسخوتن ترمینځه وخت

٤٨٩ – **سوال**: د ماښام او ماسخوتن ترمینځه څومره وخت وی؟

جواب: دا مسئله مخکښے تیره شوه۔ چه د علماؤ په دے کښے اختلاف دے چه د ماښام وخت په سور شفق پریوتو سره ختمیږی اوکه په سپین شفق سره؟

نو جمهور اهلِ علم وائي: په سور شفق سره ختمیږی۔ لکه د ابن عمر رضي الله عنه وینا مخکښے تیره شوه چه (شفق سور والی ته وائي)۔ او امام مالك هم دا تفسیر کړے۔

[بیهقی: ١/٣٧٣].

جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روایت دے چه یو سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د مونځونو د وختونو پوښتنه وکړه۔ او په دغه حدیث کښے دي: (بیا ئے د ماښام اذان وکړو هر کله چه نمر ډوب شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته امر وکړو او د مانځه اقامت ئے وکړو او نبی صلی الله علیه وسلم مونځ وکړو، بیا ئے د ماسخوتن دپاره اذان وکړو هر کله چه د ورځے بیاض چه شفق دے ختم شو)۔

[الطبراني فی الأوسط، مجمع الزوائد: ١/٣٠٤].

هیثمي رحمه الله فرمائي: ددے حدیث سند حسن دے۔ او په دے کښے چه د شفق کوم تفسیر راغلے دا د بعضِ راویانو له طرفه دے، د نبی صلی الله علیه وسلم له طرفه نهٔ دے۔ لکه بل روایت کښے دي چه صحابه وائي: (او دا زمونږ په خیال شفق دے)۔

زمخشري وائي: شفق د نمر ډوبیدو نه پس د ماښام په وخت په کنارو کښے ښکاره

کیدونکے سُرخۍ ته وائی، چه ددے په غورزیدو سره د عامو علماؤ په نیز د ماښام وخت وځی او د ماسخوتن وخت داخلیږی، او همدا د امام ابوحنیفهؒ یو قول هم دے، او همدے قول طرفته هغهٔ رجوع کړے۔

[كشاف : ٤/٢٣٥، سورة الإنشقاق].

مکحول رحمه الله فرمائی : عبادة بن صامت او شداد بن اوس i به ماسخوتن مونځ د سُرخۍ ډوبیدو نه پس کولو۔

[مصنف عبد الرزاق : ١/٥٥٦، ابن ابی شیبه : ١/٣٣٣].

تفسیر ابن کثیر کښے هم راغلی چه شفق سُرخۍ ته وائی او دا د اهلِ لغت په نیز معروف دے او د خلیل وغیره قول هم دے۔

[تفسير ابن كثير : ٤/٤٨٩].

او ددے سور شفق ډوبیدل د ځایونو او زمانو په لحاظ سره بدلیدلے شی۔

راجحه داده چه : د ماښام نه یوه نیمه ګینټه یا دیته نزدے د ماسخوتن دپاره اذان وکړے شی۔ اوکه یوه ګینټه روسته ئے اذان وکړو نو هم جائز دی۔ ځکه سور شفق په همدے وخت کښے ډوبیږی۔

[فتاوى دار العلوم ديوبند :٢/٥٤].

خو احتیاط او افضلیت دادے چه تاخیر سره وکړے شی ځکه په ګڼړو حدیثونو کښے راغلی چه ماسخوتن مونځ تر دریمے برخے شپے پورے روستو کول بهتر دی۔ او د ماښام په باره کښے په ګڼړو حدیثونو کښے مخکښے اداء کول راغلی دی۔

او سور شفق د ماښام نه (٤٥) منټه روسته په خطِ استواء کښے۔ او سپین شفق (٥٧) منټه روسته ډوبیږی۔

[انظر أحسن الفتاوى : ٢/١٤٦].

OOOOOO

باب قضاء الفوائت

د فوت شوو مونځونو د قضائی راوړو بیان

که سهار مونځ فوت شی نو کله به ئے قضائی راوړی ؟ او د ترتیب ساقطیدو بیان

٤۹۰ – **سوال** : یو سړی نه سهار یا ماسپخین مونځ فوت شو نودده قضائی به کله راوړی ؟ او ترتیب په څۀ سره ساقطیږی ؟

جواب : هیڅ له جائز نۀ دی چه فرض مونځ قصدًا پریدی، ځکه قصدًا مونځ پریښودل کفر دے لکه مخکښے تیر شو. خو که د چانه مونځ هیر شی یا ترے اودۀ پاتے شی نو په دۀ بانده لازم دی چه کله ورته رایاد شی یا کله رابیدار شی نو همغه وخت به ئے کوی، د بل هیڅ شئ انتظار به نۀ کوی. برابره خبره ده که دغه وخت مکروه وخت وی او که نۀ وی نو په همدغه وخت به ئے کوی هر کله چه په دے بانده قادر نۀ وی. ځکه نبی اکرم ﷺ فرمایلی دی : (چانه چه مونځ هیر شی یا ترے اودۀ پاتے شی نو ددے کفاره داده چه یادیدو سره دے هغه وکړی) بل روایت کښے دی : (ددے بس هم دایوه کفاره ده). بل روایت کښے دی : (کله چه په تاسو کښے د چانه مونځ هیر شی یا ترے اودۀ شی نو هغه دے یادیدو سره وکړی، ځکه الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿ اَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِىْ ﴾.

(زما د یادیدو په وخت مونځ کوه).

[بخاری : ۱/۸٤، مسلم : ۱/۲٤۱، ترمذی : ۳۸٦، ابن ماجه : ۱۱۸۸، مشکاة : ۱/٦۱].

نو ددے حدیث د عموم نه معلومیږی چه کوم مونځ د هیرے او خوب په وخت پریښودل شوے وی، نو کوم وخت چه په دے بانده قادر شی په همغه وخت به د هغے قضاء راوړی، برابره خبره ده که د مازیګر نه پس وی او که د هغے نه مخکښے وی، د هغے بس همدا وخت دے.

او چانه چه ګنړ مونځونه فوت شوی وی نو د هغے قضائی به په ترتیب سره راوړی. لکه

څنګه چه رسول الله ﷺ اول دماسپښین مانځه قضائی راوړله بیا د مازیګر او بیا د ماښام۔

[نصب الراية : ٢/١٦٢].

علامه شوکانیؒ فرمائی : په ذکر شوی حدیث کښې دلیل دے چه د فوتی مونځونو قضائی به فورًا راوړی، او ددے قضائی په مکروه او غیر مکروه دواړو وختونو کښې راوړلے شی۔ [نیل الأوطار : ٢/٤].

○ **او ترتیب د فوتی او وقتی مونځونو ترمینځه په راتلونکو کارونو کښې په یو کار سره ساقطیږی :**

اول : **په هیرے سره۔ لکه چه په دے باندے پورتنے حدیث دلالت کوی۔ نو که پریښودل شوے مونځ چاته د مازیګر نه پس راياد شو مثلًا نو هغهٔ له پکار دی چه د هغے قضائی راوړی، ځکه همدا ئے وخت دے۔**

دویم : **په جماعت ودریدو سره : ځکه نبی ﷺ فرمائی :** [إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ] **(کله چه فرض مونځ دپاره اقامت وکړے شی نو ددے فرض مونځ نه سیوا بل هیڅ یو مونځ نهٔ کیږی)۔ په بل روایت کښې دی :** [إِلَّا الَّتِي أُقِيمَتْ لَهَا] **(سیوا د هغه مونځ نه چه د هغے دپاره اقامت شوے دے)۔** [صحیح مسلم].

دریم : **د وقتی مونځ وخت تنګیدل : امام احمدؒ د هغه چا په باره کښې فرمائی چه هغهٔ ته د وقتی مونځ په آخر کښې فوتی مونځ راياد شی لکه د ماسخوتن مونځ ورته د سهار د مانځه په آخری وخت کښې راياد شی نو هغه فرمائی : سهار مونځ به کوی او دواړه مونځونه به نهٔ بربادوی۔**

[الجوهر النقی : ٢/٢٢٢].

○ **او د احنافو دا خبره چه ترتیب په دے سره هم ساقطیږی چه د فوتی مونځونو شماره شپږو ته ورسیږی، نو دا محض رائے او قیاس دے، ددے هیڅ شرعی دلیل نشته۔**

دغه شان د دوئ دا خبره چه څوك فوتی مونځ د وقتی مونځ نه پس وکړی نو دا په فسادِ موقوفه سره فاسدیږی تردے چه د شپږو مونځونو وخت تیر شی نو دا ټول به صحیح شی، په دے باندے هم هیڅ دلیل نشته، نو دے له هیڅ اعتبار نشته۔

او د ابن عمر رضي الله عنه په کوم حدیث کښې چه راغلي دي : (چانه چه مونځ هیر شي او هغه ورته هغه وخت رایاد شي چه هغه د امام سره وي نو هغه دې مونځ پوره کړي او کله چه د خپل مانځه نه فارغ شي نو په دهٔ باندې لازم دي چه هیر کړې مونځ وکړي بیا دې هغه مونځ دوباره وکړي کوم ئې چه د امام سره کړې دې).

[بیهقی : ۲/۲۲۱، نصب الرایة :۲/۱٦۲].

نو دا حدیث ضعیف دې. په دې کښې ابو ابراهیم ددې په مرفوع ګرځولو کښې خطا شوې دې. لکه دا خبره امام دارقطنیؒ کړې. او امام بیهقیؒ دې اعادې ته مستحب ویلي. امام زیلعیؒ په دې مضمون باندې احادیث ذکرکړي او هغه ئې ضعیف ګرځولي.

[نصب الرایة : ۲/۱٦۳].

دې وجې نه امام سره ئې چه کوم مونځ کړې دې د هغې اعاده لازمه نهٔ ده، بلکه په جماعت سره ترتیب ساقطیږي.

که چا قصدًا مونځ پریښوده نو ددې قضائی به راوړي اوکه نه ؟

٤۹۱ – **سوال** : چا چه قصدًا مونځ پریښودهٔ، بیا ئې توبه وښکله نو آیا په دهٔ باندې د پریښودل شوو مونځونو قضائی راوړل لازم دي اوکه نه ؟

جواب : ۱ – په دې باره کښې یو **قول** د جمهور علماء او څلور واړه امامانو دې دویٔ وائي: په قصدًا مونځ پریښودونکي باندې قضائی راوړل واجب دي. او په دلیل کښې دا حدیث پیش کوي چه :

[مَنْ نَسِيَ صَلَاةً أَوْ نَامَ عَنْهَا فَكَفَّارَتُهَا أَنْ يُّصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا].

(چانه چه مونځ هیر شو یا ترې اودهٔ پاتې شو، نو ددې کفاره داده چه کله ورته رایاد شي نو هغه دې وکړي).

[صحیح بخاری، صحیح مسلم].

○ دویٔ وائي : هر کله چه په اودهٔ او هیر شوي کس باندې قضائی راوړل واجب دي، حالانکه دا په قضائی راوړلو کښې معذور دي، نو په قصدًا پریښودونکي باندې به قضائی راوړل ولې واجب نهٔ وي، په داسې حال کښې چه دا په مانځه روستو کولو کښې معذور نهٔ

دے۔ دے وجے نه په دۀ باندے به په طریقه اولیٰ سره قضائی راوړل واجب وی۔
○ دارنګ دوئ وائی : څوك چه قصدًا روژه ماته کړی، په دۀ باندے قضائی راوړل واجب دی، نو دغه شان قصدًا پریښودلے مونځ هم دے۔ بلکه د مانځه قضائی راوړل زیات ضروری دی ځکه دا په هیڅ حالت کښے نۀ ساقطیږی او روژه خو لا په ځینے اوقاتو کښے ساقطیږی۔
○ دارنګ په حدیث کښے ثابت دی چه : (د الله قرض ډیر لائق دے چه پوره کړے شی)۔ او دا حدیث په خپل عموم سره مانځه ته هم شامل دے۔
دویم قول : د ابن حزمؒ، داوُدؒ، شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، ابن قیمؒ او علامه شوکانیؒ وغیره دے۔ دوئ وائی : په قصدًا مونځ پریښودونکی باندے قضائی واجبه نۀ ده۔
دوئ هم پورتنے حدیث په دلیل کښے پیش کوی : (چانه چه مونځ هیر شو)۔ فرمائی : دلته د مانځه د قضائی راوړو دپاره هیره شرط کړے شوے ده، نو په چا کښے چه هیره نۀ وی بلکه قصدًا ئے مونځ پریښے وی، نو هغۀ باندے قضائی نشته، ځکه په انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځی۔ نو معلومه شوه چه چانه مونځ هیر شوے نۀ وی، دابه مونځ نۀ کوی۔
○ بل دلیل دا پیش کوی چه : په قرآن او سنت کښے دا نص نشته چه په قصدًا مونځ پریښودونکی دے قضائی راوړل واجب وګرځوی۔
په دے باره کښے شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله په (کتاب الصلاة) کښے یو اوږد بحث لیکلے، او د مناظرے په توګه ئے ترتیب ورکړے۔ مونږ د هغے خلاصه پیش کوو۔
مسئله : څوك چه قصدًا مونځ پریدی تردے چه د هغے وخت ووځی، نو په دے کښے اختلاف دے چه دا کس که ددے قضائی راوړی نو دا قضائی ورله نفع ورکوی او ددۀ نه قبلیږی ؟ اوکه نه دا قضائی ورله هیڅ نفع نۀ ورکوی او ددے هیڅ تدارك ممکن نۀ دے ؟
اول قول : د امام ابوحنیفهؒ، شافعیؒ، مالكؒ او احمدؒ دے۔ دوئ وائی : په دے کس باندے ددے قصدًا پریښی مانځه قضائی راوړل واجب دی، خو په دے قضائی راوړو سره ددۀ نه د مونځ فوت کولو ګناه نۀ ختمیږی، بلکه دا کس د عذاب مستحق دے، تر څو چه ورته الله عفوه نۀ وی کړی۔

دويم قول : د سلفوؒ او خلفوؒ د يوے ډلے دے۔ دوئ فرمائی : څوك چه په غير د عذر نه قصدًا مونځ پريدی تردے چه د هغے وخت ووځی، نو ددے هيڅ تدارك نۀ كيږی او ددے په قضائی راوړو باندے دا كس هيڅ كله قادر نۀ دے، اوكه قضائی راوړی نو قبليږی ترے نۀ۔
بيا په دے كښے اختلاف نشته چه رشتينے او خالصه توبه دے كس له نفع وركوی۔ اختلاف په دے كښے دے چه آيا ددے كس د توبے پوره والی دپاره په دۀ دا لازمه ده چه كوم مونځونه ئے قصدًا پريښی دی، د هغے قضائی به راوړی او د قضائی راوړو نه بغير ددۀ توبه صحيح نۀ ده ؟ اوكه نه توبه په قضائی راوړو پورے موقوفه نۀ ده، بلكه په آينده كښے به ددے مونځونو پابندی كوی او ډير ډير نوافل به كوی، او د تيرو مونځونو تدارك ددۀ دپاره ممكن نۀ دے۔ نو دا د اختلاف **نقطه** ده۔
اوس مونږ د دواړو ډلو دلائل ذكر كوو :

د قضائی نه راوړونكو دلائل :

١ – **اول دليل** : د الله تعالیٰ اوامر دوه قِسمه دی : (١) يو هغه دی چه د يو ټاكلی وخت پورے تړل شوے نۀ وی۔ نو دا په هر وخت كښے ادا كيدلے شی۔ (٢) بل هغه دی چه يو خاص وخت پورے تړل شوی وی۔ دا بيا په دوه قِسمه دی : يو هغه امر دے چه په ټول وخت كښے كيږی، لكه روژه۔ دويم هغه دے چه د وخت په ځينے برخه كښے كيږی، لكه مونځ۔ نو ددے دويم قِسم په باره كښے خبره داده چه دابه هله عبادت وی كله چه په هغه وخت كښے وكړے شی د كوم په باره كښے چه امر راغلے۔ ځكه دا عبادت هله گرځی چه په همدے صفت باندے وكړے شی۔ دے وجے نه كله چه انسان په خپل وخت كښے مونځ ونۀ كړو، تردے چه وخت ئے فوت شو، نو د وخت نه روسته ئے ادا كول شرعی ادا كول نۀ دی۔ ددے مثال داسے دے لكه د جُمعے مونځ د خپل وخت وتلو نه پس نۀ كيږی۔ دارنگ په عرفات كښے وقوف په خپل وخت كښے كيږی، كه وخت ئے فوت شو، نو وقوف صحيح نۀ دے۔ نو لكه څنگه چه د خالی په ورځ د جُمعے مونځ نۀ كيږی، په لسمه ورځ د عرفات وقوف نۀ كيږی او حج د خپلو مياشتو نه سيوا په نورو مياشتو كښے نۀ كيږی۔ نو دا شان چه د مونځونو خپل وخت ختم شو، نو په بل وخت كښے نۀ كيږی۔
البته كوم كس چه د مونځ نه اودۀ پاتے شوے وی، يا ئے مونځ هير شوے وی يا بيخوده

شوے وی، نو دا خلك معذوره دی، کله چه د دوئ عذر ختم شو نو په نص او په اجماع سره ثابته ده چه دوئ به ددے مونځونو قضاء راوړی۔

دا شان د رمضان روژه ده، چه د سفر، مرض او د حیض د عذر په وجه ددے قضائی راوړل الله تعالیٰ مشروع کړی دی۔ دارنګ رسول الله ﷺ د هغه دوو مونځونو جمع کول هم مشروع کړی دی د کومو چه وخت شریك وی، لکه ماسپخین او زمایګر۔ او ماښام او ماسخوتن۔ د سفر، مرض د عذر په وجه یا د یو داسے کار د وجے چه د هغے په وجه جمع بین الصلاتین جائز وی۔ نو ددے کسانو دپاره یو مونځ بل مانځه ته روسته کول جائز دی۔ او د دوئ نه سیوا د نورو دپاره جائز نۀ دی۔ بلکه دا کبیره ګناه ده۔ لکه عمر رضی الله عنه فرمائی : (په غیر د عذر نه جمع بین الصلاتین کول کبیره ګناه ده)۔

پاتے شو هغه څوك چه د ورځے مونځ شپے ته روستو کړی او د شپے ئے کوی، یا د شپے مونځ ورځے ته روستو کړی او د ورځے ئے کوی، نو دا یو داسے کار دے چه الله نۀ دے مشروع کړے، دے وجے نه دا صحیح او مقبول نۀ دے۔

(٢) رسول الله ﷺ فرمایلی دی : (څوك چه د مازیګر مونځ پریدی، ددۀ عمل برباد شو)۔ او فرمائی : (چانه چه د مازیګر مونځ فوت شو، ګویا ددۀ نه مال او اهل واخستے شو)۔ نو که چرے د مازیګر د مانځه تدارك د شپے کول ممکن وے، نو بیا ددۀ عمل ولے بربادیږی او ددۀ نه مال او اهل ولے اخستل کیږی ؟

(٣) نبی اکرم ﷺ فرمائی : (څوك چه د نمر ډوبیدو نه وړاندے د مازیګر د مانځه نه یو رکعت رالاندے کړی، نو دۀ د مازیګر مونځ رالاندے کړو)۔ او دا شان ئے په سهار کښے هم فرمایلی دی۔

نو که د ماښام په وخت د مازیګر مونځ یا د نمر ختلو نه پس د سهار مونځ کول په هر صورت کښے صحیح شی نو بیا خو دا کس دغه مونځونه رالاندے کونکے دے۔ برابره خبره ده که یو رکعت ئے رالاندے کړے وی اوکه ددے نه کم، اوکه بیخی ئے رالاندے کړے نۀ وی۔ بیا خو د قضائی واجب ګڼړونکو په نیز ددے حدیث هیڅ معنیٰ نۀ جوړیږی۔

(٤) الله تعالیٰ د هر مانځه دپاره یو خاص مقرر – اول او آخر – وخت ټاکلے۔ چه ددے وخت نه نۀ مخکښے مونځ کول جائز دی اونۀ روسته۔ نو که وخت له اعتبار ورنۀ کړے شی نو بیا

خو د وخت نه مخکښې مونځ کول دے هم جائز شي، لکه څنګه چه دوئ د روستو کولو د جواز قائل دي. نو په دے دواړو کوتاهيو کښې څۀ فرق دے ؟ يو سړی کوتاهي وکړه او مونځ ئے مخکښې وکړو، بل سړی کوتاهي وکړه او مونځ ئے روستو وکړو، دا څۀ وجه ده چه د يو کس نه مونځ قبليږی اود بل نه نۀ قبليږی ؟ حالانکه د الله د حدودو نه دواړو زياتے او تيرے کړے !

(٥) په وخت کښې دننه مونځ کول په هر حالت کښې ضروری دي، تردے چه ددے وخت د وجے نه به ټول واجبات او شروط پريښودلے شي. مثلاً يو سړے په وخت کښې دننه په اوداسۀ، استقبالِ قبله، جامے او بدن پاکولو، عورت پټولو، سورت فاتحے لوستلو، يا قيام کولو باندے قادر نۀ دے. او د وخت وتلو نه پس په دے شيانو باندے ددۀ قدرت راتلل ممکن وی. نو حکم دادے چه دے به په وخت کښې دننه د دغه واجباتو او شرطونو نه بغير مونځ کوی. او ددے حاصلولو دپاره به د وخت نه پس مونځ نۀ کوی. معلومه شوه چه د الله او رسول (ﷺ) په نيز وخت په ټولو واجباتو باندے مقدم او مخکښې دے.

نو که چرے د وخت وتلو نه پس د هغۀ دپاره قضائی راوړل ممکن وے، نو بيا خو د وخت نه پس د پوره شرطونو او واجباتو سره مونځ کول الله ته خوښ او بهتر وو. حالانکه دا په نص او په اجماع سره باطله خبره ده.

(٦) لکه څنګه چه د شپے روژه نۀ نيول کيږی، او د رمضان روژه بلے مياشتے ته نۀ روستو کيږی، او د حج د خپلو مياشتو نه سيوا په نورو مياشتو کښې حج نۀ کيږی، نو دغه شان مونځ هم د خپل وخت نه پس نۀ کيږی. صرف په هغه وخت کښې به کيږی کوم چه ورله مقرر شوے دے. الله تعالیٰ د هريو عبادت دپاره مکان، زمان او صفت مقرر کړے. هيڅ يو مکان، زمان اوصفت د بل په ځائے کار نۀ ورکوی. د عرفات، مزدلفے، مِنیٰ او جمراتو ويشتلو دپاره خپل خپل وختونه مقرر دی.

(٧) څوك چه مونځ د خپل وخت نه روستو کړی، نو په حديث او په اجماع سره ددۀ نه دا مونځ فوت شو. نبی ﷺ فرمائی : (چانه چه مازيګر مونځ فوت شو، ددۀ مال او اهل تباه شو).

که د وخت نه پس د مونځ قضاء راوړلے شوے نو بيابه ئے ديته فوت شوے نۀ ويلے، ځکه د

کوم شئ چه تدارك کیږی هغې ته فوت کیدونکے نهٔ ویل کیږی نهٔ لغةً او نهٔ شرعًا۔ او د امت په دے اتفاق دے چه څوك مونځ قصدًا پریږدی تردے چه د هغې وخت ووځی نو دا مونځ ددهٔ نه فوت شو۔ نو که چرے د وخت نه پس ددے قضائی راوړل صحیح وے نو بیا دیته فوت کیدونکے ویل لغوه او بیکاره وو۔

(۸) په جهاد کښے د دشمن مخامخ الله تعالیٰ مسلمانانو ته د صلاةِ خوف کولو امر کړے، چه په دے کښے به دوئ د مانځه ارکان کوتاه کوی، قبلے ته به په کښے شا کوی، د امام نه به مخکښے سلام اړوی، او نور ډیر کارونه به په کښے کوی، بلکه پیاده او د سورلئ دپاسه په هر حالت کښے به مونځ کوی اوکه ددے قدرت ئے هم نهٔ لرلو نو په خپل وخت کښے به اشارے سره د سورلئ دپاسه ہے قبلے مونځ کوی۔

ددے هر څهٔ نه معلومیږی چه مونځ د خپل وخت نه پس نهٔ قبلیږی۔ که چرے ددے عذر باوجود پس د وخت نه کول ئے درست وے نو د امن وخته پورے ددے مونځ روسته کول به جائز وے۔سره ددے چه دا د الله په لاره کښے عذر دے، د الله د دشمنانو سره د جنګ وخت دے، په دے وخت کښے مونځ روسته کول جائز نهٔ دی۔ نو دا مونځ به د هغه چانه څنګه قبول شی چه هغه د مؤذن اواز واوری او بنهٔ روغ جوړ وی او بیا هم مونځ پریدی تردے چه ددے وخت ووځی او بیا ئے د وخت نه پس کوی ؟

دارنګ د مریض دپاره هم د مونځ روسته کولو اجازت نشته، بلکه دهٔ ته امر دے چه د بیمارئ د وجے نه د رکوع او سجدے نه په غیر په اشارے سره په اړخ باندے پروت مونځ وکړی۔ که چرے په بل وخت کښے مونځ صحیح وے نو د روغتیا د زمانے پورے به مریض له مونځ روسته کول جائز وے۔

نو دا خبره چا کړے ؟ چه څوك د خپل وخت نه مونځ قصدًا روستو کړی تردے چه د هغې وخت ووځی دا مونځ الله قبلوی ؟ او ددهٔ ذمه په دے سره فارغیږی او د هغه چا پشان ثواب ئے کیږی چه څوك فریضه اداء کړی ؟ ددے هیڅ دلیل څوك نشی پیش کولے !!

(۹) ابو بکر صدیق رضی الله عنه عمر فاروق رضی الله عنه ته وفرمایل : زهٔ تاته وصیت کوم تهٔ هغه یاد لره : بیشکه د الله دپاره د ورځے داسے حق دے چه د شپے ئے نهٔ قبلوی، او د شپے ئے داسے حق دے چه د ورځے ئے نهٔ قبلوی۔ او هغه وخته پورے نفل نهٔ قبلوی ترڅو چه فرض نهٔ وی اداء شوے ......

او دا د ابو بکر، عمر، عبد الله بن عمر، سعد بن ابی وقاص، سلمان فارسی، عبد الله بن مسعود j قاسم بن محمد بن ابی بکر، بدیل العقیلی، محمد بن سیرین، مطرف بن عبد الله او عمر بن عبد العزیز – رحمهم الله – وینا ده۔

عبد الله بن خراش وائی : ابن عمر یو کس ولیدهٔ چه صحیفه ئے لوستله۔ وے فرمایل : دا دے څهٔ لولی ؟ خبره داده چه څوك په خپل وخت کښے مونځ نهٔ کوی، د هغهٔ هیڅ مونځ نشته۔ اول مونځ وکړه بیا چه دے څهٔ خوښه وی لوله ئے۔

(۱۰) عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وائی : بیشکه د مانځه دپاره د حج پشان وخت دے، نو تاسو په خپلو وختونو کښے مونځ کوئ۔

او حج خو د خپل وخت نه پس نهٔ کیږی، نو دا شان مونځ هم د خپل وخت نه پس نهٔ کیږی۔

بدیل عقیلی وائی : ماته دا خبره را رسیدلے ده چه یو بنده په خپل وخت مونځ وکړی نو هغه الله ته خیژی او د هغے نه په آسمان کښے نور خیژی او هغه وائی : الله دے ستا حفاظت وکړی تا زما حفاظت وکړو۔ او کله ئے چه بے وخته وکړی نو د زړے کپړے پشان راتاؤ شی او د هغهٔ مخ پرے وویشتلے شی۔

د قضائی راوړونکو دلائل :

په دے حقله حافظ ابو عمرو بن عبد البر ډیر تفصیل کړے، او په دے باره کښے هغه د ټولو نه ډیر پیش پیش دے۔ هغه په خپل کتاب (الاستذکار) کښے په [باب النوم عن الصلاة] کښے فرمائی :

۱ – ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے، رسول الله صلی الله علیه وسلم په سفر کښے وو نو د شپے په آخره برخه کښے د آرام کولو دپاره کوز شو۔ او چه سهار راپاسیدل نو نمر راختلے وو، نو بلال ته ئے امر وکړو، هغهٔ اذان وکړو، بیائے دوه رکعته وکړل۔ ابن عباس وائی : زهٔ دا خبره خوښه نهٔ ګنړم چه ددے مانځه په عوض کښے ماته دنیا او څهٔ چه په دنیا کښے دی، ملاؤ شی۔

ابوعمرو وائی : د ابن عباس رضی الله عنه ددے خوشحالئ وجه داده چه دے خپلو مبلغینو ملګرو ته دا ورښائی چه الله تعالیٰ اګرکه د خپلو بندګانو نه په خپل وخت کښے مونځ غواړی، خو څوك چه په خپل وخت کښے مونځ ونهٔ کړی نو هغه به ئے خامخا قضائی راوړی، هر کله

چه ورته یاد شي، برابره خبره ده که دا مونځ ترې هیر شوې وي یا ترې اودهٔ پاتې شوې وي او یائې قصدًا پریښې وي۔

۲ – په دې باندې دلیل بل حدیث دې، رسول الله ﷺ فرمائی : [مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا] (چانه چه مونځ هیر شو نو کله چه ورته رایاد شي هغه دې وکړي)۔ په دې حدیث کښې نسیان راغلې، او نسیان په عربئ ژبه کښې په دوه معنو راځي۔ (۱) یو شې هیریدل۔ (۲) یا یو شې قصدًا پریښودل۔ دلته دویمه معنیٰ مراد ده۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿نَسُوا اللهَ فَنَسِيَهُمْ﴾ (دوئ الله پریښوده، نو الله دوئ پریښودل)۔ یعني دوئ د الله طاعت او د هغهٔ د رسول (ﷺ) په راوړو شیانو باندې ایمان راوړل پریښودل، نو الله دوئ د خپل رحمت نه پریښودل۔ دلته د نسیان نه خامخا پریښودل مراد دي۔

سوال : په بل حدیث کښې دي : (څوك چه د مانځه نه اودهٔ پاتې شو، یا ترې مونځ هیر شو، نو یادیدو سره دې هغه وکړي)۔ په دې کښې خو خاص ددوه کسانو ذکر راغلې، د قصدًا پریښودونکي یادوونه په کښې نهٔ ده شوې۔

جواب : دا دواړه د وَهْم او ګمان ختمولو دپاره ذکر شوي ځکه ددې دواړو نه په هیره او خوب سره ګناه پورته شوې، نو ددې دواړو قضائي ئې دې دپاره ذکر کړه چه څوك دا ونهٔ وائي چه دې دواړو نه چونکه ګناه پورته شوې نو کیدې شي چه قضائي راوړل به ترې هم ساقط وي، نو په دې حدیث کښې دا بیان شو چه د ګناه د پورته کیدو په وجه ددې دواړو نه قضائي نهٔ ساقطیږي، بلکه د وخت وتو نه پس به دا دواړه قضائي راوړي هر کله چه ورته یاد شي۔ دې وجې نه په دې حدیث کښې د قصدًا پریښودونکي ذکر کولو ته حاجت نشته، ځکه په دهٔ کښې هغه علت او وجه نشته کومه چه په هغه مخکنو دواړو کښې وه، ځکه ددهٔ په هغه فریضه پریښودلو کښې هیڅ عذر نشته کومه چه په دهٔ باندې واجبه ده، په داسې حال کښې چه دهٔ ته یاده وي۔

۳ – الله د خپل رسول (ﷺ) په ژبه د رمضان د روژې او د مانځه ترمینځه مساوات راوستې، چه ددې دواړو قضائي به د خپل وخت وتلو نه پس راوړلې شي۔ د مانځه په باره کښې خو مخکښې تیر شو، او د روژې په باره کښې ئې د مریض او مسافر دپاره قضائي راوړل ضروري کړي دي۔

٤ - د ټول امت اجماع ده چه څوك قصدًا د رمضان د مياشتے روژه پريږدي، په داسے حال كښے چه ددے د فرضيت عقيده لري خو د كبر او د بد عملئ د وجے ئے پريدي او بيا روسته توبه وباسي، نو دابه ددے قضائي راوړي. نو دغه شان څوك چه قصدًا مونځ پريدي ددۀ حكم هم داسے دے، مونځ او روژه دواړه په دے حكم كښے برابر دي. عامد او ناسي دواړه يو حكم لري، اګركه په ګناه كښے په دے دواړو كښے فرق دے. لكه يو كس د چا په مال باندے قصدًا يا په هيره سره جنايت وكړي، نو دا د ګناه نه سيوا په جنايت كښے برابر دي.

البته په حج كښے د جمراتو ويشتل جدا حكم لري، چه د عامد او ناسي دواړو دپاره ددے قضائي نشته ځكه ددے نائب شته دے چه هغه وجوب د دم دے. دارنګ د ضحايا حكم هم ددے نه جدا دے ځكه هغه فرض نۀ دي. او مونځ او روژه خو دواړه فرض دي.

٥ - مونځ او روژه دواړه داسے فرض او د انسان په ذمه باندے واجب حقونه دي چه دابه خامخا اداء كولے شي اګركه ددے دواړو مقرر او ټاكلے وخت ووځي. رسول الله ﷺ فرمائي : [فَدَيْنُ اللّٰهِ أَحَقُّ أَنْ يُّقْضٰى] (د الله حق په اداء كولو باندے زيات لائق دے).

٦- د مانځه نه اودۀ كس يا مونځ لره هيرونكے كس - سره ددے چه دا دواړه معذوره دي - قضائي راوړي، نو قصدًا پريښودونكے به په طريقه اولىٰ سره ددے قضائي راوړي ځكه دا خو مجرم دے، ددۀ نه دا فرض نۀ ساقطيږي.

٧ - د خندق په غزا كښے رسول الله ﷺ د ماسپخين او مازيګر مونځونه په غير د خوب او د هيريدو نه قصدًا پريښي وو تردے چه نمر ډوب شو. او بيا ئے د شپے اداء كړل.

٨ - رسول الله ﷺ چه كله د خندق د غزا نه واپس شو، نو خپلو ملګروته ئے په مدينه كښے وفرمايل : [لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمُ الْعَصْرَ إِلَّا فِيْ بَنِيْ قُرَيْظَةَ].

(په تاسو كښے دے هيڅوك د مازيګر مونځ د بنو قريظه نه سيوا په بل ځائے كښے نۀ كوي). نو صحابه كرام j په تادئ ووتل او په لاره كښے دوه ډلے شول. يوے ډلے د مازيګر مونځ داخليدو سره د بنو قريظه ؤ نه مخكښے وكړو. او بلے ډلے مونځ قضاء كړو تردے چه بنو قريظه ؤته ورسيدل او هلته ئے د وخت وتلو نه پس اداء كړو. رسول الله ﷺ يوے ډلے ته هم څۀ زورنه ورنۀ كړه. او دا دواړه ډلے نۀ د مونځ نه اودے پاتے شوے وے او نۀ ترے مونځ هير شوے وو. معلومه شوه چه د وخت وتو نه پس هم قصدًا پريښودل شوے مونځ اداء كيږي.

۹ – د امیرانو په باره کښې نبی ﷺ فرمایلی : (مانه پس به څهٔ داسې امیران وی چه مونځونه به د خپل وخت نه روستو کوی، صحابو عرض وکړو، آیا دوئ سره مونږ مونځونه وکړو ؟ وې فرمایل : هو !)۔

دې حدیث کښې رسول الله ﷺ د وخت وتلو نه پس مونځ کول مباح کړی دی، او داسې ئې نهٔ دی فرمایلی چه : مونځ د خپل وخت وتو نه پس نهٔ کیږی۔

۱۰ – عبد الرحمن بن علقمه ثقفی رضي الله عنه وائی : د بنو ثقیف وفد رسول الله ﷺ ته راغې او پوښتنې ئې ترې شروع کړې، نو رسول الله ﷺ په دغه ورځ د ماسپخین مونځ د مازیګر سره وکړو۔

نو په دې کښې هم د قصدًا پریښودل شوی مونځ قضاء راوړلے شوې ده۔

۱۱ – رسول الله ﷺ د الله د حق تشبیه د بندګانو د حقونو سره ورکړې ده، فرمائی : (د الله حق په پوره کولو باندې زیات لائق دې)۔

۱۲ – مونځ په اجماع سره فرض دې، ددې فرضیت به په اجماع سره پورته کیږی، او ددې په پورته کیدو باندې اجماع نهٔ ده شوې۔

○ ددې دلائلو **تجزیه** :

کوم خلك چه وائی : قصدًا پریښودل شوې مونځ د وخت نه پس نهٔ قضاء کیږی، هغوئ وائی: مونږ دا نهٔ وایو چه دا مونځ ددهٔ د ذمې نه د وخت په وتو سره ساقط دې او په دهٔ باندې واجب نهٔ دې، مونږ ددهٔ سره نوره سختی هم کوو او وایو چه کوم مونځ دهٔ قضاء کړو نو دې نشی کولے چه ددې په قضائی راوړو سره ددې جرم نه ووځی۔ البته توبه به وباسی او په آینده کښې به کلکه اراده کوی۔ او داسې دلائل ئې پیش کړی چه د هغې رد نشی کیدې۔

○ د **قضائی** راوړونکو د دلائلو نه **جوابونه** :

○ د ابن عباس رضي الله عنه د خوشحالئ دغه مقصد بیانول درست نهٔ دی، چه ګنې د قصدًا پریښودل شوی مونځ قضائی به راوړل کیږی۔ او نهٔ د هغهٔ د کلام نه دغه مطلب معلومیږی۔ د هغهٔ مقصد دادې چه د کوم مانځه نه دوئ د رسول الله ﷺ او نورو ملګرو سره اودهٔ پاتې شوې وو، او بیائې نمر ختاهٔ اداء کړو، نو په دې مانځه کښې هم هغه شان اجر او ثواب دې کوم چه په خپل وخت کښې د مانځه اجر او ثواب دې۔

○ او ستاسو دا خبره چه نسيان په عربئ ژبه کښے دوه قسمه دے۔ نو دا صحيح ده، خو دلته د (نسيان) نه مراد قصدًا پريښودل نۀ دی، بلکه سهوًا يو شے پريښودل دی۔ ددے تائيد دادے چه په دغه حديث کښے ورسره دا الفاظ راغلی [فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا] (ياديدو سره دے هغه مونځ وکړی)۔ نو (اذا ذکرها) لفظ صريح دليل دے چه دلته د نسيان نه مراد سهوًا پريښودل دی، نۀ قصدًا پريښودل۔

بلکه دا چه په دے حديث کښے د [كَفَّارَتُهَا أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا] الفاظ راغلی، چه ددے نه معلوميږی چه په هيره سره د پريښودل شوی مونځ کفاره، ددے قضائی راوړل دی۔ او ځوک چه قصدًا مونځ پريدی نو قضائی راوړو سره هم ددے د فوت کولو ګناه په اتفاق د امت سره نۀ ختميږی۔

○ او دا خبره کول چه د رسول الله ﷺ په ژبه باندے الله تعالیٰ دا فيصله کړے چه د روژے او د مونځ حکم برابر دے، چه د وخت وتو نه پس به ددے دواړو قضائی راوړل کيږی۔

نو دا خبره باطله ده، ځکه الله تعالیٰ هيڅ کله د عامد او د ناسی ترمينځه مساوات نۀ دے کړے۔ ځکه که مسافر او مريض په رمضان کښے قصدًا روژه ماتوی، نو دا خو د الله رخصت دے چه دوئ له ئے ورکړے، او پاتے شو قصدًا مونځ پريښودونکے نو دا خو مجرم دے۔ نو رخصت استعمالونکے او مجرم دواړه څنګه برابر شی ؟

او کوم کس چه په رمضان کښے قصدًا روژه ماته کړے وه، د هغۀ په حديث کښے چه دا راځی چه رسول الله ﷺ هغۀ ته ددے روژے په ځائے د روژے نيولو امر کړے وو، نو په دغه حديث کښے د دغه يوے روژے قضائی راوړو امر ثابت نۀ دے۔

○ او هرچه په دے باره کښے د اجماع دعویٰ کول دی نو دا دعویٰ غلطه ده۔ دا د هيڅ يو صحابی نه نقل نۀ دی چه ځوک قصدًا مونځ پريدی او د وخت نه پس د هغے قضاء راوړی نو دا قضائی راوړل صحيح دی۔ پاتے لا په دے باندے اجماع نقل کول۔ بلکه د ابو هريره رضي الله عنه په حديث کښے خو دا راغلی، نبی ﷺ فرمائی : (چاچه په رمضان کښے په غير د عذر نه يوه روژه وخوړه، نو که ټول عمر روژه ونيسی نو د دغه خوړل شوے روژے قضائی دے نشی راوړے)۔ نو دا په کوم ځائے کښے راغلی چه ځوک په رمضان کښے قصدًا روژه ماته کړی نو ددے تدارک په قضائی راوړو سره کيږی ؟

○ او ستاسو دا خبره چه : مونځ او روژه دواړه د انسان په ذمه واجب حقونه دی، دا به خامخا اداء کوی اګر که وخت ووځی، ځکه رسول الله ﷺ فرمائی : (د الله قرض اداء کول خو زیات لائق دی).

نو مونږ وایو : دلته دوه خبرے دی.

(۱) یوه دا چه چا مونځ روژه پریښودله، نو دا ددهٔ په ذمه پاتے حق دے.

(۲) دویمه دا چه : دا پاتے شوے حق د اداء کولو قابل دے نو ددے اداء کول واجب دی.

په اولنئ خبره کښے خو اتفاق دے. اختلاف خو په دویمه خبره کښے دے چه تاسو په دے باندے هیڅ دلیل نشئ قائمولے چه د مونځ د وخت وتو نه پس مونځ کول عبادت او طاعت دے.

او پاتے شو دغه پیش کړے حدیث، نو دا د نذر مطلق په باره کښے دے چه هغه تاکلے وخت نهٔ لری. دارنګ دا حدیث د حج په باره کښے دے چه هغه ټول عمر کیږی او نهٔ فوت کیږی. لکه دا د دغه حدیث د شان ورود د الفاظو نه معلومیږی. او مونږ هم وایو چه دا قرض به اداء کولے شی. خبره په هغه قرض کښے ده چه هغه تاکلے وخت لری.

○ او ستاسو دا خبره چه کوم کس د مانځه نه اودهٔ پاتے شی یا ترے مونځ هیر شی نو دا دواړه معذوره دی او هر کله چه معذوره قضائی راوړی نو غیر معذوره به خامخا قضائی راوړی. دا صحیح نهٔ ده. ځکه معذوره کس چه د وخت وتلو نه پس مونځ کوی نو دا د الله او د رسول طاعت کونکے دے، ددهٔ په دے کښے هیڅ قصور نشته نو ځکه ددهٔ نه دا بے وخته مونځ کول قبلیږی هم. او هر چه قصدًا پریښودونکے دے، نو ددهٔ نه به بے وخته مونځ کول څنګه قبول شی ځکه دا خو مجرم دے، ددهٔ دا قضائی راوړل طاعت نهٔ دے. دے وجے نه غیر معذوره کس په معذوره باندے قیاس کول، فاسد قیاس دے.

بله دا چه : دغه معذوره کسان چه مونځ کوی، نو همدا د دوئ د مانځه وخت دے. دوئ بے وخته مونځ نهٔ دے کړے. ځکه حدیث کښے دی [مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَوَقْتُهَا إِذَا ذَكَرَهَا] (چانه چه مونځ هیر شو نو ددے وخت هغه دے کله چه ورته رایاد شی). [بیهقی، دارقطنی].

ځکه یو اختیاری وخت دے، بل د عذر وخت.

○ او د خندق په غزا کښے چه رسول الله ﷺ مونځونه پریښی وو، نو دا پریښودل طاعت او عبادت وو ځکه هغه په داسے کار کښے مشغول وو چه هغه د الله په لاره کښے د مشرکانو

سره جهاد كول وو. نو هغه څوك په دے باندے قياس كول چه هغه په غير د عذر نه د ظلم او د زياتى په وجه مونځ قصدًا پريدى او روستو بے وخته ئے كوى، دا ډير فاسد قياس دے.

○ دارنګ د بنو قريظه په واقعه كښے چه ځينے صحابه كرامو د حكم د تعميل په وجه د مازيګر مونځ پريښے وو، نو ددے هم دغه پورتنے جواب دے، چه دا پريښودل خو طاعت او عبادت وو. نو په دے باندے د ظلم او زياتى والا قياس كول درست نۀ دى.

○ او اميرانو به د شپے مونځ د ورځے نۀ كولو او نۀ به ئے د ورځے مونځ د شپے كولو، بلكه د ماسپخين مونځ به ئے مازيګره پورے او كله د نمر زيړيدو پورے روستو كولو.

او مونږ هم وايو چه كله څوك د ماسپخين مونځ مازيګره پورے يا د ماښام مونځ ماسخوتنه پورے روستو كړى، نو دابه خامخا اداء كوى. ځكه دا د جمع بين الصلاتين وختونه دى. نبى اكرم ﷺ په مدينه كښے په غير د خوف او د باران نه دغه دواړه قِسمه مونځونه جمع كړى دى، دے دپاره چه امت په تنګسيا كښے پرے نۀ وځى.

○ دغه شان رسول الله ﷺ چه د بنو ثقيف د وفد په وجه ماسپخين مونځ مازيګر ته روستو كړو، نو دا روسته كول هم طاعت او عبادت وو. زيات نه زيات دا ويل كيږى چه دا د ضرورى كار د وجے نه جمع بين الصلاتين وه. او دا جائز ده. نو په دے باندے د مجرمانو قياس كول جائز نۀ دى.

[انتهىٰ كلام ابن القيمؒ، كتاب الصلاة للإمام ابن القيم رحمه الله، ص : ٣٦ - ٥٩].

○ علامه شوكانىؒ هم فرمايلى دى چه : په حديث كښے چونكه د (خوب او د نسيان) ذكر راغلے، نو ددے نه معلوميږى چه قصدًا مونځ پريښودونكى باندے قضائى راوړل ثابت نۀ دى. او چاچه قصدًا مونځ پريښے دے، هغه ددے د جرم نه ددے په قضائى سره نشى خلاصيدے، بلكه دا مونځ ددۀ په ذمه كښے پاتے دے.

بيا فرمائى : هر كله چه تا دا خبره وپيژندله نو په شرح مسلم كښے چه امام نووىؒ د قضائى د نۀ راوړونكو قول نقل كړے او بيائے ويلى چه دا خبره خطا ده او مذموم افراط دے، دارنګ امام مقبلىؒ چه په المنار كښے ويلى چه د قضائى راوړو باب بے بنياده دے، په دے كښے كتاب او سنت نشته. دا دواړه خبرے تفريط او كوتاهى ده.

[نيل الأوطار : ٢/٢].

د رواتبو سنتو قضائی راوړل شته اوکه نه ؟ او د قضائی راوړو کیفیت

٤٩۲ – **سوال** : د رواتبو (یعنی مقررو) سنتو قضائی راوړل شته اوکه نه ؟ او کله چه څوك د شپے د مانځه قضائی د ورځے راوړی نو په هغے کښے به جهر کوی اوکه نه ؟ دارنګ که څوك د ورځے د قضاء شوو مونځونو قضائی د شپے راوړی نو قرأت به پکښے پټ کوی اوکه په جهر سره ؟

جواب : د مقررو سنتونو قضائی په ګڼړو صحیح حدیثونو کښے راغلے ده، نو ددے قضائی راوړل پکار دی۔

عمر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : [مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَقَرَأَهُ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ، كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ] (څوك چه د خپلے تهولے وظیفے یا د هغے د څۀ برخے نه اودۀ پاتے شی او هغه بیا د سهار او د ماسپخین مونځ ترمینځه ولولی، نو ددۀ دپاره به داسے ولیکلے شی ګویاکه دۀ د شپے لوستلے وی)۔

[صحیح مسلم : ۱۷۱٤، مشکاة : ۱/۱۱۰].

او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم عادت مبارك دا وو چه کله به ترے د شپے تهجد مونځ فوت شو نو د ورځے به ئے دولس رکعته کول، لکه صحیح بخاری وغیره کښے راغلی دی۔

او نبی صلی الله علیه وسلم د سهار د سنتو قضائی د نمر خاتۀ نه پس راوړے ده۔

[سنن ابن ماجه : ۱۱۵۵].

او صحابه کرامو j د سهار د سنتو قضائی د سهار د مانځه نه روستو راوړے ده۔لکه په خپل باب کښے به راشی ان شاء الله۔

او نبی کریم صلی الله علیه وسلم د جماعت سره د سهار د سنتو قضائی د نمر خاتۀ نه پس راوړے۔ لکه په حدیث کښے دی : [فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى الْغَدَاةَ].

(اول ئے دوه رکعته سنت وکړل بیا ئے د سهار مونځ وکړو)۔

[صحیح مسلم : ۱/۲۳۹].

بلکه د سهار د سنتو قضائی راوړو په باره کښے یولس (۱۱) حدیثونه راغلی۔

[نصب الرایة : ۲/۱۵۷].

او نبی ﷺ د ماسپخین مانځه نه پس د هغه څلورو رکعتونو قضائی راوړے چه هغه د ماسپخین مانځه نه مخکښے وی۔

[سنن ترمذی].

دارنګه د هغه دوه سنتو قضائی ئے راوړے چه هغه د ماسپخین مانځه نه پس کیږی، هر کله چه دا د عبد القیس قبیلے د وفد راتلو د وجے نه ترے پاتے شوی وو، ددے قضائی ئے د مازیګر مانځه نه پس راوړے وه۔

[بخاری، مشکاة : ۹۵/۱].

دارنګه په ډیرو حدیثونو کښے د وترو قضائی د هغه چا دپاره راغلے چه هغه ددے نه اودهٔ پاتے شی یا ترے هیر شی۔ لکه د وترو په بیان کښے به هغه حدیثونه راشی ان شاء الله۔

نو خلك چه دا وائی چه د سننو رواتبو (مقررو سنتونو) قضائی نشته ځکه چه دا کله د خپل وخت نه فوت شی نو دا نفل جوړ شی۔نو دا خبره صحیح نهٔ ده، بلکه د دوئ دا خبره د دغه پورتنو او نورو صحیح حدیثونو خلاف ده۔

علامه شوکانیؒ فرمائی : حدیث نه معلومه شوه چه د مقررو نفلو قضائی راوړل مشروع دی، برابره خبره ده که د عذر د وجے پاتے شوی وی یا د غیر عذر د وجے۔

[نیل الأوطار : ۳۱/۳].

او قضاء به هم د اداء پشان وی۔ لکه حدیث کښے دی : (بیا بلال اذان وکړو، نو رسول الله ﷺ دوه رکعته سنت وکړل بیا ئے د سهار مونځ په هغه طریقه سره وکړو په کومه طریقه ئے چه هره ورځ کولو)۔

[صحیح مسلم : ۲۳۹/۱].

امام نوویؒ فرمائی : ددے حدیث نه معلومه شوه چه د سنتو قضائی هم شته۔ ورسره دا هم ثابته شوه چه د فوتی مونځ قضائی به د اداء پشان وی...... او ددے نه معلومیږی چه د سهار په مانځه کښے به د نمر خاتهٔ نه پس هم جهر کیږی۔

[شرح مسلم للنووی].

علامه شوکانیؒ فرمائی : په دے حدیث کښے (چه د خندق په غزا کښے د مونځونو قضائی راوړل شوے) دلیل دے چه د جماعت سره د فوت شوو مونځونو قضائی راوړل

مستحب دی. په دے مسئله کښے صرف لیث بن سعدؒ خلاف کړے خو دا حدیث په هغۀ باندے رد دے. مصنفؒ فرمائی : په دے حدیث کښے دلیل دے چه د فوتی مونځونو دپاره به هم اقامت کولے شی دارنګه که د ورځے د فوت شوو مونځونو قضائی د شپے هم راوړی نو جهر به په کښے نۀ کوی.

[نيل الأوطار : ٢/٩].

د وخت په داخلیدو کښے ئے شك دے نو مونځ به کوی اوکه نه ؟

٤٩٣ – **سوال** : د یو سړی شك دے چه وخت به داخل شوے وی اوکه نه، نو آیا دۀ له جائز دی چه په مانځه کښے داخل شی ؟ او کله ئے چه یقین راشی چه وخت داخل شوے، او په حقیقت کښے وخت لا نۀ وی داخل شوے نو آیا ددۀ مونځ صحیح دے ؟

جواب : په انسان باندے لازم دی چه په داسے حال کښے په مانځه کښے داخلیږی چه دا ئے پوره یقین وی چه وخت داخل شوے دے، ځکه که د وخت په داخلیدو کښے ئے شك وی نو بیا ددۀ مونځ نۀ کیږی.

دغه شان که چا د وخت نه مخکښے په دے ګمان مونځ کړے وی چه وخت داخل شوے دے حالانکه هغه نۀ وی داخل شوے نو دا کس به مونځ دوباره کوی، ځکه دۀ په هغه طریقه مونځ نۀ دے کړے په کومه طریقه چه ورته الله عز وجل حکم کړے.

او د وخت نه مخکښے مونځ باطل دے. اوپه انسان باندے لازم دی چه د وخت باره کښے د خلکو نه پوښتنه وکړی، اوکه څوك ورته نۀ ملاویږی نو بیا دے په خپل پوره یقین سره مونځ وکړی. او دے کس په شك باندے مونځ کړے نو ددۀ مونځ صحیح نۀ دے.

[المحلى : ٢/٢٢٧].

شك ئے شو چه مونځ ئے کړے که نه ؟ نو څۀ به کوی ؟

٤٩٤ – **سوال** : شك ئے شو چه دۀ مونځ کړے اوکه نه ؟ نو اوس به دے څۀ کوی ؟ برابره خبره ده که دا شك دۀ ته د مانځه په وخت کښے دننه راغلے وی اوکه د وتو نه پس.

جواب : کله چه د مسلمان د فرض مانځه په حقله شك شی چه دۀ به اداء کړے وی اوکه

نـه ؟ نـو پـه دۀ لازم دی چـه د هـغـې پـه اداء کولو باندې تادی وکړی، ځکه اصل داده چه په دۀ باندې دغه فریضه پاتې ده، هغه دې اداء کړی۔ ځکه نبی ﷺ فرمائی :

[مَنْ نَامَ عَنِ الصَّلَاةِ أَوْ نَسِيَهَا فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذٰلِكَ].

(څـوك چـه د مـانـځه نه اودۀ پاتې شو او یا ترې هیر شو نو کله چه ورته رایاد شی هغه دې وکړی، ددې بس همدا کفاره ده)۔

او فرمائي : [إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْئًا فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لَا، فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتّٰى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا].

(کله چه په تاسو کښې څوك په خپله خیټه کښې څۀ قړقوړ بیامومی او دۀ ته اشتباه پیدا شی چه ددۀ نـه بـه څۀ وتی وی اوکه نه، نو د جومات نه دې تر هغه وخته پورې نۀ وځی تر څو ئې چه آواز نۀ وی آوریدلې یائې بوئې نۀ وی محسوس کړې)۔

[صحیح مسلم].

نـوپـه دې حـدیـث کښې دا قاعده ذکر شوه چه شك په یقین باندې هیڅ اثر نۀ پریباسی۔ اوکـله چه یې اودسی یقینی وی نو په شك سره نۀ ختمیږی۔ دغه شان کله چه پاکی یقینی وی نـو د یې اودسـۍ پـه شك سـره نـۀ ختمیږی۔ دا مسئله تفصیلًا په مسئله نمبر (٣٦٢) باندې تیره شوې، هغې ته رجوع وکړه ځکه دا مهمه خبره ده۔

[انظر الفتاوى الإسلامية : ١/٢٦٢].



باب اوقات النهی

الکرامة فی معرفة اوقات الکراهة

د هغه وختونو بيان چه په هغې کښې مونځ کول مکروه دی

٤٩٥ – سوال: هغه کوم وختونه دی چه په هغې کښې مونځ کول مکروه وی؟

جواب: د کراهت اوقات پنځه دی:

١ – اول: د صبح صادق نه تر نمر خاتهٔ پورې.

حديث کښې دی: [لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ، وَلَاصَلَاةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغِيْبَ الشَّمْسُ] (د سهار مانځه نه پس تر نمر خاتهٔ پورې مونځ نشته، اوئهٔ د مازيګر نه پس تر نمر پريواتهٔ پورې مونځ شته).

[بخاری: ٨٣/١، مشکاة: ٩٤/١].

عبد الله بن عمرو رضي الله عنه **د نبی کريم** صلی الله علیه وسلم **دا ارشاد نقل کوی**: [لَا صَلَاةَ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ إِلَّا رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ] (د سهار د دوه رکعته سنتو نه علاوه د صبا راختو نه پس بل هيڅ مونځ نشته).

[مصنف ابن ابی شيبه: ٣٥٥/٢].

او نبی کريم صلی الله علیه وسلم سره ددې چه د مانځه حرص ئې ډير لرلو، د سهار د سنتو نه سيوا په دې وخت کښې ئې نور مونځ نهٔ دې کړې. [الهداية: ٧٦/١].

٢ – دويم: د نمر خاتهٔ وخت.

٣ – دريم: د غرمې وخت.

٤ – څلورم: د نمر ډوبيدو وخت.

په دے تولو باندے دلیل حدیث د ابن عمر رضی الله عنه دے، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : [لَا يَتَحَرّٰى أَحَدُكُمْ فَيُصَلِّيْ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَلَاعِنْدَ غُرُوْبِهَا].

(په تاسو کښے دے څوك دا قصد نۀ کوی چه د نمر راختو یا نمر ډوبیدو په وخت مونځ وکړی)۔ په بل روایت کښے دی :

[إِذَا طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوا الصَّلَاةَ حَتّٰى تَبْرُزَ فَإِذَا غَابَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوا الصَّلَاةَ حَتّٰى تَغِيْبَ، وَلَاتَحَيَّنُوْا بِصَلَاتِكُمْ طُلُوْعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوْبَهَا، فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ].

(کله چه نمر څرېکه ووهی نو تاسو مونځ پریدئ تردے چه ښۀ ښکاره شی، او کله چه د نمر سترگے یو طرف ډوبیږی نو تاسو مونځ پریدئ تردے چه ډوب شی، او د نمر خاتۀ په وخت او یا د نمر پریواتۀ په وخت د مانځه قصد مۀ کوئ، ځکه دا د شیطان د دوه ښکرونو ترمینځه راخیژی)۔

[بخاری : ١/٨٣، مسلم : ١/٢٧٥، مشکاة : ١/٩٤].

عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمائی : (درے وختونه دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ په هغے کښے د مونځ کولو او د خپلو مړو خخولو نه منع کړی یو۔ (١) کله چه نمر راخیژی تردے چه راؤچت شی، او (٢) کله چه په غرمه کښے ودریدونکے سورے ودریږی تردے چه د نمر زوال وشی۔ (٣) او کله چه نمر ډوبیدو ته ورمائله شی تردے چه ډوب شی)۔

[صحیح مسلم : ١/٢٧٦، مشکاة : ١/٩٤].

٥ – **پنځم وخت :** مازیگر نه پس تر نمر پریواتۀ پورے۔

لکه ابو سعید خدری رضی الله عنه په حدیث کښے دی : [لَا صَلَاةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغِيْبَ الشَّمْسُ] (مازیگر مونځ نه پس تر نمر ډوبیدو پورے مونځ نشته)۔

[بخاری : ١/٨٣].

په دے باب کښے – یعنی د سهار او د مازیگر د مونځونو نه پس د مانځه نه په منع راتلو کښے – متواتر حدیثونه راغلی دی۔

نو دا پنځه اوقات مکروهه دی۔ په دے کښے د هیڅا دپاره جائز نۀ دی چه مونځ وکړی۔ او په دے منع کښے گڼړ حکمتونه دی۔

١ – د نمر عبادت کونکو سره ځان نۀ مشابه کول۔

٢ – دغه وختونه ذکر او تسبيح دپاره وزګارول۔

دغسې نور ډير حکمتونه په کښې شته چه الله او د هغهٔ رسول (ﷺ) ته معلوم دی۔

○ **خو ددې قاعدې کليئې نه ګنړ مستثنيات دی، او هغه دادی :**

١ – اول : ددې پنځو اوقاتو نه سببی نوافل مستثنیٰ دی۔ يعنی هغه نوافل چه هغه سبب لری۔ او په دې باندې ډير دلائل دی، چه مونږ به ئې په خپل باب کښې ذکر کړو ان شاء الله تعالیٰ۔ او په دې باندې د تير شوو احاديثو دا الفاظ هم دلالت کوی چه : [لَايَتَحَرّٰى أَحَدُكُمْ فَيُصَلِّىْ] او [وَلَا تَحَيَّنُوْا] ځکه تحرّی او تحيّن دلالت کوی په دې خبره چه په دغه حديثونو کښې چه کوم مونځونه منع شوی دی نو هغه مطلق نوافل دی۔ پاتې شو هغه مونځونه چه هغه ذوات الاسباب وی، نو هغه خو د خپلو اسبابو د وجې نه کولې شی، نهٔ د هغې د تحرّی د وجې نه۔ لکه تفصيل روستو را روان دې۔

٢ – دويم : فرائض چه د انسان نه هير شی او يا ترې اودهٔ پاتې شی، نو دا هم په مکروه اوقاتو کښې کيږی، او ددې نه منع نهٔ ده راغلې۔

لکه نبی ﷺ فرمائی : [مَنْ نَسِيَ صَلَاةً اَوْ نَامَ عَنْهَا فَلْيُصَلِّهَا اِذَا ذَكَرَهَا اَوْ فَكَفَّارَتُهَا اِذَا ذَكَرَهَا] وَفِيْ رِوَايَةٍ : [لَا كَفَّارَةَ لَهَا اِلَّا ذٰلِكَ].

[مشكاة : ١/٦١، وقد تقدم].

نو دا حديث په خپل عموم سره دلالت کوی په دې خبره چه کوم فرض مونځونه فوت شی هغه د احاديثو د نهی نه بهر دی۔ لکه ددې تفصيل په مخکښې مسئله نمبر (٤٦٩) کښې تير شو۔

٣ – دريم : دارنګه دا حکم د وترو هم دې چه کله د انسان نه د شپې پاتې شی نو د صبا راختو نه پس، دارنګ د سهار مانځه نه پس، ددې کول جائز دی۔ لکه نبی ﷺ فرمائی :

[مَنْ نَامَ عَنْ وِتْرِهٖ أَوْنَسِيَهٗ فَلْيُصَلِّهٖ إِذَا ذَكَرَهٗ].

(څوك چه د خپل وتر نه اودهٔ پاتې شی يا ترې هير شی نو څهٔ وخت چه ورته ياد شی د هغې قضائی دې راوړی)۔

[أبوداود : ١/٢٦٨، وهو حديث صحيح].

نو (څهٔ وخت چه ورته ياد شی) دا جمله عامه ده، ټولو اوقاتو ته شامله ده۔

٤ - **څلورم** : دارنګه د نهي د احاديثو نه د سهار سنت هم مستثنیٰ دي، هر کله چه هغه فوت شي چه ددے قضائي راوړل د سهار مانځه نه پس دارنګه د نمر خاتۀ نه پس په دواړو وختونو کښے جائز دي. لکه ددے په حقله راغلي حديثونه به په باب السنن کښے ذکر کړے شي. ان شاء الله.

٥- **پنځم** : دارنګه د جُمعے په ورځ د زوال په وخت : په دے وخت کښے هم مونځ کول مکروه نۀ دي. ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي : [مَنِ اغْتَسَلَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلَّى مَا قُدِّرَ لَهُ] (چا چه غسل وکړو او بيا د جُمعے مانځه له راغے او څومره مونځ چه ورله په تقدير کښے ليکل شوي وي هغه ئے وکړو).

نو دا او ددے پشان نور حديثونه په خپل عموم سره دلالت کوي چه د جُمعے په ورځ د زوال په وخت نفل مونځ کول جائز دي. په دے باره کښے به روستو صريح حديثونه هم راشي ان شاء الله.

٦ -**شپږم** : دغه شان د دغه نهي د احاديثو نه مکه مکرمه هم مستثنیٰ ده، چه د راجح قول مطابق په هغے کښے مونځ کول په ټولو اوقاتو کښے مکروه نۀ دي، خصوصًا مسجدِ حرام کښے. ځکه د جبير بن مطعم رضي الله عنه نه روايت دے چه نبي ﷺ وفرمايل :

[يَابَنِيْ عَبْدِ مَنَافٍ ! لَا تَمْنَعُوْا أَحَدًا طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ وَصَلّٰى أَيَّةَ سَاعَةٍ شَاءَ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ].

(اے د عبد مناف اولاده! تاسو هيڅوك مۀ منع کوئ چه هغه ددے بيت الله نه طواف کوي او په کوم وخت کښے ئے چه زړۀ غواړي مونځ کوي، شپه وي او که ورځ).

[ترمذى : ١٧٥/١، ابوداود : ٢٦٧/١، مشكاة : ٩٥/١، وهو حديث صحيح].

د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دے چه (دۀ د سهار مانځه نه پس طواف وکړو او دوه رکعته د طواف ئے وکړل بيا ئے وفرمايل : مونځ خو د نمر راختو په وخت مکروه دے ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي : بيشکه نمر د شيطان د دواړو ښکرو ترمينځه راخيژي).

[رواه الطبرانى فى الأوسط وإسناده حسن، مجمع الزوائد: ٢٢٨/٢].

٧ - **اووم** : دغه شان د مازيګر مانځه نه پس هم دوه رکعته نفل کول د هر چا دپاره جائز دي، په رسول الله ﷺ پورے خاص نۀ دي. لکه چه په دے باره کښے مستقل بحث را روان دے.

۸ - **اتم**: دارنګ د سهار او د مازيګر مانځه نه پس د جنازے مونځ کول هم ترے مستثنىٰ دى، ځکه ددے په جواز باندے د ټولو مسلمانانو اتفاق دے۔

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او ابن المنذرؒ فرمائى: د سهار او د مازيګر مونځ نه پس په جنازه کولو باندے د مسلمانانو اجماع ده۔

[مجموع الفتاوى: ۲۳/۱۲۱].

پاتے شو د جنازے مونځ په دے درے اوقاتو کښے کول (چه د طلوع، غروب او زوال وخت دے) نو احنافو ويلى دى چه کله جنازه ددے درے اوقاتو نه مخکښے حاضره شى نو په دے اوقاتو کښے مونځ کول مکروه دى، اوکه په دے درے اوقاتو کښے دننه حاضره شى نو بيا مکروه نۀ دى۔

[رد المحتار ومتنه: ۱/۳٤۷، فقه السنة: ۱/۹٦].

خو شيخ البانىؒ فرمائى: د جنازے د مانځه استثناء کول صحيح نۀ دى، په دے هيڅ دليل نشته۔ بلکه د عقبه بن عامر ﷺ مخکنے حديث مطلق دے او هغه ديته هم شامل دے۔ ددے تائيد دادے چه ابن عمر ﷺ به د نمر خاتۀ په وخت د جنازے د مانځه نه منع فرمايله لکه په موطأ وغيره کښے راغلى دى۔

[تمام المنة ص: ۱٤۳].

د عقبه بن عامر ﷺ د حديث الفاظ دادى: (درے وختونه دى چه رسول الله ﷺ به په هغے کښے مونږ د مونځ کولو او د مړو خخولو نه منع کولو)۔

دا مخکښے تير شو۔ [مسلم: ۱/۲۷٦، ابوعوانة: ۱/۳۸٦، ابوداود، نسائى، بيهقى: ٤/۳۲].

دارنګه په احکام الجنائز کښے فرمائى: دا حديث په خپل عموم سره د جنازے مانځه ته هم شامل دے، او همدا خبره صحابه کرامو فهم کړے ده۔لکه امام مالكؒ په موطأ کښے ذکر کړى دى چه محمد بن ابى حرملهؒ وائى: (زينب بنت ابى سلمه وفات شوه او طارقؒ په مدينه باندے امير وو، نو د هغے جنازه د سهار د مانځه نه پس راوړے شوه او په بقيع کښے کيښودے شوه۔ محمدؒ وائى: طارق به د سهار مونځ وختى کولو، نو ما د ابن عمر نه واوريدل چه ددے جنازے والو خپلوانو ته ئے وويل: يا خو په خپل مړى باندے اوس مونځ وکړئ او يائے پريدئ چه نمر را پورته شى)۔

ددے سند صحیح دے او د شیخینو په شرط برابر دے۔ بیا امام مالكؒ د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت نقل کړے چه (د مازیګر مانځه نه پس او د سهار مانځه نه پس به جنازه کولے شی هر کله چه دا دواړه په خپل وخت کښے اداء شوی وی)۔ ددے سند هم صحیح دے۔

او امام بیهقیؒ په جید سند سره د ابن جریجؒ نه نقل کړی دی دا وائی ماته زیاد خبر راکړے چه دهٔ ته علی خبر ورکړے چه یوه جنازه د بصرے والو په مقبره کښے کیښودے شوه او نمر زیړ وو، نو هغهٔ پرے مونځ ونه کړو تردے چه نمر ډوب شو۔ نو ابو برزه رضی الله عنه مؤذن ته حکم وکړو چه د مانځه دپاره اذان وکړی، نو هغه اذان وکړو بیا هغهٔ اقامت هم وکړو نو ابو برزه مخکښے شو اوخلکو ته ئے د ماښام مونځ وکړو، او په خلکو کښے انس رضی الله عنه هم وو۔ بیا هغوئ د جنازے مونځ وکړو۔

علامه خطابیؒ په [معالم السنن : ٣٢٧/٤] کښے فرمائی : په دے د علماؤ اختلاف دے چه په دے درے وختونو کښے د جنازے مونځ کول او مړے خښول جائز دی اوکه نه ؟ نو د زیاتره علماؤ قول دادے چه په دے وختونو کښے د جنازے مونځ کول مکروه دی، او دا د عطاء، نخعی، اوزاعی، ثوری، اصحاب الرأی، احمد او اسحاق (رحمهم الله) قول دے۔ او امام شافعیؒ د شپے او د ورځے په هر وخت کښے د جنازے مونځ او دفن کول هر څهٔ صحیح ګڼړی۔ خو د پورتنی جماعت خبره غوره ده ځکه هغه د حدیث موافق ده۔

[احکام الجنائز للشیخ الألبانی ص : ١٣٠].

زهٔ وایم : دے نه معلومه شوه، امام نوویؒ چه کومه د اجماع دعویٰ کړے ده چه په دے وختونو کښے جنازه کول په اجماع سره جائز دی، نو دا هغهٔ وَهُم دے۔

دغه شان ابن تیمیه رحمه الله هم دیته اشاره کړے چه په دغه درے اوقاتو مکروهه ؤ کښے د جنازے مونځ کول جائز دی، په دے دلیل چه دا د ذوات الاسباب نه دی۔

[مجموع الفتاوی : ١٩١/٢٣].

خو هغهٔ په دے خبره څه صریح دلیل نهٔ دے ذکر کړے۔ دے وجے نه دغه پورتنے حدیث او صحیح آثار به د چا د اجتهاد د وجے نشی پریښودلے۔

٩ – نهم : دغه شان ددے نه سجدة التلاوة هم مستثنیٰ ده۔ ځکه چه دا د ذوات الاسباب نه ده، بلکه دا چه دا مونځ نهٔ دے او د مونځ دپاره چه کوم شیان شرط دی نو هغه ددے دپاره

شرط نهٔ دی۔ لکه چه دا خبره په مسئله نمبر (٤٣٧) کښې تیره شوه۔

[انظر مجموع فتاوی ابن تیمیة : ١٩١/٢٢، وهو قول الحنفیة أیضًا کما فی رد المحتار : ٣٤٧/١].

١٠ – لسم : دارنګه د مازیګر مانځه نه پس دوه رکعته نفل کول جائز دی، رسول الله ﷺ پورے خاص نهٔ دی۔ لکه علی رضي الله عنه فرمائی :

[إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰی عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَّا وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ].

(نبی ﷺ د مازیګر مانځه نه پس د مونځ کولو نه منع فرمایلے ده مګر دا چه نمر جګ ولاړ وی)۔

[ابوداود : ٢٢٧/١، الصحیحة : ٣٤١/١، رقم : ٢٠٠، وهو حدیث صحیح، کما سیأتی].

هر کله چه د دغه پورتنیو مونځونو استثنا ګانے تا ولیدلے نو ددے نه معلومه شوه چه د ((نهی)) احادیث عام او مطلق نهٔ دی، بلکه ددے نه مراد په خاصه توګه نوافل دی۔

ooooooo

القبح لمن لم يجوز قضاء الركعتين بعد الصبح

سهار مونځ نه پس د دوه رکعته سنتو قضائي راوړل جائز دي

٤٩٦ – سوال : يو سړی نه د سهار دوه رکعته مخکني سنت پاتے شول، ددے قضائي به راوړي اوکه نه ؟ اوکله به ئے راوړي ؟

جواب : هو ! د سنت قضائي راوړل شته دے، برابره خبره ده که هغه ترے يواځے پاتے شوی وی اوکه د فرض مانځه سره پاتے شوی وی. لکه دا خبره په مسئله نمبر (٤٨٧) کښے تيره شوه.

او د قضائي راوړو دپاره ئے دوه وختونه دی :

١ – د فرض مانځه نه فورًا روستو.

٢ – د نمر راختو نه پس.

د فرضو نه فورًا پس د سنتو د قضائي راوړو باره کښے دا راتلونکی حديثونه راغلی دی :

١ – **اول حديث :** قيس بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دے چه (دۀ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د سهار مونځ وکړو خو دۀ د سهار د مانځه نه مخکښے دوه رکعته نۀ وو کړی، نو کله چه رسول الله صلى الله عليه وسلم سلام واړولو، نو هغه پورته شو او دوه رکعته سنت ئے وکړل، او رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته کتلے، خو په هغۀ باندے ئے رد ونه کړو).

[ترمذی : ١/٩٦، ابوداود : ١/١٨٧، ابن ماجه، عبد الرزاق : ٢/٤٤٢، احمد : ٥/٤٤٧، ابن خزيمة : ٢/١٦٤، حاكم : ١/٢٧٤، بيهقی : ٢/٤٨٣].

امام عراقیؒ فرمائی : ددے حديث سند حسن دے. زۀ وايم: بلکه صحيح دے.

د ترمذی په يو روايت کښے دی : [فَقَالَ: مَهْلًا يَا قَيْسُ ! أَصَلَاتَانِ مَعًا؟ قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! إِنِّیْ لَمْ أَكُنْ رَكَعْتُ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، قَالَ : فَلَا إِذًا].

(نبی ﷺ وفرمايل : قيسه دا څۀ کوے آيا دوه مونځونه په يو ځائے کوے ؟ هغۀ وائی : ما عـرض وکـړو، اے د الله رسـوله ! ما د سهار دوه رکعتـه سنت نۀ وو کړی، نبی ﷺ وفرمايل : څه بيا خير دے)۔

د امام ترمذیؒ سند د ابراهيم او قيسؓ ترمينځه منقطع دے۔ [مشكاة : ٩٥/١]۔

ليـکـن دا حـديـث د ابـن خـزيمهؒ په روايت صحيح دے، ځکه په هغے کښے ابراهيم نشته، بـلـکـه د هغۀ په سند کښے يحيی بن سعيدؒ د خپل پلار نه د خپل نيکۀ په واسطه د قيس بن عمروؓ نه روايت کوی۔ او دا ټول راويان ثقه دی او سند متصل دے۔

نـو دے دواړو حـديثـونـو نـه معلومه شوه چه د سهار فرض مانځه نه پس د سهار د سنتو قضائی راوړل جائز دی۔

٢ – دويم حديث : عطاءؒ فرمائی :

[إِنَّ رَجُلًا صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ ﷺ صَلَاةَ الصُّبحِ فَلَمَّا قَضىَ النَّبِيُّ ﷺ الصَّلَاةَ قَامَ الرَّجُلُ فَصَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ فَقَـالَ الـنَّبِيُّ ﷺ : مَاهَاتَانِ الرَّكْعَتَانِ ؟ فَقَالَ : جِئتُ وَأَنتَ فِي الصَّلَاةِ وَلَمْ أَكُنْ صَلَّيْتُ الرَّكْعَتَيْنِ قَبلَ الْـفَـجْـرِ، فَـكَرِهْتُ أَنْ أُصَلِّيَهُمَا وَأَنْتَ تُصَلِّيْ، فَلَمَّا قَضَيْتُ قُمْتُ فَصَلَّيْتُ الصَّلَاةَ، فَضَحِكَ النَّبِيُّ ﷺ وَلَمْ يَأْمُرْهُ وَلَمْ يَنْهَهُ].

(يـو سـړی د نبـی ﷺ سـره د سهـار مـونځ وکـړو، او کله چه نبی ﷺ مونځ ختم کړو، نو هغـه سـړے ودريدۀ او دوه رکعته ئے وکړل، نبی ﷺ وفرمايل: دا دوه رکعته د څۀ وو ؟ هغۀ ويـل : زۀ راغـلـم او تاسو په مانځه ولاړ وئ، او ما د سهار نه مخکښے هغه دوه رکعته سنت نۀ وو کړی، نو دا مے بده وګڼړله چه تاسو په مانځه ولاړ يئ او زۀ هغه دوه رکعته وکړم۔ دے وجے نـه کـلـه چه تاسو مونځ پوره کړو نو زۀ پاسيدم او هغه دوه رکعته مونځ مے وکړو۔ نو نبی ﷺ وخندل او نۀ ئے ورته حکم وکړو او نۀ ئے منع کړو)۔

[ابن ابی شيبه : ٢٥٤/٢].

ابـن حزمؒ د عطاء بن ابی رباحؒ په ذريعه د انصارو د يو سړی نه روايت کوی چه هغۀ وويل: (رسـول الله ﷺ يو سړے وليدۀ چه د سهار مانځه نه پس ئے مونځ کولو۔ هغۀ عرض وکړو، اے د الله رسوله ! ما د سهار دوه رکعتـه سنت نۀ وو کړی نو اوس مے وکړل، نو رسول الله ﷺ هغۀ ته هيڅ ونۀ ويـل)۔ [المحلی : ١٥٤/٢].

علامه عراقیؒ فرمائی: ددې حدیث سند حسن دې. او علامه بنداریؒ د (المحلیٰ) په تعلیق کښې دیته صحیح ویلی دی.

۳ - دریم حدیث: عطیهؒ فرمائی: (ما ابن عمر ﷛ ولیدۀ چه د امام د سلام اړولو نه پس ئې د دغه دوه رکعته سنتو قضائی راوړله).

[ابن ابی شیبه : ۲/۲۵۵، المحلی : ۲/۱۵۵].

نو دا د یو فقیه صحابی عمل دې.او د مرفوع حدیث موافق دې.

٤ - څلورم: ابن جریجؒ د عطاءؒ فتویٰ ذکر کوی: (کله چه د سهار د مانځه نه مخکښې تانه دا دوه رکعته سنت پاتې شو نو بیا ئې د سهار مانځه نه پس وکړه).

[عبد الرزاق : ۲/۳۳۲، المحلی:۲/۱۵۵].

٥ - پنځم: د طاووسؒ نه نقل دی هغه فرمائی: (کله چه جَمعه ودریږی او تا د سهار دوه رکعته سنت نۀ وی کړی، نو اول د امام سره مونځ وکړه او بیا چه کله هغه فارغ شی نو د سهار مانځه نه پس ئې وکړه).

[عبد الرزاق : ۲/٤٤۲].

٦ - شپږم: امام عبد الرزاقؒ فرمائی: ما ابن جریجؒ ولیدۀ چه د صنعاء (یمن) په جومات کښې ئې د امام د سلام اړولو نه پس دا دوه رکعته وکړل).

[عبد الرزاق :۲/٤٤۲].

نو وګوره چه سلفوؒ څنګه په دې مبارك رخصت باندې عمل کړې دې !

۷ - اووم: د ثابت بن قیس بن شماس ﷛ او د سهل بن سعد ساعدی ﷛ دواړو نه هم نقل دی چه هغوئ دواړو د رسول الله ﷺ سره مونځ وکړو، او د مانځه نه پس ئې دوه رکعته سنت کړی دی، رسول الله ﷺ ترې پوښتنه وکړه، نو هغوئ ورته ویلی دی چه دا هغه مخکنی سنت دی.

[رواه الطبرانی فی الکبیر قال الهیثمی فی المجمع : ۲/۲۱۷، وفیه راویان لم یسمیا وبقیة بن الولید رواه بالعنعنة عن الجراح بن منهال والجراح منکر الحدیث، و لکن أورده ابن الأثیر فی أسد الغابة من روایة أبیه قیس روی بإسناده عن الجراح بن المنهال عن ابن عطاء بن ابی سلیم عن ابیه عن ثابت بن قیس بن شماس عن أبیه الخ، وفی حدیث سهل بن سعد عمرو بن قیس وهو ضعیف لا یحتج بمثله، قاله ابن عبد البرؒ].

ددې دوو صحابو دا حديث اګركه د سند په لحاظ ضعيف دې، ليكن دا د پورتنو صحيح حديثونو تائيد كوي.

او احنافو هم د سهار مانځه نه پس دې دوه ركعته سنتو راګرځولو ته جائز ويلي دي، خو په يوه حيلې سره. هغه دا چه دوئ وائي : اول به په دې دوه ركعتونو كښې شروع وكړي، او بيا بـه ئې خراب كړي، نو په ده باندې به ددې قضاء راوړل واجب شي نو ددۀ دپاره به د سهار مانځه نه پس ددې سنتو قضائي راوړل جائز شي.

[فتاوى هندية : ٦/٣٩٠].

زۀ وايم : دې حيلې تـه هيڅ حاجت نشتـه، ځكه په دې باره كښې پورتنې نصوص تا وليدل. [انظر المرعاة بالتفصيل : ٣/٤٦٥، نيل الأوطار : ٣/٢٩، تحفة الأحوذى : ١/٣٢٥].

○ او هر چه د نمر خاتۀ نه پس ددې سنتو قضائي راوړل دي، نو په دې باره كښې حديث راغلې. ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل :

[مَنْ نَسِيَ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ].

(چانه چه د سهار دوه ركعته سنت هير شي نو نمر خاتۀ دې ئې وكړي).

[صحيح ابن خزيمة : ٢/١٦٥، رقم : ١١١٧، وهو صحيح كما فى الصحيحة : ٢٣٦١، وصحيح الترمذى : ١/١٨٨].

او ترمذيؒ هم روايت كړې خو ددې په سند كښې قتادهؒ دې او دا مدلس دې او دلته ئې په عنعنې سره روايت كړې. اوپه دې كښې عمرو بن عاصم د همامؒ د عامو شاګردانو نه خلاف كړيدې. [تحفة الاحوذى].

امام ترمذيؒ فرمائي : دا كار ابن عمر ﷺ كړې. لكه امام مالكؒ وائي : ماته رارسيدلي دي چه ابن عمر ﷺ نه د سهار دوه ركعته سنت فوت شو نو د هغې قضائي ئې د نمر خاتۀ نه پس راوړله.

[موطأ مالك، ابن ابى شيبه : ٢/٢٥٥].

دارنګه ابن ماجه د ابو هريره رضى الله عنه نه نقل كړي دي چه : (نبي ﷺ د سهار د دوه ركعته سنتو نه اودۀ پاتې شو نود هغې قضائي ئې د نمر خاتۀ نه روستو راوړله).

[سنن ابن ماجه : ١١٥٥، وهو حديث صحيح، كما فى صحيح ابن ماجه : ١/١٨٨].

نو دے حدیثونو نه د سنتو قضائی، او د قضائی راوړلو وخت، دواړه معلوم شو۔
ابو قتاده رضی الله عنه په حدیث کښے دی : (بیا بلال اذان وکړو اورسول الله صلی الله علیه وسلم دوه رکعته سنت وکړل بیا ئے د سهار مونځ وکړو او په هغه طریقه ئے اداء کړو څنګه ئے چه په عامو ورځو کښے اداء کولو)۔

[صحیح مسلم : ۱/۲۳۹].

نو دے حدیث نه معلومه شوه چه په سفر کښے ئے هم د سنتو قضائی راوړے ده۔ نو ثابته شوه چه ددے سنتو قضائی به راوړل کیږی برابره خبره ده که د فرضو سره فوت شوی وی او که یواځے۔

وبالله التوفیق.

○○○○○○○○○

منيحة العطر فی جواز الركعتين بعد العصر

مازيګر مانځه نه پس دوه رکعته نفل کول جائز دی

۴۹۷ - **سوال**: مازيګر مونځ نه پس دوه رکعته نفل کول جائز دی اوکه نه ؟ که جائز وی نو دليل ئے څۀ دے ؟ اوکه منع وی نو د منع دليل څۀ دے ؟

جواب: اول مونږ صحيح احاديث ذکر کوو، بيا د هغے په خلاف چه کوم روايتونه راغلی، د هغے صحيح جواب ذکر کوو، ان شاء الله تعالیٰ۔

اول: علی رضی الله عنه نه روايت دے: [اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَّا وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ](نبی ﷺ د مازيګر مانځه نه پس د مونځ کولو نه منع فرمايلے، مګر په داسے حال کښے چه نمر جګ ولاړ وی)۔

[ابوداود: ۱/۲۳۷، بإسناد صحيح، الصحيحة: ۱/۳۴۱، رقم: ۲۰۰، نسائی: ۱/۹۷، المحلی: ۳/۳۱، ابو يعلیٰ: ۱/۱۱۹، ابن حبان: ۶۲۱، ۶۲۲، المنتقیٰ لابن الجارود: ۲۸۱، بيهقی: ۲/۴۵۸، طيالسی: ۱/۷۵، احمد: ۱/۱۲۹، ۱۴۱].

او د احمد په بل روايت کښے دی، علی رضی الله عنه نه روايت دے چه نبی کريم ﷺ وفرمايل: [لَا تُصَلُّوا بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَّا أَنْ تُصَلُّوا وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ] (تاسو د مازيګر مانځه نه پس مونځ مۀ کوئ مګر که نمر جګ ولاړ وی نو بيا ئے کولے شئ)۔

نو دا حديث په ډاګه دليل دے په پورتنئ مسئله باندے۔دا وجه ده، علی رضی الله عنه به د ما زيګر مانځه نه پس دوه رکعته نفل کول۔

[المحلی: ۲/۲۹].

دويم: عائشه k فرمائی: [مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ عِنْدِيْ قَطُّ]. (رسول الله ﷺ به زما په نمبر کښے هيڅ کله د مازيګر مانځه نه پس دوه رکعته نۀ پريښودل)۔

[بخاری: ۱/۸۳، مسلم: ۱/۲۷۷، المحلی: ۲/۳۸].

دریم : عائشه k فرمائی : (دوه مونځونه دی چه رسول الله ﷺ به زما په کور کښې نهٔ پټ پریښی دی اونهٔ ښکاره : د سهار مانځه نه مخکښې دوه رکعته، او د مازیګر نه پس دوه رکعته)۔

[بخاری : ۸۳/۱، مسلم : ۲۷۷/۱].

څلورم : همدا عائشه k فرمائی : (قسَم دے په هغه ذات چه رسول الله ﷺ ئے وفات کړو، د مازیګر مانځه نه پس رسول الله ﷺ دا دوه رکعته نهٔ دی پریښی تردے چه د الله سره ملاؤ شو۔ او فرمائی : د الله سره هله ملاؤ شو چه د مانځه نه دروند شو)۔ [مسلم : ۲۷۷/۱].

نو ددے حدیث نه ددے مونځ ډیر تاکید معلوم شو۔

پنځم : عبد الله بن حارث بن نوفل ؒ فرمائی : مونږ ته معاویه ؓ د مازیګر مونځ وکړو نوڅه خلك ئے ولیدل چه (مازیګر مانځه نه پس ئے) مونځ کولو، وے فرمایل : دا کوم مونځ دے ؟ خلکو ویل : دا د ابن الزبیر ؓ فتویٰ ده ! دے کښے ابن زبیرؓ د خلکو سره راغے نو معاویه ورته وویل : دا څنګه فتویٰ ده چه تهٔ ئے خلکو ته ورکوے چه دویٔ د مازیګر مانځه نه پس مونځ کوی ؟ ابن زبیرؓ وفرمایل : ماته د نبی ﷺ بی بی خبر راکړے چه رسول الله ﷺ د مازیګر مانځه نه پس مونځ کړے۔ نو معاویه ؓ عائشے k ته څوك ولیږلو، هغے ویل : دا د میمونے بنت حارث حدیث دے۔ نو هغهٔ میمونے ته دوه کسان اَستاذی ولیږل، نو هغے وویل: ما دا حدیث بیان کړے چه (رسول الله ﷺ لښکر تیارولو نو هغویٔ ایسار کړو تردے چه د مازیګر مانځه وخت شو، نو نبی ﷺ د مازیګر مونځ وکړو، بیا واپس شو او هغه مونځ ئے وکړو کوم به ئے چه ددے نه مخکښے کولو۔ هغه بی بی فرمائی : د رسول الله ﷺ دا عادت وو چه کله به ئے یو مونځ وکړو او یا به ئے (د نیکیٔ) یو کار وکړو، نو دا به ئے خوښه ګڼړله چه په دے همیش والے وکړی۔

نو ابن الزبیر ؓ وفرمایل : آیا نبی ﷺ مونځ نه دے کړے څهٔ ؟ قسَم په الله چه مونږ به ئے هم کوو۔ [المحلی لابن حزم : ۳۹/۲].

نو د ابن زبیر ؓ حجت او دلیل غالبه شو نو په دهٔ باندے اعتراض کول جائز نهٔ دی، دا وجه ده چه معاویه ؓ هم خاموش شو۔

شپږم : عروهؒ وائی : ما ته تمیم داری ؓ خبر راکړے چه (دهٔ د مازیګر مانځه نه پس دوه

رکعته کول چه عمر رضي الله عنه ورته راغے او په دُره باندے ئے وواهۀ نو تميم داريؓ ورته اشاره وکړه چه کينه ! نو عمر رضي الله عنه کيناستۀ تردے چه تميم داري فارغه شو، نو عمر فاروق ته ئے وويل : تا زۀ ولے ووهلم ؟ هغۀ ويل : ځکه تا دا دوه رکعته مونځ وکړو حالانکه تۀ ددے نه منع شوے ئے۔ بيا عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: اے قومه ! زۀ تاسو منع کوم نۀ خو ما سره ويره ده چه تاسو نه به پس څۀ خلك راشي او هغوئ به د مازيګر او ماښام مانځه ترمينځه مونځونه کوي، تردے چه په هغه ساعت به ورتير شي چه په هغے کښے رسول الله صلى الله عليه وسلم د مونځ کولو نه منع کړے، لکه څنګه چه دوئ د ماسپخين او مازيګر ترمينځه مونځونه کوي۔ بيا به دغه خلك وائي چه مونږ فلانے فلانے ليدلے دے چه هغوئ د مازيګر مانځه نه پس مونځ کولو)۔

[المحلى : ۲/ ٤٠، وأخرجه الهيثمى فى المجمع : ۲/ ۲۲۲، ورجاله رجال الصحيح].

نو دے حديث نه معلومه شوه چه عمر رضي الله عنه چه ددے مونځ نه منع کوله، نو دا د سدًا للذريعة د وجے نه وه۔ (يعني ددے وجے نه وه چه هسے نه څوك مکروه وخت ته دا مونځ ونۀ رسوی)۔

اووم : زيد بن خالد جهني رضي الله عنه نه روايت دے چه (عمر رضي الله عنه دۀ لره وليدۀ چه د مازيګر مانځه نه پس ئے دوه رکعته کول او عمر فاروق خليفه وو، نو هغه ئے په مانځه کښے په دُره باندے وواهۀ، نو هر کله ئے چه سلام واړولو نو زيد ورته وويل : اے امير المؤمنين ! قسَم په الله ! زۀ به دا دوه رکعته مونځ هيڅ کله پرے نۀ ږدم روسته ددے نه چه ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ددے په کولو باندے ليدلے دے۔ نو عمر رضي الله عنه دۀ ته کيناستۀ او ورته ئے وويل : اے زيد بن خالده ! که چرے ما سره دا انديښنه نۀ وے چه خلك به دا د شپے پورے د مونځ کولو ذريعه وګرځوی نو مابه ددے په باره کښے خلك نۀ وهلے)۔

[احمد، طبرانی، مجمع الزوائد : ۲/ ۲۲۳، المحلى : ۲/ ٤١، وإسناده حسن].

دا ښکاره نص دے په دے خبره چه عمر رضي الله عنه هم د مازيګر مانځه نه روسته د نفل کولو اجازت ورکړے خو تر څو پورے چه نمر زيړ شوے او ډوبيدو ته نزدے شوے نۀ وی۔

اتم : ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: يقينًا ما عمر بن خطاب رضي الله عنه ليدلے دے چه خلك به ئے د مازيګر نه پس په مونځ باندے وهل۔ بيا ابن عباسؓ فرمائي : که ستا زړۀ غواړی نو د

مازيګر مانځه او د نمر ډوبيدو پورے ددے ترمينځه مونځ کوه۔
نهم: طاوسؒ فرمائی : ابن عمر رضی اللہ عنہ نه د مازيګر مانځه نه پس د دوه رکعتو په باره کښے پوښتنه وشوه، نو هغهٔ په دے کښے رخصت ورکړو۔
[المحلى : ۲/ ٤١].
دلته ابن عمرؓ د خپل پلار عمر رضی اللہ عنہ نه خلاف کړے۔ معلومه شوه چه دهٔ سره په دے مسئله کښے يو زياتی علم وو۔
لسم: عطاء بن ابی رباحؒ فرمائی : (عائشے او ام سلمے i به د مازيګر مانځه نه پس دوه رکعته کول)۔
[مصنف عبد الرزاق، المحلى].
يولسم: سعيد بن جبيرؒ فرمائی : (ام المؤمنين عائشے k به د مازيګر مانځه نه پس په ولاړه دوه رکعته کول، او ام المؤمنين ميمونے k به په ناسته څلور رکعته کول، نو ددے نه په دے باره کښے پوښتنه وشوه، نو وے فرمايل : عائشه ځوانه ده او زهٔ بوډۍ يم نو زهٔ د هغے د دوه رکعتونو په بدل کښے څلور رکعته کوم)۔
[المحلى].
دولسم: هشام بن عروهؒ فرمائی : (مونږ به د ابن الزبير رضی اللہ عنہ سره د مازيګر مونځ په مسجدِ حرام کښے وکړو نو هغهٔ به د مازيګر مانځه نه پس دوه رکعته کول، او مونږ به هم د هغهٔ سره کول چه د هغهٔ پسے به په صف کښے ولاړ وو)۔
[رواه عبد الرزاق وابن حزم، وإسناده صحيح].
ديارلسم: سائب بن يزيد رضی اللہ عنہ فرمائی : منکدر رضی اللہ عنہ د مازيګر مانځه نه روستو دوه رکعته وکړل نو عمر رضی اللہ عنہ ووا ههٔ۔
[أخرجه عبد الرزاق وابن حزم فی المحلى].
څوارلسم: طاووسؒ فرمائی : ابو ايوب انصاری رضی اللہ عنہ به د عمر فاروق رضی اللہ عنہ د خلافت نه مخکښے د مازيګر نه پس دوه رکعته کول، او کله چه عمر خليفه شو نو هغه ئے پريښودل، او کله چه عمر رضی اللہ عنہ وفات شو نو بيا ئے شروع کړل۔ نو چا ورته وويل چه دا ولے ؟ هغهٔ ويل : عمر رضی اللہ عنہ به په دے باندے خلك وهل۔ [أخرجه عبد الرزاق وابن حزم].

نو په دے حدیث کښے واضح بیان دے چه ابو بکر صدیق او عثمان ‌ به د مازیګر مانځه نه پس په دوه رکعته نفلو کښے اجازه ورکوله۔

پنځلسم : عاصم بن ضمرهٓ وائی : علی بن ابی طالب ﷛ په یو سفر کښے وو نو د مازیګر مونځ ئے وکړو، بیا خپلے خیمے ته ننواتۀ او دوه رکعته ئے وکړل)۔

[رواه ابن حزم فی المحلی و سنده صحیح].

شپاړسم : ابو اسحاق سبیعیؒ وائی : ما د ابوجحیفه نه د مازیګر نه پس د دوه رکعتو په باره کښے پوښتنه وکړه؟ نو هغۀ وفرمایل : که فائده درنۀ کړی نو ضرر خونۀ درکوی۔ [رواه ابن حزم فی المحلی].

ولسم : جبیر بن نفیرؒ وائی: عمر فاروق ﷛ عمیر بن سعد ﷛ ته خط ولیکۀ چه په هغے کښے ئے د مازیګر نه پس د دوه رکعته مونځ نه منع کولو، نو ابودرداء ﷛ وفرمایل : هر چه زۀ یمه نو زۀ خو ئے نۀ پریدم، نو که څوك د غصے نه تق چوی هغه دے وچوی۔

[رواه ابن حزم فی المحلی].

اتلسم : انس بن سیرینؒ وائی : زۀ د انس بن مالك سره د هغۀ هغه زمکے ته ووتلم چه هغه په بذسیرین مقام کښے وه او هغه پنځه فرسخه (پنځلس میله) لرے وه، نو دے کښے د مازیګر د مانځه وخت شو، نو هغۀ مونږ ته په کشتئ کښے په ناسته د بزکی دپاسه امامتی راکړه، او دوه رکعته ئے راته وکړل او سلام ئے واړولو، بیا ئے راته دوه رکعته وکړل۔

[المحلی لابن حزم].

نولسم : بلال ﷛ فرمائی : (د مازیګر مانځه نه پس صرف د نمر ډوبیدو په وخت د مونځ نه منع راغلے)۔

[المحلی لابن حزم].

○ نو دا **مشران** صحابه کرام دی : ابو بکر، عمر، عثمان، علی، زبیر، عائشه، ام سلمه، میمونه، ابن الزبیر او د هغۀ ملګری، تمیم داری، منکدر، زید بن خالد جهنی، ابن عباس، ابن عمر، ابو ایوب انصاری، ابو جحیفه، ابودرداء، انس، حسن بن علی، بلال، طارق بن شهاب، ابن مسعود او نعمان بن بشیر ﷛ او د ابو سعید خدری ﷛ نه نقل دی چه هغۀ دا د رسول الله ﷺ پورے خاص کړی دی۔ خو د عامه صحابه کرامو – رضی الله عنهم –

خبره ډیره غوره او صحیح ده۔

○ او په **تابعینو** کښې هم د ډیرو نه نقل دی چه هغوئ به دا دوه رکعته کول لکه:

هشام بن عروه، انس بن سیرین، طاووس، عبد الرحمن بیلمانی، ابراهیم بن میسره، ابو الشعثاء، او د هغهٔ ځوئے اشعث، عمرو بن میمون، مسروق، اسود، ابو وائل، قاضی شریح، سعید بن مسیب، قاسم بن محمد، عبد الله بن هذیل، ابو برده، عبد الرحمن بن اسود، احنف بن قیس، رحمهم الله۔ او همدا قول د ابو خیثمهؒ او ابو ایوب هاشمی هم دے۔ ابن حزمؒ وائی: او په همدے باندے مونږ هم عمل کوو، ان شاء الله تعالیٰ۔

[المحلی: ۴۲/۲، وانظر هذه الآثار فی ابن ابی شیبه: ۳۵۱/۲، معانی الآثار: ۲۱۰/۱، للطحاوی].

○ پاتے شو هغه خلك چه هغوئ د مازیگر مانځه نه روسته مطلقًا مونځ **مکروه** گنړلے، نو هغوئ په هغه احادیثو استدلال کړے چه په هغے کښے د مازیگر مانځه نه پس د مونځ کولو نه منع راغلے۔

اول دلیل: لکه په بخاری او مسلم کښے د ابو سعید خدری ﷛ په حدیث کښے دی: [لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَلَا صَلَاةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ].

(د سهار مانځه نه پس نمر خاتهٔ پورے مونځ نشته، او د مازیگر مانځه نه پس نمر پریواتهٔ پورے مونځ نشته)۔

امام ترمذیؒ فرمائی: په دے باب کښے د علی، ابن مسعود، ابو سعید، ابو هریره، عقبه بن عامر، کعب بن مره، ابو امامه، عمر بن عتبه، یعلی بن امیه، معاویه او صنابحی وغیرهم نه حدیثونه روایت شوی دی۔ (رضی الله عنهم)۔

[سنن ترمذی: ۱۶۳/۱، راجع التلخیص الحبیر: ۱۸۵۱].

○ خو ددے دواړو حدیثونو تطبیق دادے چه د منعے دا احادیث عام دی، چه ددے نه د مازیگر مانځه نه پس دوه رکعته نفل خاص کړے شوی دی۔ لکه د ابوداود په مخکنی حدیث کښے تیر شو چه [إِلَّا وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ].

(البته که نمر جگ ولاړ وی نو بیا د مازیگر نه پس دوه رکعته نفل منع نهٔ دی)۔

لکه حافظ ابن حجرؒ په التلخیص الحبیر کښے دیته اشاره کړے۔

○ یا دا چه منع صرف د تحرّی الصلاة نه راغلے ده په دے اوقاتو کښے۔ لکه په دے باندے د

ابن عمر رضي الله عنه حديث دلالت كوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (په تاسو كښې دې څوك ددې قصد نهٔ كوي چه د نمر خاتهٔ او نمر پريواتهٔ په وخت مونځ وكړي).

په بل روايت كښې دي: (خپل مونځ د نمر خاتهٔ او نمر ډوبيدو وخت ته مهٔ رسوئ).

[بخاري، مسلم، مشكاة: ١/٩٤].

خو دا جواب صرف په (ذوات الاسباب) مونځونو كښې جاري كيږي نهٔ په دې دوه ركعته مونځ كښې ځكه ددې تحرّي او قصد كول جائز دي.

دويم دليل: **د كراهت** قائلينو د ام سلمې k په حديث كښې استدلال كړې، هغه فرمائي: (رسول الله صلى الله عليه وسلم د مازيګر مونځ وكړو بيا زما كور ته راننواتهٔ او دوه ركعته ئې وكړل، ما عرض وكړو، يا رسول الله ! داسې مونځ دې وكړو چه مخكښې به دې نهٔ كولو؟ وې فرمايل: ماته مال راغلې وو هغې زهٔ د ماسپخين مانځه نه پس د هغه دوو ركعتو نه مشغوله كړم چه مابه كول، نو ځكه مې اوس وكړل. ما عرض وكړو، اې د الله رسوله ! آيا مونږ به ددې قضائي راوړو هر كله چه پاتې شي؟ وې فرمايل: نه).

[رواه الطحاوي: ١/٢١٤].

نو په دې حديث كښې د مازيګر مانځه نه پس د مونځ كولو نه په ډاګه منع راغلې اګركه د ماسپخين د سنتو قضائي هم وي.

جواب: د ام سلمې k نه صحيح ثابت دي چه هغې به د مازيګر مانځه نه پس مونځ كولو، لكه مخكښې تير شو.

او دا حديث منكر (ضعيف) دې ځكه ذكوان د ام سلمې نه دا حديث نهٔ دې آوريدلې. دارنګ په دې كښې حماد بن سلمه دې او د هغهٔ په كتابونو كښې دا حديث نشته. او د حماد نه ابوداود طيالسيؒ او عبد الملك بن ابراهيمؒ دواړو دا حديث آوريدلې دې خو دې دواړو په كښې دا جمله نهٔ ده ذكر كړې چه (آيا مونږ به ددې قضائي راوړو، هغهٔ وفرمايل: نه).

دا وجه ده، همدا حديث امام مسلمؒ روايت كړې او د منع خبره ئې په كښې نهٔ ده ذكر كړې.

[راجع المحلى مفصلا: ٢/٣٧].

دريم دليل: دوئ وائي: نبي صلى الله عليه وسلم د مازيګر مانځه نه پس دا دوه ركعته چه كړي دي نو دا د ماسپخين مانځه نه پس هغه دوه ركعته سنت وو چه د نبي صلى الله عليه وسلم نه پاتې شوي وو. نو

دا بـه صـرف هغـه څـوك كوى چه د ماسپخين مانځه نه پس ترے سنت پاتے شوى وى او د هغے قضائى راوړى۔

جـواب : نبى كريم ﷺ په دے باندے هميش والے كړے لكه مخكښے تير شو۔ نو دا خبره صحيح نشوه چه دا به هغه څوك كوى چه د دغه دوه ركعته سنتو قضائى راوړى۔

بـلـه دا چـه مـخكنى آثار وګوره په هغے كښے ددے خبرے پوره جواب موجود دے۔ او دا د طحاوىؒ د خبرے جواب وو۔

څلورم دليل : د كراهت قائلين د عائشے k حديث په دليل كښے پيش كوى چه (رسول الله ﷺ بـه د مـازيـګـر مـانـځـه نـه پس دوه ركعته كول، او ددے نه به ئے منع هم كوله، او د وصال روژه به ئے نيوله او ددے نه به ئے منع هم كوله)۔

[ابوداود : ١/١٨٧، بيهقى : ٢/٤٥٨].

جواب: دا حديث ضعيف دے، ځكه په دے كښے محمد بن اسحاقؒ عنعنه كړے۔

يا مـعـنـىٰ داده چـه مـنـع پـه صـحـيـح حـديثونو كښے راغلے ده خو دا دوه ركعته د منع د احاديثو نه خاص شوى دى۔ او دا د دغه احاديثِ ناهيه ؤ نه مستثنىٰ دى۔

[كما قال ابن حزم فى المحلى].

○ يا مـنـع هـلـه ده چـه نـمر جګ ولاړ نۀ وى۔ لكه دے جواب ته امام ابوداودؒ اشاره كړے، هـغـه فـرمـائـى : (باب دے په بيان د هغه چا كښے چه په دے دوه ركعتونو كښے ئے رخصت وكړے دے هر كله چه نمر جګ ولاړ وى)۔

[ابوداود : ١/٢٣٧].

پنځم دليل : عـطاء بن سائبؒ د سعيد بن جبيرؒ په واسطه د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت كوى (رسول الله ﷺ چه د مازيګر مانځه نه پس دوه ركعته وكړل، نو دا ځكه چه هغوئ ته مال راغـلے وو او د هغے په تقسيمولو كښے د ماسپخين مانځه نه پس د دوه ركعته سنت كولو نـه مشـغـولـه شـو، نـو ځكه ئے د مازيګر مانځه نه پس وكړل، خو ددے نه پس ئے بيا نۀ دى كړى)۔ [ترمذى، بزار].

جـواب : دا حـديث ضـعيف دے۔ پـه دے كښے عـطاء بن سائبؒ دے، په دۀ باندے په آخره كښے اختـلاط (ګـډوډى) راغـلے وه، نـو چا چـه تـرے پخوا آوريدل كړى وى د هغۀ آوريدل

صحیح دی، او چا چه ترے روستو آوریدل کړی دی هغے له اعتبار نشته۔ دارنګه په دهٔ دا الزام لګیدلے چه دے د سعید بن جبیرؒ نه داسے حدیثونه مرفوع روایت کوی چه هغهٔ مرفوع نهٔ دی ذکر کړی۔ ابن معینؒ فرمائی : عطاء بن سائبؒ باندے ګډ وډی راغلے وه، او کوم حدیثونه چه ددهٔ نه جریر بن عبد الحمید او ددهٔ ملګرو آوریدلی دی هغه صحیح نهٔ دی۔ [کما ذکر ذلك ابن الجارود فی الضعفاءِ وابن حجر فی التهذیب : ۲۰۷/۷، قال : وحدیث جریر واشباه جریر لیس بذاك].

ابن حزمؒ فرمائی : که بالفرض د ابن عباس رضی الله عنه دا خبره ثابته شی، نو بیا هم په دے کښے حجت نشته۔ ځکه دے د یوے خبرے خبر ورکوی، او عائشه k د بلے خبرے خبر ورکوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا دوه رکعته تر مرګه پورے نهٔ دی پریښی۔ چه دا خبره د ابن عباس سره نشته، نو د عائشے k سره داسے زیاتی علم دے چه د هغے پریښودل جائز نهٔ دی۔ ځکه یو وائی نهٔ دی شوی، بل وائی شوی دی، په دے کښے دا دواړه صادق دی خو خبره به د دویم معتبره وی۔

بله دا چه که د ابن عباس رضی الله عنه نه مذکوره قول ثابت هم شی او د بل هیڅ یو صحابی نه ددے خلاف هم ثابت نهٔ وے نو بیا هم په دے کښے حجت نشته۔ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه یو کار یو ځل وکړی نو دا حق او ثابت شے وی، تر څو چه ددے خپل کار نه ئے منع نهٔ وی کړی۔

شپږم دلیل : موسی بن طلحهؒ نه نقل دی چه (معاویه رضی الله عنه کله حج کولو نو مونږ ورته ورغلو، نو هغهٔ د ابن زبیر رضی الله عنه نه د هغه دوه رکعتونو په باره کښے پوښتنه وکړه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د مازیګر مانځه نه پس کول۔ نو هغه وفرمایل : ماته عائشے k خبر راکړے۔ نو معاویهؓ مسور بن مخرمه عائشے k ته ولیږلو چه آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ستا کره کړی دی ؟ هغے ویل: نه، خو ماته ام سلمے خبر راکړے چه نبی صلی الله علیه وسلم د هغے سره کړی دی۔ نو معاویهؓ ام سلمے ته مسور ولیږلو چه د هغے نه ئے پوښتنه کوله۔ نو هغے وویل : رسول الله صلی الله علیه وسلم ماکره د مازیګر مانځه نه پس راغے او دوه رکعته ئے وکړل۔ ما عرض وکړو، اے د الله رسوله ! ماخوتهٔ نن په یو داسے مونځ کولو ولیدلے چه مخکښے مے په دے باندے نهٔ وے لیدلے۔ وے فرمایل: زهٔ څهٔ جګړه مارو مشغوله کړم نو دا دوه رکعته وشو۔ او دا به ما د مازیګر نه

مخکښې کول خو ما ښهٔ وګڼړله چه اوس ئې وکړم. هغه وائی : ما رسول الله ﷺ نهٔ دې لیدلې چه ددې ورځې نه ئې مخکښې دا کړی وی یا ئې ترې روستو کړی وی.

[نسائی : ۱/۹۷].

بخاری او مسلم هم دا حدیث روایت کړې خو په هغې کښې دا روستنئ جمله نشته (چه ما رسول الله ﷺ نهٔ لیدلې دې چه ددې و رځې نه مخکښې یا روستو ئې دا کړی وی).

[بخاری : ۱/۸۳، مسلم].

نو ددې نه د دغه پورتنی حدیث نکارت او منکر والې معلوم شو. بله دا چه ددې په سند کښې صالح دې چه دا د لیث کاتب وو، او دا ضعیف دې. دارنګه په دې کښې سعید بن هلال دې او دا قوی نهٔ دې. بله دا چه په دې حدیث کښې د مازیګر مانځه نه پس د مونځ کولو نه منع نشته.

○ یا مونږه وایو : که چرې دا حدیث ثابت شی نو دا خو زمونږ دلیل دې، ځکه په دې کښې دا دی چه (رسول الله ﷺ د مازیګر مانځه نه پس دوه رکعته کړی دی). که چرې دا جائز نهٔ وې یا مکروه وې نو رسول الله ﷺ به نهٔ کولې. او د رسول الله ﷺ عمل خو حق او هدایت وی، برابره خبره ده که هغه ئې یو ځل کړې وی اوکه زر ځله. او د رسول الله ﷺ عمل ته ګمراهی ویل کفر دې.

او ددې حدیث د منکر والی بل دادې چه د ام سلمې k نه ددې خلاف ثابت دی، لکه مخکښې تیر شو.

ابن حزمؒ فرمائی : دغه حدیث منکرت او د ځانه جوړ شوې، ځکه په دغه حدیث کښې د دغه دوه رکعته مونځ نه د عائشې k انکار ذکر شوې، حالانکه ګڼړو امامانو دا حدیث په تواتر سره د هغې نه ذکر کړې چه رسول الله ﷺ به د هغې په نمبر کښې دا همیشه دپاره کول، بیا ئې د دغه امامانو نومونه ذکرکړی دی.

اووم دلیل: علی بن ابی طالب رضی الله عنه وائی : (رسول الله ﷺ به د هر فرض مانځه نه پس دوه رکعته کول، سیوا د مازیګر او سهار نه).

[ابوداود : ۱/۱۸۷، بیهقی : ۲/٤٥۹، عبد الرزاق : ۲/٦٧].

جواب : (۱) ددې حدیث په سند کښې ابو اسحاق سبیعی دې او دا مدلس دې او په عَنُ

سره ئې روایت نقل کړې. دارنګ په دې کښې د لیث کاتب، ابوصالح ضعیف دې.

دویمه وجه: که دا صحیح هم شي نو په دې کښې د مانعینو دپاره دلیل نشته، ځکه علی رضی الله عنه د خپل علم په باره کښې خبر ورکړې چه دۀ رسول الله صلی الله علیه وسلم نۀ دې لیدلې، او ددۀ نه علاوه نورو صحابو لیدلې دې، نو د لیدونکو وینا په نا لیدونکو باندې حجت دې.

۳ – دریمه وجه: علی رضی الله عنه نه خپله ثابته ده چه دوئ دا دوه رکعته کړې دی، لکه مخکښې تیر شو. او د احنافو دا قاعده ده چه: صحابی چه کله د خپل روایت خلاف وکړي نو دا د دغه حدیث د ساقطیدو نښه ده. نو دلته ترې څنګه دلیل نیسی ؟

اتم دلیل: عبد الرحمن بن ابی سفیان نه روایت دې چه (معاویه رضی الله عنه عائشې k ته ثوك ولیږۀ چه د هغې نه ئې د مازیګر ماننځه نه پس د دوه رکعتونو په باره کښې پوښتنه کوله. نو هغې وفرمایل: زما سره ئې دا دوه رکعته نۀ دی کړي، خو ماته ام سلمې خبر راکړې چه د هغې کره ئې کړي دي. نو معاویه رضی الله عنه ام سلمې k ته ثوك ولیږۀ، نو هغې وفرمایل: رسول الله صلی الله علیه وسلم زما کره دا دوه رکعته کړي دي خو ما نۀ دې لیدلې چه ددې نه پس ئې یا ددې نه مخکښې ئې بیا دا کړي وي. او فرمایلي ئې دي چه: دا دوه رکعته دي چه مابه د ماسپخین ماننځه نه پس کول خو ماته د صدقې څوانې اوښې راغلې وې نو مانه دا دوه رکعته هیر شول تردې چه ما د مازیګر مونځ وکړو، بیا مې راياد شول نو ما بده وګڼړله چه په مسجد کښې ئې په داسې حال کښې وکړم چه خلك مې وینی نو ځکه مې تا کره وکړل).

[نسائی: ۱/۹۶].

جواب: په دې حدیث کښې عبد الرحمٰن مجهول راوی دې، او دۀ د ام سلمې نه د آوریدو خبره هم نۀ ده ذکر کړې. ابن حزمؒ فرمائی: ددې حدیث په منکرتیا کښې هیڅ شك نشته، ځکه په دې کښې ښکاره دروغ دی، هغه دا چه په دې کښې عائشې k ته دا خبره منسوب شوې چه (رسول الله صلی الله علیه وسلم ماکره دا دوه رکعته نۀ دی کړي) حالانکه مونږ مخکښې ددې خلاف نقل کړل.

بله دا چه په دې حدیث کښې داسې الفاظ دي چه هغه نبی صلی الله علیه وسلم هیڅ کله نۀ وائی. او هغه دا دی (ما بده وګڼړله چه دا دوه رکعته په مسجد کښې په داسې حال کښې وکړم چه خلك راته ګوری نو ځکه مې تا کره وکړل).

ځکه دا دوه رکعته به خالی نهٔ وی یابه مکروه او حرام وی، او یابه بنهٔ مباح وی، که چرې حرام یامکروه وی نو رسول الله ﷺ ته ددې نسبت کول او دا ویل چه نبی ﷺ د حرام کار دپاره ځان پټوی دا خبره کفر دې۔ حالانکه نبی ﷺ ته خو دا حکم شوې چه داسې اعلان وکړه۔ ﴿ وَمَا اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَآ اَنْهَاكُمْ ﴾۔

(زهٔ نه غواړم چه تاسو د یو کار نه منع کړم او خپله هغې ته راتګ وکړم)۔

او دا خبره محاله ده چه نبی ﷺ په یو داسې مونځ سره مکلف کړې شی چه هغه مکروه وی او په هغې کښې هیڅ اجر نهٔ وی۔ نبی کریم ﷺ هیڅ کله داسې کار نهٔ کوی چه په هغې کښې الله ته تقرب او نزدیکت نهٔ وی۔

[راجع المحلی : ٢/٣٦].

دا د دویمې ډلې آخری دلائل دی، چه تا ددې ضعف او کمزوری وپيژندله۔ په دې باندې دهوکه کيدل نهٔ دی پکار ځکه اعتبار صحت د سند لره دې۔ او مخکښې د اولنی حديث نه کوم چه مونږ ددې بحث په شروع کښې ذکر کړو، ددې احاديثو ترمينځه تطبيق معلوميږی، بنهٔ سوچ وکړه۔

وبالله التوفيق.

مابنام مانځه نه مخکښې دوه رکعته نفل کول مستحب دی

٤٩٨ - **سوال** : نمر ډوبيدو نه پس او مابنام مانځه نه مخکښې دوه رکعته نفل کول جائز دی اوکه نه ؟ بعضې خلك وائی: ابو بکر، عمر او نورو مشرانو صحابه کرامو - رضی الله عنهم - به دا نهٔ کول، نو آیا دا خبره صحیح ده ؟ او نبی کریم ﷺ دا کړی دی اوکه نه ؟

جواب : صحیح خبره داده چه د مابنام مانځه نه مخکښې دوه رکعته نفل کول مستحب دی۔ په دې باندې ډير دلائل دی :

١ - آيتِ کريمه کښې دی : [﴿ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾ (کوم شے چه تاسو ته رسول درکړی هغه واخلئ او د کوم شئ نه مو چه منع کړی هغې نه منع شئ)۔

او رسول الله ﷺ مونږ ته دا دوه رکعته په خپل قولی، فعلی او تقريری سنت کښې

راکړی دی، او ددے نه ئے هيڅ کله منع نۀ ده کړے۔

۲ – ددے دوه رکعته نفلو په حقله قولی سنت :

عبد الله بن مغفل رضي الله عنه **نه روايت دے، رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل :** [صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ، صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ، ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ : لِمَنْ شَاءَ، كَرَاهِيَةَ أَنْ يَتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً].

(ماښام مونځ نه مخکښے مونځ کوئ، ماښام مونځ نه مخکښے مونځ کوئ، بيائے په دريم ځل وفرمايل: د چا چه خوښه شی دے دپاره چه خلك دا لازم ونه ګڼړی)۔

[بخاری : ۱/۸۷، مسلم : ۱/۲۷۸، مشکاة : ۱/۱۰٤].

۳ – عبد الله بن مغفل رضي الله عنه **فرمائی : رسول الله** صلى الله عليه وسلم **ارشاد وفرمايۀ :** [بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ، بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ، بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ لِمَنْ شَاءَ].

(د هر اذان او اقامت ترمينځه مونځ شته دے، درے ځله ئے دا خبره وفرمايله په دريم ځل ئے وفرمايل : د چا چه خوښه شی)۔

[بخاری : ۱/۸۷، مسلم : ۱/۲۷۸، مشکاة : ۱/٦٥، قيام الليل د ابن نصر رحمه الله ص : ۷۱، بيهقی : ۲/٤۷٤].

نو دا بل قولی سنت دے۔

٤ – عبد الله بن زبير رضي الله عنه **نه روايت دے، رسول الله** صلى الله عليه وسلم **وفرمايل : (هيڅ يو فرض مونځ داسے نشته چه د هغے نه وړاندے دوه رکعته نفل نۀ وی)۔**

[قيام الليل ص : ۷۱].

٥ – فعلی سنت :

د عبد الله المزنی رضي الله عنه **نه روايت دے چه (رسول الله** صلى الله عليه وسلم **د ماښام مانځه نه مخکښے دوه رکعته وکړل)۔**

[صحيح ابن حبان : ۳/۸۸، رقم : ۲٤۸۰، موارد الظمآن ص ۱٦۲، رقم : ٦۱۷، قيام الليل، ص : ۷۷، بإسناد صحيح].

٦ – ابن بريده نه روايت دے چه عبد الله بن المزنی رضي الله عنه **دۀ ته حديث بيان کړے چه رسول الله** صلى الله عليه وسلم **د ماښام مانځه نه مخکښے دوه رکعته وکړل، بيائے وفرمايل : (د ماښام نه مخکښے دوه رکعته کوئ بيائے په دريم ځل وفرمايل : خو چه د چا خوښه شی، هسے نۀ چه خلك دا يو ضروری عمل وګڼړی)۔**

[قيام الليل، بإسناد صحيح، ورواه البخاری من قوله صلى الله عليه وسلم : ۱/۱٥۷].

امام مقريزیؒ په (مختصر قيام الليل) کښې فرمائی : دا ډيره مهمه مسئله ده، ځکه په دې باره کښې دوه فعلی حديثونه راغلی چه خپله نبی ﷺ دا دوه رکعته کړی دی۔

۷ – **تقريری سنت :**

مرثد بن عبد الله وائی : زۀ عقبه جهنی ته راغلم او عرض مې وکړو، آيا تۀ د ابو تميم نه تعجب نۀ کوې چه دې د ماښام مانځه نه مخکښې دوه رکعته نفل کوی؟ نو عقبهؓ وفرمايل : مونږ به هم دا د رسول الله ﷺ په زمانه کښې کول۔ هغۀ عرض وکړو، وس ئې ولې نۀ کوې؟ عقبهؓ ورته وفرمايل : مشغولتيا منع کړی يو۔

[بخاری : ۱۵۷/۱، مشکاة : ۱۰۵/۱].

۸ – مختار بن فلفلؒ وائی : ما د انس بن مالك ؓ نه د مازيګر مانځه نه پس د دوه رکعته نفلو په حقله پوښتنه وکړه، نو هغۀ وفرمايل : (عمر ؓ به خلك د مازيګر مانځه نه پس په لاسونو وهل، او مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د نمر پريوتو نه پس او د ماښام مونځ نه مخکښې دوه رکعته کول۔ مختار وائی، ما ورته ووېل : آيا رسول الله ﷺ به هم دا دوه رکعته کول؟ انسؓ وفرمايل : هغۀ به مونږه ليدلو نو نۀ به ئې مونږ ته ددې (وجوبًا) حکم کولو او نۀ به ئې ترې منع کولو)۔

[بخاری : ۸۳/۱، مسلم : ۲۷۷/۱، مشکاة : ۱۰۵/۱].

نو د نبی کريم ﷺ د عمل نه هم دا معلوم شو، خو نبی کريم ﷺ به دا دوه رکعته کله کله کول، او نبی ﷺ ددې دواړو په باره کښې حکم هم کړې ليکن د استحباب په توګه نۀ د وجوب په توګه۔

۹ – انس بن مالك ؓ فرمائی : (واقعی چه ما د نبی ﷺ مشران صحابه کرام ليدلی دی چه هغوئ به د ماښام په وخت ستنو ته تادی کوله، ترڅو چه نبی ﷺ به راووتۀ)۔

[بخاری : ۷۲/۱، ۸۷].

ددې حديث نه معلومه شوه چه ابو بکر صديق او عمر فاروق او نورو مشرانو صحابه کرامو j به د ماښام د فرض مانځه نه مخکښې دا دوه رکعته کول۔

۱۰ – انس ؓ فرمائی : (مونږ به په مدينه کښې وو، او کله به چه مؤذن د ماښام د مانځه دپاره اذان وکړو، نو خلکو به ستنو ته تادی کوله او دوه رکعته نفل به ئې کول، ترڅو چه يو

مسافر سړے به جومات ته راغے نو هغۀ به دا ګمان کولو چه ګنے فرض مونځ وشو، دا ځکه چه دا دوه رکعته به ډیرو زیاتو خلکو کول)۔

[صحيح مسلم : ۲۷۸/۱، مشكاة : ۱۰۵/۱].

۱۱ – زر بن حبیش ؒ فرمائی : (عبد الرحمن بن عوف او ابی بن کعب i دواړو به د ماښام مانځه نه مخکښے مونځ کولو)۔

په بل روایت کښے دی : (دا کار به دوئ نۀ پریښودلو)۔

[مصنف عبد الرزاق : ۴۳۴/۲، قيام الليل لابن نصر ص ۷۳].

عبد الرحمن بن عوف د مهاجرینو نه دے او ابی بن کعب د انصارو نه دے۔ (i)۔

۱۲ – سعید بن مسیبؒ فرمائی : (مهاجرینو به د ماښام نه مخکښے دوه رکعته نفل نۀ کول او انصارو به کول۔ زهریؒ فرمائی : انس به هم کول)۔

[مصنف عبد الرزاق : ۴۳۵/۲].

ابن نصرؒ فرمائی : د سعید بن مسیبؒ دا خبره بنا بر اغلبیت ده، ګنے عبد الرحمن بن عوفؓ دا دوه رکعته همیشه دپاره کړی دی او دا مهاجر صحابی وو۔

۱۳ – عبد الرحمن بن ابی لیلیٰؒ فرمائی : (ما د محمد ﷺ ملګری په داسے حال کښے موندلی دی چه هغوئ به د هر اذان کیدو په وخت مونځ کولو)۔

[قيام الليل لابن نصر].

۱۴ – د حبیب بن مسلمۃ آزاد کړے غلام رغبانؒ فرمائی : (بیشکه ما د رسول الله ﷺ ملګری لیدلی دی چه د ماښام مانځه نه مخکښے دے دوه رکعتونو دپاره به داسے پاسیدل لکه څنګه چه دوئ فرض مانځه ته پاسیږی)۔

[پورتنئ حواله].

دے کښے اشاره ده چه دوئ به ددے دوه رکعتونو ډیر اهتمام کولو۔

۱۵ – خالد بن معدانؒ به هم د نمر ډوبیدو نه پس د ماښام مانځه نه مخکښے دوه رکعته کول، او دا به ئے نۀ پریښودل تردے چه الله سره مخامخ شو۔ او هغۀ به فرمایل : ابودرداء ؓ به دا دوه رکعته کول، او دا به ئے فرمایل : زۀ دا دوه رکعته نۀ پریدم اګرکه څوك مے په چابکونو ووهی۔

[قيام الليل لابن نصر ص ٧٤].

نو وګوره چه دے سلفوؒ به ددے دوه رکعته نفلو څومره اهتمام کولو !!

۱۶ – عبد الله بن عمرو ثقفیؒ وائی : (ما جابر بن عبد الله ﷛ ولیدهٔ چه د ماښام مانځه نه مخکښے ئے دوه رکعته نفل کول)۔

[قيام الليل لابن نصر : ٧٤].

۱۷ – قتادهؒ نه د ماښام مانځه نه مخکښے د دوه رکعته نفل کولو په باره کښے پوښتنه وشوه، نو هغهٔ وفرمایل : ابو برزه اسلمی ﷛ به دا دوه رکعته کول۔

[حواله سابقه].

۱۸ – ابن عمر ﷛ د یو سړی نه پوښتنه وکړه چه تهٔ څوك ئے ؟ هغهٔ ویل: زهٔ د کوفے والا یم۔ وے فرمایل : د هغه خلکو نه ئے چه هغوئ د ځاښت مونځ په ډیر اهتمام سره کوی۔ نو هغه سړی وویل : او تاسو د ماښام مانځه نه مخکښے د دوه رکعته نفلو ډیر اهتمام کوئ۔ نو ابن عمر ﷛ وفرمایل : (مونږ ته به دا حدیث بیانیدلو چه د هر اذان په وخت د آسمان دروازے پرانستلے شی)۔

[قيام الليل لابن نصر، ص : ٧٤].

دلته هم ابن عمر﷛ د مهاجرینو صحابو نه دے او د ماښام مانځه نه مخکښے په دے دوه رکعته نفلو باندے همیش والے کوی۔

۱۹ – ابن عباس ﷛ فرمائی : (د اوّابینو، یعنی الله ته د رجوع کونکو خلکو، مونځ هغه دے چه هغه د ماښام د اذان او د اقامت ترمینځه کیږی)۔

۲۰ – عبد الله بن بریده ﷛ فرمائی : خلکو به دا ویلے چه (درے مونځونه دی : (۱) د اوابینو مونځ۔ (۲) د منیبینو مونځ (۳) د توابینو مونځ۔ د اوابینو مونځ د سهار مانځه نه مخکښے دے۔ د منیبینو مونځ د ځاښت مونځ دے۔ او د توابینو مونځ د ماښام مانځه نه مخکښے دے)۔

۲۱ – حسن بصریؒ نه ددے دوه رکعتو په باره کښے پوښتنه وشوه، نو دهٔ وفرمایل : قسَم په الله ! دا دوه رکعته ډیر زیات ښهٔ دی د هغه چا دپاره چه په دے سره د الله اراده لری۔

۲۲ – سعید بن مسیبؒ فرمائی : هر مؤمن له دا مناسب دی چه کله اذان واوری نو دوه

رکعته مونځ دے وکړی.

۲۳ - اعرج او عامر بن زبیر - رحمهما الله - دواړو به دا دوه رکعته کول.

۲٤ - انس بن مالك رضی الله عنه به خپلو بچو ته ددے دوه رکعته نفلو وصیت کولو.

۲۵ - دارنګه دا نفل د ابن حکم بن صلتؒ، مکحولؒ، علباء بن احمر یشکریؒ، عبید اللهؒ او فضل بن حسنؒ نه هم نقل شوی دی.

پورتنی ټول آثار محمد بن نصرؒ په [قیام اللیل] کښے تفصیلًا ذکر کړی دی.

۲٦ - علامه ابن نصرؒ فرمائی : الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَی الَّيْلِ﴾ (بیا شپے پورے روژه پوره کړئ) د علماؤ په دے اجماع ده چه کله نمر ډوب شی نو شپه داخله شوه او د روژه ماتی وخت شو. او په حدیث کښے راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (د نمر پریوتو پورے د مازیګر مانځه نه پس د مانځه نه منع فرمایلے) او کله چه نمر ډوب شو نو مونځ روا شو. او مونځ د شپے په هره برخه کښے مستحب او مرغوب عمل دے، سیوا د هغه اوقاتو نه چه په هغے کښے نبی صلی الله علیه وسلم د مانځه نه منع فرمایلے. نو د شپے د اول نه واخله تر آخره پوره مونځ کول جائز او مستحب دے، د شپے په هیڅ برخه کښے د مانځه نه منع نۀ ده راغلے، او هر هغه مونځ چه د نمر پریواتۀ نه تر صبا راختو پورے وی نو دا د شپے مونځ ګنړلے کیږی، او کوم فضائل چه د شپے د مانځه په باره کښے راغلی، دا دے ټولو اوقاتو ته شامل دی، اګرکه په بعضے اوقاتو کښے به د نورو په نسبت فضیلت ډیر وی. بیائے احادیث ذکرکړی دی. [قیام اللیل].

۲۷ - زید بن وهبؒ فرمائی : (کله چه د ماښام اذان وشو نو یو سړے پاسیدۀ او دوه رکعته ئے وکړل او په خپل مانځه کښے ئے اخوا دیخوا کتل، نو عمر فاروق رضی الله عنه پرے دُره وچته کړله، نو کله چه هغۀ مونځ پوره کړو، ویلے : اے امیر المؤمنین ! ډیرے ښے جامے دے اغوستے دی، هغۀ ورته وفرمایل : ماتۀ ولیدلے چه تا اخوا دیخوا کتل، او دا دوه رکعته ئے قابلِ اعتراض ونه ګنړل).

[قیام اللیل لابن نصر، ص : ۷٦، شرح السنة : ۲/٤۳۸].

امام احمد بن حنبلؒ فرمائی : د ماښام مانځه نه مخکښے د دوه رکعته نفلو په حقله کره یا صحیح حدیثونه د نبی صلی الله علیه وسلم او د هغۀ د صحابو نه نقل شوی دی. نو هغۀ ته وویل شو

چه دا خویو داسې شې دې چه خلك ئې ناشنا ګڼړی! نو هغه مُسکې شو او ګویا د ناشنا ګڼړونکو نه ئې تعجب وکړو۔

[قیام اللیل ص : ۷۵].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د دلائلو د ذخیرې نه معلومیږی چه دا دوه رکعته مختصر کول مستحب دی لکه د سهار د سنتو غوندته۔ او علماؤ ویلی دی چه ددې دوه رکعته نفلو په استحباب کښې حکمت دادې چه په دې سره د دعاء قبلیدو امید کیدې شی ځکه د اذان او اقامت ترمینځه دعاء نهٔ رد کیږی، او څو مره چه وخت شریف وی نو په هغې کښې ثواب هم زیات وی۔

[فتح الباری : ۸٤/۲، ونحوه فی فقه السنة : ۱۶۱/۱، وانظر السنن لأبی داود : ۱۸۹/۱، باب الصلاة قبل المغرب، والترمذی : ٤٥/۱، ابن ماجه : ۳۶۸/۱، باب ماجاء فی الرکعتین قبل المغرب].

نو یقینی طورسره ثابته شوه چه دا دوه رکعته نفل کول مستحب دی۔

نو ددې دلائلو په موجودګئ کښې هیچا له دا جائز نهٔ دی چه ددې دوه رکعته مونځ نه انکار وکړی اویا ورته په غیر د استحباب نه هسې مباح ووائی۔ د مسئلې د اثبات دپاره یو صحیح حدیث هم کافی وی۔

نو د هغه چا خبرې له هیڅ اعتبار نشته چه هغوئ وائی، دا دوه رکعته به مهاجرینو نهٔ کول، یا دا د ابو بکر او عمر i نه ثابت نهٔ دی، ځکه په صحیح حدیث باندې د عمل کولو دپاره دا ضروری نهٔ ده چه د ټولو صحابه کرامو نه به په هغې باندې عمل کول نقل وی۔ څوك چه دا خبره شرط کوی نو دا د نصوصو او اجماع خلاف ورزی کوی۔

او ځینې صحابو چه دا نفل پریښی دی نو ددې نه به دا دلیل نهٔ نیول کیږی چه دا جائز یا مستحب نهٔ دی، ولې چه دا دوه رکعته د استحباب په درجه کښې دی۔ او د مستحبو حکم دادې چه په کولو کښې ئې ثواب وی او په نهٔ کولو کښې ئې عقاب او عذاب نهٔ وی۔

خو مونږ ددې د تاکید قائل یو وجه داده چه ددې د دوه رکعته مونځ د پریښودلو په وجه ګڼړ **بدعتونه** پیدا شوی دی :

یو دا چه : ددې خلکو د اذان او اقامت ترمینځه صرف د دوه درې قدمونو یا د درې آیتونو د لوستلو فرق وی، حالانکه دا اندازه بدعت دې۔

دویم دا چه: د مؤذن نه او د هغه چانه چه د جومات په لاره کښې را روان وی تکبیرِ اولیٰ فوت کیږی، ځکه د اذان کولو نه فوراً روسته دوئ ودریږی۔ وقفه نۀ کوی۔

[وفی تحفة الاحوذی: ١٦٣/١، أدلة ذكرناها فيما قبل ثم قال: فهذه الأحاديث هی التی احتج بها من قال باستحباب الركعتين قبل المغرب وهو الحق، راجع السنن الكبرى: ٤٧٤/٢، المحلى: ٢١/٢، رقم: ٢٨٣].

د کراهت د قائلینو دلائل او د هغې تجزیه:

څوك چه دے دوه رکعته نفل کولو ته مکروه وائی، هغوئ دا دلائل وائی:

اول دلیل: دا دوه رکعته کول د ماښام د مانځه د تاخیر او روسته والی ذریعه جوړیږی، حالانکه ماښام مونځ په اول وخت کښے د ټولو علماؤ په نیز مستحب دی۔

جواب: هر کله چه په پورتنو بے شماره نصوصو سره ددے دوه رکعته نفلو استحباب ثابت شو، نو دے قیاس له هیڅ اعتبار پاتے نشو۔ بله دا چه دا دوه رکعته دومره اوږدۀ نۀ اداء کیږی چه ددے په وجه د ماښام په مانځه کښے تاخیر راشی بلکه دا خو دوه لنډ رکعتونه دی۔ لهذا د نص په موجودګئ کښے داسے فاسد قیاسونو ته هیڅ ضرورت نشته۔

دویم دلیل: طاووسؒ نه نقل دی چه د (ابن عمر رضی الله عنه نه د ماښام مانځه نه مخکښے ددے دوه رکعته نفلو په حقله پوښتنه وشوه، نو هغۀ وفرمایل: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے هیڅوك نۀ دے لیدلے چه دا ئے کړی وی۔ البته ابن عمرؓ د مازیګر مانځه نه پس په دوه رکعته نفلو کښے اجازت ورکړو)۔

[ابوداود: ١٨٩/١].

جواب: ددے حدیث نه په یو څو وجو سره دلیل نیول صحیح نۀ دی:

اوله وجه: دا موقوف حدیث دے او موقوف حدیث حجت نۀ وی۔

دویمه وجه: په دے کښے دا الفاظ دی چه (مانۀ دی لیدلی) حالانکه نورو بے شماره صحابه کرامو لیدلی دی، نو د لیدونکی خبره په نالیدونکی باندے حجت دے۔

دریمه وجه: د ابن عمر رضی الله عنه نه خپله د ماښام د مانځه نه مخکښے دوه رکعته نفل ثابت دی، لکه مخکښے په حدیث نمبر (۱۸) کښے تیر شو۔ نو ابن عمرؓ څنګه دا ویلے شی چه ما نۀ دی لیدلی؟

څلورمه وجه : د ابن عمرؓ پورتنے حدیث ضعیف دے، ځکه په دے کښے ابوشعیب راوی مجهول دے۔ [ضعیف أبی داود : ۱۲۸٤].

پنځمه وجه : د ابن عمرؓ په دے حدیث کښے د مازیګر مانځه نه پس دوه رکعته نفل کول راغلی دی، حالانکه احناف ددے قائل نهٔ دی۔دے وجے نه ددے نه دلیل نیول صحیح نه دی۔

دریم دلیل : عبد الله بن بریده د خپل پلار بریده رضی الله عنه نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : [إِنَّ بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ رَكْعَتَيْنِ مَا خَلاَ الْمَغْرِبَ].

(د هر اذان او اقامت ترمینځه مونځ شته دے مګر د ماښام نه سیوا)۔

نو په دے حدیث کښے ماښام مستثنیٰ شوے دے چه ددے د فرض مانځه نه مخکښے دوه رکعته نفل نشته۔

جواب : دا باطل روایت دے، ځکه په دے کښے حیان دروغژن راوی دے، او ددے په متن کښے هم مخالفت واقع شوے۔ بله دا چه عبد الله بن بریدهؓ به په خپله د ماښام مانځه نه مخکښے دوه رکعته نفل کول، نو هغه څنګه د خپل روایت خلاف وکړی ؟

[بیهقی، نصب الرایة : ۲/۱٤۰].

څلورم دلیل : ابراهیم نخعیؒ نه نقل دی چه ددهٔ نه د ماښام مانځه نه مخکښے د مونځ په باره کښے پوښتنه وشوه، نو دهٔ منع وکړه او وے فرمایل : (رسول الله ﷺ، ابو بکر او عمر i به دا نهٔ کول)۔

[أخرجه ابن نصر ومحمد فی کتاب الآثار].

جواب : دا معضل حدیث دے (یعنی په دے کښے د ابراهیم نخعیؒ او رسول الله ﷺ ترمینځه دوه راویان حذف شوی دی، نو دا منقطع شو)۔ او دا مقطوع حدیث دے او دا دلیل نهٔ وی۔

خلاصه دا چه : په قولی، فعلی او تقریری احادیثو سره او د صحابه کرامؓ او تابعینوؒ په ګڼړو آثارو سره ثابته شوه چه د ماښام مانځه نه مخکښے دوه رکعته نفل کول مستحب دی۔او په دے کښے هیڅ شك شبه پاتے نشوه۔

اوس چه د چا په نیز د دلیل هیڅ قدر او قیمت نهٔ وی نو که هغه په دے حدیثونو عمل نهٔ کوی نو په هغهٔ څهٔ تعجب دے !!

وبالله التوفیق.

د جُمعې په ورځ د زوال په وخت مونځ کول مکروه نهٔ دی

٤٩٩ – سوال : د جُمعې په ورځ د زوال په وخت مونځ کول مکروه دی اوکه نه ؟

جواب : غوره خبره داده چه د جُمعې په ورځ د زوال په وخت مونځ کول مکروه نهٔ دی، په دې خبره دلائل دادی :

اول دليل: سلمان رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : [لَا يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهٖ أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيْبِ بَيْتِهٖ، ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ ثُمَّ يُصَلِّيْ مَا كُتِبَ لَهٗ ثُمَّ يَنْصُتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ إِلَّا غُفِرَ لَهٗ مَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى]. (کوم سړے چه د جُمعې په ورځ غسل وکړی او څومره ئې چه وس کيږی ځان پاك کړی او تيل ومږی يا د خپل کور خوشبوئې ولږوی، اوبيا د کوره ووځی خو د دوه کسانو ترمينځه جدائی نهٔ راولی، بيا هغومره مونځ وکړی څومره چه دهٔ لپاره ليکل شوې وی، بيا چه کله امام خبرې شروع کړی نو دې غلې ناست وی، نو دهٔ ته به ددې او د راتلونکې جُمعې ترمينځه ګناهونه وبښلې شی).

[بخاری : ۱/۱۲۰، مشکاة : ۱/۱۲۲].

نو په دې حديث کښې دا الفاظ (بيا هغومره مونځ وکړی چه دهٔ لپاره ليکل شوې وی) دا عام دی ددې نه د نهی وخت نهٔ دې خاص شوې.

د ابو هريره رضي الله عنه په حديث کښې دی : [ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلّٰى مَا قُدِّرَ لَهٗ ثُمَّ أَنْصَتَ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهٖ ......] (بيا جُمعې مانځه ته راشی او څومره مونځ چه دهٔ له په تقدير کښې ليکل شوې وی، هغه وکړی بيا خطبې نه د امام وزګاريدو پورې خاموش پاتې شی).

او د ابوداود په روايت کښې دی : (بيا چه څومره مونځ ورله الله ليکلې وی هغه وکړی بيا چه کله امام راوځی نوخاموش پاتې شی).

[مسلم : ۱/۲۷۹، ابوداود، مشکاة : ۱/۱۲۲].

نو دا اوددې پشان نور حديثونه په دې خبره ښکاره دليل دې چه د جُمعې په ورځ نيمائی ورځ کښې د زوال په وخت مونځ کول جائز دی، ځکه نبی صلى الله عليه وسلم ددې سړی مونځ د امام د خطبې شروع کولو پورې اوږد کړې دې، او په دې وخت کښې ئې د مانځه نه منع نهٔ ده کړې.

دویم دلیل : ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دے : [أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم نَهٰى عَنِ الصَّلَاةِ نِصْفَ النَّهَارِ حَتّٰى تَزُوْلَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ]. (نبی صلى الله عليه وسلم د ورځے په نیمائی برخه کښے د مونځ کولو نه منع فرمایلے، سیوا د جُمعے د ورځے نه).

[مسند الشافعی، ص : ۳۵، مشکاة : ۹۵/۱].

دریم دلیل: ابو الخلیل د ابو قتاده رضي الله عنه نه روایت کوی چه : (نبی صلى الله عليه وسلم د نیمائی ورځے د مانځه نه منع کړے تردے چه د نمر زوال وشی مگر د جُمعے په ورځ، او فرمائی : بیشکه جهنم د جُمعے د ورځے نه سیوا په نورو ورځو کښے گرمولے شی).

[ابوداود : ۱۶۲/۱].

دا حدیث ضعیف دے، ځکه ابو الخلیل د ابو قتاده نه آوریدل نهٔ دی کړی. بل په دے کښے لیث بن ابی سلیم دے او په دهٔ کښے کمزوری ده.

په شرح السنة [۳۵۸/۲] کښے دی (بیان ددے خبرے چه د زوال په وخت مونځ کول جائز دی د جُمعے په ورځ).

امام ابن قیمؒ فرمائی : د جُمعے په ورځ د زوال په وخت مونځ کول مکروه نهٔ دی، او دا د امام شافعیؒ اود هغهٔ د ملگرو وینا ده، او همدا زمونږ د شیخ ابن تیمیهؒ غوره کړے قول هم دے، او د دوئ دلیل د ابو الخلیل – دغه پورتنے – حدیث نهٔ دے بلکه د دوئ اعتماد د سلمان رضي الله عنه په هغه حدیث دے چه په هغے کښے دا راغلی دی چه د جُمعے په ورځ جومات ته راتلونکی له د خطیب راوتو پورے مونځ کول مستحب دی، ځکه په دغه حدیث کښے د امام راوتو پورے د مانځه استحباب ښکاره شوے دے او د مانځه نه ئے صرف په هغه وخت کښے منع کړے چه امام د خطبے دپاره راووځی. دا وجه ده بے شماره سلفو لکه عمر بن خطاب رضي الله عنه او ددهٔ تابعداری کونکی امام احمدؒ فرمایلی دی چه : د امام راوتل مونځ بندوی او ددهٔ خطبه خبرے بندوی. نو وگوره دوئ د مانځه نه بندونکے شے د امام راوتل وگرځول نهٔ د ورځے نیمائی کیدل.

بله دا چه د جُمعے په ورځ خلک په جومات کښے د چتونو لاندے مونځ کوی او د زوال کیدو پته ورته نهٔ لږی او یو سړے په مانځه کښے مصروف وی او د زوال نه نهٔ خبریږی او دا هم نشی کیدے چه د خلکو په اوږو باندے خپے واړوی او بهر ووځی نمر وگوری او بیا بیرته

خپل ځائے ته واپس شی، او داکار ورله جائز هم نهٔ دے۔

او د ابو قتاده رضي الله عنه د حديث باره کښے امام ابوداودؒ فرمائی : دامرسل دے ځکه ابو الخليل د ابو قتاده نه آوريدل نهٔ دی کړی۔ او مرسل چه کله د عمل سره متصل شی او يا ددے قياس او يا د صحابی قول تائيد وکړی او يا ئے مرسل معروف وی او د ضعفاء او متروکينو نه اعراض کوی چه دے شيانو سره ددے مرسل تقويه کيږی، نو بيا په دے مرسل باندے عمل کيدے شی۔

بلـه دا چه ددے مرسل تائيد په نورو شواهدو سره هم کيږی يو د هغے نه هغه روايت دے چه امام شافعیؒ په خپل کتاب کښے ذکر کړے په دے سند سره چه :

[رُوِیَ عَنْ اِسْحَاقِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ اَبِیْ سَعِيْدٍ عَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِیَّ صلی الله عليه وسلم (نَهٰی عَنِ الصَّلَاةِ نِصْفَ النَّهَارِ حَتّٰی تَزُوْلَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ].

بيا ئے د ابوسعيد او ابو هريره حديث ذکرکړے چه :

[كَانَ النَّبِیُّ صلی الله عليه وسلم يَنْهٰی عَنِ الصَّلَاةِ نِصْفَ النَّهَارِ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ].

ليکن امام بيهقیؒ فرمائی : ددے په سند کښے هغه راويان شته چه د هغوئ روايت حجت نهٔ دے۔ خو کله چه دا حديثونه د ابوقتاده د حديث سره يوځائے شی نو څهٔ قوت پيدا کوی۔ [زاد المعاد : ۱/۳٦٦].

امام بيهقیؒ د ابو ثعلبه بن ابی مالك نه نقل کړی چه دهٔ ته ابو مالك خبر ورکړے چه دوئ به د عمر بن خطاب رضي الله عنه په زمانه کښے د جُمعے په ورځ مونځ کولو، او کله به چه عمر رضي الله عنه د خطبے دپاره راوواتهٔ او په منبر به کيناستهٔ او مؤذن به اذان وکړو، نو دوئ به کيناستل خبرے به ئے کولے تردے چه مؤذن به خاموشه شو او عمر رضي الله عنه به خطبے ته ودريدهٔ نو دوئ به غلی شو او هيڅوا به خبرے نهٔ کولے۔

[كتاب المعرفة : ۲/٤٧٦، للبيهقی، السنن الكبری : ۳/۱۹۲].

نودے حديث نه معلومه شوه چه خلکو به د امام راوتو پورے مونځونه کول او دا د زوال په وخت کښے وی۔

سعيد بن مسيبؒ فرمائی : د جُمعے په ورځ خطبے دپاره د امام راوتل مونځ ختموی۔

[السنن الكبری : ۳/۱۹۳].

عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائی : (په نصف النهار کښې مونځ مکروه دے مګر د جُمعے په ورځ نهٔ دے)۔ [مصنف ابن ابی شیبه : ١٣٩/٢].

او همدا د طاوسؒ، حکمؒ، معاویه بن قرهؒ او حسن بصریؒ وغیره قول هم دے۔

[کما فی المصنف : ١٣٩/٢، انظر بدایة المجتهد : ٧٤/١].

سببی مونځونه په مکروه اوقاتو کښې کول مکروه نهٔ دی

٥٠٠ – **سوال** : ځینے علماء فرمائی : سببی مونځونه د نهی په اوقاتو کښې کول مکروه نهٔ دی، نو دا خبره صحیح ده که نه ؟

جواب : شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله ذکر کړی دی چه کوم مونځ سبب لری نو هغه د کراهت په اوقاتو کښې کول هم جائز دی، او په دے باندے ئے دلائل قائم کړی، مونږ هغه په لنډه توګه ذکر کوو:

١ – هغه فرمائی : په نص او اجماع دواړو سره ثابته شوے ده چه د مونځونو نه چه کومه منع راغلے دا ټولو مونځونو ته نهٔ ده شامله، ځکه په بخاری او مسلم کښې د نبی ﷺ دا ارشاد نقل شوے چه هغه فرمائی : (چا چه د نمر خاتهٔ نه مخکښې د سهار د مانځه نه یو رکعت را لاندے کړو نو دهٔ د سهار مونځ رالاندے کړو، او چا چه د نمر پریواتهٔ نه مخکښې د مازیګر د مانځه نه یو رکعت را الاندے کړو نو دهٔ د مازیګر مونځ را لاندے کړو)۔

بیا فرمائی : نو د حدیث او د دوئ د اتفاق نه معلومه ده چه د هر یو مونځ نه منع نهٔ ده راغلے بلکه د دغے ورځے د مازیګر مونځ په نص او د دوئ په اتفاق سره کول جائز دی۔

٢ – او جمهورو علماؤ د نهی په اوقاتو کښې د فوتی مونځونو د قضائی راوړلو په سلسله کښې دبخاری او مسلم په دے حدیث باندے دلیل نیولے چه : (څوك د مانځه نه اودهٔ شو او یا ترے هیر شو نو یادیدو په وخت دے دا وکړی، او ددے صرف همدا یوه کفاره ده)۔

او د ابوقتاده په حدیث کښې دی (کله چه رابیدار شی نو هغه دے اداء کړی) نو دلته ئے امر کړے چه دا مونځ به د بیداریدو او یادیدو په وخت اداء کولے شی او دا هر وخت ته شامل دے۔

او دا عموم د نهی د عموم نه غوره دے ځکه دا خبره ثابته شوے ده چه دا د فرضو اداء او

قضاء دواړو ته شامل نۀ دے، بله دا چه کله رابیدار شو یا ورته یاد شو نو همدا د دغه مانځه وخت دے نو په دے وخت کښے ددے مونځ کول داسے دی لکه ددغه ورځے مازیګر مونځ په خپل وخت کښے کول سره ددے چه هغه معذور دے او دا معذور نۀ دے۔

۳ – او جبیر بن مطعم رضی الله عنه نقل کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (اے د عبد مناف اولاده ! تاسو هیڅوك مۀ منع کوئ چه هغه ددے بیت الله نه طواف کوی او د شپے یا ورځے هر وخت مونځ کوی)۔ او دا حدیث اهلِ سننو روایت کړے۔

او د ابن عمر، ابن زبیر او نورو صحابه کرامو j نه د سهار او د مازیګر مونځونو نه پس د طواف او د مونځ جواز نقل شوے دے۔

او ددغه پورتنی حدیث نه په ډیرو وجو سره دلیل نیولے کیږی :

اوله وجه : داده چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا خبره چه (تاسو هیڅوك مۀ منع کوئ چه د بیت الله طواف کوی او هر وخت ئے چه زړۀ غواړی مونځ کوی شپه وی که ورځ) ددے مقصد خبره عام کول دی نو بیا دا ویل څنګه جائز دی چه په دے عموم کښے پنځه وختونه داخل نۀ دی۔

دویمه وجه : ددے عموم نه هیڅ یو صورت نۀ دے خاص کړے شوے، نۀ په نص سره او نۀ په اجماع سره۔ او بل اړخ ته د نهی حدیث په نص او اجماع سره خاص کړے شوے دے۔ او کوم عموم چه محفوظ وی هغه د هغه عموم نه غوره وی چه په هغے کښے تخصیص شوے وی۔

دریمه وجه : بیت الله چه د کوم وخت راسے ابراهیم علیه السلام جوړ کړے، د همغه وخت راسے پرله پسے ددے نه خلك ګیر چاپیره طواف کوی او مونځونه کوی۔ او نبی صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګرو به د هجرت نه مخکښے ددے طواف کولو او د هغے سره به ئے مونځونه کول۔ دغه شان کله چه مکه مکرمه فتح شوه او مسلمانان ډیر شول او د دوئ طوافونه او مونځونه زیات شول نو که چرے د طواف دا دوه رکعته په پنځو مکروهو وختونو کښے کول مکروه وے نو نبی صلی الله علیه وسلم به ددے نه په عامه توګه سره منع کړے وے ولے چه مسلمانانو ددیته حاجت لرلو۔ او دا خبره به خامخا را نقل شوے وے۔ حالانکه هیڅ یو مسلمان دا خبره نۀ ده نقل کړے چه نبی صلی الله علیه وسلم ددے نه منع کړے۔ علاوه لا دا چه د ورځے په دواړو طرفونو کښے طواف

کول زیات او آسان وي.

څلورمه وجه : که چرې ددې نه منع وشي نو په دې کښې د انسانانو د مونځونو او طوافونو مصلحتونه بېکاره کيږي.

پنځمه وجه : نهي د ذريعې بندولو د وجې نه شوې ده، او کوم شے چه د ذريعې بندولو د وجې شوې وي هغه د راجح مصلحت په وخت کولے شي. هغه داسې چه مونځ په خپله يو ډير لوئې عمل او په ټولو عباداتو کښې عظيم ترين عبادت دے. او نهي ددې ذريعې د بندولو د وجې شوې ده چه کفارو سره مشابهت ختم شي.

بيا کوم شے چه د سدًا للذريعة د وجې منع شوې وي هغه د مصلحتِ راجحه د وجې مباح کيږي، لکه څنګه چه کومې ښځې سره چه د نکاح کولو اراده وي هغې ته کتل او چه د هغې د ضائع کيدو خطره وي نو هغې سره سفر کول دواړه جائز دي.

نو مطلقِ نفلو نه په بعضې اوقاتو کښې منع کيږي ځکه چه په دې کښې مصلحت حاصل او مفسدت ختمول وي. پاتې شو هغه مونځ چه د هغې دپاره سبب وي، نو په دې کښې ځينې داسې دي چه که ددې نه منع وکړې شي نو مصلحت فوت کيږي او د خلکو طاعت او عبادت او اجر او ثواب حاصلول او يو لوئې ديني مصلحت ختميږي چه ددې کمې بيا نۀ پوره کيږي. لکه تحية المسجد، د تلاوت سجده، د کسوف وغيره مونځ.

او ځينې داسې دي چه مصلحت پرې نيمګړې کيږي لکه د محلې د جومات د امام سره دوباره مونځ کول، او د طواف دوه رکعته شو، خصوصًا د هغه چا دپاره چه هغوی اوس راغلي وي او دوئ غواړي چه په دې ورځو شپو کښې طواف غنيمت وګڼړي. او طواف د دوئ او د مکې والو دپاره د ورځو په دواړو اړخونو کښې وي.

شپږمه وجه : د ذوات الاسباب مونځونو داعي موجود دے، يواځې د وخت د وجې نه نۀ کيږي. په خلاف د مطلقِ نفلو نه چه د هغې سبب نۀ وي. دے وجې نه د نهي فساد د هغه مونځ نه راولاړيږي چه د هغې سبب نۀ وي، نۀ د هغې مونځ نه چه د هغې سبب وي. دا وجه ده، د ابن عمر رضی الله عنه په حديث کښې دي :

[لَا تَتَحَرَّوْا بِصَلَاتِكُمْ طُلُوْعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوْبَهَا].

(تاسو خامخا خپل مونځ د نمر خاتۀ او نمر پريواتۀ وخت ته مۀ رسوئ).

او دا کومے وجے چه مونږ ذکر کړے دا په دے خبره هم دلالت کوی چه د نهی په اوقاتو کښے د فوتی مونځونو قضائی راوړلے شی۔

اوومه وجه : د محلے د امام سره دوباره مونځ کول هر کله چه مونځ ودریږی او دا په مسجد کښے وی نو دا مونځ به د جمهورو په نیز د نهی په وخت کښے هم دوباره کیږی۔

٤ – او دوئ درے حدیثونه په دلیل کښے پیش کړی :

اول حدیث : جابر بن یزید بن اسود د خپل یزید بن اسود رضی الله عنه نه روایت کوی دا وائی : زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره حج له تلے ووم او د هغهٔ سره مے په مسجدِ خَیُف کښے د سهار مونځ وکړو، او زهٔ ځوان هلك ووم۔ نو کله چه نبی صلی الله علیه وسلم مونځ ختم کړو، نو ناساپه ئے دوه سړی ولیدل چه د خلکو نه شاته ناست وو او هغوئ د نبی صلی الله علیه وسلم سره مونځ ونه کړو۔ نبی صلی الله علیه وسلم امر وکړو، دا دواړه کسان راولئ۔ نو هغه دواړه په داسے حال کښے ورته وروستل شول چه د هغوئ د اوګو ترمینځه غوښے رپیدلے، وے فرمایل : مونږ سره د مونځ کولو نه څهٔ شئ بند کړئ ؟ هغوئ عرض وکړو، اے د الله رسوله ! مونږ په خپلو ځایونو کښے مونځ کړے وو۔ وے فرمایل : داسے مهٔ کوئ۔ کله چه تاسو په خپلو ځایونو کښے مونځ کړے وی بیا تاسو جومات ته راشئ او جماعت ولاړ وی نو تاسو هغوئ سره مونځ کوئ، ځکه دا به ستاسو دپاره نفل وی)۔

[رواه أهل السنن وأحمد، مشكاة : ١٠٣/١].

دویم حدیث : بشر بن محجن د خپل پلار نه روایت کوی چه دے د نبی صلی الله علیه وسلم سره ناست وو نو دے کښے د مونځ دپاره اذان وشو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مونځ وکړو۔ بیا واپس شو او محجن لا په خپل مجلس کښے ناست وو، نبی صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : خلکو سره د مونځ کولو نه څهٔ شی منع کړے؟ آیا تهٔ مسلمان سړے نهٔ ئے؟ هغهٔ ویل: ولے نه یا رسول الله ! خو ما په خپل کور کښے مونځ کړے وو۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : کله چه تهٔ راشے نو خلکو سره شریك مونځ کوه اګر که تا یواځے مونځ کړے وی)۔

[موطأ امام مالك].

نو دا حدیث په خپل عموم سره او مخکنے حدیث په خپل صراحت سره په دے خبره دلالت کوی چه د سهار مانځه نه پس دوباره مونځ کیږی۔

دریم حدیث : ابو ذر رضی الله عنه نه روایت دے چه ماته رسول الله ﷺ وفرمایل :
[كَيُفَ أَنُتَ إِذَا كَانَتُ عَلَيُكَ أُمَرَاءُ يُؤَخِّرُونَ الصَّلاَةَ عَنُ وَقُتِهَا أَوُ يُمِيتُونَ الصَّلاَةَ عَنُ وَقُتِهَا؟ قَالَ: قُلُتُ: فَمَا تَأْمُرُنِىُ؟ قَالَ : صَلِّ الصَّلاَةَ لِوَقُتِهَا فَإِنُ أَدُرَكُتَهَا مَعَهُمُ فَصَلِّ فَإِنَّهَا لَكَ نَافِلَةً] وَفِى رِوَايَةٍ : [وَلَا تَقُلُ: إِنِّى صَلَّيُتُ فَلاَ أُصَلِّىُ].

(ستا به څهٔ حالت وی کله چه په تا داسے امیران مقرر شی چه هغوئ د خپل وخت نه مونځ روستو کوی او یائے داسے وویل چه د خپل وخت نه ئے وژنی؟ دا وائی ما عرض وکړو، نو بیا تاسو ماته څهٔ حکم کوئ؟ نبی ﷺ وفرمایل : تهٔ خپل مونځ په خپل وخت کښے وکړه، نو که د هغوئ سره دے مونځ را لاندے کړو نو مونځ وکړه ځکه چه دا به ستا دپاره نفل شی۔ په بل روایت کښے دی: او داسے مهٔ وایه چه ما مونځ کړے دے نو زهٔ بیا مونځ نهٔ کوم)۔ [صحیح مسلم].

○ او د ابو قتاده رضی الله عنه په حدیث کښے راغلی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : (کله چه په تاسو کښے څوك جومات ته ننوځی نو د ناستے نه مخکښے دے دوه رکعته وکړی)۔
[بخاری، مسلم].

او ابو قتاده رضی الله عنه وائی : زهٔ په داسے وخت کښے جومات ته لاړم چه رسول الله ﷺ د خلکو ترمینځه ناست وو، نو زهٔ هم کیناستم۔ نو رسول الله ﷺ راته وفرمایل: تهٔ څهٔ شی منع کړے چه د ناستے نه مخکښے دے دوه رکعته کړی وے؟ نو ما عرض وکړو، ما تهٔ ولیدلے چه ناست وے او نور خلك هم ناست وو۔ نبی ﷺ وفرمایل : کله چه په تاسو کښے څوك جومات ته ننوځی نو د دوه رکعته کولو نه دے مخکښے نهٔ کینی۔

نو په دے حدیث کښے د ناستے نه مخکښے په دوه رکعته مونځ کولو باندے امر راغلے، او ددے نه منع راغلے چه انسان د دے دوه رکعته کولو نه وړاندے کینی۔ او دا هر وخت ته داسے شامل دے چه ددینه هیڅ یو صورت نهٔ په نص سره خاص شوے اونهٔ په اجماع سره۔ حالانکه د نهی د حدیث په باره کښے مخکښے معلومه شوه چه دا په خپل عموم باندے نهٔ دے پاتے، او محفوظ عموم د مخصوص عموم نه راجح وی۔

○ دارنګه په بخاری او مسلم کښے د جابر رضی الله عنه نه روایت دے دا فرمائی : یو سړے په داسے حال کښے راغے چه نبی ﷺ خطبه ویله، نو وے فرمایل : اے فلانیه ! تا مونځ کړے؟ هغهٔ

ويل نه۔ وې فرمايل: پاسه دوه ركعته مونځ وكړه۔ او د مسلم په روايت كښې دي : بيائې ورته وفرمايل: كله چه په تاسو كښې څوك د جُمعې په ورځ راشي او امام خطبه وائي نو دوه ركعته مختصر مونځ دې وكړي۔

نو هر كله ئې چه د خطبې په وخت د تحية المسجد په كولو باندې امر كړې، نو بيا په نورو اوقاتو كښې په دې تحيه باندې امر كول خو ډير لائق دي۔ سره ددې چه د خطيب د خطبې ويلو په وخت مونځ كول خو ډير سخت منع دي۔

هغه داسې چه هيڅوك به د جنازې مونځ نۀ كوي او نۀ به د طواف دوه ركعته كوي په داسې حال كښې چه خطيب خطبه وائي۔ نو معلومه شوه چه دلته د مانځه نه منع راتلل ډيره تاكيدي ده د هغه منعې نه كومه چه د سهار او مازيگر مونځونو نه پس د مونځ كولو نه راغلې ده۔ نو هر كله چه دلته د تحية المسجد امر وشو نو په هغه وختونو كښې خو بيا امر نور هم ډير لائق او غوره دې۔ او دا واضحه خبره ده۔

○ بله دا چه تحية المسجد ته د مسلمانانو حاجت ډير دې د هغه حاجت نه كوم چه د طواف نه پس دوه ركعته مونځ ته دې، ځكه د طواف روستو كول ممكن دي خو د تحية المسجد روستو كول ممكن نۀ دي۔ بيا سړې چه كله د نهي په وخت جومات ته ننوځي نو كه دا په غير د مونځ نه كيني نو دې د امر مخالف او مصلحت فوت كونكې حسابيږي – كه چرې گنهگار ورته هم ونۀ وايو – اوكه ولاړ پاتې كيږي او يا هلته جومات ته د ننوتو نه منع كيږي نو په دې كښې خو هم ډير لوئې شر دې۔

ځينې خلك د سهار سنت په خپل كور كښې وكړي او بيا جومات ته راځي، نو څوك چه په دې وخت كښې تحية المسجد مكروه گڼري نو په دوئ كښې ځينې خلك د جومات په دروازه كښې ولاړ وي تردې چه اقامت وشي نو بيا د خلكو سره مونځ كوي او په دې غوره وخت كښې خپل ځان د الله كور ته د ننوتو نه او په هغې كښې د ذكر كولو نه محروم كړي۔

او ځينې ننوځي خو د مونځ نه بغير كيني نو د امر خلاف وكړي۔نو ددې نه يقيني طور سره معلومه شوه چه مسلمانانو ته په هر وخت كښې د تحية المسجد كولو امر شوې۔ او مسلمانان د هميشه راسې د ورځې په دواړو طرفونو كښې جوماتونو ته ننوځي، كه چرې دوئ د تحية المسجد نه په دې وختونو كښې منع شوي وې نو خامخا به دا منع په ښكاره

تو ګه د نبي ﷺ نه را نقل شوې وي. حالانکه مسلمانانو ته ئې په هغه وخت کښې هم د تحية المسجد حکم کړې کله چه امام خطبې ته ولاړ وي.

○ دارنګه په صحیح بخاري کښې ثابت دي چه (نبي ﷺ د ماسپخین مانځه نه پس چه کوم دوه رکعته سنت کیږي، ددې قضائي ئې د مازیګر مانځه نه پس راوړې، او دا د نهي په وخت کښې د نفلو قضائي راوړل دي). ښۀ سوچ وکړه !

○ **فائده** : د (ذوات الاسباب) مونځونو نه مراد دا مونځونه دي : د استخارې مونځ، د توبې مونځ، د تحية المسجد مونځ، د تحية الوضوء مونځ، د تلاوت سجده، د جنازې مونځ، د کسوف مونځ، د طواف دوه رکعته مونځ.

[مجموع الفتاوی د شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله : ۲۳/۱۷۸. ۲۲/۲۹۷. ۱۷/۵۰۳].

خو د جنازې مانځه په باره کښې مخکښې مونږ عرض وکړو چه دا په درې وختونو کښې کول جائز نۀ دي، لکه فتویٰ نمبر (۴۹۰) وګوره.

او د استخارې مانځه په باره کښې د جابر رضي الله عنه په حدیث کښې دي، دا فرمائي : (رسول الله ﷺ به مونږ ته په ټولو کارونو کښې داسې اهتمام سره استخاره راښودله لکه څنګه چه مونږ ته د قرآن یو سورت راښائي، فرمایل به ئې : کله چه په تاسو کښې څوك د یو کار اراده وکړي نو د فرض مونځ نه سیوا دې دوه رکعته وکړي......).

[بخاري: ۱/۱۵۵، مشکاة : ۱/۱۱٦].

نو په دې حدیث کښې هم داسې عموم دې چه ددې نه تخصیص نۀ دې شوې. بله دا چه د مازیګر یا د سهار مانځه نه پس هم د یو شئ د اخستلو یا د یو سفر شروع کولو دپاره استخارې ته د انسان ضرورت راپیښیږي، اوکه د مکروه وخت تیریدو انتظار کوي نو دغه ضرورت بیا فوت کیږي. په استخاره کښې خوب کول یا خوب لیدل ضروري نۀ دي څنګه چه د عوامو خلکو ګمان دې.

○ دارنګه په بخاري او مسلم کښې د ابو هریره رضي الله عنه په حدیث کښې راغلي چه رسول الله ﷺ بلال ته د سهار د مانځه په وخت وفرمایل : (بلاله ! ماته په اسلام کښې خپل هغه عمل را وښایه چه هغه د ټولو عملونو نه ستا په نیز ډیر د امید والا وي. هغۀ ویل : ماته ددې نه علاوه بل هیڅ یو عمل ډیر امید والا نۀ ښکاري، چه ما د ورځې یا شپې په هیڅ یو

وخت کښې اودس نۀ دے کړے مګر خامخا مے په دے اودس باندے دومره مونځ کړے څومره چه ماله لیکل شوے وی)۔

[بخاری : ۱۰۹۸، مسلم : ۲٤٥۸، مشکاة : ۱/۱۱٦].

دا حدیث هم په خپل عموم سره دلالت کوی چه تحیة الوضوء په هر وخت کښې کول جائز دی۔

○ ابو بکر صدیق رضی الله عنه نه روایت دے دا وائی : ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل چه فرمایل ئے : (کوم سړے چه ګناه وکړی بیا پاسی اودس وکړی او بیا مونځ وکړی او د الله نه بښنه وغواړی نو الله ورته خامخا بښنه کوی)۔

[ترمذی، ابن ماجه، مشکاة : ۱/۱۱۷].

دے حدیث نه هم معلومه شوه چه د توبے مونځ هر وخت کیږی، ځکه د ګناه څۀ وخت نۀ وی معلوم او د ګناه نه په توبه وښکلو کښې تاخیر کول هم جائز نۀ دی، مثلًا د نمر خاتۀ په وخت انسان ګناه وکړه نو په دۀ لازم دی چه خالصه توبه وباسی۔

نو کله چه تا په دغه پورتنی دلائلو باندے واقعی سوچ وکړو، نو تاته به معلومه شی چه ددے قول په خلاف بل قول ضعیف دے۔ دغه شان د علامه شوکانیؒ دا خبره هم ضعیفه ده چه : د پرهیزګاره دپاره بهتره داده چه د کراهت په اوقاتو کښې جوماتونو ته لاړ نشی)۔

[نیل الاوطار : ۳/۸٥].

ځکه دا خبره هیڅا نۀ ده کړے چه په دے وختونو کښې دے انسان جوماتونو ته نۀ داخلیږی۔ بلکه قوی خبره د اول قول والو ده چه په دے اوقاتو کښې هم سببی مونځونه کول جائز دی۔ [انظر : هیئة کبار العلماء : ۱/۲۹۰].

وبالله التوفیق.

طواف نه پس دوه رکعته په مکروه وختونو کښې کول جائز دی

۵۰۱ – **سوال** : په مکروه وختونو کښې په مکه اومدینه کښې نفل مونځ کول جائز دی که نه ؟ او په دغه دواړو مبارکو ښاریو کښې مکروه وختونه شته دے اوکه نه؟

جواب : د مدینے طیبے حکم خو د عامو ښارونو پشان دے چه په دے کښې هم په مکروه

وختونو کښې مطلقِ نفل کول مکروه دی۔ ځکه نبی کریم ﷺ په مدینه طیبه کښې په پنځو مکروهو وختونو کښې د نفلو کولو نه منع فرمایلې۔ نو بیا د مدینې حکم ددې نه څنګه خاص کړے شی؟

○ او هر چه په مکه کښې په مسجدِ حرام کښې دننه یا بهر د طواف نه پس دوه رکعته مونځ دے، نو په دې باره کښې راجح او غوره داده چه دا دوه رکعته کول هر وخت جائز دی، ددې دپاره هیڅ مکروه وخت نشته۔ لکه د جبیر بن مطعم رضی الله عنه په حدیث کښې دی: (اے د عبد مناف اولاده! تاسو هیڅوك مهٔ منع کوئ چه هغه ددې بیت الله نه طواف کوی او د شپې یا ورځې هر وخت مونځ کوی)۔

[ترمذی، ابوداود، نسائی، مشکاة: ۱/۹۵].

امام بیهقیؒ فرمائی: کیدے شی چه ددې مونځ نه صرف د طواف مونځ مراد وی، او همدا د حدیثونو نه معلومه ده۔ [بیهقی: ۲/۴۶۱].

امام زیلعیؒ فرمائی: شیخ ابن دقیقؒ په (الامام) کښې ویلی دی چه د روایتونو نه معلومیږی چه د مکې په باره کښې چه کومه استثناء راغلې نو دا صرف د طواف د دوه رکعتونو په باره کښې راغلې۔ لکه د ابن عدی او بیهقی په روایت کښې دا الفاظ دی: [مَنْ طَافَ فَلْيُصَلِّ] (څوك چه طواف وکړی نو هغه دے د طواف نه پس مونځ وکړی) په دې روایت کښې سعید دے او ددهٔ متابع نشته۔

[أخرجه ابن عدی والبیهقی من طریقه: ۲/۴۶۲، وفیه سعید وهو لا یتابع علیه، انظر نصب الرایة: ۱/۲۵۵].

مبارکفوریؒ فرمائی: غوره داده چه استثناء مختص ده د طواف د مانځه پورې او ټولو مونځونوته شامله نهٔ ده۔ [المرعاة: ۲/۴۶۹]

او همدا خبره امام خطابیؒ هم کړې۔

[معالم السنن: ۲/۱۹۵].

حافظ ابن عبد البرؒ فرمائی: د جبیر بن مطعم رضی الله عنه په حدیث کښې چه کوم مضمون راغلې، ددې تائید دا خبره هم کوی چه جمهورو مسلمانانو په دې باندې قول کړے، هغه داسې چه د ابن عباس، ابن عمر، ابن زبیر، حسن، حسین – رضی الله عنهم – طاوس، مجاهد، قاسم بن محمد، عروه بن زبیر – رحمهم الله – به د مازیګر مانځه نه پس

او بعضو به د سهار مانځه نه پس هم طواف کولو او د طواف ختمولو نه پس به ئې په همدغه وخت کښې دوه رکعته کول. او هم دا د شافعيؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، ابوثورؒ او داؤد بن عليؒ وينا هم ده. اهـ

زهٔ وايم: په احنافو کښې دا قول د امام طحاويؒ هم دے لکه هغه د اوږد بحث نه پس فرمائي: (او د همدے جواز قائل مونږ هم يو، او همدا د سفيانؒ قول دے. او دا قول د ابوحنيفهؒ، ابويوسفؒ او محمدؒ د قول خلاف دے.

[شرح معاني الآثار: ۱/۲۱۳].

علامه عبد الحيؒ فرمائي: کيدے شي چه انصاف والو ته دا خبره معلومه وي چه د سهار او مازيگر مانځه نه پس چه څوك طواف وکړي او د طواف نه پس د نمر خاتهٔ او نمر پريواتهٔ نه مخکښې دوه رکعته کوي، نو راجحه او ډيره صحيح خبره داده چه دا جائز دي.

[التعليق الممجد ص: ۲۰۹].

او عبد الحيؒ صاحب دا هم فرمائي: زما خپل عمل هم په مکه کښې دا وو. يو ځل کله چه ما طوافِ وداع وکړو نو مقامِ ابراهيم ته د طواف د دوه رکعته کولو دپاره حاضر شوم، نو ځينے حنفي طواف کونکو زهٔ منع کړم. ما ورته وويل: ډيره غوره خبره داده چه په دے وخت کښې دا مونځ کول جائز دي. او دا زمونږ په ملگرو کښې د طحاويؒ غوره قول هم دے، او دا زمونږ دپاره کافي دے. نو هغه حنفي ملگرو وويل چه مونږ ته ددے خبرے معلومات نهٔ وو، او مونږ تانه ددے استفاده وکړله.

[انظر المرعاة: ۲/٤۷۰].

نو د پورتني حديث او د صحابه کرامو‌ؓ او تابعينوؒ او تبع تابعينوؒ او نورو علماؤ او امامانوؒ د آثارو او اقوالو نه ښکاره معلومه شوه چه په مکه مکرمه کښې د طواف نه پس دوه رکعته په مکروه اوقاتو کښې کول هم جائز دي. البته نور مونځونه په مکروه اوقاتو کښې په مکه مکرمه کښې کول هم جائز نهٔ دي، ځکه د نهي احاديث ديته هم شامل دي او داسے دليل نشته چه هغه ددے نهي د احاديثو نه وباسي.

سوال: د ابو ذر رضي الله عنه په حديث کښې دي: هغه د کعبے په پوړئ باندے وخاتهٔ او وے ويل: څوك چه ما پيژني هغه مے پيژني او څوك مے چه نهٔ پيژني نو زهٔ جندب يم. ما د رسول الله

ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمایل ئې : [لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَلَا بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ إِلَّا بِمَكَّةَ إِلَّا بِمَكَّةَ إِلَّا بِمَكَّةَ].

(د سهار مانځه نه تر نمر ختو پورې او د مازیګر مانځه نه پس تر نمر پریوتو پورې هیڅ مونځ نشته، مګر په مکه کښې شته دې، درې ځله ئې وفرمایل).

[احمد : ١٦٥/٥، مشكاة : ٩٥/١].

نو دې حدیث نه معلومیږی چه په مکه مکرمه کښې د هیڅ مونځ دپاره مکروه وخت نشته او هریو مونځ هر وخت کیږی.

جواب : دا حدیث د څلورو وجهو نه ضعیف دې :

اول : دا د ابو ذر او مجاهد ترمینځه منقطع دې.

دویم : ددې په سند کښې اختلاف واقع شوې.

دریم : په دې کښې عبد الله بن مؤمل ضعیف دې.

څلورم : د عفراء آزاد کړې غلام (حمید) ضعیف دې.

[نصب الراية : ٢٥٤/١].

خو دا څلورمه وجه د ضعف کمزورې ده، ځکه حمید ته غټو امامانو ثقه ویلی دی. [المرعاة : ٤٧٨/٣].

د خطبې په وخت دوه رکعته تحية المسجد کول جائز دی

۵۰۲ – **سوال** : د خطبې په وخت دوه رکعته تحية المسجد کول جائز دی که نه ؟

جواب : بهتره داده چه خلك د خطبې دپاره وختی ځان مسجد ته ورسوی. ځکه چه دا د سلفوؒ عادت وو او په ډیرو احادیثو کښې دیته ترغیب راغلې. که څوك د عذر یا غیر عذر د وجې نه روستو شو او مسجد ته په داسې وخت کښې حاضر شو چه امام خطبې ته ولاړ وو، نو په دهٔ باندې لازم دی چه دوه رکعته وکړی.

ددې **دلائل** دادی :

١ – جابر رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د خطبې ویلو په وخت وفرمایل: [إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ وَلْيَتَجَوَّزْ فِيهِمَا].

(څوك چه د جُمعې په ورځ په تاسو کښې په داسې حال کښې راشي چه امام خطبه وائي نو هغه دې دوه مختصر رکعتونه وکړی)۔

[مسلم : ۱/۲۸۷، مشكاة : ۱/۱۲۳].

نو د رسول الله ﷺ دا حديث په دې مسئله کښې بيخي په ډاګه دې، او رسول الله ﷺ دا حديث هغه وخت ويلې دې کله ئې چه خلکو ته خطبه ورکوله۔ په دې حديث کښې هيڅ تاويل نشي کيدې۔

دا وجه ده، امام نوويؒ د هغه علماؤ تاويل رد کړې چه هغوئ وائي دغه کس ته چه رسول الله ﷺ د مونځ امر کړې وو نو دا ددې دپاره وو چه خلك پرې صدقه وکړی، نو هغه فرمائي : دا باطل تاويل دې چه د رسول الله ﷺ دا روستنئ خبره ددې ښکاره رد کوی چه :

[إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ......].

او دا يو داسې نص دې چه هيڅ قِسمه تاويل په کښې نشي کيدې، او زما ګمان نۀ دې چه يو عالم ته دې دا صحيح حديث ورسيږی اوبيا دې هم ددې خلاف کوی !!

[شرح مسلم للنووى].

زۀ وايم : ددې باوجود متاخرينو په دې حديث کښې تحريف کړې او ددې په خلاف ئې فتوىٰ ورکړې، لکه دا کار صاحب د احسن الفتاوى کړې۔ [٤/١٥٤].

او ځينې احنافو دغه پورتنې حديث په دې حديث باندې رد کړې چه نبي ﷺ فرمائي : (کله چه تا خپل ملګری ته د جُمعې په ورځ وويل چه چپ شه او امام خطبه ويله، نو تا لغوه کار وکړو)۔ [بخاري، مسلم].

او وائي : دا حديث مشهور دې او د جابر رضي الله عنه حديث خبر واحد دې، او کله چه د مشهور او خبر واحد تعارض راشي نو دويم به غورزيږی۔

زۀ وايم : د نبي کريم ﷺ په احاديثو کښې هيڅ کله تعارض نۀ وی، البته د مقلدينو د مذهب او د حديث ترمينځه تعارض راځي، نو ددې وجې نه دوئ بيا حديث غورزوی، او يو حديث د بل نه وهي۔

حالانکه دغه دواړه حديثونه صحيح او د عمل وړ حديثونه دی، ځکه دې حديث کښې دا دی چه انسان به د جُمعې په ورځې خطبې ته خاموشئ سره کينی، او د جابر په حديث کښې

راغـلـل چه څوك د خطبې په وخت راشي نو دوه رکعته به کوي، دے کښے څهٔ تعارض دے ؟ سره ددے نه چه په مونځ کښے خو د مخلوق سره خبرے نهٔ کیږي۔

۲ – جابر رضی الله عنه فرمائی :

[دَخَلَ رَجُلٌ يَوۡمَ الۡجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ ﷺ يَخۡطُبُ فَقَالَ : أَصَلَّيۡتَ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: قُمۡ فَصَلِّ رَكۡعَتَيۡنِ].

(یو سړے د جُمعے په ورځ په داسے حال کښے جومات ته راغے چه نبی ﷺ خطبه ویله، ورته ئے وفرمایل : مونځ دے کړے؟ هغهٔ ویل نه، ویلے: ودریږه او دوه رکعته وکړه)۔

[بخاری : ۱/۱۲۷، مسلم : ۱/۲۸۷، باب من جاء والإمام يخطب صلى الركعتين].

دا حدیث هم واضح دلیل دے په دے دوه رکعته کولو کښے۔ او ځینے خلکو چه دا ویلی دی چه دے سړی ته رسول الله ﷺ د ودریدو حکم ځکه وکړو چه خلك ئے ووینی او صدقه پرے وکړی، نو دا خبره د تحیة المسجد سره منافی نهٔ ده، ځکه نبی ﷺ هغهٔ ته د تحیة المسجد حکم وکړو دے دپاره چه د مسجد حق اداء شی او په دے ودریدو کښے بله فائده هم وشوه چه خلك پرے صدقه وکړی۔ او ددے تائید دادے چه مخکنی حدیث کښے تیر شو چه نبی ﷺ خلکو ته په دے دوه رکعته مونځ سره عام حکم وکړو۔

۳ – ابو قتاده ﷛ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل :

[إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الۡمَسۡجِدَ فَلۡيَرۡكَعۡ رَكۡعَتَيۡنِ قَبۡلَ أَنۡ يَّجۡلِسَ]. (په تاسو کښے چه څوك جومات ته ننوځی نو د ناستے نه وړاندے دے دوه رکعته مونځ وکړی)۔

[بخاری، مسلم].

دا حدیث عام دے، ددے نه د خطبے وخت نهٔ دے خاص کړے شوے، که د خطبے په وخت هم څوك مسجد ته داخل شی نو دوه رکعته کول ورله پکار دی۔نو په خپل وهم اوګمان سره ددے حدیث تخصیص جائز نهٔ دے۔

٤ – ابو هریره ﷛ نه روایت دے چه (سلیك غطفانی په داسے حال کښے راغے چه رسول الله ﷺ خطبه ویله، نو نبی ﷺ وفرمایل: آیا تا څهٔ مونځ کړے ؟ هغهٔ ویل نه، وے فرمایل : دوه رکعته وکړه او لنډه ئے وکړه)۔

[احمد : ۳/۳۰۸، ابن خزیمه : ۱۸۳۳، ترمذی : ۵۱۰، نسائی، نصب الراية : ۲/۲۰۳].

۵ – ابو سعید خدری ﷛ راغے او مروان د جُمعے په ورځ خطبه ویله، نو دوه رکعته ئے

کول نو خلکو کینولو مگر هغهٔ انکار وکړو او وې فرمایل : آیا رسول الله ﷺ سره ددې مونځ د کولو نه پس هم تاسو ما منع کوئ ؟۔

[المحلى لابن حزم : ٣/٢٧٧].

ابن حزمؒ فرمائی : په دې باره کښې د صحابه کرامو j نه متواتر آثار راغلی چه ددې سندونه ډیر زیات صحیح دی او دلالت کوی په دې چه څوك د جُمعې په ورځ په داسې حال کښې راشی چه امام خطبه وائی نو دوه رکعته به کوی۔ او ابو سعید خدری ﷛ د نبی ﷺ سره هم دا دوه رکعته کول او د هغوئ نه پس ئې د صحابو په حضور کښې هم کړی دی او په صحابو کښې ددهٔ هیڅ مخالف موجود نهٔ دې اونهٔ پرې چا رد کړې۔ سیوا د مروان د پولیسو نه چه هغوئ بیکاره خبرې کولې او په خطبه کښې ئې بیکاره عمل وکړو او د بدعت عمل ئې ښکاره کړو، او د سنت مړ کولو او دحق د ختمولو کوشش ئې وکړو۔

[المحلى : ٣/٢٧٧].

٦ سماك بن حسنۃ وائی : یو سړی د ابن عباس ﷛ نه پوښتنه وکړه : د امام د خطبې په حالت کښې مونځ کول څنګه دی ؟ هغهٔ وفرمایل : که چرې خلك دا کار کوی نو دا به ډیر ښهٔ وی۔ [المحلى : ٣/٢٧٨].

٧ – برید بن عبد الله وائی : ما حسن بصریؒ ولیدهٔ چه جومات ته ننواتهٔ او ابن هبیره خطبه ویله نو د جومات په روستنئ برخه کښې ئې دوه رکعته وکړل، بیا کیناستهٔ۔

٨ – ابو مجلزؒ وائی : کله چه تهٔ د جُمعې په ورځ راشې او امام راوتې وی نو که زړهٔ دې غواړی دوه رکعته وکړه۔ [المحلى لابن حزم].

او دا قول د جمهورو فقهاؤ او محدثینوؒ دې۔ ددې دلائلو ځینې برخه د مسئلې ثابتولو دپاره هم کافی ده، پاتې لا دا دومره دلائل !!

وبالله عز وجل التوفیق.

سهار اذان نه روسته او سنتو نه مخکښې نفل کول

۵۰۳ - **سوال** : د سهار اذان نه پس او د سنتو نه مخکښې نفل کول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : په دے کښې د علماؤ دوه قوله دی. راجحه داده چه په دے وخت کښې د سببی مونځ نه علاوه مطلقِ نفلی مونځونه کول مکروه دی، ددے دلائل دادی :

اول : نبی کریم ﷺ به د صبا راختو نه پس د سنتو نه سیوا بل هیڅ مونځ نهٔ کولو، سره ددے چه هغهٔ په مونځ باندے ډیر حرص لرلو.

دویم : عمر بن خطاب رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : (ځوك چه د خپلے وظیفے نه یا ددے د ځینے برخے نه اودهٔ پاتے شی او بیا هغه د سهار او د ماسپخین مانځه ترمینځه ولولی، نو دهٔ دپاره به داسے ولیکلے شی چه ګویا دهٔ د شپے لوستلے وی).

[مسلم : ۱۴۲، باب صلاة المسافرین، ابوداود : ۲۴۴/۱].

نو په دے حدیث کښې د سهار د مانځه نه پس (د نمر راختو نه روستو) تر ماسپخین مانځه پورے د تهجدو قضائی راغلے. او په دے کښې د صبا راختو نه پس نفل کول نهٔ دی ذکر شوی.

دریم : د ابن عمر رضی الله عنه په مرفوع حدیث کښې دی :

[صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنىٰ مَثْنىٰ، فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلّٰى رَكْعَةً وَاحِدَةً تُوْتِرُ لَهٗ مَا قَدْ صَلّٰى].

(د شپے دوه دوه رکعته کول افضل دی، او کله چه په تاسو کښې ځوك د صبا راختو نه یریږی نو یو رکعت دے وکړی چه دا به د هغهٔ کړے مونځ وتر او طاق جوړ کړی).

[بخاری : ۱۵۵/۱، مسلم : ۲۵۳/۱، ابوداود : ۲۴۴/۱].

دے حدیث نه معلومه شوه چه د صبا راختو نه پس وتر کول جائز نهٔ دی، لکه په دے باندے دا الفاظ دلالت کوی چه (کله ځوك د صبا راختو نه یریږی).

څلورم : عائشه k فرمائی : (اے د الله رسوله ! آیا تهٔ د وترو نه مخکښے اودهٔ کیږے؟ وے فرمایل : اے عائشے ! زما سترګے اودے کیږی خو زړهٔ مے نهٔ اودهٔ کیږی).

[بخاری، مسلم، ابوداود : ۲۴۹/۱].

د مسلم په حدیث کښې دی : (او د نبی ﷺ په سترګو به چه کله د شپے خوب غالبه شو

نو د ورځې به ئې بیا دولس رکعته کول)۔

[مسلم : ۲۵٦/۱، ابوداود : ۲۵۰/۱].

ابن عمر رضی الله عنه **نه روایت دے، رسول الله** صلی الله علیه وسلم **وفرمایل : (کله چه صبا را وخیژی نو د شپے ټول مونځ او وتر ختم شو، نو تاسو د صبا راختو نه مخکښے وتر کوئ)۔**

[ترمذی : ۱٤٥/۱، ابوداود : ۱۲۹۰، إرواء الغلیل : ۱٥٤/۲، وإسناده صحیح].

او دا حدیث په پورتنئ مسئله باندے په ډاګه دلیل دے۔

دا ډیر دلائل مونږ ځکه ذکر کړل چه ابن قدامهؒ د صبا راختو نه پس مطلقًا هر مونځ جائز ګڼړلے دے۔ [المغنی : ۷۸۹/۱].

OOOOOOOO

باب الاذان والاقامة

د اذان او اقامت د مسائلو بيان

د صبا راختو نه مخکښې د اولنى اذان حکم

٥٠٤ – **سوال** : د سهار مانځه دپاره اولنے اذان په حديثو کښې ثابت دے اوکه نه ؟ ځينے خلك وائى دا رمضان پورے خاص دے، دا خبره صحيح ده اوکه نه ؟

جواب : په سنتِ مطهره کښې د سهار د مانځه دپاره دوه اذانه ثابت دى۔ اولنے اذان د صبا راختو نه يوه ګينټه يا ددے نه لږ کم وخت مخکښې کيږى۔ او دويم اذان د صبا راختو نه پس کيږى۔ په دے باندے ډير زيات دلائل دى :

د دويم اذان **دلائل** :

اول : ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

[إِنَّ بِلَالًا يُنَادِىْ بِلَيْلٍ فَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يُنَادِىَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ قَالَ : وَكَانَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ رَجُلًا أَعْمٰى لَا يُنَادِىْ حَتّٰى يُقَالَ لَهٗ: أَصْبَحْتَ أَصْبَحْتَ].

(بيشکه بلال د شپے اذان کوى نو تاسو خوراك څکاك کوئ ترد ے چه عمرو بن ام مکتوم اذان وکړى۔ ابن عمرؓ وائى : ابن ام مکتوم يو ړوند سړے وو تر هغه وخته پورے به ئے اذان نهٔ کولو ترڅو چه هغه ته به وويل شو چه صبا دے کړو صبا دے کړو)۔

[بخارى: ۸٦/۱، مسلم : ۳٤٩/۱، مشکاة : ٦٦/۱].

دويم : سمر بن جندب رضي الله عنه نه روايت دے، نبى صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

[لَا يَمْنَعَنَّكُمْ مِنْ سُحُوْرِكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ وَلَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيْلُ].

(تاسو لره دے د خپل پيشمنى کولو نه د بلال اذان منع نهٔ کړى او نهٔ اوږد صبا يعنى

صبح کاذب). [مسلم : ۱/۳٤۹، ترمذی : ۱/۱۵۰، مشکاة : ۱/٦٦].

دریم : ابن مسعود ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ وفرمایل :

[لَا يَمْنَعَنَّ أَحَدَكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ مِنْ سُحُورِهِ فَإِنَّهُ يُؤَذِّنُ بِلَيْلٍ لِيَرْجِعَ قَائِمَكُمْ وَيَنْتَبِهَ نَائِمُكُمْ......].

(تاسو د بلال د اذان په وجه د پیشمنی نه مهٔ منع کیږئ، ځکه هغه ددے دپاره د شپے اذان کوی چه ستاسو ولاړ واپس شی او ستاسو اوده راویښ شی).

[بخاری : ٥٩٦، مسلم : ۲۵۹۳].

٤ – او داسے حدیث د انس ﷺ نه هم مرفوعًا روایت شوے.

[مجمع الزوائد : ۳/۲۲۵، وقال : رواه البزار ورجاله رجال الصحيح].

٥ – دارنګه د سلمان ﷺ نه هم روایت شوے.

[مجمع الزوائد : ۳/۱۵۳، إرواء الغليل : ۱/۲۳۹].

٦ – او د أنيسه ﷺ نه هم روایت شوے.

[إرواء الغليل : ۱/۲۳۷].

نو ددے ټولو حدیثونو نه ښکاره معلومه شوه چه د صبا دپاره دوه اذانه دی.

پاتے شو د امام طحاویؒ وغیره دا تاویل کول چه د بلال نظر کمزورے وو نو هغه خطا شو، نو نبی ﷺ ورته وفرمایل چه واپس لاړ شه او داسے ووایه چه [إِرْجِعْ فَنَادِ أَلَا إِنَّ الْعَبْدَ قَدْ نَامَ] **خبردار ! بنده اوده شوے وو.**

نو دا تاویل ددهٔ خطا دے. ځکه هر کله چه بلال همیشه دپاره خطا کیدو نو بیائے مؤذن ولے مقررولو ؟

نه بلکه حقیقت دادے چه [إِرْجِعْ فَنَادِ أَلَا إِنَّ الْعَبْدَ قَدْ نَامَ] **دا ورته نبی ﷺ هغه وخت ویلی وو چه دویم اذان ئے هم د صبا راختو نه مخکښے کړے وو، حالانکه په دے وخت کښے ددهٔ ذمه واری داوه چه د صبا راختو دپاره به ئے اذان کولو. نو ځکه ورته نبی ﷺ وفرمایل چه خلکو ته اعلان وکړه چه زهٔ د خوبه ووم نو اذان مے د صبا راختو نه مخکښے کړے.**

○ دا خبره یاده ساته چه د مسجدِ نبوی دوه مؤذنین وو، بلال او ابن ام مکتوم. په دے دواړو کښے اذان داسے تقسیم شوے وو چه بلال به د صبا راختو نه مخکښے اذان کولو، او ابن ام مکتوم به د صبا راختو نه پس اذان کولو. او کله به د دوئ نمبر بدلیدلو چه اولنے

اذان به ابن ام مکتوم کولو او روستنے به بلال کولو. لکه په دے باندے دلیل د عائشے k حدیث دے، دا فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل:

[إِنَّ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ يُؤَذِّنُ بِلَيْلٍ فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يُؤَذِّنَ بِلَالٌ وَكَانَ بِلَالٌ لَايُؤَذِّنُ حَتّٰى يَرَى الْفَجْرَ].

(بیشکه ابن ام مکتوم د شپے اذان کوی نو تاسو خوراك څکاك تر هغه وخته پورے کوئ چه بلال اذان وکړی، او بلال به هله اذان کولو چه صبا به ئے ولیدلو).

[صحيح ابن خزيمة: ۳/۲۱۱، صحيح ابن حبان: ۵/۱۹۵، رقم: ۳۴۶۲، نسائی: ۱/۱۰۵، احمد: ۶/۴۳۳].

○ او همدا خبره امام ابن خزیمهؒ هم کړے، هغه فرمائی: ددے دواړو حدیثونو ترمینځه تعارض نشته چه په یو کښے وائی: بلال د شپے اذان کوی، او بل کښے وائی ابن ام مکتوم د شپے اذان کوی. ځکه دا اذانونه په دوئ کښے تقسیم شوی وو. او کله به د دوئ د اذانونو تقسیمِ اوقات برعکس وو. هغه دا چه ابن مکتوم به د شپے اذان کولو او بلال به د صبا راختو اذان کولو. [انظر نصب الراية: ۱/۲۹۰].

او په کوم حدیثونو کښے چه د بلال ﷛ د خطا کیدو ذکر راغلے، نو په دے کښے زیاتره حدیثونه ضعیف دی، او ځینے احتمالی او مجمل دی. نو په دے سره هغه حدیثونه نهٔ رد کیږی چه هغه د صبا دپاره د دوه اذانونو په باره کښے راغلی، ځکه چه دا په خپله معنیٰ کښے ښهٔ واضح دی.

○ دا خبره هم قابلِ غور ده چه اولنے اذان د رمضان پورے خاص نهٔ دے، لکه ځینے علماؤ دا ګمان کړے چه دا رمضان پورے خاص دے او دلیل کښے دا وائی چه په دے حدیث کښے د [فَكُلُوا وَاشْرَبُوا] الفاظ راغلی. یعنی د پیشمنی ذکر په کښے راغلے، اودا په رمضان کښے وی.

جواب: د صحابه کرامو z دا عادت وو چه ډیرے ډیرے روژے به ئے نیولے. هغوئ به هره میاشت پنځلس ورځے روژه نیوله، دارنګه لس ورځے به ئے نیولے، دارنګه ګل او زیارت (یعنی دوشنبه اوپنج شنبه) به ئے نیوله، دارنګه ایامِ بیض روژے به ئے نیولے، دارنګه د هرے میاشتے نه به ئے درے روژے نیولے. زمونږ پشان ناراسته نهٔ وو.

دے وجے نه ددے حدیثونو نه دا معلومول چه اولنے اذان به صرف په رمضان کښے کیدهٔ، صحیح نهٔ ده. [انظر المرعاة: ۲/۲۸۱].

علامه ابن قيم رحمه الله فرمائي : ځينې خلکو صحيح او صريح محکم سنت رد کړې، او هغه دا چه د بخاري او مسلم د حديثونو نه ثابته شوې ده چه د صبا راختو نه مخکښې اذان کول جائز دي۔ امام مالکؒ فرمائي : د صبا دپاره د صبا راختو نه مخکښې هميشه دپاره اذان کيږي۔ نو دا سنت طريقه بعضې خلکو په دې وجه رد کړې چه دا د اصولو خلاف ده دارنګ دا ئې قياس کړې ده په هغه اذانونو باندې چه هغه د نورو مونځونو دپاره کيږي۔ دارنګه د ابن عمرؓ په هغه حديث باندې چه په هغې کښې دا ويل شوي دي چه بلال رضي الله عنه د صبا راختو نه مخکښې اذان وکړو نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته حکم وکړو چه واپس شي او داسې ووائي چه خبردار ! بنده اودۀ شوې وو۔ حالانکه دغه پورتنې سنت په دې باندې نۀ رد کيږي ځکه هغه مستقل سنت دې۔ او په نورو مونځونو باندې ددې قياس کول هم صحيح نۀ دي ځکه په دې کښې د سنت مخالفت دې۔ حالانکه ددې دواړو ترمينځه فرق په حديث کښې خپله ذکر شوې هغه دا چه د صبا راختو نه مخکښې په اذان کولو کښې مصلحت او حکمت پروت دې کوم چه په نورو مونځونو کښې نشته۔ او هر کله چه دا خصوصيت په صبا کښې پروت دې نو ددې قياس په نورو مونځونو باندې کول صحيح نۀ دي۔ او هر چه د ابن عمرؓ دغه پورتنې حديث دې، نو دا معلول (ضعيف) دې، بيائې ددې تفصيل ذکر کړې۔

[إعلام الموقعين : ۱/ ۳٦۰، دَ امام ابن قيم رحمه الله].

نو الله دې په هغه چا رحم وکړي چه دا مبارك سنت راژوندې کړي۔ او ما خپله د صبا راختو نه مخکښې په اذان کولو باندې سوچ وکړو، نو په دې کښې راته الله تعالىٰ ډير مصالح او فوائد راښکاره کړل۔

دې وجې نه دا فقه نۀ ده چه ددې اذان نه انکار وکړې شي۔ څوك چه ددې اذان نه انکار کوي او بيا د فقاهت دعوىٰ هم کوي، نو دا فقيه نۀ دې۔دغه شان څوك چه ددې اذان د منسوخيت دعوىٰ لري هغه هم فقيه نۀ دې، لکه بعضو دا کار کړې۔

[و ګوره : أحسن الفتاوى : ۲/ ۲۹۱].

[اَلصَّلَاةُ خَيرٌ مِنَ النَّوْمِ] د صبا په اولنى اذان کښې دې

۵۰۵ – سوال : [اَلصَّلَاةُ خَيرٌ مِنَ النَّوْمِ] د صبا په اولنى اذان کښې ويل کيږي اوکه په

روستنی اذان کښې؟

جواب: په ګڼرو حدیثونو کښې راغلي چه دا په دویم اذان کښې ویلے کیږي کوم چه د صبا راختو نه پس د سهار مانځه دپاره کیږي۔

ددے دلائل دادي:

١ – انس رضي الله عنه **فرمائي: (تثویب د سهار په مانځه کښې دادے چه کله مؤذن** حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ **ووائي نو:** اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ **به دوه ځله ووائي)۔**

[شرح معاني الآثار للطحاوي: ١٠٣/١].

٢ – نعیم بن الخام رضي الله عنه **فرمائي: (زۀ د خپلے ښځے سره په یخه شپه کښې په څادر کښې پروت ووم نو دے کښې د رسول الله** صلى الله عليه وسلم **اذان کونکي د سهار د مانځه دپاره اذان وکړو، نو کله چه ما واوریدۀ ځان سره مے وویل: که چرے اذان کونکے داسے ووائي چه څوك کور کښې کیناستۀ نو څۀ حرج نۀ لري (نو دا به ښۀ وي) نو هغه مؤذن د:** اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ **ویلو نه روسته داسے وویل چه: څوك کیناستۀ نو څۀ حرج نشته)۔**

[بیهقي: ٤٢٣/١، عبد الرزاق ٥٠١/١، وإسناده صحیح کما أشار إلیه الحافظ في الفتح: ٩٩/٢].

٣ – انس رضي الله عنه **فرمائي:** [اَلسُّنَّةُ إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ فِيْ أَذَانِ الْفَجْرِ: حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ: الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] **(سنت طریقه داده چه کله مؤذن د ((سهار)) په اذان کښې** حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ **ووائي، نو:** اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ **دے ووائي)۔**

[صحیح ابن خزیمة: ٢٠٢/١، دارقطني: ٢٤٣/١، بیهقي: ٤٢٣/١، بإسناد صحیح].

٤ – بلال رضي الله عنه **نبي** صلى الله عليه وسلم **ته په داسے وخت کښې راغے چه هغوئ ته ئے د ((سهار)) د مانځه خبردارے ورکولو۔ نو هغۀ ته وویل شو چه هغه خو اودۀ دے۔ نو بلال وویل:** [اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] **(مونځ د خوب نه غوره دے، مونځ د خوب نه غوره دے) نو دا جُمله د سهار په اذان کښې برقراره وساتلے شوه۔ او په همدے باندے عمل ثابت شو)۔** [سنن ابن ماجه، بیهقي: ٤٢٢/١].

٥ – ابو محذوره رضي الله عنه **وائي: (ماته رسول الله** صلى الله عليه وسلم **د اذان یو یو حرف راوښودلو (په دے حدیث کښې دي) او دۀ به د سهار په اذان کښې** اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ **ویلو)۔**

[ابوداود: ٨٠/١، صحیح ابن حبان: ٩٦/٣].

٦ – دارنګه د ابو محذور ﷺ **په بل حدیث کښې دی :** [فَإِنْ كَانَ صَلَاةُ الصُّبحِ قُلْتَ : الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] **(که د سهار د مانځه دپاره اذان کوې نو داسې به وائې :** الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ**)**.

[سنن ابی داود : ۷۹/۱].

نو ددې ټولو حدیثونو نه معلومه شوه چه [الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] **به په دویم اذان کښې ویلې کیږی. ځکه په پورتنو حدیثونو کښې د (غداة، صبح، او فجر) الفاظ په ډاګه دلالت کوی چه ددې نه مراد د سهار دویم اذان دې. او ددې نه هم زیات ډاګیز لفظ** [فَأُقِرَّتْ فِي صَلَاةِ الصُّبحِ] **دې. یعنی دغه جُمله د سهار د مانځه په اذان کښې برقراره وساتلې شوه.**

او عمر فاروق ﷺ **خپل مؤذن ته وفرمایل :** [اِجْعَلْهَا فِي نِدَاءِ الصُّبحِ] **(دغه جمله د صبا په اذان کښې وګرځوه).**

[أخرجه مالك بلاغًا، وهو في المشكاة : ٦٤/١].

سوال : په بعضې حدیثونو کښې راغلی چه دا د صبا په ((اولنی اذان)) کښې ویل کیږی، لکه :

۱ – د ابو محذوره ﷺ **نه روایت دې :** [أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ عَلَّمَهُ فِي الْأَذَانِ الْأَوَّلِ مِنَ الصُّبحِ: الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ].

(نبی ﷺ **دهٔ ته د صبا په اولنی اذان کښې :** الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ **وښودلو).**

[معانی الآثار للطحاوی : ۱۰۳/۱، بیهقی : ٤۲۲/۱].

۲ – دارنګه ابن عمر ﷺ **فرمائی :** [كَانَ فِي الْأَذَانِ الْأَوَّلِ بَعْدَ الْفَلَاحِ : الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] **(د صبا په اولنی اذان کښې به د حی علی الفلاح نه روسته :** الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ **دوه ځله ویل کیدهٔ).** [پورتنۍ حواله].

۳ – ابو محذور ﷺ **وائی :** [كُنْتُ أُؤَذِّنُ لِلنَّبِيِّ ﷺ فَكُنْتُ أَقُولُ فِي الْأَذَانِ الْأَوَّلِ مِنَ الْفَجْرِ بَعْدَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ : الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] **(ما به د نبی** ﷺ **دپاره اذان کولو نو ما به د صبا په اولنی اذان کښې د حی علی الفلاح نه پس :** الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ **دوه ځله ویلو).**

[بیهقی : ٤۲۲/۱، ابوداود : ۷۹/۱].

نوددې حدیثونو نه معلومه شوه چه [الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] د سهار په اولنی اذان کښې ویل کیږی۔ او په همدې باندې ابن رسلانؒ، امام صنعانیؒ او شیخ البانیؒ فتویٰ ورکړې۔
[سبل السلام : ١/١٢٠، تمام المنة ص :١٤٦، تعليق المشكاة : ١/٦٤٥].

جواب : پورتنو درې واړو حدیثونو کښې د «اولنی اذان» نه مراد هغه اذان دې چه د صبا راختو نه پس د سهار د مانځه دپاره کیږی۔ او اول ئې ورته د «اقامت» په مقابله کښې ویلی دی۔ ځکه اقامت ته هم اذان ویل کیږی۔ نو د اقامت په نسبت د صبا راختو نه پس چه کوم (دویم) اذان کیږی هغې ته په دغه پورتنو حدیثونو کښې اول اذان ویلې شوې ځکه چه ددې اذان نه پس اقامت کیږی او اقامت دویم اذان دې۔

په دې خبره دلیل د عائشې k حدیث دې، دا فرمائی :

[كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ بِالْأُولىٰ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ...... الحديث]. [مسلم : ١/٢٥٠، ابوداود : ١/١٩٦، بخارى : ١/٨٧].

(د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو چه کله به مؤذن د سهار د مانځه د «اولنی اذان» نه فارغ شو، نو رسول الله ﷺ به ودریدهٔ او د سهار د فرض مانځه نه مخکښې به ئې دوه رکعته مختصر سنت وکړل)۔

او د ابوداود په حدیث کښې نور هم واضح الفاظ دی :

[فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ بِالْأُولىٰ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ، ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلىٰ شِقِّهِ الْأَيْمَنِ حَتّٰى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلْإِقَامَةِ].

(نو کله به چه مؤذن د سهار د مانځه د اولنی اذان نه پس چپ شو، نبی ﷺ به پاسیدهٔ او د سهار دوه رکعته مختصر سنت به ئې وکړل، بیا به ئې په خپل ښی اړخ تکیه ولږوله تردې چه مؤذن به ورته د مونځ ودرولو دپاره راغې)۔

ابو اسحاقؒ وائی : ما د اسود بن یزیدؒ نه د هغه حدیث په باره کښې پوښتنه وکړه کوم چه عائشې k دهٔ ته د رسول الله ﷺ د مانځه په باره کښې بیان کړې وو۔ هغه فرمائی : (نبی ﷺ به د شپې په اوله برخه کښې اودهٔ کیدهٔ او آخره برخه به ئې رونړوله۔ بیا که خپل اهل ته به ئې حاجت وو نو خپل حاجت به ئې پوره کړو، بیا به اودهٔ شو۔ او کله به چه اولنې اذان وشو، عائشهؓ وائی : نو راټوپ به ئې کړې۔ قسَم په الله عائشې k داسې نهٔ دی ویلی چه پابه

سيدهٔ۔ نو اوبهٔ به ئے په ځان راواړولے۔ خو عائشے داسے ونهٔ ويل چه غسل به ئے وکړو، حالانکه زهٔ د هغے په مطلب ډير ښهٔ پو هه يم، که چرے جنب به نهٔ وو نو داسے اودس به ئے وکړو لکه چه خلك ئے د مانځه دپاره کوى، بيا به ئے دوه رکعته سنت وکړل)۔ [صحيح مسلم : ۱/۲٥٥].

نو په دے حديثونو کښے ښکاره بيان دے چه د ((اولنى اذان)) نه مراد ((دويم اذان)) دے کوم چه د صبا راختو نه پس سهار مانځه ته د رابللو دپاره ويل کيږى۔

په دے مسئله کښے د شيخ البانىؒ خبره ضعيفه ده۔

په دے باره کښے شيخ عبد العزيز نورستانى حفظه الله يوه رساله ليکلے چه د هغے نوم دے (الاعلان) هغے ته رجوع پکار ده۔

په فتاوىٰ اسلاميه کښے هم دى : چه دا جمله به د سهار په اذان کښے ويلے کيږى، کوم چه د وخت داخليدو نه پس فرض مانځه ته د رابللو دپاره ويلے کيږى۔ او په کومو حديثونو کښے چه راغلى چه دا په اولنى اذان کښے ويل کيږى نو هغه هم صحيح دى، خو د اولنى اذان نه مراد هغه اذان دے چه د فرض مانځه دپاره ويلے کيږى۔ ځکه په حديثو کښے اقامت ته هم اذان ويلے شوے۔ لکه نبى ﷺ فرمائى : [بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ].

(د هر اذان او اقامت ترمينځه مونځ شته دے)۔

[الفتاوى الإسلامية : ۱/۲٥۲، وانظر التحقيق فى كتاب الأذان لأبى حاتم ص : ۲۳۸].

سنتِ مطهره کښے د اذان ځايونه

٥٠٦ – **سوال** : په احاديثو کښے صرف د پنځو مونځونو دپاره اذان راغلے اوکه ددے نه سيوا په نورو ځايونو کښے هم راغلے ؟

جواب : ۱ – اذان د پنځو مونځونو دپاره په سنت کښے راغلے او قرآن کريم هم ديته اشاره کړے، الله فرمائى : ﴿ وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ اتَّخَذُوهَا هُزُوًا ﴾.

(او کله چه تاسو د مانځه دپاره اذان وکړئ نو دا خلك وربورے ټوقے کوى)۔

او په دے د علماؤ اجماع ده۔

۲ – دارنګه د سهار مانځه دپاره د صبا راختو نه وړاندے هم اذان کول ثابت دى۔ او دا د

جمهورو علماؤ قول دے۔ او په دے کښے د پنځو نه زیات حدیثونه راغلی۔لکه ځینے حدیثونه مخکښے په مسئله نمبر (٤٩٩) کښے نزدے تیر شو۔

۳ – د ماشوم په غوږ کښے اذان کول هم راغلی هر کله چه پیدا شی۔ او د هغهٔ په غوږ کښے به صرف اذان کوی۔ اقامت به نهٔ کوی، ځکه چه د اقامت حدیثونه ثابت نهٔ دی۔ او د اذان حدیث حسن دے۔ ان شاء الله۔

لکه د ابو رافع رضي الله عنه نه روایت دے دا وائی : [رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم أَذَّنَ فِيْ أُذُنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ حِيْنَ وَلَدَتْهُ فَاطِمَةُ بِالصَّلَاةِ] (ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ولیدهٔ چه د حسن بن علی په غوږ کښے ئے د مانځه د اذان پشان اذان وکړو، هر کله چه دهٔ لره فاطمے وزیګولو)۔

[ترمذی : ۲۷۸/۱، ابوداود : ۳٤٩/۲، احمد :۳۹۱/٦، بیهقی : ۳۰٥/۹، مصنف عبد الرزاق : ۳۳٦/٤].

امام ترمذیؒ دے حدیث ته حسن صحیح ویلی۔ حافظ ابن قیمؒ هم د ابوداودؒ او ترمذیؒ نه ددے حدیث تصحیح نقل کړے۔

[تحفة المودود ص :۲۳، د ابن قیمؒ].

امام حاکمؒ ددے حدیث د نقل کولو نه پس دیته صحیح الاسناد ویلی، خو امام ذهبیؒ په خپل دے قول سره د هغهٔ تعاقب کړے چه زهٔ وایم په دے کښے عاصم ضعیف دے۔

[مستدرك للحاكم : ۱۷۹/۳].

شیخ البانیؒ فرمائی : په شعب الایمان د بیهقیؒ کښے ددے حدیث شاهد موجود دے۔

[إرواء الغليل : ۱۱۷۳، السلسلة : ۳۲۱].

زهٔ وایم : ددے سند هم ضعیف دے، ځکه په دے کښے قاسم بن مطیب دے۔ او دا حدیث علامه مبارکفوریؒ په (تحفة الاحوذی) کښے د حسین بن علی په مرفوع روایت سره قوی ګرځولے او هغه روایت دادے : [مَنْ وُلِدَ لَهٗ مَوْلُوْدٌ فَأَذَّنَ فِيْ أُذُنِهِ الْيُمْنٰى وَأَقَامَ فِيْ أُذُنِهِ الْيُسْرٰى لَمْ تَضُرَّهٗ أُمُّ الصِّبْيَانِ] (د چا چه یو ماشوم پیدا شو او د هغهٔ په ښی غوږ کښے ئے اذان او په ګس غوږ کښے ئے ورله اقامت وکړو، نو دهٔ ته به ام الصبیان بیماری ضرر ورنهٔ کړی)۔

[ابن السنی : ۲۰۰، مجمع الزوائد للهيثمي : ٥٩/٤].

ددے حدیث په سند کښے مروان بن سالم او یحیی بن العلاء دواړه منګرت حدیثونه جوړونکی راویان دی۔ نو دا حدیث منګرت دے۔ [السلسلة رقم : ۳۲۱].

امام بیهقیؒ د دغه دواړو حدیثونو روایت کولو نه پس فرمائی : په دے دواړو حدیثونو کښې ضعف اوکمزوری ده۔ [بیهقی : ۸۶۲۰].

خلاصه دا چه : په دے باب کښې درے حدیثونه راغلی :

اول : د ابو رافع حدیث۔ او دا د عاصم بن عبد الله د وجے ضعیف دے۔ ځکه ددۀ په ضعف اتفاق دے، البته امام عجلیؒ دۀ ته ګذاره حال راوی ویلی۔

دویم : د ابن عباس رضی الله عنه حدیث : چه دا په [شعب الایمان : ۸۶۲۰] کښې راغلے، په دے کښې قاسم بن مطیب دے، او په دۀ کښې کمزوری ده۔

دریم : د حسین بن علی حدیث دے : او دا د ځانه جوړ شوے (منګړت) حدیث دے۔

او مونږ چه په دے باره کښې راغلی حدیث ته حسن ویلی دی ان شاء الله، نو دا ددے وجے نه چه امت په دے عمل کړے۔ لکه امام ترمذیؒ فرمائی : [والعمل علیه]۔

دارنګه د عمر بن عبد العزیزؒ د اثر د وجے نه کوم چه په [مصنف ابن ابی شیبه : ۷۹۸۵، شرح السنة : ۶۰/۶] کښې راغلے۔

دارنګه د امام عجلیؒ په قول باندے د اعتماد د وجے۔

بله دا چه د ماشوم په غوږ کښې په اذان کولو کښې عجیب حکمتونه دی چه د هغے ځینے برخه ابن قیم رحمه الله په تحفة المودود کښې ذکر کړے ده۔ [ص : ۲۳]. والله أعلم.

او ددے اذان دپاره څۀ خاص وخت نۀ دے معلوم، کله چه هم موقع ملاؤ شی اذان دے وکړی او په خیر او نیکئ کښې تادی کول بهتر دی۔

او بعضے خلکو چه د ماشوم په ګس غوږ کښې اذان کولو ته سنت ویلی دی [کما فی أحسن الفتاوی : ۲۷۶/۲] نو دا خبره ئے خطا ده، ځکه په دے حقله هیڅ حدیث ثابت نۀ دے۔

څلورم : د پیریانو نه د ویرے په وخت هم اذان راغلے دے۔

لکه امام مسلمؒ د سهیل نه روایت کوی دا فرمائی : زما پلار زۀ بنو حارثه قبیلے ته ولیږلم او ماسره زمونږ یو غلام یا یو ملګرے وو، نو هغۀ ته د یو باغ نه یو آواز کونکی آواز وکړو او نوم ئے ورله واغستۀ۔ نو زما ملګرے چه باغ ته ورښکاره شو نو هیڅ شے ئے ونۀ لیدۀ۔ دا خبره ما خپل پلار ته یاده کړه نو هغه وویل : که ماته پته وے چه تۀ ددے تکلیف سره مخ کیږے نو مابه تۀ نۀ وے لیږلے۔ خو دا خبره یاده لره چه کله تۀ څۀ آواز واورے نو اذان کوه،

ځکه ما د ابو هريره رضي الله عنه نه آوريدلی دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ارشاد فرمايلے : (شيطان چه کله اذان واوری نو په داسے حال کښے منډے وهی چه باد اچوی)۔

[صحيح مسلم : ۱۶۷/۱].

حسن بصريؒ د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه د نبی صلى الله عليه وسلم دا ارشاد مبارك نقل کوی چه : [إِذَا تَغَوَّلَتِ الْغِيْلَانُ فَنَادُوْا بِالصَّلَاةِ].

(کله چه بلاګانے آوازونه شروع کړی نو تاسو په اذانهٔ سره خپل آواز پورته کړئ)۔

[مسند احمد : ۳۰۵/۳، ۳۸۲، کنز العمال رقم : ۱۷۴۹۷، مصنف عبد الرزاق ۹۳۵۲، ميزان الاعتدال : ۶۴۰۴، انظر المجمع : ۱۳۴/۱۰].

۵ – د غم او خفګان په وخت او د انسان يا د ځناور د بد اخلاقئ په وخت هم په بعضے رواياتو کښے اذان راغلے، چه دغه روايات صاحب د کنز العمال (علی متقی) ذکر کړی دی۔

[کنز العمال : ۱۲۴/۲، رقم : ۳۴۴۰، کنز العمال : ۴۱۶۶۵].

خو دهٔ حواله په ديلمی ورکړے، او د ديلمی اکثر احاديث صحيح نهٔ دی، هر کله چه صرف دهٔ ذکر کړی وی۔

۶ – او هر چه په قبر کښے مړی ته اذان کول دی نو دا قبيح او خراب بدعت دے۔

ابن عابدين وائی : په قبر کښے د مړی کيښودلو په وخت اذان کول سنت نهٔ دی لکه څنګه چه نن صبا د خلکو عادت دے، بلکه ابن حجرؒ په خپله فتویٰ کښے په ډاګه ديته بدعت ويلی۔ او په (درر البحار) کښے دی چه : ځينے د هغه بدعتونو نه چه په هندوستان کښے رواج شوی دی په قبر باندے اذان کول دی۔

[رد المحتار : ۶۰۰/۱، انظر أحسن الفتاوی : ۳۳۷/۱].

۷ – دارنګه د باران بندولو دپاره اذان کول هم بدعت دے۔ لکه ځينے خلك چه کله باران زيات شی نو اذانونه کوی۔ دا بدعت دے، ځکه نبی کريم صلى الله عليه وسلم نه دا نهٔ دے نقل۔ او حديث کښے دی : [مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ].

(چا چه يو داسے کار وکړو چه په هغے باندے زمونږ امر نهٔ وی نو دا مردود دے)۔

[صحيخ مسلم].

۸ – دارنګه د سورتِ يٰس ختمولو په وخت په خاصه طريقه سره اذان کول، چه د هر

(مبين) سره اذان کوي، نو دا يو قبيح او خراب بدعت دے، الله دے ددے کېښودونکے تباه کړي، چه په دے دين کښے د ځانه خبرے راننباسي۔ په قرآن او سنت باندے ددے خلکو قناعت نۀ کيږي۔

﴿ اَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ اَنَّا اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكَ الۡكِتَابَ يُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ ﴾ (آيا دوئ له دا کافي نۀ ده چه مونږ په تا باندے کتاب نازل کړے چه په دوئ باندے لوستلے کيږي)۔

۹ – دارنګه د قحط او وَبا ختمولو دپاره اذان کول بدعت دے۔

[فتاوی دار العلوم ديوبند : ۲/۸٤].

وبالله التوفيق.

اول به د اذان جواب ورکړي بيابه مونځ شروع کوي

۵۰۷ – **سوال** : اذان کيږي او يو سړے مونځ شروع کول غواړي، نو دابه د اذان جواب ورکوي اوکه په مانځه کښے به داخليږي ؟

جواب : بهتره داده چه صبر وکړي تردے چه اذان واوري او د اذان جواب ورکړي، ځکه د اذان جواب ورکول ډير مهم دی او ددۀ دپاره به دوه نيکئ وليکلے شي، او ددۀ مونځ به د اذان او اقامت ترمينځه وګرځي، ځکه نبی ﷺ فرمائي : (د هر اذان او اقامت ترمينځه مونځ شته دے)۔ [صحيح بخاری].

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ نه ددے مسئلے په باره کښے پوښتنه وشوه، نو هغۀ وفرمايل: کوم عمل چه فوت کيږي هغه به په هغه عمل باندے وړاندے کړي چه هغه نۀ فوت کيږي، لکه د اذان جواب وغيره۔

[مجموع الفتاوی : ۲۲/۷۲].

امام ابن قيم رحمه الله يوه شرعي قاعده ذکرکړے چه هغه ډيره زياته مفيده ده، هغه داچه : يو کم ثواب والا عبادت په خپل مطلوب وخت کښے د زيات ثواب والا ګرځي، اګرکه دا په عامو اوقاتو کښے کم ثواب والا دے۔ بيا فرمائي : دا ډيره نفع مند اصول دی چه په دے سره بنده ته د اعمالو د پيژندلو دروازه پرانستے کيږي او د هغے خپله مرتبه پيژني، دے دپاره چه د غوره عبادت نه په ناغوره سره مشغوله نشي، چه په دے سره ابليس

خوشحالیږی. [الوابل الصيب ص ٩٠].

او کله چه په مانځه کښې داخل شی او بیا اذان واوری نو د زیاتره علماؤ په نیز به خپل مونځ نهٔ قطع کوی. ابن حزمؒ فرمایلی دی چه په خپل مانځه کښې به د اذان جواب ورکوی، لکه د نبی ﷺ دا خبره عامه ده چه: (کله تاسو د مؤذن نه واورئ نو تاسو هم د هغهٔ پشان خبره کوئ). او دا د شیخ ابن تیمیهؒ او شیخ سعدیؒ په نیز غوره قول دے.

[فتاوى سعدية: ١/١٥٤].

نو ددے تقریر نه معلومه شوه چه د قرآن تلاوت کونکے، ذکر کونکے او هر هغه څوك چه په درس یا تعلیم باندے مشغول وی، دوئ تهٔ لو له مناسب دی چه د اذان جواب ورکړی، ځکه چه دا فوت کیږی او دغه عملونه نهٔ فوت کیږی.

اثرمؒ وائی: ما د امام احمدؒ نه واوریدل چه د هغهٔ نه د هغه سړی په حقله پوښتنه وشوه چه هغه اذان واوری او پاسیږی دوه رکعته مونځ کوی. وے فرمایل: دهٔ له مستحب دادی چه د اذان ختمیدو نه پس مونځ وکړی ځکه شیطان چه کله اذان اوری نو تښتی نو انسان له مناسب نهٔ دی چه مونځ ته په تادئ سره پاسی. اوکه جومات ته ننواتهٔ او اذان ئے واوریدهٔ نو مستحب دی چه د مؤذن د فارغیدو انتظار وکړی او د هغهٔ د اذان جواب ورکړی، دے دپاره چه دواړه فضیلتونه راجمع کړی.

[المغنى: ١/٤٧٧، وأشار إليه فى الدر المختار: ١/٢٦٧].

او د شامی دا خبره صحیح نهٔ ده چه که څوك په تعلیم او تعلم کښې مشغول وی نو په اذان سره به هغه نهٔ قطع کوی. [رد المحتار: ١/٣٦٧].

څپلو سره اذان کول، خوراك کول او تلاوت کول جائز دی

٥٠٨ - **سوال**: یو سړی څپلئ پخپو کړی دی او اذان کوی، یا قرآن لولی یا خوراك کوی او څپلئ ئے پخپو دی، ددے څهٔ حکم دے؟

جواب: څپلو سره اذان کولو کښې څهٔ باك نشته، او نبی ﷺ څپلو سره مونځ هم کړے بلکه په دے باندے ئے امر فرمایلے: [خَالِفُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّوْنَ فِيْ نِعَالِهِمْ وَلَا خِفَافِهِمْ]. (تاسو د یهودو او نصاراؤ خلاف کوئ هغوئ په خپلو څپلو او موزو کښې مونځ

نۀ کوی)۔ [صحيح ابن حبان : ٥/٦١٥، ابوداود : ١/٢٤٧].

او هر کله چه په شپلو کښې مونځ کول جائز شو نو د مونځ په غټو ارکانو کښې خو قرآن لوستل هم دی، نو دا هم په دے حالت کښې لوستل جائز شو۔

○ او هر چه شپلو سره خوراك کول دی نو ددے نه په ضعيفو حديثونو کښې منع راغلے، لکه د انس رضی الله عنه په حديث کښې دی : (کله چه طعام کيښودے شی نو تاسو خپلے شپلۍ وباسئ ځکه دے کار سره ستاسو قدمونو ته ډير راحت رسيږی)۔

[دارمی : ٢/١٠٨، مشکاة : ٢/٣٦٨، حاکم : ٤/١١٩، مجمع الزوائد : ٥/٢٣].

په دے حديث کښې موسى بن محمد راوی دے، او دا پريښودلے شوے (ضعيف) راوی دے۔ [السلسلة الضعيفة : ٢/٤١١، رقم : ٩٨٠].

اذان د جومات په ښی طرف او اقامت په ګس طرف کښې کول ثابت نۀ دی

۵۰۹ – سوال : ځينے خلك وائی : سنت دادی چه اذان د جومات په ګس طرف کښے، او اقامت په ښی طرف کښې وکړے شی۔ او ددے دليل دا ذکر کوی چه همدے طريقه سره اذان او اقامت را روان دے۔ نو آيا دا خبره صحيح ده ؟

جواب : دا خبره باطله او بيکاره ده، هيڅ بنياد نۀ لری۔ او د نبی ﷺ نه په دے باب کښې هيڅ نقل نشته۔ ځکه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به اذان د کور دپاسه کيدۀ۔

په دے حقله **حديثونه** وګوره :

۱ – خبيب رضی الله عنه وائی : ما د خپلے ترور نه چه هغے د نبی ﷺ سره شريك حج کړے وو، واوريدل چه هغے به ويل : رسول الله ﷺ به فرمايل : [إِنَّ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ يُنَادِيْ بِلَيْلٍ فَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يُنَادِيَ بِلَالٌ، وَكَانَ يَصْعَدُ هٰذَا وَيَنْزِلُ هٰذَا] (ابن ام مکتوم د شپے اذان کوی نو تاسو د بلال د اذانه پورے خوراك څکاك کوئ۔ او دا يو به ختلو او دا بل به راکوزيدلو)۔

[مسند احمد : ٦/٤٣٣، نسائی : ٦٢٠، وسنده صحيح، انظر الإرواء : ١/٢٣٢].

۲ – امام ابوداودؒ فرمائی : د منارے دپاسه اذان۔ بيا ئے د بنو النجار د يوے ښځے نه روايت نقل کړے چه هغه وائی : (د مسجدِ نبوی نه ګير چاپير کورونو کښې زما کور د ټولو نه اوچت کور وو، نو بلال به په هغے د سهار اذان کولو، پيشمنی مال کښې به راغے او په کور

به کیناستۀ چه صبا راختو ته به ئے کتل، او کله به ئے چه ولیدۀ نو ستومانی به ئے ویستله او بیا به ئے وویل : [اَللّٰهُمَّ اِنِّیُ أَحۡمَدُكَ وَاَسۡتَعِیُنُكَ عَلٰی قُرَیۡشٍ أَنۡ یُقِیُمُوا دِیُنَكَ]. (اے الله زۀ ستا حمد وایم او په قریشو باندے تانه مدد غواړم چه دوئ ستا دین قائم کړی).

دغه بی بی وائی : قسَم په الله ! زۀ نۀ یمه پو هه چه بلال یوه شپه هم دا کلمات چرته پریښی وی).

[سنن ابی داود : ۱/۸٤، باب الأذان فوق المنارة، وإسناده حسن، لأن فیه محمد بن إسحاق وعنعنه ولکن رواه فی موضع آخر بغیر العنعنة، کما فی صحیح أبی داود : ۱/۱۰۵].

۳ – په سنن ابی داود کښے بل حدیث دے، نبی ﷺ فرمائی :

[لَقَدُ هَمَمۡتُ أَنۡ آمُرَ رِجَالاً فَیُقِیُمُوۡنَ عَلَی الۡأَطَامِ یُنَادُوۡنَ بِالصَّلَاةِ] وَفِیُ رِوَایَةٍ : [عَلَی الۡمَسۡجِدِ]. وَفِیُ رِوَایَةٍ : [عَلٰی جَذۡمِ الۡحَائِطِ].

(یقینًا ما دا قصد کړے چه زۀ څۀ سړو ته امر وکړم چه هغوئ په قلاګانو باندے ودریږی او د مانځه دپاره اذان وکړی. بل روایت کښے دی : د جومات دپاسه ودریږی. بل روایت کښے دی : د دیوال ستے سره).

[سنن ابی داود : ۱/۸۱، باب کیف الأذان، طحاوی : ۱/۷۹، بیهقی : ۱/٤۲۱]

٤ – ابوبرزة اسلمی رضی الله عنه فرمائی : [مِنَ السُّنَّةِ الۡأَذَانُ فِی الۡمَنَارَةِ وَالۡإِقَامَةُ فِی الۡمَسۡجِدِ] (سنت داده چه اذان د منارے دپاسه وشی او اقامت په جومات کښے).

[أخرجه أبو الشیخ الحافظ].

۵ – ابن عمر رضی الله عنه فرمائی :

[کَانَ ابۡنُ أُمِّ مَکۡتُوۡمٍ یُؤَذِّنُ فَوۡقَ الۡبَیۡتِ]. (ابن ام مکتوم به د کور دپاسه اذان کولو).

[أخرجه أبو الشیخ، نصب الرایة : ۱/۲۹۲].

نو ددے ټولو حدیثونو نه ښه ښکاره معلومه شوه چه په سوال کښے ذکر شوے خبره خطا ده، ځکه په دے حدیثونو کښے د نبی او ګس اړخ هیڅ یادوونه نۀ ده شوے. البته دومره ده چه ددے حدیثونو نه دا معلومیږی چه د اذان ځائے دے د اقامت د ځائے نه جدا وی.

[أشار إلیه صاحب الهدایة، انظر نصب الرایة : ۱/۲۹۳، وفی أحسن الفتاوی : ۲/۲۸۲: لم یتعین للإقامة موضع ولا للأذان، وکذا فی فتاوی دیوبند : ۲/۸٦].

مؤذن نه سیوا بل څوك هم اقامت كولے شي

۵۱۰ - **سوال** : يو سړی اذان وکړو نو آيا اقامت به هم دے کوی او که نه بل چاله هم جائز دی چه اقامت وکړی ؟

جواب : صحيح خبره داده چه بل چا دپاره هم جائز ده چه اقامت وکړی. ځکه په دے باره نهی او منع په هيڅ صحيح حديث کښے نۀ ده راغلے چه په هغے باندے اعتماد وکړے شی. البته کوم مؤذن چه په اذان او اقامت باندے مقرر شوے وی، کله چه دا بل چاته اجازت ونۀ کړی نو هغه بل کس له مناسب نۀ دی چه اقامت وکړی، ځکه حق د اقامت د مؤذن دے.

پاتے شو د زیاد بن حارث صدائی رضي الله عنه حديث چه په هغے کښے هغه فرمائی : (ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم امر وکړو چه د سهار مانځه دپاره اذان وکړم نو ما اذان وکړو، بيا بلال اراده وکړه چه اقامت وکړی، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : [إِنَّ أَخَا صُدَاءٍ قَدْ أَذَّنَ وَمَنْ أَذَّنَ فَهُوَ يُقِيمُ] (د صداء قبيلے سړی اذان کړے او څوك چه اذان وکړی هغه به اقامت هم کوی).

[ابوداود : ۸۳/۱، ترمذی : ۲۸/۱، مشكاة : ٦٤/١].

نو دا حدیث ضعیف دے، په دے کښے عبد الرحمن بن انعم افريقي راوی ضعيف دے.

او ددے په مقابل کښے بل حديث راغلے. او هغه د عبد الله بن زید رضي الله عنه حديث دے. په هغے کښے دی : [فَجِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ : أَلْقِهِ عَلَى بِلَالٍ فَأَلْقَيْتُهُ عَلَيْهِ فَأَذَّنَ، ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَنَا رَأَيْتُ فَأُرِيدُ أَنْ أُقِيمَ قَالَ : فَأَقِمْ أَنْتَ، فَأَقَامَ هُوَ وَأَذَّنَ بِلَالٌ].

(زۀ نبی صلى الله عليه وسلم ته راغلم او خبر مے ورته ورکړو چه ما په خوب کښے اذان ليدلے، نو وے فرمايل : تۀ بلال ته دا اذان وښايه، نو ما هغۀ ته اذان وښودلو نو هغۀ اذان وکړو، بيا هغۀ اراده وکړه چه اقامت هم وکړی، نو ما عرض وکړو، اے د الله رسوله ! اذان خو په خوب کښے ما ليدلے نو زۀ غواړم اقامت وکړم. وے فرمايل : نو تۀ اقامت وکړه. نو اقامت عبد الله وکړو او اذان بلال کړے وو). [ابوداود : ۸۳/۱].

دا حديث هم ضعيف دے، په دے کښے محمد بن عمرو ضعيف راوی دے.

[انظر نصب الراية : ۲۸۰/۱، وقد ذكر الزيلعي حديثًا آخر وهو منكر أيضًا].

نو هر کله چه په دے باب کښے هيڅ حديث ثابت نشو، نو دا دليل دے په دے خبره چه هر

چا دپاره جائز دی چه اقامت وکړی۔

دا وجه ده، شیخ البانیؒ د تفصیلی بحث نه پس فرمائی: ددے ضعیف حدیث د بدو آثارو نه یو اثر دادے چه دا د مونځ ګذارو ترمینځه د جګړے سبب ګرځیدلے، لکه چه دا جګړه ډیر کرته پیښنه شوے ده، او هغه داسے چه کله مؤذن د څۀ عذر د وجے نه جومات ته راتلو کښے تاخیر وکړی او بعضے حاضرین غواړی چه د مانځه دپاره اقامت وکړی، نو څوك چه اقامت کول غواړی په هغۀ باندے خلك دا اعتراض کوی چه اقامت خو د هغه چا حق دے چه هغۀ اذان کړے وی، او په دغه پورتنی حدیث باندے دلیل نیسی۔ حالانکه دے مسکین ته پته نشته چه دا خو ضعیف حدیث دے، ددے نسبت رسول الله ﷺ ته جائز نۀ دے، پاتے لا دا چه په دے سره د الله د طاعت نه خلك بند کړے شی او د مونځ ودرولو نه منع کړے شی۔

[السلسلة: ۱/۳۵، رقم: ۵۳].

په القول المبين [ص: ۲۰۳] کښے دی: دا عقیده لرل صحیح نۀ دی چه اقامت د مؤذن نه علاوه بل چا دپاره جائز نۀ دے، او په دے باره کښے بعضے خلك په یو ضعیف حدیث باندے اعتماد کوی چه هغه د نبی ﷺ نه ثابت نۀ دے او هغه دا حدیث دے چه (چا اذان کړے وی هغه به اقامت کوی)۔ بیائے د شیخ البانیؒ خبره ذکر کړے۔ بیا فرمائی: مؤذن به د امام د اجازت نه بغیر مونځ نۀ ودروی، او د مؤذن نه سیوا د بل چا دپاره ودرول خو په طریقه اولیٰ سره پکار نۀ دی۔ دے وجے نه مونځ ګذارو له پکار دی چه ددے خبرے اهتمام وکړی او دا حق د امام دپاره وګنړی، او هیڅوك د مانځه د ودرولو په حقله د امام د اجازت نه بغیر هیڅ تصرف ونۀ کړی۔

[انظر إصلاح المساجد للقاسمی، ص: ۱۳۷، رد المحتار: ۱/۲۶۸].

جوړه او طاق اقامتونه دواړه جائز دی

۵۱۱ – **سوال**: په سنتِ مطهره کښے جوړه او طاق (ډبل او سینګل) اقامت ثابت دے اوکه نه؟

جواب: په ډیرو او صحیح حدیثونو کښے مفرد (سینګل) اقامت راغلے:

د مفرد اوسینګل اقامت **دلائل** دادی:

۱ – انس رضی الله عنه فرمائی : [ذَكَرُوا النَّارَ وَالنَّاقُوسَ فَذَكَرُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارىٰ فَأُمِرَ بِلَالٌ أَنْ يَّشْفَعَ الْأَذَانَ وَيُوتِرَ الْإِقَامَةَ، قَالَ إِسْمَاعِيلُ: إِلَّا الْإِقَامَةَ].

(صحابو د اور او د ټلې یادوونه وکړه خو دوئ ته یاد شو چه دا خو د یهودو او نصاریٰ نښه ده، نو بلال ته حکم وکړے شو چه د اذان کلمات دوه دوه ځله ووائی او د اقامت کلمات یو یو ځل ووائی۔ اسماعیلؒ راوی وائی : سیوا د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] لفظ نه چه دا به دوه ځله وائی)۔ [بخاری : ۸۵۱، مسلم : ۱/۱٦٤، مشکاة : ۱/٦۳].

۲ – د ابن عمر رضی الله عنه په حدیث کښے دی : [كَانَ الْأَذَانُ عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ وَالْإِقَامَةُ مَرَّةً مَرَّةً، غَيْرَ أَنَّهٗ كَانَ يَقُولُ : قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ].

(د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے به د اذان کلمات دوه دوه ځله ویل کیدل او د اقامت کلمات به یو یو ځل ویل کیدل، البته قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ به ئے دوه ځله ویلو)۔

[ابوداود : ۱/۷۸، نسائی : ۱/۱۰۳، دارمی، مشکاة : ۱/٦۳].

۳ – ابو محذوره رضی الله عنه نه روایت دے : [أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم أَمَرَهٗ أَنْ يَّشْفَعَ الْأَذَانَ وَيُوتِرَ الْإِقَامَةَ]. (نبی صلی الله علیه وسلم دهٔ ته امر وکړو چه د اذان کلمات ډبل وایه او د اقامت کلمات سینګل)۔

[أخرجه الدارقطنی : ۱/۲۳۷].

٤ – سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی : (د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے به د اذان کلمات ډبل او د اقامت کلمات یو یو ځل وو)۔

[أخرجه الدارقطنی : ۱/۲٤۱].

۵ – د ابو جحیفه رضی الله عنه نه هم دا شان حدیث نقل دے۔

[أخرجه البیهقی : ۱/٤۱٦، وهناك أحاديث أخرىٰ فانظر نصب الراية : ۱/۲۷۱].

دغسے نور هم ډیر حدیثونه په دے باب کښے راغلی۔

ددے حدیثونو نه معلومه شوه چه د اذان کلمات به دوه دوه ځله او د اقامت کلمات به یو یو ځل وائی، سیوا د قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ نه چه دا هم دوه ځله دے۔

ډبل اقامت هم په ډیرو حدیثونو کښے راغلے، البته دا د بخاری او مسلم نه علاوه په نورو کتابونو کښے راغلے۔

○ د ډبل اقامت دلائل :

۱ – ابو محذوره ﷺ **نه روایت دے دا وائی :** [عَلَّمَنِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الْأَذَانَ تِسْعَ عَشَرَةَ كَلِمَةً وَالْإِقَامَةَ سَبْعَ عَشَرَ كَلِمَةً].

(ماته رسول الله ﷺ **د اذان کلمات نولس راوښودل اود اقامت کلمات ولس)۔**

[ابوداود : ۸۰/۱، ابن ماجه : ۵۲/۱، ابن خزیمة : ۱۹٤/۱، ابن حبان : ۲۸۸، والحدیث صحیح].

۲ – معاذ بن جبل ﷺ **په حدیث کښې دی : (بیا ودریدهٔ او د اذان پشان کلمات ئے د اقامت دپاره هم وویل، البته د** حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ **نه پس ئے** قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ **الفاظ زیاتی وویل۔ نو رسول الله** ﷺ **عبد الله بن زید ته وفرمایل : دا کلمات بلال ته وښایه)۔**

[ابوداود : ۸۲/۱، احمد : ۲٤٦، بیهقی : ۲۹٦/۲].

امام بیهقیؒ فرمائی : عبد الرحمن معاذ نهٔ دے موندلے۔ البته ددے حدیث شواهد شته دے۔ [کما فی إرواء الغلیل : ۲۰/٤، رقم : ۹۱۲].

۳ – اسود بن یزیدؒ وائی : (بلال به د اذان کلمات هم دوه دوه ځله ویل او د اقامت کلمات به ئے هم دوه دوه ځله ویل، او هغهٔ به شروع هم په تکبیر سره کوله او ختمولو به ئے هم په تکبیر سره)۔

[مصنف عبد الرزاق : ٤٦٢/۲، دارقطنی : ۹۰/۱، معانی الآثار : ۸۰/۱].

ځینے وائی : اسود د بلال سره نهٔ دے ملاؤ شوے، خو امام نسائیؒ ددهٔ یو روایت د هغهٔ نه نقل کړے۔ [کما فی نصب الرایة : ۲٦۹/۱].

نور حدیثونه هم شته خو په دے اکتفاء کوو۔

نو ددے اود مخکنو حدیثونو نه معلومه شوه چه دغه دواړه طریقے جائز او مشروع دی۔ البته د (مفرد او سینګل اقامت) احادیث ډیر زیات او ډیر صحیح دی۔ نو په دے باندے ډیر عمل کول پکار دی، او د ډبل اقامت احادیث هم صحیح دی، نو په دے هم کله نا کله عمل کول پکار دی۔

دا وجه ده، کشمیری صاحبؒ فرمائی : دواړه طریقے ثابتے دی او ماته د یوے ترجیح په بلے باندے ښکاره نشوه۔ [المرعاة : ۳٤٥/۲].

او چاچه د نسخ خبره کړے نو دا ډیره لرے او بے دلیله خبره ده۔

امام خپله اذان کولے شی که نه ؟ او نبی کریم ﷺ خپله اذان کړے اوکه نه ؟

۵۱۲ - سوال : امام اذان کولے شی که نه ؟ او نبی ﷺ په خپل ځانی اذان کړے که نه ؟

جواب : د خلیفهٔ راشد عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل دی چه هغهٔ د امام دپاره اذان کول مکروه ګنړلی۔ د قیس بن ابی حازمؒ نه روایت دے دا فرمائی :

[لَوْ أُطِيْقُ الْأَذَانَ مَعَ الْخِلِّيْفيٰ لَأَذَّنْتُ].

(که چرے ما د خلافت د کارونو سره د اذان طاقت لرلے نو خامخا به مے کولے)۔

[رواه مسدد، قال معلقه : ورجاله ثقات، ذكره ابن حجر في المطالب العالية : ١/٦٥، باب لا يكون الإمام مؤذنًا].

امام بیهقیؒ د جابر رضی الله عنه نه مرفوعًا نقل کړی دی (نبی ﷺ ددے نه منع کړے چه امام مؤذن جوړ شی)۔

[رواه البيهقي، وسنده ضعيف كما في ضعيف الجامع : ٦٠٢٤].

عمران بن مسلمؒ فرمائی : سویدؒ وویل : که زما وس وے نو مابه خلکو ته اذان کولے او امامتی به مے ورته کولے۔ عمرانؒ وائی: ما دا خبره مصعب بن سعدؒ ته وکړه، نو هغهٔ وفرمایل : دا سنت نهٔ دی چه یو انسان دے مؤذن او امام دواړه جوړ شی۔

[ابن ابی شیبه : ١/٤٠٦].

عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل دی: که چرے دا خبره نهٔ وے چه سنت دادی چه امام به مؤذن نهٔ وی نو مابه اذان کولے۔ [ابن ابی شیبه : ١/٤٠٦].

اصبغؒ وائی :ابن عمر رضی الله عنه به مونږ ته اذان کولو۔ او په سفر کښے به زمونږ امام وو۔ .[پورتنئ حواله].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی: امام دپاره د اذان په مکروه ګنړلو کښے د علماؤ اختلاف دے چه ددے مکروه والے د عمر فاروق وغیره نه نقل شوے۔ [فتح البارى :٢/٦٢].

زیلعیؒ فرمائی : دا خبره چه امام به مؤذن نهٔ وی۔ په دے کښے دوه ضعیف حدیثونه راغلی، یو د انس رضی الله عنه نه نقل دے چه هغه د نبی ﷺ ارشاد نقل کوی : (امام له مکروه دی چه هغه مؤذن هم شی)۔

[أخرجه ابن عدى فى الكامل].

په دے حدیث کښے سلام اوزید راویان دواړه سخت ضعیف دی۔

دویم حدیث : هغه دے چه ابن حبان په (الضعفاء) کښے راوړے۔ (نبی ﷺ ددے نه منع کړے چه امام مؤذن هم جوړ شی)۔

دا هم ضعیف دے په دے کښے معلی راوی ضعیف دے۔

[نصب الراية : ۲۹۳/۱، ماجاء أن الإمام لا يكون مؤذنًا].

د امام دپاره د اذان په مکروه والی کښے دا حدیث هم راغلے چه نبی ﷺ عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه ته وفرمایل : [وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلٰى أَذَانِهِ أَجْرًا].

(او داسے مؤذن مقرر کړه چه په اذان کولو مزدوری نۀ اخلی)۔

[مسند احمد :۲۱/٤، ابوداود: ۲۰۹/۱].

○ د کراهیت بله وجه دا هم ده چه نبی ﷺ په خپل ټول عمر مبارك کښے چرته نۀ په حضر کښے خپله اذان کړے او نۀ په سفر کښے۔ صرف دومره ده چه د ماشوم په غوږ کښے ئے اذان کړے، لکه چه دا خبره مخکښے په مسئله نمبر (۵۰۱) کښے تیره شوه۔ دارنګه ابو محذوره رضی الله عنه ته د اذانۀ د تعلیم دپاره ئے هغۀ ته اذان کړے وو۔

○او د ترمذی په کوم حدیث کښے چه دا راغلی چه (نبی ﷺ په سفر کښے اذان وکړو او خپلو ملګروته ئے په داسے حال کښے مونځ وکړو چه هغوئ په خپلو اوښانو باندے سوارۀ وو)۔ نو یو خو ددے په سند کښے عمر بن رماح راوی دے، بله دا چه ددے نه دا نۀ معلومیږی چه ګنے په خپل ځانی باندے ئے اذان کړے ځکه په بل روایت کښے ددے وضاحت موجود دے چه بلال ته ئے د اذان حکم کړے وو۔ [فَأَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ].

(نو بلال ته ئے حکم وکړو نو هغۀ اذان وکړو)۔

[مسند أحمد : ۱۷٤/٤].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ددے مسئلے پوښتنه خلك ډیره ډیره کوی چه آیا نبی ﷺ په خپل ځانی اذان کړے اوکه نۀ ؟ نو سهیلیؒ ذکرکړی دی چه نبی ﷺ په سفر کښے اذان کړے، چه دا حدیث امام ترمذیؒ روایت کړے او دا د یعلیٰ بن مره حدیث دے۔ امام نوویؒ هم په کلکه ویلی دی چه نبی ﷺ په سفر کښے یو ځل اذان کړے او ددے نسبت ئے ترمذی ته کړے او دیته ئے قوی ویلی دی۔ لیکن د ترمذی همدا حدیث په مسند احمد کښے په دے

الفاظو راغلي چه نبي ﷺ بلال ته د اذان كولو امر كړے، نو معلوميږي چه د ترمذي په روايت كښے اختصار دے، او د اذان كولو نه مراد بلال ته د اذان كولو حكم كول دي، لكه خلك وائي : خليفه فلاني عالم ته زر روپيۍ وركړے، حالانكه د وركولو كار ددۀ خزانچي كړے وي خو خليفه ته ئے ځكه نسبت كوي چه هغۀ ددے په وركولو حكم كړے.
[فتح الباری : ۶۲/۲].

علامه مباركفوريؒ هم دا خبره كړے چه نبي ﷺ په خپله اذان نۀ دے كړے بلكه په اذان باندے ئے امر كړے. [تحفة الأحوذی : ۳۱۷/۱].

○ او د اذان او اقامت جمع كولو دپاره په دے حديث باندے هم استدلال شوے، نبي ﷺ فرمائي : [إِذَا سَافَرْتُمَا فَأَذِّنَا وَأَقِيمَا وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا].
(كله چه تاسو دواړو سفر كولو نو اذان كوئ او اقامت كوئ او په تاسو كښے دے امامتي هغه څوك كوي چه مشر وي).[صحيح بخاری].

دے حديث كښے نبي اكرم ﷺ د امام دپاره اذان كول جائز ګڼړلي دي.

خلاصه دا چه : سنت داده چه امام دے مؤذن نۀ وي. البته كه امام اذان وكړو نو ددۀ اذان كول هم جائز دي.

وبالله التوفيق.

د اذان او اقامت پريښودو ځايونه

۵۱۳ - سوال : په كومو ځايونو كښے اذان او اقامت پريښودل كيږي ؟

جواب : هر مونځ كونكي ته د اذان او اقامت حكم شوے، ځكه په كومو حديثونو كښے چه د اذان او اقامت امر راغلے، هغه عام دي ټولو ته شامل دي.

لكه په صحيح مسلم كښے د انس رضي الله عنه نه روايت دے، دا فرمائي : (رسول الله ﷺ به د صبا راختو سره په كافرو حمله كوله او هغۀ به غوږ كيښودۀ كه چرے اذان به ئے واوريدۀ نو د حملے نه به بند شو، اوكه نۀ وي نو حمله به ئے كوله. نو يو ځل ئے د يو سړي نه واوريدل چه هغۀ : الله اكبر وويلو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا كس په فطرت باندے دے. بيا هغۀ اشهد ان لا اله الا الله وويلو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : تۀ د اور نه ووتے. انس رضي الله عنه وائي:

خلکو چه وکتل نو هغه د ګډو بزو شپونکے وو.
[مسلم : ١/١٦٦، بيهقى : ١/٤٠٥، مشكاة : ١/٦٥].

عقبه بن عامر رضي الله عنه وائى: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل چه فرمايل ئے : (ستا رب د هغه شپونکى نه تعجب کوى چه هغه د غرۀ په څوکه کښې وى او د مانځه دپاره اذان کوى او مونځ کوى، الله عز وجل فرمائى : وګورئ زما دے بنده ته چه اذان کوى او مونځ کوى، مانه يريږى نو ما خپل دے بنده ته ښښنه وکړه او جنت ته مے ننويستۀ).
[مسلم : ١/١٦٧، ابوداود : ١٢٠٣، بيهقى : ١/٤٠٥].

نو دے دواړو حديثونو نه ثابته شوه چه د يواځے مونځ کونکى دپاره هم اذان کول مستحب دى. [سنن النسائى : ١/١٠٨].

په حديث د (مسئ الصلاة) کښې په ځينو روايتونو کښې هم د اذان او د اقامت امر راغلے. دے وجے نه په دے دواړو کښې سستى نۀ ده پکار.
[انظر الصحيحة : ١/٦٦].

ددے نه هم لويه خبره داده چه اذان واجب دے او په ډيرو صحيح حديثونو کښې په دے امر راغلے، حالانکه وجوب ددے نه په کمو دلائلو باندے ثابتيږى. نو حقه خبره داده چه اذان فرض کفائى دے. [كما فى تمام المنة ص : ١٤٤].

او دا د شيخ الاسلام غوره وينا ده او د مالکيانو، حنابلو، عطاء، مجاهد او اوزاعیؒ مذهب دے. امام عدویؒ فرمائى: په ښار کښې اذان کول فرض کفائى دى، که يوے علاقے والو پريښودۀ نو جنګ به ورسره کيږى.
[انظر حاشية العدوى والقرطبى :٦/٢٢٥، بداية المجتهد : ١/٧٧].

شيخ البانیؒ فرمائى : بلکه په يواځے مونځ کونکى باندے هم اذان کول واجب دى. لکه علامه شوکانیؒ په دے باره کښې د حديثونو ذکر کولو نه پس فرمائى :

لنډه دا چه : په دے عظيم عبادت کښې سستى او ددے په وجوب کښې تردد او شك نۀ دے پکار ځکه ددے وجوب ډير زيات ښکاره دے، او دا جماعت د مانځه پورے خاص هم نۀ دے بلکه په هر مونځ کونکى لازم دى چه اذان او اقامت وکړى. مګر څوك چه جماعت سره مونځ کوى نو هغۀ لپاره دا کافى ده چه مؤذن د دغه جماعت دپاره اذان او اقامت کوى. بيا

ظاهره داده چه ښځې هم په دے حکم کښې د سړو پشان دی، او سړو ته چه ددے حکم شوے نو دا ښځو ته هم شامل دے، او په دے باره کښې څۀ داسے حدیث نۀ دے راغلے چه هغه په دے خبره دلیل جوړ شی چه ښځو لپاره اذان او اقامت واجب نۀ دے۔او کوم روایتونه چه په دے باره کښې راغلی نو د هغے په سندونو کښې متروك راویان دی، د هغوئ روایت حجت نۀ دے۔ نو که چرے داسے دلیل راشی چه ښځے ددے وجوب نه وباسی نو ډیره ښه ده، ګنے ښځے هم په دے باره کښې د سړو پشان دی۔

[تمام المنة ص ١٤٤، السيل الجرار: ١٩٦/١].

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی: څوك چه وائی چه اذان سنت دے او پریښودلو کښې ئے ګناه نشته، نو دا خبره ددۀ خطا ده۔ [مجموع الفتاوى: ٦٤/٢٢].

ابن ابی حاتمؒ په [كتاب الأذان ص: ٢٨٦] کښې فرمائی: بیان د هغه حدیثونو چه په مسلمانانو باندے د اذان د وجوب او د فرضیت په باره کښې راغلی۔ بیائے ددے د وجوب دپاره نهه حدیثونه ذکر کړی۔

ابن حزمؒ هم د جماعت دپاره په سفر او حضر کښې د اذان د وجوب قائل دے۔

[المحلى: ١٦٣/٢].

نو د پورتنو حوالو نه معلومه شوه چه اذان په هر مونځ ګذار باندے واجب دے، امام وی که منفرد، نارینه وی که زنانه۔

د بانډه چی په حدیث کښې دی: [ثُمَّ تَشَهَّدُ وَأَقِمْ]. (بیا اذان او اقامت وکړه)۔

[سنن الترمذى: ٦٦/١، وفى الترمذى تحقيق أذان المسافر].

○ البته د اذان او اقامت نه دا راتلونکی کسان مستثنیٰ دی۔ په دوئ واجب نۀ دے:

١ – اول ښځے: په دوئ باندے اذان او اقامت واجب نۀ دے۔

د ابن عمر رضي الله عنه په حدیث کښې دی: [لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ أَذَانٌ وَلَا إِقَامَةٌ].

(په ښځو باندے اذان او اقامت نشته)۔

[أخرجه البيهقى: ٤٠٨١، باب ليس على النساء أذان ولا أقامة].

دے روایت ته شوکانیؒ او ابن حجرؒ صحیح ویلی۔

[نيل الأوطار: ٢٧/٢، التلخيص الحبير: ٢١١/١].

خو دا حدیث ضعیف دے، شیخ البانیؒ فرمائی : په دے کښے عبد الله بن عمر العُمری ضعیف دے۔ او دا روایت د ابن عمر رضی الله عنه د هغه روایت خلاف دے چه په هغے کښے دا راغلی چه ددهٔ نه پوښتنه وشوه : [هَلْ عَلَى النِّسَاءِ أَذَانٌ ؟ فَغَضِبَ وَقَالَ: أَنَا أَنْهٰى عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ؟] (آیا ښځو باندے اذان شته؟ نو هغه غصه شو او وے فرمایل: آیا زهٔ د الله د ذکر نه خلك منع کړم؟)۔ [تمام المنة ص : ١٥٣].

او په دے حدیث امام احمدؒ دلیل نیولے۔ لکه امام ابوداوُدؒ په خپلو مسائلو (ص ٢٩) کښے وائی : ما د احمدؒ نه واوریدل چه د هغهٔ نه د ښځے په باره کښے پوښتنه وشوه چه اذان او اقامت به کوی او که نه ؟ هغهٔ وفرمایل : د ابن عمرؓ نه پوښتنه وشوه چه ښځه به اذان او اقامت کوی؟ هغهٔ وفرمایل : آیا زهٔ د الله عز وجل د ذکر نه خلك منع کړم؟

لیکن امام بیهقیؒ د عمرو بن ابی سلمه نه نقل کړی دی دا وائی : ما د ابن ثوبانؒ (محمد بن عبد الرحمن بن ثوبان) نه پوښتنه وکړه چه آیا ښځو باندے اقامت شته؟ نو هغهٔ ماته خبر راکړو چه ددهٔ پلار دهٔ ته خبر ورکړے هغه وائی : ما د مکحولؒ نه ددے پوښتنه وکړه، نو هغهٔ وفرمایل : (کله چه ښځے اذان وکړی او اقامت وکړی نو دا بهتره ده او که د اقامت نه علاوه ئے نور څهٔ ونهٔ کړل نو دا هم دویٔ له کافی ده)۔ابن ثوبانؒ وائی : که اقامت نهٔ کوی نو هم جائز ده۔ څکه امام زهریؒ د عروهؒ په واسطه د عائشے k نه روایت نقل کوی چه هغے وفرمایل : [كُنَّا نُصَلِّيْ بِغَيْرِ إِقَامَةٍ] (مونږ به د اقامت نه بغیر مونځ کولو)۔

امام بیهقیؒ فرمائی : که چرے دا روایت د اولنی روایت سره صحیح شی نو دے دواړو کښے منافات نشته۔ څکه دا ممکنه ده چه یو ځل ئے دا کړے وی او بل ځل ئے دا پریښے وی څکه چه دواړه کارونه جائز دی۔او د جابر رضی الله عنه نه نقل دی چه هغهٔ ته وویل شول: آیا ښځه به اقامت کوی؟ هغهٔ ویل: هو!۔

[البیهقی : ١/٤٠٨].

شیخ البانیؒ فرمائی: د امام بیهقیؒ سند حسن دے۔

[الضعیفة : ٢/٢٧١، رقم : ٨٧٩].

او شیخ البانیؒ د ابو الطیب صدیق حسنؒ قول غوره کړے چه هغه په [الروضة : ١/٧٩] کښے وائی: سړو ته امر کول ښځو ته امر کول دی، او په ښځو باندے د عدمِ وجوب په باره

کښې داسې څۀ نۀ دی ثابت شوی چه دلیل جوړ کړې شي۔ اهـ

لیکن مونږ وایو : د صحابه کرامو او تابعینو نه ګڼړ آثار راغلی چه په ښځو باندې اذان او اقامت واجب نۀ دې۔

○ یو د هغې نه د ابن عمر رضي الله عنه دغه پورتنې اثر دې۔

○ دغه شان د عائشې k پورتنې اثر دې۔

○ دارنګه معتمر بن سلیمان د خپل پلار (سلیمان) نه روایت کوی دا فرمائی :

[كُنَّا نَسْأَلُ أَنَسًا رضي الله عنه هَلْ عَلَى النِّسَاءِ أَذَانٌ وَإِقَامَةٌ ؟ قَالَ: لَا، وَإِنْ فَعَلْنَ فَهُوَ ذِكْرٌ].

(مونږ به د انس رضي الله عنه نه پوښتنه کوله چه آیا په ښځو باندې اذان او اقامت شته؟ هغۀ به فرمایل : نه ! خو که دا کارئے وکړو نو دا ذکر دې)۔

[مصنف ابن ابی شیبه : ۱/۲۲۲].

او ابن ابی شیبهؒ د علی رضي الله عنه نه په ضعیف سند سره نقل کړی دی چه : (اذان به کوی او اقامت به نۀ کوی)۔

بیائے د ضحاکؒ نه نقل کړی دی چه : په ښځو باندې اذان او اقامت نشته۔

او د جابر رضي الله عنه نه ئے نقل کړی دی چه : که زړۀ ئے غواړی اقامت دې وکړی۔

ابن عباس رضي الله عنه فرمائی : [لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ أَذَانٌ وَلَا إِقَامَةٌ].

(په ښځو باندې نۀ اذان شته او نۀ اقامت)۔

[کما فی مصنف عبد الرزاق : ۳/۱۲۸].

او په همدې خبره حسن، محمد بن سیرین، زهری، عطاء، ابراهیم، جابر بن زید، مجاهد، سالم بن عبد الله بن عمر او نورو تابعینو – رحمهم الله – فتویٰ ورکړې : چه په ښځو نۀ اذان شته او نۀ اقامت۔ یعنی په دوئ دا واجب نۀ دې۔

○ خو دا حکم هله دې چه ښځې یواځې مونځ کوی۔

او کله چه دوئ د جماعت په شکل مونځ کوی نو بیا سنت داده چه دوئ له یو مؤذن سړې اذان وکړی۔

لکه د ام ورقې k په حدیث کښې دی : [وَكَانَتْ أُمُّ وَرَقَةَ قَدْ قَرَأَتِ الْقُرْآنَ فَاسْتَأْذَنَتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم أَنْ تَتَّخِذَ فِيْ دَارِهَا مُؤَذِّنًا فَيُؤَذِّنُ لَهَا......] (ام ورقې قرآن لوستلې وو نو د نبی صلى الله عليه وسلم نه ئے اجازت

وغوښتو چه په خپل کور کښې یو مؤذن مقرر کړی چه هغه ـ ورله اذان کوی). [ابوداود : ۹٤/۱، بیهقی : ٤٠٦/۱، باب إمامة النساء].

ددې حدیث اسناد حسن دې.

او ښځې له جائز دی چه اذان وکړی او اقامت وکړی او د ښځو په مینځ کښې ودریږی او ښځو ته امامتی وکړی. لکه :

هشام د حفصې k نه روایت کوی چه (کله به دې مونځ کولو نو اقامت به ئې کولو).

[مصنف ابن ابی شیبه : ۲۲۳/۱].

عائشې k نه نقل دی چه (هغې به اذان او اقامت دواړه کول).

[ابن ابی شیبه : ۲۲۳/۱، البیهقی : ٤٠٨/۱].

ددې په سند کښې لیث بن ابی سلیم دې. (اودا سیئ الحفظ دې).

○ په ښځو باندې د اذان او اقامت د عدمِ وجوب په باره کښې یو دلیل دا هم دې چه د امهات المؤمنین k وغیره ؤ نه دا چرته نقل نۀ دی چه دوئ په کور کښې اذان کړې وی.

په فتاویٰ اسلامیه کښې دی : که چرې ښځو اقامت کولو نو په دې کښې څۀ باك نشته اوکه نۀ ئې کوی نو هم څۀ باك نشته، ځکه اذان او اقامت په نارینه ؤ باندې واجب دی.

[الفتاوی الإسلامیة : ۲٥۳/۱].

او داسې خبره ابن حزمؒ هم کړې. [المحلی : ۱٦۹/۲].

۲ – **دویم** : اذان اواقامت په هغه چا هم نۀ دې واجب چه په کور کښې یوائې یا جماعت سره مونځ کوی. ځکه په صحیح مسلم کښې د اسود او علقمه نه نقل دی چه دوئ وائی. (مونږ عبد الله بن مسعود کره راغلو نو هغۀ وفرمایل : آیا دې خلکو تاسو پسې مونځ کړې؟ مونږ ویل : نه. وې فرمایل : پاسئ او مونځ وکړئ. [فَلَمْ يَأْمُرْ بِأَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ] نو نۀ ئې د اذان حکم وکړو او نۀ د اقامت). په بل روایت کښې دی : [يُجْزِئُنَا أَذَانُ الْحَيِّ وَإِقَامَتُهُمْ].

(مونږ له د محلې اذان او اقامت کافی دې).

[صحیح مسلم : ۲٠۲/۱، بیهقی : ٤٠٦/۱].

نو دلته ابن مسعود رضي الله عنه چه د فقیه صحابو نه دې، اذان اواقامت دواړه پریښودل او د قبیلې او محلې اذان او اقامت ئې کافی وګڼړلو.

ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : (چاچه په یوداسې جومات کښې مونځ وکړو چه په هغې کښې مونځ شوې وو نو ده ٔ دپاره د هغوئ اقامت کافی دې).

[أخرجه البیهقی : ٤٠٦/١].

امام شافعیؒ فرمائی : چاچه د مانځه آخره برخه لاندې کړه نو ده ٔ اذان او اقامت دواړو ته حاضریدل فوت شو، دې به ځانله اذان نهٔ کوی او نهٔ به اقامت کوی. په دې خبره کښې زهٔ څوك مخالف نهٔ مومم چه یو سړې جومات ته راشی او امام د مانځه نه فارغ شوې وی نو دې به د اذان او اقامت نه بغیر مونځ کوی.

○ البته اذان کول ورله بهتر دی. لکه انس بن مالك رضی الله عنه نه نقل دی چه (دې په داسې حالت کښې جومات ته راغې چه مونځ پکښې شوې وو، نو اذان او اقامت ئې وکړو او ملګرو ته ئې د سهار مونځ وکړو).

[البیهقی : ٤٠٧/١، وذکره البخاری تعلیقًا : ٨٩/١، وأخرجه عبد الرزاق ٥١٣/١].

علامه ابن حزمؒ هم د یواځې مونځ کونکی دپاره د اذان کولو په استحباب باندې قائل دې. [المحلی : ١٦٦/٢].

نو د رشید احمد لدهیانوی صاحب دا خبره چه کله په جومات کښې جماعت وشی نو د یواځې مونځ کونکی دپاره اذان او اقامت کول مکروه دی. نو په دې خبره څهٔ دلیل نشته.

[أحسن الفتاوی : ٢٧٩/٢].

٣ – دریم : چه ډیر مونځونه فوت شوی وی او بیا د هغې قضائی راوړی نو د اولنی مونځ نه سیوا د نورو مونځونو دپاره اذان پریښودل جائز دی. دغه شان په جمع بین الصلاتین کښې د دویم مونځ دپاره اذان کول ضروری نهٔ دی، بلکه دواړو مونځونو دپاره به اقامت کوی. لکه د جابر رضی الله عنه په اوږد حدیث کښې دی :

[وَدَفَعَ حَتّٰى أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ فَصَلّٰى بِهَا الْمَغْرِبَ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ وَإِقَامَتَيْنِ].

(نبی صلی الله علیه وسلم لاړو تردې چه مزدلفې ته راغې او هلته ئې په یو اذان او دوه اقامتونو سره د ماښام مونځ – د ماسخوتن مانځه سره یوځائې – وکړو).

[مسلم : ٣٩٤/١، مشکاة : ٢٢٥/١].

○ ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې چه (مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د خندق د غزا په موقعه

د دشمن مخامخ وو، نو هغوئ مونږ لره د ماسپخين، مازيګر، ماښام او ماسخوتن مونځونو نه تر نيمائی شپې پورې مشغوله وساتلو، بيا رسول الله ﷺ پاسيدهٔ او د ماسپخين مونځ نه ئې شروع وکړه، بيا ئې مازيګر، بيا ماښام او بيا ماسخوتن وکړو، د يو مونځ نه پس به ئې د بل مانځه دپاره پرله پسې اقامت کولو).

[بيهقى : ١/٤٠٧].

نو ددې حديث نه معلومه شوه چه په فوت شوو مونځونو کښې د اولنی مونځ نه سيوا د نورو قضائی راوړلو کښې به اذان پريدی. امام بيهقىؒ په دې باب تړلے : (د اذان او اقامت يا په دې کښې د يو په پريښودلو سره مونځ صحيح دې).

زهٔ وايم : په دې حديث کښې دا نشته چه اذان ئې نهٔ دې کړې. صرف دومره ده چه اذان په کښې نهٔ دې ذکر شوې. او نهٔ ذکر کول په عدمِ وجود دلالت نهٔ کوی. او د نبی کريم ﷺ دا طريقه وه چه په جمع بين الصلاتين کښې به ئې په يو اذان اکتفاء کوله. لکه په عرفات او مزدلفه وغيره ځايونو کښې ئې په يو اذان اکتفاء کړې وه. لکه د جابر رضي الله عنه په حديث کښې دی:

[ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ].

(بيا بلال اذان وکړو، بيا ئې اقامت وکړو او نبی ﷺ د ماسپخين مونځ وکړو، بيا ئې اقامت وکړو او د مازيګر مونځ ئې وکړو).

[ابوداود : ٢/١٢٢، مشكاة : ١/٢٢٥].

٤ - **څلورم** : څوك چه په صحراء کښې يوائې مونځ کوی، هغهٔ له جائز دی چه اذان پريدی. البته بهتره داده چه اذان وکړی. لکه مخکښې په دې حقله حديث تير شو.

سلمان فارسی رضي الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے :

[إِذَا كَانَ الرَّجُلُ بِأَرْضٍ قِيٍّ (قفر) فَحَانَتِ الصَّلَاةُ فَلْيَتَوَضَّأْ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ مَاءً فَلْيَتَيَمَّمْ، فَإِنْ أَقَامَ صَلَّى مَعَهُ مَلَكَاهُ، وَإِنْ أَذَّنَ وَأَقَامَ صَلَّى خَلْفَهُ مِنْ جُنُودِ اللّٰهِ مَنْ لَا يُرٰى طَرَفَاهُ].

(کله چه يو سړې په شاړه زمکه کښې وی او د مانځه وخت شی نو اودس دې وکړی اوکه اوبهٔ ورته نهٔ ملاويږی نو تيمم دې وکړی، نو که دهٔ اقامت وکړو نو ددهٔ سره به ددهٔ دواړه ملائك شريك مونځ وکړی. اوکه اذان او اقامت دواړه ئې وکړل نو دهٔ پسې به د الله د لښکرو

نه دومره لښکريان مونځ وکړي چه دواړه طرفونه ئے نهٔ ليدل کيږي)۔

[مصنف عبد الرزاق : ١/٥١٠، ابن ابی شيبه : ١/٢٠٩، وإسناده صحيح].

عاصم بن ضمره د علی رضی الله عنه نه روايت کوی چه دهٔ وفرمايل : (کوم سړے چه شاړے زمکے ته ووائهٔ نو د خپل مانځه دپاره دے زمکه غوره کړي، ښی او ګس طرفته دے وګوری او د مانځه دپاره دے نرم او پاکيزه ځائے منتخب کړي، ځکه هره زمکه دا خوښوی چه په هغے دے د الله ذکر وکړے شی، نو که دهٔ زړهٔ غواړی اذان دے وکړي او که زړهٔ ئے غواړی نو اقامت دے وکړي)۔

[مصنف عبد الرزاق : ١/٥٠٩].

نو ددے مرفوع او موقوف دواړو حديثونو نه معلومه شوه چه په صحراء کښے اذان پريښودل جائز دی۔ ښهٔ سوچ وکړه !

نو دا د اذان د پريښودو ځايونه دی۔

خو مناسبه داده چه اذان دے نهٔ پريدی ځکه د اذانهٔ په باره کښے په حديثونو کښے ګنړ ترغيبات راغلی او دا ډير فضيلت لري۔

وبالله التوفيق.

د مشرکانو د اذان جواب ورکولو حکم

٥١٤- **سوال** : د مشرکانو - لکه د بريلويانو وغيره ؤ - د اذان جواب ورکول پکار دی او که نه؟

جواب : راجحه داده چه د دوئ د اذان جواب ورکول نشته، ځکه د دوئ اذان د الله تعالیٰ په نيز اذان نهٔ دے۔ بلکه دا چه دوئ تاته په [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] ويلو سره خپل جومات ته او دوئ سره مونځ کولو ته دعوت درکوی، حالانکه دوئ سره مونځ کول او د دوئ جومات ته حاضريدل جائز نهٔ دی۔ دغه شان کله چه تهٔ په [لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ] سره جواب ورکوے، نو ګويا تهٔ هغوئ سره د حاضريدو اراده کوے او د الله نه ددے مدد غواړے۔ حالانکه دوئ ته حاضريدل منع دی۔ دارنګه کله چه [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] ووائی نو د دوئ خبره باطله ده ځکه دوئ سره مونځ کول کاميابی نهٔ ده۔

دا حکم هله دے چه کله مؤذن يقيني مشرك وي او په مسجد کښے همدا امامتي کوي.

○ او هر چه د بدعتيانو اذان دے، نو ددے جواب به ورکولے شي، ځکه دوئ پسے مونځ جائز دے او د مؤذن او امام په شرطونو کښے دا نشته چه دا به معصوم وي.

والله تعالىٰ أعلم.

بعضِ علماؤ ويلي دي: د هر اذان جواب به ورکول کيږي، ځکه د نبي ﷺ دا وينا عامه ده چه: (کله تاسو د مؤذن نه واورئ نو د هغهٔ پشان کلمات وايئ).

په فتاوىٰ ديوبند (۱۱۵/۲) کښے ليکي: د شيعه ګانو اذان کافي نهٔ دے.

وبالله التوفيق.

د يو مانځه دپاره د ډيرو اذانونو حکم

۵۱۵ - سوال: په يو ځل باندے د ګڼړو کسانو اذان د يو مانځه دپاره جائز دے او که نه؟ مثلًا: يوه لويه اجتماع وي او خلك د يو مؤذن اذان نهٔ آوري، نو آيا دا جائز دي چه په مختلفو طرفونو کښے لس يا کم وزيات کسان په شريکه اذان وکړي، لکه چه دا کار د [جماعة التبليغ] په اجتماعاتو کښے کيږي؟

جواب: راجحه داده چه صرف يو کس اذان وکړي او يا د اذان دپاره لاؤډ سپيکر استعمال کړے شي. ځکه د نبي کريم ﷺ په زمانه کښے لوئے لوئے اجتماعات شوي دي، لکه د حج او عُمرے او غزاګانو اجتماع ګانے شوے، دغه شان د صحابه کرامو ز په زمانه کښے هم لوئے لوئے اجتماع ګانے شوي دي، او د نبي ﷺ او د هغهٔ د ملګرو نه دا چرته ثابت نهٔ دي چه دوئ ډيرو مؤذنينو ته امر کړے وي چه دوئ دے مختلفو طرفونو ته اذان وکړي. بلکه په صحيح بخاري کښے د سائب بن يزيد ﷺ نه روايت دے دا فرمائي: (د نبي ﷺ او د ابو بکر او عمر ز په زمانه کښے به د جُمعے په ورځ اولنے اذان هغه وخت کيدهٔ کله به چه امام په منبر کيناستهٔ. اوکله چه د عثمان ﷺ د خلافت دور شو او خلك زيات شو، نو هغهٔ دريم اذان زياتي کړو چه دابه په زوراء مقام کيدهٔ. په بل روايت کښے دي:

[وَلَمْ يَكُنْ لِلنَّبِيِّ ﷺ مُؤَذِّنٌ غَيْرُ وَاحِدٍ] (او د نبي ﷺ صرف يو مؤذن وو).

[صحيح بخاري: ۱/۱۲٤، ابوداود: ۱/۱٦۲، نسائي: ۱/۲۰۷].

د دریم اذان نه مراد د جُمعې د ورځې اولنې اذان دې۔ ځکه یو اذان د خطبې نه مخکښې کیږی او بل اقامت دې چه دیته هم اذان ویل کیږی، او دریم هغه اذان دې چه ددې دواړو نه مخکښې عثمان رضی الله عنه زیاتی کړې وو۔

وهبة الزحیلیؒ فرمائی : کله چه خطیب په منبر کینی نو د خطیب مخې ته دې صرف یو مؤذن اذان کوی نهٔ ډیر مؤذنین۔ او همدا هغه اذان دې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې به کیدهٔ۔ او دا اتفاقی اذان دې۔ بیا ئې د سائب بن یزیدؓ پورتنې حدیث ذکرکړو۔

[الفقه الإسلامی :۲/۲۹۲].

بعضې خلکو د اجتماعی اذان دپاره ددې حدیث نه دلیل نیولې چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی :[إِذَا خَرَجْتُمَا فَأَذِّنَا وَاَقِيمَا] (کله چه تاسو دواړه په سفر ووتلئ نو اذان کوئ او اقامت کوئ)۔

[بخاری، مسلم عن مالك بن الحویرث رضی الله عنه].

خو دا استدلال صحیح نهٔ دې، ځکه (اذان کوئ) معنیٰ داده چه په تاسو کښې دې یو کس اذان وکړی او بل دې جواب ورکوی۔ ددې تائید دادې چه په بل روایت کښې دی : [فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ] (په تاسو کښې دې یو کس اذان وکړی)۔

ځکه د دواړو کسانو یوځائې اذان کول مطلوب نهٔ دی۔

[مجمع بحار الأنوار، حاشیة السندی علی النسائی، ونقله الألبانی فی الإرواء:۱/۲۳۰].

بیا شیخ البانیؒ فرمائی: د بعضې متاخرینو په حدیث باندې د نهٔ پوهیدو یا تجاهل دا حال دې چه په دوئ کښې یو کس یوه رساله لیکلې کومه چه مخطوطه ده، او په هغې کښې ئې په یو آواز باندې اذان کول جائز کړی دی چه هغې ته په دمشق کښې [اذان الجوق] ویل کیږی۔ او د دغه پورتنی حدیث نه ئې دلیل نیولې۔ نو ما ځان سره دا وویل چه بیا خو به [اقامة الجوق] هم جائز ګڼړی اوکه نه؟ ځکه په حدیث کښې خو [فَأَذِّنَا وَأَقِيمَا] دواړه الفاظ راغلی۔ او مبتدعینو په شرعی نصوصو کښې ډیر تحریفات کړی، چه دا د هغې یو مثال دې۔ [فإلى الله المشتكى].

ابن عابدین وائی : سیوطی ذکرکړی دی چه د دوه کسانو اذان د تهولو نه اول بنو امیه ایجاد کړې۔ رملی په حاشیة د البحر کښې وائی : ما د اذان الجوق او اجتماعی اذان په باره کښې هیڅ نص نهٔ دې لیدلې۔ خو آیا بدعت حسنه دې اوکه سیئه ؟ او دا اذان شوافعو د

خطیب مخامخ ذکر کړے او د دوئ اختلاف دے چه دا مستحب دے که مکروه. هر چه اولنے اذان دے نو په النهایة کتاب کښے ئے تصریح کړے چه دا متوارث دے، لکه هغه ددے قول په تشریح کښے چه [واذا اذن المؤذنون الاذان الاول ترك الناس البیع] ذکر کړی دی چه مؤذنین ئے د جمع په لفظ ذکر کړی دی ځکه کلام ئے په عامه توګه جاری کړے ولے چه په دے کښے متوارثه داده چه دا اذان په جمع کیږی او د ښار هر طرفته رسول کیږی.

نو په دے کښے دلیل دے چه دا اجتماعی اذان مکروه نۀ دے، ځکه متوارث (د مخکښے نه را روان) عمل مکروه نۀ وی. دارنګه د خطیب مخامخ چه کوم اذان کیږی د هغے په باره کښے هم دغه خبره کوو، لهذا دا بدعت حسنه شو، ځکه [مَا رَآهُ الْمُسْلِمُوْنَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ حَسَنٌ] (کوم شے چه مسلمانان ښۀ ګڼړی هغه د الله په نیز هم ښۀ وی) او سیدی عبد الغنی ورسره دا هم ویلی چه په دے اجتماعی اذان کښے د جُمعے خصوصیت نشته بلکه باقی پنځه مونځونو دپاره هم خلك اعلان ته محتاج دی.

[رد المحتار: ۱/۲٦۱].

زۀ وایم: د ابن عابدین شامی په دے پورتنی کلام کښے د نیوکے وړ خبرے دادی:

اوله وجه: اذان الجوق بدعت دے او په دے هیڅ دلیل نشته، لکه مخکښے تیر شو.

دویمه وجه: بدعت، حسنه او سیئه ته ویشل هم بدعت دے. او دا تقسیم د نبی اکرم ﷺ ددے مبارك ارشاد خلاف دے چه: [کُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ] (هر بدعت ګمراهی ده).

لکه مخکښے ددے وضاحت په مسئله نمبر (۲۱) کښے شوے.

دریمه وجه: د نبی اکرم ﷺ دپاره په دغه غتو غتو اجتماعاتو کښے صرف یو مؤذن وو چه هغه بلال رضی الله عنه دے، او ددۀ نه سیوا بل مؤذن په دغه موقعه نۀ وو. سره ددے چه ډیره زیاته ګڼړه ګونړه وه او خلکو ډیرو اذانونو ته حاجت لرلو.

[انظر نیل الاوطار: ۳/۳۲۳].

څلورمه وجه: کومه طریقه چه د نبی کریم ﷺ او د هغۀ صحابه کرامو نه متوارثه او راروانه وی، نو هغه بدعت نۀ وی. او پاتے شو د دوئ نه ښکته را روانه طریقه نو هغه بدعت وی. او دا اجتماعی ډیر اذانونه د نبی کریم ﷺ او د هغۀ د صحابه کرامو – رضی الله عنهم – نه را روانه طریقه نۀ ده، او د بل چانه را روانے طریقے له هیڅ اعتبار نشته.

پنځمه وجه : د فقهي كتابونو په مفهوم باندې ئې دليل نيولے، حالانكه ددې كتابونو منطوق حجت نۀ دے پاتے لا مفهوم ! د ابن عابدين دا طريقه ده چه دا د فقهي كتابونو په مفهوماتو باندې دليل نيسي۔ دا هغه كتاب دے چه ديته د احنافو د فتوو سرچينه ويلے كيږي۔

شپږمه وجه : [مَا رَآهُ الْمُسْلِمُوْنَ حَسَنًا] دا مرفوع حديث نۀ دے۔ بلكه دا چه په دے كښې د مسلمانانو نه مراد صحابه كرام z دي۔

○ **خلاصه** دا چه : په يو وخت كښې په يو يا په ګڼرو آوازونو سره اجتماعي اذانونه كول شرعًا ثابت نۀ دي، نو دا نۀ دي كول پكار۔

په [السنن والمبتدعات، ص :٤٩] كښې وائي : په يو طرز سره اجتماعي اذان كول بدعت دے۔

او امام نوويؒ چه دا فرمايلي: د لوئے جومات دپاره دوه مؤذنين نيول جائز دي اوكه ډيرو ته ضرورت پيدا شي نو د هغے نيول هم جائز دي، لكه عثمان رضي الله عنه څلور مؤذنين نيولي وو، او د حاجت او مصلحت په لحاظ سره ددے نه زيات ساتل هم جائز دي۔

[شرح مسلم للنووى : ١/٣٥٠].

نو ددے نه د دغه پورتني اجتماعي اذان ثبوت نۀ كيږي، ځكه ددۀ په عبارت كښې د ګڼرو مؤذنينو نه مراد دادے چه د مختلفو مونځونو دپاره ګڼر مؤذنين نيول جائز دي، مثلًا يو د سهار اذان كوي، بل د ماسپخين او بل د مازيګر او دغسے د نورو مونځونو دپاره۔ اوكه د امام نوويؒ دا مطلب نۀ وي نو بيا هغۀ سره هيڅ دليل نشته۔ ځكه د بلال حديث په يو وخت كښې په ډيرو مؤذنينو ساتلو باندے دلالت نۀ كوي۔

امام نوويؒ په المجموع كښې هم د ډيرو اذانونو خبره بے دليله ذكر كړے۔

[المجموع شرح المهذب :٣/١٢٤].

د امام نوويؒ پورتنئ خبرے ته نزدے خبره امام ابن قدامهؒ هم ذكر كړے، او فرمايلي ئې دي چه د دوه مؤذنينو نه زيات مؤذنين نيول مستحب نۀ دي ځكه د نبي صلى الله عليه وسلم نه همدا نقل دي چه د هغوئ دپاره به دوه مؤذنين وو، بلال او ابن ام مكتوم i۔ بيائے د ضرورت په وخت د ډيرو مؤذنينو د ساتلو خبره كړے۔ خو په دے ئې څۀ دليل نۀ دے پيش كړے۔ [انظر

المغني : ١/٤٧٧].

دغه شان علامه قاسمیؒ هم د ضرورت په وخت د ډيرو مؤذنينو ساتلو اجازت ورکړے. خو په دے ئے هيڅ دليلِ نقلی نهٔ دے پيش کړے.

[إصلاح المساجد ص : ١٣٣].

حالانکه مخکښے تير شو چه په يو وخت کښے ګنړ اذانونه کول د نبی ﷺ او صحابه کرامو نه ثابت نهٔ دی.

امام ابن ابی حاتمؒ فرمائی : کوم اذان چه په اجتماعی توګه کيږی او ديته اذان السلطان او اذان الجوق ويل کيږی نو دا بدعت دے او په دے کښے اختلاف نشته چه دا مذموم او مکروه عمل دے.

[كتاب الأذان لأبي حاتم ص : ٢٩٨].

امام ابن حزمؒ فرمائی : د دوه يا زياتو کسانو په يو ځل باندے اذانونه کول جائز نهٔ دی. او په دے باندے ئے دليل حديث د قرعے (خسنړی) ذکر کړے. هغه فرمائی : که چرے د دوه کسانو اذان جائز وے نو بيا خسنړے اچول هيڅ معنیٰ نهٔ لری.

[المحلی : ٢/١٧٩].

نو ثابته شوه چه په يو ځل ډير اذانونه کول بدعت دے، او دا مقصد د لاؤډ سپيکر نه اخستل کيږی. والله أعلم.

د امام د اقامت حکم

٥١٦ – **سوال** : امام اقامت کولے شی اوکه نه ؟

جواب : بهتره داده چه امام نهٔ اذان وکړی او نهٔ اقامت. ځکه د نبی ﷺ او د هغهٔ نه روستو د هغهٔ د خلفاؤ نه دا چرته نهٔ ده نقل. او مخکښے په مسئله نمبر (٥٠٧) کښے تير شو چه د امام دپاره مکروه دی چه اذانونه هم کوی. ددے باوجود که امام اذان وکړو او خلکو ته ئے مونځ وکړو نو ددهٔ مونځ صحيح دے. دارنګه ددهٔ اقامت هم صحيح دے.

فتاویٰ اسلاميه کښے دی :

سوال : آيا مؤذن له جائز دی چه د اقامت کولو نه پس خلکو ته امامتی وکړی؟

جواب : هو ! دا جائز دی چه یو کس اذان او اقامت وکړی، او کله چه مؤذن په خلکو کښې ډیر ښۀ قاری وی نو حاضرینو ته به امامتی ورکړی۔ دغه شان که مقرر امام غائب وی او دے د هغۀ نائب شی نو هم جائز دی۔ لکه څنګه چه دا جائز دی چه دا د مقرر امام په وظیفه باندے مقرر شی۔

[الفتاوی الإسلامية : ۲۵۲/۱].

زۀ وایم : سنت داده چه امام خپل ځان دپاره جدا مؤذن مقرر کړی۔ او [مَنْ أَذَّنَ فَهُوَ يُقِيْمُ] والا حدیث ضعیف دے۔ لکه مخکښے تیر شو۔

اذان نه پس جوماتَ نه د وتو حکم او عذرونه

۵۱۷ – **سوال** : اذان کیدو نه پس د جومات نه وتل مکروه دی او که نه ؟

جواب : په دے باب کښے ډیر حدیثونه ثابت دی چه هغه په دے خبره دلالت کوی چه کله په جومات کښے اذان وکړے شی نو د هغے نه وتل جائز نۀ دی تر دے چه مونځ وکړی، البته د عُذر په وجه وتلے شی۔

۱ – ابو الشعثاء ؒ وائی : مونږ په جومات کښے د ابو هریرهؓ سره ناست وو، دے کښے مؤذن اذان وکړو نو یو سړے د جومات نه پاسیدۀ روان شو، نو ابو هریرهؓ هغۀ ته نظر وروا چولو تر دے چه هغه سړے د جومات نه ووتۀ، نو ابو هریره وفرمایل : دے سړی د ابو القاسم ﷺ نافرمانی وکړه۔ [صحيح مسلم : ۲۳۲/۱].

دے حدیث نه معلومه شوه چه د اذان نه پس د جومات نه وتل مکروه دی تر دے چه مونځ وکړے شی، البته د عذر د وجے جائز دی۔

[شرح مسلم للنووی].

۲ – عثمان بن عفان رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [مَنْ أَدْرَكَ الْأَذَانَ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ خَرَجَ لَمْ يَخْرُجْ لِحَاجَةٍ وَهُوَ لَا يُرِيْدُ الرَّجْعَةَ فَهُوَ مُنَافِقٌ].

(چا چه په جومات کښے اذان را لاندے کړو بیا په غیر د حاجت نه د جومات نه ووتۀ او اراده د واپسئ هم نۀ لری نو دا منافق دے)۔

[سنن ابن ماجه : ۱۲۳/۱، الصحيحة : ۲۵۱۸، مشکاة : ۹۷/۱].

٣ – دیته نژدے حدیث د ابو هریره ﷺ نه هم مرفوعًا نقل شوے۔

[أخرجه الطبرانی فی الأوسط : ١/٢٧، وأبو نعیم فی صفة النفاق : ١/٢٩، وذكره الشیخ فی الصحیحة :٢٥١٨، عن سعید بن المسیب عن أبی هریرة، وأخرجه البیهقی مرسلا :٣/٥٦، الإرواء : ١/٢٦٣].

٤ – په مسند احمد کښے دی : ابو هریره ﷺ بیا وفرمایل :

[أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا كُنْتُمْ فِي الْمَسْجِدِ فَنُوْدِيَ بِالصَّلَاةِ فَلَا يَخْرُجْ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يُصَلِّيَ].

(رسول الله ﷺ مونږ ته حکم کړے چه کله تاسو په جومات کښے وئ او اذان وکړے شی نو د مانځه نه مخکښے دے په تاسو کښے څوك نۀ وځی)۔

[مسند أحمد : ٢/٥٣٧].

نو دے ټولو حدیثونو نه معلومه شوه چه د اذان نه پس د جومات نه وتل جائز نۀ دی۔

○ هغه عذرونه چه د هغے د وجے د اذان نه پس جومات نه وتل جائز وی :

اول عذر بدعت : کله چه د جومات امام بدعتی او ګمراه وی او د جماعت نه روستو پاتے کیدو کښے فتنه نۀ واقع کیږی، نو بیا د جومات نه وتل جائز دی۔

مجاهدؒ فرمائی : زۀ د ابن عمر ﷺ سره ووم، نو یو سړی د ماسپخین یا مازیګر مونځ دپاره اعلان وکړو، نو ابن عمرؓ وفرمایل : ما ددے جومات نه وباسئ ځکه دا کار بدعت دے۔

[سنن أبی داود : ١/١٠٨، بیهقی : ١/٤٢٤].

او ابو سعید خدری ﷺ د مروان نه هغه وخت روان شو هر کله چه مروان د اختر په ورځ د مانځه نه مخکښے خطبه شروع کړه۔

[مشكاة : ١/١٢٧].

دویم سخت ضرورت : چه ددے په وجه د جومات نه وتل جائز کیږی۔ دارنګه هغه وخت کښے وتل هم جائز دی چه کله د دوباره واپسئ اراده وی۔

د دویمے جَمعے دپاره اقامت کول جائز دی

٥١٨ – سوال : د دویمے جَمعے دپاره اقامت کول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : د دویمے جَمعے حکم روستو په (باب الجماعة) او (باب المساجد) کښے را روان دے، چه دا په یو څو شرطونو سره جائز دے، اوکه هغه نۀ وی نو بیا مکروه دے۔

او کله چه څوك جماعت کوی نو هغهٔ دپاره اذان او اقامت کول مشروع دی، ځکه مخکښې په مسئله نمبر (٥٠٨) کښې تیر شو چه اذان او اقامت د هر مونځ ګذار دپاره مشروع دی۔

ابو عثمان یشکریؒ وائی: مونږ د بنو رفاعه په جومات کښې مونځ وکړو او بیا کیناستو، نو دے کښې انس بن مالك رضی الله عنه تقریبًا د شلو ځوانانو سره راغے او وے فرمایل: آیا تاسو مونځ کړے؟ مونږ ویل هو! نو هغهٔ په خپلو ځوانانو کښې یو کس ته امر وکړو، هغهٔ اذان او اقامت وکړو، بیا انس رضی الله عنه مخکښې شو او هغوئ ته ئے مونځ وکړو۔

[البیهقی: ٦٩/٣، وذکره البخاری تعلیقًا: ٨٩/١].

حسن بصریؒ دا مکروه ګنړلے۔ امام بیهقیؒ فرمائی: د حسن بصریؒ مکروه ګنړل په هغه ځایونو باندے محمول دی چه په دویم جماعت کولو سره د خلکو ترمینځه اختلاف او تفرق پیدا کیږی۔

نو دے حدیث نه معلومه شوه چه د دویم جماعت دپاره اذان او اقامت دواړه شته دے۔ لکه څنګه چه انس بن مالك رضی الله عنه دا کار وکړو۔ او په هغهٔ باندے په لیدونکو خلکو کښې هیچا رد ونهٔ کړو۔

○ او ځینے علماء چه دا وائی: دویم جماعت په هغه وخت کښې جائز دے هر کله چه د اولنی جماعت په شکل نهٔ وی، یعنی په هغه ځائے کښې ونهٔ دریږی په کوم ځائے کښې چه د اولنی جماعت امام ولاړ وو۔ دارنګه اقامت هم ونهٔ کړی، نو بیا جائز دے۔

خو په دے خبره هیڅ دلیل نشته۔ بلکه په هر ځائے کښې که ودریږی نو دویم جماعت کول جائز دی۔

بے اودسۍ په حالت کښې د اذان کولو حکم

٥١٩ – **سوال**: د بے اودسۍ په حالت کښې اذان کول جائز دی که نه؟

جواب: افضله داده چه د پاکۍ او اودس په حالت کښې اذان وکړی۔

عطاءؒ فرمائی: حق او مسنونه طریقه داده چه مؤذن دے د اذان کولو په وخت په اوداسهٔ کښې وی۔ او فرمائی چه دا د مانځه شروع ده نو صرف د اوداسهٔ په حالت کښې به ئے کوی۔

ابن سیرینؒ فرمائی : اذان به صرف د اوداسهٔ په حالت کښې کوی۔

ابـراهیم نـخعـیؒ فرمائی : صحابه او تابعینو به دا خبره بده نهٔ ګڼړله چه مؤذن بے اودسه اذان وکړی۔

[أخرج هذه الآثار عبد الرزاق فی المصنف : ٤٦٥١].

ابو هریره رضی الله عنه فـرمـائـی : اذان به نشی کولے مګر د اوداسهٔ په حالت کښې۔ او مجاهدؒ هم د اوداسهٔ په حالت کښې د اذان کولو حکم کړے۔

[مصنف ابن ابی شیبه : ٢١١/١].

○ د بے اودسۍ په حالت کښې د اذان په مکروه والی باندے د ابو جهیم رضی الله عنه حدیث هم دلیل دے، دا فرمائی : [أَقْبَلَ النَّبِيُّ ﷺ مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ النَّبِيُّ ﷺ حَتّٰى أَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ] وَفِي رِوَايَةٍ : [وَقَالَ: إِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِيْ إِلَّا أَنِّيْ كُنْتُ عَلٰى غَيْرِ طَهَارَةٍ فَكَرِهْتُ أَنْ أَذْكُرَ اللّٰهَ عَلٰى غَيْرِ طَهَارَةٍ].

(نبی ﷺ د جمل نومے کوهی له خوا مخامخ را روان وو، دے کښې ورسره یو سړے ملاؤ شـو او سـلام ئے پرے واچولو، نبی ﷺ هغهٔ ته جواب ورنهٔ کړو، تردے چه دیوال ته متوجه شو نو خپل مخ او لاسونه ئے د هغے په خاوره مسح کړل، بیا ئے هغه سړی ته د سلام جواب ورکـړو۔ پـه بـل روایت کښې دی : دائے وفرمایل : زهٔ د سلام د جواب نه څکه منع شوم چه زهٔ د بے اودسۍ په حالت کښې ووم، نو ما بده وګڼړله چه د الله نوم د ناپاکۍ په حال یاد کړم)۔

[ابوداود : ٤/١، حاکم : ١٦٧/١، احمد : ٨٠/٥، نسائی : ١٦/١، بیهقی : ٩٠/١، الصحیحة : ٥١٠/٢].

نـو اذان هـم د الله ذکـر دے، د بے اودسۍ پـه حـالـت کښې ئے کول مکروه دی۔ د وجے ددے حدیث نه او په دے باب کښې د راغلو آثارو د وجے نه۔

او د بے اودسۍ پـه حالت کښې د اذان په جائز کیدو باندے دلیل دادے چه نبی اکرم ﷺ د اذانهٔ دپاره په اوداسهٔ باندے امر نهٔ دے کړے۔

○ او د ابـو هریره رضی الله عنه پـه کـوم حـدیـث کښې چه راغلی : [لَا يُؤَذِّنُ إِلَّا مُتَوَضِّئٌ] (اذان بـه نهٔ کوی مګر اودس کونکے)۔ [سنن الترمذی : ٥٠/١].

نـو دا حـدیـث مـرفـوعًا او موقوفًا دواړه ضعیف دے۔ څکه د زهریؒ او ابو هریرهؓ ترمینځه منقطع دے۔ او ددے په سند کښې معاویه بن یحیی الصدفی راوی دے۔ او دا ضعیف دے۔

[إرواء الغليل : ۱/۲۴۰، رقم : ۲۲۲، المغنی : ۱/۴۵۸].

○ **دارنګه د وائل بن حجر – رضی الله عنه – په حدیث کښې دی :** [حَقٌّ وَسُنَّةٌ أَنْ لَّا يُؤَذِّنَ الرَّجُلُ إِلَّا وَهُوَ طَاهِرٌ وَلَايُؤَذِّنَ إِلَّا وَهُوَ قَائِمٌ] **(حق او سنت داده چه سړے به د پاکئ په حالت کښې اذان کوی او په ولاړه به اذان کوی)۔**

دا حدیث هم ضعیف دے۔ د عبد الجبار او وائل ترمینځه منقطع دے۔ دارنګه حارث په کښې مجهول دے۔ [البيهقی : ۱/۳۹۲، إرواء الغليل : ۱/۲۴۰].

ابن ابی حاتمؒ فرمائی : په دے باب کښې صحیح صریح حدیث نشته۔

[كتاب الأذان].

اذان او اقامت ترمینځه د نیمے ګینټے ورکولو حکم

۵۲۰ – سوال : د اذان او اقامت ترمینځه نیمه ګینټه وخت ورکول څۀ حکم لری ؟ لکه په دے علاقو کښې دا رواج جوړ شوے۔

جواب : صحیح خبره داده چه مؤذن به د اذان کولو نه پس دومره وخت خلکو له ورکوی په څومره وخت کښې چه خلك د خپلو کارونو نه فارغ شی، اودس وکړی او جومات ته حاضر شی۔ برابره خبره ده که دا وخت نیمه ګینټه وی اوکه شل منټه وی اوکه پاؤ وخت وی۔

۱ – امام بخاریؒ فرمائی : (د اذان او اقامت ترمینځه به څومره وخت ورکوی؟) بیائے د عبد الله بن مغفل رضی الله عنه حدیث نقل کړے چه نبی ﷺ فرمائی :

[بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ: لِمَنْ شَاءَ].

(د هر اذان او اقامت ترمینځه مونځ شته دے، درے ځله ئے وفرمایل۔ په دریم ځل ئے وفرمایل : د چاچه خوښه شی)۔

[صحيح بخاری : ۱/۸۷].

امام بخاریؒ په دغه عنوان کښې اشاره وکړه چه د اذان او اقامت ترمینځه وخت کم دے۔ خو دا حدیث د ماښام په باره کښې راغلے، او د ماښام وخت تنګ دے، دے وجے نه مؤذن به د ماښام مونځ نۀ روستو کوی مګر صرف دومره وخت به ورکوی چه په هغے کښې دوه

رکعته نفل کولے شی۔

او هرچه باقی مونځونه دی، نو ددے نه به زيات وخت ورکوی، لکه په دے باندے دلیل راتلونکی حدیثونه دی :

٢ - د سلمان او ابو هریره i نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: (دا اذان او اقامت ترمینځه دومره ساه و اخله چه اودس کونکے خپل حاجت آسانئ سره پوره کړی، او خوراك کونکے د خپل خوراك نه آسانئ سره وزګار شی)۔

[أخرجه عبد الله فى زوائد المسند : ١٤٣/٥، وأبو الشيخ فى الأذان، والبيهقى : ٤٢٨/١، وهو فى الجامع : ٩٣/١، الصحيحة : ٥٧٦/٢، رقم : ٨٨٧، وهو حديث صحيح، وضعفه فى كتاب الأذان وقال : ابو الجوزاء مجهول].

٣- جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ بلال رضی الله عنه ته وفرمایل : (کله چه تهٔ اذان کوے نو په قلاره ئے کوه، او کله چه اقامت کوے نو تادی کوه، او د خپل اذان او اقامت ترمینځه دومره وخت ورکړه چه په هغے کښے خوراك کونکے د خوراك نه او څکاك کونکے د څکاك نه او بوج لرونکے سړے د خپل حاجت پوره کولو نه وزګاریږی، او تاسو تر هغه وخته پورے مهٔ پاسئ ترڅو چه مو زهٔ لیدلے نهٔ یم)۔

[سنن ترمذی : ٤٨/١، مشکاة : ٦٤/١].

ددے حدیث سند ضعیف دے، په دے کښے عبد المنعم راوی ته امام بخاریؒ منکر الحدیث ویلی۔

نو دے دواړو حدیثونو نه معلومه شوه چه مؤذن به د اذان او اقامت ترمینځه دغومره وخت ورکوی۔

او څوك چه وائی : د ماښام د اذان نه پس به مؤذن دومره صبر کوی په څومره وخت کښے چه درے آیتونه لوستل کیږی یا درے قدمونه اخستل کیږی، نو په دے خبره هیڅ دلیل نشته۔ بلکه دا ذهنی اندازے دی، حالانکه اندازے ټاکل د شریعت کار دے۔

بله دا چه بیا خو د مؤذن نه تکبیرِ اولیٰ فوت کیږی هر کله چه د جومات د چت نه راکوزیږی، دارنګه د خلکو نه هغه دعاګانے فوت کیږی چه هغه د اذان نه پس لوستلے کیږی۔

څکه نبی کریم ﷺ د اذان نه پس په درود او د وسیلے په دعاء باندے امر کړے، فرمائی :

[إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُوْلُوْا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ ثُمَّ صَلُّوْا عَلَيَّ ثُمَّ سَلُوْا اللّٰهَ لِيَ الْوَسِيْلَةَ فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ

لَا يَنۡبَغِيۡ إِلَّا لِعَبۡدٍ مِنۡ عِبَادِ اللّٰهِ وَأَرۡجُو أَنۡ أَكُوۡنَ أَنَا هُوَ، فَمَنۡ سَأَلَ اللّٰهَ لِيَ الۡوَسِيۡلَةَ حَلَّتۡ عَلَيۡهِ الشَّفَاعَةُ].

(کله چه تاسو د مؤذن اذان واورئ نو د هغهٔ پشان الفاظ تاسو هم وائے بيا په ما درود ووايئ او بيا د الله نه زما دپاره وسيله وغواړئ ځکه دا يوه درجه ده په جنت کښے چه د الله په بندګانو کښے صرف يو بنده سره مناسب ده، او زما اميد دے چه دغه بنده به زهٔ يم۔ نو چا چه ما دپاره د الله نه وسيله (اوچته مرتبه) وغوښته نو هغهٔ دپاره زما شفاعت حلال شو)۔ [بخاری : ۱/۸۶، مشکاة : ۱/۶۵].

نو مسلمانانو له عمومًا او مؤذنينو له خصوصًا پکار دی چه د دغه دعاګانو لحاظ وساتی، او د دوه رکعته مونځ اهتمام وکړی۔ د نبی کريم ﷺ دا عادت مبارك وو چه کله به ئے د چا د خپو آواز کشار آوريدو نو مونځ ګذاروته به ئے انتظار کولو۔ لکه دا حديث په مواقيتو کښے تير شو۔

ابو حاتمؒ هم فرمائی : بيان ددے چه د اذان او اقامت ترمينځه به څومره وخت وی؟

٤ – جابر بن سمرة رضي الله عنه فرمائی :

[كَانَ بِلَالٌ يُؤَذِّنُ إِذَا زَالَتِ الشَّمۡسُ لَا يَخۡرِمُ، ثُمَّ لَا يُقِيۡمُ حَتّٰى يَخۡرُجَ النَّبِيُّ ﷺ، قَالَ : فَإِذَا خَرَجَ أَقَامَ حِيۡنَ يَرَاهُ] **(بلال رضي الله عنه به د زوال کيدو سره سم اذان کولو ددے نه به ئے تاخير نهٔ کولو، بيا به ئے اقامت نهٔ کولو مګر کله به چه نبی ﷺ راوواتهٔ۔ او کله به چه نبی ﷺ راوواتهٔ نو بلال به د هغوئ ليدو سره اقامت شروع کړو)**۔

[مسند أحمد : ۵/۹۱].

د جابر بن سمرة رضي الله عنه په بل روايت کښے دی : [كَانَ مُؤَذِّنُ رَسُوۡلِ اللّٰهِ ﷺ يُؤَذِّنُ ثُمَّ يَمۡهَلُ فَلَا يُقِيۡمُ حَتّٰى إِذَا رَأَى رَسُوۡلَ اللّٰهِ ﷺ خَرَجَ أَقَامَ حِيۡنَ يَرَاهُ].

(د رسول الله ﷺ مؤذن به اذان وکړو، بيا به ئے وخت ورکړو، او اقامت به ئے تر هغه وخته پورے نهٔ کولو تر څو به ئے چه رسول الله ﷺ نهٔ وو ليدلے، او کله به ئے چه وليدلو چه رسول الله ﷺ بهر را وواتهٔ نو ليدلو سره به ئے اقامت شروع کړو)۔

[مسند احمد : ۵/۹۱].

او دا حديث په صحيح مسلم کښے په دے الفاظو راغلے : [عَنۡ جَابِرِ بۡنِ سَمُرَةَ قَالَ : كَانَ بِلَالٌ

يُؤَذِّنُ إِذَا دَحَضَتُ فَلَا يُقِيمُ حَتّٰى يَخْرُجَ النَّبِيُّ ﷺ فَإِذَا خَرَجَ أَقَامَ الصَّلَاةَ حِينَ يَرَاهُ].

[صحيح مسلم : ۱۰۲/۵].

۵ – د جابر بن سمرة رضي الله عنه په بل روايت کښې دا الفاظ دی :

[كَانَ بِلَالٌ لَا يُؤَخِّرُ الْأَذَانَ عَنِ الْوَقْتِ وَرُبَّمَا أَخَّرَ الْإِقَامَةَ شَيْئًا].

(بلال رضي الله عنه به د خپل وخت نه اذان نه روستو کولو، البته کله به ئے اقامت څۀ وخت روستو کولو)۔

۶ – سالم ابی النضرؒ وائی : [كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ حِينَ تُقَامُ الصَّلَاةُ إِذَا رَآهُمْ قَلِيلًا جَلَسَ لَمْ يُصَلِّ وَإِذَا رَآهُمْ جَمَاعَةً صَلّٰى].

(د رسول الله ﷺ دا عادت مبارك وو چه كله به ئے مانځه ته د ودريدو اراده وکړه او خلك به ئے کم وليدل نو کيبه ناستۀ مونځ به ئے نۀ کولو، او کله به ئے چه د خلکو جماعت وليدۀ نو مونځ به ئے وکړو)۔ [ابوداود : ۱۴۹/۱].

دا حديث مرسل دے، او حافظ ابن حجرؒ ددے مرسل حديث اسناد د شواهدو په وجه قوی گرځولے۔ [فتح الباری : ۱۱۰/۲].

۷ – عائشه k فرمائی : [كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ بِالْأُولٰى مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ بَعْدَ أَنْ يَسْتَبِينَ الْفَجْرُ، ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلٰى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ حَتّٰى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلْإِقَامَةِ].

[صحيح بخاری : ۱۰۹/۲].

د پورتنو ټولو حديثونو نه معلومه شوه چه مؤذن به د اذان او اقامت ترمينځه دومره وخت ورکوی چه په هغے کښے انسان د خپلو کارونو نه فارغ شی، خپل حاجت پوره کړی، اودس وکړی او جومات ته راشی۔ او دا هم معلومه شوه چه د مانځه د ودرولو وخت د امام په لاس کښے دے، څۀ وخت چه هغه راووځی نو جماعت به ودريږی۔ او دا هم معلومه شوه چه په سهار کښے به دومره وخت ورکوی چه انسان په کښے اودس وکړی، سنت وکړی او بيا د هغے نه پس مختصره ډېره ولړوی او بيا مسجد ته راشی او جماعت ودريږی۔

او په مابنام کښے به دومره وخت ورکوی چه د اذان نه فارغ شی او درود ووائی، او د وسيلے دعاء ولولی، بيا دوه رکعته نفل وکړی۔ او د هغے نه پس اقامت شروع کړے شی۔

مؤذن له پکار دی چه ددې ټولو حالتونو لحاظ وساتی۔ او د الله نه په دې باره کښې توفیق وغواړی۔

نابالغ ماشوم اذان کولے شی

۵۲۱ – **سوال** : نابالغ ماشوم اذان کولے شی که نه ؟

جواب : هو ! هغه ماشوم چه هوښیار وی او تمیز والا وی او د اذان کلمات پیژنی، نو ددهٔ اذان کول صحیح دی۔ بلکه ددهٔ امامت کول هم صحیح دی، نو اذان خو به ئے په طریقه اولیٰ سره صحیح وی۔ البته غوره داده چه بالغ او پرهیزګاره شخص اذان وکړی۔

د ابن عباس رضی الله عنه په حدیث کښې دی : (تاسو له دې په تاسو کښې غوره خلك اذان وکړی او ستاسو امامتی دې ستاسو قاریان وکړی)۔

[ابوداود : ۵۹۰، مشکاۃ : ۱/۱۰۰].

دا حدیث ضعیف دې، په دې کښې حسین بن عیسی الحنفی ته جمهورو ضعیف ویلی او بعضو ثقه ویلی۔

○ د ابن ابی لیلیٰ رحمه الله نه نقل دی چه هغهٔ به خپل هلك څوئے ته د اذان امر کولو۔

د عطاء رحمه الله نه نقل دی چه : د نابالغ هلك په اذان کولو کښې څهٔ باك نشته۔

[مصنف ابن ابی شیبه : ۱/۲۲٦].

د سفیان ثوری رحمه الله نه پوښتنه وشوه چه نابالغ هلك خلکو ته اذان او مونځ کولے شی که نه ؟ هغهٔ وفرمایل : د ماشوم او فاسق اذان له اعتبار نشته، ځکه په اذان کښې خبردارے ورکول مقصد وی او ددې دواړو په وینا خبردارے نهٔ حاصلیږی، ځکه د دویٔ خبره او روایت قبول نهٔ دې، بله دا چه په روایت کښې راغلی دی چه تاسو له دې غوره خلك اذان وکړی۔

[مصنف عبد الرزاق : ۱/٤٦۹].

دویم قول دادې چه : د ماشوم اذان له اعتبار شته دې او دا د عطاء رحمه الله، شعبی رحمه الله، ابن ابی لیلیٰ رحمه الله او شافعی رحمه الله وینا ده۔

امام ابن المنذر رحمه الله په خپل سند سره د عبد الله بن ابی بکر بن انس نه نقل کړی دی دا وائی: زما ماماګانو به ماته امر کولو چه دویٔ لپاره اذان وکړم، په داسې حال کښې چه زهٔ نابالغه

هلك ووم. او انس بن مالك رضي الله عنه به حاضر وو، هغهٔ به دا بده نهٔ ګڼړله، او دا خبره چونکه ښکاره ده پټیږی نهٔ، او په دے رد نهٔ دے شوے نو دا اجماع شوه. بله دا چه ماشوم هلك خو نارینه وی، ددهٔ مونځ هم صحیح دے نو ددهٔ اذان له داسے اعتبار شته دے ځنګه چه د عادل بالغ اذان له اعتبار دے. او د مستور الحال د اذان په معتبریدو کښے خلاف نشته.اه

په فقه حنفی کښے ئے د ماشوم اذان ته مکروهِ تنزیهی ویلی.

[احسن الفتاوی : ۲/۲۸۹].

خو صحیح خبره داده چه دا مطلقًا جائز دے، د ماشوم د اذان د مکروه ګڼړلو هیڅ دلیل نشته.

او مناسبه داده چه مؤذن دے نیك عمله او امانتدار سړے وی، لکه په حدیث کښے دی :

[اَلْإِمَامُ ضَامِنٌ وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمَنٌ]

(امام ذمه دار وی او مؤذن امانتدار).

[معرفة السنن والآثار : ۱/۴۴۹، مشکاة : ۱/۶۵].

په مرسل حدیث کښے دی : (مؤذنین د مسلمانانو د مونځونو امانتدار دی).

[بیهقی : ۱/۴۲۶، إرواء الغلیل، صحیح الجامع : ۶۶۴۶، حسن]

په در مختار کښے دی : د مراهق (بلوغ ته نزدے شوی ماشوم) اذان په غیر د کراهت نه جائز دے. [الدر المختار : ۱/۳۶۳].

امام نوویؒ فرمائی : د هوښیار ماشوم اذان صحیح دے لکه ځنګه ئے چه مونځ صحیح دے. [المجموع شرح المهذب : ۳/۱۰۰].

د اقامت جواب ورکول

۵۲۲ – **سوال** : په سنتِ مطهره کښے د اقامت جواب راغلے او که نه؟

جواب : د اکثرو علماؤ په نیز د اذان د جواب پشان د اقامت جواب ورکول هم مستحب دی. او دلیل کښے د معاذ رضي الله عنه حدیث پیش کوی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل : [إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُنَادِيَ يُثَوِّبُ بِالصَّلَاةِ فَقُولُوا كَمَا يَقُولُ].

[احمد : ۳/۴۳۸، وله شواهد فی الصحیحین].

بل روایت کښې دی: [اِذَا سَمِعْتُمُ النِّدَاءَ فَقُوْلُوْا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ الْمُؤَذِّنُ].

(ابوداود: ۱/۱۰٦)

نو (تثویب) او (نداء) اذان او اقامت دواړو ته شامله ده۔

خو راجحه خبره داده: چه د اقامت جواب ورکول نۀ په فعلی حدیث کښې شته اونۀ په قولی کښې۔ نو دا سنت نۀ دے۔ که چرے دا مشروع وے، نو په صحیح احادیثو کښې به صراحةً نقل وے۔ او هر چه د [اَقَامَهَا اللّٰهُ وَ اَدَامَهَا] حدیث دے نو دا ضعیف دے۔ [ضعیف ابی داود: ۱۰٤، ارواء الغلیل ۲٤۱]۔ او د پورتنو حدیثونو په عموم باندے هم استدلال کولو ته ضرورت نشته، ځکه په عباداتو کښ په عموماتو استدلال نۀ کیږی۔ او اقامت په اذان باندے قیاس کول هم جائز نۀ دی ځکه په عباداتو کښې قیاسونه نۀ جاری کیږی۔

او د وسیلے دعاء د تولو علماؤ په نیز د اقامت نه پس نشته، ځکه دا کار کول بدعت دی۔

[السنن والمبتدعات ص: ٥۱، انظر الصحیحة: ۳/۳۱۷، رقم: ۱۳۲۸].

د [اَللّٰهُ اَكْبَرُ] په راء باندے پیښ ویل پکار دی

٥۲۳ – سوال: په اذان کښې [اَللّٰهُ اَكْبَرُ] د راء په زور سره لوستل کیږی که په پیښ سره؟

جواب: صحیح خبره داده چه د [اَكْبَرُ] په راء باندے پیښ دے۔ اوددے دوه وجے دی:

اوله وجه: داده چه لفظِ [اَللّٰهُ] مبتداء ده۔ او [اَكْبَرُ] خبر دے۔ او مبتداء خبر دواړه په اتفاق د اهلِ عربیت سره مرفوع وی۔

دویمه وجه: د ابن عمر رضی الله عنه په حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل: [إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ: اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ اَكْبَرُ، فَقَالَ أَحَدُكُمْ: اللّٰهُ اَكْبَرُ اللّٰهُ اَكْبَرُ ......].

[صحیح مسلم: ۱/۱٦۷، مشکاة: ۱/۲۰۸، رقم: ٦٥۸].

دا وجه ده، شیخ البانیؒ فرمائی: دا حدیث چه [اَلتَّكْبِيْرُ جَزْمٌ] ددے هیڅ بنیاد نشته۔ لکه دا خبره حافظ ابن حجرؒ، سخاویؒ او سیوطیؒ کړے۔ اود سیوطیؒ دپاره ددے حدیث په باره کښې په خپل کتاب [الحاوی للفتاویٰ: ۲/۷۱] کښې یوه خاصه رساله هم شته۔

[السلسلة الضعیفة: ۱/۱۰۱، رقم: ۷۱].

او مونږ سره طبع بیروت ده [الحاوی للفتاوی: ۱/۳٤٦] په هغے کښې ئے دا وضاحت کړے

چه دغه پورتنۍ خبره د امام نخعيؒ خبره ده، او د (جزم) معنىٰ داده چه دا به اوږد نهٔ ويل کيږي، بيا ئے د هغه چا خبره ذکرکړے چه هغهٔ د (جزم) معنىٰ دا کړے چه دا به معرب نهٔ وي بلکه مبني به وي. بيا ئے دا خبره په درے طريقو سره رد کړے. څوك چه تفصيل غواړي هغے ته دے رجوع وکړي.

بيا دا خبره هم د غور وړ ده چه دغه پورتنے حديث، سره ددے چه مرفوع ثابت نهٔ دے، بلکه دا د ابراهيم نخعيؒ وينا ده، ددے باوجود دے نه مراد هغه تکبير دے چه په مانځه کښے ويل کيږي، لکه څنگه چه دا خبره د امام سيوطيؒ د هغه کلام نه معلوميږي کوم ئے چه په دغه پورتنۍ رساله کښے کړے.د اذان سره ددے هيڅ تعلق نشته لکه څنگه چه بعضو ته اشتباه راغلے. لکه په مصر کښے يوه ډله ده هغوئ د اذان الفاظ جدا جدا وائي. داسے وائي : [اَللّٰهُ اَكۡبَرُ] [اَللّٰهُ اَكۡبَرۡ]. په مينځ کښے په کښے ساه اخلي، دے دپاره چه د دوئ په خيال په دغه (بے بنياده) حديث عمل وکړے شي.

حالانکه په دغه طريقه د اذان الفاظ ويل په سنتِ مطهره کښے هيڅ بنياد نهٔ لري. بلکه دا د صحيح حديث خلاف دي، بيا ئے د عمر بن خطاب ﷺ پورتنے حديث ذکر کړے. چه په دے کښے اشاره ده چه مؤذن به دوه تکبيره په يو ځائے وائي [اَللّٰهُ أَكۡبَرُ اللّٰهُ أَكۡبَرۡ] [اَللّٰهُ اَكۡبَرُ اللّٰهُ اَكۡبَرۡ] او آوريدونکے به هم په دغه طريقه جواب ورکوي.

ددے تائيد دادے چه د صحيح مسلم په ځينو حديثونو کښے راغلي دي چه : [إِنَّ الۡأَذَانَ كَانَ شَفۡعًا شَفۡعًا] (د اذان الفاظ جوړه جوړه وو).

[صحيح مسلم : ١٦٦/١].

امام نوويؒ هم ددے خبرے تائيد کړے. [شرح مسلم للنووى : ١٦٦/١].

بيا امام سيوطيؒ په [الحاوى للفتاوى] کښے دا ويلي دي چه :

[اَلتَّكۡبِيۡرُ جَزۡمٌ] دا مرفوع صحيح نهٔ دے بلکه د ابراهيم نخعيؒ وينا ده چه [اَلتَّكۡبِيۡرُ جَزۡمٌ لَا يُمَدُّ].

د جزم معنىٰ په [لَا يُمَدُّ] سره يا خو د ابراهيم نخعيؒ له طرفه تفسير دے، او يا د يحيى او يا د عبد الرزاق له خوا دے. او همدا تفسير علامه ابن اثيرؒ په النهاية کښے کړے، دارنګه نورو علماؤ هم کړے. او دا تفسير د هغه تفسير نه غوره دے کوم چه محب طبريؒ کړے چه

د (جزم) معنیٰ داده چه نهٔ به په کښې مد کیږی او نهٔ به معرب کیږی بلکه آخر به ئې ساکن وی۔

دا دویم تفسیر د ډیرو وجو نه مردود دې :

(۱) دا د راوی د تفسیر خلاف دې، حالانکه د راوی تفسیر غوره وی۔لکه په اصول کښې دا خبره راغلې۔

(۲) دا تفسیر د هغه تفسیر خلاف دې کوم چه اهلحدیثو او اهلِ فقه کړې۔

(۳) د جزم دا معنیٰ کول چه په آخره کښې به ئې حرکت نهٔ وی، دا په اولنئ صدئ کښې چا نهٔ پیژندلو، دا خو نوې اصطلاح ده، نو په دې باندې د دغه کلام حملول صحیح نهٔ دی۔ [الحاوی للفتاوی : ۱/۳٤٦].

نو د رشید احمد صاحب دا خبره باطله شوه چه هغه وائی : د اذان په کلماتو کښې د [اَللّٰهُ اَکْبَرُ] په راء کښې زور ویل لازم دی، او په شامی باندې ئې حواله ورکړې، حا لانکه په شامی کښې متعارض او ګډوډ اقوال ذکر شوی، مثلًا څوك په کښې وائی چه په راء به وقف کیږی، څوك وائی په زور به جزم کیږی، څوك وائی په پیښ به جزم کیږی۔او بیا دغه دواړو دغه بې بنیاده حدیث په دلیل کښې پیش کړې۔

[أحسن الفتاوی : ۲/۲۹٦، رد المحتار : ۱/۲۵۸].

حافظ ابن حجرؒ هم فرمائی چه : (جزم) د سکون په معنیٰ سره اخستل د اهلِ عربیت نوې اصطلاح ده نو په دې باندې نبوی الفاظ بناء کول صحیح نهٔ دی۔

[راجع التلخیص الحبیر لابن حجر : ۱/۲۲۵، رقم : ۳۳۳، وفی المجموع : ۳/۱۲۸، رجح فتح الراء ولم یذکر حجة إلا قول المبرد وما ذکره ابن عابدین].

بې قبلې اذان، په اذان کښې خبرې کول، په ناسته اذان کول او د منفرد اذان

٥٢٤ – **سوال** : (۱) بې قبلې اذان کول جائز دی اوکه نه ؟ (۲) او په اذان کښې خبرې کول جائز دی اوکه نه؟ (۳) او په ناسته اذان کول څنګه دی ؟ (٤) او یو کس ځانله جومات ته ننوځی نو دا به اذان او اقامت کوی اوکه نه ؟

جواب : (۱) سنت داده چه د اذان په وخت قبلې ته مخ کړی، البته کله چه [حَيَّ عَلَى

الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] وائی نو ښی او ګس اړخ ته به مخ اړوی۔

په دے باندے دلیل هغه حدیث دے کوم چه ابو طاهر جعفیؒ نقل کړے، دا وائی : (ما ځو ځله اذان وکړو، نو ماته سویدؒ وویل : چه کله تهٔ اذان کوے نو قبلے ته مخ کوه، ځکه سنت طریقه همدا ده)۔ [ابن ابی شیبه : ۲۱۵/۱].

○ او د عبد الله بن زید بن عبد ربه رضی الله عنه په حدیث کښے دی، دا عرض کوی، اے د الله رسوله ! زهٔ د خوب او د ویښے ترمینځه ووم چه ما یو کس ولیدهٔ چه په هغهٔ باندے دوه شنے جامے وے، قبلے ته مخ کړے ولاړ وو، او الله اکبر، الله اکبرئے ویلو ......)۔

[بیهقی : ۳۹۱/۱، ابوداود : ۵۰۷، بسند صحیح].

○ عطاء او ابن سیرینؒ وغیره نه نقل دی چه : کله اذان کوی نو قبلے ته به مخ کوی۔

ابراهیم نخعیؒ نه نقل دی : صحابه او تابعینو به مخ په قبله تکبیر او شهادت ویلو۔

[مصنف عبد الرزاق : ۴۶۶/۱].

بیا هم که چا د قبلے نه سیوا بل طرفته اذان وکړو او خلکو ته ئے واورلو نو ان شاء الله چه دا جائز ده۔ ځکه د اذان نه مقصد خبردارے ورکول دی او دا په هر اړخ چه وکړے شی حاصلیږی۔ په دے باندے دلیل د ابن عمر رضی الله عنه عمل دے چه (هغهٔ به په سورلئ دپاسه اذان کولو، راوی وائی : ما ورته وویل چه آیا دواړه ګوتے ئے په غوږونو کښے ورکړے وے؟ هغه ویل : نه)۔

[مصنف عبد الرزاق : ۴۷۰/۱، مصنف ابن ابی شیبه : ۲۱۳/۱، وأخرجه البیهقی عنه : ۳۹۲/۱].

(۲) او په ناسته په سورلئ دپاسه اذان کول جائز دی۔

بلال رضی الله عنه نه روایت دے چه (رسول الله صلی الله علیه وسلم دهٔ ته په سفر کښے امر وکړو نو دهٔ په خپله سورلئ دپاسه اذان وکړو نو دوئ بیا دوه دوه رکعته وکړل، بیا د سورلئ نه راکوز شو او امر ئے ورته وکړو نو هغهٔ اقامت وکړو او نبی صلی الله علیه وسلم دوئ ته د سهار مونځ وکړو)۔

[السنن الکبری للبیهقی : ۳۹۲/۱].

نو په سورلئ دپاسه د اذان کولو نه معلومیږی چه د اذان په وخت د قبلے نه اوښتل جائز دی۔ لیکن کله چه په سورلئ باندے نهٔ وی بلکه په زمکه باندے وی نو په غیر د ضرورت نه په ناسته اذان کول غیر مناسب دی، بیا هم که وشی نو اذان به جائز وی۔

[کما تراه : فی المصنف لابن ابی شیبه، وعبد الرزاق والبیهقی].

(۳) او په اذان کښې خبرې کول بهتر نهٔ دی۔ اوکه د ضرورت یا داسې منفعت د وجې نه ئې وکړی چه هغه فوت کیدهٔ نو په دې سره اذان نه خرابیږی۔

په دې باندې دلیل دادې چه ابن عباس – رضی الله عنه – په اذان کښې خبرې وکړې او داسې ئې وویل : [اَلصَّلاَةَ فِی الرِّحَالِ] (په خپلو خپلو ځایونو کښې مونځ وکړئ) او بیائې وفرمایل : دا کار هغه چا کړې چه مانه غوره دې، یعنی رسول الله ﷺ۔

[مصنف عبد الرزاق : ۴۶۹/۱، بیهقی : ۳۹۸/۱، ابن ابی شیبه : ۲۱۲، کتاب المعرفة للبیهقی : ۴۲۷/۱].

(٤) او تنها کس چه کله جومات ته داخل شی نوددهٔ په باره کښې مخکښې تیر شو چه اذان او اقامت دواړه کول مستحب دی۔ لکه په همدې خبره امام بیهقیؒ د انس رضی الله عنه حدیث پیش کړې چه هغهٔ داسې کار وکړهٔ۔

[البیهقی : ۴۰۷/۱، باب من استحب أن یؤذن ویقیم فی نفسه إذا دخل مسجدًا قد أقیمت الصلاة فیه].

اذان نه پس د راغلی دعاء صحیح الفاظ

۵۲۵ – سوال : د اذان نه پس چه کومه دعاء لوستل کیږی، په سنتِ مطهره کښې د هغې صحیح او ثابت الفاظ کوم یو دی ؟

جواب : دا خبره یاده لره چه د اذان نه مخکښې هیڅ ذکر نشته، نهٔ بسم الله ، نهٔ اعوذ بالله، نهٔ په نبی ﷺ درود۔ او نهٔ د اذان آوریدو په وخت (جل جلاله) شته، دا شیان د حدیثو په کتابونو کښې نشته۔

بلکه د حدیثو په کتابونو کښې دا راغلی چه مؤذن او جواب ورکونکے دواړه به د اذان ختمیدو نه پس اول په نبی ﷺ درود ووائی۔ بیا به دعاء الوسیله ووائی او هغه داده :

[اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِیلَةَ وَالْفَضِیلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِیْ وَعَدْتَّهُ].

په دې باندې دلیل د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه حدیث دې، دا وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : (کله چه تاسو د مؤذن الفاظ واورئ نو د هغهٔ پشان الفاظ تاسو هم وایئ۔ بیا په ما درود ووایئ، ځکه څوك چه په ما یو ځل درود ووائی، الله به د هغې په عوض په دهٔ لس

ځله رحمتونه راولېږی۔ بیا زما دپاره د الله نه وسیله وغواړئ ......)۔

[صحيح مسلم، ابوداود : ١٠٦/١، طحاوی : ١٠٨/١].

او د وسیلے د دعاء پورتنی الفاظ په راتلونکو کتابونو کښے راغلی:

[بخاری : ٨٦/١، مسلم : ١٦٦/١، ابوداود : ١٠٦/١، ترمذی : ٦٨/١، رقم : ٢١١، نسائی : ١٤٦/١، رقم : ٦٥٦، ابن ماجه : ٢٢٢، طحاوی : ١١٠/١، ابن السنی، ص : ٤٨، رقم : ٩٥، بسند النسائی، بیهقی : ٤١٠/١، أحمد : ٣٥٤/٣، الطبرانی فی الصغیر، ص : ١٤٠، کما فی الإرواء : ٢٦٠/١، رقم : ٢٤٣، مجمع الزوائد للهیثمی : ٣٣٣/١، ابن ابی عاصم فی کتاب السنة رقم : ٨٢٦].

○ په دے دعاء کښے د اضافه کړے شوو الفاظو وضاحت او حیثیت :

○ (**اولنے زیادت**) : [إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ الۡمِيۡعَادَ].

دا د بیهقیؒ په روایت کښے ددے دعاء په آخره کښے راغلے خو دا شاذ دے، ځکه دا ددے حدیث په تمامو طرقو کښے د علی بن عیاش نه نۀ دے راغلے، حالانکه دا مدار الحدیث دے۔او د صحیح بخاری د نسخو په ناقلینو کښے هیچا نۀ دے ذکر کړے، سیوا د کشمیهنی نه چه هغۀ په دے کښے د صحیح بخاری د تمامو ناقلینو نه خلاف کړے، نو دا هم شاذ دے ځکه دا د نورو تمامو راویانو خلاف دے۔ دا وجه ده حافظ ابن حجرؒ دا د سره ذکر کړے هم نۀ دے، حالانکه د هغۀ طریقه داده چه ګڼړے طریقے او سندونه جمع کوی۔ ددے تائید دادے چه دا زیادت د امام بخاریؒ په بل کتاب (خلف افعال العباد) کښے هم نۀ دے راغلے، حالانکه همدا سند بعینه هلته راغلے۔ او دا زیادت د امام ابن تیمیۃؒ په (کتاب التوسل والوسیلة) کښے راغلے۔ خو ظاهره داده چه دا د کاتبانو د طرفه په کښے ننویستل شوے۔ بعضِ علماؤ ویلی دی چه دا زیادت جید دے ځکه زیادت د ثقه مقبول وی، لکه په فتاویٰ اسلامیه کښے راغلی۔

(**دویم زیادت**) د بیهقیؒ په روایت کښے دا الفاظ هم راغلی : [اَللّٰهُمَّ إِنِّىۡ أَسۡأَلُكَ بِحَقِّ هٰذِهِ الدَّعۡوَةِ] خو دا زیادت د بل چا په روایت کښے نشته، نو دا هم شاذ دے، او ددے هم دغه پورتنے حکم دے۔ چه دا نۀ دے ثابت۔

(**دریم زیادت**) د شرح معانی الآثار په یوه نسخه کښے [سَيِّدَنَا مُحَمَّدًا] راغلے۔ حالانکه دا زیادت هم شاذ دے، ښکاره طوره سره په کښے چا زیاتی کړے۔نو د (محمد) سره به (سیدنا)

لفظ په کښې نۀ وائي۔ ځکه دا لفظ په حديث کښې نشته۔

(**ځلورم زيادت**) : د ابن السني په روايت کښې ورسره : [وَالدَّرَجَةَ الرَّفِيْعَةَ] هم راغلے۔ دا هم د بعضِ کاتبانو له خوا زياتي شوے۔ په هيڅ روايت کښې دا نۀ دے راغلے۔ حالانکه ابن السنيؒ روايت د نسائي نه نقل کوي۔ او په نسائي وغيره کښې دا نشته۔

[التلخيص الحبير ص : ٧٨، للحافظ ابن حجر، والمقاصد الحسنة ص ٢١٢، للسخاوى].

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : رافعي په (المجرد) کښې ددے سره په آخره کښې [يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ] زياتي کړے، حالانکه ددے حديث په هيڅ روايت کښې دا الفاظ نشته۔

[كذا حققه الشيخ الألبانى فى الإرواء].

○ او زمونږ د زمانے مبتدعينو په دے دعاء کښې ورسره : [اَلصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ] د اذان نه مخکښې زياتي کړے۔ دارنګه دا الفاظ ئے زياتي کړي :

[وَارْزُقْنَا شَفَاعَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ].

ددے بدعتيانو د نبي کريم ﷺ په وينا تسلي او اطمينان نۀ کيږي نو ځکه د ځانه پکښې نور نور الفاظ زياتوي او د هغۀ په دين کښې د خپل طرفه ننباسل کوي او هغے ته دين او سمه لاره وائي۔ اوکه څوک د دوئ په دے بدعاتو رد کوي نو هغوئ ته وهابيان وائي۔ الله تعالىٰ دے دغه بدعتيانو ته بده بدله ورکړي !

[وقد وذكر هذا الدعاء الشرنبلالى فى نور الايضاح ص : ٦٠، بلفظ صحيح، وقد ردّ على القارى فى المرقاة : ١٦٣/٢، على : الدرجة الرفيعة، وعلى : يا أرحم الراحمين، فى هذا الدعاء، وانظر العرف الشذى : ٥٤/١، لأنورشاه الكشميرى].

○ دغه شان د [اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] د جواب په وخت [صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ وَبِالْحَقِّ نَطَقْتَ] الفاظ ويل هم نۀ دي ثابت۔ [المرقاة : ٣٦٣/٢].

مبارکفوري صاحبؒ فرمائي : نن صبا چه مؤذنين په جوماتونو کښې د درود او سلام په ذريعه بار بار اعلان کوي، نو ددے اصل سنت دے، خو دا کيفيت بدعت دے، ځکه په جومات کښې آوازونه پورته کول اګرکه په ذکر سره وي مکروه دي خاصکر په مسجدِ حرام کښې۔

امام به کله تکبير کوی ؟ او خلك به کله مانځه ته ودرېږی ؟

٥٢٦ – **سوال** : امام به کله تکبير کوی، آيا د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] په وخت اوکه ددې نه پس؟ او خلك به مانځه ته څهٔ وخت ودرېږی ؟

جواب : په بخاري او مسلم کښې د ابو قتاده ﷛ په حديث کښې دی، نبی اکرم ﷺ ارشاد فرمايلې : [إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي].

(کله چه مانځه دپاره اقامت وکړې شی نو تاسو مهٔ پاسئ تردې چه ما ووينئ)۔

[بخاری : ١/٨٨، مسلم : ٢٢٠، مشکاة : ١/٦٤].

او د انس بن مالك ﷛ په حديث کښې راغلی، دا فرمائی : [أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ بِوَجْهِهِ فَقَالَ : أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوا فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي].

(مونځ دپاره اقامت وشو نو رسول الله ﷺ مونږ ته خپل مخ راواړولو او وې فرمايل : صفونه برابر کړئ او جوخت جوخت ودرېږئ ځکه زهٔ تاسو د خپل شا نه روستو هم وينم)۔

[بخاری : ٢/١٧٦، بشرح الفتح، وأحمد : ٣/١٠٨٢].

نو ددې دواړو حديثونو نه درې مسئلې ثابتې شوې :

اوله مسئله : خلك به مانځه ته هله ودرېږی کله چه امام ووينی چه جومات ته راننواتهٔ۔ خو دا په هغه وخت کښې چه امام بهر وی۔ او کله چه په جومات کښې ناست وی نو امام به د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] په وخت پاسيږی، او خلك به ددې نه مخکښې ودرېږی۔

په دې باندې دليل دادې چه امام مسلم رحمه الله په خپل سند سره د ابو هريره ﷛ نه روايت کوی، دا فرمائی : (خلك به په خپل صفونو کښې ودريدل مخکښې ددې نه چه نبی ﷺ په خپل صف کښې ودرېږی)۔ دارنګه په دې خبره باندې د حسن بصریؒ خبره هم دليل دې کومه چه روستو مونږ بيانوو۔

دويم مسئله : امام به د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] په وخت تکبير نهٔ کوی، ځکه په دې وخت کښې تکبير کول بدعت دې، د نبی اکرم ﷺ نه ثبوت نهٔ لری۔ بلکه په دې کښې ډيرې خرابئ دی يوه دا چه د مؤذن جواب ورکول سنت دی او دا په دغه کار سره فوت کيږی۔

بله دا چه د اقامت کونکی نه د امام سره تکبيرِ اولیٰ فوت کيږی۔

بلکه امام به د اقامت نه پس خلکو ته د صفونو برابرولو حکم کوی.

[کما فی الصحیحة : ۱/۴۱، تحت رقم : ۳۲، وتفصیل هذه المسألة فی المحلی : ۳/۳۲].

دریمه مسئله : امام مالكؒ فرمائی : کله چه اقامت کیږی نو خلك به کله ودریږی ؟ ما ددے په حقله څۀ حد نۀ آوریدلے، دومره ده چه دا د خلکو د وس پورے ده ځینے خلك درانۀ وی او ځینے سپك، تړول یو حکم نۀ لری.

[موطأ مالك : ۱/۵۶].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د سلفوؒ په دے باره کښے اختلاف وو. ځینے وائی : هله به پاسیږی چه کله اقامت کونکے اقامت ختم کړی، او په همدے طریقه باندے د انس رضی الله عنه عمل وو. [فتح الباری : ۲/۹۴].

په مصنف عبد الرزاق کښے وائی : خلك به هغه وخت ودریږی چه کله اقامت کیږی. بیا ئے مختلف آثار ذکر کړی، یو په کښے دادے چه ابن عمر ﷺ فرمائی : کینئ او کله چه مؤذن [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] ووائی نو بیا پاسیږئ.

[مصنف عبد الرزاق : ۱/۵۰۴].

خو ددے په سند کښے عطیه دے.

○ راجحه داده : چه خلك خپل صفونه د امام په خپل ځائے کښے د ودریدو نه مخکښے مخکښے برابر کړی. لکه مخکښے په صحیح مسلم کښے د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے تیر شول.

[صحیح مسلم : ۱/۲۲۰، ونحوه فی سنن أبی داود].

امام بیهقیؒ باب تړلے : (امام به هغه وخته پورے تکبیر نۀ کوی چه د صفونو د برابرولو امرئے نۀ وی کړے) بیائے د انس ﷺ هغه حدیث ذکرکړے کوم چه د مسئلے په شروع کښے ذکر کړے شو. [بیهقی : ۲/۲۱].

حسن بصریؒ نه نقل دی چه دۀ دا خبره بدے ګڼړلے چه امام د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] نه مخکښے ودریږی. او دا خبره ئے هم مکروه ګڼړلے چه امام د اقامت فارغیدو نه مخکښے تکبیر وکړی.

[مصنف ابن ابی شیبه : ۱/۴۰۵].

خلاصه دا چه : امام به تر هغه وخته پورې الله اکبر نهٔ وائی تر څو چه اقامت لا ختم شوې نهٔ وی. ددې نه مخکښې د امام تکبیر کول بدعت دې. او خلك به هغه وخت پاسیږی کله چه دوئ امام ووینی چه جومات ته ننواتهٔ او مؤذن به دغه وخت اقامت شروع کړی. او کله چه امام په جومات کښې وی نو خلك چه کله په پاسیدو قادر وی پاسیږی به څنګه چه امام مالك رحمه الله وفرمایل. او امام به د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] په وخت مانځه ته پاسیږی. او دغه پورتنی احادیث او آثار په همدې خبره باندې دلالت کوی.

[فللّٰه الحمد والمنة علی التوفیق والتحقیق، وانظر تمام المنة ص : ۱۵۱].

شیخ البانیؒ د سید سابقؒ ددې قول لاندې چه : (ابن منذر د انس رضی الله عنه نه نقل کړی دی چه هغه به هغه وخت پاسیدهٔ کله به چه مؤذن قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ وویلو) :

هغه لیکی : زهٔ وایم : دې سره دا قید لړول پکار دی چه کله امام په مسجد کښې وی، او په همدې باندې به د ابو هریره رضی الله عنه حدیث حملیږی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره به اقامت وکړې شو نو مخکښې ددې نه چه نبی صلی الله علیه وسلم په خپل ځائے کښې ودریږی، خلك به په خپلو صفونو کښې ځائے په ځائے شول.

[مسلم، صحیح ابی داود وغیره : ۵۵۳].

او کله چه امام په جومات کښې نهٔ وی نو بیا به هله پاسیږی کله چه دوئ امام ووینی چه راوواتهٔ. ځکه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی : [إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَقُومُوا حَتّٰى تَرَوْنِيْ قَدْ خَرَجْتُ].

(کله چه د مانځه اقامت وشی نو تاسو هله مانځه ته ودریږئ چه ما ووینئ چه راووتم).

[متفق علیه واللفظ لمسلم، وهو مخرج فی صحیح أبی داود : ۵۵۰، انظر نیل الاوطار : ۳/۱۶۳].

دا خبره یاده لره چه ددې مسئلې د تکبیرِ تحریمې سره هیڅ تعلق نشته، ځکه په امام باندې لازم دی چه خلکو ته د ودریدو نه پس د صفونو برابرولو او چودونو بندولو امر وکړی، لکه څنګه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دا کار کولو. دا کار د هغوئ نه په ډیرو حدیثونو کښې ثابت دې. او کله چه امام ووینی چه صفونه برابر شو نو بیا به الله اکبر وائی.

نو د امام محمدؒ په [کتاب الآثار، ص : ۱۳] کښې چه دا راغلی دی چه :

د ابراهیمؒ نه نقل دی : کله چه مؤذن [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] ووائی نو خلکو له پکار دی چه پاسیږی او صفونه برابر کړی، او کله چه مؤذن [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] ووائی، نو امام به تکبیر

وکړی۔ امام محمدؒ وائی : په دے باندے مونږ هم عمل کوو، او دا د ابو حنیفهؒ قول دے۔
زهٔ (البانیؒ) وایم : په همدے خبره ډیر حنفی مقلدین ولاړ دی خصوصًا عجمی ملکونه۔ حالانکه په دے کار کولو سره محمدی سُنت ضائع کیږی، لکه چه دیته مخکښے اشاره وشوه۔ او دیته نزدے عمل د هغه امامانو دے چه هغوئ صرف دا خبره کوی چه : برابر شئ برابر شئ۔ او دا یو نصیحت دے او نصیحت مؤمنانو ته فائده ورکوی۔

[تمام المنة ص : ۱۵۱، للشیخ الألبانیؒ].

زهٔ وایم : د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] په وخت کښے د امام په تکبیر کولو کښے او د (حی علی الفلاح) ویلو په وخت د مقتدیانو په پاسیدلو کښے ډیرے نورے خرابئ هم شته دے۔
علامه ابن حزمؒ فرمائی : مونږه دا خبره ښهٔ ګڼړو چه امام تر هغه وخته پورے تکبیر ونهٔ کړی تر څو پورے چه ددهٔ نه روستو یو یا زیات صفونه برابر شوی نهٔ وی۔ که چرے ددے نه مخکښے ئے تکبیر وکړو نو بد کارئے وکړو اګرکه جائز دے۔
او ابو حنیفهؒ ویلی دی چه : کله اقامت کونکے [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] ووائی نو امام به تکبیر کوی۔ بیا ئے په دے خبره رد کړے او ددے بطلان ئے ښکاره کړے۔ او دا حدیث ئے پیش کړے چه نبی ﷺ به د اقامت نه پس هم د حاجت د وجے خبرے کولے۔

[بخاری : ۸۹/۱، مسلم].

دارنګه رسول الله ﷺ مقتدیانو ته ویلی دی چه (کله امام تکبیر وکړی نو تاسو تکبیر کوئ) نو په دے سره هم د ابو حنیفهؒ خبره باطلیږی ځکه چه کله امام تکبیر وکړی او مقتدی لا اقامت نهٔ وی ختم کړے نو د مقتدی دپاره دا ممکنه نهٔ ده چه د امام د تکبیر په وخت هغه هم تکبیر وکړی۔ نو ابو حنیفهؒ ورته د رسول الله ﷺ د امر خلاف امر کوی۔
نافعؒ د ابن عمر نه نقل کوی چه : عمر رضی الله عنه به د صفونو برابرولو دپاره څهٔ سړی لیږل او کله به چه هغوئ راغلل نو عمر رضی الله عنه به تکبیر کولو۔
او عثمان رضی الله عنه به هم څهٔ سړی د صفونو په سمولو مقرر کړی وو او کله به چه هغوئ راغلل او خبر به ئے ورته ورکړو چه صفونه برابر شول نو بیا به عثمان رضی الله عنه تکبیر کولو۔
د معقل نه نقل دی چه عمر رضی الله عنه به د اقامت کولو نه پس لږ انتظار کولو۔
او د حسن بن علی i نه هم داشان نقل شوی دی۔

نو دا د دوه خليفه ګانو عمل دے چه د صحابه کرامو په حضور کښے ئے کړے دے نو دا اجماع شوه۔

او کوم حديث چه بيهقیؒ د عبد الله بن ابی اوفیٰ نه نقل کړے دے چه دا وائی : (بلال به چه کله قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ ويلو، نو رسول الله ﷺ به د تکبير سره پاسيدلو)۔

نو دا حديث ضعيف دے، ددے په سند کښے حجاج بن فروخ راوی دے، او ددهٔ په ضعف او کمزورئ باندے اتفاق دے۔

[انظر المحلى بالآثار تفصيلًا: ۳/۳۰، والحديث الضعيف فى البيهقى : ۲/۲۲، ومجمع الزوائد : ۱/۱٤٤].

زهٔ وايم : دا حديث سره د ضعف نه په دے خبره دلالت نهٔ کوی چه ګنے نبی ﷺ به مونځ شروع کولو، بلکه په دے دلالت کوی چه امام به د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] په وخت پاسيږی، لکه دا خبره مخکښے نزدے تيره شوه۔

[وانظر أحسن الفتاوى : ۲/۲۹۹].

د دواړو حيعلو په وخت ښی او ګس اړخ ته مخ اړول او ددے کيفيت

۵۲۷ – **سوال** : ددے څهٔ دليل دے چه مؤذن به د [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] او [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] په وخت ښی او ګس اړخ ته مخ اړوی ؟ او ددے طريقه څهٔ ده ؟ او د اقامت جواب شته اوکه نه ؟

جواب : مؤذن لپاره سنت دادی چه د [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] او [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] ويلو په وخت ښی او ګس اړخ ته وګوری۔

ابو جحيفه رضی الله عنه نه روايت دے دافرمائی :

[رَأَيْتُ بِلَالًا يُؤَذِّنُ فَجَعَلْتُ أَتَتَبَّعُ فَاهُ هٰهُنَا وهٰهُنَا بِالْأَذَانِ].

(ما بلال وليدهٔ چه اذان ئے کولو او خُلے ئے اخوا ديخوا اړوله راړوله، او ما هم د هغهٔ خُلے پسے خپل مخ اړولو راړولو)۔

[صحيح بخارى : ۱/۸۸، باب هل يتتبع المؤذن فاه ههنا ههنا، وهل يلتفت فى الأذان].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د اسماعيلیؒ په روايت کښے داسے دی : (ما بلال وليدهٔ چه اذان ئے کولو او خپله خُله ئے اخوا ديخوا اړوله۔ سفيانؒ ددے بيان داسے کوی چه : خپل سرئے

ښى او ګس اړخ ته اړولو).
او ابن خزيمهؒ داسې باب قائم کړې چه : (مؤذن به د [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] او [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] ويلو په وخت خپله خُلۀ اړوى، او ټول بدن به نۀ اړوى. او د خُلې اړول د مخ په اړولو سره راځى).
بيا فرمائى : په دې کښې هم اختلاف دې چه آيا (حى الصلاة حى الصلاة) دواړو کښې به يو ځل مخ اړوى، اوکه په [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] دواړو کښې به يو ځل مخ اړوى. او يا به [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] ښى اړخ ته وائى، بيا به [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] ګس اړخ ته وائى. دغه شان په [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] کښې هم. خو راجح دا دويم دې ځکه هر اړخ ته دواړه وويل شول. خو اولنئ طريقه د حديث لفظ ته زياته نزدې ده. اهـ
[فتح البارى : ۲/۹۰].
امام نوويؒ د ابو جحيفهؓ د حديث په تشريح کښې فرمائى : دې حديث نه معلومه شوه چه د مؤذن دپاره مسنون دى چه په دواړو (حيعلو) کښې ښى او ګس اړخ ته خپل سر او څټ واړوى. او زمونږ اصحابو ويلى دى چه خپل قدمونه او سينه به د قبلې نه نۀ اړوى بلکه صرف خپل سر او څټ به اړوى. بيا په دې مخ اړولو کښې درې طريقې بيانيږى :
اوله طريقه : او دا د جمهورو علماؤ طريقه ده او دا ډيره صحيح ده، هغه دا چه : [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] به خپل ښى اړخ ته دوه ځله وائى. او بيا به [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] دوه ځله خپل ګس اړخ ته وائى.
دويمه طريقه : ښى اړخ ته به [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] يو ځل وائى، بيا به ئې ګس طرفته وائى. بيا به [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] يو ځل ښى اړخ ته او بل ځل ګس اړخ ته وائى.
دريمه طريقه : ښى اړخ ته به [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] ووائى، بيا به قبلې ته واپس شى، بيا به خپل ښى اړخ ته مخ واړوى او [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] به ووائى.
[شرح مسلم : ۱/۱۹٦، للنوويؒ].
شيخ البانىؒ فرمائى : صرف مخ به اړوى سينه به نۀ اړوى ځکه دا خلافِ سنت دې.
[تمام المنة ص : ۱۵۰، راجع المجموع : ۳/۱۰٤].
دويمه مسئله : د اقامت جواب ورکول : نو مخکښې تير شو چه په احاديثو کښې

صراحةً د اقامت جواب نۀ دے راغلے، او په عموماتو باندے استدلال کولو ته ضرورت نشته۔ او د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] په جواب کښے [اَقَامَهَا اللّٰهُ وَاَدَامَهَا] په ضعیف حدیث کښے راغلی، ددے په سند کښے محمد بن ثابت العبدی ضعیف دے، دارنګ په دے کښے شهر بن حوشب مشهور کثیر الارسال راوی دے، او دارنګ په دے کښے بل یو مجهول راوی دے۔

[رواه ابوداود : ٥٢٨، ورواه البیهقی : ١/٤١١، وابن السنی فی عمل الیوم واللیلة رقم : ١٠٢، کما فی ارواء الغلیل : ١/٢٥٨، رقم : ٢٤١، و ضعفه البیهقی أیضًا، تمام المنة ص : ١٤٩، صحیح الکلم الطیب ص : ٥٥].

د اذان په وخت مسواکئ ګوتے په غوږ کښے خوزول بدعت دے

٥٢٨ - **سوال** : آیا مؤذن لپاره سنت دی چه د اذان کولو په وخت خپلے دواړه ګوتے په غوږونو کښے خوزوی؟

جواب : دا بدعت او نا فهمی ده۔ ځکه سنت دادی چه مؤذن به خپلے ګوتے په غوږونو کښے ږدی۔ خوزول نۀ دی راغلی۔ لکه د ابوجحیفه په حدیث کښے دی، دا فرمائی : (ما بلال ولیدۀ چه ئے اذان کولو او ګرځیدلو او مابه د هغۀ سره خپله خُله اخوا دیخوا ګرځوله : [وَأُصْبُعَاهُ فِيْ أُذُنَيْهِ] او دواړه ګوتے ئے په غوږونو کښے وے)۔

[احمد : ٤/٣٠٨، ترمذی : ١/٥٠، حاکم : ١/٢٠٢].

او په غوږونو کښے ګوتے کیښودل د عبد الله بن زید بن عبد ربه رضي الله عنه په حدیث کښے راغلی دی۔

[أخرجه أبو الشیخ فی کتاب الأذان کما فی الإرواء : ١/٢٤٩، نصب الرایة : ١/٢٧٩].

او ددے په سند کښے لږ شان کلام شته دے۔

نو معلومه شوه چه صرف ګوتے ایښودل راغلی۔

او هر چه په غوږونو کښے ګوتے خوزول دی، نو دا بدعت او جهالت دے۔ کیدے شی چه ددے راتلونکی حدیث نه چا دا معنیٰ معلومه کړی وی چه :

[عَنْ سَعْدٍ مُؤَذِّنِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰه ﷺ أَمَرَ بِلَالًا أَنْ يَّجْعَلَ اُصْبُعَيْهِ فِيْ أُذُنَيْهِ، وَقَالَ: إِنَّهٗ أَرْفَعُ لِصَوْتِكَ].

د رسول الله ﷺ د مؤذن سعدؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ بلال ته امر وکړو چه خپلې دواړه ګوتې په غوږونو کښې کیدی، او فرمائی چه په دې سره ستا آواز وچتیږی).

[ابن ماجه : ١/ ٧١٠، مشكاة : ١/٦٦، رقم : ٦٥٣].

خو ددې حدیث سند ضعیف دې، ځکه دا د سعد د اولادو نه نقل دې او ددهٔ اولاد ضعیف دی. [كما في الزوائد للبوصيرى : ٢/ ٤٧، وفي الإرواء : ١/ ٢٤٩ : ورواه الحاكم : ٣/ ٦٠٧].

○ مګر سره ددې چه دا حدیث ضعیف دې، ددې د [أَنْ يَّجْعَلَ إِصْبَعَيْهِ] نه ځینې ناپوهانو دا معلومه کړې ده چه ګرځوی به، او د ګرځولو نه ئې بیا د خوزولو معنیٰ اخستې ده. حالانکه دا صحیح نهٔ ده بلکه ددې معنیٰ ده (ږدی به).[جعل] په معنیٰ د (وضع) سره دې.

○ دارنګه ځینې مؤذنین صرف د غوږونو دپاسه لاسونه ږدی او ګوتې په غوږونو کښې نهٔ ننباسی، نو دا هم خلافِ سنت کار دې.

حسن بصریؒ او ابن سیرینؒ دواړه فرمائی : مؤذن به خپلې دواړه مسواکئ ګوتې په غوږونو کښې ږدی. او بلال او ابو محذوره i دواړو به دا کار کولو.

[مصنف عبد الرزاق : ١/ ٤٦٨].

او د ابن ابی شیبه په یو روایت کښې دی چه : یو ځل ابن عمرؓ خپلې ګوتې په غوږونو کښې نهٔ وې ایښې هر کله ئې چه د سورلئ دپاسه اذان کولو.

[مصنف ابن ابی شیبه : ١/ ١٤١، مصنف عبد الرزاق : ١/ ٤٧٠، انظر كتاب الأذان لأبی حاتم ص : ١١٨].

په ولاړه اذان کول

٥٢٩ – سوال : په ولاړه باندې د اذان کولو دلیل څهٔ دې ؟

جواب : په دې باندې نقلی دلائل هم شته او عقلی هم. نقلی دلائل دادی :

اول : د عبد الله بن عمر ﷺ په حدیث کښې دی : [فَقَالَ عُمَرُ : أَوَلاَ تَبْعَثُوْنَ رَجُلاً مِنكُمْ يُنَادِىُ بِالصَّلَاةِ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : يَا بِلَالُ قُمْ فَنَادِ بِالصَّلَاةِ].

(عمر ﷺ وویل : آیا تاسو یو سړې نهٔ لیږئ چه هغه د مانځه دپاره آواز وکړی؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : بلاله ! پاسه او د مانځه دپاره آواز وکړه).

[بخاری : ١/ ٨٥، مسلم : ١/ ١٦٥].

نو ځينې علماؤ ددې پاسيدو د امر نه دا خبره معلومه کړې چه د اذان په وخت پاسيدل مسنون دي. خو ددې پاسيدو دا معنیٰ هم کيدې شي چه پاسه يعنی بهر فراخه ځائے ته ووځه.

دويم : علامه ابن المنذرؒ فرمائی : د ټولو علماؤ په دې خبره اجماع ده چه سنت داده چه مؤذن په ولاړه اذان کوی.

دريم : په حسن سند سره د زيد بن ثابت ﷺ د مور (نوار) نه ثابته ده چه هغه فرمائی : زما کور د جومات خواته په نزدې کورونو کښې د ټولو نه زيات اوچت کور وو، او بلال به د هغې دپاسه د سهار اذان کولو، پيشمنی وخت کښې به راغې او په کوټه به کيناستهٔ او صبا ته به ئې کتل، او کله به ئې چه صبا وليدهٔ نو ستومانی به ئې وويستله.

[إرواء الغليل : ۲٤۱ / ۱].

نو د ستومانی ويستلو نه ودريدل معلوميږی.

او عقلی دليل دادې چه د اذان مقصد خلك خبرول دی دې دپاره چه هغوئ اذان واوری او جومات ته حاضر شی او دا مقصد د ناستې په نسبت په ولاړه ډير ښهٔ حاصليږی.

○ خو د ابو زيد ﷺ نه ثابت دی چه هغهٔ به په ناسته اذان کولو او د هغهٔ خپے ته د الله په لاره (جهاد) کښې مصيبت رسيدلے وو.

[بيهقی : ۱/۳۹۲].

ابن المنذرؒ فرمائی : د ابن عمر ﷺ نه ثابت دی چه هغهٔ به د اوښ دپاسه اذان کولو او بيا به کوز شو او اقامت به ئې کولو.

[أخرجه البيهقی بسند حسن : ۱/۳۹۲، وانظر الإرواء : ۱/۲٤۲].

ابن جريجؒ وائی : ما عطاءؒ نه پوښتنه وکړه، آيا مؤذن د ولاړې حالت نه سيوا په بل حالت کښې اذان کولے شی ؟ وې فرمايل : نه ! مګر که بيمار وی.

دغه شان ابن اسحاقؒ فرمائی : مؤذن دپاره مکروه دی چه په ناسته اذان وکړی.

[مصنف عبد الرزاق].

ابن حزمؒ فرمائی : اذان او اقامت په ناسته، په سورلئ، په بے اودسئ، په جنابت او د قبلې نه سيوا بل اړخ ته په هر صورت کښې کيږی. خو بهتره داده چه په ولاړه، مخ په قبله او په

اوداسهٔ کښې وکړے شي. او ددے خبرے دلیل دادے چه د پورتنو درے حالتونو نه د یو حالت نه هم په قرآن او حدیث کښې منع نهٔ ده راغلې. او الله فرمایلي دي : [وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ ﴾ (او بیشکه الله تاسو ته هغه شیان بیان کړي دي کوم ئے چه په تاسو حرام کړي، مګر هغه شے چه تاسو هغے ته مجبوره شئ).

نو ثابته شوه چه د کوم شئ حرام والے ئے مونږ ته نهٔ دے بیان کړے، نو هغه زمونږ دپاره مباح او جائز دے. او مونږ چه دا خبره غوره وګڼله چه اذان او اقامت دے په اوداسهٔ کښې مخ په قبله په ولاړه وکړے شي، نو دا ځکه چه دا کار د پخوا راسے په مسلمانانو کښې را روان دے.

د ګیره خریلې سړي د اذان حکم

۵۳۰ – **سوال** : د ګیره خریلې سړي اذان جائز دے که نه ؟

جواب : مسلمانانو له مناسب نهٔ دي چه دوئ د امامت او اذان منصب فاسقانو خلکو ته حواله کړي، په داسے حال کښې چه په دوئ کښې اهل او لائق خلك موجود وي. او ګیره خریلے هم فاسق دے، ددهٔ اذان مکروهه دے. ځکه اذان کول د عزت نښه ده او فاسق سړے د سپکاوي لائق دے. اذان خو ډیر لوئے منصب دے او په دے کښې عزت او کرامت دے.

په یو ضعیف حدیث کښې دي : (تاسو له دے اذان هغه څوك کوي چه په تاسو کښې غوره وي، او تاسو ته دے امامتي ستاسو قاریان کوي).

[ابو داود، مشکاة : ۱/ ۱۰۰].

ددے سند د حسین بن عیسیٰ حنفي د وجے ضعیف دے، جمهورو ورته ضعیف ویلي.

فقه حنفي کښې دي : د ګیره خریلي اذان مکروهِ تحریمي دے.

[أحسن الفتاوی : ۲/ ۲۸۷].

په المغني [۱/ ٤۵۹] کښې دي : د علماؤ په دے کښې اختلاف دے چه آیا په اذان کښې عدالت شرط دے چه اذان به فاسق سړے نهٔ کوي. نو په دے کښې دوه قوله دي، یو دادے چه د بعضِ علماؤ په نیز د فاسق اذان له هیڅ اعتبار نشته، ځکه د اذان مقصد خبردارے ورکول دي او د فاسق په خبره خبردارے نهٔ ورکول کیږي. بیا ئے د ابن عباس رضی الله عنه دغه پورتنے

حدیث ذکرکړے۔
نسفیؒ وائی : د جنب اذان او اقامت، د ښځے او د فاسق او د بدعتی اذان مکروه دے۔
[کنز الدقائق : ۱۹/۱].
د ښځے په اذان کښے مخکښے تحقیق تیر شو۔
ابن حزمؒ فرمائی : د فاسق سړی اذان کول جائز دی، ځکه دا هم زمونږ نه دے او یو مسلمان دے نو دا د رسول الله ﷺ په دے وینا کښے داخل دے چه (تاسو له دے په تاسو کښے یو کس اذان وکړی) اوکه عادل سړے اذان وکړی نو ددے په غوره والی کښے اختلاف نشته۔

د اذان د بدعاتو او مکروهاتو بیان

۵۳۱ – **سوال** : د اذان بدعات او مکروهات څۀ دی ؟ تفصیلًا ئے بیان کړئ۔ وجزاکم الله خیرًا۔
جواب: په مسلمان بانده لازم دی چه د سُنت اتباع وکړی او په خپلو ټولو کارونو کښے خصوصًا د عباداتو په باب کښے د بدعاتو نه ځان وساتی، ځکه د عباداتو بنیاد په توقیف او اتباع بانده دے نۀ په خواهشاتو او بدعاتو بانده۔ او اذان د شریعت د لویو لویو نښو او علاماتو نه دے او د مسلمانانو په اعمالو کښے بهترین عمل دے، نو اذان کونکو او اذان آوریدونکو له پکار دی چه دوئ په دے حقله د تمامو بدعاتو نه ځان وساتی۔
۱ – نو **یو بدعت** د اذانۀ د بدعاتو نه : [أَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ] **ویل دی**۔ **بعضے** مؤذنین د اذان او اقامت په وخت د (**محمد** ﷺ) د لفظ سره (سیدنا) لفظ زیاتوی۔ نو دا بدعت دے۔ په منقول کلماتو کښے به زیاتے نۀ کوی۔
او د طحاویؒ په روایت کښے چه د اذان نه پس په راغلی دعاء کښے دغه (سیدنا) لفظ راغلے نو دا ثابت نۀ دے، لکه چه دا خبره مخکښے تیره شوه۔ امام قاسمیؒ ددے په بدعت کیدو بانده تصریح کړے۔ [إصلاح المساجد ص : ۱۳۸].
او (سیدنا) لفظ په (درود) کښے هم ثابت نۀ دے۔
[السلسلة الضعيفة : ۴۲/۳].

۲ - دویم بدعت : د مؤذن د [أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ] ویلو په وخت دواړه مسواکئ ګوتے ښکلول او بیا ئے په دواړو سترګو راښکل دا هم بدعت دے۔

بعضے مبتدعینو ددے عمل دپاره یو حدیث ذکر کړے چه هغه بے بنیاده دے۔ او هغه دادے : [عَنِ الْخَضِرِ أَنَّهٗ قَالَ : مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ يَقُوْلُ : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ : مَرْحَبًا بِحَبِيْبِيْ وَقُرَّةِ عَيْنِيْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ ثُمَّ يُقَبِّلُ إِبْهَامَيْهِ وَيَجْعَلُهُمَا عَلٰى عَيْنَيْهِ لَمْ يَرْمَدْ أَبَدًا].

(خضر علیه السلام نه روایت دے چه هغه وائی : چاچه د مؤذن نه : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ واوریدۀ او بیا ئے مَرْحَبًا بِحَبِيْبِيْ وَقُرَّةِ عَيْنِيْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ الفاظ وویل، او بیا ئے دواړه غټے ګوتے ښکل کړے او په سترګو ئے راښکلے نو ددۀ سترګے به هیڅ کله چخنے نشی)۔

[رواه الديلمی عن أبی بكر، قال فی المقاصد الحسنة : لا يصح، وكذا أورده أبو العباس أحمد بن أبی بكر الرداد اليمانی المتصوف فی كتابه : موجبات الرحمة وعزائم المغفرة، ص : ٣٧٤، بسند فيه مجاهيل مع انقطاعه عن الخضر، ونقله فی الموضوعات الكبير ص ٦٤، انظر فقه السنة : ١٠٩/١، الضعيفة : ١٠٢/١، رقم : ٧٣، إصلاح المساجد ص : ١٣٢، الفوائد المجموعة للشوكانی، رد المحتار : ٢٦٧/١، السنن والمبتدعات ص٤٩، فتاوی ديوبند : ٩٠/٢].

دا روایت بے بنیاده دے۔ ددے په سند کښے ډیر نامعلومه راویان دی او دا د خضر علیه السلام نه منقطع هم دے۔ نودا پورتنے عمل کول ناجائز او بدعت دے۔

۳ - دریم بدعت : اذان د سرودونو پشان او د حد نه زیاتو خوش آوازیو سره اداء کول۔ چه په دے کښے حرف یا حرکت یا مد زیاتی پیدا کړے شی۔ او دا مکروه کار دے۔ اوکه دے سره معنیٰ بدله شوه یا د نا جائزے معنیٰ وَهم ترے پیدا کیدۀ نو بیا حرام دے۔

یحییٰ البکاءؒ وائی: ما ابن عمر رضی الله عنه ولیدۀ چه یو سړی ته ئے وفرمایل : زۀ تا سره د الله دپاره بغض لرم، بیا ئے خپلو ملګروته وویل چه دۀ کښے دوه عیبه دی :

(۱) یو خو اذان د لوبو سندرو پشان وائی۔ (۲) بل په اذان باندے مزدوری اخلی۔

په القول المبین [ص : ۱۷۵] کښے دی : په اذان کښے داسے خوش آوازیانے کول چه په هغے سره په حروفو او په حرکاتو او سکناتو کښے تغیر پیدا شی یا کمے زیاتے پیدا شی، دا بدعت دے۔

امام قرطبیؒ فرمائی : مؤذن به د اذان الفاظ په مزه مزه وائی او د سرود په طرز به ئے نۀ

وائي، لکه ځنګه چه نن صبا دا کار ډیر جاهلان کوي، بلکه ډیرو کمینه خلکو خو اذان د خوش آوازئ د حد نه هم ویستلې دے، په دے کښې دومره ډیر زیات تیټ و پاس کوي چه د هغۀ په الفاظو باندے څوك نۀ پو هیږي چه دا څۀ وائي.

[تفسير قرطبی : ٦/ ٢٣٠، انظر المدخل : ٢٤٩/٣، الإبداع فی مضار الابتداع ص ١٧٦، فقه السنة : ١٠٩/١].

د اذان کلمات چونکه عربي دي، دے وجے نه مؤذن به دا په همغه حروفو سره لولي ځنګه چه په عربئ ژبه کښې معروف دي، په هغے کښې به داسے اوږد والے نۀ پیدا کوي چه د لغت نه ئے وباسي.

په السنن والمبتدعات [ص : ٤٩] کښې وائي : د اذان الفاظ راښکل او د حد نه زیاته خوش آوازي کول بدعت دے.

امام قاسمیؒ هم دیته بدعت ویلي دي.

٤ - **څلورم بدعت** : د صبا راختو نه مخکښې (د اذان نه سیوا) په اوچت آواز سره سبحان الله ویل، شعرونه او نعتونه ویل، او په اوچت آواز سره دعاګانې غوښتل، په دے کارونو کښې هیڅ یو کار مسنون نۀ دے، او نۀ ورته کوم عالم مستحب ویلي. بلکه دا د مکروه بدعاتو نه دے.

[قاله فی الاقناع وشرحه من كتب الحنابلة].

دا کار نۀ د نبی کریم ﷺ نه نقل دے او نۀ د هغۀ د صحابه کرامو z نه او نۀ د دوئ په زمانه کښې ددے څۀ بنیاد شته. دا د سنت خلاف کار دے.

ابن جوزیؒ فرمائي : ما ډیر خلك لیدلي دي چه ټوله شپه په مناره ناست وي خلکو ته وعظ او نصیحت کوي او په اوچت آواز سره قرآن لولي او ذکر اذکار کوي، او خلك د خوبه وباسي او تهجد کونکو باندے قرأت خرابوي. دا ټول کارونه منکرات دي.

[تلبيس إبليس لابن الجوزیؒ].

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : د صبا نه مخکښې او د جُمعے مانځه نه مخکښې په اوچت آواز سره سبحان الله ویل او په نبی ﷺ درود ویل، دا بدعت دے. نۀ دا لغةً د اذان نه حساب دے او نۀ شرعًا.

[كتاب القناع : ١٦٨/١، فتح الباری : ٩٢/٢، روح المعانی : ٦٥/١٠، فی تفسير قوله : انما يعمر مساجد

اللّٰه، والقول المبین ص : ۱۷۷].

۵ – پنځم بدعت : د اذان نه پس په نبی ﷺ باندے په اوچت آواز سره درود لوستل : په داسے آواز سره چه د اذانۀ د آواز سره مشابه وی۔

دا کار مکروه او بدعت دے۔

ابن حجرؒ لیکلی دی : زمونږ د مشائخو وغیره ؤ نه پوښتنه وشوه چه د اذان نه پس درود اوسلام په هغه طریقه لوستل کوم چه د مؤذنینو رواج جوړ شوے، ددے څۀ حکم دے ؟ نو دوئ جواب ورکړو چه د اذان نه پس درود او سلام ثابت دے لیکن دغه کیفیت او طریقه ئے بدعت دے۔ دارنګه د مصری علاقو د مفتی [محمد عبدهٗ] نه پوښتنه وشوه چه د اذان نه پس د درود او سلام څۀ حکم دے ؟ نو هغۀ جواب ورکړو چه : د اذان کلمات پنځلس دی، او آخرئے [لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه] دے۔ او ددے الفاظو نه مخکښے یا روستو چه څوك کوم الفاظ ذکر کوی نو دا ټول نوے ایجاد شوے بدعت دے چه صرف د خوش آوازئ پیدا کولو دپاره خلکو ایجاد کړے۔او دا خوش آوازی د هیچا په نیز جائز نۀ ده۔ او د هغه چا خبرے له هیڅ اعتبار نشته چه هغه وائی دا بدعت حسنه دے، ځکه هر عبادت چه په دے طریقه په عباداتو کښے ایجاد کړے شی نو دا خراب بدعت وی، او څوك چه دا دعویٰ وکړی چه په دے کښے خوش آوازی او خوند اخستل مقصد نۀ دے، نو دا دروغژن دے۔

[الفتاوی الکبریٰ، انظر فقه السنة : ۱/۱۱۰].

په السنن والمبتدعات [ص : ۴۸] کښے وائی : د اذان نه پس صلاة اوسلام په مروجه طریقه سره ویل بدعت او ګمراهی ده، اګرکه د جامع از هر مشرانو دا ښه ګنړلے ده۔اهـ

د دوئ ښه ګنړلو له هیڅ اعتبار نشته، حالانکه په جامع از هر کښے د شیخ علی محفوظ کتاب [الابداع فی مضار الابتداع] لوستلے کیږی نو آیا دا کتاب دوئ هیر کړو ؟۔

علامه ابن حجرؒ فرمائی : چا چه په نبی ﷺ باندے د اذان نه مخکښے درود وویلو، او یائے د اذان نه پس [محمد رسول اللّٰه] وویلو په داسے حال کښے چه دا عقیده ئے لرله چه دا کار په دے وخت کښے مسنون دے، نو دا به ددے کار نه منع کولے شی ځکه چه دا د ځانه شریعت جوړول دی، په دے باندے هیڅ دلیل نشته۔

٦ – بدعت : د ریډیو او ټیپ په اذان باندے اکتفاء کول۔

دا هم قبیح بدعت دے، ځکه اذان د هرے ورځے او هر وخت مستقل عبادت دے، او په دغه دواړو کښے چه کوم اذان ثبت شوے وی نو دا خو نقل دے۔ که چرے په دے باندے اکتفاء کول جائز شی نو بیا خو په ویډیو کښے ثبت شوی مونځ باندے هم اکتفاء کول پکار دی !!

ډیرو علماؤ ددے اذان په عدمِ جواز باندے فتویٰ ورکړے۔

[القول المبين فى أخطاء المصلين، ص : ١١٥، للشيخ مشهور حسن سليمان].

ابن قدامهؒ فرمائی : د بل چا په اذان باندے خپل مونځ نهٔ بناء کیږی ځکه چه دا بدنی عبادت دے نو د دوه کسانو نه نهٔ صحیح کیږی۔

[انظر فتاوى اللجنة رقم : ٥٧٧٩].

٧ – **اووم :** په جومات کښے دننه د لاؤډ سپیکر مخامخ اذان کول مشروع نهٔ دی : ځکه یو خو په دے سره په مونځ ګذارو، تلاوت کونکو او ذاکرینو باندے تشویش راځی۔

بل په دے سره د مؤذن بدن خلکو ته نهٔ ښکاره کیږی، حالانکه د اسلام ددے عظیم شعار تقاضا داده چه دا دے ښکاره طور سره اداء کړے شی۔ دے وجے نه مؤذن له ضروری دی چه د جومات نه بهر وځی او د لاؤډ سپیکر مخامخ ودریږی، په دے کښے دا دواړه مصلحتونه شته دے۔ ددے تقاضا داده چه د جومات دپاسه دے اذان دپاره یو خاص ځائے جوړ کړے شی چه هغے ته مؤذن خیژی او په هغے کښے لاؤډ سپیکر کښے اذان کوی او خلکو ته د هغهٔ بدن ښکاره کیږی۔

ددے بله فائده به دا وی چه کله بجلی بنده شی او یا لاؤډ سپیکر خراب شی نو ددے باوجود به مؤذن خپل اذان جاری ساتی او خلکوته به ئے رسوی۔ او کله چه مؤذن په جومات کښے دننه وی نو دا فائده نهٔ حاصلیږی۔

٨ – دلته دا خبره هم یاد ساتل پکار دی چه مؤذن له پکار دی چه د دواړو (حیعلو) په وخت ښی او ګس اړخ ته ګوری، ځکه دا سنت ده۔ او اوس تقریبًا ټولو مؤذنینو ددے سنت په پریښودو اتفاق کړے۔ او ددے سنت پریښودلو وجه لاؤډ سپیکر دے۔ دوئ وائی چه د اذان نه مقصد خبردارے ورکول دی او په لاؤډ سپیکر سره دا مقصد پوره کیږی۔ حالانکه دا خبره بے دلیله ده، ځکه کیدے شی چه په دے کار کښے نور مقاصد وی چه خلکو ته نهٔ ښکاری، نو اولیٰ داده چه په هر صورت کښے د دغه سنت اهتمام وکړے شی۔

[انظر الأجوبة النافعة ص : ١٨].

په السنن والمبتدعات [ص : ٤٩] **کښې دي : په جومات کښې دننه د خطيب مخامخ اذان کول بدعت دے۔**

٩ – او ښی او ګس اړخ ته به صرف مخ اړوی۔ سينه اړول په حديث کښې نهٔ دي ثابت۔

[تمام المنة ص : ١٥٠، التلخيص الحبير: ٢٠٤/١، وقد تقدم].

امام حربؒ د امام احمدؒ نه پوښتنه وکړه چه مؤذن به په مناره کښې ګرځی ؟ هغهٔ وفرمايل: ښی او ګس اړخ ته به مخ اړوی۔ او ګرځيدل ئے ناخوښه وګڼړل۔

[انظر : المسائل الفقهية : ١١٢/١].

١٠ – بدعت : د اذان نه مخکښې د مؤذن : ﴿قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا﴾ **ويل بدعت دے۔ دغه شان اذان پسے متصل ذکر کول بدعت دے۔**

[القول المبين : ١٧٧/٢].

١١ – د سهار دويم اذان د صبا راختو نه مخکښې کول۔

او د مؤذنينو پخوانۍ او وسنۍ خطائی داده چه دوئ د سهار مانځه دپاره د صبا راختو نه مخکښې اذان کوی۔

حافظ ابن حجرؒ ددے نه داسے شکايت کوی : په دے زمانه کښې يو بدعت پيدا شوے هغه دا چه په رمضان کښې مؤذن دويم اذان د صبا راختونه تقريبًا درے پاؤه (پاؤ کم يوه ګينټه) مخکښې کوی۔او په ماښام کښې دا کار کوی چه د نمر ډوبيدو نه ډير وخت پس د ماښام اذان کوی دے دپاره چه د د دوئ په خيال دوئ د روژه ماتی وخت رامونده کړی۔نو روژه ماتے ناوخته کوی او پيشمنے وخت کوی۔ او دا خلافِ سنت عمل دے۔ دا وجه ده چه په دے خلکو کښې خير کم او شر زيات شو۔

[فتح البارى : ١١٩/٤].

علامه قاسمیؒ فرمائی : دغه شان په دمشق کښې چه د پيشمنی په وخت کوم اذان کيږی نو هغه ډير زيات راښکلے او اوږدولے شی او په يوه خاصه نغمه باندے ئے وائی، او د اذان د جملو ترمينځه چه کوم سکوت او خاموشی ده هغه ډيره زياته اوږده کوی۔ او په دے اذان کولو سره د مؤذن نيمه ګينټه لږيږی۔

[إصلاح المساجد].

۱۲ – بدعت: زمونږ په زمانه کښې دا سنت پریښودل شوے چه د سهار دپاره د اولنی اذان مؤذن دے جدا وی او د روستنی اذان مؤذن دے جدا وی۔ لکه څنګه چه دا په صحیح حدیثونو کښې ثابته شوے ده۔ نو هغه څوك مبارك دے چه الله تعالیٰ ورته ددے سنت د ژوندی کولو توفیق ورکړے وی۔

[تمام المنة ص: ۱٤٦].

○ **مونږ وایو:** زمونږ په دے زمانه کښې خو اولنے اذان د سره خلکو پریښے دے۔ ددے شکایت مونږ الله تعالیٰ ته کوو۔

۱۳ – ځینے خلك چه د مؤذن د اذان جواب ورکوی نو د هغهٔ نه مخکښې کیږی۔ او داخلافِ سنت کار دے، ځکه نبی ﷺ فرمائی: (کله چه تاسو د مؤذن نه واورئ نو تاسو د هغهٔ پشان کلمات وایئ) نو په دے حدیث کښې ئے خبر ورکړو چه د اذانهٔ جواب به د اذان نه پس وی نهٔ مخکښې۔

۱٤ – بدعت: د اذان په جواب کښې [صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ وَبِالْحَقِّ نَطَقْتَ] **ویل بدعت دے۔** **حافظ ابن حجرؒ وائی:** ددے هیڅ بنیاد نشته۔

۱۵ – بدعت: د اذان آوریدو په وخت [اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَالْعِزَّةُ لِلّٰهِ] یا [اَللّٰهُ اَكْبَرُ عَلٰى كُلِّ مَنْ ظَلَمَنَا] یا [اَللّٰهُ اَكْبَرُ عَلٰى أَوْلَادِ الْحَرَامِ] **ویل بدعت دے۔**

۱٦ – دارنګه د اذان نه پس [اَللّٰهُمَّ صَلِّ أَفْضَلَ صَلَاتِكَ عَلٰى أَسْعَدِ مَخْلُوْقَاتِكَ] **قبیح بدعت او په خلکو تشویش راوستل دی۔**

۱۷ – بے ضرورته د امام نه پس د مؤذن په اوچت آواز سره تکبیر کول بدعت دی۔ او ددے مکبرینو یوه ډله جوړول او ګرځول راګرځول او خوراکونه دعوتونه پرے خوړل قبیح بدعت دے۔ او د ضرورت د وجے نه امام پسے روستو تکبیر کول جائز دی۔

[السنن والمبتدعات ص ٥٠].

۱۸ – د اقامت آوریدو په وخت [نَعَمْ! لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ] **ویل بدعت دے۔**

۱۹ – دا خبره کول چه د مانځه او اقامت ترمینځه خبرو سره اقامت باطلیږی۔

لکه دا به په (باب السنن) کښې راشی ان شاء الله۔

۲۰ – دا خبره کول چه: کله اقامت کونکے [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] **ووائی نو په امام باندے واجب دی چه الله اکبر به کوی۔ دا خبره بے دلیله او د سنت ښکاره خلاف ده۔**

امام بخاریؒ د انس رضی الله عنه نه روایت نقل کوی چه (د مانځه دپاره اقامت وشو او نبی ﷺ د جومات په یو گوټ کښے د یو سړی سره پټے خبرے کولے نو مانځه ته لا نهٔ وو ودریدلے چه خلك ودهٔ شول)۔

[صحيح بخاری، باب الإمام تعرض له الحاجة بعد الإقامة].

او امام بخاریؒ فرمائی: (د اقامت نه پس د خبرو کولو بیان) بیائے د حمیدؒ نه روایت نقل کړے دا فرمائی: ما د ثابت بنانیؒ نه پوښتنه وکړه چه یو سړے د اقامت نه پس خبرے کوی ددے څهٔ حکم دے؟ نو هغهٔ ماته خبر راکړو چه انس بن مالك ﷛ وفرمایل: (د مانځه دپاره اقامت وشو او نبی ﷺ ته یو سړے راپیښ شو او هغه ئے د اقامت نه پس د مانځه نه ایسار کړو)۔

[انظر السنن والمبتدعات ص: ۵۳].

۲۱ – د حیعلو نه پس [حَيَّ عَلٰى خَيْرِ الْعَمَلِ] **زیاتی کول بدعت دے۔ دا په هیڅ صحیح حدیث کښے د نبی ﷺ نه او د هغهٔ د مؤذنینو نه ثابت نهٔ دے۔ اوکوم روایتونه چه په دے باره کښے راغلی هغه ضعیف بلکه زیاتره منکرت او منکر دی۔ دا قِسم حدیثونه ددے فن پوهانو په نیز هیڅ حیثیت نهٔ لری۔**

هو! دا عمل د ابن عمر ﷛، او د علی بن حسین زین العابدینؒ نه نقل شوے، او دا دواړه جلیل القدر علماؤ دی، لیکن دوئ ددے کار نسبت نبی اکرم ﷺ ته نهٔ دے کړے۔ او دلیل صرف او صرف د نبی کریم ﷺ په قول او فعل کښے دے، د هغهٔ نه سیوا د بل چا خبره او عمل دلیل نهٔ دے، اګرکه هر څوك وی۔

دا وجه ده، امام بیهقیؒ د ابن عمرؓ او زین العابدینؒ دواړو نه ددے عمل د نقل کولو نه پس فرمائی: دا عمل د نبی ﷺ نه ثابت نهٔ دے، نهٔ نبی ﷺ دا عمل بلال ته ښودلے او نهٔ ابو محذوره i ته، دے وجے نه مونږ په اذان کښے زیادت کول مکروه ګڼړو۔

وبالله التوفيق.

[بيهقي: ۱/۴۲۵، وانظر كتاب الأذان لأبي حاتم ص: ۳۰۱].

۲۲ – په اذان کښې لحن (غلطي) کول۔ د لحن نه مراد هغه غلطي او خطائي ده چه زمونږ په زمانه کښې د زیاتره مؤذنینو نه د اذان د الفاظو په اداء کولو کښې واقع کیږي۔ چه د یو حرف په ځائے په بل حرف باندې نطق کیږي، یا د مد ځائے نهٔ وي او مد په کښې کوي، یا د طبعي مد ځائے وي خو په هغې کښې مبالغه او زیاتے کوي۔ یا ددې نه علاوه نورې خطایانے چه مونږه ئے د مؤذنینو نه آورو۔ ځینې دادي :

(أ) په (اکبر) کښې کاف په جیم باندې بدلول لکه دا کار مصریان کوي۔ (الله اکبر) په ځائے (الله اجبر) وائي۔

(ب) د (الله) د لفظ د (لام) نه پس په مد کښې مبالغه کول، سره ددې چه دا طبعي مد دې۔ لکه داسې ویل : (اللاآهُ اکبر)۔

(جـ) د (اکبر) د باء نه پس مد جوړول او داسې ویل : (الله اکبار) حالانکه صحیح داده چه باء د راء سره متصله کړې شي او (اکبر) وویلې شي۔

(د) د (اشهد) هاء په شین کښې مدغمه کول۔ اوداسې ویل : [أَشَّدُ] دې دپاره چه د اذان آواز بنائسته کړې شي۔

(هـ) ځینې اذان کونکي د (اشهد) د دال نه پس واو او مد زیاتوي او داسې وائي : [أَشْهَدُوا].

(و) ځینې اذان کونکي د [أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ] په ځائے [أَشَدُّ أَنَّ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ] وائي۔ یعنی نون باندې شد او زور وائي۔ حالانکه نون ساکن دې او لام باندې شد دې۔

(ز) په (اِلا) باندې زبه زوړنده ساتي چه په دې سره په لام باندې د لفظِ الله نه مخکښې اوږده مده پاتې شي۔ حالانکه صحیح داده چه دا مشدد وویل شي او په غیر د تکلف نه پرې ورتیر شي۔

(حـ) په (الله) باندې د حد نه زیات مد رابښکل او داسې ویل [أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلآهَ إِلَّا اللّٰهُ].

(ط) د (الله) د هاء نه پس د ځانه مد پیدا کول او داسې ویل (اِلهَا)۔

(ی) د [حَيَّ] په ځائے [هَيَّ] ویل۔ او یا [هَيَّا] ویل۔

(ك) د (الصلاة) تاء په حاء سره بدلول او [حَيَّ عَلَى الصَّلَاح] ویل۔

(ل) د (الفلاح) حاء په هاء سره بدلول او داسې ویل : [حَيَّ عَلَى الْفَلَاهِ].

(م) د حیعلو د (علیٰ) په مد کښې د حد نه زیاتے کول۔

(ن) د (الا) د همزے نه پس یاء زیاتول او داسے ویل : [إِیَلَا اللّٰهُ].
(س) د لفظِ (الله) همزه په مد سره لوستل چه ددے نه استفهام جوړ شی، لکه د [أَللّٰهُ] په ځائے [آللّٰهُ] ویل۔

خلاصه دا چه : ډیر مؤذنین داسے دی چه د خپل آواز او نغمے ښائسته کولو دپاره په ډیرو ځایونو کښے مدونه پیدا کوی او طبعی مدونه ډیر زیات راکاږی، مقصور نه ممدود جوړوی او ممدود نه مقصور جوړوی او ځینے ځایونو کښے ے ځایه د مد حروف زیاتوی۔ نو دا ټول کارونه کول ناجائز دی، ددے نه ځان ساتل ضروری دی۔

۲۳ – **بدعت** : اجتماعی طور سره په یو آواز سره اذان کول : او دا په (اذان سلطانی) یا (اذان الجوق) سره مشهور دے، حالانکه ددے په مکروه والی او بدعت والی کښے خلاف نشته، ځکه په دے کښے د سرودونو پشان آوازونه راؤښکل کیږی او د اذان کلمات د عربی وضع او شرعی کیفیت نه وښکل کیږی او قبیح شکل اوصورت اختیاروی چه د هغے د وجے غونے زیګ کیږی او پاکیزه روحونه درد مند کیږی۔ او دا اذان د ټولو نه وړاندے هشام بن عبد الملك ایجاد کړے دے۔

[الإبداع فی مضار الا بتداع].

۲٤ – **بدعت** : په ټولو مونځونو کښے (تثویب) کول۔

او تثویب دیته وائی چه مؤذن د اذان او اقامت ترمینځه خلکو ته نعرے وهی چه هلکه مونځ له راشئ۔ مونځ ودریږی۔

بعضِ علماؤ دا کار ښهٔ ګڼړلے دے، لکه صاحب د (الابداع) د ابوحنیفهؒ د شاګرد ابویوسفؒ نه نقل کړی دی چه : زهٔ په دے کښے څهٔ باك نهٔ وینم چه مؤذن امیر ته په ټولو مونځونو کښے داسے الفاظ ووائی چه سلام دے وی په تا اے امیره او د الله رحمت دے وی ! مونځ ته راشه او کامیابئ ته راشه۔ او ددے پشان قاضی او مفتی هم دے، د دوئ د خصوصیت وجه داده چه دا خلك د مسلمانانو په کارونو کښے لږیدلی دی نو تثویب به ورته ځکه کولے شی چه جماعت ترے فوت نشی۔

شیخ علی محفوظؒ فرمائی : د ابو یوسفؒ په دے کلام کښے اشکال شته دے، ځکه نبی کریم ﷺ حاکم او مفتی او قاضی هر څهٔ وو او د نبوت درونډ بوج ئے هم په سر پروت وو،

او سره ددے هغوئ به مؤذن ته دا حکم نهٔ کولو چه هغه په خپل اذان کښے تثویب وکړی، دا کار د هغهٔ نه په هیڅ صحیح حدیث کښے ثابت نهٔ دے۔ دین په رائے او ښهٔ ګڼړلو سره نهٔ ثابتیږی، بلکه دا به د شرعی دلائلو نه اخستل کیږی۔ بله دا چه د هیچا دپاره دا جائز نهٔ دی چه د خپل طرفه یو دینی شعار او علامه جاری کړی چه هغه نهٔ نبی اکرم ﷺ نه نقل وی او نهٔ د هغوئ د خلفاء راشدینو نه۔بس خیر ټول په دے کښے دے چه اتباع وکړے شی، او شر ټول په دے کښے دے چه بدعات ایجاد کړے شی۔

[الابداع فی مضار الابتداع].

تنبیه : دا پورته خبردارے ورکول هله منع دی چه کله موذنین د اذان پشان آوازونه خلکو ته کوی۔ او هر چه امام ته د مؤذن خبردارے ورکول دی چه د هغهٔ کور یا کوټے ته ورشی او د مانځه خبردارے ورته ورکړی نو دا د بلال رضی الله عنه نه ثابت دی چه هغهٔ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښے دا کار کولو، نبی اکرم ﷺ ته به ورغے او هغهٔ ته به ئے د مانځه د ودریدو خبر ورکړو۔ لکه چه مخکښے دا خبره تیره شوے ده۔

تنبیه : په احادیثو کښے (تثویب) په ډیرو معنو سره راغلے۔

(۱) یوه معنیٰ ئے داده چه د اعلان نه پس اعلان کول۔ په دے کښے هیڅ حدیث نشته۔

(۲) تثویب په معنیٰ د اقامت سره راغلے، لکه د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښے دی : [حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ] (تردے چه کله د مانځه دپاره تثویب یعنی اقامت وکړے شی نو شیطان شاکړی)۔ [صحیح بخاری وغیره].

(۳) تثویب په معنیٰ د [اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] سره چه دا صرف د سهار د اذان سره راغلے۔او دا هم یو قِسم دوباره اعلان کول دی ځکه یو ځل اعلان په حیعلو سره حاصل شوے۔

والله اعلم۔

۲۵ – د جُمعے د مانځه دپاره اولنے اذان کول، کوم چه د جُمعے د مانځه د اذان نه مخکښے کیږی۔دا خبره دے واضحه وی چه د نبی اکرم ﷺ په دور کښے به د جُمعے د مانځه دپاره یو اذان کیدهٔ۔ د نبی کریم ﷺ دا طریقه وه چه کله به د کور نه جومات ته راغے نو د منبر دپاسه به کیناستهٔ او اذان به وشو، بیا به نبی اکرم ﷺ پاسیدهٔ، خطبه به ئے وویله او د خطبے نه پس به اقامت وشو او مونځ به ودریدهٔ۔

او په همدے طریقه باندے شیخینو - ابو بکر او عمر i هم عمل کولو۔ د هدایت دے امامانو به هم د جُمعے په ورځ یو اذان کولو او د اذان نه پس به ئے خطبه ورکوله او بیا به مونځ کیدۀ۔

○ بیا چه کله د عثمان رضي الله عنه دورِ خلافت شو او خلك ډیر شو نو عثمان رضي الله عنه د خطبے د اذان نه مخکښے مؤذن ته حکم وکړو چه په بازار کښے په (زوراء) علاقه کښے اذن وکړی، دے دپاره چه خلکو ته پته ولږی او د جُمعے مانځه دپاره تیارے وکړی۔

لکه په حدیث کښے دی: سائب بن یزیدؓ فرمائی:

[كَانَ النِّدَاءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوَّلُهُ إِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنبَرِ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ رضي الله عنه وَكَثُرَ النَّاسُ، زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ].

(د نبی صلى الله عليه وسلم او د ابو بکر او عمر i په زمانه کښے به د جُمعے مانځه دپاره اولنے اذان هغه وخت کیدۀ کله به چه امام په منبر کیناستۀ۔ بیا چه کله عثمان رضي الله عنه خلیفه شو او خلك زیات شول، نو هغۀ په زوراء مقام کښے دریم اذان زیاتی کړو)۔

[صحیح بخاری: ۲/۳۹۳، باب الأذان یوم الجمعة].

د دریم اذان نه مراد اولنے اذان دے کوم چه په بازار کښے کیدۀ۔ او دریم ئے ورته ځکه ویلی چه یو اذان خو د خطبے والا دے، دویم اقامت دے چه دیته هم اذان ویل کیږی۔ او دریم هغه اذان دے چه عثمان رضي الله عنه په زوراء مقام کښے د خطبے د اذان نه مخکښے زیاتی کړے وو۔

په بل روایت کښے دی: سائب بن یزیدؓ فرمائی:

[إِنَّ الْأَذَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ كَانَ أَوَّلُهُ حِينَ يَجْلِسُ الْإِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى الْمِنبَرِ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم وَأَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ - رضی الله عنهما - فَلَمَّا كَانَ فِيْ خِلَافَةِ عُثْمَانَ رضی الله عنه وَكَثُرُوْا، أَمَرَ عُثْمَانُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِالْأَذَانِ الثَّالِثِ، فَأُذِّنَ بِهِ عَلَى الزَّوْرَاءِ، فَثَبَتَ الْأَمْرُ عَلٰى ذٰلِكَ].

نو ددے روایتونو نه معلومه شوه چه د نبی صلى الله عليه وسلم په زمانه کښے به یو مؤذن اذان کولو۔ دارنګه دا اذان به هغه وخت کیدۀ چه امام به په منبر کیناستۀ۔ او عثمان رضي الله عنه چه کوم اذان زیاتی کړے وو، هغه د خطبے د اذان او د مانځه د اقامت د وجے نه دریم حسابیږی۔

او دا بیان مونږ ځکه وکړو چه هسے نه څوك د صحیح ابن خزیمه روایت باندے دهوکه ونۀ خوری چه په هغے کښے دا ویل شوی دی چه د نبی صلى الله عليه وسلم په زمانه کښے به دوه اذانه

کیدل۔ د هغې روایت الفاظ دادی:

[كَانَ الْأَذَانُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَأَبِىْ بَكْرٍ وَعُمَرَ أَذَانَيْنِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ حَتّٰى كَانَ زَمَنُ عُثْمَانَ فَكَثُرَ النَّاسُ فَأَمَرَ بِالْأَذَانِ الْأَوَّلِ بِالزَّوْرَاءِ].

(د رسول الله ﷺ او ابو بکر او عمر i په زمانه کښې به د جُمعې په ورځ دوه اذانه کیدل تردې چه د عثمان رضی الله عنه زمانه شوه او خلك ډیر شول نو هغهٔ په زوراء مقام کښې په اولنی اذان باندې امر وکړو)۔

[صحيح ابن خزيمة فى رواية وكيع عن ابن أبى ذئب عن الزهرى به].

نو په دې حدیث کښې د دوه اذانونو نه مراد اذان او اقامت دې۔

نو ددې ټولو حدیثونو نه معلومه شوه چه د نبی اکرم ﷺ په زمانه کښې به د جُمعې دپاره یو اذان کیدهٔ بیابه خطبه وویل شوه، بیا به اقامت وکړې شو او مونځ به ودریدهٔ۔ دا د نبی اکرم ﷺ هغه سنت طریقه وه چه په دې سره د دنیا نه تلے وو۔ نو د هیچا دپاره دا نشی کیدې چه په دې طریقه کښې کمې زیاتې پیدا کړی، که هغه هر څوك وی اګرکه عثمان ﷺ ولے نهٔ وی چه دا د هدایت امام دې او د خلفاء راشدینو j نه یو راشد خلیفه دې۔ او سائب بن یزیدؒ چه په بعضې روایاتو کښې دا ویلی دی چه [فَثَبَتَ الْأَمْرُ عَلٰى ذٰلِكَ] (نو په اولنی اذان باندې معامله برقراره شوه)۔

نو ددې نه مراد دا نهٔ دې چه ګنې په هر حالت کښې به د شرعی امر پشان دا کار ثابت وی۔ ځکه وحی خو د رسول الله ﷺ په وفات باندې ختمه شوې ده۔ او نهٔ ددې نه دا ثابتیږی چه ګنې د ټولو صحابه کرام j په مشوره دا کار شوې وو، لکه څنګه چه د بعضې خلکو خیال دې چه وائی دا اجماع سکوتی ده۔ دا خبره درست نهٔ ده، ځکه بعضِ صحابه کرامو j په دې کار اعتراض کړې وو، او د ابن عمر ﷺ نه ثابت دی چه هغهٔ دې اولنی اذان ته بدعت ویلے دې۔

[كما رواه ابن أبى شيبه عنه بإسناد صحيح، رجاله من رواة الشيخين إلا هشام بن الغاز وهو ثقة علق عنه البخارى وروى له أصحاب السنن].

نافعؒ نه روایت دې چه ابن عمر ﷺ وفرمایل: [اَلْأَذَانُ الْأَوَّلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِدْعَةٌ]. (د جُمعې د ورځې اولنے اذان بدعت دې)۔

[مصنف ابن ابی شیبه : ۱/۴۷۰]

حالانکه ابن عمرؓ ته پته وه چه عثمان رضی الله عنه د رُشد او هدایت امام او خلیفه راشد دے، خو ددے دا مقصد نهٔ دے چه ګنے د هغهٔ هر یو اجتهاد به حق وی او د هغهٔ د هر ے اجتهادی خبرے تابعداری به کیدے شی۔

سوال : حدیث کښے دی : [عَلَيْكُم بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ].

(په تاسو باندے زما سنت او د خلفاء راشدینو سنت نیول لازم دی)۔

او دا اولنے اذان هم د خلیفه راشد عثمان رضی الله عنه سنت دے، نو ددے د نیولو هم امر راغلے۔

جواب : ددے حدیث دا مقصد نهٔ دے چه ګنے خلفاءِ راشدین j معصوم دی بلکه ددے مقصد دادے چه خلفاء راشدین د ټولو خلکو نه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په تابعدارئ باندے زیات حقدار دی او هغهٔ ته په طریقه کښے ډیر زیات نزدے دی، نو د هغوئ د هغے خبرے تابعداری کول ضروری دی چه په هغے کښے هغوئ د نبی صلی الله علیه وسلم په سنت باندے منګولے لږولی وی، نهٔ په هغه کارونو کښے چه په هغے کښے د هغوئ نه خلاف راغلے وی، په داسے قِسم مسئله کښے به صرف هغه شئ ته رجوع کولے شی چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سنت وی۔ او د نبی صلی الله علیه وسلم سنت صرف د هغهٔ قول، فعل او تقریر دے۔

ددے خبرے دلیل دادے چه په همدے حدیث کښے ورسره روسته دا الفاظ راغلی دی : [تَمَسَّكُوْا بِهَا وَعَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ].

(تاسو په دے سنت باندے منګولے ولږوئ او د ژامے په غاښونو ئے ونیسئ)۔

نو دلته ئے د سنت سره [بِهِمَا] نهٔ دی ویلی، بلکه [بِهَا] یعنی مفرد لفظ ئے ویلے چه ددے نه همدا معلومیږی چه په [سُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ] کښے چه کوم واؤ راغلے (یا د سنت لفظ دوه ځله ذکر شوے) نو ددے نه یو سنت مراد دے، او هغه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سنت دے، نو د نبی صلی الله علیه وسلم چه کوم سنت دے همدا سنت د خلفاء راشدینو j سنت هم دے ځکه چه خلفاء راشدینو د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د سنت اقتداء کوی او هغے پسے روان دی۔ د خلفاء راشدینو سنت د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د سنت خلاف نهٔ وی۔

امام صنعانیؒ فرمائی : د خلفاء راشدینو د سنت نه مراد صرف هغه سنت دے کوم چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د سنت سره موافق وی، چه هغه د دشمنانو سره جهاد کول دی او د اسلامی

شعائرو تقويت وغيره دے۔ ځکه حديث عام دے او هر خليفه ته شامل دے، شيخينو پورے خاص نۀ دے۔ او د شريعت د قواعدو نه معلومه ده چه د هيڅ يو خليفه راشد دپاره دا نشى كيدے چه يوه داسے طريقه راوباسى چه هغه د نبى اكرم ﷺ طريقه نۀ وه۔

بيا فرمائى : ددے دليل دادے چه نورو صحابه كرامو د شيخينو i سره په ګڼرو ځايونو او مسائلو كښے خلاف كړے، نو د صحابو ددے خلاف نه معلوميږى چه هغوئ ددے حديث دا معنىٰ نۀ ده اخستے چه ګنے د خلفاء راشدينو هر قول او فعل حجت دے۔

او علامه برماوىؒ په [شرح د الفية فى اصول الفقه] دا خبره تحقيقى طور سره ثابته كړے چه د دغه حديث نه صرف دا معلوميږى چه كله خلفاء اربعه په يوه خبره اتفاق وكړى نو هغه به حجت وى، نۀ دا چه په دوئ كښے يو كس ځانله وينا وكړى۔

[سبل السلام للإمام الصنعانيؒ : ۱۱/۲].

دا ډير عُمده كلام دے چه هر طالب له ددے پيژندل ضرورى دى ځكه په دے باره كښے ډير خلك خويدلى دى۔

وضاحتى مثالونه :

د بعضِ خلفاء راشدينو j سره نورو صحابه كرامو په څو مسائلو كښے اختلاف كړے، په كومو مسائلو كښے چه د هغوئ نه (غير قصدى طور سره، په خپل اجتهاد سره) د سنت خلاف راغلے۔ او دا مثالونه معروف او مشهور دى :

اول مثال : عثمان ﷺ د حجِ تمتع نه منع كوله۔ نو كله چه على ﷺ دا خبره واوريده، نو د حج او عمرے دواړو احرام ئے وتړلو (حجِ تمتع ئے شروع كړو) او وے فرمايل : زۀ دا نشم كولے چه د نبى ﷺ سُنت دے د چا د وجے نه پريدم۔

[صحيح بخارى : ۴۲۱/۳، وغيره].

دويم مثال : عبد الرحمن بن يزيدؒ وائى : مونږ ته عثمان بن عفان ﷺ په مِنىٰ كښے څلور ركعته مونځ وكړو (حالانكه په مِنىٰ كښے دوه ركعته قصر مونځ كيږى) نو چا دا خبره عبد الله بن مسعود ﷺ ته وكړه، نو هغۀ [إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ] ووېلو، بيا ئے وفرمايل : ما د رسول الله ﷺ سره په مِنىٰ كښے دوه ركعته كړى، د ابو بكر ﷺ سره مے په مِنىٰ كښے دوه ركعته كړى، د عمر ﷺ سره مے په مِنىٰ كښے دوه ركعته كړى۔ نو آرمان دے چه زما د

څلورو رکعتونو په ځائے دوه رکعته قبول شوی نصيب شی۔

[صحيح بخاری : ۵٦۳/۲، باب الصلاة بمنی].

دغسے نور مثالونه هم شته چه هغه د عثمان رضی الله عنه يا په خلفاءِ راشدينو کښے د بل خليفه نه نقل شوی دی۔ او دا خبر معلومه ده چه عثمان رضی الله عنه په زياتره دغه کارونو کښے تاويل کونکے وو۔ او هغۀ هيڅکله په خپل قصد او ارادے سره د سُنت خلاف نۀ کولو۔ خو سره ددے د هيڅ دپاره دا جائز نۀ دی چه د نبی اکرم صلی الله عليه وسلم سنت د چا د وجے نه پريدی – اګرکه هغه هر څومره غوره او فضيلت والا وی۔

او دا يوائينئ ذريعه ده چه په دے سره مسلمانان د هر قِسم تفرق او اختلاف نه بچ کيږی، که چرے مسلمانانو په خپلو ټولو کارونو کښے د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت حاکم جوړ کړو نو دوئ به د ډيرو اختلافاتو نه خلاصے بيامومی۔

تنبيه : دا خبره د يادولو وړ ده چه ځينے کارونه داسے دی چه د نبوت د زمانے نه پس مينځ ته راغلی دی، دا کارونه اګرکه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم په خپل سترګو نۀ دی ليدلی مګر د هغے دپاره داسے بنياد شته دے چه د هغے په مشروعيت باندے دلالت کوی، لکه مصحف جمع کول، سنت جمع کول، چه دا کارونه د نبوت د زمانے نه پس شوی دی، ليکن د قرآن کريم ليکل يا د احاديثو ليکل دواړه جائز او مشروع عملونه دی چه ددے دلائل معروف او مشهور دی۔ نو دے کارونو ته اګرکه د لغت په اعتبار سره بدعت ويل جائز دی مګر د شريعت له مخه دا بدعت نۀ دے، ځکه دا د يو عامے قاعدے او بنياد لاندے داخليږی۔ د همدے نه د عمر فاروق رضی الله عنه دا خبره هم ده چه کله هغۀ د رمضان په مياشت کښے خلك د تراويحو په مانځه په يو امام باندے راجمع کړل نو وے فرمايل : [نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ] (دا ډير ښۀ بدعت دے)۔ نو ددے بدعت نه مراد بدعتِ لغوی دے، او ددے نه مراد شرعی بدعت نۀ دے کوم چه په شريعت کښے مذموم او قبيح عمل ګڼړل کيږی۔

○ د عثمان رضی الله عنه د اولنی اذان زياتولو کيفيت :

کله چه په مدينه کښے مسلمانان زيات شول او بازارونو کښے به د جُمعے په ورځ په بيع او شراء کښے مشغول وو، نو عثمان رضی الله عنه په خپل اجتهاد سره يو مؤذن مقرر کړو، چه هغه به د مانځه د وخت نه مخکښے په بازار کښے (په زوراء) مقام کښے اذان کوی، دے دپاره چه

خلکو ته د جُمعې د مانځه نزدې والې معلوم شي او مانځه دپاره تيارې وکړي۔ وجه دا وه چه بل هيڅ يوه ذريعه نۀ وه چه خلك پرې خبر کړې شي، سيوا ددې نه چه هغوئ ته په شرعي الفاظو سره اذان وکړې شي۔

○ او اوس خلك د جُمعې د ورځې دا اولنے اذان په جومات کښې دننه کوي۔ نو په دوه ځايونو کښې دوئ د **عثمان** رضي الله عنه سره **خلاف** کوي۔

(۱) **يو** دا چه د کوم سبب د وجې نه چه عثمان رضي الله عنه اولنے اذان زياتي کړې وو (چه هغه د خلکو زيات والې او هغوئ ته د جومات اذان نۀ رسيدل وو) هغه اوس نشته، د هغې نه په لاؤډ سپيکر وغيره سره استغناء راغلې ده۔

(۲) **دويم** دا چه: عثمان رضي الله عنه به دا اذان په بازار کښې کولو (په زوراء) مقام کښې۔ اوس ئې خلك په جومات کښې دننه کوي۔ او دواړه اذانونه د خطبې نه مخکښې په جومات کښې کيږي۔ اولنے اذان په جومات کښې وکړي – چه دا نۀ د نبي اکرم ﷺ نه ثابت دے او نۀ د عثمان رضي الله عنه په داسې حال کښې چه ټول خلك حاضر ناست وي، بيا ددې نه يو څو مينټه روسته امام منبر ته وخيژي او په منبر کيني او د خطبې اذان ورته وکړي چه دا يو مشروع اذان دے۔ بيا چونکه د دواړو اذانونو ترمينځه څه وخت وي، نو دغه وخت دوئ په دوه رکعته مونځ باندې ډکوي چه هغې ته دوئ د جُمعې نه مخکښې سنت وائي۔ حالانکه دا دوه رکعته سنت د نبي اکرم ﷺ نه ثابت نۀ دي۔ بلکه په دې بدعت سره دوئ د تحية المسجد د دوه رکعته مونځ نه هم محروم شي، چه دا مسجد ته د راتلو په وخت د ناستې نه مخکښې اداء کيږي۔ ځکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: (کله چه په تاسو کښې څوك جومات ته ننوځي نو د کيناستو نه مخکښې دې دوه رکعته وکړي)۔

[صحيح بخاری، صحيح مسلم].

حالانکه زياتره خلك جومات ته راځي او راتلو سره کيني او مونځ نۀ کوي۔ او کله چه دوئ اولنے اذان واوري – کوم چه د نبي ﷺ د دور نه روسته پيدا شوې دے – نو خلك پاسي او دوه رکعته وکړي، حالانکه ددې هيڅ ثبوت نشته۔

بيا کله چه اولنے اذان منبر ته د امام ختو ته نزدې وي، دې وجې نه دوئ دريم بدعت ته هم محتاجه کيږي، او هغه د جُمعې د خطبې نه مخکښې په کافي وخت کښې وعظ او نصيحت

کول دي۔

لهذا دا نۀ د نبي اکرم ﷺ **تابعداري** ده، اونۀ د عثمان رضي الله عنه۔ مسلمانانو له پکار دي چه د هر قِسم بدعاتو نه ځان وساتي۔ او د نبي اکرم ﷺ او د خلفاء راشدينو په اجماعي سنت باندے منګولے ولږوي۔ او د چا د وجے نه د نبي اکرم ﷺ سنت طريقه پرے نۀ ږدي۔

سوال : بعضِ خلکو د جُمعے د اولني اذان دپاره ددے آيتِ کريمه نه استدلال کړے چه : ﴿ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾.

(کله چه د جُمعے په ورځ د مانځه دپاره اذان وکړے شي نو تاسو د الله ذکر ته د تللو اهتمام وکړئ او اخستل خرڅول پريدئ)۔

وائي : د خطبے نه مخکښے يو اذان پکار دے، دے دپاره چه مسلمانان د مانځه دپاره تيارے وکړي او منبر ته د امام ختلو نه مخکښے مخکښے جومات ته لاړ شي، نو معلوميږي چه منبر ته د امام ختلو نه مخکښے اذان کيږي او دا اولنے اذان دے، ځکه د خطبے والا اذان، په منبر باندے د امام کيناستو نه پس کيږي۔

جواب : که چرے د آيتِ کريمه مطلب دا وے نو نبي اکرم ﷺ به هيڅ کله ددے خلاف نۀ وے کړے او د هغوئ عمل به هيڅ کله د قرآن خلاف نۀ وے۔ حالانکه نبي اکرم ﷺ به صرف يو اذان کولو۔ نو معلوميږي چه د قرآن نه دغه استدلال کول صحيح نۀ دي۔ ددے دليل دادے چه په صحيح ابن خزيمه کښے د صحيح بخاري پشان روايت راغلے، خو د هغے په اوله کښے دا الفاظ دي :

[كَانَ النِّدَاءُ الَّذِيْ ذَكَرَ اللّٰهُ فِي الْقُرْآنِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ وَإِذَا قَامَتِ الصَّلَاةُ].

(په قرآن کښے چه کوم اذان الله تعالىٰ د جُمعے په ورځ ذکر کړے، نو دا به هغه وخت کيدۀ کله به چه امام خطبے ته راووتۀ او مونځ به ودريدۀ)۔

[صحيح ابن خزيمة : ۱۳٦/۳].

دويم : دا چه د جُمعے مانځه دپاره وختي تلل او منبر ته د خطيب د ختلو نه مخکښے جومات ته تلل اګرکه مستحب دي د خپلو دلائلو د وجے نه، مګر دا واجب نۀ وي۔ دومره ده چه ددۀ نه به د وختي تللو ثواب فوت شي او د ملائکو په صحيفو کښے به ددۀ نوم ليکل رانشي هر کله چه د خطبے شروع کيدو په وخت جومات ته ورسيږي، نو ددے نه به محروم

وی۔ او هر چه د ګنهګاریدو خبره ده نو ددے وخت هله شروع کیږی چه کله امام په منبر باندے کینی او اذان وشی نو ددے نه پس اخستل خرڅول کول او په بل کار مشغولیدل ناجائز دی۔ بلکه هر څۀ به پریدی او جومات ته به راځی۔ او د معتبرو امامانو نه ددے تفسیر نه علاوه د آیتِ کریمه بل هیڅ تفسیر نۀ دے نقل شوے۔

۲۶ – **بدعت** : د جُمعے په ورځ منبر ته نزدے اذان کول او د مؤذنینو شماره زیاتیدل :

شیخ علی محفوظؒ د عثمان رضی الله عنه د اذان ذکر کولو نه پس فرمائی :

بیا ددے نه پس دوه بدعتونه پیدا شو :

اول : دا اذان منبر ته نزدے کول، لکه څنګه چه په دے وختونو کښے کیږی۔

دویم : په یو اذان باندے زیادت کول او دویم اذان د اول اذان نه پس په چبوتره باندے کول چه دا ګویا د اول اذان جواب ورکول دی۔

د اولنی بدعت ایجاد کونکے هشام بن عبد الملك دے، صحیح خبره داده چه دا کار مکروه بدعت دے، او هغه کار چه نبی اکرم ﷺ او د هغۀ نه پس د هغۀ خلفاء راشدینو کړے همغه سنت دے۔ او خیر د همدوئ په تابعداریٔ کښے دے۔

دویم بدعت : (یعنی جومات کښے دننه دویم مؤذن راتلل) نو دیته څۀ ضرورت نشته یو مؤذن کافی وی۔ لکه مخکښے تیر شو چه یو اذان کول پکار دی۔

او د خطبے والا اذان به هم په هغه ځائے باندے کوی په کوم ځائے باندے چه عام اذانونه کیږی۔ او مخکښے تیر شو چه اذان په اوچت ځائے باندے کول مستحب دی۔

○ او چا چه ویلی دی چه د خطبے والا اذان به په (جومات) کښے د خطیب (مخامخ) کوی، نو هغوئ د سائب بن یزیدؓ په حدیث باندے استدلال کړے او هغه حدیث دادے :

[محمد بن إسحاق عن الزهری عن السائب بن یزید قال : كَانَ يُؤَذَّنُ بَيْنَ يَدَىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ إِذَا جَلَسَ عَلَى الْمِنبَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ وَأَبِىْ بَكْرٍ وَعُمَرَ].

(محمد بن اسحاقؒ د زهریؒ په واسطه د سائب بن یزیدؓ نه روایت کوی چه هغه وائی : د رسول الله ﷺ مخامخ به هغه وخت د جُمعے په ورځ د جومات په دروازه باندے اذان کیدۀ کله به چه نبی ﷺ په منبر کیناستۀ۔ دغسے به ابو بکر او عمر i هم کول)۔

[ابوداود : ۱/۲۸۵].

جواب: دا حدیث د امام المغازی محمد بن اسحاقؒ نه نقل دے، او دا اګرکه رشتینے دے لیکن دے مدلس وو، او دلته ئے د خپل شیخ (زهریؒ) نه په عَنْ سره روایت کړے، نو ددهٔ په هغه زیادت به دلیل نهٔ نیول کیږی کوم چه ددهٔ نه سیوا نورو راویانو نهٔ وی نقل کړے.

او په کوم روایت کښے چه محمد بن اسحاقؒ په تحدیث روایت کړے نو په هغے کښے نه د (مخامخ) لفظ شته او نهٔ د (جومات) لفظ شته.

[مسند احمد: ۳/۴۴۹].

او دا حدیث د امام زهریؒ نه اوو (۷) شاګردانو نقل کړے په هغوئ کښے هیچا د اذان د ځائے ښودلو دا زیادت نهٔ دے ذکر کړے.

[عون المعبود، ونقله عنه الشيخ عبد العزيز بن باز فی تحقیقه على المجلد الثانی فی فتح الباری: ۲/۳۹۴، وأقره ونفى صحة هذه الزيادة بقوله: فيها نظر].

۲۷ – **بدعت**: شیخ علی محفوظؒ فرمائی: د جُمعے په ورځ د اذان نه پس په اوچت آواز سره د خطیب مخامخ دا آیت لوستل: ﴿إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ﴾ بیا دا حدیث لوستل: (کله چه تا خپل ملګری ته د جُمعے په ورځ وویل چه غلے شه او امام خطبه ویله نو تا لغوه کار وکړو).

نو دا کار کول قبیح بدعت دے. بیا ئے د مختلفو مذاهبو د علماؤ نه ددے بدعت والے ثابت کړے دے. [الإبداع فی مضار الابتداع].

علامه قاسمیؒ د ابن الحاجؒ نه نقل کړی دی: مؤذنین ددے بدعت نه منع کول پکار دی چه امام کله جومات ته خلکو ته راوځی نو په دے وخت کښے مؤذنین پاسیږی او په نبی ﷺ درود وائی او دا کار بار بار کوی تردے چه امام منبر ته ورسی. اګرکه په نبی ﷺ درود ویل بهترین عبادت دے، خو په دے کیفیت او التزام سره لوستل ئے بدعت دی.

[إصلاح المساجد للقاسمیؒ].

دارنګه فرمائی: د جُمعے په ورځ د منبر مخامخ په جومات کښے د موذنینو راجمع کیدل او منبر ته د امام د ختلو نه مخکښے او روسته په شریکه سره په اوچت آواز درود ویل او خصوصًا [وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ] سره نعرے وهل دا هر څهٔ بدعت دی. دغه شان ددے دپاره یو خوږ آواز والا مقررول او د نبی ﷺ په مدح کښے په جومات کښے په اوچت آواز سره

نعتونه ویل بدعت دي. حالانکه دې ناپوهه مؤذنینو ته دا پته نشته چه سنت طریقه داده چه د جُمعې په ورځ په خاموشۍ سره امام منبر ته راشي او کله چه په منبر کېني نو مؤذن اذان وکړي او امام خطبې ته پاسي. چه په دې مینځ کښې هیڅ قِسم شور او زوګه نۀ وي. خو زیاتره مؤذنین د دیني فهم نه خالي وي. الله تعالیٰ دې مونږ ټول معاف کړي او مونږ ته دې هدایت وکړي.

[إصلاح المساجد].

۲۸ – **بدعت:** خطیب چه کله بادشاه یا حاکم ته دعاء کوي نو مؤذنین په اوچت آواز سره په شریکه د آمین آمین نعرې وهي، او بادشاهانو ته دعاګانې کوي. نو دا اتفاقي طور سره قبیح بدعت دې. او خصوصًا بیا په دې دعاء کښې خوش آوازي او تکلفات کول چه ددې په وجه د خطبې آوریدو نه د خلکو توجه بل خوا واوړي.

[الإبداع فی مضار الابتداع].

او د مؤذنینو دا کار د نصاراؤ سره مشابه دې چه دوئ هم په خپلو ګیرجو کښې ټنګ ټکور او شعرونه وائي، حالانکه د مؤذن او غیر مؤذن ټولو دپاره خطبې ته غوږ کېښودل واجب دي.

۲۹ – **بدعت:** د جُمعې په ورځ چبوترې ته د مؤذنینو او مبلغینو او د هغه خلکو ختل چه هغوئ سورت کهف لولي، دارنګه ددې دپاره په زیاتره جوماتونو کښې کرسۍ کېښودل. هر چه اذان دې نو تا وپیژندله چه دا په جومات کښې دننه کول منع دي نو بیا په جومات کښې ددې اذان دپاره څنګه چبوتره جوړه کړې شي. دارنګه د کرسۍ کېښودلو هم هیڅ ضرورت نشته، وجه داده چه :

(۱) یو خو دا په جومات کښې ډیر ځائې نیسي حالانکه دا د مانځه دپاره وقف شوې زمکه ده.

(۲) دویم دا چه: دوئ پرې سورت کهف لولي، حالانکه تا مخکښې ددې حال وپیژندۀ. او د ټولو نه اول په کرسۍ باندې د قرآن د لوستلو بدعت حجاج بن یوسف ثقفي ایجاد کړې وو. چه ددۀ نه مخکښې چا دا کار نۀ وو کړې.

[الإبداع فی مضار الابتداع].

٣٠ – په اوچت آواز سره په مانځه کښې د مؤذن تکبیر کول هر کله چه حاجت اوضرورت نۀ وی، دا بدعت دے، اوکه حاجت وی نو بیا جائز دی۔

د زیاتره مؤذنینو دا عادت دے چه په غیر د ضرورت نه اجتماعی طور سره تکبیر کوی، حالانکه په دے کښې څو خرابئ دی :

(١) د مانځه نه خشوع او آرام ختمیږی۔

(٢) اجتماعی طور سره تکبیر کول۔

(٣) امام د مقتدی په حکم کښې ګرځی ځکه چه دا د مبلغ د اوریدو تکبیر په انتظار وی چه کله به ختمیږی او بل رکن ته به امام نقل کیږی۔

(٤) زیاتره مبلغین او مکبرین په غیر د ضرورت او حاجت نه تکبیرونه کوی، تردے چه که مسجد وړوکے هم وی او د امام آواز اوچت هم وی نو بیا هم دوئ تکبیرونه کوی۔ حالانکه په دے کار سره دوئ په مونځ ګذارو باندے تشویش او ګډوډی راولی او دا کار جائز نۀ دے۔

او هر چه د ابوبکر صدیق رضي الله عنه تکبیر کول وو روستو د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نو دا د شرعی ضرورت او د حالت مطابق وو۔

[الإبداع فی مضار الابتداع ص : ٨٣].

او اوس وخت کښې خو خلك په لاؤډ سپیکر کښې مونځونه کوی او د امام آواز خوا او شا ټول کورونو والا آوری او ددے باوجود مبلغ او مکبر په خپل خوږ آواز سره په تکبیر باندے آوازونه پورته کوی۔ او کله چه په دوئ باندے رد وکړے شی نو بیا دوئ وائی چه دا کار په حرمینو شریفینو کښې کیږی او څوك پرے رد نۀ کوی۔ [فإنا لله وإنا إليه راجعون].

٣١ – **د تنعیم بدعت** : تنعیم ویل کیږی [نَعَمُ] کلمه ویل۔ د بعضِ اذان کونکو دا عادت دے چه کله مازیګر وخت ته تقریبًا نیمه ګینټه پاتے شی نو د جومات منارے یا صحن ته راشی او په اوچت آواز سره (تنعیم) وائی چه ددے عین ډیر زیات اوږد کړی، او د ساه ختمیدو پورے ئے راکاږی۔ او ددے بدعت ایجاد کونکی مقصد په دے کار سره دادے چه خلکو ته د مازیګر د مانځه وخت وروښائی چه که چانه د ماسپخین مونځ پاتے شوے وی چه هغه د مازیګر مانځه د وخت داخلیدو نه مخکښې اداء کړی۔

ددې بدعت د بدعت کیدو نه سیوا په دې کښې بله خرابي داده چه ددې د وجې نه ډیر خلك د ماسپخین مونځ روستو کوي او په دې امید وي چه لا تنعیم نۀ دې شوې کله چه وشي نو بیا به د ماسپخین مونځ اداء کړو۔ اوس الحمد لله دا د ډیرو جوماتونو نه ختم شوې۔ [إصلاح المساجد].

۳۲ – د پیشمنی د اذان نه پس د [أُمَّةُ خَيرِ الْاَنَام] شعرونه او نظمونه ویل :

مؤذنینو یو بل بدعت دا اختیار کړې چه کله دوئ په رمضان کښې د پیشمنی د اذان نه فارغ شي او صبا راختو ته تقریباً پنځلس مینټه پاتې شي نو مؤذن د منارې نه راکوز شي او د مونځ ګذارو آخرینی صف ته ځان ورسوي او هلته په اوچت ځائې ودریږي او د (امة خیر الانام) نظم یا نثر پیش کوي۔ چه دغه الفاظ ئې سرنامه وي او په دغه قصیده کښې دوئ خلکو ته د رمضان شریف د عبادت ترغیب ورکوي او په یوه خاصه نغمې سره د هغه چا مدح کوي چه هغوئ د پیشمنی اوقاتو اهتمام کړې وي۔ دا هر څۀ بدعت دې۔ خاصکر په دې وخت کښې ډیر خلك تهجد کوي، په ذکر، تلاوت او د مانځه په انتظار کښې مشغول وي په هغوئ باندې تشویش او ګډوډي راولي او په مسجد کښې اواز اوچتوي۔

او بعضِ مؤذنینو ته چه دغه ترانه نۀ ورځي نو بیا په اوچت آواز سره درود وائي او په خلکو باندې تشویش او ګډوډي راولي۔

[إصلاح المساجد].

۳۳ – د رمضان [الوداعی ترانه] ویل :

په ډیرو جوماتونو کښې دا خراب عادت هم جاري دې چه کله د رمضان پنځه یا درې شپې پاتې شي نو اذان کونکي او د هغوئ ملګري راجمع شي او کله چه امام د وترو نه فارغ شي نو دوئ منقوله تسبیح ویل پریدي او د رمضان الوداعی ترانې شروع کړي او دا په اوچت سره وائي۔ او دا په اجتماعي توګه په خوش آوازئ سره وائي، او د دوئ سره نور عام مونځ ګذار هم مدد کوي۔ او ددې په ویلو کښې نارینه، زنانه ماشومان او ځوانان ټول شرکت کوي او په مسجد کښې ئې یو شور او زوګ شروع کړې وي۔

دا بدعت په ګنړو منکراتو باندې مشتمل دې۔ مثلًا په جومات کښې آوازونه پورته کول چه دا سخت مکروه کار دې۔ دارنګه سرودونه او نغمې ویل حالانکه جوماتونه خو

صرف د الله ذکر او عبادت دپاره جوړ شوی دی۔ دارنګه دے کار دپاره د ښځو، نارینه ؤ، ځوانانو او هغه لوړانو راجمع کیدل چه هغوئ د مانځه نه پس صرف همدے آوریدو دپاره جومات ته حاضریږی۔ دارنګه په دے سره د ښځو او نارینه ؤ اختلاط او ګډون راځی۔ دارنګه په دے سره جومات خیرن کیږی۔ او په هغے کښے چغے او سورے او شور او زوګ اوداسے نارا کیږی که چرے سلفو دا کار لیدلے وے نو ددے بدعت کونکی به ئے د خپل لاس په طاقت سره برابر کړی وے۔

[إصلاح المساجد].

۳٤ – بدعت: د ټولو مونځونو نه پس په چغو او سورو سره آمین ویل، او منقول وِرد او ذکر پریښودل او په چغو چغو سره درود لوستل:

په ځینے جوماتونو کښے چه کله امام د مازیګر د فرض مونځ سلام واړوی نو مؤذن په آمین او په دعاء باندے چغے وهی۔ او په ځینے جوماتونو کښے چه کله امام د فرض مانځه نه پس سلام واړوی نو ټول مقتدیان په جهر سره په یو آواز سره درود لولی۔ حالانکه دا ښکاره د سنت مخالفت دے۔ ځکه د فرضو نه پس په هغه ذکر او دعاء باندے مشغولیدل سنت دی کومه چه په حدیثو کښے راغلی دی او هغه هم په پټه۔

صرف دومره ده چه د ابن عباس رضي الله عنه په حدیث کښے په تکبیر باندے (جهر) راغلے۔ لکه هغه فرمائی: (مونږ به د رسول الله صلى الله عليه وسلم مونځ ختمیدل په تکبیر سره پیژندل)۔ (بخاری)۔

او د هغهٔ په بل روایت کښے جهر بالذکر راغلے۔ لکه هغه فرمائی: (د نبی صلى الله عليه وسلم په زمانه کښے به د فرض مانځه نه پس ذکر باندے جهر کیدهٔ)۔ (بخاری)۔

خو په دے حدیث کښے چه کوم (ذکر) راغلے، ددے نه مراد (تکبیر) دے کوم چه په مخکنی حدیث کښے ذکر شو۔ په دے کښے به عام په خاص باندے حملولے شی او د (ذکر) نه به مراد (تکبیر) اخستلے شی، ځکه ددے دواړو حدیثونو مخرج یو دے، نو اولنے حدیث به د دویم حدیث دپاره مفسر واقع کیږی، لکه دا د اصولینو اتفاقی اصول دی۔

[بینه الحافظ فی الکلام علی باب: لا یمس ذکره بیمینه إذا بال من صحیح البخاری فلیراجع: ۱/۲٥٤].

۳٥ – د اذان جواب نهٔ ورکول، دارنګه د اذان نه پس په نبی اکرم صلى الله عليه وسلم باندے درود نهٔ ویل، او د هغوئ دپاره د وسیلے دعاء نهٔ غوښتل، نو دا ډیره لویه ناپو هی او محرومتیا ده:

مخکښې تیر شو چه صرف د مؤذن درود ویل او هغه هم د اذان نه پس په اوچت آواز سره د اذان د الفاظو په آواز کښې دا قبیح بدعت دے۔ سنت طریقه داده چه مؤذن او آوریدونکی ټول د اذان او د هغې د جواب نه فارغ شي نو اول به په پټه سره درود ولولی بیا به د وسیلے دعا وکړي کومه چه منقوله ده او د هغې الفاظ مخکښې تیر شو۔

[السنن والمبتدعات].

۳٦ – د مؤذن د [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] ویلو په وخت [اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مُفْلِحِيْنَ] ویل بدعت دی۔

دا په یو ضعیف حدیث کښې راغلی چه په هغې کښې دوه متروك راویان دی، بلکه په دوئ کښې یو راوی په دروغو سره تورن شوے هم دے او هغه (نصر بن طریف ابو جزء القصاب) دے، داوجه ده شیخ البانیؒ دا حدیث په [ضعیف الجامع الصغیر] او په [سلسلة الاحادیث الضعیفة حدیث : ۷۰٦] کښې ذکرکړے۔ او فرمائی: دا منکرت حدیث دے۔

صاحب د [السنن والمبتدعات] دا حدیث ذکر کړے او فرمائی چه دا حدیث ابن سنی د معاویهؓ نه په ضعیف سند سره روایت کړے لکه دا په (الجامع او د هغې په شرح کښې) راغلی دی۔

بیا فرمائی : د اعمالو د فضائلو په باره کښې چه کوم (ضعیف) حدیثونه راغلی وی په هغې باندے د بعضِ علماؤ په نیز عمل کول جائز دی خو په دے شرط چه د هغې حدیثونو ضعف او کمزوری زیاته نهٔ وی، ګنے بیا پرے عمل کول حرام دی)۔اهـ

خو دا خبره کمزورے ده۔ ځکه د علامه دا خبره چه (په ضعیف سند سره روایت شوے دے) ددے نه معلومیږی چه د دغه حدیث سند معمولی ضعیف دے۔ حالانکه دغه حدیث موضوع او منکرت دے۔

او د بعضِ علماؤ نه ئے چه په معمولی ضعیف حدیث باندے د عمل کولو جواز نقل کړے، نو دا خبره د هغوئ نه منقول ده۔ لیکن د دوئ دا خبره مرجوحه ده۔

راجحه او غوره خبره داده چه : په ضعیف حدیث باندے عمل کول جائز نهٔ دی۔ نهٔ په فضائلو کښې اونهٔ په مسائلو کښې۔ ځکه فضائل او مسائل دا دواړه شرع ده۔ او د شریعت د اجزاؤ ترمینځه تفریق او جدا والے را وستل دلیل غواړی۔ چه یو د بل نه جدا کړی۔ او هر کله چه دا قِسم دلیل نشته نو معلومه شوه چه د دواړو حکم یودے۔ هغه دا چه فضائل وی که مسائل او احکام وی په دواړو کښې به صرف په هغه څهٔ باندے عمل کولے شی چه

هغه ثابت وي.
او همدا مذهب د امام مسلم رحمه الله هم دے، چه د ضعيفو حديثونو روايت كول او په هغے باندے عمل كول جائز نۀ دي.
[ذكره مسلم في مقدمة صحيحه، فليراجع فإنه مهم].
او د اولني قول والو په ضعيف حديث باندے د اعمالو په فضائلو كښے چه عمل كول جائز ګڼړلي دي نو هغوئ په دے كښے شرطونه ويلي دي. يو شرط په كښے دادے چه دغه حديث به سخت ضعيف نۀ وي. خو اوس زمونږ په دے زمانه كښے چه كوم خلك فقه او وعظ ته منسوب دي، دوئ ته چه كله وويل شي چه دا تا چه كوم حديث بيان كړو دا خو ضعيف دے، نو دوئ په ډيره آسانئ باندے جواب وركوي چه په (ضعيف حديث باندے عمل كول په فضائل الاعمال كښے جائز دي). حال دا چه دغه مسكين به د هغے هيڅ سند نۀ وي كتلے چه د دغه حديث كمزوري لږه ده او كه ډيره. بلكه د سره د علم الحديث نه به خبر هم نۀ وي.
د الله عز وجل نه غواړو چه ددے امت دپاره داسے خلك پيدا كړي چه ددے تجديد وكړي او د سر نه ئے بيا په خپل اصلي شكل كښے پيش كړي، او د خلكو سابقے او لاحقے ترے ګذار كړي. دے دپاره چه ټول خلك په بصيرت او عقلمندئ سره د الله عبادت كونكي جوړ شي.
٣٧ – ډير خلك د مؤذن جواب نۀ وركوي، او نۀ د اذان نه پس په نبي ﷺ درود لولي، او نۀ د وسيلے او فضيلت دعاء غواړي. او چه كله مؤذن اقامت كوي نو دغه درے كارونه دوئ د اقامت سره كوي. حالانكه دا كار صحيح نۀ دے.
او د ابن السني په كوم روايت كښے چه راغلي دي چه: (ابو هريره رضي الله عنه به چه كله د مؤذن اقامت واوريدۀ نو دا دعاء به ئے ويله: [اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة صل على محمد وعلى آله، وآته سؤله يوم القيامة] (اے ددے پوره دعوت او ودريدونكي مانځه خاونده! په محمد ﷺ او د هغۀ په آل باندے رحمت راؤليږه، او د قيامت په ورځ د هغۀ سوال قبول كړه).
نو دا حديث سخت ضعيف دے، او دليل نشي جوړيدے. وجه داده (١) يو خو د ابو هريرةؓ نه چه چا دا حديث نقل كړے چه هغه (عبد الله بن ضمرة) دے، دۀ ته صرف عجلي او ابن

حبان ثقه ویلی۔ (تهذیب) حالانکه په توثیق کښې ددې دواړو تساهل او سستی معلومه ده۔ دا وجه ده، حافظ ابن حجرؒ په (التقریب) کښې په دې خبره اکتفاء کړې چه دهٔ ته عجلی ثقه ویلی۔ او د چا چه دا حالت وی نو هغه مجهول الحال وی۔ (۲) په دې حدیث کښې بل راوی غسان بن الربیع دې۔ ددهٔ نقل کړې حدیث دلیل نهٔ وی۔ (میزان)۔ دارقطنیؒ وائی : دا ضعیف دې۔ (۳) ددې باوجود دا مرفوع حدیث نهٔ دې بلکه د ابو هریرهؓ وینا ده۔

[انظر السنن والمبتدعات ص : ۸۳].

۳۸ – د اقامت جواب ورکولو په وخت [نَعَمْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ] **ویل بدعت دی۔**

۳۹ – د اقامت کونکی د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] **ویلو په وخت** [أَقَامَهَا اللّٰهُ وَأَدَامَهَا] **ویل۔ او بعضِ په کښې دا لفظ هم زیاتوی** [وَاجْعَلْنِيْ مِنْ صَالِحِ أَعْمَالِهَا أَوْ أَهْلِهَا].

دا ثابت نهٔ دی، ددې حدیث سند سخت ضعیف دې۔ او صاحب د [السنن والمبتدعات] دا حدیث صرف د شهر بن حوشب د وجې ضعیف ګرځولې، حالانکه ددې ضعیف والې ددې نه هم سخت دې، ځکه د شهر بن حوشب نه روایت کونکې نامعلوم دې۔ او ددې نامعلومه شخص نه روایت کونکې محمد بن ثابت العبدی دې۔ دا رشتینې دې لیکن کمزوری په کښې ده۔ نو دا سند واهی (سخت ضعیف) دې۔

۴۰ – په ترانو او شعرونو ویلو باندې د مؤذنینو جهر کول :

علامه قاسمیؒ فرمائی : هره شپه یا د ګل او جُمعې په شپه په مشهورو جوماتونو کښې (لکه د دمشق په جامع کښې) په اوچت آواز سره ترانې او قصیدې لوستل بدعت او نا روا دی۔ [إصلاح المساجد].

۴۱ – په منارو کښې غزلې او بیتونه ویل : امام قاسمیؒ د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نه نقل کړی دی چه دویٔ نه پوښتنه وشوه چه : یو مؤذن دې چه منارې ته وخیژی نو داسې بیتونه وائی چه په هغې کښې د دوستانو د فراق اوجدائی تذکرې وی، نو په دهٔ باندې یو بل سړې رد کوی او ورته وائی چه دا کار مهٔ کوه، بلکه تسبیح، تحمید او ربانی قصیدې لوله، نو آیا دا دویم کس په حقه دې اوکه نه ؟

شیخ الاسلام جواب ورکړو چه : هو ! مؤذن به د هغه قصیدو او چاربیتو ویلو نه منع کولې شی چه هغه د نیاحت او د ویر نه حسابیږی، دغه شان هغه به د غزلیاتو ویلو نه منع

کولے شي ځکه چه په دے کښے ډير مفاسد او خرابئ دی۔ او دا د هغه ذکر نه نهٔ ګڼړلے کيږي کوم چه د مؤذن دپاره روا دے۔ البته هغه شعرونه او بيتونه ذکر کول چه په هغے کښے آيتونه، حديثونه او د توبے او استغفار بيان وی، نو په دے کښے د مؤذن دپاره څهٔ ګنجائش شته دے۔ والله اعلم۔

بيا قاسمیؒ په (فائدة) کښے فرمائی : سيوطیؒ په (اوائلو) کښے ويلی دی چه : اولنے هغه انسان چه د مصر منارے ته د اذان دپاره ختلے دے شرحبيل بن عامر المرادی دے۔ دهٔ د معاويه رضی الله عنه په حکم د منارے دپاره پوړئ جوړه کړے وه، چه ددے نه مخکښے نهٔ وه۔

او ابن سعدؒ په خپل سند سره د زيد بن ثابتؓ د مور نه روايت کوی دا وائی : (زما کور د جومات نه په ګير چاپير کورونو کښے ډير اوچت کور وو، بلال به د هغے دپاسه اذان کولو، تردے چه رسول الله ﷺ مسجد جوړ کړو۔ نو بيا به ئے ددے نه پس د جومات په چت باندے اذان کولو، او د هغهٔ دپاره په چت باندے څهٔ اندازه اوچت ځائے جوړ شوے وو)۔

[إصلاح المساجد].

دا خبره هم د غور وړ ده چه اګرکه د جومات منارو ته مونږ بدعت نشو ويلے، ځکه چه دا د يو اصل او قاعدے لاندے راځی او هغه دا چه مؤذن دپاره مستحب دی چه په يو اوچت ځائے باندے اذان وکړی۔ البته دومره ده چه مونږ دا ويلے شو چه د منارو په جوړولو کښے د تکلفاتو نه ځان ساتل بهتر دی خاصکر د اذان دپاره۔ مؤذن له پکار دی چه يو مناسب اوچت ځائے وګوری او هلته اذان کوی لکه څنګه چه به دا کار بلال رضی الله عنه کولو۔ اوس په دے زمانه کښے منارے جوړول د خلکو د فخر او زينت يوه ذريعه ګرځيدلے چه ډير زيات مالونه په کښے خرچ کولے شي، سره ددے چه مسلمانانو ته په ډکه خيټه خوراك هم نهٔ ملاويږی۔ بلکه په مشرق او مغرب کښے ډير داسے مسلمانان شته چه هغوئ ته داسے وسله نهٔ ملاويږی چه په هغے سره د خپل اهل او عزت نه د کافرو د حملو دفاع وکړی لکه همدا حال نن صبا د افغانستان او نورو ملکونو دے۔

٤٢ – په اذان کولو باندے د مزدورئ شرط لږول :

په اذان باندے د اجرت اخستلو د کراهت په باره کښے وضاحت مخکښے شوے دے۔

٤٣ – په اذانئ کښې د شیعه ګانو ځینے الفاظ زیاتول :

شیعه په اذان کښې په دوه ځایونو کښې زیادت کوی : (۱) د [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] نه پس [أَشْهَدُ أَنَّ عَلِيًّا وَلِيُّ اللّٰهِ] دوه ځله وائی۔ دارنګه د [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] نه پس ئے هم دوه ځله وائی۔ (۲) د دواړو حیعلو نه پس [حَيَّ عَلَى خَيْرِ الْعَمَلِ] وائی۔ په دے کښې شك نشته چه علی رضی الله عنه د الله تعالیٰ ولی دے، خو دا خبره هم یقینی ده چه که علی رضی الله عنه ژوندے وے او دوئ په اذان کښې دا الفاظ زیاتی کړی وے، نو هغه به هیڅ کله په دے قبیح بدعت باندے راضی شوے نهٔ وے۔ ځکه د الله اولیاء په دین کښې نوو نوو خبرو زیاتولو باندے خوشحالیږی نهٔ۔ ځکه هر بدعت ګمراهی ده او هره ګمراهی به په اور کښې وی۔ دین ددے نوم نهٔ دے چه ګنے د چا په رائے او ښهٔ ګڼړلو سره دے یو شے په هغے کښې زیات کړے شی۔ علی رضی الله عنه دے پورے ویلی دی چه : (که د دین بنیاد په رائے او عقل باندے وے نو بیا خو د موزے لاندے طرف د باندے طرف نه په مسح کولو باندے زیات لائق دے)۔

[رواه أبوداود بسند حسنه الحافظ في بلوغ المرام].

٤٤ – د اخترونو مونځونو او د جنازے، کسوف او استسقاء مونځونو دپاره اذان کول :

چه ددے مونځونو دپاره د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه اذان کول ثابت نهٔ دی او نهٔ دے دپاره اقامت ثابت دے۔ بلکه په بعض مونځونو کښې ددے ښکاره نفی راغلے۔

لکه جابر بن عبد الله انصاری رضی الله عنه فرمائی : [لَا أَذَانَ لِلصَّلَاةِ يَوْمَ الْفِطْرِ حِينَ يَخْرُجُ الْإِمَامُ وَلَا بَعْدَ مَا يَخْرُجُ وَلَا إِقَامَةَ وَلَا نِدَاءَ وَلَاشَيْءَ لَا نِدَاءَ يَوْمَئِذٍ وَلَا إِقَامَةَ].

(د وړوکی اختر په ورځ نهٔ د امام د راوتو نه مخکښې اذان او اقامت یا آواز شته او نهٔ د امام راوتو نه پس دا کارونه شته)۔

[صحیح مسلم : ۱۷٦/٦، صحیح بخاری].

په دے روایت کښې په هغه چا رد هم دے چه هغه وائی د دواړو اخترونو دپاره به داسے آواز کوی چه [اَلصَّلَاةَ جَامِعَةً] مونځ ودریدونکے دے۔ نو په دے روایت کښې راغلل چه دا کار به هم نهٔ کیدهٔ۔

دارنګه د جابر بن سمرة رضی الله عنه k په حدیث کښې دی : (ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بے شماره ځله د دواړو اخترونو مونځونه کړی دی، چه په هغے کښې به نهٔ اذان وو او نهٔ اقامت)۔

[صحیح مسلم : ۱۷۶/٦].

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښې دا دلائل ذکر کړي دي، بیا فرمائي : البته امام شافعيؒ د یو ثقه نه او هغهٔ د زهريؒ نه نقل کړي دي چه : (رسول الله ﷺ به په دواړو اخترونو کښې مؤذن ته امرکولو چه داسې ووائي : الصلاة جامعة).

او دا مرسل حدیث دې چه په صلاةِ کسوف باندې قیاس ددې تائید کوي، ځکه په هغې کښې دا ثابت دې. بیائې په دې مسئله کښې د امام شافعيؒ ځینې اقوال ذکر کړي دي.

[فتح الباری : ٤٥٢/٢].

خو دلته په حافظ ابن حجرؒ باندې ددهٔ ((شافعیت)) غالبه شوې دې. ګنې دې په زیاتره مسئلو کښې چه هغه ددهٔ د مذهب خلاف وي، د انصاف نه کار اخلي، او د دلیل تابعداري کوي اګرکه دغه مسئله ددهٔ د مذهب خلاف هم وي، او همدا د ټولو محدثینوؒ منهج او طریقه ده.

داوجه ده، شیخ عبد العزیز بن باز رحمه الله د (فتح الباری) په حاشیه کښې فرمائي :

د امام زهريؒ مراسیل د اهلِ علمو په نیز ضعیف دي. او د نص په موجودګئ کښې قیاس له هیڅ اعتبار نشته. هغه دا چه د نبي ﷺ په زمانه کښې به د اختر مانځه دپاره نهٔ اذان کیدهٔ نهٔ اقامت او نهٔ بل یو شې. او د همدې ځائې نه معلومه شوه چه د اختر په ورځ د مانځه دپاره هر قِسم آوازونه کول بدعت دې. اهـ

او همدا د انصاف تقاضا ده، الله تعالیٰ دې دهٔ له جزائې خیر وکړي !

○ او هر چه صلاةِ کسوف دې، نو خاص ددې دپاره د [اَلصَّلَاةَ جَامِعَةً] آواز لړول په صحیح حدیث کښې راغلي دي.

عبد الله بن عمر رضي الله عنه فرمائي : [لَمَّا كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ نُوْدِيَ : الصَّلَاةَ جَامِعَةً] (د رسول الله ﷺ په زمانه کښې چه کله نمر خړ شو نو آواز وکړې شو چه مونځ ته حاضر شئ په داسې حال کښې جماعت سره کیدونکې دې).

[صحیح بخاری : ٥٣٣/٢].

د عائشې k په حدیث کښې دي :

[إِنَّ الشَّمْسَ خَسَفَتْ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَبَعَثَ مُنَادِيًا : الصَّلَاةَ جَامِعَةً، فَاجْتَمَعُوْا وَتَقَدَّمَ

فَكَبَّرَ وَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ].

(د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نمر تندر ونیوهٔ نو هغوئ یو آواز کونکے ولیږهٔ چه دا آواز وکړی چه د جماعت مانځه ته راشئ، نو خلك راجمع شو او نبی ﷺ مخکښې شو او تکبیرئے وکړو او په دوه رکعتونو کښې ئے څلور رکوع ګانے او څلور سجدے وکړے).

[صحیح مسلم : ۲۰۳/٦].

او د صلاۃِ کسوف نه علاوه د نورو مونځونو دپاره به نهٔ اذان کیږی، اونهٔ بل آواز او نهٔ اقامت. اوکه په دے کښې یو هم وکړے شو نو دا بدعت دے.

بعضِ یمن والو کښې چه کله څوك مړ شی نو د کور دپاسه وخیژی او اذان کوی. دغه شان د اذان خانو نه د مړو وغیره ؤ دپاره اعلانونه کول - څنګه چه د مصریانو وغیره ؤ رواج دے - دا ټول بدعت دے.

٤٥ - د اذان په آخره کښې دوه ځله [لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ] ویل د شیعه ګانو عمل دے.

ځکه د اذان په باره کښې د راغلو ټولو روایتونو نه ثابته ده چه د اذان په آخره کښې صرف یو ځل [لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ] راغلے. او په دے باره کښې صریح دوه روایتونه هم راغلی چه د هغے نه یو مقطوع دے د تابعی خبره ده، او بل موصول دے چه بلال رضی الله عنه ته رسیدلے دے.

اول : ابراهیم نخعیؒ فرمائی : (د اذان آخر : اَللّٰهُ اَكْبَرُ اللّٰهُ اَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دے).

[مصنف عبد الرزاق : ۴۵۷/۱].

دویم : اسودؒ فرمائی : د بلال رضی الله عنه د اذان آخرنی الفاظ دا وو : [اَللّٰهُ اَكْبَرُ اللّٰهُ اَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ]. [پورتنئ حواله].

[انتهیٰ کلام أبی حاتم فی کتاب الأذان وهو مفید جدًا].

وصلی الله علی محمد وآله وصحبه وسلم.

د جُمعے د ورځے اذان به کوم ځائے کیږی ؟

۵۳۲ - **سوال**: د جُمعے په ورځ به اذان د خطیب مخامخ کیږی اوکه د جومات په دروازه؟

جواب : دا اذان به په اذان خانه کښې یا د مسجد نه بهر کولے شی او په جومات کښې به ئے

نـهٔ کوی۔ دے وجے نه اذان عثمانی په دروازه باندے کول او اذان نبوی په جومات کښے کول بدعت دے۔

سائب بن یزیدؓ فرمائی : [إِنَّ الْأَذَانَ يَـوْمَ الْـجُمُعَةِ كَانَ أَوَّلُهُ حِيْنَ يَجْلِسُ الْإِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى الْـمِـنْبَرِ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَأَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ – رضى الله عنهما – فَلَمَّا كَانَ خِلَافَةُ عُثْمَانَ رضى الله عنه وَكَثُرُوْا، أَمَرَ عُثْمَانُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِالْأَذَانِ الثَّالِثِ، فَأُذِّنَ بِهِ عَلَى الزَّوْرَاءِ، فَثَبَتَ الْأَمْرُ عَلٰى ذٰلِكَ].

[أخرجه أبوداود : ١٦٢/١، باب النداء يوم الجمعة، والترمذى والنسائى : ١٠٧/١، وأحمد : ٤٤٩/٣، والشافعى فى الأم : ١٧٣/١، والبخارى أيضًا كما فى الأجوبة النافعة ص ٩، وإسناده صحيح].

شیخ البانیؒ فرمائی : د مخکنی حدیث نه معلومه شوه چه د نبی اکرم ﷺ او ابو بکر او عمر اپـه زمانـه کښے به اذان د مسجد په دروازه کښے کیدهٔ۔ او د عثمان رضی الله عنه اذان بـه پـه زوراء مـقام کښے کیدهٔ۔ نو که چرے عثمانی اذان ته د څهٔ سبب د وجے ضرورت پیدا شی نو دا به په هغه ځائے کښے کولے شی کوم ځائے کښے چه ضرورت او حاجت وی، په دروازه کښے بـه ئے نهٔ کوی۔ ځکه چه دا د (نبوی اذان) ځائے دے، او نهٔ به ئے په جومات کښے کـوی ځـکه چه دا د بنو اُمیه د دور بدعت دے۔او په دے سره د اذان مقصد هم نهٔ حاصلیږی چه هغه اعلام او خبردارے ورکول دی۔

امـام ابـن عبـد البرؒ د امام مالکؒ نه نقل کړی دی چه د امام مخامخ اذان کول پخوانے عمل نهٔ دے یعنی دا بدعت دے۔ او ددے په بدعت والی باندے ابن عابدین [شامی : ٣٦٢/١] او ابن الحاج [المدخل : ١٠٨/٢] وغیره ؤ تصریح کړے ده۔

امام شاطبیؒ په [الاعتصام :١٤٦/٢] کښے فرمائی : ابن رشدؒ ویلی دی چه د جُمعے په ورځ د امـام مـخـامـخ اذان کـول مکروه دی، ځکه دا بدعت دے۔ او دا بدعت هشام بن عبد الملك پیـدا کړے وو، ځکه دهٔ د (زوراء) اذان بالاخانے ته رانقل کړو، او کوم اذان چه په بالاخانه کښے کیـدهٔ هغـه ئے خپلے مخے ته رانقل کړو۔ او بیا ددهٔ نه پس خلکو په دے کار کښے ددهٔ پیروی کـولـه تـردے چه نوبت زمونږ دے زمانے پورے راورسیدهٔ۔ حالانکه دا بدعت دے۔ او رسول الله ﷺ او د هغهٔ خلفاء راشدینو چه د هغهٔ نه پس کوم کار کړے دے هم هغه سنت دے۔

بیـا فـرمـائـی : دا خبره پیـژنـدل پـکار دی چه دا هیچرته نهٔ دی نقل شوی چه ګنے (نبوی اذان) به منبر مخامخ نزدے کیدهٔ۔

علامه کشمیری وائی: ماته په څلورو مذاهبو کښې دا خبره ملاؤ نشوه چه دا اذان به په (جومات) کښې دننه ویلے کیږی. دومره ده چه صاحب الهدایة ویلی دی چه: په دے اذان باندے (توارث) جاری شوے، بیا نورو هم ددهٔ نه نقل کړے، نو ماته پته ولږیده چه د دوئ سره د صاحبِ هدایه د خبرے نه سیوا بل هیڅ دلیل نشته چه هغه پیش کړے شی.

[فیض الباری: ٢/٣٣٥].

زهٔ (البانیؒ) وایم: په عقلمند سړی باندے پټه نهٔ ده چه دے (توارث) له هیڅ اعتبار نشته:

(١) ځکه دا د نبی اکرم ﷺ او د خلفاءِ راشدینو د سنت خلاف عمل دے.

(٢) بله دا چه ددے ابتداء د هشام بن عبد الملك د دور نه شوے. د صحابه کرامو – رضی الله عنهم – د دور نه نهٔ ده شوے. حالانکه ابن عابدین [شامی: ٢/٧٦٩] ویلی دی چه: هغه نوی عُرف له اعتبار نشته چه هغه د نص خلاف وی، ځکه عُرف هله دلیل جوړیږی چه د صحابه کرامو او مجتهدینو د زمانے نه را روان وی، لکه علماؤ په دے خبره تصریح کړے.

○ نو د مخکنی تحقیق نه معلومه شوه چه اذان **عثمانی** په دروازه کښې کول، او اذان **محمدی** په جومات کښې کول بدعت دے، ددے پیروی کول جائز نهٔ دی، بلکه د جامع مسجد نه ددے ختمول واجب دی، دے دپاره چه د نبی اکرم ﷺ سنت ژوندے شی. اهـ

[الأجوبة النافعة للألبانی ص: ١٤].

زهٔ وایم: دا تحقیق د قبلولو وړ دے، الله تعالیٰ دے هر هغه چاله جزائے خیر ورکړی چه زمونږ د نبی اکرم ﷺ سنت په خپل قول او عمل سره ژوندے کړی.

[انظر عمدة الرعایة حاشیة شرح الوقایة للشیخ عبد الحی: ١/٨٥].

فتاویٰ هندیه [١/٥٥] کښې وائی: پکار دادی چه په اذان خانه کښې یا د جومات نه بهر اذان وکړے شی او په جومات کښې دننه ونهٔ کړے شی.

[انظر رد المحتار: ١/٣٥٧، أحسن الفتاوی: ٢/٢٩٤].

او فتاویٰ دیوبند [٢/٨٥] کښې چه دا ویلی دی چه: (د جُمعے د ورځے اذان په جومات کښې د خطیب مخامخ کول سنت دی، او په جومات کښې اذان مکروه نهٔ دے): نو دا خبره ددهٔ ښکاره غلطه ده. او د پورتنی تحقیق خلاف ده.

د منارې جوړولو حکم

۵۳۳ - سوال : د رسول الله ﷺ په زمانه کښې مناره وه او که نه ؟

جواب : امـام شـاطبیؒ په (الاعتصام) کښې او ابن امیر الحاجؒ په (المدخل) کښې ذکر کړې دي چه نبوي اذان به د جُمعې په ورځ په مناره کښې کیدۀ. امام ابوداوُدؒ هم باب تړلے (باب دے په بیان ددے کښې چه اذان به د منارې دپاسه وي.[۱/۸٤].

شیخ البانیؒ فرمائي : ماته داسې صریحې حدیث نۀ دے معلوم چه په هغې کښې دا راغلي وي چه نبوي اذان به د جُمعې په ورځ په مناره کښې کیدۀ. دومره ده چه مخکښې حدیث کښې دا الفاظ تیر شول چه (اذان به د جومات په دروازه باندې کیدۀ) چه ددې د ظاهر نه معلومیږي چه اذان به د دروازې سره د جومات په چت باندې کیدۀ. ددې تائید ددې نه هم کیږي چه د بلال رضی الله عنه دپاره به یو داسې شئ لړیدلے وو چه هغه به پرې د اذان دپاره ختلو. لکه په صحیح بخاري [٤/۱۱۰] کښې قاسم بن محمدؒ د عائشې رضی الله عنها نه روایت کوي : (بلال رضی الله عنه به د شپې اذان کولو نو رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو خوراك څکاك هغه وخته پورې کوئ چه ابن ام مکتوم اذان وکړي، ځکه دے اذان هله کوي چه صبا راوخیژي. قاسمؒ وائي : ددې دواړو د اذانونو ترمینځه به صرف دومره فاصله وه چه دا یو به وختلو او دا بل به راکوز شو).

نو کیدے شي چه د جومات د دروازې سره پاس په چت باندې یو داسې اوچت شے وو چه هغه د منارې سره مشابه وو. ددې تائید د هغه روایت نه هم کیږي چه هغه ابن سعدؒ [۸/۳۰۷] په خپل سند سره د زید بن ثابت رضی الله عنه د والدې نه نقل کړے، هغه وائي : زما کور د جومات نه په ګیر چاپیره کورونو کښې د ټولو نه زیات اوچت وو، نو بلال رضی الله عنه به د هغې دپاسه د اذان د اولې ورځې د شروع کیدلو نه واخله تردې پورې کولو چه نبي ﷺ خپل جومات جوړ کړو. نو ددې نه پس به بلال د جومات په چت باندې اذان کولو. او د هغۀ دپاره د جومات په چت باندې یو اوچت ځائے جوړ کړے شوے وو.

لیکن ددې حدیث سند ضعیف دے. امام ابوداوُدؒ دا حدیث په حسن سند سره نقل کړے لیکن دا روستنئ جمله ورسره نشته.

ددې موضوع په حقله زۀ (الباني) دې نتيجې ته رسيدلے يم چه دا خبره ثابته نۀ ده چه د نبي ﷺ په جومات كښې مناره معروفه وه. او دا خبره د عبد الله بن شقيق تابعيؒ ددې خبرې سره ټكراؤ نۀ ده چه هغه وائي : [مِنَ السُّنَّةِ الْأَذَانُ فِي الْمَنَارَةِ وَالْإِقَامَةُ فِي الْمَسْجِدِ وَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ يَفْعَلُهٗ] (اخرجه ابن أبى شيبة : ۸٦/۱، بسند صحيح عنه].

(سنت داده چه اذان دې په مناره كښې او اقامت دې په جومات كښې وي، او ابن مسعودؓ به دا كار كولو).

ځكه په اصولو كښې دا خبره ثابته ده چه د تابعي دا خبره چه [مِنَ السُّنَّةِ] دا د مرفوع حديث په حكم كښې نۀ ده. البته صحابي چه [مِنَ السُّنَّةِ] ووائي نو دا په حكم د مرفوع حديث كښې وي.

زۀ وايم : مناره د صحابه كرامؓ او تابعينوؒ په دور كښې موجوده وه، ځكه ابن مسعود ؓ به دا كار كولو.

بيا شيخ البانيؒ فرمائي : خو دا خبره يقيني ده چه اذان به په هغه وخت كښې په جومات كښې په يو اوچت ځائے باندې كيدۀ چه هغې ته به مؤذن ختلو، لكه چه مخكښې تير شو. نو اوس په دې كښې دا احتمال هم شته چه دا پورتني ختل به صرف د جومات چت ته وو، لكه څنګه چه (نبي ﷺ بلال ته د فتح مكې په وخت امر كړے وو چه د كعبې دپاسه اذان وكړي) لكه چه دا حديث ابن ابي شيبه په صحيح سند سره د عروةؒ نه نقل كړے، نو دا صحيح مرسل دے.

او دا هم كيدے شي چه مؤذن به د جومات دپاسه يو اوچت شئ ته ختلو، لكه چه دا د زيد بن ثابت د والدے i په حديث كښې تير شو.

بهر حال واقعه كه هر څنګه وي، خو هغه خبره چه مونږ په هغې باندې يقين كوو هغه داده چه نن صبا چه كومې منارې مشهورې دي ددې وجود په سنت كښې نشته. البته د منارې چه كوم مقصد دے – چه خلكو ته آواز رسول دي – دا بغير شك شبهې نه يو مشروع او جائز كار دے. نو هر كله چه تبليغ او خبردارے وركول ددے نه بغير نۀ حاصليږي نو په دې وخت كښې به دا (مناره) مشروع وي. ځكه په اصولو كښې دا ثابته شوې ده چه د كوم څيز نه بغير واجب شے نۀ حاصليږي نو هغه هم واجب وي.

دومره ده چه زما رائے داده چه د منارو جوړولو په ځائے لاؤډ سپيکرے ددے نه کفايت کوی، خصوصًا اوچتے اوچتے تکلف والا منارے جوړول. چه په دے کښے سره ددے چه دا بدعت دے څۀ فائده هم نشته ځکه مؤذنين ديته نۀ خيژی بلکه په لاؤډ سپيکر باندے کفايت کوی.

[الأجوبة النافعة ص : ١٧].

زۀ وايم : د شيخ البانیؒ خبره ډيره زياته صحيح ده، صرف دومره ده چه هغۀ منارے ته بدعت وئيلی دی، خو دا به هله بدعت وی چه په دے کښے اسراف، مال ضائع کول او فخر وی، لکه نن صبا دا ليدل کيږی. پاتے شوه هغه مناره چه ددے شيانو نه خالی وی او نفع رسوی، نو دا بيا بدعت نۀ دے، ځکه دا د صحابه کرامو j نه ثابته ده، لکه چه مخکښے تير شو.

د جُمعے د ورځے د اولنی اذان حکم

٥٣٤ – **سوال** : د جُمعے مانځه دپاره اولنے اذان څۀ حکم لری ؟ آيا دا جائز دے اوکه نه ؟ او ديته بدعت ويل کيږی اوکه نه ؟

جواب : اول مونږ د شيخ البانیؒ تحقيق ذکر کوو، بيا د هغے خلاصه او نتيجه بيانوو :

هغه فرمائی: يے قيده اويے شرطه مونږ د عثمان ﷛ د عمل اقتداء نه وينو. ځکه د مخکښے نه معلومه شوه چه هغۀ دا اذان د يو معقول علت د وجے نه زياتی کړے وو، او هغه د خلکو ډيروالے او د مسجدِ نبوی نه د کورونو لرے والے وو. نو ځوك چه ددے علت نه مخ اړوی او د عثمان﷛ په اذان باندے په غير د قيد او د شرط نه دليل نيسی، نو دا د عثمان ﷛ تابعدار نۀ حسابيږی بلکه د هغۀ مخالف حسابيږی، ځکه چه دۀ هغه علت ته د اعتبار په نظر ونۀ کتل کوم ته چه عثمان ﷛ کتلی وو. چه که دغه پورتنے علت نۀ وے نو عثمان ﷛ هيڅ کله داسے سړے نۀ وو چه هغه دے د نبی ﷺ په سنت باندے او د هغۀ د دوه خلفاؤ (ابو بکر او عمر i) په سنت باندے زيادت وکړی.

○ عثمانی اذان کله مشروع ګرځی ؟

د عثمان ﷛ صحيح تابعداری هغه وخت راځی کله چه هغه سبب موجود شی د کوم د

وجې نه چه عثمان رضي الله عنه اولنے اذان زياتی کړے وو، او هغه د خلکو تعداد زياتيدل او مسجد نه د کورونو لرے والے دے، لکه مخکښے تير شو.

پاتے شوه داسے ښاريه چه په هغے کښے ډير جامع جوماتونه وی لکه دمشق وغيره، چه په دے کښے د يو ځو قدمه مزل کولو نه پس جومات راځی او د هغے نه انسان اذان آوری چه په منارو کښے کيږی او اوس وخت کښے خو په هغے باندے په لاؤډ سپيکرو کښے اذانونه کيږی، نو په دے سره هغه مقصد حاصليږی د کوم د وجے نه چه عثمان رضي الله عنه اذان زياتی کړے وو، چه هغه ددے خبرے خبردارے ورکول وو چه د جُمعے مونځ حاضر دے.

او همدا د امام قرطبیؒ [تفسير قرطبی : ۱۸/۱۰۰] د هغه خبرے مطلب دے چه هغهٔ د ماورديؒ نه نقل کړے چه : (اولنے اذان نوے پيدا شوے دے، عثمان رضي الله عنه دے دپاره دا کار کړے چه خلك د خطبے حاضريدو دپاره تيارے وکړی هر کله چه مدينه فراخه شوه او د هغے نفری سيوا شوه).

او هر کله چه معامله داسے ده نو د عثمان رضي الله عنه په اذان باندے استدلال نيول تحصيل حاصل (بے فائدے کار) دے. او دا جائز نهٔ دے. خاصکر په داسے قِسم ځائے کښے چه په هغے کښے د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شريعت باندے په غير د څهٔ جائز کونکی سبب نه زيادت کول وی. او کيدے شی چه همدا وجه وی چه علی رضي الله عنه به په کوفه کښے صرف په يو اذان اکتفاء کوله او د عثمان رضي الله عنه زيادت ئے نهٔ اخستلو، لکه چه دا خبره په تفسير قرطبیؒ کښے راغلے.

او ابن عمر رضي الله عنه فرمائی : [إِنَّمَا كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا صَعِدَ الْمِنْبَرَ أَذَّنَ بِلَالٌ فَإِذَا فَرَغَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مِنْ خُطْبَتِهِ أَقَامَ الصَّلَاةَ وَالْأَذَانُ الْأَوَّلُ بِدْعَةٌ] (د نبی صلى الله عليه وسلم طريقه داوه چه کله به منبر ته وختهٔ نو بلال به اذان وکړو او کله به چه نبی صلى الله عليه وسلم د خطبے نه وزګار شهٔ نو بلال به د مانځه دپاره اقامت وکړو، او اولنے اذان بدعت دے).

[رواه أبو طاهر المخلص فی فوائده : ۱/۲۲۹، ۲].

خلاصه دا چه : زمونږ رائے داده چه صرف په (محمدی) اذان باندے اکتفاء وکړے شی، او هغه دا چه اذان دے هغه وخت وشی چه کله امام منبر ته وخيژی. ځکه اوس هغه سبب نشته د کوم د وجے نه چه عثمان رضي الله عنه اولنے اذان زياتی کړے وو. بله دا چه په دے کښے د (نبی صلى الله عليه وسلم د سنت) اتباع ده. او نبی صلى الله عليه وسلم فرمايلی دی: [مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ] (ځوك چه

زما د سنت نه اعراض کوی د هغۀ ما سره هیڅ تعلق نشته)۔
شیخ عبد الحی کتانیؒ په خپل کتاب [التراتیب الاداریة : ۱/ ۸۰] کښې د [انـارة البصائر فی مناقب الشیخ ابن ناصر وحزبه الاکابر] کتاب نه نقل کړی دی چه : شیخ محمد بن ناصرؒ به د جُمعې په ورځ په یو اذان او یو مؤذن باندې اکتفاء کوله، دې دپاره چه د رسول الله ﷺ اقتداء وکړی ځکه چه د رسول الله ﷺ او د ابو بکر صدیق او عمر i په زمانه کښې به صرف یو اذان کیدۀ دارنګه د عثمان رضی الله عنه د خلافت په اولنی دور کښې به هم یو اذان کیدۀ۔ او همدا صحیح او د اعتماد وړ خبره ده، لکه چه دا خبره په (فتح الباری او (الأبیّ) کښې راغلې۔
حافظ ابن حجرؒ ذکر کړی دی چه په دې سنت باندې په مغرب کښې زمونږ د زمانې پورې عمل را روان وو۔ (د حافظ ابن حجرؒ زمانه نهمه صدیٔ ده، د حافظ د وفات کیدو کال (۸۵۲) دې، یعنی د نهمې صدیٔ نیمائی پورې په مغرب کښې یو اذان کیدۀ)۔
[فتح الباری : ۲/ ۳۲۷].
امام شافعیؒ فرمائی : ماته دا خوښه ده چه د جُمعې په ورځ دې اذان هغه وخت وکړې شی کله چه امام جومات ته راننوځی او په منبر کینی، نو کله چه دا کار وکړی، مؤذن به اذان شروع کړی او کله چه وزګار شی نو امام به خطبه شروع کړی۔ ددې کار نه به زیادت نۀ کوی۔
بیا ئې د سائب بن یزیدؓ (پورتنې) حدیث ذکر کړې بیا فرمائی : او عطاءؒ به ددې نه انکار کولو چه عثمان رضی الله عنه دې ددې اذان ایجاد وکړی او ویل به ئې چه دا معاویه رضی الله عنه ایجاد کړې۔ بهر حال که هر یو ایجاد کړې وی خو کوم کار چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو، هغه ماته ډیر زیات خوښ دې۔
[کتاب الأم للشافعی : ۱/ ۱۷۲].
زۀ (البانیؒ) وایم : د عطاءؒ ددې انکار هیڅ وجه نشته، ځکه دا خبره په متواترو روایاتو کښې راغلې چه دا اذان عثمان رضی الله عنه زیاتی کړې، او همدا د اعتماد وړ خبره ده، ځکه که په دې باب کښې یوائې د سائب بن یزیدؓ حدیث هم راغلې وې نو دابه کافی وې۔ او هرچه د معاویه رضی الله عنه ایجاد دې نو ددې سند ماته معلوم نۀ دې۔

دغه شان مونږ وایو چه په هر مسجد کښې دے د رسول الله ﷺ په سنت باندے عمل وکړے شی، نۀ د عثمان رضی الله عنه په سنت باندے.

○ او د عثمان رضی الله عنه په سنت باندے په هغه وخت کښې عمل کول جائز دی چه کله په لاؤډ سپیکر وغیره کښې نبوی اذان نشر شوے نۀ وی، او د مسلمانانو آبادی او شماره دومره زیاته وی چه یو اذان ورله نۀ کافی کیږی نو بیا د جُمعے دپاره اولنے اذان کول هم جائز دی. او هر کله چه دا خبره نۀ وی نو بیا به د نبی اکرم ﷺ په سنت باندے عمل کولے شی.

او زما دا عقیده ده چه که د عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې دا لاؤډ سپیکر او ریډیو وے او هغۀ ددے استعمالول جائز ګڼړلے، لکه څنګه چه مونږ ددے استعمال جائز ګڼړو، نو عثمان رضی الله عنه به خامخا د (محمدی اذان) په نشر کیدو باندے اکتفاء کوله، او د اولنی اذان زیاتولو ته به موقعه نۀ وے رسیدلے.

ابو بکر ابن ابی شیبہؒ د حسن بصریؒ نه نقل کړی دی: (د جُمعے په ورځ د امام د راوتو نه مخکښے اذان کول نوے پیدا شوے شے دے).

[مصنف ابن أبی شیبه: ۲/۱٤۰].

او د نافعؒ نه ئے نقل کړی دی چه ابن عمرؓ وفرمایل: (د جُمعے په ورځ اولنے اذان کول بدعت دی). [پورتنئ حواله].

او د امام زهریؒ نه ئے نقل کړی دی چه: (د جُمعے په ورځ اولنے اذان ایجادونکے عثمان رضی الله عنه دے، دے دپاره چه بازارونو والو ته خبردارے ورکړی).

[مصنف ابن ابی شیبه: ۲/۱٤۰].

د شیخ البانیؒ خبره ختمه شوه.

[الأجوبة النافعة ص: ۹- ١٤].

○ **خلاصه** دا چه: د پورتنی تفصیلی بحث نه ثابته شوه چه د سنتو اتباع په دے کښے ده چه د جُمعے په ورځ صرف هغه اذان وکړے شی کوم چه د خطبے په وخت کیږی.

او هر چه ددے نه مخکښے اذان دے، نو په دے کښے صحیح خبره داده چه دا د ضرورت د وجے نه جائز دے څنګه چه شیخ البانیؒ وفرمایل. د وجے د تابعداریٔ د صحابه کرامو نه ځکه چه په عثمان رضی الله عنه باندے د ابن عمر رضی الله عنه نه علاوه بل هیچا رد نۀ وو کړے.

او په کوم ځائے کښے چه ضرورت نهٔ وی، نو هلته په اولنی سنت باندے اکتفاء کول افضله خبره ده۔

اوس ضرورت څهٔ شے دے؟ نو هغه ډیر دی : (۱) مثلًا : خلکو ته اذان ونهٔ رسیږی۔ (۲) یا جومات د کلی په مینځ کښے وی او مسافرو ته نهٔ ښکاری۔ نو مؤذن دے د کوڅے په دروازه اذان وکړی دے دپاره چه خلکو ته جومات وروښائی۔

[انظر المجموع : ۱۲٤/۳، فإن الشافعی رحمه الله اختار المؤذن الواحد].

د جُمعے په ورځ د زوال نه مخکښے هم اذان ویل جائز دی

۵۳۵ - **سوال** : د جُمعے د مانځه دپاره د زوال نه مخکښے اذان کول جائز دی اوکه نه دا واجب دی چه اذان به د وخت داخلیدو نه خامخا روسته کوی ؟

جواب : هو ! هغه اذان چه هغه د خطیب د خطبے شروع کیدو په وخت کیږی، هغه د زوال نه مخکښے او روسته په دواړو حالتونو کښے جائز دے۔

د زوال نه پس کولو کښے خو اتفاق دے۔

او هرچه د زوال نه مخکښے کول دی، نو د راتلونکو دلائلو نه معلومیږی چه د جُمعے مانځه دپاره تادی کول پکار دی او هغه د زوال نه مخکښے اداء کول هم جائز دی۔

۱ - دلیل : سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی : (مونږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د جُمعے مونځ هغه وخت کولو کله به چه د نمر زوال کیدهٔ، بیا به واپس کیدلو نو سوری پسے به ګرځیدلو)۔

[بخاری : ۱۲۳/۱، مسلم : ۲۸۳/۱، ابن ابی شیبه فی المصنف : ۲۰۷/۱].

دے حدیث نه معلومه شوه چه دوئ د زوال کیدو په وخت د جُمعے مونځ کړے، نو اذان او خطبه د زوال کیدو نه مخکښے واقع شوی دی۔

۲ - انس رضی الله عنه فرمائی : [إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ كَانَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ حِيْنَ تَمِيْلُ الشَّمْسُ].

(رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جُمعے مونځ هغه وخت کولو کله به چه د نمر زوال کیدهٔ)۔

[صحیح بخاری وغیره].

۳ - جابر رضی الله عنه فرمائی : (کله به چه د نمر زوال وشو، رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جُمعے مونځ

کولو۔ [رواه الطبراني في الأوسط وإسناده حسن].

نو ددې حديثونو نه پورتنئ مسئله معلومه شوه۔ اودا خبره معلومه ده چه نبی اکرم ﷺ د مانځه نه مخکښې دوه خطبې ويلې، په هغې کښې به ئې قرآن کريم لوستلو، او خلکو ته به ئې وعظ او نصيحت کولو، تردې چه کله به ئې په خپله خطبه کښې (ق والقرآن المجيد) لوستلو۔

[كما رواه مسلم : ۲۸٦/۱، مشكاة : ۱۲۳/۱].

دارنګ په هغې کښې ئې سورتِ توبه لوستلې ده۔

[رواه ابن خزيمة، والحاكم : ۲۸۷/۱، ووافقه الذهبي].

نو کله چه مونږ دا خبره خپلې مخې ته کيدو نو ددې نه خامخا دا ثابتيږی چه د جُمعې د خطبې اذان به لازمی طور سره د زوال نه مخکښې کيدۀ، دارنګه خطبه به مخکښې ويل کيده۔ او مونځ به د زوال کيدو په وخت اداء کيدۀ۔ لکه دا خبره ښکاره ده۔

ددې نه زيات په ډاګه روايت د جابر ﷺ دې، هغه فرمائی:

[كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ ثُمَّ نَذْهَبُ إِلٰى جِمَالِنَا فَنُرِيْحُهَا حِيْنَ تَزُوْلُ الشَّمْسُ يَعْنِي النَّوَاضِحَ].

(رسول الله ﷺ به د جُمعې مونځ وکړو بيا به مونږ خپلو اوبو ډکوونکو اوښانو ته ورغلو او د نمر د زوال کيدو په وخت به مو هغې له آرام ورکولو)۔

[مسلم : ۲۸۳/۱، نسائی : ۲۰٦/۱، بیهقی : ۱۹۰/۳، ابن ابی شيبه : ۲۰۷/۱].

ددې حديث نه په ډاګه ثابتيږی چه خطبه او اذان لا څۀ کوې چه مونځ هم د زوال نه مخکښې شوې دې۔

د جُمعې قبل الزوال په باره کښې د صحابوؓ او تابعينوؒ آثار :

۱ – عبد الله بن سيدان السلمیؒ فرمائی : [شَهِدْتُّ الْجُمُعَةَ مَعَ أَبِيْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ فَكَانَتْ خُطْبَتُهٗ وَصَلَاتُهٗ قَبْلَ نِصْفِ النَّهَارِ، ثُمَّ شَهِدْنَا مَعَ عُمَرَ فَكَانَتْ خُطْبَتُهٗ وَصَلَاتُهٗ إِلٰى أَنْ أَقُوْلَ : انْتَصَفَ النَّهَارُ، ثُمَّ شَهِدْنَا مَعَ عُثْمَانَ فَكَانَتْ خُطْبَتُهٗ وَصَلَاتُهٗ إِلٰى أَنْ أَقُوْلَ : زَالَ النَّهَارُ. فَمَا رَأَيْتُ أَحَدًا عَابَ ذٰلِكَ وَلَا أَنْكَرَهٗ].

(زۀ ابوبکر صديق ﷺ سره د جُمعې مانځه ته حاضر شوم نو د هغۀ خطبه او مونځ دواړه د

ورځې د نیمائی کیدو نه مخکښې وو۔ بیا مونږ عمر رضی الله عنه سره جُمعې مانځه ته حاضر شو نو د هغهٔ خطبه او مونځ دے وخته پورے وو چه مابه ویل : ورځ نیمائی شوه۔ بیا مونږ عثمان رضی الله عنه سره حاضر شو، نو د هغهٔ خطبه او مونځ به دے وخته پورے وو چه مابه وویل : د ورځې زوال وشو۔ نو ما هیڅوك ونهٔ لیدلو چه په دے کارئے رد کړے وی یائے عیبژن ګڼړلے وی)۔

[ابن ابی شیبه : ۱/۲۰۶، دارقطنی، وإسناده حسن، کما فی الأجوبة النافعة ص : ۲۳].

۲ – عبد الله بن سلمهؒ فرمائی : مونږ ته عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د جُمعې مونځ د څاښت په وخت وکړو، او وے فرمایل : زهٔ په تاسو باندے د ګرمئ نه یریږم۔

[رواه ابن ابی شیبة، ورجاله ثقات].

ددے حدیث راویان ثقات دی، سیوا د عبد الله بن سلمهؒ نه او دا هم رشتینے دے، البته د بوډا کیدو په وجه ددهٔ حافظه بدله شوے وه۔ او ددهٔ پشان سړی نه دا ویره کیږی چه حدیث به مرفوع وګرځوی، او دلته دے مشاهده نقل کوی۔ ښهٔ سوچ وکړه !

۳ – د امام احمدؒ نه د جُمعې د مانځه په حقله پوښتنه وشوه، وے فرمایل : که د زوال نه مخکښے ئے مونځ وکړو نو په دے کښے څهٔ باك نشته۔ بیا ئے د عبد الله بن سلمهؒ پورتنے حدیث ذکر کړو۔

[مسائل عبد الله بن الإمام أحمد ص : ۱۱۲].

٤ – بلال عبسیؒ وائی : عمار رضی الله عنه خلکو ته د جُمعې مونځ وکړو۔ او خلك دوه ډلے شو، چا ویل د نمر زوال شوے دے، او چا ویل لا نهٔ دے شوے۔

[رواه ابن ابی شیبة بسند صحیح].

٥ – ابو رزینؒ وائی : مونږ به د علی رضی الله عنه سره د جُمعې مونځ کولو، نو کله به مو سورے موندلو او کله به مو نهٔ موندلو۔

[رواه ابن ابی شیبة وإسناده صحیح علی شرط مسلم].

دے حدیث نه هم معلومه شوه چه مونځ د زوال نه مخکښے شوے وو، نو خطبه او اذان خو به خامخا د زوال نه مخکښے وو۔ او د حافظ ابن حجرؒ تاویل په دے کښے ظاهر نهٔ دے۔

ددے احادیثو او آثارو د وجے د امام احمدؒ مذهب دادے چه د زوال نه مخکښے هم د جُمعې مونځ کیږی۔ او همدا حقه خبره ده، لکه څنګه چه علامه شوکانیؒ وغیره ویلی دی۔

[انظر نيل الأوطار : ۳/۳۱۸، الأجوبة النافعة ص ۲۱].

نو محمدی اذان د زوال نه مخکښے جائز دے پاتے لا عثمانی اذان۔

او احنافو چه دیته ناجائز ویلی، نو د دوئ خبره خطا ده۔

[فتاوی دیوبند : ۲/۹۵].

په وچت آواز سره اذان ویل مسنون دی

۵۳۶ – **سوال** : مؤذن دپاره په اذان باندے آواز وچتول سنت دی اوکه نه ؟

جواب : هو ! دا سنت دی ځکه د اذان نه مقصد خلکو ته خبردارے ورکول دی او دا مقصد هله حاصلیږی چه مؤذن خپل آواز اوچت کړی او د اذان کولو په وخت اوچت ځائے ته وخیژی۔ دا وجه ده، د اذان کولو په وخت اوچت ځائے ته ختل سنت دی۔

[نصب الراية : ۱/۲۹۲].

ابو سعید رضی الله عنه عبد الله بن صعصعه ته وفرمایل : (زۀ تا وینم چه تۀ ګډو بزو او بانډے سره شوق لرے، نوکه تۀ په خپلو ګډو بزو او بانډه کښے ئے او د مانځه دپاره اذان کوے نو خپل آواز اوچت کړه، ځکه ستا د آواز آخر سر چه پیرے یا انسان یا بل شے آوری نو د قیامت په ورځ به تاله ګواهی کوی)۔ بل روایت کښے دی : (نو په اذان سره خپل آواز اوچت کړه)۔

[موطأ مالك : ۱/۱٤۸، صحيح مسلم، مشكاة : ۱/٦٦، البيهقی فی السنن : ۱/۳۹۷، وفی المعرفة : ۱/٤۲٦، باب رفع الصوت بالأذان].

په بل حدیث کښے دی : نبی صلی الله علیه وسلم عبد الله بن زید رضی الله عنه ته امر وکړو چه تۀ د اذان کلمات بلال ته وروایه [فَإِنَّهُ أَنْدٰى صَوْتًا مِنْكَ] (ځکه ددۀ آواز ستانه ډیر اوچت دے)۔

[أخرجه الترمذی كما فی نصب الراية : ۱/۲۵۹، وفی البيهقی : ۲/٤۲۷ : باب الرغبة فی أن يكون المؤذن صيتًا].

په اذان باندے د اجرت اخستلو حکم

۵۳۷ – **سوال** : مؤذن له تنخواه اخستل څۀ حکم لری ؟

جواب : د اسلامی حکومت نه ورله تنخواه اخستل باك نۀ لری۔ خو د تنخواه شرط لږول حرام دی۔ لکه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی : [وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلٰى أَذَانِهِ أَجْرًا].

(داسې مؤذن مقرر کړه چه هغه په اذان تنخواه نهٔ اخلی).

البته که مؤذن له څوك په غير د شرط او عُرف نه څهٔ مال ورکوی نو په دې کښې هم څهٔ باك نشته. لکه نبی ﷺ فرمائی : [وَمَا أَتَاكَ مِنْ هٰذَا الْمَالِ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ وَتَمَوَّلْهُ].

(که تاته مال په داسې طريقه راغې چه تهٔ د هغې طمع هم نهٔ ساتې او نهٔ سوال کوې نو هغه اخله او ځان پرې مالداره کړه).

[مشكاة : ١/١٦٢، كتاب المعرفة : ١/٤٥٣، كتاب الأذان لأبی حاتم ص : ٢٧٨].

دا مسئله مخکښې په (۲۳۷) نمبر باندې تيره شوې ده.

ابن حزمؒ فرمائی : په اذان باندې اجرت اخستل جائز نهٔ دی، که دا کارئې وکړو او اذان ئې د مزدورئ نه بغير نهٔ کولو نو ددهٔ اذان جائز نهٔ دې او نهٔ په دې اذان سره مونځ جائز دې. البته که څوك دهٔ له څهٔ خيراتی ورکوی او يا ورله بادشاه تنخواه ورکوی نو دا بيا جائز دی. بيا ئې هغه حديثونه ذکر کړی دی کوم چه په دويم جلد کښې تير شوی دی.

[المحلی : ١/١٨٢].

د ماشوم بچی په غوږ کښې د اذان کولو طريقه

۵۳۸ – **سوال** : د ماشوم په غوږ کښې چه کوم اذان کيږی په هغې کښې به مؤذن ښی او ګس اړخ ته مخ اړوی اوکه نه ؟ دارنګه په دې وخت کښې اقامت کول ثابت دی اوکه نه ؟

جواب : په هيڅ صحيح حديث کښې د ماشوم په غوږ کښې – هلك وی که جينئ – اقامت کول ثابت نهٔ دی. بلکه دا په داسې غير صحيح حديثونو کښې راغلی چه هغه د عمل کولو وړ نهٔ دی :

۱ – حسن بن علی رضی الله عنه د نبی ﷺ نه روايت کوی : (د چا چه يو ماشوم پيدا شو او د هغهٔ په ښی غوږ کښې ئې اذان او په ګس غوږ ئې ورله اقامت وکړو نو د هغهٔ نه به ام الصبيان بيماری پورته کړې شی).

[رواه البيهقی فی شعب الإيمان : ٨٦٢٠].

دا حديث موضوع او منکرت دې، په دې کښې يحيی بن العلاء او مروان بن سالم راويان

راغلی او دے دواړو به د ځانه منکرت حدیثونه جوړول۔

[الضعيفة : ١/٣٢٠، إرواء الغليل ١١٧٤، ابن السنى : ٦٢٣، التلخيص الحبير : ١٤٩/٤].

۲ – ابن عباس رضی اللہ عنہ وائی : (نبی ﷺ د حسن بن علی په غوږ کښې اذان وکړو کله چه پیدا شو او د هغهٔ په ګس غوږ کښې ئے اقامت وکړو)۔

[رواه البيهقى فى شعب الإيمان وقال : وفى إسنادهما ضعف].

دا حدیث ضعیف دے، دا د اقامت دپاره شاهد نهٔ ګرځی۔ ځکه دا ثابت نهٔ دے۔

[السلسلة : ٢٣٠/١].

نو ددے نه معلومه شوه چه د بعضِ احنافو دا خبره مردود ده چه هغوئ وائی : د ماشوم په غوږ کښے اقامت کول هم مسنون دی۔

[كما قال الشيخ رشيد احمد فى أحسن الفتاوى : ٢٧٨/٢].

○ او هر چه د ماشوم په غوږ کښے اذان کول دی نو مخکښے په مسئله نمبر (۵۰۱) کښے په دے باره کښے درے حدیثونه تیر شو، او هلته مونږ عرض وکړو چه دا حسن دے ان شاء الله تعالیٰ۔

نو هر کله چه مونږ د ماشوم په غوږ کښے اذان ته ثابت ووایو، نو دا به هم د مانځه د اذان پشان اذان وی چه په دے کښے ښی او ګس اړخ ته مخ اړول مسنون دی۔

[مرقاة : ١٥٩/٨]. وبالله التوفيق.

د اذان په وخت درود او [وَأَنَا أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا] ویل

۵۳۹ – **سوال** : مؤذن چه کله [أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ] ووائی، نو په دے وخت کښے د بل چا دپاره په نبی ﷺ باندے درود ویل ثابت دی او که نه ؟ دارنګه کله چه مؤذن [أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ] ووائی، نو بعضِ خلك : [وَأَنَا أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا] (تر آخره پورے) وائی، دا ثابت دی که نه ؟

جواب : د اذان په مینځ کښے درود ویل په هیڅ حدیث کښے ثابت نهٔ دی۔ بلکه د اذان ختمولو نه پس درود ویل پکار دی۔ نبی اکرم ﷺ فرمایلی دی :

[إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُوْلُوْا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ ثُمَّ صَلُّوْا عَلَيَّ فَإِنَّهٗ مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ بِهَا

عَشْرًا ثُمَّ سَلُوا اللّٰهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَا يَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ هُوَ، فَمَنْ سَأَلَ اللّٰهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ عَلَيْهِ الشَّفَاعَةُ].

(کله چه تاسو د مؤذن اذان واورئ نو د هغهٔ پشان الفاظ تاسو هم وائے بیا په ما درود ووایئ ځکه ځوک چه په ما یو ځل درود ووائی، الله به د هغے په عوض کښے په هغهٔ لس رحمتونه راولیږی، بیا د الله نه زما دپاره وسیله وغواړئ ځکه دا یوه درجه ده په جنت کښے چه د الله په بندګانو کښے صرف یو بنده سره مناسب ده، او زما امید دے چه دغه بنده به زهٔ یم۔ نو چا چه ما دپاره د الله نه وسیله (اوچته مرتبه) وغوښته نو هغهٔ دپاره زما شفاعت حلال شو)۔[صحیح مسلم : ١/١٦٦، مشکاة : ١/٦٥].

او چا چه دا ویلی دی چه کله ځوک اول ځل [أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللّٰهِ] **واوری نو داسے دے وائی چه :** [صلی اللّٰه علیك یا رسول اللّٰه] **نو دا خبره نهٔ په مرفوع حدیث کښے ثابته ده اونهٔ په موقوف کښے۔** [ونحوه فی رد المحتار : ١/٣٧٠].

نو ثابته شوه چه په دے ځائے کښے په نبی ﷺ باندے درود نهٔ نقلًاثابت دے او نهٔ عملًا۔

او د بعضِ خلکو دا وینا چه [أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ الخ] **نو دا په صحیح حدیث کښے ثابته ده۔ سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل :** [مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ : أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَّسُولًا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا : غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ].

(چا چه د مؤذن أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ **واوریدل او دا کلمات ئے ویل :** أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَّسُولًا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا: **نو ددهٔ مخکنی ګناهونه به وبښلے شی)۔**

[مسلم : ١/١٦٦، مشکاة : ٦٥].

ملا علی قاریؒ فرمائی : په دے حدیث کښے چه د اذان د آوریدو لفظ راغلے نو په دے کښے دوه احتماله دی، یو دا چه مقصد داوی چه ځوك د مؤذن اولنے تشهد واوری یا آخرنے چه هغه د اذان په آخر کښے لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ **ده۔ او همدا زیات مناسب ده۔ او دویم احتمال دادے چه د آوریدو نه مراد جواب ورکول وی، نو دابه بیا په مقصد کښے صریح وی۔ او ظاهره داده چه دا ثواب د اذان د پوره جواب ورکولو باندے مرتب دے سره ددے پورتنی زیادت۔ بله**

داچه څوك د اذان په مینځ کښې دغه کلمات وائی نو کیدے شی چه ددهٔ نه د اذان د ځینې کلماتو جواب فوت شی۔

سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : [مَنْ سَمِعَ الْمُؤَذِّنَ يَتَشَهَّدُ فَالْتَفَتَ فِيْ وَجْهِهٖ فَقَالَ : أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ].

(چا چه د مؤذن نه واوریدهٔ چه هغه ګواهی ورکوله او هغهٔ ته ئے وکتل او دغه کلمات ئے وویل، نو دهٔ ته به مخکنی ګناهونه وبښلے شی۔

[صحیح ابن خزیمة : ۱/۲۲۰، رقم : ۴۲۲، البیهقی : ۱/۴۱۰].

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی : دا حدیث امام ابوعوانه رحمه الله په (مستخرج د صحیح مسلم) کښې ذکر کړے او د هغے د الفاظو نه په ډاګه معلومیږی چه دغه کلمات [لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ الخ] به د مؤذن د (أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ) ویلو په وخت وائی۔ البته ابوعوانه رحمه الله د [مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ] سره [مَا تَأَخَّرَ] لفظ هم زیاتی کړے، چه دا د نورو په روایت کښې نشته۔

[کتاب الأذان لأبی حاتم ص : ۱۷۳، وأخرجه الترمذی : ۱/۵۱].

علامه کشمیری رحمه الله وائی : ددے دعاء ویلو په ځائے کښې تردد واقع شوے چه آیا دابه د شهادتینو په ځائے کښې ویل کیږی اوکه د اذان کیدو نه پس۔ په معانی الآثار کښې په ډاګه ویل شوی چه دابه د شهادتینو په بدل کښې ویل کیږی۔ د هغے الفاظ دادی : [حِيْنَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ يَتَشَهَّدُ] کله چه د مؤذن نه اشهد واوری۔ په صحیح ابی عوانه رحمه الله [۱/۳۴۰] کښې دی : (چا چه د مؤذن نه اشهد ان لا اله الا الله واوریدهٔ او (اشهد ان لا اله الا الله رضیت بالله ربا الخ) ئے وویلو۔ [العرف الشذی : ۱/۵۶، وهو فی الطحاوی : ۱/۱۴۵].

په بذل المجهود [۱/۳۰۰] کښې دی : کله چه د مؤذن نه [أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ] په اذان کښې واوری نو آوریدونکے به [وَأَنَا أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ الخ] ووائی۔

د بلے محلے په اذان اکتفاء کول

۵۴۰ - سوال : د بل چا په اذان باندے د اکتفاء کولو څهٔ حکم دے ؟ مثلًا په یوه محله

کښې په یو جومات کښې اذان وشي، او په بل جومات کښې مؤذن اذان نۀ کوي ځکه د اولنی جومات په اذان اکتفاء کوي، ددې څۀ حکم دے ؟

جواب : د اذان په بدعاتو کښې مخکښې تیر شو چه د بل چا په اذان باندې اکتفاء کول جائز نۀ دي، لکه ابن قدامهؒ فرمائي : د بل چا په اذان باندې خپل مونځ بناء کول جائز نۀ دي ځکه چه دا د مانځه پشان عبادت بدني دے، په دے کښې نیابت نۀ صحیح کیږي۔

[المغني : ۱/۴۲۵].

او ابن عابدین چه د بلے محلے په اذان باندے په بل جومات کښې د اکتفاء خبره کړے، نو دا درست نۀ ده۔ [رد المحتار : ۱/۳۵۸].

او د حفص بن عاصمؒ په حدیث کښې چه راغلي چه : (نبي ﷺ د یو سړي نه واوریدل چه د ماښام دپاره ئے اذان کولو نو نبي ﷺ د هغۀ د اذان جواب ورکړو او اخوا منع شو۔ او هغه مؤذن اقامت ویلے وو، نو نبي ﷺ وفرمایل : کوز شئ او د ماښام مونځ د دغه تور مرئي په اقامت سره وکړئ)۔ [بیهقي : ۲/۴۰۷].

نو دا حدیث مرسل دے (تابعيؒ په کښې نیغ په نیغه د رسول الله ﷺ نه روایت کړے)۔ او ددے حدیث نه دا نۀ معلومیږي چه ګنے د یو جومات والا به د بل جومات په اذان باندے اکتفاء کوي او خپله به اذان نۀ کوي۔ ددے نه صرف دا ثابتیږي چه مسافر دپاره دا جائز دي چه د بل چا په اذان اکتفاء وکړي۔ او ددے په جواز کښې اختلاف نشته۔

د تثویب حکم او معنے

۵۴۱ – **سوال** : تثویب جائز دے او که نه؟

جواب : تثویب په لغت کښې بار بار خبرداري ورکولو ته وائي۔ په احادیثو کښې دا په درے معنو کښې استعمال شوے :

اول : د اقامت په معنیٰ کښې، لکه د صحیح بخاري په حدیث کښې دي : [حَتّٰى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ] (تردے چه کله د مانځه دپاره اقامت وشي نو شیطان شا کړي)۔

[صحیح بخاري، مشکاة : ۱/۹۲].

او دا تثویب کول واجب دي۔ لکه مخکښې تیر شو۔

دويم : صرف د سهار په اذان کښې [اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] ويل۔

لکه د بلال رضی الله عنه په حديث کښې دی، دا وائی : ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : [لَا تُثَوِّبَنَّ فِيُ شَيْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ إِلَّا فِيُ صَلَاةِ الْفَجْرِ].

(د سهار مانځه نه سيوا په بل هيڅ يو مونځ کښې تثويب مهٔ کوه)۔

[ترمذی، مشکاة : ۶۳/۱].

خو ددې حديث په سند کښې ابو سرائيل ضعيف دے۔

دريم : د اذان نه پس او د اقامت نه مخکښې اعلانونه کول چه مانځه له راشئ۔ او دا بدعت دے۔

لکه مجاهدؒ فرمائی : زهٔ د ابن عمر رضی الله عنه سره ووم چه يو سړی په ماسپخين يا مازيګر کښې تثويب وکړو، نو ابن عمر وفرمايل : [أَخْرِجْ بِنَا فَإِنَّ هٰذِهِ بِدْعَةٌ] (مونږ وباسئ ځکه دا بدعت دے)۔

[سنن ابی داود : ۸۶/۱، باب التثويب، وإسناده حسن].

د هدايه په حاشيه او فتح القدير کښې دی : د علی رضی الله عنه نه نقل دی چه هغهٔ يو مؤذن وليدهٔ چه د ماسخوتن مانځه دپاره ئے تثويب (اعلانونه) کول نو وې فرمايل : [أَخْرِجُوا هٰذَا الْمُبْتَدِعَ مِنَ الْمَسْجِدِ] (دا بدعتی د جومات نه وباسئ)۔

[حاشية الهداية : ۸۹/۱، فتح القدير : ۲۱۴/۱].

نو د اذان نه پس اعلان کول - چه ديته تثويب وائی - بدعت دے۔ ځکه دا په هيڅ يو حديث کښې ثابت نهٔ دے۔

البته ددې نه، امام ته د مانځه خبردارے ورکول مستثنیٰ دی، ځکه په ګڼړو حديثونو کښې ثابته ده چه بلال رضی الله عنه به نبی صلی الله علیه وسلم ته د مانځه خبردارے ورکولو۔

لکه د عمر رضی الله عنه نه روايت دے چه دهٔ ته مؤذن راغے د سهار د اذانهٔ خبردارے ئے ورته ورکولو، نو هغه ئے اودهٔ بياموند، نو مؤذن وويل : [اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] نو عمر فاروق ورته امر وکړو چه دا د سهار په اذان کښې وګرځوه)۔

[موطأ مالك : ۵۱/۱، مشکاة : ۶۴/۱].

دارنګه د بلال رضی الله عنه په حديث کښې دی چه دے نبی صلی الله علیه وسلم ته راغې چه د مانځه خبردارے ئے

ورته ورکاوۀ۔

[کنز العمال : ۳٥٦/۸، وفی کنز العمال أحادیث تدل علی هذا المعنی].

دارنګه اودو خلکو ته خبردارے ورکول هم ددے نه مستثنیٰ دی چه دا کار هم جائز دے، خو دا خبردارے به د جومات نه نۀ وی بلکه دا به د هغوئ په خوزولو او راویښولو سره وی۔ او دا د (امر بالمعروف او نهی عن المنکر) په باب کښے داخلیږی۔ او په دے باندے دلیل د ابوبکرة رضی الله عنه حدیث دے، داوائی : (زۀ نبی صلی الله علیه وسلم سره د سهار د مانځه دپاره ووتم نو نبی صلی الله علیه وسلم چه به په کوم سړی تیریدۀ نو هغۀ ته به ئے آواز کولو چه مونځ ودریږی او یا به ئے خپلے خپے سره خوزولو)۔

[سنن أبی داود : ١٦٤/١، مشكاة : ٦٤/١].

ددے حدیث سند د ابو الفضل راوی د مجهول کیدو د وجے ضعیف دے۔ (تقریب)۔

خو ددے حدیث معنیٰ صحیح ده ځکه دا د امر بالمعروف د قبیلے نه دے۔

نو ددے تحقیق نه ثابته شوه چه تثویب بدعت دے۔ خو ددے نه دوه ځایونه مستثنیٰ دی : (۱) امام ته خبردارے ورکول۔ (۲) او اودو وغیره ؤ ته خبردارے ورکول چه دابه د جومات نه نۀ وی۔ مخکښے د اذانۀ په بدعاتو کښے دا مسئله تیره شوه۔

د اذان الفاظ په مزه مزه او د اقامت الفاظ په تادئ سره ویل

۵٤۲ – **سوال** : د اذان الفاظ په قلار قلار ویل او د اقامت الفاظ په تادئ سره ویل، ددے څۀ دلیل دے ؟

جواب : ددے په حقله چه کوم صحیح حدیثونه راغلی، نو هغه صریح نۀ دی۔ او کوم حدیثونه چه صریح راغلی هغه صحیح نۀ دی بلکه ضعیف دی۔او هغه دادی :

[کما فی کتاب الأذان لأبی حاتم ص : ۸۰].

۱ – ابو سعید رضی الله عنه عبد الله بن صعصعه ته وفرمایل : (زۀ تا وینم چه تۀ ګډو بزو او بانډے سره شوق لرے، نو که تۀ په خپلو ګډو بزو او بانډه کښے ئے او د مانځه دپاره اذان کوے نو خپل آواز اوچت کړه، ځکه ستا د آواز آخر سر چه پیرے یا انسان یا بل شے آوری نو د قیامت په ورځ به تاله ګواهی کوی)۔ بل روایت کښے دی : (نو په اذان سره خپل آواز

اوچت کړه).

[موطأ مالك : ١٤٨/١، صحيح مسلم، مشكاة : ٦٦/١، البيهقي، باب ترسيل الأذان وحذم الإقامة : ٤٢٧/١، وفي المعرفة : ٤٢٦/١، باب رفع الصوت بالأذان].

نو ددې حديث نه معلوميږي چه د اذان کلمات په مزه مزه ويل کيږي.

۲ - عمر رضي الله عنه نه روايت دے، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

[إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ، فَقَالَ اَحَدُكُمْ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ ـ ثُمَّ قَالَ : اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، قَالَ : اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ـ ثُمَّ قَالَ : اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، قَالَ : اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، ثُمَّ قَالَ : حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قَالَ : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ. ثُمَّ قَالَ : حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ. ثُمَّ قَالَ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ، قَالَ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ. ثَمَّ قَالَ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قَالَ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مِنْ قَلْبِهٖ، دَخَلَ الْجَنَّةَ].

(کله چه مؤذن الله اکبر، الله اکبر اووائی نو تاسو نه هم هر شخص الله اکبر، الله اکبر ووائی بیا کله چه مؤذن اشهد ان لا اله الا الله اووائی نو تا سو نه هم هر شخص اشهد ان لا اله الا الله ووائی، بیا کله چه مؤذن اشهد ان محمدا رسول الله ووائی نو تاسو نه هم هر شخص اشهد ان محمدا رسول الله ووائی بیا کله چه مؤذن حی علی الصلاة ووائی نو تاسو نه هر شخص لا حول ولا قوة الا بالله ووائی، بیا کله چه مؤذن حی علی الفلاح ووائی نو تاسو نه هر شخص لا حول ولا قوة الا بالله ووائی ـ بیا کله چه مؤذن الله اکبر الله اکبر ووائی نو تاسو نه هر شخص الله اکبر الله اکبر ووائی او بیا کله چه مؤذن لا اله الا الله ووائی نو تاسو نه هر شخص لا اله الا الله ووائی ـ څوك چه (د اذان په جواب کښې دا کلمات) د زړه په صدق سره ووائی نو هغه به جنت ته داخليږي ـ

[مسلم : ١٦٧/١، مشكاة : ٦٥/١].

نو دا حديث په دوه ناشنا مسئلو دلالت کوی :

اوله مسئله : د اذان الفاظ په قلار قلار ويل مسنون دی.

دويمه مسئله : مؤذن به هر دوه تکبيره په يو ساه باندې وائی. داسې : [اَللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ اَكْبَر].

ځکه نبی صلى الله عليه وسلم دوه تکبيره په يو ځائے جمع کړی دی چه دا ګويا يوه کلمه ده.

[كتاب الأذان لأبی حاتم].

۳ – جابر رضی الله عنه نه روایت دے، چه نبی ﷺ بلال ته وفرمایل : [يَا بِلَالُ إِذَا أَذَّنْتَ فَتَرَسَّلْ فِيْ أَذَانِكَ وَإِذَا اَقَمْتَ فَاحْدُرْ وَاجْعَلْ بَيْنَ أَذَانِكَ وَإِقَامَتِكَ قَدْرَ مَا يَفْرُغُ الآكِلُ مِنْ أَكْلِهٖ وَالشَّارِبُ مِنْ شُرْبِهٖ وَالْمُعْتَصِرُ إِذَا دَخَلَ لِقَضَاءِ حَاجَتِهٖ وَلَاتَقُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوْنِيْ].

(اے بلاله ! کله چه تهٔ اذان کوے نو په مزه مزه ئے وایه او کله چه اقامت کوے نو زر زر ئے وایه، او د خپل اذان او اقامت ترمینځه دومره وخت ورکوه چه په هغے کښے خوړونکے د خوراك نه، څکونکے د څکاك نه او قضاء حاجت والا د خپل حاجت پوره کولو نه فارغیږی، او تاسو زما د لیدلو نه مخکښے مانځه ته مهٔ ودریږئ).

[ترمذی : ۱/۴۸، باب الترسل فی الأذان].

ددے حدیث اسناد ضعیف دے، په دے کښے عبد المنعم مجهول راوی دے.

امام بیهقیؒ ددے پشان حدیث د ابو هریرهؓ نه مرفوعًا نقل کړے. د هغے سند هم ضعیف دے په هغے کښے صبیح راوی دے. [بیهقی : ۱/۴۸۸].

۴ – سوید بن غفلهؒ وائی : ما د علی بن ابی طالب ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : رسول الله ﷺ به مونږ ته امر کولو چه مونږ اذان په قلاره قلاره کوو، او اقامت زر زر وایو).

[دارقطنی : ۱/۲۳۸].

ددے سند سخت ضعیف دے، په دے کښے عمرو بن شمر راوی متروك (پریښودل شوے) دے.

۵ – د بیت المقدس د مؤذن ابو الزبیرؒ نه نقل دی دا وائی : مونږ ته عمر بن خطاب ﷺ راغے نو وے فرمایل : کله چه تهٔ اذان کوے نو سرهٔ خوره او چه اقامت کوے نو تلوار کوه.

[دارقطنی : ۱/۲۳۸].

په دے حدیث کښے عبد العزیز او ابو الزبیر دواړه مجهول (نامعلومه) راویان دی.

[انظر كتاب الأذان لأبی حاتم رحمه الله ص : ۸۰ – ۸۶].

اذان او اقامت سره تړل شوی احکام

۵۴۳ – سوال : اذان او اقامت سره کوم کوم احکام تړل شوی ؟

جواب : اذان او اقامت پورې ډیر احکام تړلې شوی دی، ځینې دادی :

۱ - د وینې حفاظت :

انس بن مالك رضي الله عنه **نه روایت دے :**

[أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ إِذَا غَزَا بِنَا قَوْمًا لَمْ يَكُنْ يَغْزُوْ بِنَا حَتّٰى يُصْبِحَ فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا كَفَّ عَنْهُمْ، وَإِنْ لَّمْ يَسْمَعْ أَذَانًا أَغَارَ عَلَيْهِمْ ...... الحديث].

(نبی صلی الله علیه وسلم **به چه کله په مونږ باندے د یو قوم سره غزا کوله نو تر هغه وخته پورے به ئے حمله نۀ کوله چه صبا شوے به نۀ وو، نو که اذان به ئے واوریدۀ نو د هغوئ نه به بند شو، اوکه اذان به ئے وانۀ وریدۀ، حمله به ئے پرے وکړه)۔**

[أحمد : ۲۰٦/۳، مسلم : ۱٦٦/۱، وغیرهم].

عصام المزنی د خپل پلار نه روایت کوی هغه وائی : (رسول الله صلی الله علیه وسلم **مونږ په یوه دسته کښې ولیږلو، او وے فرمایل : کله چه تاسو جومات ووینئ یا اذان واورئ نو هیڅوك مۀ وژنئ)۔** [سنن ترمذی : ۲۸۲/۱].

ددے حدیث اسناد ضعیف دے۔ ځکه عبد الملك بن نوفل او ابن عصام المزنی دواړه مجهول الحال دی۔

۲ - د جماعت مانځه ته د حاضریدو فرضیت، د هغه چا دپاره چه اذان واوری :

ابو هریره رضي الله عنه **نه روایت دے دا فرمائی :** [أَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم رَجُلٌ أَعْمٰى فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! إِنَّهٗ لَيْسَ لِيْ قَائِدٌ يَقُوْدُنِيْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَسَأَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ أَنْ يُرَخِّصَ لَهٗ فَيُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِهٖ، فَرَخَّصَ لَهٗ فَلَمَّا وَلّٰى دَعَاهُ فَقَالَ : هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ؟ فَقَالَ : نَعَمْ، قَالَ : فَأَجِبْ].

(نبی صلی الله علیه وسلم **ته یو ړوند سړے راغے او عرض ئے وکړو : اے د الله رسوله ! زما څوك راوستونکے نشته چه جومات ته مے راولی۔ نو دے کس د رسول الله** صلی الله علیه وسلم **نه وغوښته چه په کور کښے د مونځ کولو رخصت ورته ورکړی، نو نبی** صلی الله علیه وسلم **ورته رخصت ورکړو، او کله چه هغه روان شو نو بیا ئے ورته آواز وکړو، وے فرمایل : تۀ د مانځه اذان آورے ؟ هغه ویل هو ! وے فرمایل : نو بیا مانځه ته حاضریږه)۔**

[صحیح مسلم : ۱٦٦/۱].

ددے حدیث نه ثابته شوه چه په جومات کښے د جماعت د مانځه فرضیت او عدم

فرضیت، دا د اذان د آوریدو او نهٔ آوریدو پورے ترلے دے۔

[ونحوه فی سنن أبی داود : ۱/۸۰، عن ابن أم مکتوم].

د عتبان بن مالك – رضی الله عنه – په حدیث کښے دی : آیا تهٔ اذان آورے؟ نو هغهٔ له ئے رخصت ورنهٔ کړو۔ [أحمد : ٤/٤٢].

۳ – د اذان کیدو نه پس د جومات نه په غیر د عُذر نه وتل جائز نهٔ دی :

ابو الشعثاءَ وائی : مونږ د ابو هریره رضی الله عنه سره په جومات کښے ناست وو، نو دے کښے مؤذن اذان وکړو، نو یو سړے د جومات نه پاسیدهٔ روان وو، ابو هریره په هغهٔ کښے نظر اچولے وو، تردے چه هغه سړے د جومات نه ووتهٔ، نو ابو هریره وفرمایل : [اَمَّا هٰذَا فَقَدْ عَصٰی اَبَا الْقَاسِمِ ﷺ].

(دا کوم سړے چه تاسو ته ښکاری، دهٔ د ابو القاسم ﷺ نافرمانی وکړه)۔

[صحیح مسلم : ۱/۲۳۲].

مخکښے یو شمیر حدیثونه په دے حقله تیر شوی دی۔

٤ – اقامت چه کله شروع شی نو نفلی مونځ نهٔ کیږی۔ بلکه فرض مانځه کښے به د امام سره شرکت کوی او نفلی مونځ به پریدی اګرکه شروع ئے په کښے کړی وی۔

ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : نبی ﷺ وفرمایل : [إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ].

(کله چه د فرض مانځه دپاره اقامت وشی نو د دغه فرض مونځ نه سیوا بل هیڅ مونځ نهٔ کیږی)۔[ترمذی : ۱/٥۱، نسائی : ۱/۱۱۰، أبوداود : ۱/۸۲].

ددے مسئلے تحقیق به روستو راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

د اذان د جواب ورکولو حکم

٥٤٤ – سوال : د مؤذن د اذان جواب ورکول واجب دی او که نه ؟

جواب : د مؤذن د اذان اجابت کول دوه قِسمه دی : (۱) عملی اجابت (۲) قولی اجابت۔

(۱) عملی اجابت په اتفاق د علماؤ سره واجب دے کله چه عُذر نهٔ وی۔

(۲) او قولی اجابت کښے د اهلِ علمو اختلاف دے۔

○ ځینے وائی : د مؤذن د اذان جواب ورکول واجب دی، او دلیل کښے دا حدیث پیش کوی : [إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ].

(کله چه تاسو د مؤذن اذان آورئ نو د هغهٔ پشان کلمات وائے)۔

[صحیح بخاری].

نو په دے حدیث کښے د مؤذن پشان کلماتو ویلو باندے امر راغلے، او ددے عملی کول واجب دی۔

په [قواطع الاسلام] کتاب کښے دی: څوك چه د اذان په دوران کښے خبرے کوی، په دهٔ باندے د کفر ویره کیدے شی)۔

[قواطع الإسلام ص ۳۷۷، وهذا الکتاب ملحق بکتاب الزواجر].

○ نور علماء فرمائی : د اذان جواب ورکول واجب نهٔ دی، بلکه مستحب دی۔

او دلیل کښے دا حدیث پیش کوی چه :

انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم به د صبا راختو سره سَم حمله کوله، او هغهٔ به اذان ته غوږ کیښودهٔ، که چرے اذان به ئے واوریدهٔ نو د حملے کولو نه به بند شو، که نهٔ وی نو حمله به ئے کوله۔ نو یو ځل ئے د یو سړی نه واوریدل چه هغهٔ ویلے : [اَللّٰهُ اَکبَرُ اللّٰهُ اَکبَر] نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : دا په فطرت باندے دے۔ بیا هغه سړی وویل : [أَشهَدُ أَن لَّا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ] رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : تهٔ د اور نه ووتلے۔ خلکو چه وکتل نو هغه د چیلیو ځروونکے وو)۔

[مسلم : ۱۶۶/۱، معانی الآثار : ۱۱۰/۱].

دے حدیث نه معلومه شوه چه نبی صلی الله علیه وسلم په اذان کښے خبرے کړی دی او د اذان جواب ئے نهٔ دے ورکړے، که چرے جواب ئے ورکړے وے نو خامخا به مونږ ته رانقل شوے وے۔

○ په یو بل حدیث کښے دی چه نبی صلی الله علیه وسلم کله د مؤذن نه واوریدل چه هغه د شهادت کلمے ویلے نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : [أَنَا أَنَا] (زهٔ هم ګواهی ورکوم زهٔ هم ګواهی ورکوم)۔

لکه دا خبره روستو را روانه ده۔

[انظر : المرعاة : ۳۶۳/۲، رد المحتار : ۲۶۷/۱].

بیا د اذان جواب هر څوك ورکولے شی که اودس ئے وی اوکه نهٔ وی، جنب وی اوکه پاك وی، ځکه چه دا ذکر دے، او نبی صلی الله علیه وسلم به په خپل هرحالت کښے د الله ذکر کولو۔ بله دا چه د اذان جواب ورکول اذان نهٔ دے۔ [رد المحتار : ۱۶۵/۱].

په مؤذن باندے سلام اچول اوکه هغه پرنجے وکړی نو الحمد لله ویل

٥٤٥ – **سوال** : په مؤذن باندے سلام اچول جائز دی که نه ؟ او هغه به جواب ورکوی اوکه نه ؟ دارنګ د اذان جواب ورکونکے به په دے دوران کښے د سلام جواب ورکوی اوکه نه ؟ اوکه خپله پرنجے وکړی نو الحمد لله به وائی اوکه نه ؟

جواب : صحیح خبره داده چه مؤذن او غیر مؤذن دواړه د سلام په جواب ورکولو کښے برابر دی، دے ټولو باندے د سلام جواب ورکول واجب دی۔ او د هغه چا خبره بے دلیله ده چه هغه وائی په دے وخت کښے به د سلام جواب نۀ ورکوی۔ لکه ددے خبرے تفصیل په اولنی جلد [١/٢٣٣] مسئله نمبر (٨٠) کښے تیر شوے دے۔

او د شامی دا خبره چه : آوریدونکی له پکار دی چه د اذان او اقامت په وخت په خبرو یا په بل یو شئ باندے مشغول نشی، او دغسے د سلام جواب به هم نۀ ورکوی۔

دا خبره صحیح نۀ ده۔ ځکه په دے باندے څۀ دلیل نشته۔ بلکه کله چه پرنجے وکړی نو [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ] به وائی، او چا چه پرنجے وکړو او [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ] ئے وویله نو دۀ له جواب ورکول واجب دی اګرکه جواب ورکونکے په اذان او اقامت کښے هم وی۔ ځکه په دے باره کښے راغلی نصوص مطلق دی۔ بله دا چه په اذان او اقامت کښے خبرے کول هم جائز دی۔

[انظر المحلی لابن حزم : ٢/١٨١].

د اذان کلمات مخکښے روستو ویل

٥٤٦ – **سوال** : که د اذان ځینے کلمات مخکښے روستو ووائی، یا ځینے کلمات پکښے پریدی نو اذان به دوباره کوی اوکه نه ؟

جواب : ظاهره داده چه اذان به نۀ راګرځوی بلکه دغه مخکښے کړے یا روسته کړے کلمه به را وګرځوی، لکه څنګه چه د قرائت په مسئله کښے همدا حکم دے۔ چه یو سړے قرائت کوی او په هغے کښے خطا شو، نو په کوم ځائے کښے چه خطا شوے دے صرف همغه قرائت به راوګرځوی۔

رد المحتار کښے وائی : لکه ثوك [حَيَّ عَلَى الْفَلَاح] مخکښے ووائی او [حَيَّ عَلَى الصَّلَاة]

روستو ووائی نو ټول اذان راګرځولو ته ضرورت نشته بلکه اول به [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] ووائی بیا به [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ]۔

اوکه ځینے کلمات ئے پریښی وو او ډیر وخت پس ورته رایاد شو نو بیابه ټول اذان د سر نه کوی۔ اوکه اذان ختمیدو سره فورًا ورته رایاد شو نو صرف پریښی کلمات به راګرځوی۔

[رد المحتار : ۳۵۹/۱].

ددے دپاره د بلال رضی الله عنه د حدیث نه استدلال کیدے شی چه [أَلَا إِنَّ الْعَبْدَ قَدْ نَامَ] (خبردار ! بنده اودۀ شوے وو) هر کله چه دۀ د سهار والا اذان د سهار نه مخکښے کړے وو۔ نو نبی ﷺ ورته د اذان راګرځولو امر وکړو۔ نو وخت نه مخکښے اذان کول صحیح نۀ دی، هیڅ اعتبار ورله نشته۔ دغه شان په کوم اذان کښے چه ځینے کلمات پریښودل شی هغے له هم اعتبار نشته۔ ښۀ سوچ وکړه !

شیخ ناصر السعدیؒ فرمائی : چاچه د اذان ځینے جملے پریښودلے نو اذان به دوباره کوی هر کله چه ډیر وخت نۀ وی تیر شوے۔ [فتاویٰ سعدیه : ۱۵٤/۱].

د اذان نه مخکښے تعوذ او بسم الله ویل نشته

۵٤۷ – **سوال** : د اذان نه مخکښے [أَعُوْذُ بِاللّٰهِ] او [بِسْمِ اللّٰهِ] په پټه یا په ښکاره ویل څۀ حکم لری ؟

جواب : د حدیثونو په هیڅ کتاب کښے د اذان نه مخکښے تعوذ او تسمیه نۀ ده راغلے۔ نو دا دواړه یا په دے کښے یو لوستل په پټه وی اوکه په ښکاره، دا بدعت او په دین کښے د ځانه زیاتے کول دی۔

مسلمانانو له پکار دی چه صرف په هغه شئ عمل وکړی کوم چه په شریعت کښے راغلے وی، د هغے نه تیریدل جائز نۀ دی۔

[انظر أحسن الفتاوی : ۲۸۷/۲، وما قاله صاحب فتاوی دیوبند : ۹٦/۲، خطأ].

په یو وخت کښے په دوه جوماتونو کښے اذان ویل

۵٤۸ – **سوال** : یو سړے په یو وخت کښے په دوه جوماتونو کښے اذان کوی، دۀ څۀ

حکم دے ؟

جواب : دا سنت نهٔ دی. بلکه د مؤذن او غیر مؤذن دپاره سنت داده چه د دغه جومات نه په غیر د سخت ضرورت نه ونه وځی، لکه مخکښے په دے حقله احادیث تیر شو. ددے باوجود که چا په دے جومات کښے اذان وکړو او بیا د جومات نه وواتهٔ نو دهٔ د نبی اکرم ﷺ خلاف وکړو، نو په بل جومات کښے به ددے سړی اذان څنګه جائز شی ؟

احنافو هم په دویم جومات کښے ددهٔ اذان ته مکروه ویلی. خو دویٔ هغه دلیل نهٔ دے ذکر کړے کوم چه ما ذکرکړو، دویٔ په دلیل کښے ویلی دی چه نفلی اذانونه غیر مشروع دی. دا دلیل هم حق دے.

[رد المحتار : ۳۷۲/۱، البدائع والصنائع : ۸۵/۱].

دغه شان څوك چه په یو جومات کښے اذان وکړی او بیا په بل جومات کښے اقامت کوی نو دا هم جائز نهٔ دی.

كه ډير اذانونه واوری نو د اولنی جواب به وركوی

۵٤۹ – **سوال** : یو سړے ډیر اذانونه آوری نو دے به د کوم یو اذان جواب ورکوی ؟

جواب : ظاهره داده چه دے به د اولنی اذان جواب ورکوی که هغه ددهٔ د جومات اذان وی اوکه د بل جومات وی. او یاکه وسه ئے وه نو د ټولو اذانونو جواب به ورکوی، ځکه سبب دلته ګنړ دے چه هغه د اذان آوریدل دی. او نبی ﷺ فرمایلی دی : [إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ] نو دلته (اذا) لفظ د عموم دپاره دے.

[رد المحتار : ۳٦۹/۱].

امام نوویؒ فرمائی : کله چه بار بار اذان واوری نو د اولنی اذان جواب به ورکوی اوکه د هر اذان جواب ورکول مستحب دی ؟ په دے کښے د سلفوؒ اختلاف دے، غوره داده چه جواب ورکول واجب نهٔ دی او مستحبه داده چه د ټولو ورکړی.

[المجموع شرح المهذب : ۱۱۹/۳].

په اقامت کښې ښی او ګس اړخ ته کتل

۵۵۰ – **سوال** : په اقامت کښې – د اذان پشان – ښی او ګس اړخ ته کتل مسنون دی اوکه نه ؟

جواب : په اذان کښې ښی او ګس اړخ ته کتل سنت دی لکه مخکښې تیر شو.
او هر چه اقامت دے نو په دے کښې ښی او ګس اړخ ته کتل مونږ په سُنت کښې نهٔ دی لیدلی. بعضِ علماؤ – لکه صاحب د الدر المختار – ویلی دی چه په اذان او اقامت دواړو کښې به ښی او ګس اړخ ته ګوری.
[الدر المختار، ورد المحتار : ۱/۳٦۰].

خو صحیح خبره داده چه په اقامت کښې کتل مسنون نهٔ دی، ځکه دا په حدیثو کښې ثابت نهٔ دی. او اقامت په اذان باندے قیاس کول جائز نهٔ دی. ځکه په دے دواړو کښې ډیر فرقونه دی.

○ د اذان او اقامت ترمینځه فرقونه :

۱ – په اقامت کښې په اوچت ځائے ودریدل مسنون نهٔ دی. او په اذان کښې مسنون دی.
۲ – په اقامت کښې په غوږونو کښې ګوتے کیښودل مسنون نهٔ دی. او په اذان کښې مسنون دی. [شرح السنة : ۲/٦٤].
۳ – په اقامت کښې تادی کول پکار دی. په خلاف د اذان نه.
٤ – د اذان نه پس نفل مونځ کول پکار دی، په خلاف د اقامت نه.
۵ – په اذان کښې کله نا کله ترجیع کول مستحب وی، په خلاف د اقامت نه.
٦ – د اذان نه پس د وسیلے دعاء لوستل مستحب دی، په خلاف د اقامت نه.
۷ – د اقامت نه پس به تادی نهٔ کوی ځکه ددے نه منع راغلے.
۸ – د اذان واك او اختیار د مؤذن سره دے. په خلاف د اقامت نه چه ددے واك د امام سره دے. لکه مخکښې تیر شو. [شرح السنة : ۲/۸۹].
۹ – اذان د مانځه نه سیوا په نورو ځایونو کښې هم مشروع دے، لکه مخکښې تیر شو. په خلاف د اقامت نه چه دا صرف د مونځونو دپاره کیږی.

۱۰ – په اقامت کښې به [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] دوه ځله ویل کیږي. په خلاف د اذان نه.
۱۱ – د سهار په اذان کښې [اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] ویل کیږي. په خلاف د اقامت نه.
۱۲ – نو دغه شان په اذان کښې به ښي او ګس طرف ته کتل کیږي، په خلاف د اقامت.
نو دا ګڼر فرقونه دي. نو ددې باوجود اقامت په اذان باندې قیاس کول په دې مسئله کښې صحیح نهٔ دي.
او مسلمانانو له پکار دي چه ددې قِسم – بې ضرورته – قیاسونو نه ځان وساتي، ځکه دا د هر بدعت چابي ده. والله المستعان.
○ د تعجب خبره داده چه په [فتاویٰ دیوبند] کښې ئې اشاره کړې چه په سُنت کښې په اقامت کښې ښي او ګس اړخ ته کتل ثابت نهٔ دي. او ددې باوجود ئې ویلي دي چه ددې کول غوره دي !! [فتاویٰ دیوبند : ۸۹/۲].

د اقامت په وخت په سینه لاس کیښودل ثابت نهٔ دي

۵۵۱ – **سوال** : د اقامت په وخت په سینه لاس کیښودل جائز دي اوکه نه ؟
جواب : دا خبره په هیڅ حدیث کښې ثابته نهٔ ده. نو ددې کول جائز نهٔ دي بلکه دا بدعت او په دین کښې زیاتې کول دي. او نبي ﷺ فرمائي : [مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ] (چا چه یو داسې کار وکړو چه په هغې باندې زمونږ امر نهٔ وو، نو دا مردود دې).
[صحیح مسلم، وانظر أحسن الفتاوی : ۲۹۷/۲].

د باران په وخت په اذان کښې [أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ] ویل

۵۵۲ – **سوال** : د باران په وخت د مؤذن دا وینا [أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ] (خبردار ! په کورونو کښې مونځ وکړئ) ثابته ده اوکه نه ؟
جواب : هو ! دا وینا ثابته ده.
۱ – عبد الله بن حارث ؒ فرمائي : مونږ ته ابن عباس رضی الله عنه د ختهو په ورځ خطبه راکړه او کله چه مؤذن [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] ته ورسیدهٔ نو حکم ئې ورته وکړو چه دا آواز وکړي چه په خپلو کورونو کښې مونځ وکړئ. نو خلکو یو بل ته وکتل، هغهٔ وفرمایل : داسې معلومیږي چه

تاسو دا کار ناشنا وګنړلو۔ دا کار هغه چا کړے چه هغه مانه ډیر غوره دے، او دا پخه خبره ده۔
[صحیح بخاری : ۸٦/۱، مسلم : ۱٦٥/۱، بیهقی : ۳۹۸/۱].

۲ - نعیم بن الخام ﷜ فرمائی : (زهٔ د خپلے ښځے سره په یخه شپه کښے په څادر کښے پروت ووم نو دے کښے د رسول الله ﷺ اذان کونکی د سهار د مانځه دپاره اذان وکړو، نو کله چه ما واوریدهٔ ځان سره مے وویل : که چرے اذان کونکے داسے ووائی چه څوك کور کښے کیناستهٔ نو څهٔ حرج نهٔ لری (نو دا به ښهٔ وی) نو هغه مؤذن د : اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ ویلو نه روسته داسے وویل چه : څوك کیناستهٔ نو څهٔ حرج نشته)۔
[بیهقی : ٤۲۳/۱، عبد الرزاق ٥۰۱/۱، وإسناده صحیح کما أشار إلیه الحافظ فی الفتح : ۹۹/۲].

دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه [اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] به په دویم اذان کښے وائی، لکه ددے خبرے تحقیق مخکښے تیر شو۔

ابن حزمؒ دا وینا په سخته یخنئ او باران کښے ضروری ګرځولے ده۔
[المحلی : ۱۹٥/۲].

د جُمعے په ورځ د دویم اذان جواب ورکول مسنون دی

۵۵۳ - **سوال** : ځینے مفتیانو صاحبانو ویلی دی چه د جُمعے په ورځ د دویم اذان جواب ورکول مکروه دی۔ [لکه فتاویٰ دیوبند : ۹۱/۲] نو دا خبره څنګه ده ؟

جواب : دا خبره غلطه ده، بلکه د دویم اذان جواب به امام هم ورکوی او نور مقتدیان به ئے هم ورکوی۔

ابو امامه بن سهل بن حنیف ﷜ نه روایت دے دا وائی : [سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِيْ سُفُيَانَ وَهُوَ جَالِسٌ عَلَى الْمِنبَرِ أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ قَالَ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ اللّٰهُ اَكْبَرُ، فَقَالَ مُعَاوِيَةُ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ اللّٰه اَكْبَرُ، فَقَالَ أَشْهَدُ اَنْ لَّا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰه، فَقَالَ مُعَاوِيَةُ : وَأَنَا، قَالَ : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، قَالَ مُعَاوِيَةُ : وَأَنَا. فَلَمَّا أَنْ قَضَى التَّأْذِيْنَ قَالَ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَلى هٰذَا الْمَجْلِسِ حِيْنَ أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ يَقُوْلُ مَا سَمِعْتُمْ مِنِّيْ مَقَالَتِيْ].

(ما معاویه ﷜ نه واوریدل او هغه د منبر دپاسه ناست وو چه مؤذن اذان وکړو او اَللّٰهُ اکبر اَللّٰهُ اکبر ئے وویلو، نو معاویه هم الله اکبر الله اکبر وویلو۔ بیا مؤذن اشهد ان لا اله الا الله

وویلو، نو معاویه وویل : زهٔ هم دا ګواهی کوم۔ او کله چه مؤذن اشهد ان محمدًا رسول الله وویلو، نو معاویه وویل : زهٔ هم دا ګواهی کوم۔ کله چه مؤذن اذان ختم کړو نو معاویه ﷛ وفرمایل : اے خلکو ! ما د رسول الله ﷺ نه په همدے مجلس کښې آوریدلی دی چه کله مؤذن اذان وکړو نو هغه شان کلمات ئے وویل کوم چه تاسو مانه واوریدل)۔

[صحیح بخاری : ۱/۱۲٤، باب یجیب الإمام علی المنبر إذا سمع النداء].

او امام نسائیؒ هم دیته اشاره کړے چه دا جواب ورکول امام پورے خاص نهٔ دی، بلکه هر چاله ددے اذان جواب ورکول پکار دی۔

[سنن النسائی : ۱/۱۰۹، وانظر صحیح البخاری : ۱/۸٦].

نو ددے صحیح حدیث نه معلومه شوه چه د دویم اذان جواب ورکول نبوی سنت دی۔ نو بیا دا ویل څنګه صحیح کیدے شی چه دا مکروه کار دے ؟ دا د نص په خلاف فتویٰ ده، دے له هیڅ اعتبار نشته۔

په اذان او تلاوت کښې دننه په نبی ﷺ درود ویل

۵۵٤ – **سوال**: د اذان او اقامت او د قرآن لوستلو په وخت په نبی ﷺ درود ویل مستحب دی او که نه ؟

جواب : په اذان او اقامت کښې، دارنګه کله چه څوك قرآن لولی او د نبی ﷺ نوم راشے په دے وخت کښې په نبی ﷺ باندے درود نهٔ دی ویل پکار۔ ځکه په دے ځایونو کښې درود ویل په حدیثو کښې نهٔ دی ثابت۔ بلکه نبی ﷺ فرمائی : (کله چه تاسو د مؤذن نه واوریدل نو تاسو هم هغه شان کلمات وایئ او بیا په ما درود وایئ)۔ نو داسے ئے نهٔ دی ویلی چه په اذان کښې دننه په ما درود وایئ۔ نو څوك چه ددے په استحباب باندے قائل دی نو هغه بدعت کوی۔

دا خبره مخکښې په مسئله نمبر (۵۳٤) کښې تفصیلًا تیره شوے ده۔

په اذان کښې ترجیع کول مسنون دی

۵۵۵ – **سوال** : د احنافو دا خبره څهٔ حیثیت لری چه په اذان کښې (ترجیع) مکروه ده ؟

جواب: اذان په دواړو طریقو سره راغلے۔ په ترجیع سره هم راغلے او د ترجیع نه په غیر هم راغلے۔ نو کله نا کله ترجیع کول هم مسنون دی۔ دیته مکروه ویل غلط دی۔ ترجیع په ډیرو صحیح حدیثونو کښې ثابته ده۔ ځینې دادی :

○ **هغه دلائل چه په هغې کښې ترجیع راغلے ده :**

۱ – ابو محذوره رضي الله عنه نه روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلم دهٔ ته داسے اذان وښودلو: [اَللّٰهُ اَکۡبَرُ اَللّٰهُ اَکۡبَرُ، أَشۡهَدُ أَنۡ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشۡهَدُ أَنۡ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشۡهَدُ أَنَّ مُحَمّدً رَّسُوۡلُ اللّٰهِ، أَشۡهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوۡلُ اللّٰهِ، ثُمَّ يَعُوۡدُ فَيَقُوۡلُ : أَشۡهَدُ أَنۡ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشۡهَدُ أَنۡ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مَرَّتَيۡنِ، أَشۡهَدُ أَنَّ مُحَمّدً رَّسُوۡلُ اللّٰهِ، أَشۡهَدُ أَنَّ مُحَمّدً رَّسُوۡلُ اللّٰهِ مَرَّتَيۡنِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ مَرَّتَيۡنِ، حَيَّ عَلَى الۡفَلَاحِ مَرَّتَيۡنِ. زَادَ إِسۡحَاقُ : اَللّٰهُ اَکۡبَرُ اللّٰهُ اَکۡبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ].

[صحیح مسلم : ۱/۱٦٥].

امام نووی رحمه الله فرمائی : دا حدیث ښکاره دلیل دے د امام مالك، شافعی، احمد او جمهورو علماؤ دپاره چه په اذان کښې ترجیع کول ثابت او مشروع دی۔ او ترجیع دیته وائی چه دوه ځله شهادتین په ښکته آواز سره ووائی۔ بیا واپس شی او بیا ئے دوه ځله په اوچت آواز سره ووائی۔

او ابوحنیفه او کوفیان وائی چه: په اذان کښې ترجیع مشروع نهٔ ده۔د دوئ دلیل د عبد الله بن زید رضي الله عنه حدیث دے چه د هغهٔ په اذان کښې ترجیع نشته۔ او د جمهورو دلیل دغه پورتنے صحیح حدیث دے۔ او دا د درے وجو نه راجح دے۔ (۱) یو خو په دے کښې زیاتی مسنونه طریقه ښودلے شوے، چه ددے قبلول پکار دی۔ (۲) دویم : د ابو محذوره دغه پورتنے حدیث د عبد الله بن زید د حدیث نه روستو راغلے۔ ځکه د ابو محذوره حدیث د حُنین د غزا نه پس په اتم (۸) هجری کال باندے راغلے۔ او د عبد الله بن زید حدیث د اذان د مشروعیت په ابتداء کښې وو۔ (۳) د ابو محذوره د اذان سره دا خبره هم ده چه په دے باندے د اهلِ مکه، اهلِ مدینه او باقی ښارونو والو عمل راغلے۔

[شرح مسلم للنووی رحمه الله : ۱/۱٦٥].

۲ – ابو محذوره رضي الله عنه نه روایت دے چه (نبی صلی الله علیه وسلم دهٔ ته د اذان نولس (۱۹) کلمے او د اقامت ولس (۱۷) کلمے وښودلے)۔

[ابوداود : ۱/۷۹، أحمد، ترمذی : ۱/٤۸، نسائی : ۱/۱۱۰، دارمی : ۱/۲۱٦، مشکاة : ۱/٦۳].

۳ – ابو محذوره رضي الله عنه **فرمائی : ما عرض وکړو، اے د الله رسوله ! ما ته د اذان مسنونه طریقه راوښایه ! نو نبی** صلی الله علیه وسلم **د هغهٔ د سر په مخکنئ برخه لاس راښکهٔ او وے فرمایل : داسے وایه : اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ په ترجیح سره ئے ورته اذان وښودلو۔**

[ابوداود : ۱/۸۰، مشکاة : ۱/٦۳].

دا حدیث په ډاګه دلیل دے چه نبی صلی الله علیه وسلم **هغهٔ ته مسنون اذان ښودلے وو۔**

نو کوم خلك چه ددے حدیث بے ځایه جوابونه کوی، هغه درست نهٔ دی۔ لکه وائی :

(۱) ابو محذوره خپل آواز پوره نهٔ وو پورته کړے نو ځکه ئے ورته د دغه کلماتو د دوباره ویلو امر وکړو۔

(۲) یا هغه نوے مسلمان شوے وو نو ځکه ئے ورته د شهادتینو د دوباره ویلو امر وکړو، دے دپاره چه ایمان ئے په زړهٔ کښے مضبوط شی۔

دا قِسم جوابونه کول د دغه پورتنو صریح نصوصو خلاف کار دے۔

او د حدیث ثابتیدو نه پس جوابونو ته څهٔ ضرورت دے ؟

علامه سندیؒ فرمائی : دا الفاظ صریح دلیل دے په دے خبره چه نبی صلی الله علیه وسلم **ابو محذوره** رضي الله عنه **ته د ترجیع امر کړے وو۔ نو د هغه چا خبره بیکاره شوه چه هغه وائی : دغه الفاظ ئے ورته د تعلیم دپاره تکرار کړی وو، نو ابو محذوره دا ترجیع اصل حکم وګنړلو۔ او د بلال** رضي الله عنه **په حدیث کښے بغیر د شك شبهے نه ترجیع نهٔ کول هم ثابت دی۔ نو اصل وجه داده چه دا دواړه کارونه جائز دی۔**

[حاشیة ابن ماجه للسندیؒ فی شرح قوله : ثم قال لی : ارجع فمدّ من صوتك].

علامه مبارکفوریؒ د پورتنی عبارت نقل کولو نه پس فرمائی : همدا حقه خبره ده چه دواړه وجے جائزے، ثابتے، مشروعے او د نبی صلی الله علیه وسلم **سنت طریقے دی۔ بیا ئے د هغه ټولو تاویلونو نه جوابونه کړی کوم چه احنافو ذکر کړی دی۔**

[المرعاة : ۲/۳٤۷، وانظر الدرایة ونصب الرایة : ۱/۲٦۳، مسند أحمد : ۲/٤۰۸].

دے نه معلومه شوه چه د ترجیع والا اذان ته مکروه ویل، د احنافو بیباکی او خطرناك جُرأت دے چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم **د سنتو په خلاف ئے کړے دے !!**

او د صاحبِ هدايه دا خبره چه په دے ترجيع كښے ابو محذوره ﷛ خطا شوے دے، دا په غير د څۀ شك نه بيكاره خبره ده. ځكه په دے كښے د ثقاتو او معتمدو صحابه كرامو j خطا كول دى. ددۀ ددے خبرے نه خو دا معلوميږى چه صحابه كرامو به د حديث په نقل كولو كښے احتياط نۀ كولو، بلكه دغسے په غير د تحقيق نه به ئے را نقل كول !! حالانكه د صحابه كرامو j شان او سيرت، تقوىٰ او په نقل د حديث كښے احتياط مشهور او معروف دے. نو كه تۀ چرته د حق اراده لرے نو ځان پو هه كړه !!

اذان كونكے به د خپل اذان جواب نۀ وركوى

۵۵٦ - **سوال** : اذان كونكے به د خپل اذان جواب وركوى اوكه نه ؟ دارنګ اذان كونكے به د اذان نه پس په نبى ﷺ درود وائى اوكه نه ؟

جواب : صحيح خبره داده چه اذان كونكے به د خپلو الفاظو جواب نۀ وركوى.

شيخ ناصر السعدىؒ فرمائى : صحيح داده چه دا كار مستحب نۀ دے بلكه اذان او اقامت كونكى دپاره كافى دى چه د اذان او اقامت په جملو باندے راتګ وكړى. او نبى ﷺ چه د اذان جواب وركولو ته ترغيب وركړے نو دا ترغيب سامعينو ته متوجه دے، نۀ اذان كونكو ته، لكه چه دا د سياق نه معلوميږى.

[المختارات الجلية ص : ٤٤].

شيخ البانىؒ فرمائى : د نبى ﷺ په دے وينا كښے چه (كله تاسو د مؤذن اذان واورئ) دا خطاب هغه آوريدونكو ته دے چه دوئ ته د اذان د جواب وركولو امر شوے، په دے كښے مؤذن خپله نۀ دے داخل. ګنے بيا خو به لازمه شى چه دا به د خپلے خبرے جواب په خپلے خبرے سره وركوى، او ددے هيڅ قائل نشته، او دا خبره كول په دين كښے بدعت دے.

سوال : آيا مؤذن به په نبى ﷺ باندے په پټه باندے د درود ويلو نه منع كولے شى؟

جواب : بيخى منع نۀ دے، بلكه ددے نه منع دے چه د اذان نه پس ددے التزام كوى، هسے نۀ دا درود د اذان نه څوك ونۀ ګنړى او په اذان كښے چرته زياتے رانشى. او د سامع او مؤذن ترمينځه برابرى رانشى، چه دا تولے خبرے جائزے نۀ دى.

[تمام المنة ص ١٥٨، ونقله مشهور سلمان فى أخطاءِ المصلين، ص : ١٧٤].

زۀ وایم : د نبی ﷺ ددې وینا سیاق چه (کله تاسو د مؤذن اذان واورئ نو د هغۀ پشان کلمات وایئ بیا په ما درود ووایئ) ددې نه معلومیږی چه خطاب په دې تولو خبرو کښې آوریدونکو ته دې نۀ مؤذن او مقیم ته۔ نو دوئ به نۀ د اذان جواب ورکوی او نۀ به درود وائی، لکه چه دا خبره ظاهره ده۔ خو د حدیث د آخری الفاظو نه معلومیږی چه د درود حکم ټولو ته شامل دې، ځکه په هغې کښې راغلی (چاچه په ما یو ځل درود وویلو، الله به د هغې په عوض پرې لس رحمتونه نازل کړی)۔ په دې کښې (مَنْ) کلمه مؤذن او نورو ټولو ته شامله ده۔ ښۀ سوچ وکړه ! والله أعلم.

د فوت شوو مونځونو دپاره به هم اذان کوی

۵۵۷ – **سوال** : د فوت شوو مونځونو دپاره به اذان کوی اوکه نه ؟ اوکه د سهار مونځ فوت شوې وی نو د هغې په اذان کښې به [اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ] وائی اوکه نه ؟

جواب : هو ! په ډیرو حدیثونو کښې د فوت شوو مونځونو دپاره اذان راغلې، لکه چه دا مسئله مخکښې تیره شوې ده۔

او په مونځ قضاء کیدو سره د اذان الفاظ نۀ بدلیږی، بلکه په هغه طریقه سره به اذان کوی په کومه طریقه سره چه د اداء دپاره کوی۔ ځکه په دې باره کښې راغلی دلائل مطلق دی۔ والله أعلم.

که مونځ فاسد شو نو اقامت به هم دوباره کوی

۵۵۸ – **سوال** : که مونځ فاسد شی نو اقامت به راګرځوی اوکه نه ؟

جواب : ظاهره داده چه اقامت د مانځه د سننو نه دې نو چه مونځ دوباره کوی نو اقامت به هم راګرځوی۔ بله دا چه د اقامت او د مانځه ترمینځه اوږده فاصله واقع شوه۔

[وانظر الدر المختار : ۱/۳۷۱].

اقامت نه پس که خبرې اوږدې شی نو دوباره کولو ته ئې ضرورت نشته

۵۵۹ – **سوال**: ځینې خلك وائی : چه د اقامت کولو نه پس چه خبرې اوږدې شی نو

اقامت به راګرځوی، دا خبره صحیح ده اوکه نه ؟

جواب : دا خبره بیکاره او د صحیح حدیث خلاف ده۔

انس رضی الله عنه فرمائی : (اقامت وشو او نبی ﷺ د جومات په یو طرف کښې د یو سړی سره پټې خبرې کولې، نو مانځه ته ونهٔ دریدهٔ مګر هله چه خلك اودهٔ شول)۔

[صحیح بخاری : ١/٨٩، باب الإمام تعرض له الحاجة بعد الإقامة].

بیا امام بخاریؒ باب تړی : د اقامت نه پس د خبرو کولو بیان۔

حمیدؒ فرمائی : ما د ثابت البنانیؒ نه د هغه سړی په حقله پوښتنه وکړه چه هغه د اقامت نه پس خبرې کوی، نو هغهٔ ماته د انس – رضی الله عنه – نه دا حدیث پیش کړو چه : [أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَعَرَضَ لِلنَّبِيِّ ﷺ رَجُلٌ فَحَبِسَهٗ بَعْدَ مَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ].

(د اقامت نه پس نبی ﷺ ته یو سړې راپیښ شو او هغه ئې د اقامت نه پس د مونځ کولو نه بند کړو)۔

[صحیح بخاری : ١/٨٩، باب الکلام إذا أقیمت الصلاة].

نو ددې دواړو حدیثونو نه معلومه شوه چه د اقامت نه پس خبرې کول جائز دی۔

نو د شامی دا خبره خطا ده چه : عملِ کثیر او کلامِ کثیر سره اقامت ختمیږی۔

دغه دواړه صحیح حدیثونه د هغهٔ په خبره رد دې۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دې حدیث نه ثابته شوه چه د اقامت او مونځ شروع کولو ترمینځ فاصله ساتل جائز دی هرکله چه د حاجت او ضرورت د وجې وی۔ پاتې شو بې ضرورته فاصله ساتل نو دا مکروه دی۔ او دا حدیث د احنافو ددې خبرې په خلاف دلیل دې، چه دوئ وائی : مؤذن چه کله [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] ووائی، نو په امام باندې تکبیر کول واجب دی۔

[فتح الباری : ٢/٩٨].

علامه ابن حزمؒ فرمائی : د اقامت او مانځه ترمینځه خبرې کول جائز دی، لنډې خبرې وی اوکه اوږدې، او اقامت به ددې په وجه نهٔ دوباره کیږی، بیا ئې د انس رضی الله عنه پورتنې حدیث، سره د عقلی نه پیش کړې۔

[المحلی : ٢/١٩٦].

روژه ماتی دپاره د اذان په ځائے ډول او تنبل وهل

٥٦٠ - **سوال** : يوه ډله ده چه په رمضان کښے د روژه ماتی دپاره اذان نۀ کوی، بلکه ډول يا ټلۍ يا ډومبقے وغيره وهی. اوکله چه روژه ماتے وکړی نو بيا د مانځه دپاره اذان کوی. نو د دوئ دا عمل شرعے ته درست دے اوکه نه ؟

جواب : دا کار باطل او د سنت خلاف عمل دے، ځکه د نبی اکرم ﷺ په زمانه کښے به د روژه ماتی او مونځ دواړو د طرفه صرف يو اذان کيدۀ.

ابو عطيۀ وائی: (زۀ او مسروقؒ عائشے k کره ورغلو او عرض مو وکړو، اے د مؤمنانو مورے ! د محمد ﷺ دوه ملګری دی چه په دوئ کښے يو کس روژه ماتے او مونځ دواړه وختی کوی. او هغه بل روژه ماتے او مونځ دواړه ناوخته کوی. عائشے k وفرمايل : کوم يو کس په کښے روژه ماتے او مونځ دواړه وختی کوی ؟ مونږ ويلے : عبد الله بن مسعود. هغے وفرمايل : دغه شان کار به رسول الله ﷺ هم کولو. او هغه بل کس ابو موسی اشعری ﷺ وو).

[صحيح مسلم : ١/٣٥١، مشکاة : ١/١٧٦).

نو ددے صحيح حديث نه معلومه شوه چه د روژه ماتی او مانځه دواړو دپاره به اذان کيدۀ.

او کيدے شی چه دغه خلك دا کار د احنافو په دے خبره د عمل کولو دپاره کوی چه دوئ وائی : په ماښام مانځه کښے د اذان او اقامت ترمينځه تاخير جائز نۀ دے مګر دومره اندازه چه په هغے کښے صرف درے آيتونه يا درے قدمونه کيښودلے شی.

حالانکه په مسئله نمبر (٤٩٣) کښے مخکښے تير شو چه دا خبره باطله ده.

نو د دوئ دا کار شرعے ته درست نۀ دے، بلکه دا بدعت او په دين کښے داسے زيادت کول دی چه د رسول الله ﷺ او د هغۀ د صحابه کرامو په زمانه کښے نۀ وو.

د اذان کيدو په وخت قضائے حاجت له نۀ دی تلل پکار

٥٦١ - **سوال** : يو سړے د تشو يا ډکو متيازو اراده لری، او مؤذن اذان شروع کړی، نو دا

کس به بیت الخلاء ته ځي اوکه د اذان ختمیدو پورې به صبر کوي ؟

جواب : افضله داده چه د اذان جواب ورکولو پورې صبر وکړي۔ د بعضِ سلفوؒ به دا عادت وو چه د اذان شروع کیدو په وخت به بیت الخلاء ته نهٔ تلل، ځکه الله تعالیٰ سره به ئې د ادب معامله کوله۔ او ادب د دین په ټولو کارونو کښې ښهٔ شے دے، ځکه دا د الله تعالیٰ د شعائرو تعظیم دے۔

د بعضِ سلفوؒ نه نقل دی چه : انسان له پکار دی چه د الله تعالیٰ وقار په خپل زړهٔ کښې ساتي او د الله نوم دے د هغه شیانو سره نهٔ پیوسته کوي چه د هغے نه خلك شرم کوي، لکه یو کس وائي : الله دے سپے او خنزیر او ګندګۍ وغیره تباه کړي۔ددے نه ځان ساتل مناسب دی ځکه په دے کښې د الله وقار او ادب دے۔

[بدائع التفسیر : ۳۵/۵].

اوکه سخت ضرورت ئې وي نو بیا په دے وخت کښې بیت الخلاء ته ننوتلو کښې څهٔ باك نشته۔ [انظر فتاوىٰ دیوبند : ۱۳۰/۲].

اذان دپاره خسنړے اچول

۵٦۲ – **سوال** : که هر یو کس غواړي چه اذان وکړي نو د دوئ ترمینځه قرعه اندازي (خسنړے اچول) جائز دي اوکه نه ؟ دارنګه په اذان کښې دننه د چانه د اذان الفاظ اخستل جائز دي اوکه نه ؟

جواب : هو ! په اذان قرعه اندازي کول جائز دي۔

د صحیح بخاري په حدیث کښې دي : [لَوۡ يَعۡلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الۡأَوَّلِ ثُمَّ لَمۡ يَجِدُوۡا إِلَّا أَنۡ يَّسۡتَهِمُوۡا عَلَيۡهِ لَاسۡتَهَمُوۡا عَلَيۡهِ].

(که چرے خلکو ته هغه ثواب معلوم شي چه هغه په اذان او په اولني صف کښې دے او بیا دوئ دا ثواب صرف د خسنړي اچولو په صورت کښې بیاموندے شي نو خامخا به دوئ په دے باندے خسنړے اچولے وے)۔

[صحیح بخاري : ۱۰۰/۱، مشکاة : ٦۲/۱].

او سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه د قادسیه په جنګ کښې د مؤذنینو ترمینځه خسنړے اچولے

وو هر کله چه مؤذن ووژلے شو۔

○ او اذان د تلقین سره هم صحیح دے، چه مؤذن د بل چا د اذان الفاظ آوری او بیا ئے وائی۔ ځکه عبد الله بن زید رضی الله عنه په خوب کښے اذان لیدلے وو او بیا د نبی صلی الله علیه وسلم په حکم ئے بلال رضی الله عنه ته ښودلو او بلال به په دے سره اذان کولو۔

[انظر المجموع : ۳/۱۲۹].

د اذان فوائد

۵۶۳ - سوال : د اذان د فضائلو نه کومے کومے فائدے راوځی ؟

جواب : امام ابو حاتم رحمه الله په [کتاب الاذان] کښے دا راتلونکے فائدے را ایستلی دی :

۱ - افضله داده چه څوك اذان واوری نو د هغے پشان الفاظ دے وائی، سیوا د حیعلو نه چه د هغے د آوریدو نه پس دے حوقله وائی۔ یعنی د [حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ] او [حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ] آوریدو نه پس دے [لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ] وائی۔ ځکه دا د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د قول او فعل دواړو نه ثابت دی، او دا فضیلت ئے ذکر شوے چه څوك دا د زړهٔ نه ووائی، جنت ته به ځی۔

۲ - د اذان د جواب ورکولو په باره کښے چه کوم (امر) راغلے، نو دا د وجوب نه استحباب طرفته آؤښتے دے ځکه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به کله د مؤذن د شهادتینو په وخت [أَنَا، أَنَا] ویلو۔ لکه دا خبره د عائشے k د مخکنی حدیث نه ثابته ده۔

او د نبی صلی الله علیه وسلم نه دا هم ثابته ده چه هغهٔ د اذان آوریدو په وخت یو بل ذکر ته ترغیب ورکړے، لکه د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په حدیث کښے دی، نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

(څوك چه د مؤذن اذان واوری او بیا دا کلمات ووائی :

[أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَّسُوْلًا وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا].

نو دهٔ ته به ددهٔ ګناهونه وبښلے شی)۔

اوددے حدیث په ځینو روایتونو کښے په اوله کښے [وَأَنَا] لفظ هم راغلے۔ او په ابو عوانه رحمه الله وغیره کښے ثابت دی چه دا به د مؤذن د [أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ] په وخت ویلے کیږی، نهٔ د اذان نه پس۔ نو ددے نه معلومیږی چه دا دواړه جدا جدا عبادتونه دی، اوپه دے باره کښے

الحمد لله فراخي ده. اګرکه افضله داده چه د مؤذن د الفاظو پوره جواب ورکړے شی لکه مخکښے تیر شو، ځکه ددے سند ډیر زیات قوی او روایت ئے ډیر زیات صحیح دے. بلکه دا چه دا د نبی ﷺ په امر او فعل دواړو سره ثابت دے، دارنګه ددے فضیلت هم نبی اکرم ﷺ په خپل ارشاد سره ذکر کړے. دے وجے نه په دے عمل کول اولیٰ دی. خو زمونږ شریعت چونکه همیشه دپاره د خلکو مقاصد خپلے مخے ته نیولی وی او د هغوئ د مختلفو احوالو لحاظ ساتی، دے وجے نه دلته ئے فراخی پیدا کړے. ځکه کله داسے وشی چه انسان ته داسے کارونه او حالتونه راپیښ شی چه د هغے د وجے نه د مؤذن سره د هغهٔ د اذان ټول الفاظ نشی تکرارولے، نو ددهٔ لپاره هغه الفاظ ویل جائز دی کوم چه د سعد رضی الله عنه په مخکنی حدیث کښے ثابت شو. دارنګه دهٔ له دا هم جائز دی چه د مؤذن نه د شهادتینو آوریدو په وخت صرف [وَأَنَا أَنَا] الفاظ ووائی. او دا د اذان په جواب ورکولو کښے د نبی ﷺ نه مختصرترین الفاظ راغلی دی.

۳ – د مؤذن د اذان آوریدو نه پس په نبی ﷺ درود ویل پکار دی. لکه د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه په حدیث کښے دی، چه دهٔ د نبی ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے: (کله چه تاسو د مؤذن اذان آورئ نو د هغهٔ پشان کلمات وایئ بیا په ما درود وایئ ځکه څوک چه په ما یو ځل درود ووائی الله به ددے په بدل کښے په هغهٔ لس رحمتونه راولیږی).

او بهترین درود، درودِ ابراهیم دے [اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ الخ].

[ولابن القيمؒ كلام قيم في هذه المسألة في كتابه: زاد المعاد: ۲/۲۲].

په نبی ﷺ درود ویل د هر هغه مسلمان دپاره مشروع دی چه اذان ئے آوریدلے وی، او دا په مؤذن پورے خاص نهٔ دی. نو نن صبا چه کوم مؤذنین په زیاتره اسلامی ښارونو کښے دا کار کوی چه د اذان نه پس په زوره د اذان د کلماتو په طرز باندے په لاؤډ سپیکر کښے درود وائی، نو دا قبیح بدعت دے، اګرکه دا کار د یو څو پیړیو نه را روان دے، لیکن دا کار د نبی اکرم ﷺ د هیڅ یو مؤذن نه ثابت نهٔ دے، او نهٔ په خیر القرون کښے دا کار چا کړے. او د خفګان خبره داده چه په دے مؤذنینو کښے ځینے په داسے الفاظو سره درود وائی چه د هغے هیڅ ثبوت نشته. او ځینے د نبی اکرم ﷺ په مدح کښے داسے زیاتے او غُلو کوی چه نبی اکرم ﷺ د الله تعالیٰ سره شریك جوړ کړی !!

٤ – ددې نه پس د نبي ﷺ دپاره د وسیلې دعاء غوښتل پکار دي، او د هغې بهترین الفاظ دادي : [اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُودَ الَّذِىْ وَعَدْتَّهٗ].

او په دې دعاء کښې بل هیڅ یو زیادت د نبي اکرم ﷺ نه ثابت نهٔ دې۔ او څوك چه نبي ﷺ دپاره وسیله غواړي نو هغهٔ دپاره د قیامت په ورځ د نبي ﷺ شفاعت حلال شو۔ [كتاب الأذان لأبى حاتم].

٥ – د وسیلې د دعاء غوښتلو نه پس مسلمان له پکار دي چه د خپل ځان او اهل او نورو مسلمانانو دپاره د خیر او ښیګړې دعاء وغواړي، ځکه د اذان کیدو په وخت د اسمان دروازې پرانستلې شي، نو انسان له پکار دي چه په دې وخت کښې د الله نه ډیرې دعاګانې غواړي، ځکه دا د قبلیدو وخت دې، او د قبلیدو دا وخت تر مونځ ودریدو پورې روان وي۔ ځکه نبي ﷺ نه ثابت دي چه هغوئ وفرمایل :

[اَلدُّعَاءُ لَا يُرَدُّ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ فَادْعُوا].

(د اذان او اقامت ترمینځه دعاء نه رد کیږي، نو تاسو دعاګانې غواړئ)۔

بیا په دې حدیث کښې د دعاء څهٔ خاص الفاظ نهٔ دي راغلي چه هغه وغوښتلې شي۔ او په کومو روایتونو کښې چه خاص الفاظ راغلي، هغه ضعیف دي، قابلِ عمل نهٔ دي۔ دغه شان په خاصو مونځونو کښې چه خاصې دعاګانې روایت شوي چه د هغې د اذانونو او اقامتونو ترمینځه هغه غوښتلې کیږي، نو په دې ټولو کښې هیڅ یو حدیث ثابت شوې نهٔ دې۔

بلکه مسلمان له پکار دي چه د اذان د جواب ورکولو او په نبي ﷺ باندې د درود ویلو او د وسیلې دعاء غوښتلو نه پس چه کومه دعاء غواړي غوښتلې شي۔ د الله نه دې غواړي چه د خیر ټولې دروازې ورته پرانیزي او د شر د ټولو دروازو نه دې په الله سره پناه غواړي۔ او پکار دي چه هغه صحیح منقولې دعاګانې وغواړي کومې به چه نبي اکرم ﷺ غوښتلې۔

٦ – د اقامت آوریدو په وخت په احادیثو کښې هیڅ یوه دعاء نهٔ ده ثابته۔ او په کومو روایتونو کښې چه په دې وخت کښې ځینې دعاګانې راغلي، هغه ثابتې نهٔ دي۔ بعضِ عوام خلك چه کله مانځه ته ودریږي نو [قَائِمِينَ لِلّٰهِ طَائِعِينَ] الفاظ لولي، ددې هم هیڅ بنیاد

نشته.

ټولو مسلمانانو او د نبي ﷺ امت له پکار دي چه کومے دعاګانے د نبي اکرم ﷺ نه ثابتے دي هغه راټينګے کړي او په هغے کښے د نبي ﷺ د تابعدارئ اهتمام وکړي. او دد‌ے نه سيوا نور هر څۀ وغورزوي. دے دپاره چه مسلمانانو ته بيرته هغه عزت او شرافت را واپس شي کوم چه د دوئ نه تلے دے. د امت موجوده د تفرق، اختلاف، ضعف او کمزورئ او ذلت حالت صرف اوصرف په دے وجه جوړ شوے چه دوئ د خپل نبي ﷺ د سنت خيال نۀ ساتي، د هغے خلاف کوي.

د الله تعالىٰ دا خبره ډيره رشتينے ده چه :

﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴾.

په اذان باندے د اجرت اخستو حکم

۵٦٤ - **سوال** : په اذان باندے د اجرت او مزدورئ اخستو څۀ حکم دے ؟

جواب : دا مسئله مخکښے په (۵۳۲) نمبر باندے تيره شوه.

اوس زۀ هغه حديثونه ذکر کوم چه ابو حاتمؒ ذکر کړي دي. هغه فرمائي :

(په اذان باندے د اجرت د اخستلو د مکروه والي بيان) :

۱ - د عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه حديث :

عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه فرمائي :

[إِنَّ مِنْ آخِرِ مَا عَهِدَ إِلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ أَنْ اَتَّخِذَ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلٰى أَذَانِهٖ أَجْرًا].

(رسول الله ﷺ ماته آخرنے وصيت دا کړے وو چه داسے مؤذن ونيسه چه په اذان باندے اجرت نۀ اخلي).

[ترمذى : ۱/۱۳۵، باب ماجاء فى كراهية أن يأخذ المؤذن على الأذان أجرً].

امام ترمذيؒ فرمائي : دا حديث حسن صحيح دے، او په دے د علماؤ عمل دے، دوئ دا خبره بده ګڼړي چه مؤذن په خپل اذان اجرت واخلي، او دوئ دا خبره مستحب ګڼړلے چه مؤذن د ثواب په نيت اذان وکړي.

امام ترمذيؒ چه دے حديث ته حسن صحيح ويلي نو دا کيدے شي چه د متن په وجه ئے

ورته ویلی، که نهٔ وی نو دا حدیث په دے سند صحیح نهٔ گڼړل کیږی، ځکه ددے په سند کښے اشعث بن سوار الکندی النجار الافرق الاثرم د اهواز علاقے قاضی دے، او دا ضعیف دے [تقریب التهذیب]۔

خو دا حدیث په بل سند سره په مسند احمدؒ کښے د عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه نه نقل شوے، دا وائی: (اے د الله رسوله! ما د خپل قوم امام جوړ کړه، وے فرمایل: تهٔ د دوئ امام شوے خو د دوئ د کمزوری لحاظ ساته، او داسے مؤذن ونیسه چه په اذان اجرت نهٔ اخلی)۔

[مسند أحمد: ۲/۲۱۷، وأخرجه ابن خزيمة في صحيحه: ۱/۲۲۱، وقال على شرط مسلم ولم يخرجاه، وروى مسلم وأحمد وغيرهما أصله وليس فيه ذكر اتخاذ المؤذن].

دا حدیث صحیح دے، ځکه په جُریری باندے اګرکه اختلاط راغلے مګر حمادؒ ترے د اختلاط نه مخکښے آوریدل کړی دی۔ [تهذیب التهذیب]۔

۲ – د ابن عمر رضی الله عنه موقوف حدیث:

یحیی البکاء وائی: ما ابن عمر ولیدهٔ چه د صفا مروه ترمینځه ئے سعی کوله او د هغهٔ سره څه خلك وو، نو یو اوږدے ږیری والا سړے ورته راغے او عرض ئے وکړو، اے ابو عبد الرحمن! زهٔ د الله دپاره تاسره مینه کوم۔ ابن عمرؓ ورته وفرمایل: خو زهٔ د الله دپاره تاسره بغض کوم۔ نو د ابن عمر رضی الله عنه ملګرو ابن عمرؓ ملامته کړو او خبرے ئے ورسره وکړے۔ نو هغهٔ وفرمایل: دے په خپل اذان کښے زیاتے کوی او په دے باندے مزدوری اخلی۔

[مصنف عبد الرزاق: ۱/۴۷۱].

او ابن ابی شیبهؒ د یحیی البکاء نه نقل کړی دا وائی: ما د ابن عمرؓ لاس نیولے وو او هغه طواف کولو نودهٔ سره د کعبے د مؤذنینو نه یو مؤذن مخامخ شو او عرض ئے وکړو، زهٔ تاسره د الله دپاره مینه کوم۔ ابن عمرؓ وفرمایل: زهٔ تاسره د الله دپاره بغض لرم، تهٔ د خپل آواز د پیسو دپاره ښائسته کوے۔ اهـ

په دے روایت کښے عمارة بن زازان صیدلانی ابوسلمة البصری دے، دا رشتینے دے خو ډیر زیات خطا کیږی۔ [تقریب]۔ خو په اولنی سند کښے ددهٔ متابع جعفر بن سلیمان موجود دے او دا متابعتِ تامه دے۔ او په دے جعفر کښے اګرکه لږ شان تشیع شته دے مګر دا رشتینے دے۔ [تقریب]۔ لیکن مدار ددے روایتونو په یحیی بن مسلم البکاء بصری

حداني باندې دې، او دا ضعيف دې. [تقريب]. نو دا حديث صرف په دې سند سره صحيح نۀ دې. لکه څنګه چه په اولني سند کښې قتاده عنعنه کړې او دا مدلس دې.

دا روايت ممکنه ده چه په دواړوسندونو سره قوت بيامومي.

۳ – د ابو محذوره – رضى الله عنه – حديث :

د ابو محذوره رضی اللہ عنہ په حديث کښې راځي چه نبي صلی اللہ علیہ وسلم دۀ ته اذان وښودلو او ددې حديث په آخره کښې دي، چه ابو محذوره وائي :

[فَأَعْطَانِي صُرَّةً فِيهَا شَيْءٌ مِنْ فِضَّةٍ].

(نو نبي صلی اللہ علیہ وسلم ماته يوه بټوه راکړه چه په هغې کښې څۀ لږ ډير سپين زر وو).

[سنن النسائي وغيره].

په دې حديث باندې هغه چا استدلال کړې چه هغه په اذان باندې اجرت ورکول جائز ګنړي. خو ددې حديث په سند کښې عبد العزيز بن عبد الملك بن ابي محذوره دې، او دا مجهول الحال راوي دې. او د ابو محذوره د حديث ګڼ شواهد شته چه په هغې سره دا قوت مومي، ليکن ددې روايت نه علاوه په بل هيڅ يو روايت کښې د دغه ورکړې او تحفې تذکره نشته. نو صرف د تحفې دا برخه به ضعيفه وي، نۀ باقي برخه.

بعضِ خلکو د ابو محذوره د حديث او د عثمان بن ابي العاص د حديث ترمينځه په تطبيق کولو کښې تکلف کړې، سره ددې چه په دې کښې چه کوم زيادت دې هغه ثابت نۀ دې. او ددې باوجود ظاهره داده چه د عثمان بن ابي العاص حديث نه ښکاره نۀ معلوميږي چه ګنې د مؤذن دپاره هر قِسمه ورکړه حرامه ده. بلکه زيات نه زيات په هغې کښې دا خبره ده چه نبي صلی اللہ علیہ وسلم عثمان ته ځينې وصيتونه کړي وو، يو په هغې کښې دا وو چه يو داسې مؤذن ونيسې چه هغه د الله دپاره اذان کوي. د هغه چا پشان نۀ چه هغه د رسمي وظيفې اداء کولو په توګه اذان کوي. دغه شان ځينو خلکو د امامتئ نه هم دکانداري جوړه کړې وي او دا يوه رسمي وظيفه ګنړي. [انا لله وإنا إليه راجعون].

امام شوکانیؒ فرمائي : په دې حديث کښې د هغه چا رد نشته چه هغه وائي : په اذان باندې هغه اجرت حرام دې چه د هغې شرط ولګولې شي، اوکه په غير د سوال نه ورکړې شي نو دا حرام نۀ دې. [نيل الأوطار].

د شوکانیؒ د خبرے مطلب دا چه که یو مؤذن وی او هغه په یو جومات کښے د اجر او ثواب په نیت په غیر د څه قید او شرط نه همیشه دپاره اذان کوی، نو که دهٔ ته د مونځ گذارو یا د بیت المال د طرفه څهٔ عطیه ورکړے شی، دے دپاره چه دے پرے د سوال نه خلاص شی او خپل کار دپاره وزګار شی، نو په شریعت کښے ددے نه منع نهٔ ده راغلے۔

والله أعلم.

OOOOOOOOO

کتاب المساجد و مواضع الصلاة

د جوماتونو او د مانځه د ځایونو بیان

جومات ته به په ښئ خپه ننوځی او په ګسه به راوځی

٥٦٥ - **سوال** : جومات ته د داخلیدو په وخت ښئ خپه مخکښې کول، او بیت الخلاء ته د ننوتو په وخت ګسه خپه مخکښې کول، په حدیث کښې ثابت دی او که نه ؟

جواب : انس بن مالك رضي الله عنه فرمائی :

[مِنَ السُّنَّةِ إِذَا دَخَلْتَ الْمَسْجِدَ أَنْ تَبْدَأَ بِرِجْلِكَ الْيُمْنٰى وَإِذَا خَرَجْتَ أَنْ تَبْدَأَ بِرِجْلِكَ الْيُسْرٰى].

(کله چه ته جومات ته ننوځې نو سنت داده چه ته خپله ښئ خپه مخکښې کړې، او کله چه راوځې نو ګسه خپه مخکښې کړې).

[مستدرك للحاکم : ۱/۲۱۸، وإسناده صحیح].

او صحابی چه کله [مِنَ السُّنَّةِ] ووائی، نو دا د مرفوع حدیث په حکم کښې وی.

او په صحیح بخاری کښې دی چه ابن عمر رضي الله عنه د ننوتو په وخت ښئ خپه مخکښې کوله او د راوتو په وخت به ئې ګس خپه مخکښې کوله.

[صحیح بخاری : ۱/٦۱، تعلیقًا : باب التیمن فی دخول المسجد وغیره، وانظر الإرواء : ۱/۱۳۱].

او هر چه بیت الخلاء ده نو په ښی یا ګس طرف باندې دیته د ننوتو په باره کښې ماته هیڅ صریح نص ملاؤ نشو. البته د عائشې k ددې حدیث نه معلومیږی چه : [كَانَتْ يَدُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ الْيُمْنٰى لِطُهُورِهِ وَطَعَامِهِ وَيَدُهُ الْيُسْرٰى لِخَلَائِهِ وَمَا كَانَ مِنْ أَذًى].

(د رسول الله ﷺ ښې لاس به د اودس او خوراك دپاره وو، او ګس لاس به ئې د قضائے حاجت او نورو ګندګیو دپاره وو).

[ابوداود : ۱/٦، مشکاة : ۱/٤۲].

دارنګ په بخاري او مسلم کښې د عائشې k نه روایت دے چه [كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِيْ شَانِهِ كُلِّهِ فِيْ طُهُوْرِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَتَنَعُّلِهِ].

(نبي ﷺ به چه څومره وس وکیدهٔ په خپلو ټولو کارونو کښې به ئے د ښي اړخ نه شروع کول خوښ ګڼړل، که هغه به اودس وو اوکه سر ګمنزول اوکه پیزار پخپو کول).

[صحيح بخاری، صحيح مسلم، مشكاة : ۱/٤٦].

نو ددے دواړو حدیثونو د عموم نه معلومیږی چه د بیت الخلاء نه د راوتو په وخت ښئ خپه مخکښې کول پکار دی. او د ننوتو په وخت به ګسه خپه مخکښې کوی.

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی : کوم کارونه چه د یو لاس خپے پورے خاص وی که هغه د کرامت او عزت کارونه وی نو هغه به په ښي اندام سره کیږی لکه خوراك څكاك او مصافحه کول.

بیا فرمائی : د شریعت په قواعدو کښې دا خبره تاکلے شوے ده چه په کومو کارونو کښې چه ښے او ګس اندام شریك وی نو که هغه د عزت او کرامت کارونه وی نو په هغے کښې به ښے اندام مخکښې کولے شی لکه اودس، غسل او ښي اړخ ته مسواك کول، ترخونه وښکل، جامے اغوستل، پیزار پخپو کول، سراو ګیره ګومنزول، جومات او کورته ننوتل، د بیت الخلاء نه راوتل اوداسے نور. او کوم کارونه چه ددے ضد وی نو په هغے کښې به ګس اندام مخکښې کولے شی لکه بیت الخلاء ته ننوتل، پیزار ویستل، د جومات نه وتل.

او کوم کارونه چه د یو اندام پورے خاص وی که هغه د عزت کارونه وی نو هغه به په ښي اندام سره کیږی لکه خوراك، څكاك، مصافحه کول، کتابونه اخستل ورکول او داسے نور. اوکه د عزت کارونه نهٔ وی نو هغه به په ګس اندام سره کیږی لکه استنجاء کول، اندامِ مخصوصه له ګوتے وروړل، پوزه سونړل اوداسے نور.

[مجموع الفتاوى : ۲۱/۱۰۸، ۱۰۹، رياض الصالحين للنووی : ۲٦۰، عون المعبود].

او دا مخکښې په مسئله نمبر (۱۳۵) کښې تیره شوه.

نو ثابته شوه چه بیت الخلاء ته به په ګسه خپه ننوځی او د هغے نه به په ښئ خپے سره راوځی، چه ددے په باره کښې دغه عام حدیث راغلے د شرعي قواعدو لاندے دا راځی.

امام نوویؒ فرمائی : هر عزتمند کار کښې ښے لاس خپه مخکښې کول مستحب دی لکه

اودس، غسل، تیمم، جامې، څپلۍ، موزې او پرتوګ اغوستلو، مسجد ته داخلیدلو، مسواك کولو، رانجه لګولو، نوکونو پریکولو، بریت واړه کولو، تریخ ویښتان وخکلو، د سر ویښته خرئیلو، د مانځه سلام اړولو، خوراك څکاك، مصافحه کولو، حجر اسود خکلولو، بیت الخلاء نه راوتلو، یو څیز اخستلو او ورکولو او ددې نه علاوه ددې پشان نورو کارونو کښې.

او ددې برعکس په نورو کارونو کښې ګس لاس خپه مخکښې کول مستحب دی. لکه پوزه صفا کول، مسجد نه وتل، موزې، څپلۍ پرتوګ او کپړې وښکل، استنجاء کول، ګنده کارونه اوددې پشان نور څیزونه کول.

بیا ئې دلائل ذکرکړی دی.

[ریاض الصالحین ص: ۲٦۰، المرعاة : ۲/۱۰۵].

کعبه مبارکه کښې دننه مونځ کول

٥٦٦ - سوال : په کعبه شریفه کښې دننه مونځ جائز دے اوکه نه ؟

جواب : هو ! په کعبه کښې فرض او نفل دواړه جائز دی. څکه په اتفاق د مسلمانانو سره د کعبې ټولو اجزاؤ او اړخونو ته مخ کول شرط نۀ دی. او نبی ﷺ په کعبه کښې نفل مونځ کړے وو. او د فرضو او نفلو ترمینځه په عامو احکامو کښې فرق نشته خاصکر قبلې ته د مخ کولو په مسئله کښې.

عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه (رسول الله ﷺ او اسامه بن زید، عثمان بن طلحه الحجبی او بلال بن رباح j کعبې ته ننوتل، او ځان پسې ئې دروازه بنده کړه او په هغې کښې پاتې شو. بلال چه کله راوواتۀ، ما ترې پوښتنه وکړه چه رسول الله ﷺ دننه څۀ وکړل ؟ وې فرمایل : په داسې طریقه ئې په کعبه کښې مونځ وکړو چه یوه ستنه ئې خپل ګس اړخ ته او دوه ستنې ئې ښی اړخ ته او درې ستنې ئې شا طرفته وګرځولې. او بیت الله په دغه وخت کښې شپږ ستنې لرلې.

[بخاری، مسلم : ۱/۴۲۸، مشکاة : ۱/٦۷].

مبارکفوریؒ فرمائی : دې حدیث نه معلومه شوه چه کعبې ته ننوتل مشروع او مستحب

دی، دارنګ په دے کښے مونځ کول مستحب دی، دا حدیث د نفلو په باره کښے دے خو د فرضو حکم هم دغسے دے، ځکه قبلے ته د مخ کولو په مسئله کښے په دے دواړو کښے هیڅ فرق نشته او دا د جمهورو وینا ده۔ امام مالکؒ ددے نه منع کړے ده، او دلیل کښے ئے دا آیت پیش کړے چه : ﴿ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ ﴾ (نوتاسو خپل مخونه د کعبے په طرف وګرځوئ)۔ یعنی مخامخ ورته ودریږئ، او ثوك چه کعبے ته دننه ننوځی نو د کعبے ځینے برخے ته د هغۀ شا راځی۔او د نبی ﷺ نه دا ثابته نۀ ده چه هغوئ په کعبه کښے دننه فرض مونځ کړے وی اګرکه نفل ئے په کښے کړی دی خو په نفلو کښے هغه چشم پوشی کیږی کومه چه په فرضو کښے نۀ کیږی۔

لیکن په آیتِ کریمه کښے د (شطر) نه مراد دا نۀ دے چه د کعبے ټولو اجزاؤ ته مخ کړئ۔ نو ددے نه استدلال کول درست نۀ دی۔

دارقطنیؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی دی چه (نبی ﷺ بیت الله ته ننواتۀ او هلته ئے دوه رکعته وکړل)۔

امام احمدؒ فرمائی : په کعبه کښے دننه فرض مونځ نۀ کیږی۔

[أحكام المساجد للزركشي ص : ۹۱].

خو صحیح خبره اولنئ ده۔

کعبه وغیره کښے په امام باندے وړاندے والے

۵٦۷ – **سوال** : که په کعبه کښے دننه ثوك مونځ کوی او مقتدی د امام نه مخکښے شی او یا د امام مخامخ ودریږی او یا خپله شا د امام شاته کړی، نو ددۀ مونځ صحیح دے اوکه نه؟

جواب : دا مسئلے فقهاؤ په خپلو کتابونو کښے ذکر کړی، خو دا زما په نیز داسے فرضی مسائل دی چه هیڅ حاجت ورته نشته۔

صحیح خبره داده چه دلته دوه حالته دی :

(۱) یابه امام او مقتدیان په کعبه کښے دننه مونځ کوی۔ (۲) او یابه بهر مونځ کوی۔

(۱) که په کعبه کښے دننه مونځ کوی نو په امام او مقتدیانو واجب دی چه دوئ صفونه

جوړ کړی هغه داسې چه امام مخکښې شی او مقتدیان روستو شی، او خپل څټونه برابر کړی او ګیټېۍ د ګیټو سره ولګوی، لکه ددې وضاحت به د صفونو په بیان کښې راشی ان شاء الله.

نبی صلی الله علیه وسلم د صفونو په یوځائې کولو او په جوخت ودریدلو باندې امر فرمایلې. لکه د نعمان بن بشیر رضی الله عنه په حدیث کښې دی، دا وائی : [كُنَّا نُلْزِقُ الْكَعْبَ بِالْكَعْبِ وَالْقَدَمَ بِالْقَدَمِ].

(مونږ به په صف کښې ګیټېۍ د ګیټېۍ سره او قدم د قدم سره جوختولو).

[صحيح بخاری : ۱/۱۰۰].

نو بنا په دې کله چه مقتدی ددې واجب حکم نه قصدًا خلاف وکړی نو ددۀ مونځ صحیح نۀ دې، او په همدې کار سره ددۀ مونځ فاسد دې.

او دا کومې مفروضې چه دوئ په کعبه کښې د مانځه دپاره جوړې کړی دی، دا په عامو جوماتونو کښې هم جوړیدې شی، هغه دا چه مقتدی د جومات په یو ګوټ کښې وی او امام په بل ګوټ کښې وی نو دلته به حکم څۀ وی؟ دابه په مانځه کښې لوې توقې او فساد ګنړلې کیږی.

نو ثابته شوه چه دغه فرضی مسائلو ته هیڅ حاجت نشته کومې چه په کعبه کښې دننه په مونځ کولو کښې فقهاؤ ذکرکړی دی. ولله الحمد.

(۲) اوکه بهر مونځ کوی، نو په دې صورت کښې هم په مقتدیانو واجب دی چه امام پسې روستو صفونه جوړ کړی. او د امام نه مخکښې کیدل جائز نۀ دی، ځکه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په مقتدی لازمه کړې چه دا به د امام نه روستو ودریږی. لکه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائی : [لِيَلِيَنِىْ مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهٰى].

(په تاسو کښې دې بالغان او عقل والا خلك ماته نزدې ودریږی).

او فرمائی: [تَقَدَّمُوْا فَائْتَمُّوْا بِىْ وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ]. وَقَالَ : [لِتَأْتَمُّوْا بِىْ].

(تاسو په ما پسې اقتداء کوئ او په تاسو پسې دې هغه خلك اقتداء کوی چه تاسو نه روستو دی).

[صحيح مسلم : ۲/۳۱، ۷٤، مشكاة : ۱/۹۸].

○ او کله چه مقتدی یو کس وی نو امام سره د هغۀ برابر ودریدل هم ثابت دی. لکه د ابن

عباس رضي الله عنه په حدیث کښې دي، دا وائي : [بِتُّ عِنۡدَ خَالَتِیۡ فَقَامَ النَّبِیُّ ﷺ یُصَلِّیۡ مِنَ اللَّیۡلِ فَقُمۡتُ أُصَلِّیۡ عَنۡ یَسَارِہٖ فَأَخَذَ بِرَأۡسِیۡ فَأَقَامَنِیۡ عَنۡ یَمِیۡنِہٖ].

(ما د خپلے ترور میمونے کره شپه تیره کړه نو نبي ﷺ د شپے مانځه ته پاسیده نو زهٔ هم د هغهٔ ګس اړخ ته ودریدم، نو هغوئ زما سر ونیوهٔ او زهٔ ئے خپل ښي اړخ ته ودرولم).

[بخاری، مسلم، شرح السنة : ۲/۳۹۱].

اسودؒ او علقمهؒ دواړه وائي : مونږ د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه کور ته راغلو نو هغهٔ وفرمایل: آیا دے خلکو تاسو پسے مونځ کړے ؟ مونږ ویل نه ! ویلے ودریږئ او مونځ وکړئ. نو مونږ ته ئے نهٔ د اذان حکم وکړو اونهٔ د اقامت، هغه وائي : مونږ اراده وکړه چه د ابن مسعود رضي الله عنه نه روستو ودریږو نو هغهٔ زمونږ لاسونه ونیول او یو کس ئے خپل ښي اړخ ته او بل کس ئے خپل ګس اړخ ته ودرولو......).

[صحیح مسلم : ۱/۲۰۲].

او دا د ابن مسعود رضي الله عنه او د هغهٔ د دغه دواړو ملګرو مذهب وو، چه درے کسه به دغسے ودریږي، نو ددے نه معلومیږي چه په ځینې حالاتو (د ضرورت) کښې دغسے ودریدل هم جائز دي.

نو د امام نه مخکښے ودریدل په اتفاق د علماؤ سره په هیڅ حالت کښې جائز نهٔ دي.

او هر چه په مسجدِ حرام کښې مونځ کول دي، نو امام زرکشيؒ ذکر کړي چه : د مسجدِ حرام نه علاوه په بل ځائے کښې چه مونځ کوي او مقتدي په امام باندے مخکښے شي نو دے سره د مقتدي مونځ باطل شو، برابره خبره ده که د امام په جانب کښې پرے مخکښے شوے وي اوکه په بل اړخ کښې پرے مخکښے شوے وي.

او هر چه په مسجدِ حرام کښې دے نو په دے کښې د امام دپاره واجب دي چه امام به د مقتدیانو نه کعبے ته زیات نزدے وي. نو که مقتدي په امام باندے مخکښے شو او کعبے ته نزدے شو، نو اوس به کتلے شي که چرے مقتدي د امام په جانب کښې کعبے ته د امام نه زیات نزدے وو، مثلًا : امام په مقامِ ابراهیم کښې ولاړ وو او مقتدي د کعبے دروازے سره ولاړ وو، نو د مقتدي مونځ باطل شو. اوکه مقتدي کعبے ته نزدے وو خو مقتدي د امام اړخ ته نهٔ وو ولاړ، مثلًا : امام په مقامِ ابراهیم کښې ولاړ وو او مقتدي په حطیم کښې. نو بیا زیاته

صحیح خبره داده چه ددهٔ مونځ درست دے، لکه څنګه چه رافعیؒ ویلی دی۔ ځکه په دے صورت کښے مقتدی ته د امام نه مخکښے نهٔ ویلے کیږی، بله دا چه په دے صورت کښے مقتدی کولے شی چه د امام د افعالو مشاهده وکړی او هغهٔ پسے اقتداء وکړی۔ په خلاف د هغه صورت نه چه مقتدی د امام نه مخکښے شوے وی چه په دے صورت کښے د مقتدی دپاره اقتداء ممکنه نهٔ ده۔ او دا د حنفیو، احمدؒ، او امام شافعیؒ مذهب دے۔اهـ

[أحكام المساجد للزركشيؒ، ص : ۸۵].

په مسجدِ حرام، مسجدِ نبوی او مکه وغیره کښے د مانځه فضیلت

۵٦۸ - **سوال** : (۱) په مسجدِ حرام او مسجدِ نبوی کښے د مونځ کولو فضیلت په احادیثو کښے راغلے اوکه نه ؟ (۲) او د مانځه نه سیوا نور طاعات او عبادات هم په دے فضیلت کښے د مانځه حکم لری اوکه نه ؟ (۳) او د مانځه کوم فضیلت چه ثابت دے نو آیا مسجده پورے خاص دے اوکه ټول حرم ته شامل دے ؟

جواب : (۱) **اوله مسئله** : په مسجدِ حرام او مسجدِ نبوی دواړو کښے د مونځ کولو فضیلت په صحیح حدیثونو کښے راغلے، او هغه دادی :

۱ - ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل :

[صَلَاةٌ فِيْ مَسْجِدِيْ هٰذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيْمَا سِوَاهُ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ].

(زما په دے جومات کښے یو مونځ کول د نورو جوماتونو د زرو مونځونو نه زیات فضیلت لری، سیوا د مسجد حرام نه)۔

[صحيح بخاری : ۱/۱۵۹، مشکاة : ۱/٦۷].

عبد الله بن زبیر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل :

[صَلَاةٌ فِيْ مَسْجِدِيْ هٰذَا أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيْمَا سِوَاهُ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ، وَصَلَاةٌ فِيْ ذٰلِكَ أَفْضَلُ مِنْ مِائَةِ صَلَاةٍ فِيْ هٰذَا].

(زما په دے مسجد (نبوی) کښے یو مونځ کول په نورو مسجدونو کښے د زرو مونځونو نه زیات ثواب لری، سیوا د مسجد حرام نه۔ او په مسجد حرام کښے یو مونځ کول زما په دے جومات کښے د سلو مونځونو نه زیات ثواب لری)۔

[صحیح ابن حبان : ٧٢/٣، الترغیب للمنذری : ٢١٤/٢، وصححه، وأخرجه أحمد وابن خزیمة والبزار وغیرهم].

ابو درداء ﷺ **نه روایت دے، رسول الله** ﷺ **وفرمایل :** [اَلصَّلَاةُ فِی الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ أَلْفِ صَلَاةٍ، وَالصَّلَاةُ فِیْ مَسْجِدِیْ بِأَلْفِ صَلَاةٍ، وَالصَّلَاةُ فِیْ بَیْتِ الْمَقْدِسِ بِخَمْسَمِائَةِ صَلَاةٍ].

(په مسجدِ حرام کښې یو مونځ په یولاکھ دے، او زما په جومات کښې یو مونځ په زرو مونځ دے، او په بیت المقدس کښې یو مونځ په پنځه سوه مونځونو دے)۔

[أخرجه الطبرانی والبزار بإسناد حسن کما فی الترغیب : ٢١٩/٢، ورواه ابن خزیمة].

عائشه او ابو هریره ﷺ **فرمائی : رسول الله** ﷺ **وفرمایل : (زما په جومات کښې یو مونځ د نورو جوماتونو د زرو مونځونو نه غوره دے، سیوا د مسجدِ اقصیٰ نه)۔**

[مسند أحمد، الترغیب : ٢١٦/٢، قال المنذری : رواته رواة الصحیح].

نو ددے حدیثونو نه معلومه شوه چه په مسجدِ حرام کښې یو مونځ کول د نورو جوماتونو د یولاکھو مونځونو نه غوره دے۔ او په مسجدِ نبوی کښې یو مونځ د نورو جوماتونو د زرو مونځونو نه غوره دے۔ او په بیت المقدس کښې یو مونځ د نورو جوماتونو د پنځه سوه مونځونو نه غوره دے۔

○ او د انس ﷺ **په کوم حدیث کښې چه راځی چه رسول الله** ﷺ **وفرمایل : (په کور کښې د سړی مونځ په یو مونځ حساب دے، او د قبائلو په جوماتونو کښې ئے یو مونځ په پنځیشتو مونځونو دے، او په کومو جوماتونو کښې چه جماعت کیږی په هغے کښې یو مونځ کول په پنځه سوه مونځونو دے۔ او په مسجدِ اقصیٰ کښې یو مونځ په پنځوس زره مونځونو دے۔ او زما په جومات کښې یو مونځ په پنځوس زره مونځونو دے، او په مسجدِ حرام کښې یو مونځ په یو لاکھ دے)۔**

[ابن ماجه : ١٤١٣، مشکاة : ٧٢/١].

نو دا حدیث ضعیف دے۔ ځکه ددے په سند کښې ابو الخطاب الدمشقی دے، او دا مجهول دے۔ دارنګ په دے کښې رزیق دے، او په دهٔ کښې خبرے اترے شوی۔ امام ذهبیؒ په (المیزان) کښې فرمائی : دا ډیر سخت منکر حدیث دے۔امام ابن حبانؒ فرمائی : دا راوی ډیر داسے حدیثونه تنها ذکر کوی چه هغه دلیل نهٔ جوړیږی مګر که نور راویان ورسره موافقت وکړی۔ [انظر المرعاة : ٤٦٧/٢، ضعیف ابن ماجه].

بعضِ علماؤ ددے روایتونو ترمینځه دا تطبیق کړے چه ممکنه ده په دے باندے جدا جدا وختونو کښے وحی راغلے وی۔ [المرقاة : ۲/۲۲۹].

حافظ ابن حجرؒ په دغه حدیثونو کښے ځینے حدیثونه ذکر کړی او صحیح ئے ورته ویلی۔ او فرمائی چه دا غوره والے صرف د فرائضو په باره کښے دے نهٔ د نوافلو په باره کښے، ځکه نبی ﷺ د نوافلو په باره کښے فرمائی : (د سړی بهترین مونځ هغه دے کوم چه په کور کښے وی، سیوا د فرض مانځه نه)۔

او فرمائی : دا هم ممکنه ده چه حدیث په خپل عموم باندے پریښودل شی او کوم کور چه په مدینه یا مکه کښے وی په هغے کښے نفل مونځ دوچند ثواب لری په نسبت سره هغه مونځ ته چه هغه د مکے او مدینے نه سیوا په نورو کورونو کښے وکړے شی۔ او دغه شان په دواړو جوماتونو کښے۔ اګرکه کورونه د نفل مانځه دپاره مطلقًا غوره دی۔ بیا دا کوم فضیلت چه راغلے نو په اتفاق د علماؤ سره ددے تعلق د ثواب سره دے، او د مونځونو د کفایت سره نهٔ دے چه ګنے د دغه هومره مونځونو نه یو مونځ کافی کیږی۔

[فتح الباری :۳/۵۲].

دویمه مسئله : دغه پورتنے ثواب او فضیلت چه د حرمینو شریفینو په جوماتونو کښے راغلے نو دا صرف د مونځونو په باره کښے راغلے، نهٔ د نورو اعمالو او عباداتو په باره کښے۔

○ اوکوم حدیثونه چه د باقی اعمالو د فضیلت او دوچند کیدو په باره کښے راغلی، نو په هغے کښے هیڅ یو حدیث ثابت نهٔ دے۔ په هغه غیر ثابت شده حدیثونو کښے ځینے حدیثونه دادی :

۱ – ابن عباس رضی الله عنه نه مرفوعًا نقل دی (چاچه په مکه کښے رمضان رالاندے کړو او د هغے روژه او د وس مطابق قیام ئے وکړو، الله تعالیٰ به د هغهٔ دپاره یو لاکهـ رمضان میاشتے ولیکی کوم چه د مکے نه سیوا وی۔ او الله به د هغهٔ دپاره د هرے ورځے په بدل کښے د یو مرئی آزادولو ثواب ولیکی، دارنګ د هرے شپے په بدل کښے به ورله د یو مرئی آزادولو ثواب ولیکی، او د هرے ورځے په بدل کښے به ورله په جهاد کښے د دوه بارګیرو اسونو ورکولو ثواب ولیکی۔ او په هره ورځ او په هره شپه کښے به ورله نیکی ولیکی)۔

[ابن ماجه: ۳۱۱۷].

دا حدیث موضوع او منګړت دے۔ په دے کښے عبد الرحیم بن زید العمی دے، او دا دروغژن راوی دے، او ددهٔ پلار ضعیف دے۔

[الضعيفة :٢/٢٣٢، رقم : ٨٣٢، الترغيب : ٢/٢١٧].

٢ – د بلال بن حارث ﷛ په مرفوع حدیث کښے دی : (په مدینه کښے رمضان د نورو ښارونو د زرو رمضانونو نه غوره دے۔ او په مدینه کښے یوه جُمعه د نورو ښارونو د زرو جُمعو نه غوره ده)۔

[أخرجه الطبراني : ١/١١١].

دا حدیث باطل دے، ددے په سند کښے عبد الله مجهول راوی دے، او ددے سند سخت ضعیف دے۔

[الضعيفة : ٢/٢٣٠، رقم : ٨٣١، الهيثمي : ٣/١٤٥، ٣/٣٠١].

٣ – د ابن عمر ﷛ په مرفوع حدیث کښے دی :

(په مکه کښے یو رمضان د نورو ملکونو د زرو رمضانونو نه غوره دے)۔

[أخرجه البزار في زوائده : ١/١٠٢].

ددے سند ضعیف دے۔ په دے کښے عاصم بن عبد الله دے، او ددهٔ په ضعف باندے اتفاق دے۔

٤ – ملاعلی قاریؒ مرفوعًا ذکر کړی دی : (د حرم نیکئ د زرو نیکیو سره برابرے دی۔ او فرمائی چه حسن بصریؒ به فرمایل : د مکے روژه د زرو روژو برابر ده، او یوه روپئ په کښے خیرات کول د یو لاکهو روپو سره برابر ده، او هره نیکی ئے په یو لاکهه ده)۔

[المرقاة : ٢/١٨٩، بيهقي : ٤/٢٣١، وانظر أخبار مكة للأزرقي : ٢/٢٢].

امام بیهقیؒ فرمائی : دا حدیث صرف عیسیٰ بن سواده ذکر کړے، او دا مجهول دے۔

شیخ بسامؒ او علامه صنعانیؒ د امام غزالیؒ په حواله ذکر کړی دی چه پورتنے فضیلت مانځه پورے خاص نهٔ دے۔

[توضيح الأحكام : ٣/٣٩١، سبل السلام : ٢/٢٤٧].

لیکن دوئ په دے خبره باندے هیڅ دلیل نهٔ دے پیش کړے۔او صنعانیؒ چه کوم حدیث پیش کړے هغه ضعیف دے۔

[شعب الإيمان : ٣٨٥١، ضعيف الجامع : ٣٥٧٤، وتفصيل الأحاديث مع بيان ضعفها فى فضائل المدينة لصالح بن حامد الرفاعي : ٣٢٦/١].

دریمه مسئله : په دغه دوه مساجدو کښې چه د مانځه کوم فضیلت راغلے نو دا صرف په جوماتونو پورے خاص دے اوکه د جوماتونو نه علاوه د حرم شریف باقی زمکے ته هم شامل دے ؟

○ نو د مسجدِ حرام په باره کښې چه کوم فضیلت راغلے، دا ټول حرم شریف ته شامل دے، د حرم شریف په هره برخه کښې چه مونځ وکړے شی نو یو په یو لاکهـ دے۔ برابره خبره ده که مسجدِ حرام وی اوکه د حرم بله برخه وی۔

○ او هر چه مسجدِ نبوی دے، نو په دے کښې چه د مانځه فضیلت راغلے، نو دا صرف د (مسجد) په باره کښې راغلے۔ چه په دے کښې یو مونځ په نورو جوماتونو کښې د زرو مونځونو نه بهتر دے۔ دا فضیلت جوماته پورے خاص دے۔ د مدینے طیبے د باقی برخو دا حکم نهٔ دے۔

[انظر أحكام المساجد للزركشي، ص : ١١٩].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د (مسجدِ حرام) نه مراد ټول حرم دے، او ځینے وائی چه هغه ځائے مراد دے چرته چه د جماعت مونځ کیږی، نهٔ کورونه او باقی برخه د حرم۔ طبریؒ وائی: ددے تائید ددے نه کیږی چه په حدیث کښې [مَسْجِدِيْ هٰذَا] سره اشاره شوے، چه په دے کښې د جماعت والا مسجد ته اشاره ده، نو مناسبه ده چه همدا برخه دے خاصه کړے شی۔ خو د اولنی قول تائید په هغه روایت سره کیږی کوم چه امام طیالسیؒ د عطاءؒ نه نقل کړے چه دهٔ نه پوښتنه وشوه چه دا فضیلت یواځے جوماته پورے خاص دے اوکه د ټول حرم په باره کښې دے ؟ وے وفرمایل : د ټول حرم په باره کښې دے چه دا ټول مسجد دے۔

[فتح الباری : ٤٩/٣].

بیا حافظ رحمه الله فرمائی : نوویؒ فرمایلی دی چه انسان له پکار دی چه په هغه ځائے کښې په مونځ کولو باندے حرص وکړی کوم ځائے چه د نبی ﷺ په زمانه کښې وو، نهٔ هغه برخه چه روستو د جومات سره پیوسته شوے ده، ځکه ثواب چه دوچنده کیږی نو دا د نبی ﷺ د مسجد په باره کښې راغلے۔ چه ددے تاکید ئے په (هذا) لفظ سره کړے۔ په

خلاف د (مکے د مسجد) نه چه هغه ټولے مکے ته شامل دے، بلکه امام نوويؒ ديته صحيح ويلے ده چه دا فضيلت ټول حرم شريف ته شامل دے۔

[فتح الباری : ٣/٥١].

فتاویٰ اسلاميه کښے هم داسے دی، خو هغوئ وئيلی دی چه : د حرم شريف نور مساجد د (مسجدِ حرام) پشان په فضيلت کښے نهٔ دی، اګرکه په هغوئ کښے مونځ کول د نورو جوماتونو نه ډير زيات فضيلت لری۔

[فتاوی إسلاميه : ٢/١٧].

په نبوی مسجد کښے چه کومه فراخی راغلے، آيا فضيلت ديته هم شامل دے؟

٥٦٩ - **سوال** : د نبی ﷺ په مسجد کښے چه کومه فراخی شوے، د هغے حکم د اصل مسجد پشان دے اوکه نه ؟

جواب : په دے کښے د علماؤ دوه قوله دی۔ (اول) دا چه د زياتی برخے حکم د اصل پشان دے۔ (٢) دويم : دا چه دا فضيلت د جومات هغه برخے پورے خاص دے کومه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے وه۔

امام نوويؒ او صنعانیؒ د اول قول قائل دی چه دا فضيلت صرف د اصل برخے پورے خاص دے، او دليل دا وائی چه په حديث کښے [مَسْجِدِيْ هٰذَا] لفظ راغلے، يعنی جومات ته اشاره راغلے او اشاره د تخصيص او تعيين دپاره راځی۔ نو کوم جومات چه د نبی ﷺ په دور کښے وو، اشاره به صرف هغے ته وی۔

او امام مالكؒ، شيخ الاسلام ابن تيميهؒ ، ابن عابدين وغيره وائی چه دا فضيلت ټول جومات ته شامل دے اګرکه زيادت پکښے شوے دے۔ او په حديث کښے چه کوم نسبت نبی ﷺ ځانته کړے [مَسْجِدِيْ هٰذَا] نو دا دے دپاره شوے چه نور جوماتونه وباسی، په دے کښے ددے زمکے تخصيص غرض نهٔ دے۔ اوپه دے کښے اشاره او تسميه دواړه متفق دی۔ د امام مالكؒ نه پوښتنه وشوه، نو هغوئ وفرمايل: دا ټول ته شامل دے۔ او دليل ئے دا پيش کړو چه نبی ﷺ دا پيشن ګوئی ورکړے ده چه د هغوئ نه پس به څهٔ کيږی او د هغوئ دپاره زمکه راغونډه شوے وه۔ اوکه چرے دا خبره نهٔ وے نو بيا به خلفاء راشدينو د نورو

صحابه کرامو j په حضور کښې په دې مسجد کښې زیادت نهٔ وې کړې، حالانکه نورو صحابو په هغوئ رد نهٔ دې کړې، معلومیږی چه دا ټول د رسول الله ﷺ مسجد حسابیږی او فضیلت ټول مسجد ته شامل دې۔او په مسجد نبوی کښې اول زیادت عمر رضی الله عنه کړې، بیا عثمان رضی الله عنه بیا ولید، بیا مهدی۔

دارنګ په [تاریخ المدینة] کښې دی چه: عمر رضی الله عنه کله په مسجد کښې د زیادت کولو نه فارغ شو نو وې فرمایل: که چرې دا جومات لرې ډاګې پورې – یا ئې داسې وویل: ذو الحلیفې پورې – ورسیږی نو دا ټول به د رسول الله ﷺ جومات وی۔

بله دا چه د مکې په جومات کښې هم دا خبره منلې شوې ده چه د ثواب دوچنده کیدل د جومات هغه برخې پورې خاص نهٔ دی کوم چه د نبی ﷺ په زمانه کښې موجوده وه۔

او د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښې دی (که چرې دا مسجد صنعاء (یمن) پورې اوږد شی نو بیابه هم دا زما جومات وی)۔

[هذا خلاصة ما ذکره ابن حجر فی الجوهر المنظم، انتهیٰ ما فی المرقاة].

زهٔ وایم: که د ابو هریره رضی الله عنه دا حدیث د دلیل جوړیدو قابل وې، نو بیا خو به دې سره اختلاف ختم شوې وو۔ حالانکه ددې حدیث ټول سندونه ضعیف دی، او مجموعی لحاظ سره هم د دلیل نیولو جوګه نهٔ دې۔

په [تمییز الطیب من الخبیث ص: ١١٩] کښې وائی: دا حدیث چه (یو مونځ زما په دې جومات کښې، اګرکه صنعاء الیمن پورې اوږد شی، دا د مسجد حرام نه علاوه د نورو مسجدونو د مونځونو نه زر درجې زیات دې)۔ ابن ابی شیبه په (اخبار المدینة) کښې د ابو هریره نه مرفوعًا روایت کړې، خو ددې په سند کښې ضعف دې۔ او ددې داسې شواهد شته چه هغه هم مجموعی لحاظ سره دلیل نهٔ جوړیږی پاتې لا یو یو حدیث۔ دا وجه ده، امام نوویؒ د ثواب دوچنده کیدل د جومات په هغه برخه پورې خاص کړی، کوم چه د نبی ﷺ په زمانه کښې وه، دې دپاره چه په هغه اشاره عمل راشی کوم چه په متفق علیه حدیث کښې ذکر شوې۔اهـ

ابن عابدین وائی: په کوم حدیث کښې چه دا ویلی شوی چه (که چرې زما دا جومات د صنعاء پورې اوږد شی نو بیابه هم زما جومات وی) دا حدیث سخت ضعیف دې، دې وجې

نه په فضائل الاعمال کښې هم په دې عمل نۀ کيږي، لکه ځنګه چه امام سخاويؒ په المقاصد الحسنة کښې ذکر کړې دي.اهـ

امام صنعانيؒ د امام نوويؒ قول ته ترجيح ورکړې.

[سبل السلام : ۲/۲٤۷].

○ زما په نيز راجح قول دويم دې. ځکه د رسول الله ﷺ مسجد ورو کې وو، ټول حاجيان په کښې نۀ راځي. او د الله فضل او مهرباني فراخه ده، او په دې باندې پورتني دلائل هم موجود دي.

[فتاوىٰ اسلاميه :۲/۷] کښې هم دا خبره غوره شوې چه په زياتي برخه کښې مونځ کولو کښې هم دوچنده ثواب دې.

د درې جوماتونو نه سيوا نورو جوماتونو ته سفر کول

۵۷۰ - **سوال** : مسجدونو ته د سفر کولو څۀ حکم دې ؟ او د خپلې محلې مسجد پريښودل او بل مسجد ته د مانځه دپاره تللو څۀ حکم دې ؟

جواب : د خپل کلي او محلې د جومات نه علاوه د بل کلي او محلې جوماته تللو نه په حديث کښې منع راغلې.

ابن عمر رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : [لِيُصَلِّ الرَّجُلُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِيْ يَلِيْهِ وَلَا يَتَّبِعُ الْمَسَاجِدَ].

(يو سړې دې په خپل نزدې مسجد کښې مونځ کوي او نورو جوماتونو پسې دې نۀ ګرځي).

[أخرجه تمام الرازي : ۲/۲۱۷، والطبراني : ۳/۱۹۹، وفي الأوسط : ۲/۲۲، والهيثمي : ۲/۲٤، قال الشيخ في الصحيحة : ۵/۲۳٤، رقم : ۲۲۰۰ : إسناده جيد].

خو دا حکم هله دې چه کله د (اهل السنت) نزدې مسجد وي او انسان بل لرې مسجد له ځي. او کله چه د اهل السنت نزدې مسجد نۀ وي او د محلې مسجد د (بدعتيانو) وي، نو دا نزدې مسجد پريښودل او لرې تلل جائز دي ان شاء الله. دليل ئې دادې چه مخکښې په (باب الاذان) کښې تير شو چه : ابن عمر رضي الله عنه د هغه جومات نه وواتۀ په کوم کښې چه تثويب

وکړے شو۔ او بل مسجد ته لاړو۔

دارنګ مخکښے په فتویٰ نمبر (٢٣٢) کښے تیر شو چه : (بدعتیانو) پسے هله مونځ کول جائز دی چه په خوا او شا علاقه کښے د (اهل حدیثو) مسجد نهٔ وی۔ نو د نزدے مسجد حق په دغه شرط پورے تړلے شوے دے۔

○ او هرچه نورو مساجدو ته سفر کول دی : نو د درے مساجدو نه علاوه نورو مساجدو ته د سفر کولو نه منع راغلے۔ لکه :

د ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

[لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلٰى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ : مَسْجِدُ الْحَرَامِ وَالْمَسْجِدُ الْأَقْصٰى وَمَسْجِدِیْ هٰذَا].

(سفر به نشی کولے مګر درے جوماتونو ته : مسجدِ حرام، مسجدِ اقصیٰ او زما دے مسجد ته)۔

[صحیح بخاری : ١/١٥٩، صحیح مسلم : ١/٤٤٧].

نو ددے صحیح حدیث نه ثابته شوه چه ددے درے جوماتونو نه سیوا نورو جوماتونو ته سفرونه کول حرام دی۔ ځکه د یو مسجد په بل مسجد باندے په اجر او ثواب کښے هیڅ فضیلت نشته، بلکه ټول د الله کورونه دی۔ او هر چه دغه درے جوماتونه دی نو د هغے خصوصی فضیلت خو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله بیان کړے۔

○ بیا د نیکانو خلکو قبرونو او مزارونو ته سفر کول په دے منع کښے داخل دی او که نه ؟

نو صحیح خبره داده چه : دے ته سفر کول هم منع دی، ددے راتلونکو دلائلو د وجے نه :

اول دلیل : دادے چه په دغه پورته حدیث کښے مُسْتَثْنٰی مِنْهُ عامه ده او معنیٰ داده : (لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ اِلٰى مَوْضِعٍ مِنَ الْمَوَاضِعِ اِلَّا اِلٰى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ)۔

یعنی د درے جوماتونو نه سیوا بل هیڅ یو ځائے ته به د عبادت دپاره سفر نشی کولے۔

سوال : د احمدؒ [٣/٦٤] په روایت کښے د ابو سعید خدری رضی الله عنه په حدیث کښے دی : [لَا يَنْبَغِیْ لِلْمُصَلِّیْ أَنْ يَّشُدَّ بِرِحَالِهٖ إِلٰى مَسْجِدٍ يَبْتَغِیْ فِيْهِ الصَّلَاةَ غَيْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْمَسْجِدِ الْأَقْصٰى وَمَسْجِدِیْ هٰذَا].

ددے نه معلومیږی چه صرف د نورو مساجدو نه منع راغلے۔

جواب : دا روایت ضعیف دے، په دے کښے شهر بن حوشب ضعیف راوی دے۔

یا مونږ وایو : ددې حدیث نه قبرونو او زیارتونو ته د سفر کولو منع والې د دوو جو نه معلومیږی :

اوله وجه : داده چه ددې حدیث پوره الفاظ داسې دی : (عبد الحمیدؒ وائی ماته شهر بن حوشب حدیث بیان کړو، دا وائی : ما د ابو سعید خدری رضی الله عنه نه واوریدل، په داسې حال کښې چه ددهٔ په خوا کښې په کوهِ طور کښې د مونځ کولو یادوونه وشوه. نو هغهٔ وفرمایل : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : [لاینبغی للمصلی] الحدیث.

او د حدیث راوی د حدیث په معنیٰ د بل هر چا نه زیات پو هه وی. سره ددې چه دا فقیه صحابی دې. او ابو سعید خدری رضی الله عنه کوهِ طور ته د سفر کولو نه منع فرمایلې.

ښهٔ سوچ وکړه !

دویمه وجه داده : چه د ټولو مسلمانانو په نیز جوماتونه، د نیکانو د قبرونو او مزارونو نه بهتر ځایونه دی، نو هر کله چه جوماتونو ته د سفر کولو نه منع وشوه، نو قبرونو او مزارونو ته د سفر کولو نه به په طریقه اولیٰ سره منع کیږی.

دویم دلیل : ابو هریره رضی الله عنه وائی : (زهٔ کوهِ طور ته تلې ووم، نو زهٔ په لاره کښې د بصرة بن ابی بصرة الغفاری سره مخامخ شوم، هغهٔ ویل د کوم ځائې نه راغلې ؟ ما ویل د کوهِ طور نه. وې فرمایل : که ما تهٔ ددې نه مخکښې موندلې وې نو تهٔ به نهٔ وې وتلې، ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمایل ئې : [لَا تُعْمَلُ الْمَطِيُّ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ].

(سفر به نشی کیدې مګر درې جوماتونو ته).

[مسند احمد : ۱/۱ ۵۰، ٦/٧، طیالسی : ۳٤۸، ٦ ۲۵۰، مالك : ۱/٦ ۱۰، ابن حبان : ۱۰۲٤، إرواء الغلیل : ٤/ ۹٧۰].

شیخ البانیؒ فرمائی : د ابو سعید خدری رضی الله عنه حدیث عام دې، جوماتونو او نورو ټولو ځایونو ته شامل دې کوم ته چه خلك د هغې د ذات د وجې یا په هغې کښې د فضیلت د دعوې لرلو د وجې سفر کوی. او ددې عموم دلیل دادې چه ابوبصره رضی الله عنه د ابو هریره رضی الله عنه په هغه سفر باندې رد کړې وو، کوم چه هغهٔ کوهِ طور ته کړې وو. حالانکه کوهِ طور ځهٔ جومات نهٔ وو چه په هغې کښې خلکو مونځ کولو. بلکه دا خو یو غر وو چه الله په هغې باندې د موسیٰ علیه السلام سره خبرې کړې وې. نو دا یو برکتی غر وو او ددې باوجود ابو بصره

ﷺ دیته د سفر کولو نه خلك منع کوی.

او ددے پشان حدیث د عبد الله بن عمر ﷺ نه هم روایت شوے، لکه ددے وضاحت ما په نورو ځایونو کښے کړے. او د شهر بن حوشب حدیث ضعیف دے، او دا سیٔ الحفظ دے خاصکر په دے ځائے کښے چه ثقاتو ترے خلاف کړے.

[إرواء الغليل : ٤/١٤٣].

دریم دلیل : قزعهٔ وائی : ما د ابن عمر نه پوښتنه وکړه چه زهٔ کوهِ طورته لاړ شم ؟ هغهٔ وفرمایل : کوهِ طور پریده هغے ته مهٔ ځه، او وے فرمایل : سفرونه به صرف درے جوماتونو ته کیږی.

[مصنف ابن ابی شیبه : ٢/٨٣، وأخرجه الأزرقی فی أخبار مكة : ٣٠٤، وأحمد : ٦/٨، وابن منده فی التوحيد : ١/٢٦].

ځلورم دلیل : معرور بن سوید وائی : مونږ د عمر فاروق ﷺ سره حج ته ووتلو نو هغهٔ مونږ ته د سهار په مانځه کښے ﴿اَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصۡحَابِ الۡفِيۡلِ﴾ او ﴿لِاِيۡلٰفِ قُرَيۡشٍ﴾ سورتونه ولوستل. او کله ئے چه حج پوره کړو او واپس کیدهٔ او خلك د یو بل نه مخکښے کیدل، نو وے فرمایل : دا دویٔ څهٔ کویٔ ؟ هغهٔ ویل : دایو جومات دے چه رسول الله ﷺ پکښے مونځ کړے دے. عمر فاروق وفرمایل :

[هكَذَا هَلَكَ أَهۡلُ الۡكِتَابِ، اتَّخَذُوۡا آثَارَ أَنۡبِيَائِهِمۡ بِيَعًا، مَنۡ عَرَضَتۡ لَهٗ مِنۡكُمۡ فِيۡهَا الصَّلَاةُ فَلۡيُصَلِّ وَمَنۡ لَّمۡ يَعۡرِضۡ لَهٗ مِنۡكُمۡ فِيۡهِ الصَّلَاةُ فَلَايُصَلِّ].

(یهود او نصاریٰ په همدے وجه تباه شوی وو چه دویٔ د خپلو انبیاؤ د نښو نښانو نه ګیرجے جوړے کړے وے او هلته به ئے عبادتونه کول. خبره داده چه د انبیاؤ په مسجدونو کښے چه په چا باندے د مانځه وخت راغے نو مونځ دے وکړی او که چا باندے د مانځه وخت نهٔ وی راغلے هغه دے خامخا هلته مونځ نهٔ کوی).

[مصنف ابن أبی شيبة : ٢/٨٤].

نو د عمر فاروق – رضی الله عنه – ددے ډاګیزے وینا نه معلومه شوه چه د انبیاء کرامو آثارو او نښو نښانو ته سفرونه کول حرام دی.

[تحذير الساجد ص :٩٣].

ددے ټولو دلائلو نه ثابته شوه چه د نیکانو خلکو قبرونو او مزارونو ته سفرونه کول حرام او ناجائز دی۔

شاه ولی الله صاحبؒ هم ددے حرام والی قائل دے، هغه فرمائی: (جاهلیت والو به د خپلو ګمانونو مطابق عزتمند ځایونه کتل او هغے پسے به ګرځیدل، د هغے زیارت به ئے کولو او په هغے سره به ئے برکت حاصلولو۔ حالانکه په دے کار کښے چه کوم تحریف او فساد پروت دے هغه د چانه پټ نۀ دے۔ نوځکه نبی اکرم ﷺ په دغه پورتنی حدیث سره دغه فساد ختم کړو، دے دپاره چه غیر شعائر د شعائرو پورے پیوسته نشی، او دے دپاره چه دغه ځایونه د غیر الله د عبادت دپاره ذریعه ونۀ ګرځی۔ وَالْحَقُّ عِنْدِیْ أَنَّ الْقَبْرَ وَمَحَلَّ عِبَادَةِ وَلِيٍّ مِنْ أَوْلِيَاءِ اللّٰهِ وَالطُّوْرِ كُلُّ ذٰلِكَ سَوَاءٌ فِي النَّهْيِ (او زما په نیز حقه خبره داده چه قبر او د اولیاؤ د عبادت ځایونه او کوهِ طور، دے ټولو ته سفر کول یو شان منع دی)۔

[حجة الله البالغة: ۱۵۳/۱، انظر المرعاة: ۴۰۰/۲].

او همدا قول د شیخ ابو محمد جوینیؒ، قاضی حسینؒ، قاضی عیاضؒ او د یوے ډلے د علماؤ دے، او همدا د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او امام ابن قیمؒ او د اهلحدیثو علماؤؒ قول دے۔

او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او ابن عبد الهادیؒ په دے باره کښے تفصیلی خبره کړے۔

[انظر مجموع فتاوى ابن تيمية: ۱۱۴/۲۷، القصيدة النونية ص: ۱۸۱، وشرحها للهراس: ۲۱۵/۲، الصارم المنكى فى الرد على السبكى، لابن عبد الهادىؒ، ص: ۵۳].

شیخ امد بن یحیی النجمیؒ فرمائی: د هیڅ یو صحابی یا تابعی یا تبع تابعی یا په خیر القرون کښے د بل چانه دا ثابته نۀ ده چه هغۀ د درے جوماتونو نه سیوا بل یو جومات ته د مونځ کولو دپاره سفر کول جائز کړی وی۔ هر چه قبرونو ته سفرونه کول دی نو دا خو په طریقه اولیٰ سره منع دی، بلکه د هیڅ یو صحابی نه چه هغه په مدینه کښے وسیدلو یا د یو تابعی نه چه هغویٔ د دغه صحابی نه علم حاصل کړے وی دا چرته نقل نۀ دی چه هغۀ د عائشے k نه د هغے په ژوند کښے دا اجازت غوښتلے وی چه د نبی اکرم ﷺ قبر خواته دے مونځ وکړی۔

[أوضح الإشارة فى الردّ علىٰ مَن أجاز الممنوع من الزيارة، ص: ۴۳، وانظر كتاب الزيارة لابن تيمية ضمن

الجامع الفرید ص : ۳۸۱].

شیخ الاسلامؒ فرمائی : د صحابه کرامو j په زمانه کښې هیڅ یو داسې قبر نهٔ وو چه خلکو به ئې زیارت کولو او د هغې په وجه به په فتنه کښې پریوتل.

[مجموع فتاوی ابن تیمیة : ۲۷/۲۷۰].

مسجدِ قُبا ته سفر کول

۵۷۱ - سوال : مسجدِ قُباء ته سفر کول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : رسول الله ﷺ به مسجدِ قباء ته تللو. لکه د ابن عمر رضی الله عنه په حدیث کښې دی :

[كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَأْتِيُ مَسْجِدَ قُبَاءٍ كُلَّ سَبْتٍ مَاشِيًا وَرَاكِبًا وَيُصَلِّيُ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ].

(نبی ﷺ به د هر خالی په ورځ مسجدِ قباء ته تللو، کله پیاده او کله سور، او هلته به ئې دوه رکعته کول).

[بخاری : ۱/۱۵۹، مسلم : ۱/۴۴۸، مشکاة : ۱/۶۸].

او د سهل بن حنیف رضی الله عنه په حدیث کښې دی، نبی ﷺ فرمائی : [مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ حَتّٰى يَأْتِيَ مَسْجِدَ قُبَاءٍ فَيُصَلِّيُ فِيهِ كَانَ لَهُ عَدْلُ عُمْرَةٍ].

(څوك چه د خپل کور نه وواتهٔ تردې چه مسجدِ قباء ته راغې او هلته ئې مونځ وکړو، نو د عمرې برابر ثواب ئې وشو).

[نسائی : ۱/۱۱۳].

او د اسید بن حضیر رضی الله عنه په حدیث کښې دی، نبی ﷺ فرمائی : [اَلصَّلَاةُ فِيُ مَسْجِدِ قُبَاءٍ كَعُمْرَةٍ].

(په مسجدِ قباء کښې مونځ کول د عمرې هومره ثواب لري).

[ترمذی : ۱/۷۴].

او د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه په صحیح سند سره نقل دی چه هغهٔ وفرمایل : (په مسجدِ قباء کښې دوه رکعته کول ماته ددې نه غوره دی چه زهٔ بیت المقدس ته دوه ځله لاړ شم. اوکه چرې خلکو ته هغه ثواب معلوم شی کوم چه په مسجدِ قباء کښې دې نو خامخا به دوئ هغې ته په اوښانو راشی).

[أخرجه عمر بن شيبة فى أخبار المدينة، بإسناد صحيح].

نو ددې حدیثونو نه په ظاهره کښې معلومیږی چه مسجدِ قباء ته سفر کول جائز دی.
نو بعضِ علماء وائی چه د ابن عمر او ابو سعید په مخکنو حدیثونو کښې چه د سفر نه منع راغلې، دا د تنزیه دپاره ده نهٔ د تحریم دپاره. یعنی صرف خلافِ اولیٰ ده. خو صحیح خبره داده چه په دغه حدیثونو کښې نهی د تحریم دپاره ده.

او دا پورتنی حدیثونه په سفر باندې دلالت نهٔ کوی. بلکه ددې مطلب دادې چه نبی اکرم ﷺ په مدینه طیبه کښې وو او د هر خالی (هفتې) په ورځ به مسجدِ قباء ته راتلو. نو دا سفر نهٔ دې. او د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په اثر کښې چه [لَضَرَبُوْا إِلَيْهِ أَكْبَادَ الْإِبِلِ] راغلې، نو دا هم مسجدِ قباء ته په سفر کولو باندې دلالت نهٔ کوی. بلکه په دې کښې ترغیب دې مدینې ته په سفر کولو باندې، بیا چه کله انسان مدینې ته راشی نو د مسجدِ قباء زیارت به کوی، لکه څنګه چه نبی اکرم ﷺ د مدینې نه د مسجدِ قباء زیارت له تللو.

[انظر المرعاة: ٢/٤٠٢].

شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ فرمائی: بعضِ متاخرینو علماؤ ویلی دی چه مزارونو ته سفر کول څهٔ باك نلری، او دلیل دا پیش کوی چه نبی ﷺ به د هر خالی په ورځ پیاده او سور مسجدِ قباء ته تللو. [بخاری، مسلم]. خو په دې کښې د دوئ دلیل نهٔ جوړیږی، ځکه قباء دا مزار نهٔ وو، بلکه مسجد وو. او منع چه راغلې نو دا د سفر کولو نه راغلې، او قباء ته تلل سفر نهٔ وو. بلکه که څوك د خپل کور نه قباء ته سفر وکړی، نو دا کار به دهٔ له جائز نهٔ وی. البته که سفر ئې مسجدِ نبوی ته وکړو، او بیا د مسجدِ نبوی نه قباء ته لاړ، نو دا کار ورله مستحب دې، لکه څنګه چه ددهٔ دپاره دا مستحب دی چه د بقیع والو د قبرونو او د اُحد د شهیدانو زیارت له لاړ شی.

[مجموع الفتاوى: ٢٧/٢١].

د طواف دوه رکعته په مکروه اوقاتو کښې کول هم جائز دی

٥٧٢ – **سوال**: په مکه مکرمه کښې په مکروه اوقاتو کښې نفل کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: دا مسئله مخکښې تیره شوه، چه په مکه کښې په مکروه اوقاتو کښې صرف د

طواف دوه رکعته کول جائز دي.

[انظر: أحکام المساجد للزرکشی، ص: ١٠٦].

د مسجدِ حرام تحیه دوه رکعته نفل دي

۵۷۳- **سوال**: ځینے خلك وائي: په مسجدِ حرام کښے تحیة المسجد نشته. دا خبره صحیح ده او که نه؟

جواب: په دے خبره کښے تفصیل دے، هغه دا چه:

۱- څوك د حج او عمرے په اراده مسجدِ حرام ته ننوځي نو دۀ له سنت دادی چه حجرِ اسود ته ورشي او د بیت الله طواف شروع کړي، لکه څنګه چه نبی اکرم ﷺ کړی وو. او دا کس به تحیة المسجد نۀ کوی، ځکه په دے وخت کښے تحیة المسجد په طواف سره کیږي.

۲- او که څوك هره ورځ مسجدِ حرام ته ننوځي لکه اهلِ مکه او هغه خلك چه په مکه کښے وسیږي، نو په دوئ باندے د هر ځل ننوتو په وخت طواف نشته، بلکه په دوه رکعتو سره به تحیة المسجد به کوی. او سره ددے نه که چا طواف شروع کړو، نو طواف به د دوه رکعتو په ځائے قائم شي، بلکه د طواف نه پس چه کوم دوه رکعته کوی نو دغه دوه رکعته به د تحیة المسجد په بدل کښے شي. لکه ددے وضاحت به روستو راشي ان شاء الله.

په بخاري او مسلم کښے د عائشے k نه نقل دي چه (د ټولو نه اولنے کار چه رسول الله ﷺ په هغے شروع وکړه، طواف وو).

[انظر أحکام المساجد للزرکشی ص: ١٠٧].

دا وجه ده، ځینے علماؤ ویلی دی چه: تحیات پنځه دی:

(۱) د مسجد تحیه په مانځه سره ده.

(۲) د بیت الله تحیه په طواف سره ده، لکه مخکښے په ډاګه تیره شوه.

(۳) د حرم شریف تحیه، د حج یا عمرے په احرام تړلو سره ده.

(٤) د مِنیٰ تحیه په رمی او ویشتلو سره ده.

(٥) د جُمعې په ورځ د خطيب دپاره تحية المسجد په خطبې سره ده. ځکه نبی ﷺ به چه د جُمعې په ورځ د خطبې دپاره جومات ته ننواتۀ نو دوه رکعته به ئې نۀ کول.

شيخ البانیؒ فرمائي: د مسجدِ حرام تحيه په مانځه سره کول بدعت دے.

[حجة النبی ﷺ کما رواها جابر، للألبانی، ص : ١٢٤، ونحوه فی القواعد النورانية لابن تيمية، ص : ١٠١].

د کعبې ليدلو په وخت دعا کول او لاسونه پورته کول

٥٧٤ - **سوال**: د کعبې شريفې د ليدلو په وخت دعاء قبليدل ثابت دی اوکه نه؟ او په دے کښې لاسونه وچتول راغلی اوکه نه؟

جواب: د کعبې ليدلو په وخت دعاء غوښتل او په دے کښې لاسونه وچتول په صحيح حديث کښ نۀ دی راغلی. البته په ضعيفو حديثونو کښې راغلی، او هغه دادی:

ابو امامه رضی الله عنه وائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: [تُفْتَحُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَيُسْتَجَابُ الدُّعَاءُ فِيْ أَرْبَعَةِ مَوَاطِنَ :عِنْدَ الْتِقَاءِ الصُّفُوْفِ وَنُزُوْلِ الْغَيْثِ وَإِقَامَةِ الصَّلَاةِ وَعِنْدَ رُؤْيَةِ الْكَعْبَةِ].

(په څلورو ځايونو کښې دعاء قبليږی او د اسمان دروازے ورته پرانستل کيږی: د کافرو او مسلمانانو د صفونو مخامخ کيدو په وخت. د باران وريدو په وخت. د مانځه ودريدو په وخت. او د کعبې ليدلو په وخت).

[بيهقی : ٣/٣٦٣، وأشار البيهقی إلی ضعفه].

ددے حديث سند ضعيف دے، په دے کښې عفير بن معدان راوی دے. ابو حاتم رازیؒ فرمائي: دۀ له هيڅ اعتبار نشته.

○ او په دے دعاء کښې د لاسونو وچتولو په باره کښې د مهاجر مکیؒ نه نقل دی چه: د جابر رضی الله عنه نه د هغه سړی په باره کښې پوښتنه وشوه چه بيت الله ووينی، آيا دا به لاسونه پورته کوی؟ هغۀ وفرمايل: مونږ د نبی ﷺ سره حج کړے دے، دا کار مونږ نۀ کولو. او د ابوداود په روايت کښې دی: نبی ﷺ به دا کار نۀ کولو. د ترمذی په روايت کښې دی: آيا دا کار مونږ کړے دے؟

[ابوداود : ٤٠٨، رقم : ١٨٧٠، ترمذی : ٨٦٣، مشکاة : ٢٢٧/١].

ددے حديث اسناد ضعيف دے، ځکه مهاجر مکی غير مشهور دے. حافظ ابن حجرؒ په

(التقریب) کښې وائی : دا مقبول دے۔ یعنی کله چه ددۀ متابعت او تائید وکړے شی۔
امام شافعیؒ د ابن جریجؒ نه نقل کړی دی : (نبی ﷺ به چه کله بیت الله ولیدۀ نو دواړه لاسونه به ئے پورته کړل او دا دعاء به ئے وکړه : [اَللّٰهُمَّ زِدُ هٰذَا الْبَيْتَ تَشْرِيْفًا وَتَعْظِيْمًا وَتَكْرِيْمًا وَ مَهَابَةً وَزِدُ مِنْ شَرَفِهٖ وَكَرَمِهٖ مِمَّنْ حَجَّهٗ أَوِ اعْتَمَرَهٗ تَشْرِيْفًا وَتَكْرِيْمًا وَتَعْظِيْمًا وَبِرًّا].
دا روایت هم ضعیف دے، ځکه دا مرسل او معضل دے۔ بل په دے کښې سعید بن سالم قداح دے، او په دۀ کښې خبرے اترے شوی۔
او امام بیهقیؒ د مکحول شامیؒ نه نقل کړی دی دا وئی : (نبی ﷺ به چه کله مکے ته ننواتۀ او بیت الله به ئے ولیدۀ نو دواړه لاسونه به ئے وچت کړل او الله اکبر به ئے ووایۀ او دا دعاء به ئے ویله : [اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ ......].
ددے حدیث اسناد مرسل دے۔(تابعیؒ په کښې د نبی ﷺ نه روایت کوی)۔
امام بیهقیؒ د امام شافعیؒ په واسطه د سعید بن سالم نه د ابن جریجؒ نه روایت کړے دا وائی چه ماته د مقسم نه بیان شوے او هغه د ابن عباس نه مرفوعًا روایت کوی چه (په مانځه کښې رفع الیدین کیږی او کله چه بیت الله ووینی)۔
امام بیهقیؒ وائی : دا منقطع دے، ابن جریجؒ دا د مقسم نه نۀ دے آوریدلے۔او په بل روایت سره دا حدیث د ابن ابی لیلیٰ نه نقل شوے، او دا ضعیف دے۔
خلاصه داچه : د بیت الله لیدلو په وخت په صحیح حدیث کښې لاسونه پورته کول ثابت نۀ دی۔ او نۀ په عدمِ رفع الیدین کښې حدیث ثابت دے۔ خو لاسونه وچتول یو عمل دے چه دلیل ته حاجت لری او دلیل نشته۔ دا وجه ده، علامه شوکانیؒ فرمائی : په دے باب کښې داسے حدیث نشته چه د هغے نه د بیت الله د لیدلو په وخت د لاسونو د پورته والی مشروعیت ثابت شی، او دا یو شرعی حکم دے چه صرف په دلیل سره ثابتیدے شی۔
زۀ وایم : دے سره دا خبره هم ده چه ځینے علماؤ د جابر رضی الله عنه (د لاسونو نۀ وچتولو) حدیث ته حسن ویلی دی۔
○ علامه شوکانیؒ فرمائی : هر چه د بیت الله لیدلو په وخت دعاء ده، نو په دے باره کښې اخبار او آثار روایت شوی دی۔
لکه ابن المغلسؒ روایت کړی دی چه (عمر فاروق – رضی الله عنه – به چه کله بیت الله

ته وکتل نو فرمایل به ئې : [اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ فَحَيِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَامِ].

[ورواه سعيد بن منصور في السنن عن ابن عيينة عن يحيى بن سعيد ولم يذكر عمر، ورواه الحاكم عن عمر أيضًا، وكذا البيهقي عنه اهـ. انظر المرعاة بالتفصيل : ۱۰۳/۹].

زهٔ وایم : په بیت الله باندې د نظر لږیدو په وخت دعاء ثابته نهٔ ده، برابره خبره ده که لاسونه پکښې پورته کړې شي او که پورته نهٔ کړې شي. ځکه صحیح او مرفوع حدیثونه ددې دعاء نه خالي دي، په هغې کښې دا نهٔ ده راغلې.

[وانظر البيهقي : ۷۳/۵].

کعبې ته کتلو سره ثواب ملاویږي اوکه نه؟

۵۷۵ - سوال : کعبې ته په صرف کتلو سره ثواب ملاویږي اوکه نه؟ او مسجدِ حرام ته د ننوتو په وخت غسل کول مستحب دي اوکه نه؟

جواب : کیدې شي چه الله رب العزت دې انسان له اجر او ثواب ورکړي ځکه ددهٔ د کعبې سره مینه محبت او شوق دې. خو په دې باره کښې چه کوم حدیث راغلې هغه ثابت نهٔ دې. او هغه دادې : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

(الله تعالیٰ هره ورځ په مسجدِ حرام باندې یو سلو شل رحمتونه رالیږي، شپیتهٔ پکښې د طواف والو دپاره وي، څلویښت د مونځ کونکو دپاره، او شل د کتونکو دپاره).

[أخرجه الطبراني في الأوسط].

ددې حدیث سند ثابت نهٔ دې، بلکه دا موضوع او منکَرت دې.

[الضعيفة: ۲۵۶].

نو د امام منذريؒ دا خبره صحیح نهٔ ده چه : بیهقيؒ دا په حسن سند سره نقل کړې.

[الترغيب والترهيب : ۱۹۱/۲].

امام ازرقيؒ د زهیر بن محمدؒ نه نقل کړي دي چه : څوك په مسجدِ حرام کښې هسې ناست وي نهٔ مونځ کوي او نهٔ طواف کوي خو بیت الله ته ګوري، دا د هغه کس نه غوره دې چه هغه په خپل کور کښې مونځ کوي او بیت الله ته نهٔ ګوري.

[أخبار مكة للأزرقي، وانظر أحكام المساجد للزركشي، ص : ۱۱۱].

○ او هر چه کعبې شریفې یا مسجدِ حرام ته د ننوتو په وخت غسل کول دی، نو دا بدعت دے، هیڅ بنیاد نهٔ لري۔ بلکه سنت دادی چه انسان مکې مکرمې ته د ننوتو په وخت غسل وکړي۔ ځکه نبی اکرم ﷺ په مکې ته د ننوتو دپاره غسل کولو۔ [بخاری، مسلم]۔

او کعبې او مسجدِ حرام ته د ننوتو په وخت غسل ثابت نهٔ دے۔ نو ځوك چه دا مستحب ګڼري، هغوئ سره هیڅ دلیل نشته، سیوا د رائې او قیاس نه چه دا دلیل نهٔ دے، او نهٔ په دے سره عبادات ثابتیږي، او نهٔ ورته ضرورت شته۔

د مسجدِ حرام دپاره نور احکام هم شته چه هغه په [أحكام المساجد] د امام زرکشيؒ کښې ذکر شوی، خو هغه تحقیق ته حاجت لري، ځکه نو موږ ی دغه احکام د امام شافعيؒ د مذهب موافق ذکر کړي۔ هغې ته رجوع پکار ده ځکه په هغې کښې ډیر فوائد دي۔

د قبرونو دپاسه جوړ شوو جوماتونو کښې مونځ نهٔ کیږي

۵۷٦ - **سوال**: کوم جوماتونه چه د قبرونو دپاسه یا د قبرونو په مینځ کښې جوړ شوی وي، په هغې کښې مونځ کیږي او که نه؟

جواب: په اولنی جلد مسئله نمبر (۷۸) کښې ددے مسئلې تحقیق تیر شوے دے۔

او هرچه دا خبره د امام زرکشيؒ ده چه: د انبیاء کرامو علیهم السلام قبرونه ددے حکم نه مستثنیٰ دي۔ ځکه په بعضِ روایاتو کښې راغلي چه د حطیم او د حجرِ اسود او مقام ابراهیم نه تر زمزم پورے د اووهٔ اویا (۷۷) نبیانو قبرونه دي، چه هغوئ حج دپاره راغلل او بیا هلته مړهٔ شول او هلته ئے قبرونه جوړ شول۔ او دا هم مشهوره ده چه د اسماعیل علیه السلام او د هغهٔ د مور قبر په حطیم کښې دے۔ اهـ

[أحكام المساجد للزركشيؒ، ص: ۱۹۳].

نو د امام زرکشيؒ دا خبره ښکاره غلطه ده۔ ځکه دغه حدیثونه چه هغهٔ پرے حواله ورکړے، دا صحیح نهٔ دي، لکه چه ددے تحقیق شیخ البانيؒ په [تحذير الساجد] کښې په تفصیل سره کړے۔

او که بالفرض دغه حدیثونه ثابت هم شي، نو بیا مونږ وایو چه دا قبرونه خو خلکو ته نهٔ ښکاري، دا د زمکې دپاسه نهٔ دي، نو په دے سره د خلکو عقیدے نهٔ خرابیږي۔ په خلاف د

هغه صورت نه چه په هغې کښې د زمکې دپاسه ښکاره قبرونه وي، چه په دې کښې د مشرکانو سره تشبيه ده او د نبي اکرم ﷺ مخالفت او نافرماني ده.

[وګوره: مجمع الزوائد: ۲۷/۲].

ځکه په دې کښې ډير داسې احاديث دي چه په هغې کښې نبي اکرم ﷺ په هغه چا لعنت ويلې چه هغه د قبرونو ترمينځه جومات جوړوي، او يا د هغې دپاسه او د هغې خواته جومات جوړوي. والله المستعان.

جومات دروازې سره نزدې تشې متيازې کول منع دي

۵۷۷ - **سوال:** جوماتونو دروازو سره د تشو متيازو نه منع راغلې اوکه نه؟

جواب: مخکښې په مسئله نمبر (۷۷) او (۲۱۰) کښې تير شو چه په دې باره کښې د مکحول رحمه الله نه يو مرسل حديث راغلې، هغه فرمائي: [نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَنْ يُّبَالَ بِأَبْوَابِ الْمَسَاجِدِ].

(رسول الله ﷺ د جوماتونو په دروازو باندې د تشو متيازو کولو نه منع فرمايلې).

[أخرجه أبوداود في مراسيله ص: ٥].

شيخ البانيؒ دې حديث ته صحيح ويلې.

[الصحيحة: ۲۷۲۳، ٦/٤٩٥].

او ددې تائيد هغه حديثونو سره هم کيږي چه په هغې کښې د جوماتونو دپاك ساتلو او خوشبويه کولو امر راغلې. نو هر کله چه حديث صحيح ثابت شو، نو واجبه داده چه د جوماتونو د دروازو سره متيازې ونهٔ کړې شي، ځکه تشې متيازې بد بوئې کوي چه د مسجد خواته دا کار غير مناسب دې. دې دپاره چه د الله د کورونو احترام او د الله تعالىٰ سره د ادب معامله وکړې شي.

وبالله التوفيق.

هر وخت جومات ته ننوتو په وخت د اعتکاف نيت کول مستحب نهٔ دي

۵۷۸ - **سوال:** جومات ته د ننوتو په وخت بعضِ علماء وائي د اعتکاف نيت کول

مستحب دی، دا خبره څۀ حقیقت لري ؟

جواب : صحیح خبره داده چه دا کار په سنتِ نبوی کښې ثابت نۀ دے۔ اهلِ صُفه به جومات ته ننوتل او راوتل او دغه شان عام صحابه کرام ﷺ او نبی ﷺ دوئ ته ددے امر نۀ دے فرمایلے، که څوك ددے دعوىٰ لري نو پیش دے ئے کړي۔

○ او د عطاء بن ابی رباحؒ په کوم اثر کښې چه راغلی چه : یعلی بن امیه ﷺ به په جومات کښې د څۀ ساعت دپاره کیناستۀ او د اعتکاف نیت به ئے کولو۔

[أبو نعيم فی الحلية : ۳/۳۱۲، وذكره الكاندهلوی فی حياة الصحابة : ۳/۱۱۰].

نو دا د وو وجو نه دلیل نشي جوړیدے :

اوله وجه : دا د صحابی ﷺ عمل دے، د نبی کریم ﷺ نه ئے نۀ دے نقل کړے۔

دویمه وجه : ددے په سند کښې عبد الملك بن جریج مدلس راوی دے، او په عنعنے سره ئے روایت نقل کړے۔ دارنګه په دے کښې ابو بلال اشعری دے، او دا ضعیف دے۔

دا وجه ده شیخ الاسلامؒ په فتاویٰ کښې فرمائی : د نبی ﷺ نه ثابت نۀ دی چه هغۀ دے هر وارے مسجد ته د ننوتو په وخت د اعتکاف نیت کړے وی، او نۀ ئے چاته ددے امر کړے او نۀ دا کار د هغۀ په صحابو کښې چا کړے۔ بلکه دا کار بدعت دے۔اهـ

او هغه حدیث هم ثابت نۀ دے چه په هغے کښې د [مَنِ اعْتَكَفَ فُوَاقَ نَاقَةٍ] الفاظ راغلی۔

[السيل الجرار : ۲/۱۳٦].

دے وجے نه صحیح خبره داده چه د اعتکاف د صحت دپاره روژه شرط ده۔ او روژه یوه ګینټه دوه ګینټے نۀ وی۔ لکه ددے وضاحت به په خپل ځائے کښې راشي ان شاء الله تعالیٰ۔

[وانظر زاد المعاد : ۱/۱۷۱، وتهذيب السنن لابن القيمؒ : ۳/۳۳۹، فإنه مهم].

او د علامه شوکانیؒ دا وینا چه : د اعتکاف د مودے په باره کښې د شارع نه څۀ اندازه نۀ ده نقل شوے، نو په مسجد کښې درنګ تیرول او په هغے کښې ایساریدل لږ هم کیدے شي او ډیر هم، هر کله چه دے سره د اعتکاف نیت ملګرے وی۔

[السيل الجرار : ۲/۱۳٦].

دا خبره صحیح نۀ ده۔ ځکه نبی ﷺ اعتکاف کړے او د هغوئ نه دا ثابته نۀ ده چه د یوے شپے یا ورځے نه کم اعتکاف ئے کړے وی۔ او قانون داده چه د عبادت اندازے به صرف

شارع لږوی، او د نبی ﷺ عمل ددے بیان دے۔ او د هغوئ نه د یوے ورځے او شپے نه کم اعتکاف کول ثابت نۀ دی۔

نو کوم خلك چه جومات ته د ننوتو په وخت د اعتکاف نیت مستحب ګڼړی، هغوئ سره د قیاس نه سیوا بل هیڅ دلیل نشته۔ او قیاسونه دلته کار نۀ کوی۔

شیخ ناصر السعدیؒ فرمائی : حقه داده چه جومات ته د هر ننوتونکی دپاره د اعتکاف نیت کول مستحب نۀ دی، ځکه ددے ثبوت نشته۔

[المختارات الجلية ص : ۹۲].

او امام نوویؒ چه دیته مستحب ویلی، نو په دے باندے ئے هیڅ دلیل نۀ دے پیش کړے۔

[المجموع شرح المهذب : ۱۷۸/۲].

په دوه رکعته مونځ کښے ګڼړ نیتونه راجمع کول

۵۷۹ - **سوال** : آیا دا کیدے شی چه په دوه رکعته مونځ کښے ګڼړ نیتونه راجمع کړے شی، مثلًا : تحیة المسجد، یا د سهار مخکنی سنت، یا صلاةِ حاجت، یا د استخارے مونځ، یا د مطلق نفلو مونځ۔ یعنی په دوه رکعته مونځ کښے کم نه کم دوه نیتونه کول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : دا خبره پیژندل پکار دی چه تحية المسجد مونځ، د استخارے مونځ، د حاجت مونځ، د تحية الوضوء مونځ، دا ټول جدا جدا مونځونه دی۔ صرف په دوه رکعته مونځ کولو سره ددے ټولو ثواب نۀ حاصلیږی۔ بله دا چه د استخارے په مانځه کښے خاصے دعاګانے دی چه هغه په دغه باقی مونځونو کښے نشته۔ دے وجے نه مونږ ته دا خبره ښه ښکاری چه هر یو مونځ دے جدا جدا وکړے شی۔

ددے مثال داسے دے چه یو سړے د خپل ځان نه دا خبر ورکړی چه د الله دپاره سل تسبیحات ثابت دی۔ او په خولے باندے دا شماره پوره نۀ کړی، نو په صرف خبر ورکولو سره دے سړی له د سلو تسبیحاتو ثواب نۀ ملاویږی، تر څو چه دا شماره پوره نۀ کړی۔

بله دا چه په سنتِ مطهره کښے تداخل فی العبادات نۀ دے راغلے۔ لکه علماؤ فرمایلی دی چه د جنابت غسل د جُمعے د غسل نه نۀ کافی کیږی۔

صرف دومره ده چه علماؤ دا ويلي دي چه فرض مونځ يا سنت وغيره مونځ د تحية المسجد نه کافي کيږي، ځکه مقصد د تحية المسجد د جومات تعظيم کول دي، او هغه په هر مونځ سره حاصليږي.

امام نوويؒ فرمائي : په دې دوه رکعته مونځ کښې دا شرط نۀ دی چه خامخا دې د تحية المسجد نيت پکښې وکړي، بلکه که د مطلق مونځ په نيت ئې مونځ وکړو، او يا ئې دوه رکعته سنت يا نفل وکړل، يا ئې وقتي يا فوتي يا نذري مونځ وکړو، نو په دې ټولو سره ضمنًا تحية المسجد اداء کيږي. او په دې کښې خلاف نشته دے. دغه شان که د فرض او د تحية المسجد دواړو نيت ئې وکړو يا د سنتو او د تحية المسجد دواړو نيت ئې وکړو، نو په غير د څۀ اختلاف نه دواړه حاصليږي.

[المجموع شرح المهذب :٥٢/٤، رد المحتار : ٤٥٦/١، أحسن الفتاوى : ٤٨١/٣].

او مخکښې تير شو چه په مکروه اوقاتو کښې هم تحية المسجد او تحية الوضوء کول جائز دي، دارنګه د خطبې په وخت هم جائز دي. پاتې شوه دا خبره چه دا واجب ده او که مستحب ؟ نو ددې بيان په راتلونکې مسئله کښې کيږي.

د تحية المسجد دوه رکعته نفل واجب دي اوکه نه ؟

---

٥٨٠ – **سوال** : (١) د تحية المسجد دوه رکعته نفل کول واجب دي اوکه نه ؟ (٢) او څوك چه جَمعې ودريدو ته نزدې وخت کښې راشي نو ددۀ لپاره کيناستل جائز دي اوکه نه؟

جواب : اوله مسئله : په صحيح بخاري او صحيح مسلم کښې د ابو قتاده – رضی الله عنه – په حديث کښې ثابت دي چه رسول الله ﷺ وفرمايل : [إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَّجْلِسَ].

(څوك چه په تاسو کښې جومات ته ننوځي نو د ناستې نه دې مخکښې دوه رکعته وکړي).

په دې کښې د علماؤ اختلاف دے چه دلته دا امر د وجوب دپاره دے او که د استحباب دپاره ؟ زما په نيز دا د استحباب دپاره دے، دلائل دادي :

اول : د ټول امت اتفاق دے چه الله تعالىٰ په شپه او ورځ کښې صرف پنځه مونځونه

فرض کړی۔ نبی ﷺ فرمائی :
[خَمسُ صَلَوَاتٍ فِی الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ، قَالَ : هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ ؟ قَالَ : لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ].
[صحيح مسلم، مشكاة : ١٣/١].

او الله تعالیٰ په حدیث قدسی کښے فرمائی : [يَا مُحَمَّدُ ! إِنَّهَا خَمسُ صَلَوَاتٍ فِی الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ فَذٰلِكَ خَمسُونَ].

(اے محمد ! دا په شپه او ورځ کښے پنځه مونځونه دی، د هر مانځه دپاره لس نیکئ دی، نو دا پنځوس شو)۔
[صحيح مسلم، مشكاة : ٥٢٨/٢].

په دے حدیث باندے عبادة بن صامت رضی الله عنه دلیل نیولے چه وتر واجب نهٔ دی۔

عبادة بن صامت رضی الله عنه ته وویل شو چه ابو محمد (نومی یو سړے) وائی چه وتر واجب دی۔ هغهٔ وفرمایل : ابو محمد دروغ وائی۔ زهٔ ګواهی کوم چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه (صرف) پنځه مونځونه الله عز وجل فرض کړی دی۔
[ابوداود : ٦٧/١، مشكل الآثار للطحاوی].

دویم : د کعب بن مالك رضی الله عنه په حدیث کښے دی : [حَتّٰی جِئْتُ فَلَمَّا سَلَّمْتُ تَبَسَّمَ تَبَسُّمَ الْمُغْضَبِ ثُمَّ قَالَ : تَعَالَ فَجِئْتُ حَتّٰی جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ].

(تردے چه زهٔ راغلم او سلام مے واچولو نو نبی ﷺ د غصه کړے شوی سړی د مُسکا پشان مُسکے شو، بیا ئے وفرمایل : راشه ! نو زهٔ راغلم او د هغهٔ مخامخ کیناستم)۔

او ددے حدیث په آخر کښے دی : [فَقُمْ حَتّٰی يَقْضِيَ اللّٰهُ فِيكَ فَقُمْتُ فَمَضَيْتُ].

(پاسه تردے چه الله ستا باره کښے فیصله وکړی، نو زهٔ پاسیدم او لاړم)۔
[صحيح بخاری، صحيح مسلم، وبوب عليه النسائی فی سننه : ١١٩/١ : باب الرخصة فی الجلوس فی المسجد والخروج منه بغير صلاة].

نو (زهٔ راغلم تردے چه مخامخ کیناستم) ددے الفاظو د ظاهر نه معلومیږی چه دے د دوه رکعته کولو نه بغیر ناست دے۔
[المرعاة : ٤١٢/٢].

دریم : زید بن اسلمؒ فرمائی :

[كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ يَدْخُلُونَ الْمَسْجِدَ، ثُمَّ يَخْرُجُونَ وَلَايُصَلُّونَ].

(د رسول الله ﷺ صحابه به جومات ته ننوتل او بیا به د مونځ کولو نه بغیر راوتل).

[مصنف ابن ابی شیبة، تحفة الأحوذی :۲/۲٦۲].

بیا که څوك په جومات کښې د کیناستو اراده لری اوکه نۀ لری، په دواړو حالتونو کښې ورله تحیة المسجد مستحب دے.

[المرعاة : ۲/٤۱۲].

څلورم : (یو سړے د جُمعې په ورځ راغے چه د خلکو په څټونو باندے ئے خپے اړولے، نبی ﷺ ورته وفرمایل : کینه ! ناوخته هم راغلے او خلکو له تکلیف هم ورکوے).

[معانی الآثار للطحاوی : ۱/۲۵۱].

پنځم : عطاء بن یسارؒ فرمائی : (د رسول الله ﷺ صحابو ته به جنابت رسیدۀ او اودس به ئے کولو او جومات ته به راتلل او په هغے کښے به ئے خبرے اترے کولے).

[تفسیر قرطبیؒ : ۵/۲۰۸، وذکره ابن القیم فی طریق الهجرتین عن الإمام أحمد وسعید بن منصور ص :۲۰۹].

نو ددے نه ثابته شوه چه تحیة المسجد واجب نۀ دے، که نۀ وی نو د جنابت سره څنګه مونځ وکړے شی؟

○ علامه عینیؒ وائی : که چرے مونږ تحیة المسجد ته واجب ووایو، نو بیا خو به بے اودسه کس دپاره جومات ته ننوتل حرام وی تر څو چه اودس ئے نۀ وی کړے. حالانکه دا خبره هیڅوك نۀ کوی. نو هر کله چه د بے اودسۍ په حالت کښے جومات ته ننوتل جائز شو، نو ددے نه لازمه شوه چه د ننوتو په وخت دغه دوه رکعته واجب نۀ دی.

[بذل المجهود : ۱/٦٦۸، المغنی : ۱/۱٦۸].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د فتوے امامان په دے متفق دی چه دا امر د استحباب دپاره دے. او ابن بطالؒ د اهل ظاهروؒ نه وجوب نقل کړے، خو ابن حزمؒ په عدمِ وجوب باندے تصریح کړے.

[فتح الباری : ۲/٤۲٦].

شپږم : که چرے دا امر د وجوب دپاره وے نو بیا خو به د دوه رکعتو نه زیات مونځ جائز نۀ وے، حالانکه د دوو نه په زیاتو رکعتونو سره هم تحیة المسجد جائز ده. او په دے سره د

مسجد حق اداء کيږي۔

[المرعاة : ۲/ ٤١١].

اووم : زيد بن اسلمؒ نه نقل دی چه (د رسول الله ﷺ ملګری به جومات ته ننوتل او بيا به د مانځه نه بغير راوتل۔ او زيدؒ وائی: ما ابن عمر وليدۀ چه دۀ هم دا کار کولو۔ دارنګه دده ځوئے سالمؒ هم دا کار کولو۔ او قاسم بن محمدؒ به جومات ته ننواتۀ او هلته د مونځ کولو نه بغير به کيناستۀ)۔

[ذکره الزرقانی، التعليق الممجد : ١/١٥٣].

اتم : د رسول الله ﷺ نه په تواتر سره ثابت دی چه هغویٔ به چه کله د جُمعے په ورځ د خطبے دپاره جومات ته ننوتل نو په منبر باندے به کيناستۀ او مونځ به ئے نۀ کولو، تردے چه د خطبے نه به فارغ شۀ۔

○ **دويمه مسئله** : ددے حکم د اولنیٔ مسئلے نه معلوم شو، هغه دا چه هر کله د تحية المسجد امر د استحباب دپاره شو، نو په غير د مانځه نه هم په جومات کښے کيناستل جائز دی هر کله چه جَمعے ودريدو ته لږ وخت وی۔ ليکن کله چه وخت وی نو مناسب دادی چه دا دوه رکعته دے نۀ پريدی، ځکه په احاديثو کښے ددے ډير اهتمام راغلے۔

علامه مبارکفوریؒ فرمائی : د نبی ﷺ دا وينا چه (د ناستے نه مخکښے دے دوه رکعته وکړی) د ودريدو دا قيد په دے وجه راغلے چه په عامه توګه خلك په ولاړه مونځ کوی۔ دے وجے نه که چا دا دوه رکعته په ناسته وکړل نو هم جائز دی۔ دغه شان که نيت ئے په ولاړه وتاړۀ او بيا ئے په ناسته پوره کړل نو هم جائز دی۔ ځکه د حديث مقصد دادے چه هسے دے نۀ پاتے کيږی بلکه په مانځه دے راتګ وکړی، په ولاړه وی او که په ناسته۔

بيا که دا کس کيناستۀ او مونځ ئے ونۀ کړو، نو بيا هم ورله پکار دی چه پاسيږی او دوه رکعته وکړی۔ يعنی په کيناستو سره دا دوه رکعته نۀ فوت کيږی۔ ځکه د ابو ذر رضی الله عنه په حديث کښے دی چه (هغه جومات ته ننواتۀ نو نبی ﷺ ورته وفرمايل : دوه رکعته دے کړی ؟ هغۀ ويل : نه ! وے فرمايل : پاسه وے کړه)۔

[صحيح ابن حبان].

ابو ظبيانؒ نه نقل دی چه عمر بن خطاب رضی الله عنه جومات ته ننواتۀ او يو رکعت ئے وکړو، نو

ددۀ نه په دے حقله پوښتنه وشوه، وے فرمایل : دا نفل دی ځوك چه غواړی زیات دے وکړی او ځوك چه غواړی کم دے وکړی۔ ما بده وګنړله چه زۀ ددے نه یوه لاره جوړه کړم۔

[مصنف عبد الرزاق : ۳/۱۵٤].

نو دے نه د تحیة المسجد تاکید معلومیږی۔ خو واضحه دے وی چه نبی ﷺ په دوه رکعته مونځ باندے امر فرمایلے، نو ددے نه به ئے نۀ کموی۔ والله أعلم.

جوماتونه مُزخرف او ډولی جوړول

۵۸۱ - **سوال** : جوماتونه ښائسته کول او هغه په چونو او سمینټو او چپس اوماربلو وغیره ؤ باندے ډولی کول جائز دی اوکه نه ؟ او چا چه دیته مستحب ویلی، د هغوئ خبره صحیح ده که نه ؟

جواب : صحیح خبره داده چه د جوماتونو ډولی کول او ښائسته کول او پړق پړوق والا جوړول قبیح بدعت دے، بلکه په دے کښے د یهودو او نصاریٰ سره مشابهت او د مال ضائع کول او مونځ ګذار خلك مشغولول او خلك د آخرت نه غافل جوړول دی، او په دے کښے نورے خرابئ هم شته، ددے ټولو نه زیاته خرابی داده چه په دے کښے هغه نهی او منعے ته راتګ کول دی کومه چه په دے حقله راغلے :

۱ – ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [مَا أُمِرْتُ بِتَشْيِيدِ الْمَسَاجِدِ].

(ماته د جوماتونو د اوچت جوړولو او اوږدولو او ښائسته کولو حکم نۀ دے شوے)۔

[ابوداود : ۱/۹۰، رقم : ٤٤٨، المحلی لابن حزم : ۲/۲٦۳، مشکاة : ۱/٦۹].

۲ – ابن عباس فرمائی : (تاسو به جوماتونه داسے ښائسته کړئ څنګه چه یهودو او نصاراؤ ښائسته کړی وو)۔

[صحیح بخاری تعليقًا : ۱/٦٤].

د تشیید معنیٰ ده، آبادی اوچتول، دنګول۔ (بغویؒ)۔ او ځینے وائی : ددے نه مراد ډولی کول او پړق پړوق والا جوړول دی۔ [المرعاة : ۲/٤۲۸].

زۀ وایم : دا دواړه معنے صحیح دی، لکه راتلونکو دلائلو نه معلومیږی :

۳ – انس رضی الله عنه وائی : نبی ﷺ وفرمایل : [لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَتَبَاهَى النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ].

(قيامت به هغه وخته پورے نۀ راځي ترڅو چه خلك د جوماتونو په باره كښے په يو بل باندے فخرونه ونۀ كړي)۔

[ابوداود: ۱/۹۱، رقم: ٤٤٩].

په بل روايت كښے دي: [يَأْتِيْ عَلٰى أُمَّتِيْ زَمَانٌ يَتَبَاهُوْنَ بِالْمَسَاجِدِ ثُمَّ لَا يَعْمُرُوْنَهَا إِلَّا قَلِيْلًا].

(زما په امت به داسے زمانه راشي چه دوئ به د جوماتونو په باره كښے په يو بل فخرونه كوي، او جوماتونه به په عبادت سره ډير كم كوز آبادوي)۔

[رواه ابن خزيمة وأبو يعلىٰ، ورواه ابن ماجه: ۱/۱۲٤، رقم: ۷۳۹، فتح البارى: ۱/٤۲۸].

٤ – ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمائي: (د مسجد نبوي چت د كهجورو د ښانګو نه وو)۔

[صحيح بخارى: ۱/٦٤].

٥ – نبي اكرم صلى الله عليه وسلم صحابو ته د خپل جومات جوړولو په وخت وفرمايل: [أُبْنُوْهُ عَرِيْشًا كَعَرِيْشِ مُوْسٰى].

(ددے جومات چت د موسىٰ عليه السلام د چت پشان جوړ كړئ)۔

[الصحيحة: ۲/۱۷۷، رقم: ٦۱٦].

په بل روايت كښے دي: (نبي صلى الله عليه وسلم عبد الله بن رواحه او د هغۀ ملګري روان كړل، او د هغوئ سره ډُرمے يا د كهجورو ښانګے وے او هغوئ په جومات باندے اچولے۔ نو عبد الله بن رواحه رضي الله عنه عرض وكړو، يا رسول الله! كه چرے مونږ دا جومات د شام د جومات پشان جوړ كړو! نو نبي صلى الله عليه وسلم د كهجورے هغه ښانګه يا ډُرمه وارتوله او وے فرمايل: ددے چت په يو ځو ورو لرګو او يا وښو سره جوړ كړه څنګه چه د موسىٰ عليه السلام چت وو، ځكه اجل ددے نه هم زيات نزدے دے)۔

[أخرجه المفضل الجندى فى فضائل المدينة رقم: ٤۷، كما فى السلسلة: ۲/۱۷۸].

سفيان ثوري رحمه الله فرمائي: مونږ ته دا خبره را رسيدلے چه د موسىٰ عليه السلام چت داسے وو چه كله به ودريدۀ نو سر سره به ئے لګيدۀ۔

[مصنف عبد الرزاق: ۳/۱٥٤].

٦ – ابو درداء رضي الله عنه وائي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: [إِذَا زَوَّقْتُمْ مَسَاجِدَكُمْ وَحَلَّيْتُمْ مَصَاحِفَكُمْ فَالدِّمَارُ عَلَيْكُمْ].

(کله چه تاسو خپل جوماتونه په پړق پړوق سره ښائسته کړل او خپل قرآن شریفونه مو ډولی کړل نو تاسو به تباه کیږئ)۔

[ابن أبي شيبة : ۱/۱۰۰]. او دا صحیح حدیث دے۔

[صحیح الجامع : ۵۸۵، الصحیحة : ۱۳۵۱].

او دا شان روایت د ابودرداء رضی الله عنه نه موقوفًا هم روایت شوے۔

[مصنف عبد الرزاق : ۳/۱۵٤، المحلی : ۳/۱٦۷].

۷ – علی رضی الله عنه فرمائی : (خلك چه خپل جوماتونه ښائسته کړی نو اعمال به ئے خراب شی۔ او دا به د تیم په جومات تیریدلو چه هغه دنګ وو، نو هغهٔ به فرمایل : دا د تیم ګیرجه ده۔

[مصنف عبد الرزاق : ۳/۱۵۳، المحلی : ۳/۱٦۷].

ابن حزمؒ فرمائی : په هغه جومات کښے مونځ نهٔ کیږی چه هغه په فخر سره جوړ شوے وی۔ [المحلی : ۲/۳٦۳].

○ او د ټولو نه اول ولید بن عبد الملك بن مروان په سرو زرو او پړق پړوق سره جوماتونه ښائسته کړی وو، او دا د صحابه کرامو د زمانے آخرنے دور وو۔ [فتح الباری].

او حافظ فرمائی چه د جومات د دنګ جوړولو نه چه منع راغلے نو ددے وجه داده چه په دے کار کښے د یهودو او نصاراؤ سره مشابهت راځی او د مونځ ګذارو زړونه غافل کیږی۔

○ او عثمان رضی الله عنه چه مسجدِ نبوی په نقش او نګار والا کانړو سره جوړ کړے وو، نو دا په زخرف (پړق پړوق) کښے نهٔ راځی۔ ددے باوجود صحابه کرام ز د عثمان رضی الله عنه په دے کار باندے ناخوښه وو۔

[کما فی مجموعة الفتاوی : ۲۷/٤۱۸].

۸ – انس بن مالك رضی الله عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (جوماتونه جوړ کړئ او په هغے کښے بالاخانے مهٔ جوړوئ)۔ [بیهقی : ۲/٤۳۹].

ملا علی قاریؒ فرمائی : جوماتونه په سرو زرو وغیره سره ښائسته کول بدعت دے نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا کار نهٔ دے کړے۔ [مرقاة : ۲/۲۰٦].

۹ – د بنو سلیم قبیلے د یوے ښځے نه روایت دے، دا وائی : (نبی صلی الله علیه وسلم عثمان بن طلحه ته

څوك ولیږۀ چه ورته ئے وفرمایل : ما د (سرو زرو) د ګډ ښکر په بیت الله کښے دننه ولیدۀ کله چه زۀ ورته داخل شوے ووم، نو مانه هیر شو چه زۀ تاته د هغے د ماتولو حکم وکړم، ځکه دا مناسبه نۀ ده چه په بیت الله کښے داسے شے پریښودل شی چه مونځ ګذار غافله کوی)۔ [بیهقی : ۴۳۸/۲].

نو کوم مسجد چه په سرو زرو یا بل پړق پړوق سره ښائسته شوے وی، نو دے سره د خلکو زړونه مشغولیږی۔ دا وجه ده شریعت چه د جومات مزخرف کولو نه منع فرمایلے، په دے کښے حکمت دادے چه دا انسان د آخرت نه غافله کوی، حالانکه مساجد د ایمان مرکزونه دی۔نو کله چه د ایمان مراکزو ته دنیا داخله شی نو ایمان به په کوم ځائے کښے جوړیږی ؟

دا وجه ده، علامه شوکانیؒ دیته قبیح بدعت ویلے۔

او فرمائی : حدیث نه معلومیږی چه جوماتونه دنګ دنګ او پړق پړوق سره جوړول بدعت دے۔ د ابو حنیفہؒ نه په دے باره کښے اجازت راغلے۔ د علی رضی اللہ عنہ نه نقل دی چه د محراب په ډولی کولو کښے باك نشته۔ مقصود باللهؒ وائی : تهول جومات ښائسته کول هم جائز دی۔ بدر بن منیرؒ وائی : کله چه خلکو خپل کورونه ډولی کړل نو مناسبه ده چه جوماتونه هم ډولی کړے شی دے دپاره چه خلك جوماتونه سپك ونۀ ګنړی۔

○ خو دا خبرے د اعتراض وړ دی، وجه داده چه د جوماتونو ښائسته کولو نه چه منع راغلے نو یا خو په دے وجه چه په دے کښے د سلفو د سادګئ پیروی او خوش عیشی پریښودل دی۔ او یا په دے وجه منع راغلے چه په دے کار سره د مونځ ګذار زړۀ مشغولیږی۔

د جوماتونو د ښائسته کولو د جواز قائلینو یو دلیل دا ورکړے چه سلفوؒ په هغه چا انکار نۀ دے کړے چا چه دا کار کړے وو۔ دارنګه دا بدعت حسنه دے۔ دارنګه په دے کار سره په جومات کښے خلك رغبت کوی۔

خو په دے دلیلونو باندے هغه څوك اعتماد نۀ کوی چه الله ورله توفیق ورکړے وی۔ خاصکر کله چه دا د هغه حدیثونو خلاف وی چه په هغے کښے دا راغلی دی چه نبی صلی اللہ علیہ وسلم دا کار نۀ دے کړے او دا کار د یهودو او نصاراؤ دے، او نبی صلی اللہ علیہ وسلم به د یهودو او نصاراؤ د

مشابهت نه په عمومی او خصوصی توګه خلك منع کول او د هغوئ مخالفت به ئے خوښ ګنړلو۔ او دا دعویٰ کول چه سلفو انکار نهٔ دے کړے، صحیح نهٔ ده، ځکه کومو ظالمانه حکومتونو چه دا کار کړے نو دا د علماؤ په مشوره او اجازت سره نهٔ دے شوے او علماؤ د بادشاهانو د شر نه د ویرے د وجے په دے سکوت کړے، او دا سکوت د رضا نښه نهٔ وه۔ بلکه د آخرت د علماؤ یوے ډلے په دے قِسم بادشاهانو باقاعده رد کړے او د هغوئ ددے عمل مخالفت ئے کړے۔ او دا خبره کول چه دا بدعت حسنه دے، دا هم باطله ده۔ ځکه نبی ﷺ فرمائی: (چا چه یو داسے کار وکړو چه په هغے باندے زمونږ امر نهٔ وو نو هغه مردود دے)۔ او دا دعویٰ کول چه په دے سره خلك په جومات کښے رغبت حاصلوی۔ دا هم باطله ده، ځکه په دے کار سره هغه څوك رغبت حاصلوی چه د هغهٔ غرض دے قِسم ګلکاریٔ او پړق پړوق ته کتل وی۔ او د چا غرض چه په جوماتونو کښے په خشوع خضوع سره عبادت کول وی، نو د هغهٔ په دے مقصد کښے دغه کارونه خنډ واقع کیدے شی۔ لکه نبی ﷺ د ابو جهم رضی الله عنه په ګلداره شړیٔ کښے مونځ وکړو نو بیا ئے هغهٔ ته واپس کړه، دا رنګه هغه پرده ئے وشلوله چه په هغے کښے نقشونه وو۔ او کوم بدعتونه چه بادشاهان خلك را پیدا کړی نو بعضِ علماء ددے دپاره خپل ځانونه په تنګیٔ کښے وا چوی او ددے د جواز دپاره ورله کمزوری دلائل ګوری۔

[نیل الأوطار: ۲/۱۵۷].

نو ددے تحقیق نه ثابته شوه چه څوك مسجد له د سرو زرو یا بل رنګ ورکول جائز ګنړی او هغه په پړق پړوق سره جوړوی او دیته جائز وائی، نو دا کار ئے باطل دے۔ او دا ددغه نصوصو او د شریعت د حکمت خلاف دے۔

[انظر المجموع للنووی: ۲/۱۸۰، الصحیحة: ۱۳۵۱، تفسیر القرطبی: ۱۲/۲۶۶، سورة النور، اقتضاء الصراط المستقیم: ۱/۳٤٤].

ooooooo

بَذلُ العسجد لسؤال المسجد

په جومات کښې د سوال کولو احکام او مسائل

۵۸۲ - **سوال** : په جومات کښې سوال کول جائز دي اوکه نه ؟

جواب : بهتره داده چه د جومات نه بهر سوال وکړي، ځکه جوماتونه دے دپاره نۀ دي جوړ شوی۔ جوماتونه خو د مانځه، تلاوت، ذکر، تعلیم او تعلم دپاره جوړ شوی۔ ددے باوجود که چا په مسجد کښې سوال وکړو نو جائز دے۔

او سوال کونکے به یا د خپل ځان دپاره سوال کوی او یا د بل چا دپاره۔

۱ - که بل چا دپاره سوال کوی نو په دے کښې باك نشته، بلکه دا مستحب دے۔

لکه جریر - رضی الله عنه - فرمائی : (مونږ د ورځے په شروع کښې د رسول الله ﷺ سره وو، چه هغۀ ته داسے قوم راغے چه هغوئ بربند وو، او څادرونه ئے غاړو ته اچولی وو...... او په دے حدیث کښې دي : یو سړے دے د خپلے اشرفۍ نه، د خپلے روپۍ نه، د خپلے جامے نه، د خپل غنمو د صاع نه، د خپل کهجورو د صاع نه صدقه وکړي، تردے چه وے فرمایل : اګرکه د کهجورے یوه برخه صدقه کړي۔ (او په دے حدیث کښې دي راوی وائی) تردے چه ما د خوراك او جامو دوه ډیرکۍ ولیدلے)۔

[صحیح مسلم : ۳۲۷/۱، مشکاة : ۳۳/۱].

نو په دے حدیث کښې نبی اکرم ﷺ خلکو ته ترغیب ورکړے چه په غریبانانو او مسکینانو باندے صدقه خیرات وکړي۔

ددے د جواز نور ډیر دلائل شته دے۔

۲ - اوکه خپل ځان دپاره په جومات کښې سوال کوی، نو په خپل سوال کښې به د درے خبرو لحاظ ساتی :

(۱) په جومات کښې به چاته ضرر نهٔ ورکوی۔
(۲) خپل آواز به په سوال باندې نهٔ پورته کوی۔
(۳) دروغ به نهٔ وائی۔
او دا شرطونه د بل دپاره په سوال کولو کښې هم ضروری دی۔
شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په مسجد کښې د سوال د جواز دپاره دغه درې شرطونه لیکلی دی۔ [مجموع الفتاوی : ۲۰۶/۲۲].
نو هر کله چه په دې شرطونو سره سوال کول جائز شو، نو هغهٔ ته ورکول به هم جائز وی۔ او د ورکړې په جواز باندې ډیر دلائل دی، ځینې دادی :
۱ – عبد الرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (آیا په تاسو کښې داسې څوك شته چه مسکین ته ئې خوراك ورکړې وی ؟ ابو بکر وویل : زهٔ جومات ته ننوتم نو ناګهانه زهٔ د سوالګر سره مخامخ شوم، نو ما د (خپل ځوئې) عبد الرحمن په لاس کښې د روټۍ یوه ټکړه بیاموندله نو د هغهٔ نه مې واخسته او هغهٔ ته مې ورکړه)۔
[ابوداود : ۲٤۲/۱، رقم : ۱٦۷۰، بیهقی : ۱۹۹/٤].
امام نوویؒ فرمائی : ددې حدیث سند جید دې۔
[شرح المهذب : ۱۷٦/۱، الحاوی للفتاوی للسیوطی : ۸۹/۱].
شیخ البانیؒ دې حدیث ته ضعیف ویلی۔
۲ – امام قرطبیؒ فرمائی : د علی رضی الله عنه نه نقل دی چه هغهٔ په مانځه کښې سوالګر ته څهٔ ورکړل۔
[أخرجه الطبرانی کما فی الحاوی : ۸۹/۱، ذکره القرطبی : ۲۲۱/٦، فی سورة المائدة، الآیة :۵۵].
۳ – ابن عباس رضی الله عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم جومات ته واتهٔ او خلکو مونځ کولو۔ دې کښې یو مسکین سوال کولو نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : آیا تاته چا څهٔ درکړل ؟ هغهٔ ویل هو ! دغه ولاړ سړی څهٔ راکړل۔ نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : په کوم حالت کښې ئې درکړل؟ ویل : د رکوع په حالت کښې۔راوی وائی : دغه کس علی رضی الله عنه وو۔ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم تکبیر وکړو او دا آیت ئې ولوستهٔ : ﴿ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ آمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رَاكِعُوْنَ ﴾].

[أخرجه ابن مردويه فى تفسيره، وأخرجه ابن جرير من طريق آخر، وابن أبى حاتم وابن عساكر، كما فى الحاوى : ٨٩/١].

٤ – حذيفه بن اليمان رضي الله عنه **وائى : د نبى** ﷺ **په زمانه كښے يو سوالگر ودريدهٔ او سوال ئے وكړو، خلك چپ شول، بيا يو سړى ورته څهٔ وركړل، نو نورو خلكو هم وركول شروع كړل. نو نبى** ﷺ **وفرمايل :** [مَنْ سَنَّ خَيْرًا فَاسْتُنَّ بِهِ فَلَهٗ أَجْرُهٗ وَمِثْلُ أُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهٗ غَيْرَ مُنْتَقَصٍ مِنْ أُجُوْرِهِمْ].

(چا چه د خير يوه لاره كيښوده او په دے كښے د هغهٔ پسے خلك روان شول نو ددهٔ دپاره به ددے ثواب وى او د هغه چا ثواب هم څوك چه دهٔ پسے روان وى چه د هغوئ د ثوابونو نه به څهٔ شے نهٔ كميږى).

[مستدرك للحاكم، وصححه، شعب الإيمان للبيهقى، مشكل الآثار للطحاوى : ٩٧/١، كما فى الحاوى:٩٠/١، ونحوه فى المسند : ٥٢٠/٢، والمجمع : ١٦٧/١].

٥ – په وركړه باندے د معن بن يزيد رضي الله عنه **حديث هم دلالت كوى. چه ددهٔ پلار صدقه په جومات كښے كيښوده نو هغه د هغهٔ ځوئے را واخسته او رائے وړه. نو پلار ورته وويل : ماخو تاته نهٔ دركوله. نو دواړو رسول الله** ﷺ **ته جګړه يوړه، نو رسول الله** ﷺ **وفرمايل : اے يزيده ! تاته هغه څهٔ ورسيدهٔ د كوم چه تا نيت كړے. او اے معنه ! هغه شے ستا شو كوم چه تا اخستے دے).**

[صحيح بخارى، رياض الصالحين، ص : ٣٤].

نو په جومات كښے صدقه كيښودل يا د سوالگر په لاس كښے كيښودل، دے كښے فرق نشته.

٦ – عوف بن مالك رضي الله عنه **وائى : رسول الله** ﷺ **په مونږ باندے مسجد ته راننواتهٔ او په لاس كښے ئے امسا وه، او په مونږ كښے يو سړى په جومات كښے د ردى كهجورو يوه خوشه زوړنده كړے وه، نو هغه ئے په امسا ووهله او وے فرمايل : كه ددے صدقے والا غوښتلے نو ددے نه به ئے ښهٔ شے صدقه كړے وے، او وے فرمايل : ددے صدقے خاوند به د قيامت په ورځ ردى كهجورے خورى).**

[ابوداود : ٢٣٣/١، باب ما لا يجوز من الثمرة فى الصدقة، وسنده حسن].

امام بخاریؒ باب لړولے : (په جومات کښې د تقسیم، او د غونچك زوړندولو بیان)۔
نو ددے نه ثابته شوه چه صحابه کرامو j به جومات ته خپلے صدقے راوړلے او هلته به ئے خیرات کولے۔
ددے نه سیوا نور دلائل هم د جواز شته دے۔
○ او کوم حدیث چه ځینے خلکو ذکر کړے چه [مَنْ سَأَلَ فِي الْمَسْجِدِ فَاحْرِمُوْهُ] (کوم سړی چه په جومات کښے سوال وکړو نو هغه محروم کړئ)۔
نو دا بے بنیاده حدیث دے۔
امام سیوطیؒ فرمائی : په جومات کښے سوال کول مکروهِ تنزیهی (خلافِ اولیٰ) دی، اوسوالګر ته په ورکړه کښے اجر او ثواب دے، مکروه نۀ دے، پاتے لادا چه حرام شی۔ بیائے پورتنی ځینے حدیثونه ذکرکړی دی، بیا ئے کراهت د هغه حدیث نه اخستے چه په هغے کښے په جومات کښے د ورك شوی شئ د تالاش کولو نه منع راغلے۔دارنګه ددے حدیث نه چه (بیشکه جوماتونه ددے دپاره نۀ دی جوړ شوی)۔

[الحاوی للفتاویٰ : ۱/۸۸، بذل العسجد لسؤال المسجد].

ملا علی قاریؒ فرمائی : په جومات کښے سوالګر ته څۀ ورکول جائز دی، ځکه په دے باره کښے (د ابو بکر صدیق رضی الله عنه پورتنے) صحیح حدیث راغلے۔

[مرقاة : ۱/۱۹۹].

امام زرکشیؒ فرمائی : په جومات کښے سوالګر ته څۀ ورکولو کښے باك نشته، د وجے د حدیث د عبد الرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه۔
بیا فرمائی : که سوالګر د خلکو په څټونو باندے نۀ تیریدلو او د مونځ ګذارو مخے ته نۀ تیریدۀ او په سختئ سره ئے غوښتنه نۀ کوله، نو بیا په سوال او په ورکړه کښے باك نشته۔ ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے به سوالګرو په جومات کښے سوال کولو۔ بیائے د علی رضی الله عنه حدیث ذکر کړے۔
اوکه د خلکو په څټونو باندے آؤښتلو او د مونځ ګذارو مخے ته تیریدلو نو بیا دۀ له څۀ ورکول مکروه دی ځکه دا ددۀ سره د خلکو په ضرر باندے مدد کول دی۔

[إعلام الساجد ص : ۳۵۳، للزرکشی].

○ او په دے باره کښے چه کوم اثر چا پيش کړے چه [هٰذَا فَلْسٌ يَحْتَاجُ إِلٰى سَبْعِيْنَ فَلْسًا].

(په جومات کښے سوالگر ته يوه روپۍ ورکول دے ته محتاج دی چه ددے گناه د جبيرے دپاره اويا روپۍ نورے خيرات کړے شی)۔

[كما قال ذلك ابن عابدين : ۱/٥٥٤، فلا قيمة لقوله].

نو دا اثر ثابت نۀ دے۔ او د مخکنو دلائلو خلاف هم دے، نو دے له هيڅ اعتبار نشته۔

[انظر المجموع : ۲/۱۷٦].

[وكذلك لاقيمة للأثر الذی فی كتاب الكسب لمحمد بن الحسن صاحب أبی حنيفة : (ينادی يوم القيامة مناد ليقم بغيض الله فيقوم سُوَّال المسجد) : لعدم صحته].

په زمکه، جانماز، بزکی او فرش باندے مونځ کول

۵۸۳ - **سوال** : په قالين، جانماز، بزکی باندے مونځ کول جائز دی اوکه نه ؟ که جائز وی نو بيا په دے مونځ کول افضل دی اوکه په زمکه ؟

جواب : صحيح خبره داده چه په اتفاق د علماؤ سره په دے مونځ کول جائز دی، لکه ديته امام بخاریؒ اشاره کړے، هغه وائی : بيان ددے خبرے چه په چتونو، منبر او لرگو دپاسه مونځ کيږی۔ ابو عبد اللهؒ وائی : حسن بصریؒ په دے کښے باك نۀ گڼلو چه په جَم شوے واوره او پُلونو باندے مونځ وکړے شی اگرکه د هغے لاندے متيازے بهيږی۔

[صحيح بخاری : ۱/٥٤، باب الصلاة فی السطوح والمنبر والخشب].

او بهتره داده چه انسان په زمکه مونځ وکړی، ځکه په دے کښے زياته خشوع او عاجزی ده، بله دا چه دا د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو ؓ او تابعينوؒ طريقه او عمل وو۔

۱ - د ابو سعيد خدری ؓ په حديث کښے دی : [وَكَانَ الْمَسْجِدُ عَلٰى عَرِيْشٍ فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ فَبَصُرَتْ عَيْنَایَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى جَبْهَتِهٖ أَثَرُ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ].

(او د جومات چت د کهجورو د پاڼو نه جوړ وو نو هغه وڅڅيدۀ، نو زما سترگو رسول الله ﷺ وليدۀ چه د هغوئ په تندی مبارك باندے د اوبو او خټو اثر وو)۔

[صحيح بخاری : ۱/۲۷۱].

دے نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ مسجد کښے خاورے وے۔

۲ - عبد الله بن الحارثؒ وائی : ما د ابن عمر ﷺ نه د هغه وړو وړو کانړو په حقله پوښتنه وکړه کوم چه په مسجد کښې وو، نو هغهٔ وفرمايل : يوه شپه په مونږ باران وشو نو زمکه لونده شوه نو هر سړی به په خپلو جامو کښې شګې راوړلې او د خپل ځان نه لاندې به ئې خورولې. کله چه رسول الله ﷺ مونځ پوره کړو، نو وې فرمايل : دا څومره ښهٔ کار دے !).
[ابوداود : ۱/۱٤۳].

۳ - ابو هريره ﷺ وائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : (د جومات نه چه څوك واړهٔ واړهٔ کانړی وباسی نو هغه ويستونکی ته زاری کوی چه مهٔ مې وباسه).
[ابوداود : ۱/۷۲].

٤ - ابوذر ﷺ د نبی ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوی : (کله چه په تاسو کښې څوك مانځه ته ودريږی نو کانړی دې نهٔ مسح کوی ځکه رحمت ددهٔ مخامخ وی). [ترمذی : ۱/۸۷].

۵ - جابر ﷺ وائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : (په تاسو کښې چه څوك خپل لاس د کانړو نه بند کړی، دا ورله د هغه سلو ناقو نه غوره ده چه هغه ټولې تورو ګاټو والا وی). [مسند أحمد : ۳/۳۲۸].

٦ - د معيقيب ﷺ په حديث کښې دی، چه نبی ﷺ (د هغه سړی په باره کښې چه هغه خاورې برابروی، فرمايلی دی : (که چرې تهٔ خامخا دا کار کوې نو يو ځل ئې وکړه). [بخاری، مسلم].

په دې حقله نور هم ډير حديثونه شته دې.

نو ددې حديثونو نه معلومه شوه چه نبی ﷺ او صحابه کرامو به په کانړو او خاورو باندې سجده کيښودله.

دا وجه ده، امام مالكؒ د عبد الرحمن بن مهدیؒ په قيد کولو باندې امر کړے وو، هر کله چه هغه مدينې ته راغے او جانمازئے خور کړو. نو امام مالكؒ ته وويل شو : دا خو عبد الرحمن بن مهدیؒ دے (چه د عراق امام دے). نو هغهٔ وفرمايل : آيا تاته پته نشته چه زمونږ په دې جومات کښې جانماز خورول بدعت دے؟

○ او کله چه عذر وی لکه سخته ګرمی وغيره وی نو بيا جانماز خورول جائز دی. لکه د انس ﷺ په حديث کښې دی : [كُنَّا نُصَلِّيْ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فَيَسْجُدُ أَحَدُنَا عَلٰى ثَوْبِهٖ].

(مونږ به د نبی ﷺ سره مونځ کولو نو په مونږ کښې به یو کس په خپله جامه باندې سجده کیښودله).

[صحیح بخاری : ۱/۵۵].

او عائشه k فرمائی : (زهٔ به د رسول الله ﷺ مخې ته اودهٔ ووم او زما خپې به د رسول الله ﷺ قبلې طرفته وې، نو کله به ئې چه سجده لړوله نو زهٔ به ئې وڅکوندلم نو مابه خپلې خپې راغوندې کړې، او کله به چه نبی ﷺ ودریدهٔ نو بیابه مې خورې کړې. هغه وائی : دغه وخت په کوټو کښې ډیوې نهٔ وې).

[صحیح بخاری : ۱/٥٦].

نو دې حدیث کښې دا راغلل چه د ځائے د تنګئ د وجې په بستره باندې سجده شوې.

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نه پوښتنه وشوه : یو سړے په جومات کښې جانماز خوروی او په هغې مونځ کوی، دا بدعت دے اوکه نه ؟

نو هغهٔ په جواب کښې وفرمایل : په جانماز باندې په داسې طریقه مونځ کول چه یو انسان ددې اهتمام او کوشش کوی، نو دا د مهاجرینو او انصارو او نورو سلفو او تابعینوؒ طریقه نهٔ وه. بلکه هغوئ به د نبی ﷺ په مسجد کښې په زمکه سجده کوله، یوکس به ځانله جانماز نهٔ خورولو چه په هغې مونځ وکړی. او نقل شوی دی چه کله عبد الرحمن بن مهدیؒ مدینې ته راغې او په جومات کښې ئې جانماز خور کړو نو امام مالكؒ ددهٔ په قید کولو امر وکړو، نو چا وویل چه دا خو عبد الرحمن بن مهدیؒ دے. وې فرمایل : آیا تاته معلومه نهٔ ده چه زمونږ په دې جومات کښې جانماز خورول بدعت دے!

بیا ئې پورتنی حدیثونه ذکرکړی، بیا فرمائی : نو دا واضح دلیل دے په دې خبره چه دوئ به په خاورو او کاڼو سجده لړوله. او په دوئ کښې به یو کس د خپلې سجدې ځائے برابرولو نو نبی ﷺ هغهٔ لپاره دا کار بد وګڼړلو، صرف یو ځل دا کار کول ئې ورله د ضرورت د وجې جائز کړل اګرکه ددې پریښودل هم بهتر دی. بیا ئې د انس ﷺ حدیث ذکر کړے چه دوئ به د ګرمئ نه د بچ کیدلو دپاره په جامه باندې سجده کوله. په دې حدیث کښې دی چه دوئ به د لنګ یا څادر او قمیص په ځینې برخه سجده کوله.

ددې نه واضحه کیږی چه دوئ په جانمازونو او پردو باندې مونځونه نهٔ کول. داوجه ده

نبی ﷺ او صحابو به کله په ښپلو کښې مونځونه کول او کله پیاده.
بیا فرمائی : او د عباده بن صامت رضی الله عنه نه نقل شوی دی چه کله به دا مانځه ته ودریدهٔ نو پټکے به ئے د خپل تندی نه پرانستو. او نافعؒ وائی : ابن عمرؓ به چه کله پټکے په سر کړے وو او په زمکه به ئے سجده کوله نو هغه به ئے د تندی نه لرے کړو او په زمکه به ئے سجده لږوله. او د علی رضی الله عنه نه هم نقل دی چه هغه وائی : کله چه په تاسو کښې څوك مونځ کوی نو د خپل تندی نه دے پټکے پرانیزی.
نو په دے کښې شك نشته چه همدا اصل سنت طریقه ده، په کومه باندے چه په اختیاری حالت کښې عمل کیدے شی.
بیا ئے د مسئلے تفصیل ذکر کړے.
[مجموع الفتاوی : ۱٦۳/۲۲].
علامه شوکانیؒ فرمائی : ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه (نبی ﷺ په بزکی باندے مونځ وکړو). نو ددے حدیث نه معلومه شوه چه په بزکی باندے مونځ کول جائز دی، او امام ترمذیؒ دا خبره د صحابه کرامو او د روستو د زیاتره علماؤ نه نقل کړے، او همدا د اوزاعیؒ، شافعیؒ، احمدؒ، اسحاقؒ او جمهورو علماؤ مذهب دے. د تابعینوؒ یو جماعت دا خبره بده ګنړلے، لکه ابن ابی شیبه د سعید بن المسیبؒ او محمد بن سیرینؒ نه نقل کړی چه دا دواړه وائی : په پوست بزکی باندے مونځ کول بدعت دے.
او د جابر بن زیدؒ نه نقل دی چه هغهٔ به د حیوان د څرمنے نه په جوړ شوی هر یو شئ باندے مونځ کول مکروه ګنړل. او د زمکے په هر قِسم بوټی باندے به ئے مونځ کول مستحب ګنړل. او د عروهؒ نه نقل دی چه هغهٔ به د زمکے نه علاوه په باقی هر یو شئ باندے مونځ کول مکروه ګنړل. او هادیؒ او امام مالكؒ هم د کراهت قائل دی.
[نیل الأوطار : ۱۲۷/۲].

OOOOOOOO

اقامة البرهان على جواز الصلاة
في كل مكان وابطال عذر الكسلان

په هر ځائے کښے مونځ کیږی

هغه ځایونه چه په هغے کښے مونځ کول جائز نۀ دی

۵۸۴ - سوال : په حمام کښے مونځ کول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : حمام دوه قِسمه دے۔ (۱) یو هغه حمام دے چه مریضان پکښے غسل کوی۔ (۲) دویم : سقاوه۔ نو د اول قِسم په باره کښے په حدیث کښے صفا راغلی چه په دے کښے مونځ کول جائز نۀ دی۔ او هر چه سقاوه ده، نو په دے کښے د مانځه دپاره ځائے جوړ شوے وی، نو هلته مونځ کیږی۔ په دے دواړو کښے فرق کول پکار دی۔

په دے مناسبت سره اوس مونږ هغه ځایونه ذکر کوو چه په هغے کښے مونځ کول جائز نۀ وی۔

○ هغه ځایونه چه په هغے کښے مونځ کول جائز نۀ وی :

امام شوکانیؒ د قاضی ابو بکر بن العربیؒ نه نقل کړی دی چه : ټول هغه ځایونه چه په هغے کښے مونځ نۀ کیږی، دیارلس ځایونه دی۔ اووۀ ځایونه د ابن عمر رضی الله عنه په حدیث کښے راغلی دی : چه (رسول الله صلی الله علیه وسلم په اوو ځایونو کښے د مونځ کولو نه منع فرمایلی: په ډیران کښے۔ په قصاب خانه کښے۔ په مقبره کښے۔ دلارے په مینځ کښے۔ په حمام کښے۔ د اوښانو په پنړغالی کښے او د بیت الله په چت باندے)۔

[رواه الترمذی و ابن ماجه بإسناد ضعيف].

امام ترمذيؒ وائي : ددے حديث سند قوي نۀ دے۔ ځکه زيد بن جبيره راوي کښے د حافظے په حقله خبرے اترے شوي۔ او دا حديث عبد الله بن عمر العُمري نقل کړے، او دا هم ضعيف دے۔ او د ابن ماجه په سند کښے عبد الله بن صالح هم ضعيف دے۔ او د ابن ماجه په حديث کښے ورسره (مقبره، د بيت الخلاء پليت ديوال، ګيرجه، د يهودو عبادت خانه، بتانو ته مخامخ، د عذاب په ځائے کښے) د مونځ ناجائز والے هم ذکر شوے۔

او عراقيؒ پکښے په غصب شوے زمکه باندے مونځ کول دارنګه اودۀ کس ته مخامخ مونځ کول، دارنګه خبرے کونکي ته مخامخ مونځ کول، د لارے مينځ، په مسجد ضرار کښے مونځ کول او تنورته مونځ کول هم ذکر کړي دي۔ نو دا ټول نولس (١٩) ځايونه شو۔ [نيل الأوطار : ١٤٣/٢].

زۀ وايم : اصل داده چه مونځ په هر ځائے کښے جائز دے، ځکه نبي ﷺ فرمائي :

[أَيْنَمَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ فَصَلِّ] وقوله : [فَأَيُّ رَجُلٍ أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَعِنْدَهُ مَسْجِدُهُ وَطَهُوْرُهُ]. وقوله : [جُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُوْرًا].

(تا باندے چه په کوم ځائے کښے د مانځه وخت راغے، هلته مونځ کوه۔ بل حديث کښے دي : کوم سړي لره چه مونځ را لاندے کړو نو د هغۀ سره جومات او پاکيزګي شته دے۔ او بل حديث کښے دي، نبي ﷺ فرمائي : زما دپاره زمکه د سجدے لرولو ځائے او پاکونکے جوړه شوے)۔ [بخاري، مسلم].

○ اوس مونږ په دغه پورتنو ځايونو کښے د صحيح او غير صحيح ځايونو فرق ښايو :

١ – په مقبره کښے مونځ کول جائز نۀ دي :

ځکه د ابو سعيد خدري رضي الله عنه په صحيح حديث کښے دي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي : [اَلْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ إِلَّا الْمَقْبَرَةَ وَالْحَمَامَ].

(د زمکے په هره برخه مونځ کيږي، سيوا د مقبرے او حمام نه)۔

[ابوداود : ٧٧/١، ترمذي : ٧٢/١، دارمي، مشكاة : ٧٠/١].

په ډيرو حديثونو کښے ددے نه منع راغلے۔ وګوره :

[تحذير الساجد، مشكاة : ٦٩/١].

٢ – په حمام کښے مونځ جائز نۀ دے۔ لکه پورتني حديث کښے ذکر شو۔

٣ – د اوښانو په پنړغالی کښې مونځ جائز نهٔ دے۔

او ددے وجه دا نهٔ ده چه ګنے دا ځائے پلیت دے، بلکه ددے وجه بله ده کومه چه الله تعالیٰ ته معلومه ده۔

ابو هریره رضی الله عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

[صَلُّوا فِيْ مَرَابِضِ الْغَنَمِ وَلَا تُصَلُّوا فِيْ أَعْطَانِ الْإِبِلِ].

(تاسو د ګډو بزو په پنړغالی کښې مونځ کولے شئ خو د اوښانو په پنړغالی کښې مونځ مهٔ کوئ)۔ [ترمذی : ١/٨١، وصححه، وأحمد : ٢/٤٥١].

جابر بن سمره رضی الله عنه وائی : یو سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چه ......د اوښانو په پنړغالی کښې مونځ کولے شم ؟ وے فرمایل : نه)۔

[صحیح مسلم : ١/١٥٨، مشکاة : ١/٤٠].

ددے دوه صحیح حدیثونو نه معلومه شوه چه د اوښانو په شپول او پنړغالی کښې مونځ کول صحیح نهٔ دی۔ او دا د امام احمدؒ، ابن حزمؒ او محققینو علماؤ وینا ده۔ او همدا صحیح قول دے۔

٤ – په مسجدِ ضرار کښې مونځ جائز نهٔ دے :

ځکه الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا﴾.

(په دے جومات کښې هیڅ کله ونهٔ دریږے)۔

نو ثابته شوه چه دا د مانځه ځائے نهٔ دے۔ ابن حزمؒ ددے تفصیلی وضاحت کړے۔

٥ – د عذاب او د خسف (یعنی په زمکه باندے د ډوبیدو) په ځائے کښې مونځ کول مکروه دی۔

امام بخاریؒ فرمائی : د خسف او د عذاب په ځایونو کښې د مانځه بیان : د علی رضی الله عنه نه نقل دی چه دهٔ د بابل په ډوبه شوے علاقه کښې مونځ کول مکروه ګڼړلی۔

بیائے په خپل سند سره د ابن عمر رضی الله عنه نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد مبارك نقل کړے چه : (تاسو په دے عذاب شوو خلکو باندے مهٔ ورداخلیږئ مګر په داسے حالت کښې چه تاسو ژړیدونکی یئ، اوکه تاسو ژړیدونکی نهٔ یئ نو بیا پرے مهٔ ورداخلیږئ هسے نه چه تاسو ته هم هغه مصیبت ورسی کوم چه دوئ ته رسیدلے)۔

په بل روايت کښې دي : بيا رسول الله ﷺ سر باندې کپړه وا چوله او مزل ئې تيز کړو، تردې چه د دغه ميدان نه وواتهٔ.

[صحيح بخاري : ١/٦٢].

نو معلومه شوه چه نبي اکرم ﷺ دلته مونځ نهٔ دې کړې. بلکه دلته پاتې کيدل ئې بدې گنړلې.

خو که څوك په دغه ځايونو کښې مونځ کوي او دې سره ژړا ملګرې شي، نو ددهٔ مونځ به جائز وي ان شاء الله تعالیٰ.

په سنن ابي داود کښې په ضعيف سند سره د علي رضي الله عنه نه نقل دي دا وائي : (زهٔ خپل خوږ دوست ددې نه منع کړې يم چه د بابل په زمکه کښې مونځ وکړم، ځکه چه په دې زمکه لعنت شوې).

په دې حديث کښې ابن لهيعه (ضعيف راوي) دې، او ابو صالحؒ ثقه دې خو د علي رضي الله عنه نه ئې روايت مرسل (منقطع) دې. (تقريب).

٦ – او هرچه د لارې په مينځ کښې مونځ کول دي، دارنګه :

٧ – په ډيران کښې.

٨ – دارنګه په قصاب خانه کښې.

٩ – دارنګه د بيت الله شريف په چت باندې، نو ددې درې واړو نه په هيڅ صحيح حديث کښې منع نهٔ ده راغلې.

١٠ – او په پليتۍ باندې مونځ کول جائز نهٔ دي.

١١ – دارنګه د يهودو

١٢ – او نصاراؤ په ګيرجو او عبادت خانو کښې مونځ کول جائز دي : خو په دې شرط چه هلته تصاوير نهٔ وي. لکه امام بخاريؒ ديته اشاره کړې. هغه فرمائي : (په ګيرجه کښې د مانځه بيان) عمر رضي الله عنه فرمائي : مونږ ستاسو ګيرجو ته په دې وجه نهٔ درځو چه په دې کښې تصاوير او فتهوان لريدلې. او ابن عباس رضي الله عنه به په ګيرجه کښې مونځ کولو، مګر که په هغې کښې به تصاوير وو.

د عائشې k نه روايت دې چه ام سلمې k رسول الله ﷺ ته د هغه ګيرجې يادوونه وکړه

چه هغـه ئے د حبشو په علاقه کښے لیدلے وه، چه هغه ګیرجے ته (ماریه) ویل کیده۔ نو ام سلمے رسول الله ﷺ ته ددے ګیرجے د هغه فتهوانو یادوونه وکړه کوم چه هغے هلته لیدلی وو۔ نـو رسول الله ﷺ وفرمایل : [أُولَـئِكَ قَـوْمٌ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الْعَبْدُ الصَّالِحُ بَنَوْا عَلٰى قَبْرِهِ مَسْجِدًا وَصَوَّرُوْا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، أُولٰئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللّٰهِ].

(دا هغـه خـلك دی چه کـلـه بـه په دوئ کښے څوك نیك عمله سړے مړ شو نو دوئ به د هغـهٔ پـه قبر جـومـات جـوړ کـړو، او دغـه فتهوان بـه ئے په کښے ولړول، دا خلك د الله په نیز بدترین خلك دی)۔

[صحیح بخاری : ١/١٦٧].

١٣ – دارنګ پـه هغه زمکه باندے مونځ کول جائز دی چه په هغے کښے د الله په آیتونو پـورے تهوقے کیږی (والعیاذ بالله)۔ البته د خلکو د تهوقو کولو په وخت به مونځ نهٔ کوی هر کـلـه چه د هغوئ تهوقے آوری۔ څکه الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْ آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ﴾ الآية.

(کـلـه چـه تـهٔ هـغه خلك ووینے چه زمونږ په آیتونو کښے بکواس کوی نو د دوئ نه مخ واړوه تردے چه دوئ په بله خبره کښے ورننوځی)۔

علامه ابن حزمؒ ذکرکړی دی چه دلته مونځ کول حرام دی۔

١٤ – اور او تنور ته مخامخ مونځ کول :

امام بخاریؒ دیته اشاره کړے چه دا کار صحیح دے، هغه فرمائی : باب دے په بیان د هغه چا کښے چه په داسے حال کښے مونځ کوی چه مخے ته ئے تنور، یا اور، یا بل یو داسے شے وی چه د هغـے عبـادت کیږی، خو هغه په دے سره د الله عز وجل مخ غواړی۔ بیا ئے د انس رضي الله عنه مرفوع حدیث ذکر کړے چه (په ما باندے په داسے حال کښے اور پیش کړے شو چه ما مونځ کولو)۔ ابن عباس رضي الله عنه فـرمـائـی : رسول الله ﷺ د نمر خړیدو په وخت مونځ وکړو او بیا ئے وفرمایل : (ماته اور وښودلے شو نو ما د دغه ورځے پشان سخته ورځ هیڅ کله نهٔ وه لیدلے)۔

[صحیح بخاری : ١/٦١].

حـافظ ابن حجرؒ فرمائی : امام بخاریؒ په دے سره هغه خبرے ته اشاره کړے چه هغه د ابن سیرینؒ نه نقل ده چه هغهٔ تنور طرفته مونځ کول مکروه ګڼړلی، او فرمایلی ئے دی چه دا د

اور کور دے۔ (أخرجه ابن أبي شيبة].

او (يا داسے شے چه د هغے عبادت کيږي) په دے کښے نمر، بوتان او ختکي (بوخلي) ټول داخل دي، او مقصد دا چه دا شيان د مونځ ګذار او د قبلے ترمينځه پراتۀ وي۔

بيا فرمائي : زما په نيز زياته ښه خبره داده چه امام بخاريؒ په دے عنوان کښے د کراهت او غير کراهت بيان نۀ دے کړے، نو کيدے شي چه امام بخاريؒ فرق کوي په مابين د هغه چا کښے چه هغه ددے شيانو په لرے کولو قادر وي او د هغه چا کښے چه هغه قادر نۀ وي۔ نو ددے دويم کس په حق کښے مکروه نۀ دي او همدا د دغه باب ددواړو حديثونو سره مطابق خبره ده۔او د اولني کس په حق کښے مکروه دي، لکه د تصاويرو په حقله د ابن عباس رضى الله عنه په وينا کښے دا په ډاګه راځي۔

[فتح الباري : ١/ ٤١٩].

زۀ وايم : ابن بطالؒ فرمائي : دغه پورتنو ټولو شيانو طرفته مونځ کول جائز دي، هر کله ئے چه مقصد دغه شيانو ته مونځ کول نۀ وي بلکه د الله دپاره مونځ کول ئے مقصد وي او خاص د هغۀ مخ دپاره ئے سجده کول مقصد وي، نو بيا مونځ ګذار له هيڅ يو شے ضرر نۀ ورکوي برابره خبره ده که هغه شے وي چه د هغے عبادت کيږي يا بل شے وي۔ لکه څنګه چه نبي ﷺ ته د اور مخامخ راتلل ضرر ورنۀ کړل۔ او همدا د عينيؒ وينا ده۔ او همدا د امام بخاريؒ رائے ده لکه څنګه چه د هغۀ د باب د عنوان نه معلوميږي۔

.[عمدة القاري : ٤/ ١٨٤].

البته قبر طرفته او فتهوانو طرفته د مونځ کولو نه منع راغلے، لکه نبي ﷺ عائشے رضى الله عنها ته فرمايلي وو : [أَزِيلِيُ عَنَّا قِرَامَكِ فَإِنَّهُ لَايَزَالُ تَصَاوِيُرُهُ تَعْرِضُ لِيُ فِيُ صَلَاتِيُ].

(مونږ نه دے خپله پرده لرے کړه ځکه ددے تصاوير ماته بار بار په مانځه کښے راتلل)۔

[صحيح بخاري : ١/ ١٤٧].

د احنافو رائے داده چه دے شيانو طرفته په هر صورت کښے مخ کول مکروه دي، ځکه په دے کښے د دغه شيانو د عابدانو سره تشبيه راځي۔

زما په نيز راجحه داده چه په داسے حال مونځ کول چه اورئے مخے ته وي جائز دي۔ البته بوتانو، فتهوانو او قبرونو طرفته مونځ کول جائز نۀ دي۔ دليل ئے دادے چه په اور کښے منع

نۀ ده راغلے، او بوتانو او قبرونو طرفته د مونځ کولو نه منع راغلے۔

١٥ – نمر او سپوږمئ ته مخامخ مونځ کول جائز دی:

ځکه د مکروه اوقاتو نه سیوا دیته د مخامخ مونځ کولو نه منع نۀ ده راغلے۔

١٦ – حائضے ښځے، فاسق سړی، جنب، بے اودسه کس او ډیوے ته مخامخ مونځ کول جائز دی: ځکه په دے باره کښے هیڅ منع نۀ ده راغلے۔ او د جواز د عام دلائلو نه اباحت او اجازت معلومیږی۔ نو څوك چه ددے نه منع کوی، هغه به دلیل راوړی۔

او کوم حدیث کښے چه دا راغلی چه (بے اودسه، جنب او حائضے ښځے طرفته مونځ نۀ کیږی) نو دا حدیث ثابت نۀ دے۔

[نيل الأوطار: ٢/١٤٤].

١٧ – او هرچه د خبرے کونکی او اودۀ سړی مخے ته مونځ کول دی: نو ددے نه په یو ضعیف حدیث کښے منع راغلے۔ ابن عباس رضي الله عنه د نبی صلى الله عليه وسلم دا ارشاد ذکر کوی: (تاسو د اودۀ او خبرے کونکی شاته مونځ مۀ کوئ)۔

[ابوداود: ١/١١٠].

خو ظاهره داده چه دا حدیث په ټولو سندونو سره ضعیف دے۔

[أحكام السترة لمحمد بن رزق ص: ١٠٥].

او شیخ البانیؒ دیته حسن ویلی۔ خو اولنے قول راجح دے، ځکه نبی صلى الله عليه وسلم به په داسے حال کښے مونځ کولو چه عائشه k به ئے مخے ته اوده وه۔

[صحيح بخاری: ١/١٩٤].

١٨ – د میدان په مینځ کښے مونځ کول جائز دی:

ځکه په هیڅ یو حدیث کښے ددے نه منع نۀ ده راغلے۔ او بعضِ راویانو چه هغه مخکنی حدیث سره دا الفاظ زیاتی کړی دی چه (د میدان په مینځ کښے ئے د مونځ کولو نه منع کړے) نو حافظ ابن حجرؒ فرمائی: دا زیاتی الفاظ باطل او غیر معروف دی۔

١٩ – په غصب کړی کور یا زمکه کښے مونځ کول: په انسان باندے واجب دی چه غصب کړے کور یا زمکه فوراً خپل مالك ته واپس کړی، خو په دے کور کښے ئے چه کوم مونځونه کړی وی، د جمهورو علماؤ په نیز دهغے راگرځول واجب نۀ دی۔

○ نو دا هغه ځایونه وو چه ځینے علماؤ ذکر کړی دی چه په دے کښے مونځ جائز نۀ دے۔ خو تاته معلومه شوه چه د دوئ دا خبره مطلقًا داسے نۀ ده۔ بلکه د کوم ځائے نه چه منع په صحیح حدیث کښے راغلی وی، په هغے به مونږ عمل کوو۔ اوکه نۀ وی راغلی نو بیا به په دے باب کښے په راغلو عمومی دلائلو عمل وی هغه دا چه په هر ځائے کښے به مونځ کول جائز وی۔

[انظر النیل : ٢/١٤٢].

جومات کښے په پاکو څپلو او چپلو کښے مونځ کول

٥٨٥ - **سوال** : په څپلو، چپړو کښے په جومات وغیره کښے مونځ کول څنګه دی ؟

ځینے خلك دا بدے ګڼړی، او ځینے وائی : دا حکم د مدینے والو پورے خاص دے ځکه د هغوئ په لارو کوڅو کښے پلیتئ نۀ وے۔ نو آیا دا خبره صحیح ده ؟

او ما د یو عالم نه واوریدل چه هغه ویل : دا کار ځکه جائز نۀ دے چه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ﴾ (خپلے څپلۍ دے وباسه)۔

جواب : په پاکو څپلو کښے مونځ کول جائز دی برابره خبره ده که په جومات کښے پکښے دننه مونځ کوی اوکه بهر۔ بلکه د رسول الله ﷺ په جومات کښے او د مکے مکرمے په جومات کښے پکښے هم مونځ کیږی۔او ددے وضاحت نبی اکرم ﷺ خپله کړے چه ددے نه پس په دے مسئله کښے هیڅ شك شبه نۀ ده پاتے شوے، لکه روستو مونږ د نبی ﷺ فتویٰ ذکر کوو۔

نو څوك چه دا کار بدے ګڼړی یا دا حکم د مدینے والو پورے خاص ګڼړی، او یا په سوال کښے د ذکر شوی آیتِ کریمه د وجے دا کار منع ګڼړی، نو دا خلك ناپوهه دی او یا ئے په زړۀ کښے منافقت دے۔ نبی اکرم ﷺ فرمائی :

[مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَتَنَزَّهُونَ عَنِ الشَّيْءِ أَفْعَلُهُ، وَاللّٰهِ ! إِنِّيْ لَأَعْلَمُهُمْ بِاللّٰهِ وَأَشَدُّهُمْ لَهُ خَشْيَةً].

(څۀ وجه ده چه ځینے خلك د هغه کار نه ډډه کوی چه زۀ ئے کووم، قسَم په الله ! زۀ د دوئ نه الله ډیر ښۀ پیژنم او د دوئ ټولو نه د الله نه زۀ یریدونکے یم)۔

[صحیح بخاری وغیره].

دے وجے نه په څپلو کښے مونځ کول جائز دی، برابره خبره ده که هغه نوے وی اوکه په ګندګئ باندے ګنده شوے وی او بیا په زمکه پورے راښکلو سره پاکے شوے وی. او برابره خبره ده که جُثے والا پلیتی وریورے نښتے وی اوکه غیر جُثے والا پلیتی وریورے نښتی وی، کله چه دا زمکے پورے راکاږی او پاکے ئے کړی نو مونځ پکښے کیږی.

او صاحب د هدایه چه کوم د نجاستِ مرئیه او غیر مرئیه، یا د جُثے او د غیر جُثے والا نجاست ترمینځه فرق کړے، چه د اولنی نجاست نه څپلئ په زمکه پورے راښکلو سره پاکیږی او د دویم نه نهٔ پاکے کیږی. [هدایه : ۱/۷۲].

نو دا فرق کول صحیح نهٔ دی.

ځکه په حدیث کښے پلیتی مطلقه ذکر شوے، په هغے کښے د اوچے او لمدے پلیتئ قید نهٔ دے لږیدلے.

ددے مسئلے وضاحت په اولنی جلد [۱/٤٥١] مسئله نمبر[۱٤۹] کښے وګوره.

په څپلو کښے د مونځ کولو د جواز دلائل :

۱ – سعید بن یزیدؒ وائی : ما د انس بن مالك رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه، آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم به په څپلو کښے مونځ کولو ؟ وے فرمایل : هو !).

[صحیح مسلم : ۱/۲۰۸].

۲ – شداد بن اوس رضی الله عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

[خَالِفُوا الْيَهُوْدَ فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّوْنَ فِيْ نِعَالِهِمْ وَلَا خِفَافِهِمْ].

(تاسو د یهودو خلاف کوئ او په څپلو کښے مونځ کوئ ځکه هغوئ په خپلو څپلو او موزو کښے مونځ نهٔ کوی).

[ابوداود : ٦٠٧].

دے حدیث کښے اشاره ده چه څوك په څپلو کښے مونځ بدے ګنړی هغه د یهودو سره مشابهت لری.

۳ – ابو سعید خدری رضی الله عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : [إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَنْظُرْ فَإِنْ رَأَىٰ فِيْ نَعْلَيْهِ قَذَرًا أَوْ أَذًى فَلْيَمْسَحْهُ وَلْيُصَلِّ فِيْهِمَا].

(کله چه په تاسو کښے څوك جومات ته راشی نو هغه دے خپلو څپلو ته وګوری، که په

هغې کښې څۀ پليتي يا ګندګي ووينې نو هغه دې زمکه پورې راکاږي او بيا دې پکښې مونځ وکړي)۔

[ابوداود: ٦٠٨].

٤ – **عبد الله بن عمرو بن العاص** ﷺ **وائي: ما رسول الله** ﷺ **ليدلے چه کله به ئې خپيبله خپې مونځ کولو او کله په څپلو کښې)۔**

[ابوداود، مشکاة: ١/٧٣، ابن ماجه: ١/١٧٠].

په دې مضمون باندې ډير حديثونه راغلي، څوك چه زياتي وضاحت غواړي هغه دې د حديثو کتابونو ته رجوع وکړي۔ او دومره خبره د يو صحيح مسلمان دپاره کافي ده۔ نو مسلمان له مناسب نۀ دي چه هغه شے بدې وګنړي کوم چه رسول الله ﷺ کړے او هغې ته ئې ترغيب ورکړے۔

جومات کښې دويمه جَمعه کول

٥٨٦ – **سوال**: په جومات کښې دويمه جَمعه جائز ده اوکه نه؟

جواب: جوماتونه دوه قِسمه دي۔ يو هغه جوماتونه چه د سړکونو او شاهراهونو په غاړه وي۔ او بل د محلے جوماتونه دي۔

نو د سړکونو په غاړه جوماتونو کښې دويمه جَمعه کول جائز دي، ځکه په هغې کښې په دې کار سره د مسلمانانو ترمينځه د تفرقے سوال نۀ پيدا کيږي۔ او دا اجماعًا جائز دي۔

[رد المحتار للشامي: ١/٣٧١].

اوکوم جوماتونه چه په محله کښې وي او د هغې مقرر امام او مؤذن وي۔ نو د علماؤ د ظاهر قول مطابق په هغې کښې دوباره جماعت کول مکروه دي۔

شيخ الباني په (تمام المنة) کښې دا مسئله په تفصيل سره بيان کړے، هغه فرمائي:

سوال: په جومات کښې د دويمے جَمعے کولو شرعي حکم څۀ دے؟

جواب: په دويم جماعت کولو کښې د فقهاؤ اختلاف دے۔ خو د اختلاف او د راجح او مرجوح ذکر کولو نه مخکښې د دويم جماعت معنیٰ پيژندل پکار دي۔

نو اختلاف په دې کښې دے چه په يو جومات کښې مقرر امام او مقرر مؤذن وي، په هغې

کښې د دویم جماعت کولو حکم څۀ دے؟ پاتے شو هغه دویمے جَمعے چه هغه په کور کښې کیږی، یا د لارے په جومات کښې کیږی، یا په دکان کښې کیږی نو په دے ځایونو کښې په دوباره جَمعو کولو کښې هیڅ مانع نشته، ددے کول جائز دی۔

نو کوم علماء چه د دویم جماعت د کراهت قائل دی، نو هغوئ په خپل موقف باندے دوه دلیله ذکر کوی۔ (۱) یو نقلی شرعی دلیل۔ (۲) او بل نظری دلیل، یعنی په روایت کښې سوچ او فکر کول او د جماعت په مشروعیت کښې حکمت لټول۔

(۱) نو نقلی دلیل دادے: چه نبی اکرم ﷺ په خپل ټول عمر کښې چه کله خلکو ته په جومات کښې مونځ کولو، او یو صحابی به راغے او د هغۀ نه به جَمعه شوے وه، نو هغۀ به یواځے مونځ کولو، ددے انتظار به ئے نۀ کولو چه څوك راشی او دویمه جَمعه وکړی، لکه چه نن صبا خلك دا کار کوی، اخوا دیخوا ګوری او یو کس دوه کسه پیدا کوی او د هغۀ سره دویمه جَمعه کوی۔

دا کار به سلفوؒ نه کولو۔ بلکه کله به چه د دوئ نه جماعت فوت شو او جومات ته به راغلل نو یواځے مونځ به ئے کولو۔

په دے باره کښې امام شافعیؒ ډیره ښکلے جامعه خبره کړے، هغه فرمائی: (کله چه یوه ډله جوماتـ ته ننوځی او امام بیامومی چه جماعت ئے کړے دے، نو دا خلك به یواځے مونځ کوی۔ که چرے دوئ دوباره جَماعت وکړو نو جائز دے، خو زۀ دوئ دپاره دا کار مکروه ګنړم، ځکه چه دا کار د سلفوؒ عادت نۀ وو)۔

بیا فرمائی: پاتے شو هغه جومات چه د لارے په سر دے – چه د هغے نۀ کوم مقرر امام وی اونۀ مؤذن – نو په دے کښې بیا دوباره جماعت کول باك نۀ لری۔

بیا فرمائی: مونږ ته دا خبره رارسیدلے چه د صحابه کرامو د یوے ډلے نه د جَمعے مونځ فوت شو نو هغوئ ځانله ځانله مونځ وکړو، سره ددے چه دوئ په دویم جماعت کولو قادر وو، خو دوئ دا کار ونۀ کړو، ځکه دوئ دا خبره بده ګنړله چه په یو جومات کښې دوباره جماعت وشی۔

[کتاب الأم للشافعی رحمه الله].

امام شافعیؒ چه د صحابه کرامو z کوم اثر په صیغے د جزم سره معلق پیش کړو نو دا

اثر حافظ ابو بکر بن ابی شيبهؒ په خپل مشهور کتاب (مصنف) کښې په قوی سند سره د حسن بصریؒ نه ذکرکړے چه د صحابه کرامو نه جماعت فوت شو نو دوئ ځان ځانله مونځ وکړو۔

او دا مضمون ابن قاسمؒ په (مدونة الامام مالك) کښې د سلفو د يوے ډلے نه هم ذکر کړے، لکه د ابن عمر مولیٰ نافعؒ، سالم بن عبد الله او نورو نه چه دوئ نه به کله جماعت فوت شو نو دوئ به ځانله ځانله مونځ کولو، او دويم جماعت به ئے نۀ کولو۔

○ دارنګه امام طبرانیؒ په خپل (معجم کبير) کښې په جيد سند سره د ابن مسعود رضي الله عنه نه نقل کړی چه هغه د جَمعے مانځه دپاره د خپلو دوو ملګرو سره مسجد ته د کوره ووتۀ، نو ځۀ ګوری چه خلك د جومات نه را ووتل او جَمعه ئے کړے وه۔ نو ابن مسعود واپس شو او هغوئ ته ئے په کور کښې جَمعه ورکړه۔

نو که چرے په جومات کښې دويمه جَمعه جائز وے نو ابن مسعود رضي الله عنه به خپلو دواړو ملګرو سره دويمه جمعه کړے وے۔ ځکه هغۀ ته دا حديث معلوم وو چه (د سړی بهترين مونځ هغه دے کوم چه په کور کښې کوی، سيوا د فرض مونځ نه)۔

نو ابن مسعود په جومات کښې د مونځ کولو نه ولے منع شو ؟ په دے وجه منع شو چه که جومات ته راغلے وے نو ځانله ځانله مونځ به ئے کولے، نو ددے نه ښه داده چه کور ته لاړو او جمعے سره ئے مونځ وکړو۔

نو دے تائيداتو سره د جمهورو د رائے تائيد کيږی چه دوئ په هغه جومات کښې دويمه جمعه مکروه ګڼړی چه په هغے کښې مقرر امام او مقرر مؤذن وی۔

دارنګ د راتلونکی حديث نه هم په دقيق نظر سره دا معنیٰ معلوميدے شی، هغه دا چه بخاری او مسلم د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت کوی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

(بيشکه ما دا اراده کړے چه زۀ يو سړی ته امر وکړم او هغه خلکو ته مونځ وکړی، بيا ځۀ سړو ته حکم وکړم او هغوئ لرګی راجمع کړی، بيا زۀ هغه خلکو پسے ورشم چه هغوئ د جَمعے مانځه ته نۀ حاضريږی او په هغوئ باندے کورونه وسيزم۔ قسَم دے په هغه ذات چه د محمد (صلی الله عليه وسلم) روح د هغۀ په لاس کښې دے ! که چرے په دوئ کښې يو کس ته دا معلومه شی چه دے په جومات کښې دوه ښے پانچے مومی، نو خامخا به ديته

حاضريدلے)۔

نو په دے حديث کښے سخت وعيد او زجر دے د هغه چا دپاره چه د جَمعے مانځه نه روستو پاتے کيږی، او ددے جَمعے نه مراد به کومه جَمعه وی ؟ که اولنۍ جمعه وی۔ نو بيا دويمه جمعه کول مشروعه نۀ ده، څنګه چه د صحابه کرامو طريقه دا وه چه دوئ به دويمه جَمع په جومات کښے نۀ کوله۔ اوکه څوك ووائی چه ددے نه مراد دويمه او دريمه جمع ده، نو بيا خو کوم خلك چه په کورونو کښے ناست دی او رسول الله ﷺ هغوئ پسے ورشی نو هغوئ دا عذر پيش کولے شی چه مونږ دويمے او دريمے جَمعے ته حاضريږو اګرکه د اولنۍ جمعے نه پاتے شوی يو۔ بيا د نبی اکرم ﷺ حجت په دے خلکو څنګه قائميدے شی؟

(٢) او نظری دليل دادے چه : په احاديثو کښے د جماعت د مانځه ډير فضائل راغلی، يو د هغے نه مشهور حديث دے چه (د جماعت مونځ د يواځے مانځه نه يو په پنځيشت او په بل روايت کښے : يو په وويشت درجے افضل دے)۔

او په بل حديث کښے راغلی چه (د يو سړی مونځ د يو سړی سره د الله په نيز ډير بهتر دے د هغه مونځ نه چه انسان ئے يواځے کوی۔ او د يو سړی مونځ د دوو سړو سره د الله په نيز ډير بهتر دے د هغه مونځ نه چه د يو سړی سره ئے کوی)۔ او دغسے څومره چه د جماعت افراد ډيريږی نو د الله په نيز د هغے ثواب زياتيږی۔

نو اوس راشه کله چه دويمه جمعه مونږ مشروعه وګڼړو، نو ددے انجام به دا شی چه د جماعت د مانځه افراد به کميږی ځکه ټول خلك به په يو ځل مونځ له نۀ راځی بلکه ځينے خلك به په دے وجه پاتے کيږی چه دويمه جمعه به وکړو۔

دا وجه ده، د جُمعے په مانځه کښے د ګڼړے ګونړے يوه وجه دا هم ده چه د جُمعے مونځ اتفاقًا په يو جومات کښے دويم ځل نۀ کيږی نو ځکه په دے کښے خلك ګڼړ وی۔ دغسے که په عامو مونځونو کښے هم دويمه جمعه نۀ کيږی نو خلك به اولے جمعے ته د رارسيدو کوشش کوی، ځکه دوئ نه بيا د جمعے ثواب فوت کيږی۔ اوکه دويم جماعت مشروع شی نو بيا به خلك د اول جماعت ډير اهتمام نۀ کوی ځکه که اوله جمعه ترے فوت شوه نو دويمه به وکړی۔ او که دويمه ترے فوت شوه نو دريمه او څلورمه به وکړی۔ نو په دے سره په اوله جمعه کښے ددۀ حرص او همت کمزورے کيږی۔

○ او دا خبره د پیژندو وړ ده چه کوم علماء د دویمې جمعې د عدمِ مشروعیت قائل دی، او دیته په مخکنی تفصیل سره مکروه وائی، نودا د سلفو جمهور علماء دی، چه په دې کښې درې واړه امامان: ابوحنیفهؒ، مالكؒ، شافعیؒ دې۔ او امام احمدؒ په یو روایت کښې د دوئ سره ملګرې دې۔ خو دا روایت نن صبا د امام احمدؒ په تابعدارو کښې مشهور نۀ دې۔ اګرکه دا روایت د امام احمدؒ خاص شاګرد امام ابوداوُدؒ ذکر کړې، لکه هغۀ په (مسائل الامام احمد) کښې د احمدؒ نه نقل کړی چه: د حرمینو په جوماتونو کښې دویمه جمعه کول سخت مکروه دی۔ نو ددې نه معلومیږی چه په نورو جوماتونو کښې هم مکروه ده۔

او دویم روایت د امام احمدؒ چه د هغۀ په تابعدارو کښې مشهور دې، نو په دې کښې هغۀ او د هغۀ پیرویانو په یو روایت باندې اعتماد کړې کوم چه امام ترمذیؒ او امام احمدؒ او نورو د ابو سعید خدری رضی الله عنه نه نقل کړې چه (یو سړې جومات ته ننواتۀ او رسول الله ﷺ مونځ کړې وو او صحابه ترې ګیر چاپیره ناست وو، نو دغه سړی اراده وکړه چه مونځ وکړی، نو نبی ﷺ وفرمایل: آیا څوك سړې نشته چه په دۀ باندې صدقه وکړی او ددۀ سره شریك مونځ وکړی؟ نو یو سړې پاسیدۀ او هغۀ سره ئې مونځ وکړو)۔

په سنن کبریٰ د بیهقی کښې دی چه دا کس ابو بکر صدیق رضی الله عنه وو چه د هغۀ سړی سره ئې مونځ کړې وو۔ خو ددې روایت سند ضعیف دې، او په صحیح روایت کښې د دغه سړی نوم نۀ دې اخستل شوې۔

نو دوئ دا حدیث په دلیل کښې پیش کوی چه رسول الله ﷺ په دویم جماعت باندې اقرار کړې دې۔

ددې استدلال نه جواب دادې چه په دې حدیث کښې چه کوم جماعت ذکر شوې، دا هغه جماعت نۀ دې په کوم کښې چه زمونږ بحث دې۔ ځکه په دې حدیث کښې چه کوم جماعت ذکر شوې هغه دادې چه یو سړې د جماعت فوت کیدو نه پس جومات ته راغې او ځانله ئې مونځ کولو نو رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته ترغیب ورکړو چه ددۀ سره مونځ وکړی او دا مونځ به ددۀ نفل وی۔ نو هغۀ دا کار وکړو۔ نو دا جماعت د دوه کسانو نه جوړ دې، یو امام او بل مقتدی۔ امام فرض کړی او مقتدی نفل۔ که دا نفل کونکې نۀ وې نو جماعت خو نۀ کیدۀ۔ او بحث خو په دې کښې دې چه امام او مقتدی دواړه فرض کوی۔

دے وجے نه په دے حدیث باندے استدلال کولو کښے خبرے اترے شته دے۔

بلـه دا چـه پـه دے حـدیث کښے دا الفاظ راغلی چه (څوك به په دهٔ صدقه وکړی) نو دلته صدقـه کـونکے هغه کس دے چه هغهٔ په اولنی جماعت کښے د رسول الله ﷺ سره مونځ کړے، او صدقه کړے شوے هغه دویم کس دے چه دے ورسره جماعت ته ولاړ دے۔ او ظاهره ده چه صدقه څوك کوی هغه مالداره وی، نو دا کس په دے وجه مالداره دے چه دهٔ د رسول الله ﷺ سره د هغه جماعت مونځ کړے چه د هغے ثواب یو په (۲۷) درجے دے۔ نو دا په دے وخت کښے غـنـی دے او کـولے شی چه په بل چا صدقه وکړی۔ او کوم کس چه د امامتئ مـونـځ کـړے - کـه چرے دا دویم کس نهٔ وے نو هغهٔ به یواځے مونځ کولے - هغه فقیر دے، دیتـه محتاج دے چه په دهٔ صدقه وکړے شی، ځکه دهٔ هغه ثواب نهٔ دے گټلے کوم چه دغه صدقه کونکی گټلے دے۔

او هرچه اختـلافی صـورت دے نـو پـه هـغے کښے امام او مقتدیان ټول فقیران دی۔ دے ټولو نه د اولنی جماعت فضیلت فوت شوے۔

دے وجے نه ددے حدیث نه د دویم جماعت په مشروعیت باندے استدلال صحیح نهٔ دے۔

او دوئ ددے حدیث نه استدلال کوی چه (صلاة الجماعة په یواځے مانځه باندے وویشت درجے فـضـیـلـت لـری) نـو په دے حدیث کښے دوئ د (الجماعة) نه مراد د جماعت هر مونځ اخستے دے چـه د جـمـاعـت هـریـو مـونـځ پـه مسجد کښے دوچند کیږی، حالانکه دلته د (الـجـمـاعـة) نـه مـراد هر جماعت نهٔ دے بلکه هغه جماعت دے چه رسول الله ﷺ مشروع کـړے او خـلـکـو تـه ئے ددے ترغیب ورکړے او حکم ئے ورته کړے، او څوك چه ددینه روستو پاتے کیږی د هغوئ د کورونو سوزولو گواښ ئے کړے، او ددے نه پاتے کیدونکی ئے منافقان گڼرلی، او همدا هغه اولنے جماعت دے چه وویشت درجے ثواب لری۔

د شیخ البانیؒ خبره ختمه شوه۔

[تمام المنة ص ۱۵۵ - ۱۵۸].

زهٔ وایم : دویم جـمـاعـت د هغـه چا دپاره جائز دے چه هغه عذر لری، یا دا کار عادت نهٔ جوړوی، او په دے کار سره نهٔ د مسلمانانو ترمینځه اختلاف واقع کیږی او نهٔ په دوئ کښے سستیا راځی۔ نو بیا په دے وخت کښے جائز دے۔ او دلیل ئے د انس رضی الله عنه **هغه عمل** دے چه

په صحیح حدیث کښې راغلي چه: (هغه تقریباً د شلو ځوانانو سره راغي او وې فرمایل: آیا تاسو مونځ کړے؟ مونږ ویل: هو! نو یو ځوان ته ئې امر وکړو او هغهٔ اذان وکړو او اقامت ئې وکړو، بیا انس رضي الله عنه مخکښې شو او دوئ ته ئې مونځ وکړو).

[صحیح بخاری: ٨٩/١، بیهقی: ٦٩/٣].

○ او دا حدیث چه (آیا یو سړے نشته چه په دهٔ صدقه وکړي). [سنن أبی داود].

په دې حدیث کښې هم هغه قید مراد دے کوم چه مونږ ذکر کړو. او دیته امام بیهقیؒ په خپل سنن کښې اشاره کړې، لکه هغه فرمائی: (باب دے په بیان د دویم جماعت کولو کښې په هغه جومات کښې چه په هغې کښې یو ځل مونځ شوے وی، هر کله چه په دې کار سره د مسلمانانو ترمینځه یے اتفاقی نهٔ راځی).

[بیهقی: ٦٩/٣].

او د انس رضی الله عنه د پورتني حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د دویم جماعت دپاره اذان او اقامت دواړه شته دے. نو څوك چه دا وائی چه په دویمه جمعه کښې به امام ځائے بدلوی، او یا اذان به ورله نهٔ کوی اونهٔ به ورله اقامت کوی: نو د دوئ دا خبره محض رائے ده، هیڅ دلیل نهٔ لری.

خو دا خبره د غور وړ ده چه مونږ په دې فتوئ سره خلکو ته دا دعوت نهٔ ورکوو چه دویمې جَمعې دې کوی، ځکه کوم خلك چه دویم جماعت مشروع ګڼړی د هغوئ په جوماتونو کښې ما سستی او د اول جماعت اهتمام نهٔ کول لیدلی دی، او اولنې جماعت، سره د وس او قدرت نه پریدی. او دا په دې ګمان چه ګنې په دویم جماعت کښې به هم هغه شان اجر او ثواب وی کوم چه په اولنی جماعت کښې دے.

[انظر هیئة کبار العلماء: ٢٥١/١، نصب الرایة: ٥٧/١، فتح الباری: ١٠٤/١، المغنی: ١٠/٢. وفی السنن والمبتدعات رد علی الجماعة الثانیة: ٧٩/١، وفی نیل الأوطار: ١٨٥/٣، أشار إلیٰ جوازها. وانظر المحلی: ١٥٤/٣، المصنف لعبد الرزاق: ٢٩١/٢، سنن أبی داود: ٩٢/١، المصنف: ٤٠٩/٢، المشکاة: ١٠٢/١، مجمع الزوائد: ٤٥/٢، إرواء الغلیل: ٣١٦/٢].

په هوائي جهاز كښې مونځ كول او قبلې ته مخ كول

٥٨٧ - **سوال** : په جهاز كښې د مونځ كولو او قبلې ته د مخ كولو څۀ حكم دے ؟

جواب : په سفر كښې په اتفاق د علماؤ سره، او په حضر كښې د راجح قول مطابق، په سورلۍ دپاسه نفل كول جائز دي. د جابر رضي الله عنه په حديث كښې دي، دا وائي :

(رسول الله صلى الله عليه وسلم زۀ د يو كار پسے وليږلم نو زۀ ورته په داسے حالت كښے راغلم چه هغۀ په خپله د سورلۍ دپاسه مونځ كولو او مخ ئے مشرق طرفته وو، او د سجدے اشاره به ئے د ركوع د اشارے نه ښكته ساتله).

[ابوداود : ١/١٨٠، مشكاة : ١/١١٩].

نو دا حديث په دے خبره دلالت كوى چه په سفر او حضر دواړو كښے په سورلۍ نفل مونځ كول جائز دي. خو كله چه نفل مونځ شروع كوى نو په اوله كښے قبلے ته مخ كول مستحب دي، ځكه د انس رضي الله عنه په حديث كښے دي : [كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا سَافَرَ وَأَرَادَ أَنْ يَّتَطَوَّعَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ بِنَاقَتِهٖ فَكَبَّرَ ثُمَّ صَلّٰى حَيْثُ وَجَّهَهٗ رِكَابُهٗ].

(رسول الله صلى الله عليه وسلم به چه كله سفر كولو او د نفلو اراده به ئے وكړه نو خپله اوښه به ئے قبلے ته مخامخ كړه او تكبير به ئے وكړو بيا چه به د سورلۍ كوم طرف ته مخ وو نو مونځ به ئے جارى ساتلو).

[ابوداود : ١/١٨٠، مشكاة : ١/١١٩].

نو دے حديث نه معلومه شوه چه په سورلۍ باندے د نفلو شروع كولو په وخت قبلے ته مخ كول مستحب دي. او دا آيت هم عام دے : ﴿وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ﴾. (الله لره مشرق او مغرب دے نو چرته چه تاسو مخ كوئ هلته د الله مخ دے).

او هرچه فرائض دي نو دا د سورلۍ دپاسه نۀ كيږي مګر په خاصو ځايونو كښے كوم چه مونږ روستو ذكر كوو.

په اولنۍ خبره باندے دليل د ابن عمر رضي الله عنه حديث دے، دا وائي : (رسول الله صلى الله عليه وسلم به په سفر كښے د سورلۍ دپاسه په اشارے سره د تهجدو مونځ كولو چرته به چه د سورلۍ مخ وه. دومره ده چه فرائض به ئے ددے دپاسه نۀ كول. او په سورلۍ دپاسه به ئے وتر هم كول).

[بخاري، مسلم، مشكاة : ١/١١٨].

او دا د ټولو علماؤ وينا ده.

○ او په جهاز يا كشتۍ يا ريل ګاډي كښې فرض مونځ كول جائز دي. البته په لارۍ موټر، اس او اوښ وغيره باندې مونځ كول جائز نۀ دي. په دې كښې قاعده داده چه هر هغه څاروې چه په هغې باندې ركوع او سجده كول ممكن وي نو د هغې دپاسه مونځ جائز دې فرض وي كه نفل وي. او هر هغه څناور چه په هغې باندې ركوع او سجده كول ممكن نۀ وي نو په هغې باندې فرائض نۀ كيږي.

په دې باندې دليل د عبد الله بن عمر رضي الله عنه حديث دې، دا وائي : نبي صلى الله عليه وسلم نه په كشتۍ كښې د مونځ كولو په حقله پوښتنه وشوه چه زۀ به په كشتۍ كښې څنګه مونځ كوم ؟ وې فرمايل : (په كشتۍ كښې په ولاړه مونځ كوه مګر كه تۀ د ډوبيدو نه ويريدلې).

[مستدرك حاكم : ١/٢٧٥، دارقطني : ١/٣٩٥].

امام حاكم رحمه الله وائي: ددې سند صحيح دې، حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي : د مسلم په شرط دې، او فرمائي : دا شاذ دې. شيخ الباني رحمه الله دېته صحيح ويلې.

او فرمائي : په جهاز كښې مونځ داسې دې لكه په كشتۍ كښې مونځ چه په لاړه به مونځ كوي كه وس ئې وي، اوكه نۀ وي نو بيا به ئې په ناسته د ركوع اوسجدې په اشارې سره كوي). [صفة الصلاة، ص : ٧٩].

او هر چه په سخته ويره كښې مونځ كول دي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل امت دپاره دا لاره ايښې ده چه دوئ دې په ولاړه باندې پياده يا په سورلۍ باندې مونځ كوي، قبلې ته مخ كونكي وي اوكه نۀ وي، لكه څنګه چه بخاري او مسلم روايت كړې دي.

[انظر الإرواء : ٥٨٨].

○ په فتاوىٰ هيئة كبار العلماء كښې دي : په مسلمان باندې واجب دي چه كله په جهاز يا صحراء كښې وي نو د قبلې په پيژندلو كښې دې كوشش وكړي، د پوهه خلكو نه دې پوښتنه وكړي يا دې د قبلې نښو نښانو ته وګوري، دې دپاره چه ښۀ په بصيرت سره قبلې طرفته مونځ وكړي. اوكه ددې باوجود ورته د قبلې پوره معلومات ونشو، نو اجتهاد به وكړي او د قبلې په معلوملو كښې به سوچ وكړي او كوم طرفته ئې چه غالب ګمان راغې

هغې تـه به مونځ وکړي او دا مونځ ددۀ نه کافي دے۔ اګرکه روستو دا پته ولګي چه دۀ قبله خطا کړے ده، وجه داده چه دے سړي اجتهاد وکړو او د الله نه د خپل وس مطابق وۀ يريدۀ۔ او دا ورلـه جائـز نۀ دی چه په جهاز يا په صحراء کښې د قبلې په معامله کښې د اجتهاد نه بغير مـونځ وکړي۔ که چرے دا کارئے وکړو نو مونځ به دوباره کوی ځکه دے د خپل وس مطابق د الله نه ونۀ يريدۀ او د قبلې معلومولو دپاره ئے کوشش ونۀ کړو۔

اوکـه پـه جهاز کښې انسـان نشـی ودريـدے او پـه ناسته مونځ وکړي نو په دے کښې څۀ باك نشتـه، داسے ده لـکـه يـو سړے په کشتۍ يا په لانچ کښې مونځ کوی او د ودريدو نه عاجز وی۔ ددے دليل دا آيتِ کريمه دے چه : ﴿ فَاتَّقُوا اللهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ (د الله نه د خپل وس مطابق يريږئ)۔

هـو ! په نفلو کښې کله چه په جهاز يا په ګاډی کښې يا په سورلۍ باندے مونځ کوی نو په دے کښې قبلې ته مخ کول واجب نۀ دی، ځکه د رسول الله ﷺ نه ثابته ده چه هغوئ به په خپـل اوښ بـانـدے، چرتـه به چه د اوښ مخه وه، نفل مونځ کولو۔ خو د تکبيرِ تحريمے په وخت پـه نـفـلـو کښې هم قبلې ته مخ کول مستحب دی، او بيا ددے نه پس که هر خوا روان وی مونځ دے پوره کړي، لکه چه دا د انس رضی الله عنه په حديث کښې ثابته ده۔

[فتاویٰ هيئة كبار العلماء : ١/٢١٦].

سـعيد بن منصورؒ په خپل سنن کښې د عبد الله بن ابی عتبہؒ نه روايت کوی، دا وائی : زۀ د جـابـر بـن عبد الله او ابو سعيد او ابو هريره ‌ز سـره پـه يـوه کشتۍ کښې ملګرے ووم، نو هغـوئ په ولاړه باندے جَمعے سره مونځ وکړو، چه يو په کښې امام جوړ شوے وو، حالانکه دوئ قادر وو چه د سمند غاړے ته کوز شوی وے۔

[التعليق المغنی علی سنن الدارقطنی : ١/٣٩٥].

ددے حـديثـونو نه معلومه شوه چه څوك په کشتۍ کښې مونځ کوی نو هغۀ له ودريدل فرض دی۔ په ناسته مونځ ورله جائز نۀ دے، خو که د ډوبيدو نه يريدۀ نو بيا ورله کيناستل جـائـز دی۔ دارنـګه ثابته شوه چه په کشتۍ کښې مونځ جائز دے اګرکه زمکے ته د کوزيدو امـکان هم وی۔ دارنګه ددے نه معلوميږی چه په سورلۍ (ريل ګاډی) کښې مونځ صحيح دے اګـرکـه هغـه روان وی او خـوزيږی راخوزيږی۔ خـو په دے کښې به هم په ولاړه مونځ کوی، په ناسته به ئے نۀ کوی، مګر که عذر وی، لکه د کشتۍ غوټته۔

په مغني کښې هم وائي چه څوك په داسې سورلۍ کښې مونځ کوي چه په هغې کښې په رکوع او سجده او ودریدو او قبلې ته مخ کولو باندې قادر وي او ګرځیدې راګرځیدې شي نو په هغې کښې مونځ کول جائز دي، او ددۀ مثال لکه د کشتۍ د سوارۀ دې.

[المغني : ١/٤٨٥].

علامه شوکانيؒ فرمائي : د انس رضي الله عنه حدیث نه معلومیږي چه په سورلۍ باندې مونځ کول جائز دي، او د تکبیر تحریمې په وخت قبلې ته مخ کول پکار دي بیا روسته که هر خوا سورلۍ روانه وي باك نۀ لري.

[نیل الأوطار : ٢/١٨٣].

او په جهاز کښې مونځ کول جائز دي، ځکه سجده ښکته کیدو ته او اووۀ اندامونو کیښودو ته وائي، برابره خبره ده که دا کیښودل په زمکه وي اوکه ددې نه علاوه په بل شئ. لکه څنګه چه نبي صلی الله علیه وسلم په کشتۍ کښې مونځ جائز کړے دے حالانکه په کشتۍ کښې خو زمکه نۀ وي بلکه د لرګو تختې وي، نو دغه شان په جهاز کښې هم ده. بله دا چه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ او دا سړے به هم د خپل وس مطابق مونځ کوي ځکه ددۀ دپاره د جهاز نه وتل ممکن نۀ وي. په خلاف د ګاډي او ځناور نه چه ددې نه وتل کیدے شي.

امام بخاريؒ په خپل صحیح کښې په [باب الصلاة عند مناهضة الحصون] أو [باب صلاة الطالب والمطلوب] کښې دیته اشاره کړے چه د سخت ضرورت په وخت د سورلۍ دپاسه هم فرض مونځ کول جائز دي. [صحیح بخاري : ١/١٢٩].

د قبرونو دپاسه جوړ شوو جوماتونو کښې مونځ جائز نۀ دے

٥٨٨ – **سوال** : په قبرونو دپاسه جوړ شوو جوماتونو کښې مونځ کول جائز دي اوکه نه ؟

جواب : کوم جوماتونه چه د قبرونو دپاسه جوړ شوي وي، په هغې کښې مونځ نۀ کیږي، دارنګه په هغه جوماتونو کښې هم مونځ نۀ کیږي چه په هغې کښې قبرونه وي. او په دې خبره د څلور واړو امامانوؒ اتفاق دے. دومره ده چه په دوئ کښې ځینې وائي : مونځ کول پکښې مکروه دي، او ځینې وائي مونځ صحیح نۀ دے. لکه په دې باره کښې وضاحت په

مسئله نمبر (٧٨) كښې تير شو.

په جومات كښې خوراك څكاك كول جائز دى

٥٨٩ - **سوال** : په جومات كښې خوراك څكاك كول جائز دى اوكه نه ؟

جواب : جوماتونه په اصل كښې د مانځه، تلاوت او د الله د ذكر او نورو عبادتونو دپاره جوړ شوى دى، ليكن الله په خپل فضل او رحمت سره د انسانانو دپاره په دې كښې خبرې، خوراك څكاك او خوب كول جائز كړى دى. لكه په دې خبره ډير حديثونه دلالت كوى.

١ - عوف بن مالك رضي الله عنه وائى : رسول الله صلى الله عليه وسلم په مونږ باندې مسجد ته رانនوتۀ او په لاس كښې ئې امسا وه، او په مونږ كښې يو سړى په جومات كښې د ردى كهجورو يوه خوشه زوړنده كړې وه، نو هغه ئې په امسا ووهله او وې فرمايل : كه ددې صدقې والا غوښتلې نو ددې نه به ئې ښۀ شے صدقه كړې وې، او وې فرمايل : ددې صدقې خاوند به د قيامت په ورځ ردى كهجورې خورى).

[ابوداود : ١/٢٣٣، باب ما لا يجوز من الثمرة فى الصدقة، وسنده حسن].

نو ددې حديث نه معلومه شوه چه صحابه كرامو به په جومات كښې د خوراك دپاره كهجورې زوړندولې.

٢ - جابر رضي الله عنه فرمائى :

[إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم أَمَرَ مِنْ كُلِّ جَادِّ عَشَرَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ بِقِنْوٍ يُعَلَّقُ فِي الْمَسْجِدِ لِلْمَسَاكِينِ].

(نبى صلى الله عليه وسلم امر كړې چه د كهجورې د كوم بوټى نه لس وسقه كهجورې پريكړې شى نو د هغې نه به يوه خوشه راوړلې كيږى او په جومات كښې به زوړنديږى).

[ابوداود : ١/٢٤١].

په دې حديث كښې نبى صلى الله عليه وسلم دا حكم كړې چه كله د كهجورې د بوټى نه كهجورې شوكيږى نو د هغې نه به يوه خوشه راشوكولې كيږى، او په جومات كښې به زوړندولې شى، دې دپاره چه فقيران ئې هم وخورى څنګه ئې چه مالداران خورى.

٣ - انس بن مالك رضي الله عنه وائى : ابو طلحه ام سليم ته وويل : ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم آواز كمزورې وليدۀ چه په دې كښې راته ولږه معلومه شوه، نو آيا تاسره څۀ شے شته دې؟ نو

هغې د وربشو څۀ ککوړې (روټۍ) راوښکلې او بیا ئې خپله لوپټه راوښکله او هغه روټۍ ئې د هغې په یوه برخه کښې راتاؤ کړه، بیا ئې هغه زما د جامې لاندې پټه کړه او هغه ئې پرې راتاؤ کړه، بیائې زۀ رسول الله ﷺ ته راولیږلم۔ انس وائی : ما هغه یوړۀ او رسول الله ﷺ مې په جومات کښې وموندلو چه خلك ورسره وو، زۀ د هغوئ خواته ودریدم نو رسول الله ﷺ ماته وفرمایل : آیا تۀ ابو طلحه رالیږلې ئې؟ ما ویل : هو ! وې فرمایل : خوراك دپاره ؟ ما ویل : هو ! رسول الله ﷺ خپلو ملګروته وفرمایل : پاسئ (تر آخره پورې)۔

[صحیح بخاری : ١/٨٠، صحیح مسلم : ٢/١٧٨].

ابن عمر رضی الله عنه وائی : زۀ د نبی اکرم ﷺ په زمانه کښې ځوان هلك ووم، او زۀ به په جومات کښې اودۀ کیدم۔

[ابوداود : ١/٦٠].

نو ددې حدیثونو نه ثابته شوه چه په مسجد کښې خوراك کول بغیر د څۀ کراهت نه جائز دی۔ والحمد لله۔

کافر وقف کړی جومات کښې د مونځ حکم

٥٩٠ – **سوال** : یو جومات کافر وقف کړې وی، نو په دې کښې مونځ کول جائز دی او که نه ؟ دارنګ کله چه جومات په حرام مال سره جوړ شوې وی، نو په دې کښې مونځ جائز دې او که نه ؟

جواب : صحیح خبره داده چه کوم جومات په حرام مال جوړ شوې وی، په هغې کښې مونځ کول درست نۀ دی۔ ځکه نبی ﷺ فرمایلی دی : [إِنَّ اللّٰهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا].

(الله پاکیزه ذات دې، صرف پاکیزه شے قبلوی)۔

[صحیح بخاری : ١/١٨٩، مشکاة : ١/١٦٧].

او فرمائی : [لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ صَدَقَةً مِنْ غُلُولٍ]. (الله تعالیٰ د خیانت د مال نه صدقه نۀ قبلوی)۔

[ترمذی : ١/٣].

ابو هریره رضی الله عنه وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : بیشکه الله پاك ذات دې صرف پاك شے قبلوی، او الله مومنانو ته د هغه شئ حکم کړې کوم ئې چه رسولانو ته کړې، لکه فرمائی :

﴿يَآ اَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا﴾ اے رسولانو ! پاك شيان خورئ او نيك عملونه كوئ۔ او الله تعالىٰ فرمائى : [يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ].

(اے ايمان والو ! تاسو هغه پاك شيان خورئ كوم چه مونږ دركړى دى)۔ بيا رسول الله ﷺ د يو سړى تذكره وفرمايله چه اوږد سفر كوى، ګډوډ او ګرد آلود ويښتانو والا وى، لاسونه ئے آسمان تـه اوچت كړى وى او يارب يارب (وائى، الله نه) دعاء غواړى، حال دا چه دده خوراك حرام وى، څكاك ئے حرام وى، لباس ئے حرام وى، او په حرامو باندے غټ شوے وى، نو ددے سړى دعاء به څنګه قبوله شى ؟)۔

[صحيح مسلم، مشكاة : ١/٢٤١].

نو ددے حديث نه معلومه شوه چه څوك حرامه خورى نو د هغۀ دعاء نۀ قبليږى، نو ددۀ مونځ به څنګه قبول شى، ځكه د دعاء معامله د مانځه د معاملے نه فراخه ده۔

فتاوى رشيديه [ص : ٥٤١] كښے دى : كوم جومات چه په حرام مال جوړ شوے وى، په هغے كښے مونځ كول مكروهِ تحريمى دى۔

ابن قدامهؒ فرمائى : صحيح خبره داده چه په غصب شوے زمكه مونځ نۀ كيږى، ځكه مونځ عبادت دے، او دا به په ممنوعه طريقه نۀ اداء كيږى، نو ځكه صحيح نشو۔ داسے مثال لرى لكه حائضه مونځ وكړى يا روژه ونيسى۔

[المغنى : ١/٧٥٨].

د جمهورو په نيز په غصب شوے زمكه مونځ جائز دے، خو سره د كراهت نه۔

د ابن عمر رضي الله عنه په حديث كښے راغلى : (چا چه په لس روپۍ يوه جامه واغسته او يوه روپۍ پكښے حرامه وه، نو الله تعالىٰ به ددۀ يو مونځ هم قبول نۀ كړى تر څو پورے چه دۀ اغوستى وى۔ بيا ابن عمرؓ خپلے دواړه ګوتے په غوږونو كښے وركړے او وے فرمايل : دا دواړه دے كاڼۀ شى كه د نبى ﷺ نه ئے دا نۀ وى آوريدلى)۔

[مسند أحمد : ٢/٩٨، مشكاة : ١/٢٤٣].

ددے حديث سند ضعيف دے، په دے كښے بقيه بن وليد الجمحى دے، او دۀ عنعنه كړے۔

نو ددے روايت نه معلومه شوه چه په حرامه جامه كښے مونځ نۀ كيږى نو په حرام جوړ

شوی جومات کښې به څنګه مونځ وشی ؟
په (کتاب البیوع) کښې مونږ په دے خبره یو شمیر دلائل ذکر کړی چه حرام شے استعمالول عبادات باطلوی، لکه چه دا به په خپل ځائے کښې راشی ان شاء الله۔
[انظر تفسیر مدارك فی قوله تعالی : والذین اتخذوا مسجدًا ضرارًا، وأحسن الفتاوی : ٤٣٢/٦، رد المحتار].
○ او هرچه د کافر په وقف کړی جومات کښې مونځ کول دی :
نو په دے کښې د علماؤ دوه قوله دی۔ یو دا چه : مونځ کیږی، ځکه جائزه ده چه وقف کونکے دے کافر وی، ځکه شریعت مطهره په وقف کښې دا خبره نۀ ده لازمه کړے چه واقف دے مسلمان وی۔ بلکه کافر هم واقف ګرځیدے شی خو په دے شرط چه مال ئے حلال وی۔
ددے قول په صحت باندے دلیل دادے چه د کعبے شریفے آبادی په همغه طریقه برقراره پاتے شوے ده په کومه باندے چه د نبی ﷺ د رالیږلو نه مخکښې مشرکانو جوړه کړے وه۔ نو نۀ الله تعالیٰ امر کړے اونۀ د هغه رسول (ﷺ) امر کړے چه تاسو کعبه بیرته ونړوئ په دے وجه چه دا د مشرکانو په مال جوړه شوے۔ بلکه د کعبے شریفے دغه آبادی ئے برقراره پریښے او هغه ئے نۀ ده نړولے۔
او الله تعالیٰ چه دا فرمایلی : ﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسَاجِدَ اللهِ﴾ (مشرکانو له دا نشی کیدے چه دوئ د الله جوماتونه آباد کړی)۔
نو ددے آیت نه دا نۀ معلومیږی چه د مشرکانو په جوړ کړی جومات کښې مونځ نۀ کیږی، ځکه ددے آیت د سیاق نه معلومیږی چه د مشرکانو نه دا کار قبلیږی نۀ، او دا ترے نۀ معلومیږی چه د مشرکانو په جوړ کړی جومات کښې مونځ نۀ کیږی۔
[انظر احسن الفتاوی : ٤٣٩/١، رد المحتار، بیان القرآن].
او دویم قول د عدمِ جواز دے۔ خو اولنے قول راجح دے۔

په جومات کښې باد اچول مناسب نۀ دی

٥٩١ – **سوال** : په جومات کښې هواء خارجول جائز دی اوکه نه ؟
جواب : بهتره داده چه په جومات کښې هواء راپرے نۀ ږدی، برابره خبره ده که په جومات کښې څوك وی اوکه نۀ وی۔ ځکه نبی ﷺ د پیاز او اوګے په حقله فرمایلی دی : (څوك

چه ددے بدبویه وُنے نه خوراك وكړی نو هغه دے زمونږ جومات ته نزدے نهٔ راځی، ځکه د کوم شئ نه چه انسانانو ته تکلیف رسی د هغے نه ملائکو ته هم تکلیف رسیږی).

[بخاری، مسلم، مشکاة : ١/٦٨].

نو ملائکو ته هم په دے کار سره تکلیف رسی.

بله دا چه څوك په جومات کښے بے اودسه شی نو هغه د ملائکو د دعاء نه محرومیږی. لکه د بخاری او مسلم په روایت کښے د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښے نبی ﷺ فرمائی : (کله چه انسان مونځ وکړی نو تر څو پورے چه د خپل مانځه په ځائے کښے ناست وی، ملائك ورله دعاء غواړی چه اے الله ! په دهٔ رحم وکړه، اے الله ! په دهٔ رحم وکړه).

په بل روایت کښے دی : (دا دعاء تر هغے پورے ورله غواړی چه چاته ئے په جومات کښے ضرر نهٔ وی ورکړے یا په کښے بے اودسه شوے نهٔ وی).

[بخاری، مسلم، مشکاة : ١/٦٨].

خو بیا هم که چا دا کار د عذر د وجے وکړو، نو په دے کښے څهٔ باك نشته. ځکه صحابه کرام j به په جومات کښے اودهٔ کیدل. او په خوب کښے د هواء وتو احتمال وی.

امام زرکشیؒ فرمائی : په جومات کښے هواء پریښودل حرام نهٔ دی، غوره داده چه ددے کار نه ډډه وکړے شی.

[أحكام المساجد ص : ٣١٣].

ځینے متکلمینو ویلی دی چه په جومات کښے بے اودسه کیدل ګناه ده. او دا ئے په لاړو قیاس کړے ده چه په جومات کښے ئے غورزول ګناه ده. خو دا ظاهره خبره نهٔ ده.

او زمونږ د زمانے بعضِ قیصه ګو مُلیانو ویلی دی چه : په جومات کښے کومه هواء پریښودے شی نو ملائك دا په خپلو خُلو کښے اخلی. دا ښکاره غلطه خبره ده. ځکه ملائك ډیر عزتمند مخلوق دے او د انسانانو نه ئے هم طبیعت پاك دے.

دارنګه : د دوئ دا خبره چه : څوك په جومات کښے هواء پریدی نو داسے دے ووائی : [اَللّٰهُمَّ رِيُحِيُ فِيُ فَمِ الشَّيُطَانِ] (اے الله زما هواء د شیطان په خُله کښے واچوے).

دا خبره هم بے بنیاده ده.

ټولو مسلمانانو باندے واجبه ده چه په هر کار کښے د خپل خوږ نبی ﷺ او د هغهٔ د

صحابه کرامو ز پیروي وکړي۔ او د ټولو بدعاتو نه ځانونه وساتي۔

په جومات کښې د ستورو تصویرونو لږولو حکم

۵۹۲ – **سوال** : په یو جومات کښې د ستورو تصویرونه لږیدلی دی۔ یو کس وائی چه په دے جومات کښې مونځ کول مکروه دی، او بل کس وائی چه مکروه نۀ دے ځکه دا د جاندار او ساه والا مخلوق تصویر نۀ دے، او منع خو صرف د هغه فتوانو نه راغلے چه هغه د ساه والا شئ فتو وی، د نورو نه نۀ ده راغلے۔ په دے دواړو سړو کښې د کوم یو خبره صحیح ده ؟

جواب : څوك چه په دے جومات کښې د مانځه د مکروه والی قائل دے، د هغۀ خبره صحیح ده، ځکه روستو په دے خبره دلائل ذکر کوو۔ او د هغه بل کس خبره صحیح نۀ ده، ځکه هغۀ سره د یے علمئ نه سیوا بل دلیل نشته۔

اول دلیل : دادے چه جوماتونه نقش دار جوړول او هغه ډولی کول او پړق پړوق والا جوړول بدعت او د یهودو او نصاراؤ عمل دے، لکه مخکښې د ابن عباس ﷺ په حدیث کښې ذکر شو چه نبی اکرم ﷺ فرمائی :

[مَا أُمِرتُ بِتَشْيِيدِ الْمَسَاجِدِ].

ماته د جوماتونو په دنګ دنګ مضبوط مضبوط جوړولو حکم نۀ دے شوے)۔

ابن عباس ﷺ فرمائی : تاسو به خامخا جوماتونه داسے بنائسته کوئ څنګه چه یهودو او نصاراؤ بنائسته کړی وو)۔

[ابوداود : ١/ ٩٠، بخاری تعلیقًا : ١/ ٦٤، صحیح].

او مخکښې د جوماتونو د ګلکارئ په حرمت باندے دلائل تیر شو۔

دویم دلیل : دا چه تصویر په دوه قسمه دے :

اول : د ساه والا شئ تصویر جوړول۔ ددے حکم دادے چه دا په هر صورت کښې ناجائز دے، لکه ددے وضاحت مونږ په دویم جلد مسئله نمبر (٢٦٠) کښې کړے دے۔

دویم : د بے ساه والا شئ تصویر۔

دا هم دوه قسمه دے :

اول : هغه بے ساه شے چه خلکو ئے عبادت نهٔ دے کړے اونهٔ ئے اوس څوك تعظيم كوى، او يا شارع هغه جائز ګرځولے وى، لکه د ونو، کانړو، بوټو او کورونو تصويرونه شو. نو دا قِسم بے ساه والا تصويرونه جوړول جائز دى او دا چه په کوم ځائے کښے وى، په هغے کښے مونځ کول جائز دى.

دويم : هغه تصوير دے چه کافران خلك د هغے تعظيم كوى او د قدر په نظر ورته ګورى، يا هغه د هغوئ شِعار او نښه وى. نو ددے حکم دادے چه دا شے اګرکه بے ساه شے دے خو داسے قِسم تصوير په جومات يا نورو ځايونو کښے ساتل جائز نهٔ دى. ددے دليل دادے :

عائشه k فرمائى : [إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمْ يَكُنْ فِيْ بَيْتِهٖ شَيْءٌ فِيْهِ تَصَالِيْبُ إِلَّا نَقَضَهٗ].

(د نبى ﷺ په کور کښے به چه کوم شے داسے وو چه په هغے کښے به د صليب نقشونه وو نو هغه به ئے ماتولو).

[صحيح بخارى : ٢/ ٨٨٠، باب نقض الصور].

په (النهاية) کښے وائى : تصاليب د صليب په شکل نقشونو ته وائى.

او ابن اثيرؒ ذکر کړى دى چه (په هغه جامه کښے مونځ منع دے چه په هغے کښے د صليب نقشونه وى). [النهاية].

ابن همامؒ د ظهير الدينؒ نه نقل کړى دى هغه وائى : اصل کښے هر هغه شے چه په هغے کښے د کفارو سره مشابهت وى، او کفار د هغے تعظيم كوى، نو هغے ته مخامخ مونځ کول مکروه دى.

[فتح القدير : ١/٣٩٣].

او ستورے د کافرو خاص شِعار اونښه ده، او ددے شپږ سرونه دى، او دا ستورے [اسرائيلو] په رسمى جهنډه کښے رسم کړے او په هغه ملکونو دا جهنډه لګوى په کوم باندے ئے چه نن صبا غاصبانه قبضه کړے.

او احنافو ويلى دى : دامکروه دى چه د مونځ ګذار مخے ته اوريا انګيټئ وى چه په هغے کښے سروټکے پرتے وى. [نور الإيضاح].

ابن عباس رضي الله عنه فرمائى : په هغه کور کښے به مونځ نشى کولے چه په هغے کښے شکلونه وى. [مصنف ابن ابى شيبة : ٢/٤٢].

عطاء الخراسانیؒ فرمائی : کله چه د عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې جومات جوړ شو، نو خلکو د هغې په چت باندې برجونه ولړول، نو کله به چه ځوك جومات ته ننواتهٔ نو هغې ته به ئې پورته کتل۔ دا خبره عثمان رضی الله عنه ته ورسیده نو هغهٔ ددې برجونو د لرې کولو حکم وکړو۔

[مصنف ابن ابی شیبة : ٢/٤٢].

زیاد بن صبیحؒ وائی : ما د ابن عمر رضی الله عنه خواته مونځ وکړو او خپل لاس مې په تشی کیښودهٔ، کله چه هغهٔ مونځ وکړو، نو وې فرمایل : تا چه کوم حالت اختیار کړو دا د صلیب سره مشابه شکل دې، رسول الله صلی الله علیه وسلم به ددې نه منع فرمایله)۔

[مصنف ابن ابی شیبة : ٢/٤٧].

علماؤ دې پورې ویلی دی چه : مسلمان زِنار واچوی نو په دې سره کافر کیږی۔

[شرح الفقه الأکبر لعلی القاری، ص : ٢٢٨].

نو هر کله چه د صلیب مخامخ مونځ کول مکروه شو، دارنګه د یو قول مطابق اور ته مخامخ مونځ کول، دارنګه زنار اچول چه دا د کفارو خاص شِعار او نښه ده، سره ددې چه په دې شیانو کښې روح او ساه نشته، نو دغه شان په جومات کښې د ستوری شکل جوړول هم مکروه دی۔ سره ددې چه جوماتونه نقش دار او ګلکاریٔ سره جوړول او په هغې کښې فتوان زوړندول د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم طریقه نهٔ وه۔ بلکه ددې هر یو کار نه منع راغلې، نو بیا جواز د کوم ځائې نه راغې ؟

امام مرداویؒ فرمائی : په جامه وغیره کښې صلیب مکروه بلکه حرام دې، همدا حقه خبره ده۔ [الإنصاف للمرداوی : ١/٤٧٤].

د ګډو بزو په شپول کښې مونځ کول جائز دی

٥٩٣ – سوال : د ګډو بزو په شپول (کنډك) کښې د جانماز خوړولو نه بغیر مونځ کیږی اوکه نه ؟

جواب : د ګډو بزو په شپول کښې مونځ کول جائز دی، لکه ابو هریره رضی الله عنه وائی: رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایهٔ : (تاسو د ګډو بزو په شپول کښې مونځ کوئ او د اوښانو په

شپول کښې مونځ مهٔ کوئ)۔

[ترمذی، مشکاة: ۱/۷۱].

انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی: (نبی صلی الله علیه وسلم به د ګډو بزو په شپول کښې مونځ کولو۔ راوی (ابو التیاح) وائی: بیا ما روستو د انس نه واوریدل چه فرمایل ئې: نبی صلی الله علیه وسلم به د جومات جوړیدو نه مخکښې د ګډو بزو په شپول کښې مونځ کولو)۔

[صحیح بخاری: ۱/۷۳، ٦۱].

امام بخاریؒ فرمائی: (د اوښانو، او نورو ځناورو او د ګډو بزو د متیازو او د هغې د شپولونو بیان) ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه په ډاکخانه کښې مونځ وکړو، او غوشیان او وچه زمکه د هغهٔ خواته وه، نو وې فرمایل: دا او دغه ځائې برابر دی۔

[صحیح بخاری: ۱/۳٦].

نو ددې دلائلو نه معلومیږی چه د ګډو بزو په شپول او پنړغالی کښې مونځ کول جائز دی، اګرکه د هغې دپاسه جانماز وغیره خور نهٔ کړی۔ او دا مسئله مخکښې په (۱۳۸) نمبر باندې په وضاحت سره تیره شوه۔ چه د حلالو ځناورو متیازو پاکې دی۔

دې نه معلومه شوه چه الله په خپلو بندګانو ډیر مهربانه دې، د دوئ دپاره ئې په دین کښې ډیره فراخی پیدا کړې۔ حدیث کښې دی: (یهود دې ښهٔ وپیژنی چه زمونږ په دین کښې فراخی ده)۔

د جومات په خاوره تیمم وهل جائز دی

۵۹٤ - **سوال**: د جومات په خاوره تیمم کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: هو! جائز دی۔ او ددې مسئلې وضاحت، سره د دلائلو نه په مسئله نمبر (۳۷۲) کښې تیر شوې۔ هلته ئې وګوره۔

OOOOOOOO

الجَرح بالحِراب - لمن أباح فی المسجد المحراب

په جومات کښې د محراب جوړولو حکم

٥٩٥ - **سوال** : آیا په جومات کښې محراب جوړول په کوم حدیث کښې راغلی ؟ اوکه نۀ وی راغلی نو دیته بدعت ویل کیږی اوکه نه ؟

جواب : په دے کښې شك نشته چه په جوماتونو کښې لوئے لوئے محرابونه جوړول او هغے له رنګونه ورکول او ښائسته کول ئے او په هغے باندے مالونه لړول، دا هر څۀ بدعت او اسراف دے چه د رسول الله ﷺ او د سلفو په مبارکه زمانه کښې ددے وجود نۀ وو۔

د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به په جوماتونو کښې عادت دا وو چه د قبلے معلومولو دپاره به قبلے اړخ ته یو لرګے ایښودل کیدۀ۔

لکه د جابر بن اسامة الجهنی رضی الله عنه په حدیث کښې دی، دا وائی :

[لَقِيتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فِيْ أَصْحَابِهٖ بِالسُّوقِ فَقُلْتُ أَيْنَ يُرِيدُ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ؟ قَالُوا : يُرِيدُ أَنْ يَّخُطَّ لِقَوْمِكَ مَسْجِدًا، قَالَ : فَأَتَيْتُ وَقَدْ خَطَّ لَهُمْ مَسْجِدًا وَغَرَزَ فِيْ قِبْلَتِهٖ خَشَبَةً فَأَقَامَهَا قِبْلَةً].

(زۀ د رسول الله ﷺ سره په داسے حال کښې مخامخ شوم چه هغه د خپلو ملګرو سره په بازار کښې روان وو، ما عرض وکړو، رسول الله ﷺ چرته روان دے ؟ خلکو وویل : غواړی چه ستا قوم له د جومات نقشه واچوی۔ جابر وائی : زۀ چه راغلم نو رسول الله ﷺ دوئ دپاره نقشه اچولے وه او د جومات په قبله کښې ئے یو لرګے خخ کړے وو چه د هغے نه ئے قبله جوړه کړے وه)۔

[مجمع الزوائد : ١٥/٢، رواه الطبرانی فی الأوسط والکبیر، وفیه معاویة بن عبد الله بن حبیب ولم أجد من ترجمه].

علامه هیثمیؒ فرمائی : په دے روایت کښې د معاویه بن عبد الله بن حبیب حالات ماته ملاؤ نشو۔

شیخ البانیؒ فرمائی : بلکه دا حدیث صحیح دے، او دا راوی معاویه نهٔ دے بلکه معاذ رضی الله عنه دے لکه څنګه چه په [الإصابة : ۱/۲۲۰] او [الکبیر للطبرانی : ۱/۸۷۹] کښے راغلی دی۔
[السلسلة الضعیفة للألبانی : ۱/۴۵۲].

ظاهره داده چه د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو j په زمانه کښے محرابونه جوړول نهٔ وو، دا روسته د عمر بن عبد العزیزؒ په زمانه کښے پیدا شوی۔

ملا علی قاریؒ وائی : محرابونه د نبی ﷺ د زمانے نه روستو پیدا شوی، دا وجه ده، د سلفو یوے ډلے دا بده ګنړلے چه محرابونه جوړ کړے شی او په هغے کښے مونځ وکړے شی۔

قضاعیؒ ویلی دی : د ټولو نه اول محراب عمر بن عبد العزیزؒ جوړ کړے، او دا ئے هغه وخت جوړ کړے وو کله چه دے د ولید عامل او ګورنر وو۔
[المرقاة : ۲/۲۲۴].

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل دی چه هغهٔ په محراب کښے مونځ کول مکروه ګنړلی او فرمائی : دا خو د اهلِ کتابو ګیرجے وے نو تاسو د هغوئ سره مشابهت مهٔ کوئ۔
یعنی هغهٔ په محراب کښے مونځ مکروه ګنړلے۔
[مجمع الزوائد : ۲/۱۵، باب الصلاة فی المحراب وما جاء فیه، رواه البزار ورجاله موثقون، انظر کشف الأستار رقم : ۴۱۶].

امام زرکشیؒ فرمائی : ځینے سلفو په جومات کښے محرابونه جوړول بد ګنړلی، ضحاك بن مزاحمؒ فرمائی : اولنے شرك چه په مونځ ګذارو کښے راغلے، هغه ددے محرابونو په وجه۔ [أحکام المساجد ص : ۳۶۴].

امام عبد الرزاقؒ فرمائی : حسن بصریؒ نه نقل دی چه دهٔ مونځ وکړو او په محراب کښے د مونځ کولو نه ئے ډډه وکړه۔ او فرمائی چه : سعید بن جبیرؒ او معمرؒ دواړو د جومات په محراب کښے په کوم کښے چه امام ودریږی، مونځ بدے ګنړلے۔
[مصنف عبد الرزاق].

د احنافو د جامع صغیر په شرح کښے دی : په دے کښے باك نشته چه امام په جومات کښے ولاړ وی او سجده په محراب کښے ړدی، او دا مکروه دی چه په محراب کښے ودریږی ځکه په دے کارسره د دواړو ځایونو ترمینځه اختلاف راځی۔ دا وجه ده چه یوائے په

محراب کښې ودریدل مکروه دی۔
او مشهوره داده چه دا کار په غیر د کراهت نه جائز دے، او په همدے طریقه باندے د خلکو عمل را روان دے او چا په دے انکار نۀ دے کړے۔
[أحكام المساجد، ص : ٣٦٤].
زۀ وایم : مخکښې د ابن مسعود رضی اللہ عنہ اثر تیر شو چه دا مکروه دے۔
او کعبؒ فرمائی : په آخره زمانه کښې به داسے خلك وی چه عمرونه به ئے کم وی او جوماتونه به ډولی کوی او په هغے کښې به د نصاراؤ د محرابونو پشان محرابونه جوړوی، نو کله چه دوئ دا کار وکړی نو مصيبتونه به په دوئ باندے راواړلے شی)۔
[مصنف عبد الرزاق : ٤١٣/٢، ابن ابی شيبة : ٣٠٦/١].
ابراهیم نخعیؒ فرمائی : دا خبره به مکروه ګڼړلے شوه چه د امام په محراب کښې مونځ وکړے شی۔
[مصنف عبد الرزاق : ٤١٢/٢، ابن ابی شيبة].
شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ د عبید بن ابی الجعدؒ نه نقل کړی چه : د محمد صلی اللہ علیہ وسلم ملګرو به فرمایل : د قیامت د علاماتو نه یوه علامه داده چه په جوماتونو کښې به طاقونه (محرابونه) جوړ کړے شی۔
[اقتضاء الصراط المستقيم لشيخ الاسلام : ٣٤٥/١].
دے وجے نه محرابونه جوړول د اهلِ کتابو سره مشابهت دے، او دا کار د نصاراؤ په ګیرجو کښې کیږی۔ نو مسلمانانو له جائز نۀ دی چه دوئ سره مشابهت وکړی، ځکه د صراطِ مستقیم تقاضا داده چه د اهلِ کتابو مخالفت وکړے شی، ولے چه دوئ اصحاب الجحیم دی۔
سوال : د وائل بن حجر رضی اللہ عنہ په حدیث کښې راځی، هغه وائی : [حَضَرْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم حِيْنَ نَهَضَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَدَخَلَ الْمِحْرَابَ [يَعْنِيْ مَوْضِعَ الْمِحْرَابِ] ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ بِالتَّكْبِيْرِ ثُمَّ وَضَعَ يَمِيْنَهٗ عَلٰى يُسْرَاهُ عَلٰى صَدْرِهٖ].
(زۀ رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم ته هغه وخت حاضر شوم کله چه هغه جومات ته پاسیدۀ او محراب ته (یعنی د محراب ځی ته) ننواتۀ، بیا ئے دواړه لاسونه په تکبیر سره پورته کړل، بیائے

خپل ښې لاس په ګس لاس د سینې دپاسه کیښودۀ)۔

[أخرجه البيهقى : ٢/ ٣٠، ومن هذا الوجه أخرجه البزار والطبرانى فى الكبير، كما فى المجمع : ١/ ٢٣٢، ٢/ ١٣٤].

په دې حدیث کښې د محراب لفظ راغلې۔

جواب : دا حدیث ضعیف دې، په دې کښې محمد بن حجر دې او دا منکر حدیثونه روایت کوی۔ دارنګ په دې کښې سعید بن عبد الجبار دې، امام نسائیؒ فرمائی : دا قوی نۀ دې۔ دارنګ په دې کښې ام عبد الجبار مجهوله ده۔

[السلسلة : ١/ ٤٤٩، رقم : ٤٤٩].

بیا شیخ البانیؒ د غماریؒ نه نقل کړی چه : حقه داده چه دا حدیث د ام عبد الجبار د مجهولتیا او د محمد بن حجر د منکر روایتونو نقل کولو د وجې ضعیف دې۔ لکه څنګه چه امام ذهبیؒ فرمایلی۔

اوکه بالفرض دا ثابت شی نو بیا ددې تاویل کول واجب دی هغه داسې چه په دې حدیث کښې د (محراب) نه مراد د مانځه ځائے دې، ځکه دا خبره یقینی ده چه هغه وخت کښې په مسجدِ نبوی کښې محراب نۀ وو، لکه چه په همدې خبره امام سیوطیؒ، او حافظ سید سمهودیؒ پریکړه کړې ده۔

[پورتنۍ حواله].

زۀ وایم : شیخ البانیؒ چه کوم تاویل ذکر کړو، همدا دلته مراد دې، او ددې دلیل دادې چه د (بزار) په روایت کښې ورسره دا زیادت راغلې [يَعْنِي مَوْضِعَ الْمِحْرَابِ]۔

او کوثری چه ددې حدیث دپاره د طبرانی نه د عبد المهیمن بن عباس په روایت سره کوم شاهد پیش کړې چه [فَلَمَّا بُنِيَ لَهُ مِحْرَابٌ تَقَدَّمَ إِلَيْهِ] نو دا منکر حدیث دې۔

او کوثری وغیره چه محرابونه په دې بهانه مستحب ګرځولی چه په دې کښې ښکاره مصلحت دې، هغه دا چه دا د قبلې ښنه ده، نو دا د څو وجو نه کمزورې دلیل دې :

اول دا چه : په زیاتره جوماتونو کښې منبرونه شته دې چه په دې سره دا مصلحت او ښیګړه حاصلیږی نو محراب جوړولو ته حاجت نشته۔ په کار ده چه د انصاف نه کار واخستې شی او په همدې خبره اکتفاء وکړې شی او د جمهورو خوشحالولو دپاره د ځانه عذرونه جوړ نۀ کړې شی۔

دویم : کوم شے د ضرورت او مصلحت د وجے جائز کړے شی نو پکار ده چه د ضرورت او مصلحت په اندازه استعمال کړے شی او ددے نه زیادت ونۀ کړے شی۔ نو هر کله چه په مسجد کښے د محراب جوړولو نه غرض د قبلے ښوونه ده، نو دا کار خو په وړوکی محراب جوړولوسره هم حاصلیږی چه د مسجد په قبله کښے وړوکے شانته کنده وکنستے شی او خلکو ته پته لګی چه دا قبله ده۔ حالانکه مونږ وینو چه په زیاتره جوماتونو کښے لوئے لوئے او فراخه محرابونه جوړولے شی چه امام په کښے ټول ځائیږی۔

بیا زیاتی لا دا چه په هغے کښے نقش او نګار او ګلکاری کیږی چه د هغے په وجه د مونځ ګذارو توجه خرابیږی او په خشوع خضوع او فکرونو کښے ګډوډی راځی۔

دریم : هر کله چه ثابته شوه چه محرابونه د نصاراؤ عادت دے چه په خپلو ګیرجو کښے ئے جوړوی، نو بیا خو پکار ده چه ددے نه بیخی اعراض وکړے شی، او ددے په عوض کښے داسے شے جوړ کړے شی چه ټولو ته معلوم وی۔ مثلًا : د قبلے په دیوال کښے د امام د ودریدو په ځائے کښے یو لرګے کیښودلے شی، ولے چه ددے ثبوت په سنت کښے شته دے۔ لکه مخکښے د جابر بن اسامة الجهنی ﵁ په حدیث کښے تیر شو چه رسول الله ﷺ د قبلے په دیوال کښے لرګے کیښودلے وو۔

[أخرجه الطبرانی فی الکبیر : ٢/١].

او ددے حدیث سند حسن دے، ددے راویان ټول ثقات او معروف دی۔

لنډه دا چه : په جوماتونو کښے محراب جوړول بدعت دے، او دا د مصالحو مرسلو نه ګرځول هم څۀ جواز نۀ لری، ځکه ددے نه سیوا هغه شے ددے متبادل جوړیدے شی کوم چه نبی ﷺ مشروع کړے دے، چه هغه مختصر او کم تکلف والا دے او د جوماتونو د زخرفے نه جدا دے۔

[السلسلة : ٤٤٩/١، رقم : ٤٤٩].

عبد الله بن عمرو ﵁ نه روایت دے، رسول الله ﷺ وفرمایل : [اِتَّقُوا هٰذِهِ الْمَذَابِحَ يَعْنِي الْمَحَارِيبَ].

(تاسو ددے محرابونو نه ځان وساتئ)۔ [السنن الکبری للبیهقی : ٤٣٩/٢].

شیخ البانیؒ فرمائی : ددے حدیث سند حسن دے۔

[الثمر المستطاب : ٤٧٣/١، للألبانیؒ].

نو ددے دلائلو نه معلومه شوه چه په جوماتونو کښے محرابونه جوړول بدعت دے، د رسول الله ﷺ په زمانه کښے ددے وجود نۀ وو.

و بالله التوفيق.

د جومات ښکته او پورته چت دواړه په وقف کښے داخل دی

٥٩٦ – **سوال** : څوك چه مسجد وقف کړی نو په دے کښے پورته برخه او ښکته برخه داخليږی اوکه نه ؟ او د جومات لاندے دکانونه جوړول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائی : د راجح قول مطابق دا جائز دی چه مسجد د زمکے نه پورته کړی او د هغے لاندے دکانونه او سقاوه جوړه کړی، خو دا هله چه د مسجد د جوړيدو په وخت دا کار وکړی، يا د مسجد د جوړيدو نه پس ئے وکړی خو چه د مسجد مصلحت او ښيګړه پکښے وی. او د صحابه کرامو j نه نقل دی چه هغوئ جومات بل ځائے ته نقل کړے وو، او د جومات په ځائے کښے ئے دکانونه جوړ کړی وو، لکه چه دا کار عمر او ابن مسعود i دواړو کړے وو، او صحابه کرام پوره موجود وو او په دے باندے هيچا رد ونۀ کړو. لکه دا خبره امام خلالؒ په خپل مسند کښے ذکر کړے ده.

[مجموع الفتاوی : ٢١٧/٣١].

زۀ وايم : کله چه څوك مسجد جوړ کړی او الله دپاره ئے وقف کړی، نو بيا د هغے نقل کول او يا په هغے دپاسه آبادی جوړول، او يا د هغے خرڅول ناجائز دی، ځکه اصل په وقف کښے داده چه دا به هميشه دپاره بند وی، لکه د صحيح بخاری په حديث کښے د عمر بن خطاب رضی الله عنه نه نقل دی دا وائی : ما عرض وکړو، يا رسول الله ! ماته په خيبر کښے زمکه ملاؤ شوے ده چه ددے پشان عُمده او بهترين مال ما هيڅ کله نۀ دے حاصل کړے، نو ستاسو څۀ مشوره ده ؟ وے فرمايل : که تۀ غواړے نو د هغے اصل وقف (بند) کړه او هغه صدقه کړه.

[مشکاة : ٢٦٠/١].

نو دا وينا چه (ددے اصل بند کړه) دليل دے په دے چه وقف به هميشه دپاره بند وی.

خو که د اولے ورځے نه ئے دا نيت وو چه ددے جومات په پاسنئ يا لاندينئ برخه کښے به

طالبانو يا ميلمنو وغيره له كوټې جوړوي، نو بيا په دې كوټو جوړولو كښې باك نشته.
ځكه نبى ﷺ فرمائى : [إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ].
(دارو مدار د اعمالو په نيتونو دے).

امام مقبلىؒ فرمائى : دا صحيح نۀ ده چه د آبادئ بره چت جومات وګرځولے شى او لاندې چت جومات نۀ وى، يا ددې برعكس وى. او دا د شريعت خوبى ده، دا وجه ده مسلمانانو ددې همدغه شان اهتمام كړے دے. [المنار : ٢/١٥٥].

ابن قدامهؒ فرمائى : كه څوك د خپل كور بره چت جومات وګرځوى، نۀ ښكته، يا ښكته برخه جومات كړى، نۀ پورته برخه، نو دا هم صحيح ده. او ابوحنيفهؒ وائى : صحيح نۀ ده، ځكه هواء هم د مسجد تابع ده. زمونږ دليل دادے چه ددې خرڅول جائز دى، نو دا شان ددې وقف كول هم جائز دى لكه څنګه چه د ټول كور وقف كول جائز دى.
[المغنى : ٦/٢١٨].

او د جومات چت لره حكم د مسجد دے، دا وجه ده معتكف له جائز دى چه د جومات دپاسه وخيژى. دے جے نه د جومات دپاسه جماع كول يا استنجاء وغيره كول جائز نۀ دى.

در مختار او رد محتار [٣/٣٧٠] كښې هم دى چه څوك د مسجد دپاسه چت يا د جومات لاندې د مسجد د ښيګړو اوضرورياتو دپاره تهخانه جوړه كړى نو دا جائز دى.

دارنګه كه د جومات دپاسه امام له كور جوړ كړى نو دا هم باك نۀ لرى، ځكه په دے كښې هم د جومات مصلحت دے. خو كه جومات مخكښې جوړ شوے وى او بيا روسته پكښې د امام دپاره كور جوړوى نو دابه منع كولے شى. اوكه دا ووائى چه ما د مخكښې نه ددې اراده كړې وه نو ددۀ خبره به نشى منلے. نو هر كله چه دا خبره په وقف كښې ده نو په بل شئ كښې به خامخا وى. دے وجے نه د دغه آبادئ نړول واجب دى اګركه د جومات په ديوال باندې وى. او ددې نه اجرت اخستل يا ددې نه فوائد او كرايه يا استوګنه حاصلول هم جائز نۀ دى.

مفتى محمد شفيع صاحب وائى : جومات د لاندې نه تر تحت الثرىٰ پورې، او د باندې نه د آسمانه پورې جومات دے، نو د جومات لاندې دكانونه يا بره پرې كور جوړول جائز نۀ دى. او د دكان او مكان دواړو حكم به د جومات حكم وى چه ددې دپاسه به ډكے او تشے

متیازے نۀ کیږی۔

[فتاوی مفتی محمد شفیع : ١/٢٠٩].

ابن حزمؒ فرمائی : داسے جومات جوړول جائز نۀ دی چه د هغے په چت باندے د بل چا مملوك كور وی چه هغه د مسجد برخه نۀ وی۔ دارنګ داسے جومات جوړول جائز نۀ دی چه د هغے لاندے د چا مملوك كور وی او د مسجد نه نۀ وی۔ كه چا دا كار وكړو نو په دے كښے هيڅ يوه برخه جومات نۀ ګرځی بلكه دا به د آبادوونكی په ملكيت كښے پاتے وی څنګه چه د جومات جوړولو نه مخكښے د هغۀ مملوك وو۔

ددے دليل دادے چه هواء د چا په ملكيت كښے نۀ راځی ځكه ددے ضبط او استقرار نشی كيدے، او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَاَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ﴾ (جوماتونه د الله دی)۔ نو صرف هغه آبادی به جومات ګڼلے كيږی چه د الله نه سيوا د بل هر چا د ملكيت نه وتلی وی۔

نو هر كله چه خبره داسے ده نو هر هغه كور چه د يو انسان ملكيت وی نو هغۀ له جائز دی چه هر څومره ئے پورته كوی خوښه ئے۔او كومه هواء چه ددے دپاسه ده هغه د خپل ملكيت نه په ويستلو باندے دا انسان قادر نۀ دے۔ ددے حكم به صرف ددۀ دپاره وی نۀ د بل انسان يا د هغۀ نه علاوه د بل چا دپاره۔

دارنګ كه څوك د زمكے په سطح جومات جوړ كړی او د هغے پورته هواء خپل ځان دپاره شرط كړی، نو دا ددۀ ملكيت دے چه دا ئے د خپل ملكيت نه په فاسد شرط سره ويستلے دے۔ او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی : [كُلُّ شَرْطٍ لَيْسَ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ فَهُوَ بَاطِلٌ].

(هر هغه شرط چه د الله په ليكلی قانون كښے نۀ وی، باطل دے)۔

دارنګ كله ئے چه په زمكه جومات جوړ كړو او هواء ئے د خپل ځان دپاره وګرځوله، نو كه چت ددۀ وی نو دا يو داسے جومات دے چه چت نۀ لری، حالانكه د چت نه بغير خو آبادی نۀ وی۔اوكه چت د جومات وی نو بيا ددۀ دپاره په دے كښے په آبادئ سره تصرف جائز نۀ دے۔اوكه جومات بره وی او چت د جومات وی، نو بيا دا داسے جومات دے چه زمكه نۀ لری او دا باطله ده۔ اوكه دا د جومات دپاره وی نو بيا په كښے ددۀ هيڅ حق نشته، ځكه دۀ د خپل ځان دپاره داسے كور پريښے چه چت نۀ لری او دا ممكنه نۀ ده۔

دارنګ : كه جومات لاندے وی نو دۀ له حلال نۀ دی چه د هغے د ديوالونو په سرونو

بانـدے څۀ آبادی جوړه کړی، او ددے شرط کول هم باطل دی، ځکه دا داسے شرط دے چه د الله پـه لیـکلی قانون کښے نشتـه۔ اوکه جومات بره وی نو ددۀ دپاره ددے دیوالونو نړول کله چه وغـواړی، جائـز دی حـالانکه دے سره خو جومات نړول کیږی او غورزیږی، او دا سړے مـنع کول هم جائز نۀ دی ځکه بیا خو دے په خپل ملکیت کښے د تصرف نه منع کول دی، او دا جائز نۀ دی۔

[المحلی لابن حزم : ٢/١٦٨].

کفایة المفتی [٣/١١٢] کښے دی : دا جائـز نۀ دی چه سړے په هغه کوټو کښے ووسیږی کومے چه د جومات دپاسه جوړے وی۔

امـام زرکشیؒ فرمائی : امام مالكؒ دا مکروه ګڼړلے چه جومات جوړ کړی او د هغے دپاسه د خپـل اهـل سره اسـتوګنه اختیار کړی۔ او د بغویؒ په فتاویٰ کښے راغلی چه جنب سړے پـه دے کښے نشی وسیـدلے، ځکه دا د جومات هواء ګرځیدلے او د جومات هواء د جومات حکم لری۔

[أحکام المساجد للزرکشیؒ ص : ٤٠٧].

مـاتـه د تحقیق نه پس دا خبره ښکاره شوے چه راجحه داده چه د جومات دپاسه هیڅ شے جوړ نۀ کړی، څنګه چه ابن حزمؒ فتویٰ ورکړے۔

د یو جومات مال په بل جومات کښے لږول، او جومات نقلول

٥٩٧ - **سوال** : د یـو مسجد مال په بل مسجد کښے لږول جائز دی اوکه نه ؟ هر کله چه اول مسـجد ددے نـه مسـتغـنـی وی او یا د هغے نه خلك بل مسجد ته نقل شی۔ دارنګ جـومات د یـو ځائے نه بل ځائے ته نقل کول او په دغه ځائے دکان یا بل شے جوړول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : د عـلماؤ د راجح قول مطابق دا کار جائز دے۔ د سعودی علماؤ مستقلے کمیټۍ هم په دے فتویٰ ورکړے۔ هغویٔ وائی :

کـلـه چـه اولـنے جـومـات - چـه د هغے دپاره مال راجمع شوے - پوره شی او د مال نـه مسـتـغـنـی شی، نو ددے نه چه کوم مال زیاتی شی هغه به د نورو جوماتونو جوړولو دپاره

صرف کولے شی، دغه شان د هغے سره چه کومے غسل خانے او مکتبے وغیره وی د هغے نقل کول هم جائز دی۔ لکه په دے باندے علماؤ په کتاب الوقف کښے تصریح کړے۔ بله دا چه دا دویم جومات هم د اولنی جومات د جنس نه دے، او دا خبره معلومه ده چه د متبرعینو او خرچه کونکو خلکو مقصد هم دا وی چه دوئ د الله د کورونو نه د یو کور په جوړولو کښے برخه واخلی، دے وجے نه کوم شے چه د یو جومات نه زیاتی شی هغه به په بل جومات کښے لګولے شی۔ اوکه بل محتاج جومات نۀ وی نو بیا به زیاتی مال د مسلمانانو په عامو مصالحو او ښیګړو کښے لګولے شی لکه مدارس، پُلونه او په فقیرانو وغیره باندے۔

[فتاویٰ هیئة کبار العلماء: ۲/۵۹۹].

علامه سید سابقؒ د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په حواله فرمائی: کوم مال چه د وقف نه زیاتی شی او ددے نه بے پروائی راشی نو دابه ددے پشان شئ کښے صرف کولے شی لکه د جومات د وقف آمدنی د جومات د ضرورتونو نه زیاتی شی نو دابه په بل جومات کښے لګولے شی۔ ځکه د وقف کونکی غرض په جنس کښے دے او جنس یو دے۔ نو که دا فرض کړے شی چه اولنے جومات خراب شو او هیڅ فائده ترے نۀ ولاړیږی، نو د هغے آمدنی به په بل جومات کښے خرچ کولے شی۔

[فقه السنة: ۳/۳۸۵، راجع الفتاوی: ۳۱/۲۱۵].

شیخ الاسلامؒ د عمر فاروق رضی الله عنه اثر په دلیل کښے پیش کړے، او هغه دادے: قاسمؒ فرمائی: کله چه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه بیت المال ته راغے نو سعد بن مالك بنګله جوړه کړے وه او د کهجورو والو خواته ئے جومات جوړ کړے وو۔ قاسمؒ وائی: نو بیت المال ته چا کنډر وکړو او بیا هغه غل ونیولے شو۔ نو ابن مسعودؓ عمر فاروق رضی الله عنه ته په دے باره کښے خط ولیکۀ۔ نو عمر فاروق ورته ولیکل چه د سړی لاس مه پریکوه بلکه مسجد نقل کړه او بیت المال د جومات قبلے ته جوړ کړه، ځکه په جومات کښے همیشه څوك نه څوك مونځ ګذار وی۔ نو ابن مسعود رضی الله عنه جومات نقل کړو او دا زمکه ئے ورله مختص کړه۔ صالحؒ وائی: زما پلار (احمدؒ) وائی: خلك وائی چه بیت المال ته د کوفے د مسجد نه کنډر شوے وو، نو ابن مسعودؓ جومات نقل کړو، او نن صبا چه د کهجورو والو کوم ځائے دے هم دلته د زوړ

مسجد آبادي وه.

امام احمدؒ وائي: که جومات تنګ وي او خلك پکښې نهٔ ځائیږي نو په دې کښې باك نشته چه ددې ځائے نه بل فراخه ځائے ته نقل کړے شي. دارنګ امام احمدؒ نه پوښتنه وشوه: یو جومات شاړ شو نو ددې زمکه خرڅول او ددې روپۍ په بل نوی مسجد باندې خرچ کول جائز دي اوکه نه؟ وې فرمایل: که د دغه جومات ګاونډیان نهٔ وي او بل هیڅوك نهٔ وي چه دغه جومات آباد کړي، نو زهٔ په دې کښې څهٔ باك نهٔ وینم چه دغه مسجد خرڅ کړے شي او په بل مسجد باندې ولګولے شي.

[مجموع الفتاوی: ٢١٦/٣١].

ابن قدامهٔ فرمائي: لنډه دا چه کله وقف شاړ شي او منافع ئې معطل شي، مثلاً ونړیږي او یا زمکه شاړه شي او هیڅوك ترې فائده نهٔ اخلي او د هغې آبادول ممکن نهٔ وي. یا یو جومات دې چه کلي والا د هغې نه کډه یوسي او په داسې ځائے کښې وګرځي چه په هغې کښې مونځ نهٔ کیږي. یا جومات په مونځ ګذارو تنګ شي او په خپل دغه ځائے کښې د دغه جومات فراخول ممکن نهٔ وي. یا داسې درزونه پکښې راشي چه د هغې آبادول ممکن نهٔ وي مګر که ددې جومات زمکه خرڅهٔ کړے شي، نو بیا ددې د زمکې ځینې برخه خرڅول او د پاتې برخې آبادول جائز دي. اوکه ددې جومات نه په هیڅ برخې سره فائده نهٔ پورته کیده نو بیا ددې ټوله زمکه خرڅول هم جائز دي.

او د جومات د بزکي او قندیلونو (باتیو) همدا حکم دے چه بل جومات ته ددې نقلول جائز دي.

[المغني لابن قدامةؒ: ٢٥١/٦].

خو څومره چه کیدې شي، د جومات د وقف شوې زمکې خرڅولو نه ځان ساتل پکار دي، ځکه د عمر رضي الله عنه په حدیث کښې دي: (که تهٔ غواړې نو د هغې اصل به وساتې). (بخاري).

په الفقه الاسلامي [٢١٩/٨] کښې ئې هم دا شان خبره کړې، او په دلیل کښې ئې د عمر فاروق رضي الله عنه حدیث پیش کړے چه هغه د کوفې جامع مسجد خرڅ کړے وو.

او فرمائي: د جومات نقلول یا ددې بدلول او ددې صحن خرڅول او د هغې نه سقاوې او

دکانونه جوړول جائز نهٔ دی، مګر هله چه ددے نه نفع اخستل ممکن پاتے نشی۔ دارنګ د جومات کوم پوړ بزکے چه زیاتی شی او احتیاج ورته پاتے نشی نو په بل مسجد کښے ددے اچول یا د دغه مسجد په فقیرانو باندے ددے خیرات کول وغیره جائز دی۔ دارنګ د جومات دُرمے یا بل کباړ پاتے شی نو د هغے هم دا حکم دے۔اهـ

زهٔ وایم : په دے باندے دلیل دادے چه هدایا او اضحیه (قربانی) بدلول او ددے په ځائے غوره هدیه او قربانی اخستل جائز دی۔ لکه د حکیم بن حزام – رضی الله عنه – په حدیث کښے دی، رسول الله ﷺ هغهٔ له یوه اشرفۍ ورکړه چه په هغے سره ورله قربانی واخلی، نو هغهٔ په یوه اشرفۍ باندے یو ګډ واخستهٔ او په دوه اشرفیو باندے ئے خرڅ کړو، او واپس چه راغے نو په یوه اشرفۍ ئے قربانی واخسته او هغه ئے راوستله او هغه بله اشرفۍ ئے هم راوړه کومه چه زیاتی شوے وه۔ نو رسول الله ﷺ یوه اشرفۍ خیرات کړه۔ او هغهٔ ته ئے د هغهٔ په تجارت کښے د برکت دعاء وکړه۔

[ابوداود : ٢/١٢٤، ترمذی، مشکاة : ١/٢٥٤].

ددے په سند کښے یو مجهول شیخ دے۔ خو د عروة البارقی نه ددے پشان حدیث په صحیح سند سره نقل شوے۔ دارنګ ددے پشان حدیث په صحیح بخاری کښے د عروة البارقی نه هم نقل دے خو په هغے کښے د اضحیه (قربانۍ) قید نشته۔

[کما فی المشکاة : ٢٥٤١].

سید سابقؒ د شیخ الاسلام په حواله فرمائی : نذر شوے او وقف شوے شے ددے نه په بهتر شۍ سره بدلول – لکه څنګه چه هدایا بدلولے شی – دا دوه قسمه دی :

اول دا چه : بدلول د حاجت دپاره وی، لکه بیکاره شی نو خرڅ کړے شی او د هغے په قیمت باندے ددے قائم مقام واخستے شی، لکه هغه اس چه غزا دپاره وقف شوے وی کله چه په غزا کښے ددے نه فائده نهٔ اخستل کیږی نو دابه خرڅولے شی او ددے په قیمت سره به ددے قائم مقام بل شے اخستلے شی۔ دارنګ کله چه د مسجد نه ګیر چاپیره علاقه شاړه شی نو دا مسجد به بل ځائے ته نقل کړے شی او یا به خرڅ کړے شی او ددے په قیمت سره به ددے په بدل کښے بله زمکه واخستلے شی۔ دارنګ کله چه چا یو شے وقف کړے وی او د هغے نه هغه فائده اخستل ممکن پاتے نشی کومه فائده چه د وقف کونکی

مقصد وه، نو هغه به خرڅولے شی او د هغے په قیمت به ددے پشان شے اخستلے شی. او کله چه شاړ شی او د هغے آبادول ممکن پاتے نشی نو د هغے زمکه به خرڅه کړے شی او د هغے په قیمت سره به بله زمکه واخستے شی. نو دا ټول جائز کارونه دی ځکه کله چه د اصل شی نه فائده اخستل ممکن پاتے نشی نو د هغے په ځائے به بل څۀ قائمولے شی.

دویم : د ښکاره او غوره مصلحت د وجے نه بدلول : لکه یوه هدیه په بلے غورے هدیئے سره بدلول، یا لکه د یو مسجد په بدل کښے بل داسے مسجد جوړول چه کلی او ښار والو دپاره ډیر مفید وی او اولنے مسجد خرڅول. نو دا د امام احمدؒ او نورو علماؤ په نیز جائز کارونه دی. امام احمدؒ په دے باندے دا دلیل پیش کړے چه عمر بن خطاب رضی الله عنه د کوفے زوړ جومات بل ځائے ته نقل کړو، او د اولنی مسجد زمکه ئے د کهجورو د تجارت ځائے وګرځولو. نو دا د مسجد د زمکے بدلول شو.

او هرچه د مسجد آبادی په بله آبادئ باندے بدلول دی نو ددے دلیل دادے چه عمر او عثمان i د نبی صلی الله علیه وسلم جومات د اولنئ آبادئ نه بدل کړے او په هغے کښے ئے فراخی پیدا کړے وه، دارنګه مسجد حرام کښے هم فراخی پیدا شوے وه. په صحیحینو کښے د عائشے k په حدیث کښے ثابت دی چه نبی صلی الله علیه وسلم هغے ته وفرمایل : که چرے ستا قوم تازه مسلمانان نۀ وے نو مابه کعبه نړولے وه او د زمکے سره به مے برابره کړے وه، او هغے له به مے دوه دروازے ورکړے وے، چه په یوه دروازه به خلك ننوتلے او په بله به وتلے.

نو که چرے دغه خبره نۀ وے نو نبی صلی الله علیه وسلم د کعبے آبادی ورانوله. نو دا شان د وقف شوی شئ بدلول او د یو شکل نه بل شکل ته اړول د ښکاره ښیګړے د وجے نه جائز دی.

او هرچه یوه زمکه په بلے زمکے سره بدلول دی، نو ددے په جواز باندے امام احمدؒ وغیره تصریح کړے، د وجے د پیروئ د صحابه کرامو j نه، ځکه عمر رضی الله عنه دا کار کړے او د هغۀ نه دا کار مشهور شوے او چا پرے رد نۀ دے کړے.

دارنګ کوم شے چه د غلے او آمدنئ د وجے وقف شوے وی او هغه په بل داسے شئ سره بدل شی چه د هغے آمدنی زیاته وی، لکه یو کس کور یا دکان یا باغ یا کلے وقف کړی او د هغے آمدنی کمه وی نو هغه په داسے شئ سره بدل کړی چه د هغے غله زیاته وی او د وقف دپاره ډیر نفع مند وی، نو دا کار ابو ثورؒ او نورو علماؤ جائز ګرځولے لکه ابو عبید بن

حربويهٓ چه د مصر قاضي وو، هغهٔ په دے فيصله کړے او دا د امام احمدٓ د هغه قول نه هم معلوميږی چه هغهٔ د مصلحت او ښيګړے د وجے نه د يو جومات زمکه د بل جومات په زمکے سره بدلول جائز ګنړلی دی۔ بلکه هر کله چه دا کار جائز دے چه يو جومات د مصلحت د وجے په غير د جومات نه په بله زمکه بدل شی لکه په بازار سره بدل شی، نو يوه غله او آمدنی په بلے غلے او آمدنئ سره بدلول خو په طريقه اولیٰ سره بدلول جائز دی، لکه څنګه چه امام احمدٓ يوه هديه بدلول په بلے غوره هديئے سره جائز ګنړلی دی۔ او هغهٔ تصريح کړے چه کوم جومات په زمکه پورے پيوسته شی او خلك هغه اوچت کړی او د هغے لاندے د اوبو ډيګئ جوړه کړی او دا کار ګاونډی غوره وګنړی نو دا کار کول جائز دی۔ البته د امام احمدٓ ځينو ملګرو د جومات او هديئے او وقف شوے زمکے بدلول منع کړی دی، او دا د امام شافعیٓ وينا هم ده۔ مګر نصوص، آثار او قياس درے واړه ددے تقاضا کوی چه د مصلحت د وجے دا شيان بدلول جائز دی۔

[فقه السنة : ٣/٣٨٤].

علامه زرکشیٓ وائی : کله چه جومات خالی شی او خلك د دغه کلی نه يو خوا او بل خوا کډه يوسی او يا وران ويجاړ شی نو دا واپس د چا مملوك نهٔ ګرځی، په دے کښے محمد بن الحسنٓ خلاف کړے۔ او متولیٓ وائی : بهتره داده چه دا جومات نزدے علاقے ته نقل کړے شی۔ خو که لرے ځائے ته نقل کړے شو نو هم جائز دی، او د جومات ملبه به د جومات نه علاوه په بل شئ باندے نشی صرف کولے لکه سرائے، پُلونه، کوهيان وغيره۔ لکه څنګه چه ددے عکس جائز نهٔ دے۔ ځکه وقف يو لازمی شے دے۔

[أحكام المساجد ص : ٣٤٥].

بيا فرمائی : زما په نيز زياته صحيح خبره داده چه د يو ځائے نه بل ځائے ددے نقلول جائز دی، او دا د احمدٓ مذهب دے۔ هغه وائی د ضرورت د وجے نقلول جائز دی۔

[انظر الفوائد للعثيمين، ص : ١٤١].

په جديد فقهی مسائل [ص : ٨] کښے دی : دا کار د ضرورت د وجے جائز دے۔ د شمس الائمهٓ نه د هغه جومات او حوض په حقله پوښتنه وشوه چه شاړ شی او د خلکو د تس نس کيدو د وجے هغے ته ضرورت پاتے نشی، آيا قاضی کولے شی چه د هغے اوقاف بل جومات

يا حوض ته نقل كړي ؟ وې فرمايل : هو ...... خصوصًا زمونږ په زمانه كښې چه د مسجد يا سرائې يا حوض كباړي سامان بل ځائې ته نقل كړې شي نو غلۀ ئې اخلي.

[رد المحتار : ۳۷۲/۳].

په فتاوىٰ اسلاميه [۱۵/۲] كښې دي : كله چه جومات يا بل شې د سيلاب يا بل شئ په وجه وران ويجاړ شي نو د محلې والو دپاره مشروع دي چه دوباره ئې آباد كړي او مونځ پكښې كوي، ځكه نبي ﷺ فرمائي : (چا چه د الله دپاره جومات جوړ كړو الله به ورله په جنت كښې كور جوړ كړي). او عائشه k فرمائي : (رسول الله ﷺ حكم كړې چه په محلو (ياقبيلو) كښې دې جوماتونه جوړ كړې شي او هغه دې پاكيزه وساتلې شي). دا حديث احمدؒ، ابوداوُدؒ او ابن ماجهؒ په حسن سند سره روايت كړې. دارنګ د جوماتونو د آبادولو د فضيلت په باره كښې ګڼړ حديثونه راغلي.

نو كه د محلې جومات ددې نه مستغني وي نو بيا دې د دغه جومات كانړي او كباړي سامان د بلې محلې يا ښارئې جومات ته نقل كړې شي كوم چه ديته احتياج لري. او قاضي يا امير يا د قبيلې او محلې شيخ او واك اختيار والو له پكار دي چه ددې اهتمام وكړي. او كومو جوماتونو ته چه ددې سامان ضرورت دې هغه دې هغې ته ورسوي او يا دې هغه خرڅ كړي او د هغې قيمت دې د مسلمانانو په ښيګړو كښې ولږوي. خو د ښار يا محلې والو دپاره جائز نۀ دي چه د واك او اختيار والو د اجازې نه بغير ددې نه څۀ شې واخلي. اهـ

دارنګه په فتاوىٰ اسلاميه كښې په بل ځائې كښې فرمائي :

سوال : يو زوړ او پخوانې مسجد ددې دپاره نړول جائز دي چه د هغې په ځائې يوه عامه مكتبه جوړه كړي ؟ اوكه ممكن وي نو آيا دا جائز دي چه د دغه جومات د ځائې عوض واخستل شي اوكه نه دا اختيار د مسجد متوليانو ته سپارل شوې چه هغوئ په بل نوي ځائې كښې نوې مسجد جوړ كړي ؟

جواب : زوړ مسجد چه خلك پكښې مونځ كوي دې دپاره نړول چه په هغې مكتبه جوړه شي جائز نۀ دي، بلكه كه نړيدلې هم وي نو ددې په ځائې عامه مكتبه جوړول جائز نۀ دي. بلكه واجبه داده چه كه زوړ وي نو ددې ترميم دې وكړې شي اوكه نړيدلې وي نو په دې ځائې دې نوې جومات جوړ كړې شي. اګركه ددې د جوړولو دپاره ددې ځينې برخه خرڅه

کړې شي. ځکه په وقف کښې اصل داده چه نۀ به خرڅولے شي او نۀ به چاته هبه کولے شي او نۀ دا څوك په میراث کښې وړلے شي. ځکه نبی ﷺ عمر بن خطاب رضی الله عنه ته هغه وخت وفرمایل کله چه هغۀ د خیبر والا زمکے صدقه کولو رغبت ښکاره کړو: (ددې اصل صدقه کړه چه دابه نۀ خرڅولے شي، نۀ به هبه کولے شي اونۀ به په میراث کښې وړلے شي البته ددې میوه به خیرات کولے شي).

نو دا د هر وقف په باره کښې یو عام بیان دے. او علماؤ ددینه دا صورت مستثنیٰ کړې چه کله ددې وقف منفعت بیکاره شي یا بل ځائے ته ددې په نقلولو کښې د خلکو رغبت زیات وی او نفعه ئے هلته ډیره وی. نو بیا ددې وقف خرڅول یا په بل ځائے بدلول جائز دی.

د عمر بن خطاب رضی الله عنه نه نقل دی چه هغۀ سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ته هغه وخت ولیکل کله چه هغۀ ته دا ورسیدل چه د کوفې د بیت المال کنډر وهلے شوې دے نو عمر فاروق وفرمایل: (د کهجورو والو خواته چه کوم جومات دے هغه نقل کړه او بیت المال ئے د جومات قبلې طرفته جوړ کړه، ځکه په جومات کښې هر وخت مونځ ګذار وی). او دا کار د صحابه کرامو په حضور کښې وشو او هیچا ددې خلاف ونۀ کړو، نو دا اجماع شوه. بله دا چه په دې کار سره د وقف اصلی مقصد پاتے کیږی اګر که شکل ئے ختمیږی. خو په دې کښې شرط دادے چه دغه خرڅول او بدلول به ئے د شرعی حاکم یا د هغۀ د نائب په لاس سره کیږی، دې دپاره چه د وقف په حقله د احتیاط نه کار واخستے شي او دا د لوبو تهوقو نه وساتلے شي.

وصلی الله علی محمد وآله وصحبه وسلم.

[فتاویٰ اسلامیة : ٢/٩].

یو جومات خواته بل جومات جوړول

٥٩٨ – **سوال** : د یو جومات خواته بل جومات جوړول جائز دی اوکه نه ؟ که جائز وی نو بیا په څو مره فاصله کښې بل جومات جوړول جائز دی ؟

جواب : اول مونږ په دې باره کښې د علماؤ اقوال پیش کوو، بیا ددې مسئلې صحیح حکم بیانوو، ان شاء الله تعالیٰ.

امام قرطبیؒ په خپل تفسیر کښې فرمائی : زمونږ علماؤ ویلی دی چه د یو جومات اړخ ته بل جومات جوړول جائز نهٔ دی، ددې نه به منع کولې شی اوکه جوړ شو نو نړول ئې واجب دی، دې دپاره چه د اولنی جومات خلك دې جومات ته راوانهٔ وړی نو هغه اولنې به خالی پاتې شی. البته که محله غټه وه او خلك په دې جومات کښې نهٔ ځائیدل نو بیا ئې جوړول جائز دی. دارنګ علماؤ ویلی : په یو ښار کښې دوه او درې جامع جوماتونه جوړول مناسب نهٔ دی اوکه جوړ شو نو د دویم نړول واجب دی او چاچه په دې کښې د جُمعې مونځ وکړو نو جائز نهٔ دې. او نبی ﷺ مسجدِ ضرار سیزلې او نړولې وو. امام طبریؒ په خپل سند سره د شقیقؒ نه نقل کړی چه دې د بنو غاضره جومات ته د مانځه دپاره راغې نو راتلو سره ددهٔ نه مونځ فوت شوې وو، نو چا ورته وویل چه د فلانئ قبیلې په جومات کښې لا مونځ نهٔ دې شوې. وې فرمایل : زهٔ په هغې کښې مونځ کول نهٔ غواړم، ځکه هغه جومات د ضرر ورکولو دپاره جوړ شوې. زمونږ علماء وائی : هر هغه جومات چه په ضرر ورکولو یا ریاء او ځان ښودنه باندې جوړ شوې وی نو هغه د مسجدِ ضرار حکم لری، په دې کښې مونځ جائز نهٔ دې.

[تفسیر قرطبی : ٨/٢٥٤].

وهبة الزحیلیؒ په خپل تفسیر کښې هم دا شان خبره کړې.

[التفسیر المنیر : ١١/٤٨].

علامه آلوسیؒ فرمائی : د (مسجدِ ضرار په باره کښې د راغلی) آیتِ کریمه نه معلومه شوه چه په هغه جوماتونو کښې مونځ کول منع دی چه هغه د فخر او ریاء او شهرت یا د الله د رضا نه سیوا د نورو مقصودونو دپاره جوړ شوی وی، او دا حکم د هغه جومات هم دې چه هغه په حرام مال سره جوړ شوې وی.

ددې خبرې تائید د شقیقؒ نه په نقل شوی روایت سره هم کیږی. د عطاءؒ نه نقل دی چه کله الله تعالیٰ په عمر رضی الله عنه باندې ښارونه فتح کړل نو هغهٔ مسلمانانو ته په جوماتونو جوړولو امر وکړو او دا حکم ئې صادر کړو چه په یوه ښاریه کښې به دوه داسې جوماتونه نشی جوړولې چه په هغې کښې د یو نه بل ته ضرر رسی.

[روح المعانی : ١١/٢١].

امام ابو بکر جزائریؒ فرمائی : کوم جومات چه د ضرر ورکولو او په مسلمانانو کښې د بے اتفاقئ اچولو دپاره جوړ شوے وی نو د هغے نړول واجب او په هغے کښې مونځ کول حرام دی۔ [أيسر التفاسير : ٢/٢٣٩].

امام ابن قیمؒ فرمائی : هغه ځایونه سیزل پکار وی چه په هغے کښې د الله او رسول خلاف کیږی، لکه څنګه چه رسول الله ﷺ مسجدِ ضرار سیزلے وو او د هغے د نړولو امرئے کړے وو، او دا داسے جومات وو چه په دے کښې به مونځ کیدهٔ او د الله ذکر به پکښې کیدهٔ، مګر کله چه ددے بنیاد په ضرر ورکولو او د مؤمنانو ترمینځه په اختلاف پیدا کولو باندے ایښودل شوے وو، او د منافقانو یو مرکز وو، نو وسیزلے شو۔ او هر هغه ځائے چه دا شان لری نو په امام باندے واجب دی چه دا په سوزولو یا نړولو سره بیکاره کړی۔
[زاد المعاد : ٢/٥٠٠].

کفاية المفتی [٢/١٤٩] کښې دی : کوم جومات چه په ضد او فخر او ریاء سره جوړ شوے وی هغه د مسجدِ ضرار حکم لری، لکه چه دا خبره په تفسیر کشاف او مدارك کښې راغلے، خو د یو جومات په باره کښې دا ویل جائز نهٔ دی چه دا په ضد باندے جوړ شوے، تر څو چه حقیقتِ حال معلوم کړے شی، او دا معلومول په عامه توګه ګران کار دے۔

په اصلاح المساجد [ص : ٩٦] کښې دی : په یوه محله کښې ډیر جوماتونه جوړول د بدعاتو نه دی، ځکه په دے کار سره د مونځ ګذارو ترمینځه تفریق او تس نس کیدل راځی او په عبادت کښې راټولیدل ختمیږی او د عبادت کونکو رونق ختمیږی، او د جماعتونو د مشروعیت چه کوم حکمت دے هغه ختمیږی او هغه دا چه په عباداتو اداء کولو باندے آوازونه متحد شی۔ دارنګه په دے کار سره اولنی مسجد ته ضرر رسی یا په دے سره ریاء او شهرت سره مینه راځی او په هغه شیانو کښې مالونه خرچ کیږی چه هغے ته ضرورت نهٔ وی۔ په (الاقناع) او د هغے په شرح کښې راغلی : د جومات خواته بل جومات جوړول حرام دی مګر کله چه اولنے جومات تنګ شی او په یو جومات کښې نهٔ راځی۔ ابن تیمیهؒ د سورت اخلاص په تفسیر کښې فرمایلی : سلفوؒ په هغه جومات کښې مونځ کول مکروه ګنړل چه هغه به د مسجدِ ضرار سره مشابه وو۔ او دویٔ به په زاړهٔ جومات کښې د نوی جومات په نسبت مونځ کول بهتر ګنړل، ځکه زوړ جومات د مسجدِ ضرار کیدو نه ډیر

لرے وی په نسبت سره نوی ته۔ دے وجے نه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى الۡبَيۡتِ الۡعَتِيۡقِ﴾ (بیا ددے د حلال والی ځائے زوړ کور دے)۔

زۀ وایم : خو شرط دادے چه زوړ جومات د مبتدعینو نۀ وی۔

○ زما په نیز راجحه داده چه : نبی ﷺ د جوماتونو په جوړولو کښے ترغیب ورکړے او فرمایلی ئے دی : [مَنۡ بَنٰى لِلّٰهِ مَسۡجِدًا بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيۡتًا فِى الۡجَنَّةِ] (چا چه د الله دپاره جومات جوړ کړو الله به ددے په عوض هغۀ له په جنت کښے کور جوړ کړی)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿اِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنۡ آمَنَ بِاللهِ وَالۡيَوۡمِ الآخِرِ﴾.

(د الله جوماتونه خو صرف هغه ځوك جوړوی چه په الله او په ورځ روستنئ ایمان لری)۔

او الله تعالیٰ او د هغۀ رسول (ﷺ) ددے دپاره هیڅ حد بندی نۀ ده کړے، بلکه د نبی ﷺ په زمانه کښے په مدینه طیبه کښے هم ګڼړ جوماتونه وو، لکه مسجدِ نبوی، مسجدِ قباء، مسجدِ بنو زریق، مسجدِ بنی سلمه، مسجد القبلتین، او داسے نور جوماتونه وو۔

او په دے مسئله – چه د یو مسجد خواته بل مسجد جوړول جائز دی خو په دے شرط چه اولنی مسجد ته ضرر نۀ وی – بل قوی دلیل دادے چه کله مسجدِ ضرار جوړیدلو او منافقانو نبی ﷺ ته دعوت ورکړو، نو نبی ﷺ وفرمایل : (زۀ سفر ته روان یم) او نبی ﷺ منافقان د جومات جوړولو نه منع نۀ کړل اونۀ ئے د مسجد د نړولو امر وکړو۔ خو کله چه ورته وحی وکړے شوه چه دغه مسجد د منافقانو په خبیثو نیتونو باندے جوړ شوے نو بیا ئے د هغے د نړولو حکم وکړو۔

نو ثابته شوه چه د یو جومات خواته د بل جومات د جوړولو ترمینځه شرعی هیڅ فاصله او اندازه نۀ ده مقرر، او نۀ دا خبره ضروری ده چه ګنے دویم جومات به د اولنی جومات نه څلور واړو طرفونو ته څلویښت څلویښت کوره لرے اندازه کښے وی۔ ځکه په دے باندے زما د علم مطابق هیڅ دلیل نۀ دے قائم شوے۔ او عام دلائل هم زمونږ ددے خبرے تائید کوی۔

والله اعلم۔

جومات څۀ ته وائی ؟

۵۹۹ - **سوال** : لغوی او شرعی لحاظ سره جومات څۀ ته وائی ؟ او شرعًا د جومات معتبر حدونه څۀ دی ؟

جواب : مسجد په لغت کښې د سجدې لړولو ځائے ته وائی۔ او شرعًا : هر هغه ځائے دے چه د پنځه وخته مونځونو دپاره تيار شوے وی۔ اوکله ددے معنیٰ د دغه معنیٰ نه هم عامه وی چه بيا په دے کښې هر هغه ځائے داخليږی چه انسان ئے په کور کښې د خپل نفل مانځه دپاره تيار وی، يا پکښې هغه وخت فرض مونځ کوی کله چه بهر په جامع جومات کښې ددے د کولو نه عاجز شی۔ لکه د مسجد دا دويمه معنیٰ په راتلونکی حديث کښې راغلې ده۔ جابر رضي الله عنه فرمائی : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : [أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي : نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ، وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا، فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ ...... الحديث].

(ماله پنځه داسے شيان راکړے شوی چه مانه مخکښې بل هيچا له نۀ وو ورکړے شوی : ماسره د الله له خوا دا مدد شوے چه مانه د يوے مياشتے په فاصلے باندے دشمنی يريږی، او ما دپاره زمکه ځائے د سجدے لړولو او پاکونکے جوړه شوے، نو زما په کوم امتی باندے چه د مانځه وخت راشی نو هغه دے هلته مونځ کوی)۔

[صحيح بخاری وغيره].

او هغه مسجد چه په هغے کښې مسلمانان جماعت سره پنځه وخت مونځ کوی، دا هغه دے چه ددے نه د لرګو يا د کهجورو يا د بل شئ ځانګے راتاؤ شوی وی او هغه پرے آباد شوے وی۔ ديته به د جومات حکم ورکړے کيږی هغه دا چه حائضه او نفساء او جنب وغيره به په دے کښې د ايساريدو نه منع کولے شی۔ او ځوك چه جومات ته راغے او هغه په مونځ ګذارو باندے تنګ شوے وو، نو هغۀ له جائز دی چه د جومات نه بهر جومات ته په ډير نزدے ځائے کښې مونځ وکړی، فرض مونځ وی که نفل، د جُمعے مونځ وی اوکه عام مونځ وی۔ ځکه ديته حاجت او ضرورت دے، په دے شرط چه دے د امام د مانځه اقتداء کولے او د هغۀ مونځ معلومولے شی۔

[فتاوئ اسلامية : ٢/٦].

په رمضان یا نورو پروګرامونو کښې جوماتونه ښائسته کول

٦٠٠ – **سوال** : په رمضان شريف او دواړو اخترونو او نورو پروګرامونو کښې جوماتونه ښائسته کول او پړق پړوق والا جوړول څۀ حکم لري ؟

جواب : جوماتونه د الله کورونه دی، او دا د زمکې په ټوله برخه کښې بهترينه برخه ده. الله تعالیٰ حکم کړے چه دا د هغۀ په تعظيم او توحيد او ذکر او مونځ او تلاوت کولو سره او خلکو ته د خپل دين په ښودلو او ورزده کولو سره اوچت کړے شي. دارنګ خلکو ته په دے کښې هر هغه شے ورونښودل شي چه په هغے سره د دوئ دنيا او آخرت ښۀ کيږي. دارنګ دادے د هر قِسم ګندګيو، پليتيو، شرکي او بدعي او خرافي عملونو نه پاك کړے شي. دارنګ د خِيرو، نجاستونو نه دے پاك او صفا وساتل شي. د لهو او لعب، شور او زوګ نه او د ورك شوو شيانو تالاش کولو اونورو هغه شيانو نه بچ وساتل شي چه هغه دے لره د عامو لارو او تجارتي منډيانو پشان جوړوي. دارنګه په دے کښې مړي خخول منع دی. په قبرونو باندے جوماتونه جوړول منع دی. په دے کښې تصاوير زوړندول يا ددے په ديوالونو تصويرونه نقش کول يا بل داسے شيان لږول منع دی چه هغه د شرك ذريعه جوړيږي يا په دے کښې د عبادت کونکو توجه خرابوي. او د هغه مقصد خلاف ګرځي د کوم دپاره چه جومات جوړ کړے شوے. او نبی اکرم ﷺ ددے ټولو خبرو لحاظ ساتلے. لکه د هغوئ په سيرت او عمل کښې دا خبرے معلومے دی. او د هغوئ په همدے نهج او طريقه باندے د هغوئ ملګری روان شول او هغوئ هم د نبی اکرم ﷺ په اقتداء کښې د دغه پورتنو کارونو اهتمام وکړو.

او د نبی اکرم ﷺ نه دا ثابته نۀ ده چه هغوئ په اخترونو يا نورو پروګرامونو کښې جوماتونه ښائسته کړی وی او په هغے باندے ئے ګلان وغيره اچولی وی. او نۀ دا کار د هغوئ نه پس د هغوئ خلفاء راشدينو ؓ يا نورو د دين مشرانو او خير القرون والو کړے وی. سره ددے چه په دغه وختونو کښې مالونه هم وو او د دنيوی ترقئ نه هم هغوئ پوره برخه حاصله کړے وه، دارنګ د ډول ډال سامانونه او رنګونه هم موجود وو. خو ددے هر

څۀ باوجود هغوئ دا کار ونۀ کړو۔ نو پوره خیر په دے کښے دے چه مونږ هم د نبی اکرم ﷺ او د هغۀ د خلفاء راشدینو او د دین د نورو مشرانو په لاره روان شو او دغه طریقه اختیار کړو۔

بله دا چه په اخترونو او پروګرامونو کښے په جوماتونو کښے شمعے او ډیوے بلول، په هغے باندے یا د هغے په مناره باندے دیے شماره بجلیو او برقونو والا تارونه اچول، په هغے باندے پړق پړوق لړول، ګلان جهنډے او نښے نښانے پرے لړول۔ په دے ټولو کارونو کښے د کفارو سره مشابهت دے چه هغوئ دا کارونه د خپلو ګیرجو او کلیساؤ سره کوی۔ او نبی ﷺ هغوئ سره د هغوئ په اخترونو او عبادتونو کښے د مشابهت کولو نه منع فرمایلے۔ [الفتاوی الإسلامیة : ٢/٢٠].

زۀ وایم : د بدعتیانو یوه نښه داده چه دوئ په ظاهری توګه جوماتونه ډیر ښکلے او ښائسته جوړوی، مګر د حق او سنت نه ئے خالی او شاړ ګرځوی۔ لکه په یو ضعیف حدیث کښے راغلی : [مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ وَهِيَ خَرَابٌ مِنَ الْهُدٰى].

(جوماتونه به ئے په ظاهره کښے آباد وی، خو د هدایت نه به خالی وی)۔

او د دوئ په پروګرامونو کښے ډیر لوئے اسراف وی او خلك د رب العالمین نه مشغولوی۔ والله المستعان.

امام کور فراخولو دپاره د جومات ځینے برخه رانیول

٦٠١ – **سوال** : د امام د کور فراخولو دپاره د جومات څۀ برخه رانیول څۀ حکم لری ؟ او په کوم جومات کښے چه ډیر بدعتونه کیږی هغے ته د مانځه دپاره تلل څۀ حکم لری ؟

جواب : د جومات د حدودو نه هیڅ برخه نیول جائز نۀ دی، ځکه اصل په اوقافو کښے داده چه دا به په خپل مخکنی حالت پاتے وی، ددے په اصل کښے به هیڅ قِسم تصرف نشی کولے۔ او کله چه د امام کور د وسیدو قابل نۀ وی نو په دے باره کښے محکمے ته رجوع پکار ده او شرعی غوښتنے عملی کول پکار دی۔

او په کوم جومات کښے چه ډیر بدعتونه کیږی نو مسلمان له پکار دی چه څومره کیدے شی د دغه بدعتونو په ختمولو کښے کوشش وکړی، او کله چه د هغے لرے کول

ګران شي نو بيا به ئے پريدی او په کوم جومات کښے چه بدعتونه نۀ کيږی په هغے کښے به مونځ کوی۔

مخکښے په دويم جلد (١٠٩/٢) مسئله نمبر (٢٣٢) کښے تير شو چه بدعتيانو پسے په مونځ کولو کښے تفصيل دے۔ هغے ته رجوع وکړئ۔

[انظر الفتاوى الإسلامية : ١٤/٢].

په اصلاح المساجد [ص : ٤٣] کښے د مدخل په حواله ليکلی چه مسلمان له پکار دی چه داسے مسجد تالاش کړی چرته چه بدعت نۀ وی او يا کم بدعتونه پکښے کيږی۔

مقبرے سره نزدے جومات يا عيدګاه جوړول

٦٠٢ - **سوال** : مقبرے ته نزدے جومات او عيدګاه جوړول څۀ حکم لری ؟

جواب : کله چه د قبرونو خواته جوماتونه يا د دواړو اخترونو او استسقاء د مونځونو دپاره عيدګاه ګانے په دے نيت نۀ وی جوړے شوے چه ګنے په دے سره د دغه قبرونو والو تعظيم کولے شی يا قبرونو ته د جوماتونو د نزدے کيدو په وجه په هغے کښے د زياتی اجر او ثواب غوښتنه کولے شی، نو بيا د دغه جوماتونو آبادول او په هغے کښے مونځونه او نور عبادات کول جائز دی۔ او پکار ده چه د دغه جوماتونو او عيدګاه ګانو او د دغه مقبرے ترمينځه يو ديوال ووهلے شی چه د مسجد نه دغه مقبره جدا کړے شی۔ اوکه کيدے شی نو ددے دواړو ترمينځ دے خالی ځائے پريدی په دے کښے زيات احتياط دے۔

او کله چه د قبرونو او مقبرے خواته جوماتونه دے دپاره نزدے جوړولے شی چه په دے سره د قبرونو والو تعظيم غرض وی نو بيا په دغه جوماتونو کښے مونځ جائز نۀ دے، بلکه ددے نړول واجب دی، ځکه دغه پورتنے کار کول د شرك ذريعه ګرځی۔ او نبی ﷺ فرمايلی : [لَا تُصَلُّوا إِلَى الْقُبُورِ وَلَاتَجْلِسُوا عَلَيْهَا].

[صحيح مسلم: ٢٢٩٥].

(تاسو قبرونو طرفته مونځ مۀ کوئ او مۀ په هغے کينئ)۔

او نبی ﷺ فرمايلی : [إِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ فَإِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذٰلِكَ].

(تاسو نه مخکنو خلکو به د خپلو انبياؤ او نيکانو خلکو قبرونو نه جوماتونه جوړول – د هغې خواته به ئې مونځونه کول – نو تاسو د قبرونو نه جوماتونه مۀ جوړوئ ځکه زۀ تاسو ددې کار نه منع کوم).

[صحيح مسلم : ١٢١٦].

په دې مضمون کښې نور ډير حديثونه راغلي، لکه په اولنی جلد کښې تير شوی.

[انظر الفتاوى الإسلامية : ١٢/٢].

په هغه جانماز مونځ کول چه په هغې قرآنی آيت ليکلے وی

٦٠٣ – **سوال** : په کوم جانماز باندې چه قرآنی آيتونه يا د حرمينو شريفينو يا د نورو جوماتونو صورت نقش شوې وی، په هغې مونځ کول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : مسنونه طريقه داده چه په زمکه باندې په غير د څۀ شئ غوړولو نه مونځ وکړې شی، لکه مخکښې دا مسئله په (٥٧٨) نمبر باندې تيره شوه۔

او په داسې جانماز مونځ کول جائز نۀ دی چه په هغې قرآنی آيتونه وی، ځکه په دې کښې د دغه آيتونو سپکاوې راځی۔ دارنګ دا هم مناسبه نۀ ده چه په جانماز کښې د حرمينو شريفينو يا د نورو جوماتونو تصاوير وی، ځکه په دې کار سره د مونځ ګذار خشوع خرابيږی، کوم چه د مانځه روح دې۔

د عائشې k نه نقل دی چه (رسول الله ﷺ په يوه ګلداره شړئ کښې مونځ وکړو نو د هغې ګلونو ته ئې يو نظر وکړو، کله ئې چه سلام واړولو وې فرمايل : زما دا شړئ ابو جهم ته يوسئ او د هغۀ يې ګلانو شاړئ ماته راوړئ ځکه دې شړئ لږ مخکښې زۀ د خپل مانځه نه غافله کړم)۔ [بخاری، مسلم].

د بخاری په روايت کښې دی : ما ددې ګلانو ته کتل او زۀ په مانځه کښې ووم نو ما سره انديښنه شوه چه ما د مانځه نه وانۀ ړوی۔

[بخاری، مشکاة : ٧٢/١].

نو دې حديث نه معلومه شوه چه کله د چا زړۀ د جانماز د وجې مشغوله کيږی نو په دۀ باندې د هغې لرې کول او په داسې ځائې کښې مونځ کول پکار دی چرته ئې چه زړۀ نۀ

مشغوله کيږي.

کافر ټهيکدار د جوماتونو جوړولو ذمه داري اخستلې شي که نه؟

٦٠٤ – **سوال**: کافر ټهيکدار د جوماتونو جوړولو ذمه داري په سر اخستې شي اوکه نه؟ او کافر ګيلکار باندې جوماتونه جوړول جائز دي اوکه نه؟

جواب: صحيح داده چه کله مسلمانان ټهيکداران او ګليکاران ملاويږي نو بيا په کافرو باندې جوماتونه جوړول جائز نهٔ دي، ځکه الله تعالیٰ فرمائي: ﴿اِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَاجِدَ اللّٰهِ مَنۡ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡآخِرِ﴾.

(د الله جوماتونه خو صرف هغه څوك جوړوي چه په الله او په ورځ روستنئ ايمان لري).

بـله دا چه کافرانو نه دا خطره شته دے چه دوئ به د جوماتونو نقشه د خپلو ګيرجو پشان يا هغې ته ورته جوړه کړي، ځکه دوئ د اسلام دشمنان دي.

[انظر الفتاوى الإسلامية: ٢/١٩].

په جوماتونو کښې پيدا شوي بدعات

٦٠٥ – **سوال**: د جوماتونو بدعات کوم کوم دي؟

جواب: جوماتونه د الله د دين مرکزونه او د زړونو او عقائدو پاکولو ځايونه او د الله د ذکر او عبادت سره د تعلق لرلو مکانونه دي، نو ضروري ده چه دا د هر رنګه بدئ او خرابئ او فحاشئ او بدعت نه وساتلې شي.

اوس زهٔ هغه **بدعات** ذکر کوم چه هغه په جوماتونو کښې پيدا شوي وي.

١ – جوماتونو له د پړق پړوق رنګونه ورکول او ښائسته کول د بيهودو کار دے. لکه ددے خبرے وضاحت مخکښې وشو.

٢ – په رمضان يا نورو مناسبتونو، پروګرامونو او ختمونو کښې جوماتونه رڼا کول او په هغې کښې د حد نه زياتے رڼاګانے او بجلئ لږول بے بنياده بدعت او اسراف دے.

٣ – خصوصًا د شعبان د مياشتے د پنځلسی په شپه جوماتونه رونړول او ددے شپے فضائل خورول او په دے کښې دعاګانے لوستل بدعت دے. ځکه په هيڅ يو حديث کښې

ددے شپے په هيڅ يو شئ سره خصوصيت نهٔ دے راغلے، نهٔ په مونځ نهٔ په تلاوت اونهٔ په رنړا کولو او نهٔ په نورو شيانو سره۔ دومره ده چه يو حديث کښے ددے فضيلت داسے راغلے چه (الله تعالیٰ د شعبان د پنځلسی په شپه د دنيا آسمان ته راکوزيږی)۔

[السلسلة الصحيحة : ١١٤٤، ٣/١٢٥، كما سيأتي التحقيق فی ذلك].

٤ – د اخترونو په شپو کښے تر څاښت وخته پورے بجلئ فرانستے ساتل۔

لکه په جوماتونو کښے په عامه توګه دا رواج جوړ شوے چه په رمضان او په پنځلسی کښے او د رجب د اولنئ جُمعے په شپه او د دواړو اخترونو په ورځو کښے ډيرے ډيرے بجلئ بلوی۔ نو دا هسے اسراف دے، هيڅ بنياد نهٔ لری۔

٥ – په جوماتونو کښے د ځينو ذکر کونکو بدعتيانو ګډا او نڅا او سرود آوريدل۔

امام ابن امير الحاجؒ په [المدخل] کښے په دے ګډيدونکو باندے ډير ښهٔ رد کړے، او ويلی ئے دی چه ددے خلکو ګډا او نڅا کول او خصوصًا په جوماتونو کښے دا کار کول خو ډير زيات جُرم دے۔ حالانکه سلفوؒ به د جوماتونو څومره توقير او احترام کولو، په دے کښے به ئے په ذکر يا غير ذکر سره آواز پورته کول بد ګڼړل۔ او نبی ﷺ په دے کښے په اوچت آواز سره د قرآن لوستلو نه منع فرمايلے دارنګ د ورك شوی شئ د تالاش کولو نه ئے منع فرمايلے۔ اهـ

حافظ ابن حجرؒ په [فتح الباری] کښے د قرطبیؒ نه نقل کړی دی : په ډيرو خلکو باندے چه خير ته منسوب دی خپل نفسانی خواهشات غالبه شوی، تردے چه په دوئ کښے د زياتره بزرګانو نه د ليونو او ماشومانو غونتته حرکتونه ښکاره شوی، چه دوئ په ګډا او نڅا باندے شروع کړے۔

علامه سيوطیؒ وائی : په جوماتونو کښے ګډا نڅا کول او سندرے ويل او چمپے رباب وغيره وهل قبيح کارونه دی، ځکه په دے سره د هغه شئ سپکاوے راځی د کوم په تعظيم او ادب سره چه الله امر کړے، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ ﴾ الآية.

(په داسے کورونو کښے الله يادوی چه الله د هغے د اوچتولو امر کړے)۔

٦ – د داسے قيصه ګو او واعظانو وعظونه آوريدل چه هغوئ د بدعاتو او خرافاتو نه ډکے خبرے کوی۔ قيصه ګو که دروغ وائی نو دا فاسق دے، او ددهٔ منع کول واجب دی، دارنګ

بدعتی واعظان د جوماتونو نه ویستل واجب دی.

٧ – د علمی حلقو او مجلسونو نه اعراض کول: ډیر عوام غبیان خلك په جوماتونو کښې ناست وی او د یو عالم حلقه لرېدلې وی خلکو ته حکمتونه، فائدې او نصیحتونه بیانوی. او دغه بې علمه خلك خپل وخت په عبث کارونو کښې تیروی. یا په نفلی عباداتو باندې د دغه خیر نه ځان محروموی، حالانکه دوئ علم ته ډیر محتاجه وی.

٨ – په اذان خانو او لاؤډ سپیکرو کښې د جنازو اعلانونه کول:

ابن قیمؒ فرمائی: د نبی ﷺ دا طریقه وه چه د مړی د مرګ اعلانونه به ئې نهٔ کول، بلکه ددې نه به ئې منع کوله او دا به ئې فرمایل چه دا د جاهلیت والو کار دې، او دا کار په اتفاق د علماؤ سره مکروه دې.

٩ – په جومات کښې د مړی ستاینې کول او د هغهٔ نسب او خوبئ لوستل خراب بدعت دې.

١٠ – په جومات کښې د تعزیئې (لاس پورته کولو، یا فاتحې) دپاره کیناستل:

په (اقناع) او د هغې په شرح کښې فرمائی: تعزیئې ته کیناستل چه غم وهلې په یو ځائے کښې کینی او خلك ورته تعزیه کوی، او یا تعزیه کونکې د تعزیئې دپاره غم زپلی سره کینی، ځکه په دې کار سره د هغهٔ غم اوږدیږی.

ابن قیم رحمه الله په (زاد المعاد) کښې فرمائی: د نبی ﷺ طریقه دا وه چه مړی والو ته به ئې تعزیه (د صبر تلقین) کولو، او دا طریقه ئې نهٔ وه چه خلك د تعزیت دپاره جمع کړی یا ورته قرآن ولولی، یا د هغهٔ د قبر خواته یا بل ځائے کښې تلاوت وکړی. دا ټول کارونه نوی پیدا شوی مکروه بدعتونه دی.

دا شان خبره احنافو هم کړې.

[کما فی شرح المنیة والبحر والفتح].

١١ – په جومات کښې مړې خښول یا د هغهٔ دپاسه یا خواته جومات جوړول.

١٢ – د محرم په اولنی تاریخ د حسین رضی الله عنه د شهادت اعلانونه کول.

١٣ – خانقاه ګانې جوړول، او دا ډیر خراب بدعت دې.

١٤ – د درې جوماتونو نه سیوا بل جومات کښې په دې نیت اعتکاف کول چه په دې

کښې فضیلت دے۔

۱۵ – د پټکی نه بغیر امامتی کول بد ګنړل، یا په هغهٔ رد کول، دا شان د چا چه چوغه نهٔ وی په هغهٔ رد کول۔

ډیر خلك چه یو کس ووینی چه یے له پټکی جَمع ورکوی نو دوئ په هغهٔ رد کوی چه ستا مونځ نیمګړے دے، حالانکه دا ګمان کول غلط دی، ځکه صرف مانځه ته پټکے پسرول واجب نهٔ دی، بلکه د مانځه دپاره په احادیثو کښے پټکے پسرول مستحب هم نهٔ دی۔ البته په عامو اوقاتو کښے رسول الله ﷺ پټکے په سر کړے۔

۱٦ – د جومات په میدان کښے وُنے کرل، دا نوے بدعت دے، وجه داده چه په دے کښے د مانځه ځائے په داسے شئ سره بندیږی چه هغه مونځ نهٔ دے۔دارنګ په دے سره په جومات کښے پانړے وغیره راپریوزی۔ دے وجے نه حنابلو، شوافعو او احنافو ددے په کراهت فتویٰ ورکړے۔

۱۷ – ځینے خلك د جومات د جانمازونو دپاسه خپل جانماز خوروی۔ شیخ الاسلام ؒفرمائی : په جانماز باندے په دے شکل مونځ کول چه خامخا یو انسان ددے اهتمام کوی، دا کار د سلفو عادت نهٔ وو۔ بله دا چه کوم خلك چه د جومات د بزکو دپاسه خپل جانماز خوروی دا وسواسیان او د نبی ﷺ د طریقے خلاف کونکی دی۔

دا ټول ذکر شوی بدعتونه امام قاسمیؒ په [کتاب إصلاح المساجد] کښے ذکر کړی، سره د زیادت او تفصیل نه۔

۱۸ – په جوماتونو کښے فراخه او غټ محرابونه جوړول، دا د رسول الله ﷺ په زمانه کښے نهٔ وو موجود، لکه مخکښے تیر شو۔

۱۹ – ځینے خلك جوماتونو ته څپلو سره ننوتل بدے ګنړی، ډیر بدعتیان دا کار سخت مکروه ګنړی۔ سره ددے چه ددے په جواز بلکه استحباب باندے ګنړ صریح حدیثونه راغلی دی۔

۲۰ – په جومات کښے دننه اذان کول، لکه مخکښے تیر شو۔

۲۱ – د جومات دپاسه په غیر د ضرورت نه کوټے جوړول۔

۲۲ – د قبرونو او مقبرے خواته، یا په هغے کښے دننه قبرونه جوړول۔

۲۳ – د جوماتونو جوړولو دپاره سرِ عام کتھونه اچول او چندے غونډول، دا بدعت دے، ددے په وجه د الله تعالیٰ د کورونو بیعزتی کیږی۔ او جومات له ډیره چنده راغونډوی خو خپله پکښے څۀ خرچه نۀ کوی، اوبیا د جومات په مزخرف او ښائسته جوړولو باندے ډیرے زیاتے روپئ لګوی چه دا د اسراف حد ته ورسیږی۔

۲٤ – د جومات په دیوالونو لیکل کول خاصکر قبلے طرفته په دیوال لیکل کول چه دیته مونځ ګذار په مانځه کښے توجه کوی او په دے سره د مانځه نه مشغول ګرځی۔

۲٥ – په جوماتونو کښے [یَامُحَمَّد] او [یَارَسُوْلَ اللّٰه] او [یَا عَلِیُّ] لیکل، چه دا ټول بدعتونه بلکه شرك دے۔ ځکه غائب ته آوازونه کول او د هغۀ نه مدد غوښتل خالص شرك دے۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ﴾.

(د الله نه سیوا بل داسے څوك مۀ رابله چه نۀ تاته نفع درکولے شی اونۀ ضرر)۔

۲٦ – د هر وړوکی جومات نه (جامع مسجد) جوړول او په دے کښے د جُمعے مونځ کول۔ ددے سبب دادے چه امامان په خپلو هغه تنخواګانو باندے یریږی چه دوئ ته د مقتدیانو له خوا ملاویږی، که چرے دوئ بل جومات ته جمع شی نو دا تنخواه ختمیږی۔ حالانکه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے په ښار کښے صرف یو جامع مسجد وو چه د جُمعے مونځ به پکښے کیدۀ۔ البته د ضرورت او حاجت د وجے دا کار جائز دے۔

۲۷ – جوماتونه پاك نۀ ساتل بلکه د خس او خشاك ځائے ګرځول۔ حالانکه مونږ ته ددے د پاك او صفا ساتلو امر شوے۔

۲۸ – په جوماتونو کښے هغه کتابونه لوستل چه په هغے کښے فائده نۀ وی، لکه منطق، فلسفه او علم کلام لوستل چه په دے کښے د الله سبحانه وتعالیٰ بے ادبی ده۔ نو د الله جوماتونه ددے ناکاره شیانو نه ساتل پکار دی۔

۲۹ – د جوماتونو نه حکومتی مدرسے (سکولونه اوکالجونه او یو نیورسټئ) جوړول چه په دے کښے دنیوی علمونه تدریس کولے شی۔

۳۰– په جوماتونو کښے حق پرست خلك نۀ پریښودل او ددے نه ښځے بندول، او په دے کښے آوازونه پورته کول، دا ټول بدعات دی چه ددے ختمول او لرے کول واجب دی۔

وبالله عز وجل التوفيق.

ماشومان جوماتونه ته ننه ایستل جائز دی

٦٠٦ - **سوال** : ماشومان بچي جوماتونو ته ننه ایستل جائز دی اوکه نه ؟ ځینې خلك وائی حدیث کښې راغلی : (خپل ماشومان د خپلو جوماتونو نه لرې ساتئ) ؟

جواب : هو ! ماشومان جوماتونو ته ننه ایستل جائز بلکه مستحب دی، دے دپاره چه ماشومان د مانځه سره عادت شی، او د جوماتونو نه علم زده کړی ځکه دا د مسلمانانو مرکزونه دی، په دے کښې د دین زدکړه کیږی. کوم خلك چه ماشومان د جوماتونو نه منع کوی نو دا د خیر او ښیګړے نه دوئ منع کوی. او ماشومان دا ګمان کوی چه دا جوماتونو والا د ټولو خلکو نه زیات بد اخلاقه خلك دے، نو بیا ددے نتیجه دا شی چه ماشومان سینماګانو او ویډیو مرکزونو او ویډیو ګیمو ته مائله شی او د فاسقانو او غفلت والو سره ئے واسطه شی.

که چرے جوماتونو والو ماشومان جوماتونو ته رابللے او دوئ ته ئے دین او قرآن ښودلے او دوئ سره ئے ښۀ اخلاق استعمالولے نو دوئ به بیا شیطانی مرکزونو ته توجه نۀ کولے. خو غم دادے چه ناپوهی لوئے مرض دے، انسان خرابوی.

په دے خبره دلیل ډیر احادیث دی، ځینے دادی :

اول : انس رضی الله عنه فرمائی : [مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ إِمَامٍ قَطُّ أَخَفَّ صَلَاةً وَلَا أَتَمَّ صَلَاةً مِنَ النَّبِيِّ ﷺ وَإِنْ كَانَ لَيَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَيُخَفِّفُ مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَنَ أُمُّهُ].

(ما د هیڅ یو امام پسے مونځ نۀ دے کړے چه د هغۀ مونځ د رسول الله ﷺ د مانځه نه ډیر لنډ او پوره مونځ وی. نبی ﷺ به د ماشوم ژړا واوریده نو مونځ به ئے لنډ کړو، هسے نه چه مورئے په فتنه کښې پریوزی).

[بخاری، مسلم، مشکاة : ١/١٠١].

دویم : ابو قتاده رضی الله عنه وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : (زۀ په مانځه کښې شروع وکړم او زۀ غواړم چه اوږدئے کړم خو د ماشوم ژړا واورم نو بیا خپل مونځ لنډ کړم، ځکه ماته پته وی چه مور ته ددۀ په ژړا سره تکلیف رسی).

[صحیح بخاری : ١/٩٨، مشکاة : ١/١٠١].

دريم : امام بخاريؒ فرمائي : باب دے په بيان د هغه چا کښے چه خپله ماشومه بچئ په خپله اوګه باندے بار کړي۔

[صحيح بخاري : ۱/ ۷٤].

جو مات کښے خبرے کول

٦٠٦ - **سوال** : په جو مات کښے مباح خبرے کول جائز دي که نه ؟ ځينے خلك دا حرام ګنړي، او ځينے وائي : دے سره عملونه بربادېږي او نيکئ ختميږي۔

جواب : ډيرے خبرے د شريعت په نظر کښے ښے نهٔ دي۔ نبي ﷺ فرمائي :

[مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْ لِيَصْمُتْ ...... الحديث].

(څوك چه په الله او په ورځ د آخرت ايمان لري، هغه دے ښه خبره کوي يا دے غلے کيني)۔

[صحيح مسلم : ۱/ ۵۰، وغيره].

نو دا خبره د دين نه معلومه ده چه زياتے خبرے د متقيانو خوئے نهٔ دے۔

پاتے شوے په جو مات کښے مباحے خبرے کول نو په يو بے بنياده حديث کښے راغلي چه [اَلْكَلَامُ فِي الْمَسْجِدِ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ].

(په جو مات کښے خبرے کول نيکئ داسے خوري لکه څنګه چه اور لرګي خوري)۔

دا حديث صاحب د مدارك او غزالي په احياء العلوم [۱/۱۳٦] کښے ذکر کړے، ليکن ددے سند ثابت نهٔ دے۔ شيخ البانيؒ فرمائي : بے بنياده دے۔

[السلسلة : ٤/۱/۱۸].

کومو خلکو چه ديته حرام ويلي نو هغوئ ددے حديث د وجے حرام ګنړلي۔ خو صحيح داده چه مباحے خبرے کول په جو مات کښے جائزے دي۔

لکه د جابر بن سمره رضي الله عنه نه روايت دے، دا وائي : رسول الله ﷺ به چه کله د سهار مونځ وکړو نو د خپلے مصلے نه به تر نمر خاتهٔ پورے نهٔ پاڅيدهٔ، او کله به چه نمر وخاتهٔ نو پابه څيدهٔ۔ او صحابو به خبرے اترے کولے او د جاهليت په خبرو کښے به ورننوتل او خندلے به ئے۔ او نبي ﷺ به هم مُسکے کيدهٔ۔

[صحيح مسلم : ۱/ ۲۳۵، مشکاة : ۲/ ٤۰٦].

امام نوويؒ فرمائي: په جومات کښې مباحې او جائزې خبرې کول جائز دي، که د دنيا خبرې وي اوکه نورې خبرې وي، اګرکه په دې کښې خندا وغيره وکړې شي تر څو پورې چه مباحې وي. او دليل ئې دغه پورتنې حديث دې.

[المجموع شرح المهذب : ٢/١٧٧، فقه السنة : ١/٢١٢].

البته اختستل خرڅول او د ورك شوى شئ اعلانونه پکښې کول جائز نۀ دي. لکه د ابو هريره رضى الله عنه په حديث کښې دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: (چاچه د يو سړى نه واوريدل چه په جومات کښې ئې د ورك شوى شئ اعلان کولو نو داسې دې ورته ووائي: الله دې تاته واپس نۀ کړي، ځکه جوماتونه دې له نۀ دي جوړ شوى).

[صحيح مسلم : ١/٢١٠].

د ابو هريره ﷺ بل حديث کښې دي: (کله چه تاسو څوك ووينئ چه په جومات کښې اختستل خرڅول کوى نو داسې ورته ووايئ: الله دې ستاسو په تجارت کښې نفع وانۀ چوى). [نسائى، ترمذى، مشكاة : ١/٦٨].

په بخارى او مسلم کښې راغلى چه كعب بن مالك ﷺ د ابو حدرد نه په جومات کښې قرض وغوښتۀ او ددې دواړو آوازونه اوچت شول، او نبى ﷺ په دې باندې رد ونۀ کړو. بلکه هغۀ ته ئې د اداء کولو حکم وفرمايۀ.

[بخارى : ١/٦٥، مسلم : ٢/١٦].

خو مناسبه داده چه په جومات کښې د دنيوى خبرو کولو نه ډډه وکړي، ځکه د ابن مسعود ﷺ په حديث کښې ثابت دي چه رسول الله ﷺ وفرمايل: [سَيَكُوْنُ فِيْ آخِرِ الزَّمَانُ قَوْمٌ يَكُوْنُ حَدِيْثُهُمْ فِيْ مَسَاجِدِهِمْ لَيْسَ لِلّٰهِ فِيْهِمْ حَاجَةٌ].

(په آخره زمانه کښې به داسې خلك وي چه د هغوئ خبرې به په جوماتونو کښې وي، الله په دوئ کښې هيڅ حاجت نۀ لرى).

[صحيح ابن حبان :٨/٢٦٧، الترغيب : ١/١٠٥، وإسناده صحيح].

په جومات کښې نفل کول جائز دي

٦٠٧ - **سوال**: په جومات کښې نفل کول جائز دي که نه؟ ځينې خلك وائي: دا بدعت

دے ؟ دا خبره څنګه ده ؟

جواب : بهتره داده چه سنت او نوافل په کور کښے وکړے شی، همدا د نبی اکرم ﷺ عادت او معمول وو۔ نبی ﷺ فرمائی : [أَفْضَلُ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِيْ بَيْتِهِ إِلَّا الْمَكْتُوْبَةَ].

(د سړی بهترین مونځ هغه دے چه په کور کښے ئے کوی، سیوا د فرضو نه)۔

[صحیح بخاری : ٦٨٦٠].

نو ددے بهترین سنت اهتمام پکار دے او دا ضائع کول نۀ دی پکار۔ نن صبا ډیرو خلکو دا سنت پریښے دے، د زړونو د سخت والی او په مانځه باندے د باك نۀ لرلو په وجه۔ دارنګه د سنتو د باك نۀ لرلو په وجه او د زر ځان وګارزولو په وجه۔

او نبی ﷺ چه کله بنو عبد الاشهل قبیله ولیدله چه دوئ د ماښام مانځه نه پس په جومات کښے سنت او نفل کول، نو وے فرمایل : [إِنَّ هٰذِهِ صَلَاةُ الْبُيُوْتِ].

(دا خو د کورونو مونځ دے)۔

[ابوداود : ١٣٠٠، ترمذی، نسائی، معانی الآثار : ١/٢٣٥، مشکاة : ١/١٠٥، وسنده حسن].

نو دا د افضیلت دلائل دی۔

او هر چه په جومات کښے د نفلو او سنتو جواز دے، نو دا د یو شمیر حدیثونو نه معلومیږی، دے وجے نه دا بدعت نۀ دے، څنګه چه د ځینے ناپوهانو خیال دے، چه وائی : دا د نبی ﷺ نه ثابت نۀ دی۔ مونږ وایو : دا ثابت دی خو تاته معلوم نۀ دی۔

هغه احادیث دادی :

اول حدیث : ابن عباس رضی الله عنه وائی : ماته خپل پلار عباس وویل : بیګاه له د رسول الله ﷺ کره شپه تیره کړه۔ ابن عباس رض وائی : نو رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ وکړو، بیا ئے د هغے نه پس مونځ وکړو تردے چه په جومات کښے د هغۀ نه سیوا بل څوك پاتے نشو۔

[معانی الآثار للطحاوی : ١/٢٣٦].

نو دے حدیث نه معلومه شوه چه دا اوږد نفلی مونځ رسول الله ﷺ په جومات کښے کړے دے۔

دویم حدیث : ابن عباس رضی الله عنه وائی : رسول الله ﷺ به د ماښام په روستنو سنتو کښے اوږد قرائت کولو، تردے چه جومات والا به یو خوا بل خوا لاړل۔

[ابوداود : ١/ ١٣٠، مشکاة : ١/ ١٥٠].

ددې حدیث په سند کښې کمزوري شته دې۔

دریم حدیث : علی رضی الله عنه نه روایت دې، یو یهودي چه هغهٔ ته به (حبر) ویل کیدهٔ، د هغهٔ په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې یو څهٔ اشرفئ قرض وو، او هغهٔ د نبی صلی الله علیه وسلم نه غوښتلې، نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : اې یهودي ! ما سره څهٔ نشته چه زهٔ ئې درکړم۔ هغهٔ ویل : اې محمد ! زهٔ به تانه تر هغې نه جدا کیږم چه راکړې دې نهٔ وی۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : بیا خو به زهٔ تاسره کینم، نو هغهٔ سره رسول الله صلی الله علیه وسلم کیناستهٔ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماسپخین، مازیګر ماښام او سهار مونځونه وکړل۔ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابو دغه سړی له دهمکی ورکوله۔

[رواه البیهقی فی دلائل النبوة، مشکاة : ٢/ ٥٢٠، باب أخلاقه و شمائله].

دا حدیث حاکم په مستدرك (٢/٦٢٢) کښې هم نقل کړې، امام ذهبیؒ فرمائی : دا حدیث منکر (سخت ضعیف) دې، او خرابی په دې کښې ددهٔ یا ددهٔ نه پورته کسانو کښې ده۔

○ حذیفه رضی الله عنه نه نقل دی چه نبی صلی الله علیه وسلم په جومات کښې د ماښام مونځ وکړو، نو لګیا وو چه مونځونه ئې کول تردې چه د ماسخوتن مونځ ئې هم وکړو۔

[سنن الترمذی : ١/١٣٢، وصححه، وحسنه الشیخ الألبانی فی صحیح الترمذی].

دا حدیث حسن دې۔

نو ددې حدیث نه معلومه شوه چه نبی صلی الله علیه وسلم د ماښام سنت په جومات کښې کړی دی، نو دا حدیث د بدعتیانو بنیاد وباسی چه دوئ د سنتو نه پس په اجتماعی شکل سره دعاء کوی۔ حالانکه دلته نبی صلی الله علیه وسلم په جومات کښې سنت کړی دی، او دغه دعاء ترې نقل نهٔ ده۔

جومات ته د مشرك ننوتل

٦٠٨ - **سوال :** آیا مسلمانانو له جائز دی چه مشرك جومات ته ننباسی ؟

جواب : د علماؤ په اقوالو کښې راجح قول دادې چه هر مشرك هر قِسم جومات ته داخلیدې شی، سیوا د مکې د حرم شریف نه، که هغه مسجدِ حرام وی اوکه په حرم کښې بل ځائې وی۔ چه دیته د کافر داخلیدل جائز نهٔ دی۔ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ﴾ (مشرکان پلیتان دی، دې وجې نه

ددے کال نه پس دے دوئ مسجدِ حرام ته نزدے نۀ ورځی)۔
په دے آيتِ كريمه كښے د مسجدِ حرام تخصيص شوے، نو بل جومات ته نۀ شامليږی په غير د نص نه۔ او د مسجدِ حرام نه مراد د مکے ټول حرم دے۔
او د مسجدِ حرام نه علاوه نورو جوماتونو ته مشرکان ننوتلے شی، په دے باندے دليل د ثمامه بن اُثال حديث دے۔ ابو هريره رضي الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ نجد علاقے طرفته د شهسوارانو يوه دسته وليږله، نو هغوئ د بنو حنيفه قبيلے يو سړے راواستۀ چه هغۀ ته ئے ثمامه بن اثال ويلو۔ نو هغه ئے د جومات په يوه ستنه پورے وتړلو۔ رسول الله ﷺ هغه ته ورغے او وے فرمايل : ثمامه څۀ حال دے ؟ هغۀ ويل : خيريت دے۔ اے محمد ! که تۀ وژنه وکړے نو د يوے لوئے وينے والا به ووژنے۔ اوکه احسان کوے نو په يو شکر کونکی سړی به احسان وکړے۔ اوکه مال غواړے نو څومره چه غواړے دربه کړے شی ...... تر آخره پورے۔
[بخاری : ٢/٦٢٧، مسلم : ٢/٩٣، ابوداود : ٢/١٢، بيهقی : ١/١٧١، ٦/٣١٩، ٩/٦٥، عبد الرزاق ٩٨٣، ابن حبان ٢٢٨١، احمد : ٢/٢٤٦، المحلی : ٣/١٦٣، وغيرهم].
بيا په دويمه او دريمه ورځ هم دا شان خبرے اترے وشوے۔ په دريمه ورځ هغه لاړ غسل ئے وکړو او اسلام ئے قبول کړو۔ او دا د بنی حنيفه قبيلے سردار وو۔
ددے حديث د ظاهر نه معلوميږی چه مشرکان خلك جوماتونو ته تللے شی۔
او امام قرطبیؒ چه ددے حديث نه – د خپل مذهب د تائيد دپاره – کوم جوابونه کړی، هغه ضعيف او کمزوری دی، ځکه دا احتمالات بعيده دی۔ ددے مقلدينو دا کار دے چه دوئ حديثونه خيری کوی او ددے نه خپلو مذهبونو ته پيوندونه اچوی۔ والله المستعان !!
[راجع تفسير القرطبی : ٨/١٠٨، سورة التوبة :٢٨، المحلی : ٢/١٦٢].
حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دے حديث نه معلومه شوه چه کافر په جومات کښے تړل او په هغۀ احسان کول جائز دی۔ [فتح الباری : ٨/٧٢].
او د قريشو په دور کښے مسجدِ نبوی ته ابوسفيان ورغلے وو۔
[الرحيق المختوم].
دارنګ د نجران نه نصاریٰ مسجدِ نبوی ته راغلی وو، او د رسول الله ﷺ سره ئے د عيسی عليه السلام په باره کښے خبرے اترے کړے وے۔

[كما في التفسير لابن كثير : ٤٥٨/١].

دارنګ په ګڼرو حديثونو کښې راغلي چه مسجدِ نبوي ته کافر راغلي دي.

[انظر السنن لأبي داود : ٧٦/١].

هغه جومات کښې د مونځ کولو حکم چه قبله ئې کږه جوړه شوې وي

٦٠٩ - **سوال** : کوم جومات چه د قبلې نه کوږ جوړ شوې وي، په دې کښې د مونځ کولو څۀ حکم دې ؟ او د کعبې مبارکې ذات ته بيخي مخامخ ودريدل ضروري دي اوکه لږ شان اخوا ديخوا اوړيدل ترې هم جائز دي ؟

جواب : دا خبره ياده لره چه زمونږ اسلامي شريعت په يُسر او سهولت باندې ولاړ دې، نۀ په سختئ او تنګئ باندې. قرآن کريم اسلامي امت ته حکم کړې چه دوئ مسجدِ حرام ته مخ کړي، حالانکه مسجدِ حرام د کعبې نه ډير فراخه دې. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ﴾ (تاسو خپل مخونه مسجدِ حرام طرفته واړوئ).

نو ددې آيتِ کريمه نه معلومه شوه چه ځوك کعبه مبارکه نۀ ويني نو د هغۀ دپاره د کعبې ذات طرفته مخ کول واجب نۀ دي.

دارنګه په حديث کښې هم د قبلې د فراخئ بيان راغلې، رسول الله ﷺ فرمائي :

[مَابَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ].

(د مشرق او مغرب ترمينځه قبله ده).

[ترمذي : ٦٤/١، مشكاة : ٦٩/١، بإسناد حسن].

او د صحابه کرامو j په زمانه کښې به د زمکې په مختلفو اطرافو او علاقو کښې جوماتونه جوړيدل، او د هغوئ سره څۀ قبله نُما يا اصطرلاب، يا نوي رياضي علوم نۀ وو چه په هغې سره ئې په پوره توګه قبله معلومه کړې وې. هغوئ خو به قبله په تخمين او کوشش کولو سره معلومولو او هغې طرفته به ئې جوماتونه جوړول. چه ددې لازمي نتيجه داده چه په هغې کښې به خامخا څۀ نا څۀ کوږ والې راتلو. دې وجې نه شريعتِ مطهره په دې باره کښې لږه شان خطائي معاف کړې ده.

○ بل دا چه : کله صحابه کرامو ته د قبلې د بدليدو خبر ورکړې شو او هغوئ په مسجدِ

قباء کښې په مانځه ولاړ وو، نو په مانځه کښې دغسې هغوئ د بیت المقدس نه کعبې ته راوګرځیدل، حالانکه ددې نه مخکښې هغوئ ددې اړخ سمه اندازه نۀ وه لګولې. او رسول الله ﷺ ورته هم ددې مونځ راګرځولو امر نۀ وو کړې. حالانکه لږ شان انحراف په دې کښې خامخا واقع کیدې شي.

صاحب د احسن الفتاوی [٣٢٣/٢] ویلي چه د قبلې نه د (٤٥) درجو په اندازه کوږ والې ممکن دې او ددې نه اخوا جائز نۀ دې. اوددې درجو کیفیت په علمِ ریاضی باندې پوهه عالم نه معلومول پکار دي.

[راجع امداد الأحکام : ٣٧١/١].

بلکه د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ وفرمایل : (بیت الله د مسجدِ حرام والو قبله ده، او مسجدِ حرام د حرم والو قبله ده، او حرم د ټولې زمکې والو قبله ده. [السنن الکبری للبیهقي : ١٠/٢].

امام بیهقيؒ فرمائي : دا حدیث تنها عمر بن حفص روایت کړې، او دا ضعیف دې.

امام زرکشيؒ فرمائي : چاچه په اجتهاد سره حرم ته مونځ وکړو او خطا شو، نو جائز دی ځکه نبي ﷺ فرمائي : بیت الله د مسجد والو قبله ده، او مسجد د حرم والو قبله ده، او حرم د مشرقي او مغربي علاقو والو قبله ده. بیا فرمائي : علماؤ د امام مالکؒ نه دا نقل کړي. امام بیهقيؒ فرمائي : د هغه چا بیان چه په خپل اجتهاد سره ئې د کعبې جهت تالاش کړو. بیائې دا حدیث ذکر کړې (د مشرق او مغرب ترمینځه قبله ده) دارنګ د ابن عباس رضي الله عنه دغه پورتنې حدیث.

[أحکام المساجد ص : ٩٦].

نودې نه معلومه شوه چه د قبلې نه لږ شان اوړیدو سره مونځ نۀ خرابیږي.

امام بیهقيؒ د ابو الزنادؒ نه نقل کړي چه د مدینې فقهاؤ به ویلې : چاچه یې اودسه مونځ وکړو یائې قبلې نه بل طرفته مونځ وکړو نو مونځ به دوباره کوي، برابره خبره ده که د مانځه وخت وتلې وي اوکه نۀ وي وتلې، مګر دا که خطا شوې وي او یا لږ شان اوړیدلې وي.

زۀ وایم : کله چه چا د قبلې کوشش کړې وي او بیا د کعبې جهت خطا کړي نو ددۀ مونځ کیږي. که هر طرفته ئې مخ کړې وي، نو د دوئ دغه فتویٰ چه په هر صورت کښې به

مونځ راګرځوی، صحیح نۀ ده۔

جومات نه ویښتۀ ویستل، او په جومات کښې ګیره ګومنزول

۶۱۰ - **سوال** : (۱) ځینے خلك وائی : د جومات نه د انسان ویښتۀ ویستل ډیر اجر لری، دا صحیح ده اوکه نه ؟ (۲) او د انسان ویښتۀ پلیت دی اوکه نه ؟ (۳) او په جومات کښې ګیره ګمنزول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : (۱) د جومات نه د انسان یا د بل شئ ویښتۀ ویستل اجر او ثواب لری، ځکه الله تعالیٰ د جوماتونو د پاك او صفا ساتلو امر کړے۔

د انس رضی الله عنه په حدیث کښې دی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (په ما باندے د امت اجرونه پیش کړے شو، تردے چه هغه خس او خاشاك هم پیش کړے شو چه انسان ئے د جومات نه وباسی۔ او په ما باندے د خپل امت ګناهونه پیش کړے شو نو ما ددے نه بله ګناه لویه ونه لیده چه یو سړی ته د قرآن یو سورت یا یو آیت ورکړے شوے وی او بیا هغه هیر کړی)۔

[ابوداود : ٤٦١، ترمذی : ٣٠٩٥، مشکاة : ٧٢٠، ١/٢٢٤].

ددے حدیث سند منقطع دے، خو ددے پشان موضوع کښې دا تائید ګرځی۔

پاتے شو هغه خاص اجر چه ځینے خلك ئے په دے باره کښې پیش کوی، نو دا مونږ چرته نۀ دے لیدلے۔

(۲) او صحیح خبره داده چه د انسان ویښتۀ بلکه د مردارے ویښتۀ پلیت نۀ دی۔

(۳) او ګیره په جومات کښې ګومنزول جائز دی خو ددے ویښتۀ دے راجمع کړی او د جومات نه بهر دے ئے وارتوی۔ په دے کښې څۀ منع نۀ ده راغلے۔

په دے مسئلو باره کښې مونږ تاته د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فتویٰ پیش کوو، په دے کښې فائده ده، هغۀ نه پوښتنه وشوه :

سوال : په جومات کښې مسواك کول او ګیره ګومنزول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : په جومات کښې مسواك کول هیڅ عالم مکروه نۀ دی ګنړلی، بلکه د سلفو د آثارو نه معلومیږی چه هغوئ به په جومات کښې مسواك کولو، او د څلور واړو او نورو امامانو په اتفاق سره دا جائزه ده چه انسان په خپله جامه کښې لاړے توکړی، په دے باره

کښې د نبي ﷺ نه حديث ثابت دے۔ بلکه د جمهورو علماؤ په نيز په غير د کراهت نه په جومات کښې اودس کول جائز دی۔

نو هر کله چه اودس کول په جومات کښې جائز شو، سره ددے چه په اوداسهٔ کښې مسواك وهل کيږی، او مونځ پکښې جائز دے، چه د مانځه په وخت هم مسواك کيږی، نو بيا به مسواك څنګه وهل مکروه وی ؟ دارنګ چه کله لاړے او ګرينګ اچول پکښې جائز شو نو مسواك څنګه مکروه شی ؟

او هر چه ويښتهٔ ګومنزول دی، نو ځينے خلکو دا په دے وجه مکروه ګنړلی چه د انسان نه جدا شوی ويښتهٔ پليت دی، او په مسجد کښې به د پليت شئ اچولو نه منع کيږی، او يا په دے وجه چه دا د خس او خشاك پشان دے۔ او د جمهورو علماؤ په نيز د انسان نه جدا شوی ويښتهٔ پاك دی، او دا د امام مالكؒ، ابوحنيفهؒ او د امام احمدؒ ظاهر مذهب دے، او د امام شافعيؒ يو قول دے، او همدا صحيح دے۔ ځکه نبي ﷺ سر وخرئيلو او نيمائی ئے ابو طلحه ته ورکړو او نيمائی ئے په خلکو کښې تقسيم کړو۔ او د (طهارت اونجاست) په حقله نبي اکرم ﷺ د خپل امت سره شريك دے۔ بلکه اصل داده چه نبي ﷺ د خپل امت دپاره په تمامو احکامو کښې مقتدیٰ او پيشوا دے، مګر په کوم ځائے کښې چه په دليل سره د نبي ﷺ خصوصيت ثابت شی۔

دارنګ صحيح خبره داده چه د مردارے ويښتهٔ پاك دی، او دا د جمهورو علماؤ وينا ده۔ بلکه د علماؤ په يو قول کښې، چه دا د امام مالكؒ ظاهر مذهب او د امام احمدؒ په مذهب کښې يو قول دے، ټول ويښتهٔ پاك دی، اګرکه د خنزير ويښتهٔ ولے نهٔ وی۔ او بناء په دغه دواړو قولينو باندے کله چه انسان ويښتهٔ ګومنز کړی او ويښتهٔ راغونډ کړی او په جومات کښې ئے پرے نهٔ ږدی، نو په دے کښې څهٔ باك نشته۔ خوکه ګومنز کړی ويښتهٔ په جومات کښې پريدی نو دا مکروه دی، ځکه دا ويښتهٔ اګرکه پليت نهٔ دی خو جومات به د هر شئ نه پاکولے شی تردے چه هغه خس او خشاك چه په سترګه کښې پريوزی، د هغے نه به هم پاك اوصفا ساتلے شی۔ والله أعلم.

[مجموع الفتاوىٰ : ٢٢/٢٠١].

مونځ گذار مخې ته څپلۍ کیښودل

٦١١ - **سوال**: په جومات یا بل یو ځائے کښې د مونځ گذار مخې ته څپلۍ کیښودل جائز دی اوکه نه؟

جواب: ظاهره داده چه دا کار خلافِ سنت دے، ځکه د ابو هریره رضي الله عنه په صحیح حدیث کښې راغلی چه رسول الله ﷺ وفرمایل: [إِذَا صَلّٰى أَحَدُكُمْ فَلَا يَضَعْ نَعْلَيْهِ عَنْ يَمِينِهِ وَلَا عَنْ يَسَارِهِ فَتَكُونَ عَنْ يَمِينِ غَيْرِهِ إِلَّا أَنْ لَّا يَكُونَ عَنْ يَسَارِهِ أَحَدٌ وَلْيَضَعْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ].

(کله چه په تاسو کښې چا مونځ کولو نو خپلے څپلۍ دے ښی یا گس اړخ ته نۀ ږدی چه د بل چا ښی اړخ ته راشی بلکه د دواړو خپو ترمینځه دے کیدی، مگر که ددۀ گس اړخ ته څوك نۀ وی). [ابوداود: ١/١٢٨، ٦٥٤].

په بل حدیث کښې دی: (کله چه په تاسو کښې چا مونځ کولو او څپلۍ وباسی نو په دے سره دے هیچاته تکلیف نۀ ورکوی، یا خو دے ئے د خپو ترمینځه کیدی او یادے پکښې مونځ وکړی).

[ابوداود: ١/١٢٩، وسنده صحيح].

نو په دے دواړو حدیثونو کښې د څپلو کیښودلو ځایونه ښودل شوی، او نبی ﷺ مخه نۀ ده ذکرکړے، که چرے دا جائز وے نو خامخا به ئے ذکر کړے وے.

بلکه په بعضِ روایاتو کښې ددے نه منع راغلے. لکه په یو سخت ضعیف حدیث کښې دی: (کله چه په تاسو کښې څوك په مانځه کښې څپلۍ وباسی نو هغه دے خپلے مخے ته نۀ ږدی چه د هغے اقتداء کوی).

[أخرجه الطبراني في الصغير، ص: ١٩٥، بإسناد ضعيف جدًا، راجع الضعيفة: ٢/٤١٥، رقم: ٩٨٦].

د نافع بن جبیرؒ نه نقل دی: په مانځه کښې خپلے مخے ته څپلۍ کیښودل بدعت دے.

[مصنف ابن ابی شیبة: ٢/٤١٨].

○○○○○○○○

اصلاح المعابد فی احکام المساجد

د جوماتونو احکام او مسائل

٦١٢- **سوال** : په احادیثو کښې د جوماتونو کوم کوم احکام راغلی ؟

جواب : په حدیثونو کښې د جوماتونو دا احکام راغلی :

١ - **اوله مسئله** : په جومات کښې جنب سړے وخت تیرولے شی چه کله په جومات کښې پرے غسل آؤښتے وی، او ددے مسئلے وضاحت په (٣٣٢) نمبر باندے وشو۔

٢ - **دویمه مسئله** : د یے اودسه سړی دپاره په جومات کښې کیناستل په اجماع د مسلمانانو سره جائز دی، برابره خبره ده که د یو شرعی غرض دپاره ناست وی لکه د مانځه په انتظار ناست وی یا اعتکاف کوی یا قرآن آوری یا علمی خبرے آوری یا وعظ او تقریر آوری۔ اوکه هسے ناست وی۔ ځکه د نبی ﷺ او د صحابه کرامو j نه دا نقل نهٔ دی چه دوئ ددے کار نه منع کړی وی یائے دا کار بد ګنړلے وی۔ او ترڅو پورے چه منع نهٔ وی راغلی، اصل هم عدمِ کراهت دے۔

البته په بخاری او مسلم کښې د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښې راغلی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : (کوم مونځ چه سړے د جماعت سره وکړی، دا د کور او بازار د مانځه نه یو په پنځه ویشت ځله غوره دے۔ او دا ځکه چه کله دے اودس وکړی او ښائسته اودس وکړی، بیا جومات ته ووځی چه صرف مونځ کول ئے غرض وی، نو دے چه یو منړ ګدی نو د هغے په عوض کښې ددهٔ یوه مرتبه وچتیږی او ددے په وجه ترے یوه ګناه رژیږی، او کله چه مونځ وکړی نو ملائك همیشه دهٔ له دعاء غواړی ترڅو چه دے د خپل مانځه په ځائے کښې ناست وی، ملائك وائی : اے الله ! دهٔ ته ښښنه وکړے، اے الله ! په دهٔ رحم وکړے۔ او په تاسو کښې چه څوك د مانځه په انتظار ناست وی هغه په مانځه کښې حسابیږی)۔

په بل روایت کښې دی : (چه کله جومات ته ننوځی او د مونځ په وجه ایسار شوے وی)۔

او د ملائکو په دعاء کښې دا الفاظ هم زیاتی راغلی چه : (اے الله ! دے وبښے، اے الله! ددهٔ توبه قبوله کړے۔ خو تر څو پورے چه دهٔ په جومات کښې چاله ضرر نهٔ وی ورکړے، او تر څو پورے چه پکښې بے اودسه شوے نهٔ وی)۔

[بخاری : ٦٣/١، مسلم : ٢٣٤/١].

نو ددے حدیث نه معلومیږی چه په جومات کښې په اوداسهٔ کښې ناسته افضله ده، دے دپاره چه د ملائکو د دعاء نه محرومه نشی۔

٣ - دریمه مسئله : په جومات کښې خوب کول جائز دی په دے کښې هیڅ کراهت نشته۔ البته ځینے سلفو ددے نه منع کړے۔ نو مناسبه داده چه د چا کور وی نو جومات دے د خوب ځائے نهٔ جوړوی۔

په دے خبره **دلائل** دادی :

اول : ابن عمر رضی الله عنه وائی : زهٔ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې په جومات کښې اودهٔ کیدم او زهٔ بے وادهٔ ځوان سړے ووم۔

[صحیح بخاری : ٦٣/١].

دویم : سهل بن سعد رضی الله عنه وائی : رسول الله ﷺ د فاطمے کور ته راغے او هلته ئے علی بیانهٔ موند، نو وے فرمایل : ستا د ترهٔ ځوئے څهٔ شو ؟ هغے ویل : ما او هغهٔ څهٔ خبرے واړولے نو زهٔ ئے غصه کړم او خپله ووتهٔ او زما په خوا کښې اودهٔ نشو۔ نو رسول الله ﷺ یو انسان ته وویل چه تهٔ وګوره هغه څهٔ شو ؟ نو هغه سړے راغے او عرض ئے وکړو، اے د الله رسوله ! هغه په جومات کښې اودهٔ دے، نو هغه رسول الله ﷺ ته په داسے حال کښې راغے چه څادر ئے د یو اړخ نه پریوتے وو او خاورے ورپورے وے، نو رسول الله ﷺ د هغهٔ نه خاوره څنډله او فرمایل ئے : ابو ترابه پاسه ! ابوترابه پاسه !۔

[صحیح بخاری].

دریم : د عُرنیینو په حدیث کښې دی چه دویٔ په صُفه کښې دیره وو۔

[صحیح بخاری].

څلورم : امام بخاریؒ فرمائی : په جومات کښې د ښځے د خوب بیان۔ بیائے د هغه تورے ښځے حدیث ذکرکړے چه هغه به په جومات کښې په خیمه کښې وسیدله۔

پنځم: اصحابِ صُفه به په مسجد کښې وسیدل.

[صحیح بخاری].

شپږم: ثمامه بن اثال په جومات کښې تړل شوے وو.

[بخاری، مسلم، مشکاة: ٢/٣٤٤].

امام بیهقیؒ فرمائی: د سعید بن المسیبؒ نه په جومات کښې د خوب په حقله پوښتنه وشوه، نو هغهٔ وفرمایل: اصحابِ صُفه به کوم ځائے وسیدل؟

د ابن مسعود، ابن عباس، مجاهدؒ او سعید بن جبیرؒ نه نقل دی چه دوئ په جومات کښې خوب کول بد ګڼړلی، ګویاکه دوئ دا خبره ښه ګڼړلے چه د چا کور وی نو هغه دے خامخا د جومات نه د خوب ځائے نهٔ جوړوی.

بیائے د ابو هریره رضی الله عنه حدیث ذکر کړے چه نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (څوك چه په کوم نیت جومات ته راغے، هغه د هغهٔ برخه ده).

[السنن الکبری للبیهقی: ٢/٤٤].

٤ – مسئله: په جومات کښې دننه او د هغے په چت باندے په یوڅو شرطونو سره اودس کول جائز دی:

اول: لاړے او ګړینګ به په کښې نهٔ غورزوی، ځکه په جومات کښې لاړے اچول ګناه ده.

دویم: په دے سره به هیچاته ضرر نهٔ رسوی، ځکه مسلمان ته ضرر ورکول حرام دی.

دریم: په دے کار سره به مال نهٔ خرابوی. ځکه مونږ د مال ضائع کولو نه منع شوی یو.

په جومات کښې د اودس په جواز باندے دلیل د نُعیم المجمرؒ حدیث دے، دا وائی: زهٔ د ابو هریره سره د جومات چت ته وختلم نو هغهٔ اودس وکړو او وے ویل: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلی دی چه فرمایل ئے: [إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ].

(زما امت به د قیامت په ورځ په داسے حال کښې رابللے شی چه د اوداسهٔ د آثارو په وجه به د دوئ مخونه او لاسونه خپے سپین پړقیږی، نو په تاسو کښې چه څوك خپل سپین والے زیاتول غواړی هغه دے دا کار وکړی).

[صحیح بخاری: ١/٢٥].

ابـن الـمنذرؒ فرمائی : ټولو علماؤ په جومات کښې اودس کول جائز ګڼړلی دی، مګر داکه هغه لوندیدۀ او خلکو ته پرې تکلیف رسیدۀ نو بیا مکروه دې۔

بـلـه دا چـه : صـحیـح خبره داده چه مستعمله اوبۀ پاکې دی، په جومات کښې ددې اچول هیڅ باك نۀ لری۔

٥ – **مسئله:** ځینـې خلك وائی : د جومات زمکه ژوندئ ده۔ خو دا خبره خطا ده ځکه دا پـه اسلامـی شریعت کښې ثابته نۀ ده۔ بلکه د جومات او نورو ټولو ځایونو زمکه یو شان ده۔ فرق ئې صرف په بعضِ احکامو کښې دې۔

٦ – **مسئله :** په جومات کښې خوراك څکاك كول، دستر خوان خورول او لاسونه وینځل جائز دی په دې شرط چه چاته پکښې څۀ تکلیف نۀ رسوی۔ په ډیرو حدیثونو کښې راغلی چـه نبی ﷺ پـه جـومات کښې خوراك څكاك كړې۔ او د راتلونکې مسئلې نه معلومیږی چه لاسونه وینځل هم جائز دی۔

٧ – **مسئله :** څـوك چه پیاز، اوګه، ګندنه یا بله بدبویه بوټې وخوری، هغۀ له جومات ته حـاضـریـدل حرام دی، برابره خبره ده كه د مانځه وخت وی اوكه بل وخت وی، مسجد ته به بـالـکـل نـۀ راځی۔ لکه په صحیح حدیثونو کښې راغلی۔ نبی ﷺ فرمائی : [مَنْ أَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسَاجِدَنَا] وَفِي رِوَايَةٍ : [مَنْ أَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ فَلَايَقْرَبَنَّ وَلَا يُصَلِّيَنَّ مَعَنَـا] وَفِـي رِوَايَةٍ : [مَـنْ أَكَـلَ ثُـوْمًا أَوْ بَصَلاً فَلْيَعْتَزِلْنَا فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذّٰى مِمَّا يَتَأَذّٰى مِنْهُ الإِنْسُ].

(څوك چه دا بدبویه بوټې وخوری نو هغه دې زمونږ جوماتونو ته نزدې نۀ راځی اونۀ دې مـونږ سره شریك مونځ کوی، ځکه د کوم شئ نه چه انسانانو ته تکلیف رسی د هغې نه ملائکو ته هم تکلیف رسی)۔

[بخاری : ٨١٥، مسلم : ١٢٨٠].

عمر بن خطاب رضی الله عنه نه نقل دی چه هغۀ د جُمعې په ورځ خطبه کښې وفرمایل : اې خلکو ! تـاسو یوه دوه وُنې خورئ چه ماته خبیثې ښکاری، پیاز او اوګه۔ ما رسول الله ﷺ لیدلی چه کـلـه بـه ئې د کـوم سړی نه په جومات کښې ددې دواړو وُنو بوئې محسوس کړو نو هغه به بقیع ته وخکلی شو۔ څوك چه دا دواړه خوری نو په پخلولو سره دې ددې بوئې مړ كړی)۔

[بخاری : ١/١١٨، مسلم : ١/٢٠٩].

ددے روایتونو نه معلومه شوه چه څوك په جوماتـ کښے وی اوکه نهٔ وی، نو دا کسان به جوماتـ ته نهٔ حاضریږی، ځکه ملائك په جوماتـ کښے موجود وی۔

او دا دلیل دے چه دغه خلك به د جوماتـ نه وښکلے کیږی دارنګه هغه خلك چه هغوئ سګریټ او نسوار کوی، دوئ هم د جوماتـ نه وښکل پکار دی۔

[کما فی حواشی الموطأ لمالك : ١/١٢].

نو په هغه چا باندے تعجب دے چه څوك طلب د علم کوی او په جوماتـ کښے وسیږی او ددے لویو لویو جرمونو نه ځان نهٔ ساتی ! داسے خلکو ته به علم څنګه نصیب شی ؟ حال دا چه علم یو نور او رڼا ده !

٨ – **مسئله** : په جوماتـ کښے هواء خارجول جائز دی، خو بهتره داده چه ددے نه ځان وساتلے شی، ځکه نبی ﷺ فرمائی : (د کومو شیانو نه چه انسانانو ته ضرر رسی، د هغے نه ملائکو ته هم ضرر رسی)۔

٩ – **مسئله** : لاړے او ګرینګ په جوماتـ کښے اچول کبیره ګناه ده، او چا چه دا کار وکړو نو دهٔ له پکار دی چه د خپلے ګناه کفاره ورکړی هغه دا چه دا پټ کړی یائے ووینځی که ممکنه وه۔

حدیث کښے دی: (په جوماتـ کښے لاړے اچول ګناه ده او ددے کفاره خخول دی)۔

[بخاری : ١/٥٩، مسلم : ١/٢٠٧].

١٠ – **مسئله** : په جوماتـ کښے وُنے بوټی کرل مکروه دی اوکه نه ؟ امام نوویؒ فرمائی : په جوماتـ کښے وُنے کرل دارنګه کوهے وښکل مکروه دی، ځکه دا د بل چا په مال کښے آبادی کول دی، او بادشاه له جائز دی چه په دے کښے کرل شوے وُنے وباسی۔

١١ – **مسئله** : په جوماتـ کښے اخستل خرڅول او نور دنیوی تجارتونه کول حرام دی، ددے ډیر دلائل دی۔ یو دلیل د صحیح مسلم حدیث دے۔ (چا چه د یو سړی نه واوریدل چه په جوماتـ کښے ئے د ورك شوی شی اعلان کولو نو هغهٔ ته دے ووائی : الله دے دا شے تاته واپس نهٔ کړی، ځکه جوماتونه ددے دپاره نهٔ دی جوړ شوی)۔

[صحیح مسلم : ١/٢١٠].

د ترمذی په روایت کښې دی : (کله چه تاسو څوك ووینئ چه په جومات کښې خرید او فروخت کوی نو ورته ووایئ : الله دې ستا تجارت ګټور نهٔ کړی، اوکله چه تاسو څوك ووینئ چه د ورك شوی شی اعلان کوی نو داسې ووایئ : الله دې تاته پیدا نهٔ کړی).

۱۲ – **مسئله** : جومات ته ماشومان ننه ایستل مکروه نهٔ دی، لکه د بعضِ خلکو خیال دې، دوئ یو حدیث پیش کوی چه (تاسو خپل ماشومان او لیونی د جوماتونو نه لرې وساتئ). دا حدیث ثابت نهٔ دې.

[ضعیف الجامع، الأجوبة النافعة، وانظرها فی موضع آخر من هذا المجلد].

بلکه صحابیاتو به خپل ماشومان جومات ته راوستل او نبی ﷺ به د دوئ د ژړا د وجې مونځ لنډولو. [بخاری، مسلم].

او نبی اکرم ﷺ خپله نمسئ (امامه بنت زینب) په جومات کښې په فرض مانځه کښې په اوګه کړې وه. نو کراهت د کومه راغې ؟ او د ضرورت د وجې اوښ وغیره جومات ته ننه ایستل جائز دی، څنګه چه نبی ﷺ ننه ایستلې وو، ددې نه منع نهٔ ده راغلې.

۱۳ – **مسئله** : په جوماتونو کښې د کار کسب دپاره مجلس لړول مکروه دی، لکه خیاطی او داسې نور کسبونه شو. ځکه مخکښې تیر شو چه نبی ﷺ وفرمایل : (جوماتونه ددې شیانو دپاره نهٔ دی جوړ شوی، دا خو د الله د ذکر، مونځ او تلاوت دپاره جوړ شوی).

البته اتفاقی طور سره که چا په دې کښې څهٔ جامه وګنډله او دا طالب العلم وو، نو دا کار جائز دې، خو جومات نه به د کار کسب منډئی نهٔ جوړوی.

۱٤ – **مسئله** : په جومات کښې ستونی ستغ (په شا) څملاستل او یوه خپه په بله خپه کیښودل جائز دی، په دې شرط چه د عورت ښکاره کیدو خطره نه وی. دارنګ تشبیك کول (ګوتې په ګوتو کښې ننه ایستل) هم جائز دی، البته د مانځه نه مخکښې منع او مکروه دی. ددې دلائل د حدیثونو په کتابونو کښې موجود دی.

۱٥ – **مسئله** : مسجد جارو کول او صفا کول او ددې نه هر قِسم ګرینګ، خراچکې او لاړې وغیره لرې کول مسنون دی. لکه په بخاری او مسلم کښې د انس رضی الله عنه په حدیث کښې دی : (نبی ﷺ په جومات کښې خراچکې ولیدهٔ نو هغه ئې په لاس سره

وګرولو). په صحیح بخاري کښې په دې معنىٰ ډیر حدیثونه موجود دي.

١٦ – **مسئله :** په ډیرو ښارونو کښې خلك په جوماتونو کښې ډیرې زیاتې ډیوې او بلبونه لګوي دا ډیر خراب بدعت دې. ددې نه ډیر مفاسد او خرابئ پیدا کیږي. (١) لکه د مجوسو سره په ډیر ډیر اور بلولو کښې مشابهت. (٢) بې ځایه مال مصرفول او اسراف کول. (٣) ددې په نتیجه کښې جومات ته د ډیرو ماشومانو او بیکاره خلکو راجمع کیدل او په هغې کښې لوبې کول او آوازونه پورته کول او د جومات بیعزتي کول، هغه خیرنیدل او نورې ډیرې خرابئ دي چه د هرې یوې نه جومات بچ کول ضروري دي.

١٧ – **مسئله :** چاسره چه وسله وي او جومات ته ننوتل غواړي نو د هغې تیرهٔ طرف دې په لاس کښې ونیسي لکه د غشي او د نیزې او د چاقو چاړې څوکه شوه. ځکه جابر رضي الله عنه نه روایت دې چه یو سړي په جومات کښې غشي تیر کړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ددې وُسپنې ونیسه. [بخاري، مسلم].

ابو موسى رضي الله عنه وائي : نبي ﷺ ارشاد وفرمایهٔ : څوك چه زمونږ په یو جومات یا زمونږ په یو بازار باندې تیریږي او هغهٔ سره غشي وي نو هغه دې بند کړي او یادې د هغې تیرهٔ طرفونه په خپل ورغوي کښې ونیسي، هسې نه چه کوم مسلمان ته څهٔ تکلیف ورسوي. [بخاري، مسلم].

١٨ – **مسئله :** څوك چه د سفر نه راشي هغهٔ له مسنون دي چه اول جومات ته راشي او دوه رکعته وکړي. لکه د کعب بن مالك رضي الله عنه په حدیث کښې دي : (رسول الله ﷺ به چه کله د سفر نه راغې نو شروع به ئې د جومات نه کوله او په هغې کښې به ئې دوه رکعته کول). [بخاري، مسلم].

١٩ – **مسئله :** جوماتونه بندول او تاله کول جائز نهٔ دي، ځکه د رسول الله ﷺ جومات به د هغوئ په زمانه کښې او د هغوئ د وفات نه پس پرانستې وو. او خلك ددې بندولو ته ځکه حاجت لري چه دوئ په دې کښې ډیر قیمتي سامونه لګولي دي او د دنیا ژوند ئې پرې ډولي کړې، نو دوئ ددې د ضائع کیدو نه یریږي. حالانکه جوماتونه د پنځو مونځونو او د شپې مونځونو او د ځاښت او نورو نفلو مونځونو او د تعلیم او تعلم دپاره جوړ شوي. نو په دې کښې د وخت معلومولو دپاره ګهړئ او ټائم پیس لګولو او قالینونو خورولو ته څهٔ

ضرورت دے۔ خلکو چونکه د سنت په خلاف جوماتونه بنائسته کړي نو دوئ په بل مخالفت کښے غورزيدلي چه هغه جوماتونه بندول دي۔
دومره ده چه علماؤ د زمانے د خرابيدو د وجے د مانځه د اوقاتو نه علاوه جوماتونه بندول جائز ګڼړلي، د وجے د ځينے دلائلو نه لکه څنګه چه امام بخاريؒ په خپل (صحيح) کښے ذکر کړي۔
۲۰ – **مسئله** : څوك چه جومات ته ننوځي يا پکښے تيريږي نو د دوه رکعته تحية المسجد کولو نه بغير کيناستل يا تيريدل مکروه (او خلافِ اولیٰ) دي۔ ځکه رسول الله ﷺ په دے باندے امر فرمايلے۔ برابره خبره ده که د کراهت وخت وي اوکه بل وخت۔
۲۱ – **مسئله** : د جومات دننه او بهر ديوال دپاره د جومات حکم ثابت دے، چه ددے حفاظت او احترام به کولے شي، دارنګ د جومات د چت او د کوهي او د صحن ټولو حکم د جومات دے۔ په دے کښے اعتکاف کول او ددے ځائے نه امام پسے اقتداء کول جائز دي۔
۲۲ – **مسئله** : د جومات هيڅ يو لوخے او سامان راغستل جائز نهٔ دي، لکه کانړے، وُنه، کوت کانړے، خاوره او نور۔ دارنګ تيل او هغه شمع چه په هغے ډيوه بليږي۔ په سنن ابی داود کښے د ابو هريره رضي الله عنه په صحيح حديث کښے دي، رسول الله ﷺ فرمائي : (بيشکه د جومات شګے هغه کس ته زاري کوي چه څوك ئے د جومات نه وباسي)۔
۲۳ – **مسئله** : ځينے خلکو ويلي : د جومات نسبت محلے والو ته نشي کيدے۔ دا خبره صحيح نهٔ ده۔ امام بخاريؒ فرمائي : آيا داسے ويل جائز دي چه د فلانئ قبيلے مسجد ؟ بيا ئے د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل کړي دي چه رسول الله ﷺ د هغه اسونو ترمينځه مسابقه قائمه کړه چه هغه نري شوي وو، او ددے فاصله ئے د حفياء علاقے نه تر ثنية الوداع پورے مقرر کړه (چه دا شپږ ميله وه) او د هغه اسونو ترمينځه چه هغه نهٔ وو نري شوي د هغے فاصله ئے د ثنية الوداع نه تر بنو زريق جوماته پورے مقرر کړه (چه دا يو ميل اندازه وه)۔او عبد الله بن عمرؓ په دے مسابقه کښے شريك شوے وو۔

[صحيح بخاري : ۵۹/۱، باب هل يقال : مسجد بني فلان].

او په حديث کښے د (مسجد بني عبد الاشهل) لفظ راغلے۔
هو ! دا مکروه ده چه جومات جوړونکي ته منسوب شي او د هغهٔ نوم پرے وليکلے شي

ځکه دا ریاء ده. [کما فی المرقاة : ١/١٩٣].

٢٤ – مسئله : د اخترونو د مانځه دپاره عیدګاه د جومات پشان ده، چه دیته د حائضې ننوتل حرام دی. لکه د ام عطیه k په حدیث کښې دی : (نبی ﷺ حائضو ښځو ته حکم کړې چه دوئ د اختر په ورځ حاضرې شي او د عیدګاه نه لرې ووسیږی). [بخاری، مسلم].

او امام نوویؒ چه ددې حدیث نه دا جواب کړې چه ښځو ته ددې دپاره حکم شوې چه نورو ښځو ته ځائې فراخه کړی او د نورو نه جدا وی.

[المجموع : ٢/١٨٠].

نو دا جواب صحیح نۀ دې، ځکه د نورو ښځو نه د حایضو ښځو جدا کولو ته څۀ ضرورت دې ؟ سره ددې چه هغوئ شرم کوی.

٢٥ – مسئله : د جومات دروازې ته نزدې متیازې کول جائز نۀ دی، ځکه په حدیث کښې ددې نه منع راغلې. (نبی ﷺ د جوماتونو په دروازو باندې د متیازو کولو نه منع فرمایلې). او دا صحیح حدیث دې.

[الصحیحة، رقم : ٢٧٢٣].

دارنګ حدیث کښې دی : (د جومات په قبله کښې متیازې کولو نه ئې منع فرمایلې).

[تاریخ المدینة لابن شبة : ١/٣٦، مراسیل أبی داود : ٣، ١٤].

دا حدیث صحیح مرسل دې.

امام زرکشیؒ فرمائی : د جومات دیوال ته نزدې تشې متیازې کول مکروه دی، او ظاهره داده چه د جومات په صحن کښې تشې متیازې کول په هر صورت کښې حرامیدې شي.

[أحکام المساجد ص : ٣١٠].

٢٦ – مسئله : په جومات کښې په اتفاق د علماؤ سره اودس کول جائز دی، مګر که داسې ځائې کښې اودس کوی چه هغه لوندیږی او خلکو ته پرې تکلیف رسی نو بیا دا مکروه دې. او شرط دادې چه د مضمضې په وخت به لاړې نۀ توکی او د استنشاق په وخت به ګرینګ نۀ ارتوی.

په دې باندې دلیل حدیث د نعیم المجمرؒ دې، دا وائی زۀ د ابو هریره رضی الله عنه سره د جومات چت ته وختم...... تر آخره پورې.

[صحيح بخاری : ۱/۳۵].

ابـن ابـی شيبـه د ابـن عـمـر او جبير بن مطعم i نـه پـه جـومـات کښې اودس کول نقل کړی۔او دا مسئله نزدې تيره شوه۔

۲۷ – مسئله : جـومـاتـونـو تـه بې اودسه ننوتل د عامو علماؤ په نيز جائز دی، او همدا ظاهـره خبره ده، لکه مخکښې ددې وضاحت مونږ د تحية المسجد په مسئله کښې وکړو۔ او د حسـن بـصـریؒ او سـعيـد بـن مسيبؒ نه عدمِ جواز نقل دې۔ او غزالیؒ په احياء العلوم کښې ورتـه مـکـروه ويـلـی۔ خو تحقيقی خبره داده چه نبی ﷺ ددې نه منع نۀ ده کړې، او صـحابه کرام j بـه پـه جـومـات کښې وسيـدل او د هغې نه به وتل لکه دا خبره په سيرت کښې معلومه ده، او دوئ ته ددې حکم نۀ دې شوې۔

[أحكام المساجد للزركشي ص : ۳۰٤].

۲۸ – مسئله : پـه جـومـات کښې دننه تشې متيازې کول، ښکر لړول، رګ وهل او وينه ويستل جائز نۀ دی۔خو مره چه کيدې شی جومات به د نجاستونو او پليتيو نه بچ ساتی۔ ځـکـه مـونږ تـه د جـومـاتـونـو پـه پاك او صفا ساتلو امر شوې۔ او مخکښې تير شو چه د جوماتونو دروازو خواته متيازې کول منع دی۔

۲۹ – مسئله : حـائـضـه او نـفـسـاء ښـځـه جوماتونو ته ننه ايستل جائز نۀ دی، ځکه په سنتِ مطهره کښې ددې نه منع راغلې۔

او هـرچـه کـافـر دې نـو د مسـجـدِ حرام نه سيوا نورو جوماتونو ته ننوتې شی اګرکه جنب وی۔ ځـکـه کـفـار بـه د نبـی ﷺ جـومـات ته ننوتـل، او يقينی خبره ده چه په دوئ کښې به جـنـب هـم وو۔ امـام بـخاریؒ باب قائم کړې چه جنب جومات ته ننوتې شی۔ او بيا ئې د هغه بانـډه چـی حديث ذکر کړې چه هغۀ د اسلام په حقله پوښتنه کړې وه۔ دارنګ د هغه دوه يهوديانو په باره کښې ئې حديث نقل کړې چه هغوئ دواړو زنا کړې وه۔

۳۰ – مسئله : د جُـمـعـې مانځه نه مخکښې په جومات کښې د حلقې په شکل کيناستل مکروه دی۔ د عبد الله بن عمر رضی الله عنه په حديث کښې دی : نبی ﷺ د جُمعې په ورځ د حلقو جوړولو نه منع فرمايلې۔

[سنن أبی داود، صحيح ابن خزيمة].

٣١ – **مسئله** : د مانځه نه پس تشبیك كول (ګوتے په ګوتو كښے وركول) جائز دی او مخكښے جائز نهٔ دی. لكه د ذو الیدین په حدیث كښے دی : (نبی ﷺ خپلے ګوتے په ګوتو كښے وركړے وے). ابن ابی شیبهؒ د ابن عمر او سالم او حسن او نورو نه دا نقل كړی. او د مانځه نه مخكښے د تشبیك نه منع راغلے.

٣٢ – **مسئله** : جوماتونه خوشبویه كول او په دے كښے خوشبویه لرګی لوګے كول مستحب دی. لكه عبد الله بن المجمر به هغه وخت جومات خوشبویه كولو كله به چه عمر فاروق رضی الله عنه په منبر كیناستهٔ. ځینے سلفوؒ په زعفرانو او خلوق خوشبوئے سره جومات خوږ بویه كول مستحب ګرځولی. په دے باندے د صحیح بخاری هغه حدیث دلالت كوی چه په كتاب المساجد كښے راغلے.

٣٣ – **مسئله** : جوماتونو كښے رنړا، بجلی لږول او په شمع او تیلو سره روښانه كول مستحب دی. په دے باره كښے یو ضعیف حدیث هم راغلے.

د نبی ﷺ د آزاد كړے وینځے میمونے رضی الله عنها نه روایت دے دا وائی : ما عرض وكړو، اے د الله رسوله ! مونږ ته د بیت المقدس په حقله فتویٰ راكړه. وے فرمایل : هلته ورشئ اومونځ پكښے وكړئ. او دغه وخت په ښارونو كښے جنګ وو، نوكه تاسو نشئ ورتلے نو هغے ته تیل ولیږئ چه د هغے په قندیلونو او ډیوو كښے بلیږی.

[السنن الكبری للبیهقی : ٢/٤٤١، ابوداود : ٤٥٧، ابن ماجه : ١٤٠٧].

ددے حدیث سند ضعیف دے، ځكه د زیاد او میمونے ترمینځه منقطع دے.

٣٤ – **مسئله** : د جومات نه كانړی، كوت كانړی، خاوره شګه وغیره ویستل حرام دی. ځكه حدیث كښے دی : (كوت كانړی هغه كس ته سوال كوی چه څوك ئے د جومات نه وباسی). [ابوداود].

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : ښه داده چه دا واپس كړے شی كه نهٔ وی نو د قیامت په ورځ به تاسره جګړه كوی. [ابن ابی شیبه].

٣٥ – **مسئله** : جومات ته د ننوتو په وخت ښئ خپه مخكښے كول او د راوتو په وخت ګسه خپه مخكښے كول مستحب دی. سره د نورو دعاګانو ویلو نه.

٣٦ – **مسئله** : د اذان نه پس د جومات نه وتل مكروه دی، لكه مخكښے ددے وضاحت

وشو۔

٣٧ – **مسئله** : بعضِ اوقات په جومات کښې جنازه کول هم جائز دی، لکه په صحیح مسلم کښې د عائشې k په حدیث کښې راغلی۔

٣٨ – **مسئله** : په جوماتونو کښې سوال کونکی له ورکول جائز دی، لکه ددې وضاحت مخکښې شوې۔

٣٩ – **مسئله** : په جومات کښې سقایه (حوض، تالاب، ډیگئ د اوبو څکولو ځائې) جوړول جائز دی، ځکه دا د سلفو عادت وو او په دې کښې خیر دې۔

٤٠ – **مسئله** : جومات په شیشو سره ښائسته کول مکروه دی، ځکه دا په زخرفه کښې داخل دې۔

٤١ – یو څلویښتمه مسئله : په کور کښې د ښځې مونځ په جومات کښې د مونځ کولو نه غوره دې۔

٤٢ – **مسئله** : په جومات کښې نکاح تړل جائز دی۔ او په دې باره کښې چه کوم دوه حدیثونه راغلی هغه ضعیف دی۔

[السلسلة :٢/٩٧٨)

که جومات کښې ئې نکاح وکړه، نو جائز دی، ځکه په صحیح حدیث کښې راغلی چه (تاسو د نکاح اعلان کوئ)۔ په بخاری او مسلم کښې راغلی چه عبد الرحمن او جابر بن عبد الله دواړو د مسجد نه علاوه بل ځائې کښې نکاح کړې وه۔

٤٣ – **مسئله** : مونځ ته د ودریدو په وخت مسواك كول مستحب دی، جومات کښې مونځ کوی اوکه بل ځائې کښې، لکه ددې وضاحت مخکښې تیر شو۔ چاچه دیته مکروه ویلی، د هغوئ خبرې له اعتبار نشته۔

٤٤ – **مسئله** : د ستنو ترمینځه صف جوړول او مونځ کول مکروه دی، لکه ددې وضاحت به د (صفونو په بیان) کښې راشی ان شاء الله۔

٤٥ – **مسئله** : مسنونه داده چه د دواړو اخترونو مونځونه په عیدگاه کښې وکړې شی، نۀ په جومات کښې، مگر کله چه ضرورت وی۔ لکه ددې وضاحت را روان دې ان شاء الله۔

(دا مسائل د امام زرکشیؒ د کتاب : احکام المساجد نه خلاصه کړې شوی دی، او ورسره

زیاتی اضافې هم دي، او په بعضو هغه مسائلو کښې مې ورسره خلاف هم کړې په کوم کښې چه هغهٔ سره دلیل نهٔ وو).

دا **مسائل** د صریح احادیثو نه هم معلوم دي کوم چه په دې باب کښې راغلي. که چرې مسلمان سړې د بخاري او مسلم او مشکاة حدیثونه وګوري، نو په دې باب کښې به په ډیرو مسئلو پوهه شي، ان شاء الله تعالیٰ.

وبالله عز وجل التوفيق.

وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه أجمعين.

د کتاب المساجد په آخره کښې مونږ د شیخ جمال الدین قاسمیؒ د کتاب [اصلاح المساجد] نه د فائدې د عام کولو دپاره بعضِ احکام را نقل کوو:

د جوماتونو د احکامو په باره کښې فقهي جزئیات او مسائل:

(کوم چه په الاقناع او د هغې په شرح کښې راغلي دي):

۱ – په کلو، بانډو او محلو کښې د حاجت مطابق جوماتونه جوړول واجب دي، او دا فرض کفائي دي. او د جوماتونو په آبادولو او ددې د ښیګړو په لحاظ ساتلو کښې ډیر آثار راغلي.

۲ – د جوماتونو پاك او صفا ساتل مستحب دي، ځکه نبي ﷺ ددې امر فرمایلې.

۳ – مسنونه ده چه جوماتونه د هر قِسم خیرو، ګندګیو، ګرینګونو، نوکانو پریکولو، بریتانو پریکولو، سر خرئیلو، ترخونو ویستلو او هر قِسمه بد بوئې نه وساتل شي لکه د پیاز، اوګې او ګندنې وغیره بوئې نه. اګرکه په دې کښې هیڅوك نهٔ وي. که چرې ددې څیزونو نه ئې خوراك وکړو یا د انسان د خُلې یا ترخونو نه سخت بوئې تللو نو ددې کس ویستل مستحب دي.

٤ – د جومات په هواء کښې به هم لاړې نهٔ تو کي، په جومات کښې دا ارتول ګناه ده. بیا که د جومات زمکه د خاورې وه نو ددې کفاره داده چه دا خخ کړې شي، اوکه د خاورې نهٔ وه نو هغه به په جامه یا بل شئ سره صفا کړي، او بزکي نه لاندې کول ئې کافي نهٔ دي. اوکه لاړې ارتونکي خپله لاړې ونهٔ لیدلې نو بیا په بل چا باندې ددې لرې کول لازم دي. اوکه

ددے په ديوال ئے لاړے ارتولی وی نو ددے لرے کول هم لازم دی او مسنونه داده چه دغه ځائے خوشبويه کړی۔

٥ – په سرو يا سپينو زرو سره جومات ښايسته کول حرام دی، او ددے لرے کول واجب دی (اوپه اسلام کښے د ټولو نه اول کعبے او نورو جوماتونو له د سرو زرو اوبۀ وليد بن عبد الملك بادشاه ورکړی دی)۔

٦ – ددے نه علاوه په هر هغه شئ سره د جومات ډولی کول مکروه دی چه هغه مونځ گذار مشغوله کوی، لکه گلکاری کول، رنگونه ورکول، ليکل کول۔ او دا کارونه د وقف په مال سره وی نو ددے کول حرام دی او تاوان به هم ورکوی۔ البته جومات چُونه کول يا ديوالونه ئے سپينول جائز دی۔

٧ – په جومات کښے خريد او فروخت او اجاره د اعتکاف کونکی وغيره ټولو دپاره حرام دی۔ او څوك چه په دے کښے بيع او شراء کوی، هغۀ ته دا ښيرے کول مسنون دی چه الله دے ستا تجارت گټور نۀ کړی۔

٨ – په جومات کښے درزی توب او نور کسبونه کول جائز نۀ دی، لږ وی اوکه ډير، که حاجت ئے ورته وی اوکه نۀ وی۔ جومات د ذريعۀ معاش گټلو ځائے جوړول جائز نۀ دی۔

٩ – په جومات کښے کاريگر په دے انتظار کيناستل چه خلك راشی او دوئ په کرايه او مزدورئ سره د کار دپاره بوځی، ناجائز دی۔ واك او اختيار والو له پکار دی چه دوئ ددے نه منع کړی۔ البته که د جومات د دروازے نه بهر ودريږی نو بيا جائز دی۔

١٠ – اوکه کار کسب ئے غرض نۀ وی نو بيا لږ کار په جومات کښے کول مکروه نۀ دی لکه جامه يا څپلئ گنډل، البته د کسب دپاره دا کول حرام دی۔ سيوا د کتابت او ليکلو نه چه دا يو قِسم علم حاصلول دی او د علم کتابونه ډيرول دی۔ او ددے نه معلوميږی چه په جومات کښے په مزدورئ باندے ماشومانو ته خط او کتابت ښودل جائز دی، په دے شرط چه جومات په سياهی وغيره نۀ گنده کوی۔

١١ – مسنون دی چه جومات د هغه ماشوم نه وساتلے شی چه تميز نۀ لری، او د ليونی نه د ليونتوب په حالت کښے، د آوازونو او جگړو نه، او د ډيرو لغوه خبرو نه۔ او په مکروه شيانو سره د آواز پورته کولو نه، او د ماشومانو د لوبو په وخت د آوازونو نه۔ دارنگه د

چنپے وهلو او د لاسونو پړقولو او د ښځو او سړو د ګډون نه۔
خو ماشوم چه کله د مور سره وی نو بیا باك نۀ لری، لکه مخکښے تیر شو۔
١٢ – په جومات کښے مونځ ګذارو یا بل چا ته په قول او فعل سره ضرر ورکول منع دی ځکه حدیث کښے دی : (تلاوت کونکی د مونځ ګذار سره انصاف ونۀ کړو)۔ قاسمیؒ وائی : په دے الفاظو ددے حدیث هیڅ بنیاد نشته۔ [کمافی المقاصد الحسنة وغیره] ددے حدیث نه دا راتلونکے حدیث استغناء راولی چه نبی ﷺ فرمائی : (په تاسو کښے دے ځینے په ځینو نورو باندے په قرآن لوستلو سره جهر نۀ کوی)۔او دا صحیح حدیث دے۔
١٣ – بیخوده سړے به جومات ته د ننوتو نه منع کولے شی۔
١٤ – په جومات کښے دننه د فقه او اجتهاد په مسائلو کښے بحث او مناظره کول جائز دی، خو په دے شرط چه مقصد ترے د حق تالاش وی۔ اوکه چرے په یو بل باندے ځان غالبه کول او نفرت خورول وی نو ددے حکم په بے فائدے خبرو کښے د جګړو او ډُوړو دے چه دا بیا په جومات کښے کول جائز نۀ دی۔
١٥ – په جومات کښے نکاح تړل، فیصلے کول، مباح شعرونه ویل او علم او ددے سره تړل شیان ښودل جائز دی۔
١٦ – په جومات کښے د مریض وسیدل او ددۀ خیمه په دے کښے لږیدل او دیته اوښ ننه ایستل جائز دی۔
١٧ – د ضرورت نه بغیر د جومات نه لار جوړول مکروه دی، او دا هم په ضرورت کښے حساب دی چه په جومات باندے لاره نزدے وی، چه ددے په وجه کراهت ختمیدے شی۔
١٨ – په جومات کښے د جنب ایساریدل حرام دی (د حراموالی په باره کښے هیڅ حدیث ثابت نۀ دے، هو ! د صحابه کرامو z نه ثابت دی چه کله به دوئ په جومات کښے ایساریدل وغوښتل نو اودس به ئے کولو۔ ناصر الدینؒ)۔ اوکه اودس ئے وکړو نو په دے کښے ایساریدل جائز دی۔
١٩ – د معتکف وغیره دپاره په جومات کښے خوب کول جائز دی، خو د مونځ ګذارو مخے ته به نۀ اوږدۀ کیږی۔
٢٠ – د خرابو شعرونو او ګانو آوریدو، او ورك شوی شئ تالاش کولو او د حد قائمولو او

د تورے راویستلو نه جومات ساتل مسنون دی۔
۲۱ – په دے کښے ګپ شپ، فضول خبرے او دنیوی ګفتګو کول او په دے فائده اخستل او د تبرك دپاره ددے کانړی او خاوره ویستل مکروه دی۔
۲۲ – د جومات بزکی او ډیوے او ددے د ښیګړو دپاره نور وقف شوی شیان به په خپلو ښیګړو کښے نۀ استعمالوی۔ لکه په ودونو او تعزیت کښے۔ ځکه ددے کارونو دپاره دغه شیان نۀ دی وقف شوی، د کومو کارونو دپاره چه وقف شوی وی، هم د هغے دپاره به استعمالولے شی۔
۲۳ – چا لپاره چه په جومات کښے خوراك کول جائز وی، هغه به ددے بزکے نۀ ګنده ګوی او نۀ به په جومات کښے هډوکی وغیره ارتوی، ځکه دے سره جومات ګنده کیږی، اوکه دا کارئے وکړو نو بیابه ئے پاکوی۔
۲٤ – په جومات کښے وُنے کرل او کوهے ویستل جائز نۀ دی۔ اوکومے وُنے چه پکښے کرل شوی هغه به پریکولے شی۔
۲۵ – په دے کښے دننه جماع کول حرام او ددے په چت باندے کول مکروه، او ددے په دیوال باندے متیازے کول او اودس وچول مکروه دی، او په دے کښے تشے متیازے کول حرام دی اګرکه په لوښی کښے ئے وکړی۔ او په دے کښے رګ وهل، ښکر لړول، قے کول وغیره حرام دی، اوکه دیته سخت ضرورت راشی نو معتکف به د جومات نه بهر ووځی اوبیا به راننوځی۔
۲٦ – په دے کښے اودس او غسل کول جائز دی که ضرر چاته نۀ رسی، البته لاړے او ګرینګ به پکښے نۀ ارتوی۔
۲۷ – د جومات دروازے د مانځه د اوقاتو نه علاوه په نورو وختونو کښے بندول جائز دی، دے دپاره چه دیته هغه خوك رانشی چه د هغوئ راتګ مکروه دے لکه لیونے، بیخوده او بے تمیزه ماشوم۔
۲۸ – په دے کښے سپړه، وربه وژل جائز دی که د وژلو نه پس ئے وباسی۔ اوکه نۀ وی نو په دے کښے ئے ارتول حرام دی۔
۲۹ – په جومات کښے راغوندیدل جائز دی، مګر د خراب او د ګناه په کار۔

۳۰ – په دے کښے د معتکف او نورو دپاره خوراك كول جائز دى دارنګ ستونى ستغ پريوتل جائز دى د چاچه پرتوګ وى.

۳۱ – په جومات کښے صدقه، خيرات غوښتل او وركول مكروه دى ځكه دا په مكروه كار باندے مدد كول دى، او په سوال كونكى باندے صدقه كول مكروه نۀ دى او نۀ د هغه چا دپاره مكروه دى چه خطيب ورله سوال كوى.

زۀ وايم : ددے مسئلے تحقيق مخکښے تير شو.

۳۲ – د ننوتو په وخت به ښئ خپه او د راوتو په وخت به ګسه خپه وړاندے كوى.

۳۳ – په جُمعو او اخترونو کښے ئے خوشبويه كول او د حاجت مطابق ډيوے بلول مسنون دى. او د حاجت نه زيات پکښے ډيوے بلول – خصوصًا د پنځلسى په شپه او په ليلة الرغائب کښے يعنى د رجب د اولنئ جُمعے په شپه زياتے ډيوے بلول – بدعت او مال ضائع كول او داسے كار كول دى چه نۀ پکښے دينى نفع شته نۀ دنيوى، بلكه د شور او زوږ او د مونځ ګذارو توجه خرابولو سبب ګرځى. دارنګ دا حكم په رمضان کښے د اذان خانو د رونړولو هم دے.

۳٤ – په جومات کښے د فقهاؤ او قاريانو په حلقو کښے دننه لاره كول منع دى، دے دپاره چه د هغے حرمت او عزت باقى وى.

۳۵ – ثوك چه په جومات کښے كينى هغۀ له مستحب دى چه مخ په قبله كينى، او قبلے ته خپے كول مكروه دى. (په دے خبره د استحسان نه سيوا بل هيڅ دليل نشته. ناصر الدينؒ).

۳٦ – په پليته ختہ باندے ددے اخيړول او په پليتو ختتو وغيره ؤ باندے ددے جوړول مكروه دى.

۳۷ – په دے کښے خيمه وهل او د بزكى كوته جوړول جائز دى، لكه دا په حديث کښے راغلى دى.

۳۸ – د امام نه سيوا د بل چا دپاره په يو ځائے کښے هميشه لپاره ودريدل او مونځ كول مكروه دى، كه په يو ځائے کښے مونځ كوى، نو دا كس په دے ځائے باندے د بل چا نه زيات حقدار نۀ دے، دے وجے نه كله چه دا ددے نه پاسى نو بل ثوك پکښے كيناستلے شى.

۳۹ – د هيچا دپاره دا جائز نۀ دى چه ددے نه يو انسان پاسوى او په هغے کښے خپله

کیني - اګرکه ځوئے ئے هم وی - او یا بل ځوك کینوی، البته ماشوم به د غوره ځائے نه روستو کولے شی۔

٤٠ - ځوك چه د عذر د وجے د خپل ځائے نه پاسی بیا ورته واپس شی نو دا ددے زیات حقدار دے، ځکه دے ورته مخکښے راغلے۔ اوکه په غیر د عذر نه پاسی نو پاسیدو سره ددهٔ حق ختم شو ځکه دهٔ ددے ځائے نه اعراض وکړو۔ البته که جانماز وغیره په خپل ځائے کښے غوړیدلے پریدی نو ددهٔ نه سیوا بل ځوك دا نشی پورته کولے۔

٤١ - ځوك چه د مانځه یا په بله اراده جومات ته ننوځی نو مناسب دی چه په جومات کښے د وسیدو د وخته پورے د اعتکاف نیت وکړی په دے شرط چه روژه دار وی۔

٤٢ - چا چه د خپل کور لاندے برخه جومات جوړ کړو نو دا صحیح ده او په بره چت به خپله نفع اخلی۔ یا ئے بره چت جومات وګرځولو نو دا هم صحیح ده او په لاندے چت به نفع اخلی ځکه ئے چه خوښه وی۔ او بعضے وائی : صرف په دویم به نفع اخلی۔

٤٣ - د جامع جوماتونو نه ګیر چاپیره علاقے نه که نفع اخستلو کښے جوماتونو والو ته ضرر وو، نو دوئ به ددے نه منع کولے شی ځکه مونځ ګذار د نورو نه زیات حقدار دی۔ اوکه ددے نه په نفع اخستو کښے ضرر نه وو، نو ددے په خوا وشا علاقه باندے نفع اخستل جائز دی ځکه په دے کښے د عامو مسلمانانو حق دے۔

٤٤ - په مقبره کښے جومات جوړول جائز نهٔ دی، او په قبر باندے د آبادیدونکی جومات وقف کول صحیح نهٔ دی، او نهٔ هغه کور وقف کول صحیح دی چه په هغے کښے په قبر باندے جومات وی۔ دارنګ په قبر باندے د شمع بلولو وقف کول یا په قبر باندے د خوشبوئے لړولو وقف کول جائز دی۔ او نهٔ په هغه چا باندے وقف کول جائز دی چه هغه د قبر خواته مجاوری کوی یا ئے خدمت کوی یا ئے زیارت کوی۔

٤٥ - په جومات کښے چه ځوك سر ګومنزوی او ویښتهٔ راجمع کوی او هسے ئے نهٔ پریدی نو په دے کښے باك نشته۔ خو ویښته پریښودل مکروه دی، ځکه جومات به د هغه خس او خشاك نه هم صفا کولے شی چه هغه په سترګه کښے پریوزی۔

د (الاقناع) او ددے د شرح نه د وقف په باره کښے نور جزئیات :

٤٦ – کـه څوك د جومات د ډیوے بلولو دپاره تیل صدقه کړی نو جائز دی، ځکه جومات روښانه کول مستحب دی، او ددے وقف کول د اوبو د وقف کولو پشان دی۔

٤٧ – د قبر روښانه کولو، د هغے د خوشبویه کولو او د هغے خواته د منجاور ساتلو یا د هغے د خدمت او زیارت کولو دپاره څۀ شے وقف کول صحیح نۀ دی۔ دارنګه د قبر دپاسه په جومات جوړولو باندے وقف کول صحیح نۀ دی۔ او نۀ په هغه کور باندے وقف کول صحیح دی چه په هغے کښے قبر وی او جومات ترے جوړیږی۔ ځکه ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : (رسول الله ﷺ په زیارت کونکو ښځو او په دے باندے جوماتونه جوړونکو او ډیوے بلونکو سرو باندے لعنت ویلے دے)۔

(حارثیؒ وائی : دا حدیث ابوداود، ترمذی او نسائی نقل کړے۔زۀ وایم : ددے سند ضعیف دے، او دا حدیث د ډیوے د قید ذکر کولو نه بغیر صحیح دے، لکه ددے تحقیق په سلسلة الاحادیث الضعیفة ٢٥٥، کښے شوے)۔

٤٨ – د جومات د آبادئ دپاره چه کوم شے وقف شوے وی په هغے باندے د مسجد مناره جوړول یا روغول یا منبر جوړول یا د چت دپاره پارسنګ (اندرپایه) اخستل یا مِنیٰ جوړول تهول جائز دی، ځکه دا د جومات حقوق او ښیګړے دی۔ البته په دے سره به بیت الخلاء نۀ جوړوی ځکه دا د جومات سره منافی ده۔ او نۀ به پرے په سرو او سپینو سره جومات ښائسته کوی او نۀ په رنګ سره ځکه ددے نه منع راغلے۔او دا آبادی هم نۀ ده۔ بلکه که دا شیان شرط کړی نو دا شرط کول هم صحیح نۀ دی ځکه دا نۀ د ثواب کار دے او نۀ په مباحو کښے داخل دی۔ دارنګ په دے سره به جارو ګانے او کرندی هم نۀ اخلی ځکه دا نۀ آبادی ده او نۀ د آبادئ سبب دے۔ اوکه مال ئے د جومات او ددے د ښیګړو دپاره وقف کړے وو، نو بیا ددے خرچ کول په هر قِسم آبادئ او په بزګی او په کرندو او کودالو او ډیوو او خشاکو او د امام او مؤذن او نګران په تنخوا کښے جائز دی، ځکه دا تهول شیان د جومات په ښیګړو کښے عرفًا او وضعًا داخل دی۔

٤٩ – شیخ تقی الدینؒ وائی : کوم شے چه د بیت المال نه اخستل کیږی نو دا عوض او

اجرت نۀ دے بلکه دا په طاعت باندے د مدد کولو دپاره رزق دے، دارنګ کوم مال چه د خير او ښيګړے دپاره وقف شوے وی يا پرے وصيت شوے وی يا ددے دپاره ئے منخته شوے وی نو دا د اجرت او انعام پشان نۀ دے. يعنی څوك چه د اجر اوثواب په کارونو باندے د اجرت اخستلو نه منع کوی، هغه د هغه شئ اخستلو نه منع نۀ کوی چه هغه په وقف کښے شرط کړے شوے وی. ځکه حارثی ويلی دی چه کله وقف د بيت المال نه نۀ وی نو اخستل ئے جائز نۀ دی، اوکه د بيت المال نه وی لکه د بادشاهانو وقفونه شو د بيت المال نه نو دا حقيقی وقف نۀ دے بلکه هر هغه څوك چه د هغۀ دپاره د بيت المال نه خوراك کول جائز وی نو ددے نه ورله هم خوراك کول جائز دی، لکه په دے باندے صاحب د المنتهی د شيخ رملی په موافقت باندے د ابن طولون وغيره د جامع مسجد په باره کښے فتویٰ ورکړيده.

٥٠ – وقف شوے شے خرڅول، يا هبه کول، يا بدلول اګرکه ددينه په بهتر شئ وی، جائز نۀ دی. ځکه نبی ﷺ فرمائی : ددے اصل به نشی خرڅولے اونۀ به هبه کولے شی او نۀ به په ميراث کښے وړلے شی. [بخاری مسلم، ارواء : ١٥٨٢].

امام ترمذیؒ فرمائی : په همدے باندے د علماؤ عمل دے. او د صحابه کرامو اجماع هم په دے راغلے. البته که ددے مقصدی منافع د شاړ کيدو يا بلے وجے نه بيکاره شی چه هيڅ قِسم فائده ترے نۀ ولاړيږی او ددے آبادول او بيرته نفع مند جوړول ممکن نۀ وی. اګرکه دا مسجد وی او په خلکو تنګ شی او په خپل ځائے کښے ددے فراخول ګران شی يا ئے محله شاړه شی او يا ئے ځائے ګنده وی نو ددے خرڅول درست دی، او ددے پيسے به ددے پشان جومات باندے خرچ کولے شی، ځکه د مال ضائع کولو نه منع راغلے او دا په خپل حالت پريښودل مال ضائع کول دی، دے وجے نه خرڅولو سره ددے حفاظت کول واجب دی. بله دا چه د وقف مقصد په ثمرے او ميوے سره حاصليږی نۀ په ذات د هغے سره. نو ددے د خرڅولو په بندولو سره دا بيکاره کيږی. بله دا چه دے کار سره اګرکه د وقف شکل وران شو خو مقصد ئے باقی دے. نو دا کار به ضروری وی. او په حديث کښے چه نۀ خرڅول راغلی نو دا هغه وخت سره خاص دے چه کله ترے مقصد ولاړيږی او فائده ورکوی.

ابن رجبؒ وائی : د امام احمدؒ په ډير ظاهر روايت کښے دی چه دا جومات خرڅول اوددے

په پیسو باندې بل جومات په بل کلی کښې جوړول جائز دی، هر کله چه په اولنی کښې ددې ضرورت ختم شی۔

٥١ – د کوم جومات خرڅول چه جائز دی، د هغې سامان او کباړ بل جومات ته نقلول جائز دی که هغه ورته محتاج وی۔ ځکه ابن مسعود ﷺ جامع مسجد په کوفه کښې د تمارینو د علاقې نه نقل کړې وو۔ او ددې نقلول د خرڅولو نه بهتر دی ځکه په دې کښې په غیر د خلل نه نفع باقی پاتې وی۔ خو دا ضروری ده چه د جومات سامان به د جومات نه علاوه مدرسې یا سرائې یا کوهی یا حوض یا پل ته نشی نقل کولے۔ دارنګ ددې شیانو چه کوم آلات او اسباب دی، دا به هم ددې نه علاوه نورو شیانو ته نشی نقل کولے۔ بلکه د همدې پشان شیانو باندې به لږولے شی۔ امام عبادهؒ فتویٰ ورکړې چه د بلې زمکې نه د وقف آبادول جائز دی کله چه دا زمکه د وقف په طرف کښې وی، خو ابن رجبؒ دا په خپلو طبقاتو کښې مکروه ګڼړلے۔ په الانصاف کښې وائی : دا قوی قول دے او په همدې باندې د خلکو عمل دے۔

٥٢ – د جومات آبادی نوې کول د مصلحت د وجې جائز دی، لکه د عائشې k په صحیح حدیث کښې دی : (که چرې ستا د قوم زمانه جاهلیت ته نزدې نۀ وې نو ما به د بیت الله د نړولو حکم کړې وې او په دې کښې به مې هغه علاقه ننه ایستلې وې کومه چه بهر کړې شوې ده)۔

[حدیث صحیح مخرج فی الصحیحة : ٤٣].

٥٣ – د جومات مناره نړول او د جومات په دیوال کښې جوړول د مضبوطیا دپاره جائز دی۔

٥٤ – د جومات د حاجت نه چه کوم پوړ بزګې، تیل، غله، سامان، کباړ او روپۍ زیاتی شی، نو بل مسجد ته ددې ورکول چه هغه ورته محتاج وی جائز دی، ځکه دا په همدې نوعه باندې خرچ کیږی، دارنګ په فقیرانو مسلمانانو باندې ددې شیانو صدقه کول جائز دی۔

٥٥ – کوم شے چه جومات یا حوض دپاره وقف کړې شو، او ددې نه نفع اخستل بیکاره شو، نو ددې نقلول بل جومات یا حوض ته جائز دی۔

٥٦ – که ضرورت وی او تنګ والے نۀ راځی نو په جومات کښې کوهے کنستل جائز دی۔

۵۷ – کـه یو جومات شاړ شي او خلك ترې تس نس شي نو دا د ابویوسفؒ په نیز د وقف کـونـکـي مـلـکـیت ته دوباره نهٔ واپس کیږي، نو ددې سامان به د قاضي په اجازت خرڅولې شي او ددې پیسې به په نورو جوماتونو خرچ کولې شي۔

۵۸ – کـه عـامـه لاره فـراخـه وه او پـه دې کښې مـحـلې والو د عامو خلکو دپاره جومات جـوړولـو او پـه لاره تیـریـدونکو ته ضرر نهٔ وو، نو علماؤ ویلي چه دا باك نهٔ لري۔ او دا د ابو حنیفهؒ او محمدؒ نه نقل دي۔ ځکه لاره او جومات دواړه د مسلمانانو دپاره دي۔ اوکه د لارې نـه د جـومات فراخوالي ته ضرورت شي یا د جومات نه د لارې فراخولو ته ضرورت شو او په دې کښې د یو نه بل ته ضرر نهٔ وو، نو دا کار جائز دې۔

۵۹ – کـه جـومات په خلکو تنګ شي او ددې جومات خواته د یو سړي مملوکه زمکه وي، نـو د هـغـهٔ نـه بـه دا زمکه په زوره په قیمت سره اخستلې شي۔ دې دپاره چه عام ضرر ختـم کـړې شي۔ اوکـه دغـه زمـکـه د مسجد دپاره وقف وه، او خلکو ددې نـه د جومات فراخول غوښتل نو دا کار د قاضي په اجازت سره جائز دې۔

٦٠ – کـه د جـومات متولي اراده وکړه چه د جومات په حرم یا صحن کښې دکانونه جوړ کـړي، ابـو الـلیـثؒ وائـي : دهٔ لـه جائز نهٔ دي چه د جومات د څهٔ برخې نه آمدني یا استوګنه جوړه کړي۔

٦١ – که محلې والا د جومات دروازه د یو ځائې نه بل ځائې ته اړوي، نو دا جائز دي۔

٦٢ – کـه چا وصیت وکـړو چـه زمـا د مال دریمه برخه دې د خیر په کارونو کښې ولږولې شـي، نـو ددې نـه د جـومـات دپاره ډیـوه اخسـتـل جائز دي، خو د یوې ډیوې نه زیات به نهٔ اخلي اګرکه په رمضان کښې وي، ځکه دا اسراف دې۔

٦٣ – که چا د جومات جوړولو دپاره وصیت وکړو، دا وصیت به صرف آبادئ ته اړولې شي نهٔ ښائسته کولو او ډولي کولو ته، او منارې ته به اړولې شي ځکه دا د جومات آبادي ده۔

٦٤ – کـه متـولـي او نـګران د وقف د آمدنئ نه د جومات د آبادئ ګلکاري وکړه نو دا به تاوان ورکوي۔

٦٥ – کـه یـوه زمـکـه د جـومـات جـوړولو دپاره وقف کړې شوه، نو چـه کـوم شـے ددې د جـوړولـو نـه زیـاتي شي هغه به د فقیرانو دپاره وي۔ او که د جومات آمدني راجمع شوه او

جـومـات آبادولو تـه محتاج نهٔ وو، نو بلخيؒ وائی : آمدنی به بندولے شی ځکه ډیر کرته په جومات کښے څهٔ کار راتلے شی او زمکه په داسے حالت کښے ګرځی چه آمدنی نهٔ ورکوی۔
ابو جعفرؒ وائی : البته که د جومات د حاجت نه سیوا شی نو د وقف کونکی د شرط مطابق به دا په فقیرانو خرچ کولے شی۔

٦٦ – کـه جومات د هواء رالوتو په ځائے کښے وو چه باران د جومات دروازه او دننه او بهر ځایـونـه لـونـدول او خـلـکـو تـه جـومـات تـه پـه راتګ کښے تکلیف وو، نو جائز دی چه د جـومـات د آمدنئ نه ددے دپاره برنډه جوړه شی، په دے شرط چه تیریدونکو ته په دے سره تکلیف نهٔ وی۔

٦٧ – د جومات متولی نشی کولے چه د جومات ډیوه خپل کور ته یوسی۔

٦٨ – پـه اقـنـاع کښے وائـی : کـه جومات وغیره تـه ئے د سرو یا سپینو زرو قندیل (ډیوه، فانوس) وقف کړو، نو دا وقف صحیح نهٔ دے بلکه حرام دے۔

مـوفـقؒ وائی : دا وقف داسـے دے لـکـه پـه جومات باندے ئے چه صدقه کړے وی، نو دا به مـاتـولے شی او د جومات په بنیګړه او آبادئ کښے به لږولے شی۔ او د جومات چت او دیوال لـه د سرو او سپیـنـو زرو اوبـهٔ ورکـول حـرام دی، ځـکه دا اسراف دے او دا د کبر او د فقیرانو خلکو د زړونو ماتیدو سبب دے، او د نورو منکراتو پشان ددے لرے کول واجب دی۔

[انتهی ما فی الاقناع وشرحه].

وصلی اللّٰه تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وآله وصحبه أجمعین.

ooooooooo

باب الستر وما یلزم المصلی من الثیاب وما لا یلزمه

د لباس او ضروری او غیر ضروری جامو احکام او مسائل

په مانځه کښې یا بهر د مانځه نه د ښځې سر ښکاره کول

۶۱۳ - **سوال** : په مانځه کښې د ښځې سر ښکاره کول یا په کور کښې یا د پردو سړو مخامخ یا په یواځې والی کښې څۀ حکم لری ؟

جواب : دا خبره یاده ساته چه د ښځې سر په دوه حالتونو کښې عورت دے۔ (۱) د مانځه حالت۔ (۲) د پردو سړو مخامخ۔

(۱) نو په ښځه باندے واجب دی چه په مانځه کښې به ټول سر پټوی، برابره خبره ده که ددے په خوا کښې څوك وی اوکه نه ؟ دارنګه که د خلکو مخامخ مونځ کوی اوکه په تیارهٔ کوټه کښې مونځ کوی چه د الله نه سیوا ئے بل هیڅوك نۀ وی، په دے ټولو صورتونو کښې به سر پټ ساتی۔ اوکه په مانځه کښې ئے ویښتۀ ښکاره شو نو د علماؤ په اتفاق سره ددے مونځ فاسد شو۔ ځکه دا د الله تعالیٰ خالص حق دے او الله تعالیٰ ئے په هر ځائے کښې وینی۔

بله دا چه نبی ﷺ فرمائی : [لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ].

(د بالغے جینئ مونځ د لوپټے نه په غیر نۀ کیږی)۔

[ابوداود : ۱/۱۰۱، ترمذی : ۱/۸۶، مشکاة : ۱/۷۳].

د حائضے نه مراد بالغه ده، او ځینے وائی د حائضے نه مراد د حیض قابله جینئ ده، دے دپاره چه ماشومے ته هم دا حدیث شامل شی، ځکه د هغے سر پټول هم د مانځه د صحت دپاره شرط دی۔

د ابو قتاده رضی الله عنه په حدیث کښې دی، نبی ﷺ فرمائی : (الله د ښځې مونځ تر هغه وخته پورے نۀ قبلوی چه خپل زینت او ډول ئے پټ کړے نۀ وی، او نۀ د هغه جینئ مونځ قبلوی

چه حیض ته رسیدلے وی تر څوئے چه سر پټ کړے نۀ وی)۔

[رواه الطبرانی فی الأوسط والصغیر، انظر المرعاة : ٤٧٨/٢، نصب الرایة : ٢٩٦/١، مجمع الزوائد : ٥٢/٢، التلخیص الحبیر : ٢٧٩/١].

او د حدیث نه معلومه شوه چه د ښځے سر عورت دے، دارنګ معلومه شوه چه د مانځه په وخت د ښځے سر او څټ پټول هغے لپاره واجب دی۔ او په دے باره کښے اصیلے او وینځے ټولے ښځے برابرے دی۔

دارنګه د پورتنی حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د مانځه دپاره عورت پټول شرط دی۔

(٢) او د پردو سړو مخامخ هم ښځے له سر پټول واجب دی، ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوۡبِهِنَّ﴾ (ښځے دے خپل پړونی په خپلو ګریوانونو راوا چوی)۔

او الله فرمائی : ﴿يُدۡنِيۡنَ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ جَلَابِيۡبِهِنَّ﴾ (په خپلو ځانونو دے خپل څادرونه رانزدے کړی)۔

او نبی اکرم ﷺ فرمائی : [إِنَّ الۡمَرۡأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الۡمَحِيۡضَ لَنۡ يَّصۡلِحَ أَنۡ يُّرٰى مِنۡهَا إِلَّا هٰذَا وَهٰذَا، وَأَشَارَ إِلٰى وَجۡهِهٖ وَكَفَّيۡهِ].

(ښځه چه کله بلوغ ته ورسیږی نو ددے دواړو اندامونو نه سیوا د هغے نور اندامونه لیدل کیدل مناسب نۀ دی، او نبی ﷺ خپل مخ او دواړو ورغوو ته اشاره وکړه)۔

[ابوداود، مشکاة : ٣٧٧/٢].

او دا صحیح حدیث دے۔

علقمه بن ابی علقمه د خپلے والدے نه روایت کوی، دا وائی : د عبد الرحمن لور حفصه، عائشے k کره ورغله او د هغے په سر نرئ لوپټه وه، نو عائشے ترے هغه وشلوله او پیړه لوپټه ئے ورپه سر کړه۔

[موطأ مالك، مشکاة : ٣٧٧/٢].

نو دا ټول صحیح دلائل دی په دے خبره چه د پردو نارینه ؤ مخامخ د ښځے سر عورت دے۔

(٣) دریم حالت دادے : چه ښځه په خپل کور کښے وی یا د محارمو (نزدے خپلوانو) سره وی، نو هغے له جائز دی چه خپل سر او د خپل ډول ډال ځایونه ښکاره کړی۔ ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَلَا يُبۡدِيۡنَ زِيۡنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوۡلَتِهِنَّ اَوۡ آبَاءِ بُعُوۡلَتِهِنَّ﴾ الآیة.

(او ښځې به د خپل ډول او ښائست ځايونه نۀ ښکاره کوي مګر خپلو خاوندانو او سخرانو ته ......).

دے آيتِ کريمه نه معلومه شوه چه ښځه د خپل ډول او ښکلا ځايونه هغه خپلوانو ته ښکاره کولے شي کوم چه په دے آيت يا نورو آيتونو کښے ذکر شوي دي. او کله چه ښځه يواځے وي نو په طريقه اولیٰ سره خپل سر ښکاره کولے شي. نو په دے کښے په هغه چا رد دے چه هغوئ وائي : په ښځه باندے هميشه دپاره خپل سر پټول واجب دي که ثوك وي اوکه نۀ وي، او وائي : ښځه چه سر ښکاره کړي نو لعنت پرے نازليږي. دا خبره د بے علمه او ناپوهه خلکو ده.

دا وجه ده، شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائي : که ښځه يواځے مونځ کوي نو ديته حکم دے چه خپل سر به پټ ساتي. او د مانځه نه بهر هغے له جائز دي چه په خپل کور کښے خپل سر ښکاره کړي، ځکه په مانځه کښے زينت اخستل او سر پټول د الله د حق د وجے دي، نو هيچا دپاره جائز نۀ دي چه په بربنډه طواف وکړي اګرکه يواځے د شپے ولے نۀ وي. دارنګه په بربنډه به مونځ نۀ کوي اګرکه يواځے وي. نو معلومه شوه چه په مانځه کښے ستر پټول دے دپاره نۀ دي چه خلك ورته ګوري. مونځ کونکے په مانځه کښے هغه شے پټوي چه د مانځه نه بهر د هغے ښکاره کول ورله جائز وي، اوکله په مانځه کښے هغه شے ښکاره کوي چه هغه د سړو نه پټوي.

د اول مثال لکه دواړه اوګے شوے، چه نبي ﷺ سړے ددے نه منع کړے چه په داسے يوه جامه کښے مونځ وکړي چه د هغے څۀ برخه ئے په اوګه نۀ وي اچولې. نو دا د مانځه حق دے، او د مانځه نه بهر سړي له دواړه اوګے ښکاره کول جائز دي. دارنګه اصيله ښځه په مانځه کښے لوپټه پسروي، لکه نبي ﷺ فرمايلي : (د بالغے جينئ مونځ د لوپټے نه په غير نۀ کيږي) حالانکه د خاوند په خوا کښے ښځه لوپټه نۀ پسروي اونۀ د محارمو (او نزدے رشته دارانو) خواته. ځکه ددے خلکو مخامخ ښځے له خپل ډول ډال ښکاره کول جائز دي. او په مانځه کښے ورله دا جائز نۀ دي چه خپل سر دغه خلکو يا نورو پردو خلکو ته ښکاره کړي.

[مجموع الفتاوی : ۱۱۳/۲۲، حجاب المرأة، ص : ۲٤].

په مانځه کښې لنګ يا پينځې ښکته کول

٦١٤ – سوال : (١) چا چه خپل لنګ يا پينځې ښکته کړې وي او مونځ کوي، ددۀ مونځ فاسد شو او کـه نـه ؟ (٢) او د زوړندولو حکم صرف لنګ پورې خاص دے او که په پرتوګ وغيره کښې هم راځي ؟ (٣) ځينې خلك وائي : امام چه خلکو ته وائي (پينځې پورته کړئ) نو دا بدعت دے. دا خبره څنګه ده ؟

جواب : (١) اول مونږ په دے باره کښې راغلي حديثونه ذکر کوو، بيا روسته ترے حکم راوباسو، ان شاء الله تعالیٰ.

١ – ابن مسعود رضي الله عنه وائي : ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل چه فرمايل ئے : [مَنْ أَسْبَلَ إِزَارَهُ خُيَلَاءَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ حِلٍّ وَلَا حَرَامٍ].

(چا چـه خپل لـنګ د تکبر د وجے زوړند کړو، نو دے نۀ د الله په حلالو ايمان لري او نۀ په حرامو).

[صحيح ابى داود : ١٢٦/١، رقم : ٦٣٧، بيهقى : ٣٤٢/١، الترغيب والترهيب للمنذرىؒ]

او دا صحيح حديث دے.

٢ – ابـو هريره رضي الله عنه وائي : (يـو ځـل يـو سړی پـه داسے حال کښې مونځ کولو چه لنګ ئے ښـکتـه کـړے وو، رسـول الله صلى الله عليه وسلم ورتـه وفـرمايل : لاړ شه اودس وکړه. هغه لاړ او اودس ئے وکړو. بيا راغـے، نـو يـو سړی عرض وکړو، يا رسول الله ! څۀ وجه ده چه تاسو دۀ ته د اودس کولو حکم وفرمايۀ ؟ وے فرمايل : دۀ په داسے حال کښې مونځ کولو چه دے خپل لنګ ښکته کونکے وو، او الله تعالیٰ د هغه سړی مونځ نۀ قبلوي چا چه خپل لنګ ښکته کړے وي).

[ابوداود : ٦٣٨/١، رقم : ٤٠٨٦، بيهقى : ٢٥٢/٢].

ددے حديث په سند کښې په ابو جعفر راوي کښې لږه شان کمزوري شته دے، لکه حافظ ابن حجرؒ فرمائي: دا مقبول دے (يعنې کله ئے چه متابع او موافق موجود وي). (التقريب). او بعضو ورته ثقه ويلي لکه چه شيخ زبير عليزئي حفظه الله فرمايلي.

امام نوويؒ فرمائي : دا حديث ابو داودؒ په صحيح سند سره روايت کړے.

[رياض الصالحين، ص : ٢٧٧].

او امام ترمذيؒ د ابو جعفر حديث حسن ګرځولے.

[عون المعبود للعظيم آباديؒ].

په بذل المجهود کښے دی : دے مجهول دے. .[٣٥٢/١].

٣ – ابن مسعود رضي الله عنه نه مرفوعًا او موقوفًا نقل دی چه دهٔ یو بانډه چی ولیدهٔ چه په مانځه کښے ئے څادر زوړند کړے وو، ورته ئے وفرمایل : کوم سړے چه خپله جامه د کبر د وجے په مانځه کښے زوړنده کړی هغه نهٔ د الله په حلالو ایمان لری او نهٔ په حرامو).

[السنن الكبرى : ٢٤٢/٢، شرح السنة : ١٥٧/٢].

٤ – ابو جحيفه رضي الله عنه وائی : رسول الله صلى الله عليه وسلم یو سړے ولیدهٔ چه په داسے حال کښے ئے مونځ کولو چه جامه ئے زوړنده کړے وه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته رانزدے شو او جامه ئے ترے راتاؤ کړه).

.[رواه البزار : ٢٨٦/١، والطبراني، مجمع الزوائد : ٥٠/١، عون المعبود : ٢٤١/١، مرقاة : ٢٣٤/٢].

امام بزارؒ فرمائی : په دے حدیث کښے ابو مالك نخعی خطا شوے، او معتمدو خلکو دا حدیث د علی بن اقمر په واسطه د ام عطیهؓ نه نقل کړے. او ابو مالك حافظ نهٔ دے.

زهٔ وایم : په دے حدیث کښے چه کوم سدل (جامه زوړندول) ذکر شوی، نو دا دیته وائی چه د څادر مینځ په سر کیدی او د هغے دواړه طرفونه ښی او ګس اړخ ته رازوړند کړی او دا طرفونه ئے په اوګو باندے وانهٔ چوی. [كما فی تعليق البزار].

نو دا حدیث بیا زمونږ ددے مسئلے سره تعلق نهٔ لری. البته سدل کله اسبال (جامے زوړندولو) ته شاملیږی لکه دیته امام بغويؒ اشاره کړے.

[شرح السنة : ١٠٧/٢].

امام بیهقيؒ فرمائی : کوم حدیثونه چه د لنګ د زوړندولو نه د منع په باره کښے مطلق راغلی، د هغے نه معلومیږی چه دا کار په مانځه او بهر د مانځه نه په دواړو حالتونو کښے مکروه دے.

[السنن الكبرى : ٢٤٢/٢].

٥ – ابو هريره رضي الله عنه وائی : [نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ السَّدْلِ فِيَ الصَّلَاةِ، وَأَنْ يُّغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ].

(رسول الله ﷺ په مانځه کښې د جامې زوړندولو او خُلې پټولو نه منع فرمايلې)۔
[ابوداود: ١/١٠١، مشكاة: ١/٧٣].
ددې حديث اسناد حسن دې۔
امام خطابیؒ فرمائي: سدل ديته وائي چه جامه دومره رازوړنده کړې شي چه زمکې ته ورسي۔ نو په دې بناء بيا سدل او اسبال يو شے دې۔
ابو عبيدؒ وائي: سدل ديته وائي چه سړے خپله جامه زوړنده کړي او د هغې دواړه طرفونه خپلې مخې ته پيوسته نۀ کړي۔
[مرعاة: ١/٤٨٠].
او په دې حديث کښې چه د سدل نه کومه نهي (منع) راغلې نو دا د حراموالي دپاره ده۔
ددې حديثونو ذکر کولو نه پس مونږ وايو:
د علماؤ په دې کښې اختلاف دے چه لنګ زوړندولو او پينڅې ښکته کولو سره مونځ کيږي اوکه نه؟ نو د عامو علماؤ په نيز – اګرکه دا کار کبيره ګناه ده خو – دے سره مونځ نۀ فاسديږي۔ اوکه په هيره يا نسيان سره وي نو بيا ګناه هم نۀ ده۔ لکه نبي ﷺ فرمائي: (الله تعالیٰ دے امت ته هيره، خطا او هغه شے معاف کړے کوم چه په دوئ باندے په زوره وکړے شي)۔
او د اهلِ ظاهر په نيز که چا دا کار قصدًا وکړو او دۀ ته نهي او منع معلومه وه نو ددۀ مونځ فاسد دے۔
ابن حزم ظاهریؒ فرمائي: چاچه د کبر د وجے خپله جامه راښکله د هغۀ مونځ نۀ کيږي، او ښځه به خپله جامه يو لاس ښکته کوي نۀ زيات، که ددے نه ئے زياته ښکته کړه او منع ورته معلومه وه نو مونځ ئے باطل شو۔ او سړے چه کومه جامه اغوندي نو د هغې حق داد ے چه پړکو پورے ئے ښکته کړي، ددے نه به ئے هيڅ کله زياته نۀ ښکته کوي۔ که په هيره سره ئے دا کار وکړو نو باك نۀ لري۔ بيائے د ابن عمر رضي الله عنه مرفوعًا حديث پيش کړے (الله تعالیٰ هغه چاته د قيامت په ورځ نۀ ګوري چه د کبر د وجے خپله جامه راکاږي) نو دا منع پرتوګ، لنګ قميص او هر هغه جامے ته شامله ده چه انسان ئے اغوندي۔ بيائے د ابن عباس رضي الله عنه حديث ذکر کړے (الله جامے ښکته کونکي ته نۀ ګوري)۔

مجاهدؒ فرمائي : دا خبره به كيدله چه د چا جامه پړكي سره ولګيده، الله ئې مونځ نهٔ قبلوی)۔ نو د مجاهدؒ مراد صحابه كرام – رضى الله عنهم – دی ځكه مجاهدؒ وړوكے تابعي نهٔ دے بلكه د درميانه تابعينوؒ نه دے۔

ذر بن عبد الله مرهبيؒ نه – چه په لوبو تابعينو كښې حساب دے – نقل دی چه دا خبره به كيدله چه څوك چه خپله جامه راكاږی د هغهٔ مونځ نهٔ قبليږی۔ او ددے پورتنو خلكو خلاف د هيڅ يو صحابي نه نهٔ دے راغلے۔

علي (ابن حزمؒ) فرمائي : چاچه په خپل مانځه كښې هغه كار وكړو چه د هغے كول حرام وو، نو دهٔ په هغه طريقه مونځ نهٔ دے كړے په كومه طريقه چه دهٔ ته امر شوے، او چاچه د امر مطابق مونځ ونهٔ كړو نو ددهٔ مونځ نهٔ كيږی۔ بيا ئې د جامے راښكلو د حراموالي احاديث ذكر كړی دی۔

[المحلى : ٢/ ٣٩١].

بل ځائے فرمائي : څوك چه خپله جامه دومره سسته كړی چه پړكو سره ولړی نو په دهٔ باندے فرض دی چه اوچته ئې كړی، دے دپاره چه قصدًا جامه زوړندونكے جوړ نشي چه بيا به ئې مونځ باطل شي۔ [المحلى : ٢/ ١٢٧].

○ او د جمهورو علماؤ په نيز په دے كار سره مونځ نهٔ فاسديږی خو دا كس به منع كولے شي۔ او نهي تقاضا د بطلان نهٔ كوی۔ دا وجه ده، محمد بن رزقؒ فرمائي :

ابن حزمؒ چه ددے كس مونځ باطل ګرځولے، دا د ابن حزمؒ په دے قاعده بناء دے چه هر هغه شے چه هغه په هغه طريقه وكړے شي چه الله او رسول (ﷺ) پرے امر نهٔ وی كړے، هغه ټول باطل دے۔ او دا قاعده ددهٔ د كتاب په مباحثو كښې هر ځائے جاری ده۔ بيا فرمائي: صحيح داده چه دا قاعده په هر ځائے كښې نهٔ چليږی، او مونځ صرف په هغه نص سره باطليږی چه هغه ددے په بطلان دلالت وكړی۔

○ نو راجحه داده چه څوك قصدًا هم جامه ښكته كړی نو ددهٔ مونځ باطل نهٔ دے، اګركه حرام كارئے وكړو۔ مسلمانانو باندے واجب دی كه وس لری نو دا كس دے منع كړی۔ ځكه كوم حديثونه چه مونږ ذكر كړل هغه مطلق دی، د مانځه په بطلان باندے دلالت نهٔ كوی۔ او په كوم حديث كښې چه په ډاګه د مانځه خرابيدو او د اوداسهٔ ماتيدو خبره راغلے، نو

هغه د راجح قول مطابق ضعیف دے، ځکه په هغے کښے ابو جعفر المؤذن مجهول راوی راغلے۔

(۲) او د زوړندولو حکم لنګ پورے خاص نۀ دے: بلکه د ابن عمر رضی الله عنه په صحیح حدیث کښے راغلی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: [مَنْ جَرَّ ثَوْبَهٗ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ].

(چا چه د کبر د وجے خپله جامه راښکله، د قیامت په ورځ به ورته الله ونۀ ګوری)۔

[صحیح بخاری: ٣٤٦٥، صحیح مسلم: ٥٥٧٤].

نو په دے حدیث کښے (جامه) لفظ لنګ او پرتوګ او نورو ته شامل دے۔ لکه ددے وضاحت په مسئله نمبر (۲۵۳) کښے وشو۔

او د ابن عمر رضی الله عنه په صحیح حدیث کښے ثابت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی:

[اَلْإِسْبَالُ فِي الْإِزَارِ وَالْقَمِيْصِ وَالْعِمَامَةِ، مَنْ جَرَّ شَيْئًا خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ].

(د جامے زوړندول په لنګ، قمیص او پټکی تولو کښے راځی، چا چه په دے کښے هر یو شے د کبر د وجے زوړند کړو، الله به ورته د قیامت په ورځ ونۀ ګوری)۔

[ابو داود: ٤٠٩٦، ٢/٢١٠، نسائی: ٢/٢٩٨، ابن ماجه: ٢/٢٧٨].

نو ددے حدیثونو په عموم سره د هغه چا خبره رد کیږی چه هغه وائی: صرف لنګ راښکل حرام دی، پینځے راښکل حرام نۀ دی۔ وجه داده چه ددے علت یو دے۔ او نبی صلی الله علیه وسلم په عامو حدیثونو کښے لنګ ځکه ذکر کړے چه همدا په دغه وخت کښے رواج وو او د عامو خلکو لباس وو۔

او جامه په زمکه راښکل حرام دی، برابره خبره ده که د کبر د وجے وی او که نه وی۔ ځکه په دے باره کښے راغلی حدیثونه مطلق دی۔ بله دا چه نبی صلی الله علیه وسلم ددے حکم نه ابو بکر صدیق رضی الله عنه ویستلے وو، او هغۀ ته ئے ویلی وو چه تۀ ئے د کبر د وجے نۀ راکاږے۔

نو دا حکم هغۀ پورے خاص دے۔ او څوك چه وائی زۀ ئے د کبر د وجے نۀ راکاږم نو دا د ځان پاکی بیانوی، نو دا کبرجن سړے دے۔ نو وګوره! اول ئے نافرمانی وکړه او بیائے د عیب نه ځان بیزاره کړو۔

په دے باره کښے علامه احمد بن حجر آل بوطامیؒ یوه رساله لیکلے، د هغے نوم دے (جامه زوړندول په غیر د کبر نه)۔ د هغے کتل به نفع مند وی۔

(٣) او امام چه خلکو ته وائی : پینڅے وچتے کړئ. نو دا خبره زمونږ د علم مطابق د نبی ﷺ نه نقل نۀ ده، خو کله چه امام یو سړے ووینی چه پینڅے ئے ښکته کړے وی، نو هغۀ ته به د هغے د پورته کولو امر کوی. ځکه دا دینی قاعده ده، نبی ﷺ فرمائی : (چا چه په تاسو کښے یو خلافِ شرع کار ولیدۀ نو هغه دے لاس سره منع کړی، که وس ئے نۀ وی نو ژبے سره دے منع کړی، اوکه دا وس ئے هم نۀ وی نو زړۀ سره دے دا بد وګنړی، او دا د ایمان کمزورے مرتبه ده). [صحیح مسلم].

او څوك چه امام نۀ وی هغۀ له هم پکار دی چه ددے خبرے خبردارے خلکو ته ورکړی.

پاتے شوه دا چه د مانځه د ارادے په وخت دا خبره همیشه خپل عادت ګرځول، سره ددے چه د ټولو خلکو پینڅے وچتے وی، نو دا بدعت دے. ځینے ملګرو دا همیشه عادت ګرځولے چه کله امام محراب ته مخکښے شی نو په اوچت آواز سره وائی : خپلے پینڅے وچتے کړئ او صفونه برابر کړئ.

ددے کار نه ډېره پکار ده. بلکه نبی ﷺ به هر وارے چه کله مانځه ته پاسیدۀ نو داسے به ئے نۀ ویل چه صفونه برابر کړئ. البته دا خبره به ئے کله نا کله کوله، لکه د نعمان بن بشیر رضی الله عنه په حدیث کښے دی : [حَتّٰى رَأٰى أَنَّا عَقَلْنَا عَنْهُ ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ حَتّٰى كَادَ أَنْ يُّكَبِّرَ فَرَأٰى رَجُلًا بَادِيًا صَدْرَهٗ ......] الحديث.

(تردے چه نبی ﷺ دا ولیده چه مونږ د هغۀ نه دا خبره زده کړے ده، بیا یوه ورځ را ووتۀ او ودریدۀ، نزدے وه چه تکبیرئے کړے وے نو یو سړے ئے ولیدۀ چه خپله سینه ئے د صف نه راویستے وه...... تر آخره پورے). [صحیح مسلم، مشکاة : ٩٧/١].

او کوم کس چه امام ددے وینا نه منع کوی چه : تاسو خپلے پینڅے پورته کړئ، په داسے حال کښے چه د خلکو پینڅے ښکته وی، نو دا منع کونکے جاهل دے، ځکه دا هغه څوك منع کوی څوك چه د بدئ نه منع کوی.

نو ددے تحقیق نه معلومه شوه چه کوم امام پینڅے ښکته کړے وی، هغۀ پسے مونځ کول جائز دی، اګرکه نیك عمله امام پسے مونځ کول افضل دی. او په هر مسلمان واجب دی چه دغه امام ته د پینڅو پورته کولو امر وکړی. او توفیق ورکونکے الله تعالیٰ دے.

په فتاویٰ اسلامیه [٣٠٠/١] کښے هم راغلی چه د پینڅے ښکته کونکی مونځ درست

دے خو دا کس په دے کار سره ګنهګار دے، او واجبه داده چه دهٔ ته نصیحت وکړے شی او د حرام کار نه منع کړے شی. او په مسلمان باندے واجب دی چه د پړکی نه جامه ښکته نهٔ کړی، ځکه نبی ﷺ فرمائی: (کوم لنګ چه د پړکونه ښکته وی هغه به په اور کښے وی).

بیا فرمائی: علماؤ د هغه چا د مانځه په صحت کښے اختلاف کړے چه د هغهٔ پتلون ښکته وی، ځینے وائی: مونځ ئے صحیح دے. او ځینے وائی: مونځ ئے فاسد دے.

[وانظر احسن الفتاوی: ٣/٤٠٤، معانی الآثار للطحاوی، ص: ١٨٩].

سرتور سر مونځ کول صحیح دی

٦١٥ – **سوال**: سرتور سر مونځ کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: په ښځه باندے واجب دی چه دا به په مانځه کښے خامخا خپل سر پټوی، اګرکه په تیارهٔ کوټه کښے مونځ کوی.

پاتے شو هغه سړے دے چه هغه په غیر د ټوپۍ نه سرتور سر مونځ کوی، نو په اتفاق د مسلمانانو سره ددهٔ مونځ صحیح دے. البته په کراهت کښے ئے د علماؤ دوه قوله دی:

اول قول: دادے چه ددهٔ مونځ په غیر د کراهت نه صحیح دے. ځکه د عمر بن ابی سلمه رضی الله عنه په حدیث کښے دی: [رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يُصَلِّيْ فِيْ ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُشْتَمِلًا بِهٖ فِيْ بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ وَاضِعًا طَرَفَيْهِ عَلٰى عَاتِقَيْهِ].

(ما رسول الله ﷺ ولیدهٔ چه د ام سلمے په کور کښے ئے په داسے حال کښے مونځ کولو چه یوه جامه ئے اغوستے وه او هغه ئے د ځانه راتاوه کړے وه، او د هغے دواړه طرفونه ئے په اوګو باندے اچولی وو).

[بخاری، مسلم، مشکاة: ١/٧٢].

نو دے حدیث نه معلومه شوه چه نبی اکرم ﷺ صرف په یوه جامه کښے مونځ کړے.

او امام مسلمؒ د ابو سعید خدری رضی الله عنه نه نقل کړی، دا وائی: زهٔ نبی ﷺ ته په داسے حال کښے ورغلم چه هغهٔ په بزکی باندے مونځ کولو او په هغے ئے سجده کیښودله. او ما ولیدهٔ چه هغهٔ په یوه جامه کښے مونځ کولو، چه د ځانه ئے راتاؤ کړے وه.

[صحیح مسلم، مشکاة : ۱/۷۳].

محمد بن منکدرؒ وائی : جابر ﷛ په داسې لنګ کښې مونځ وکړو چه هغه ئې د خپل څټ سره تړلې وو، او د هغۀ جامې موړې ته پرتې وې. نو چا ورته وويل : تۀ په يو لنګ کښې مونځ کوې ؟ هغۀ ويل : دا کار ما ځکه وکړو چه ستا غونتته کم عقل سړې ما ووينی. د رسول الله ﷺ په زمانه کښې په مونږ کښې د چا دوه جامې وې ؟

[صحیح بخاری : ۱/۵۱].

دا دواړه حدیثونه په دې دلالت کوی چه نبی اکرم ﷺ او د هغۀ ملګرو په يوه جامه کښې مونځ کړې. او ددې حدیثونو نه ظاهره ده چه د دوئ ټوپئ نۀ وې، ځکه په دې روايتونو کښې ددې هيڅ تذکره نشته.

دويم قول : دادې چه څوك ټوپئ وغيره په سر کولو وس لری او ددې نه په غير سرتور سر مونځ کوی، نو ددۀ مونځ کيږی خو مکروه دې.

لکه د بيهقیؒ او طبرانیؒ په حديث کښې مرفوعًا دی : (نو الله ډير زيات لائق دې چه هغۀ ته ډول وکړې شی). [فقه السنة : ۱/۱۰۸].

او دا صحیح حدیث دې.

دارنګ شيخ الاسلام ابن تيميهؒ ذکر کړی چه ابن عمر ﷛ خپل غلام نافعؒ ته وفرمايل – هر کله چه هغه ئې وليدۀ چه سرتور سر مونځ ئې کولو – آيا تا په دې خبره سوچ کړې چه که تۀ خلکو ته وتل غواړې نو داسې به ورونځې ؟ هغۀ ويل : نه. وې فرمايل : نو الله خو ډير لائق دې چه هغۀ ته دې ډول وکړې شی.

[مجموع الفتاوی : ۲۲/۱۱۷].

په صحیح حدیث کښې دی، کله چه نبی ﷺ ته وويل شو چه يو سړې دا خوښوی چه ددۀ جامه دې ښائسته وی څپلئ دې ښائسته وی (آيا دا په کبر کښې راځی؟) وې فرمايل : الله ډولی ذات دې ډول خوښوی.

او د ابن عباس ﷛ په کوم روايت کښې چه راغلی چه نبی ﷺ به ډير کرته خپله ټوپئ وويستله او د هغې نه به ئې خپلې مخې ته ستره جوړوله : نو دا ضعيف حديث دې.

دا وجه ده، محدث العصر شيخ البانیؒ فرمائی : په دې مسئله کښې زما رائې داده چه سر

تور سر مونځ کول مکروه دي، ځکه دا منلې شوې خبره ده چه مسلمان له پکار دي چه په مانځه کښې په ښائسته اسلامي شکل او هیئت سره داخل شي، د وجې د مخکنی حدیث نه، ځکه الله ډیر لائق دے چه هغۀ ته ډول وکړے شي. او د سلفوؒ په عرف کښې دا ښائسته شکل نۀ دے چه انسان دے په مانځه کښې سر تور سر داخل شي یا په لارو کوڅو کښې سر تور سر وګرځي او د عباداتو ځایونو ته په دے حالت کښې ورشي. دا خو د غیرو خلکو عادت دے چه ډیرو اسلامي ملکونو ته ئے سرایت کړے، هر کله چه کافر اسلامي ملکونو ته داخل شول نو خپل فاسد او خراب عادتونه ئے پکښې پریښودل، نو مسلمانانو ددے خرابو عادتونو تقلید شروع کړو، چه ددے په وجه ئے خپل اسلامي شخصیت د لاسه ورکړو.

او په مصر کښې چه زمونږ بعضِ د (انصار السنة) ملګرو دا ویلی دی چه سر تور سر ګرځیدل او مونځ کول جائز دي، او قیاس ئے په محرم باندے کړے چه هغه سر تور سر ګرځي اومونځ کوي. نو دا قیاس باطل دے، ځکه د حاجي دپاره سر ښکاره کول عبادت دے، دارنګه هغۀ دپاره سر ښکاره کول واجب دي، نو بیا خو په مانځه کښې سر ښکاره کول واجب کیږي.

بیا ئے د علي رضی اللہ عنہ مرفوع حدیث ذکر کړے چه (تاسو جوماتونو ته سر تور سر او پټکو سره راځئ، ځکه پټکی د مسلمانانو تاجونه دي) فرمائي: دا حدیث سخت ضعیف دے، په دے کښې میسرة بن عبد ربه دے او دا دروغژن حدیثونه جوړونکے دے لکه چه دۀ خپله ددے اقرار کړے.

بیا فرمائي: او د خشوع او عاجزئ په نیت سر سرتورول په دین کښې یو داسے نوے حکم راویستل دي چه په دے باندے د رائے نه علاوه بل هیڅ دلیل نشته. که چرے دا کار حق وے نو خامخا به رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم کړے وے، اوکه چرے کړے ئے وے نو خامخا به مونږ ته رانقل شوے وے، او هر کله چه مونږ ته رانقل نشو نو معلومه شوه چه دا بدعت دے ځان ترے ساتل پکار دي.

ددے بحث نه معلومه شوه چه سید سابقؒ چه دا خبره کړے چه په مانځه کښې د سر د پټولو په افضلیت باندے دلیل نۀ دے راغلے، دا بهر صورت حقه خبره نۀ ده، البته که د هغۀ

مطلب دا وی چه خاص دلیل نهٔ دے راغلے، نو دا بیا منلے شوے خبره ده. خو په دے باره کښے اګرکه خاص دلیل نهٔ دے راغلے مګر عام دلیل راغلے چه هغه د مانځه دپاره ښکلے اسلامی هیئت او شکل اختیارول دی کوم چه د نن زمانے نه مخکښے د پخوانیو خلکو وو. او عام دلیل هم حجت دے کله چه ددے معارض نهٔ وی موجود.

[تمام المنة للمحدث الألبانيؒ، ص : ١٦٤، وانظر السنن والمبتدعات ص : ٦٦، والمرقاة : ٨/٢٥٠].

او مونږ په دویم جلد مسئله نمبر (١٢٤) کښے د پټکی احکام او مسائل او د سر سر تورولو حکم ذکر کړے، هغے ته رجوع کول ضروری دی.

په مانځه کښے د ښځے د قدمونو پټولو حکم

٦١٦ - **سوال** : د ښځے قدمونه په مانځه کښے یا بهر ښکاره کول جائز دی که نه؟ او کله چه ښځه مونځ کوی او د هغے قدم یا پونډۍ ښکاره شی نو ددے مونځ صحیح دے که نه ؟

جواب : صحیح خبره داده چه د ښځے قدمونه عورت دے چه په مانځه کښے او د مانځه نه بهر ددے پورتنی طرفونه پټول واجب دی. او د محارمو نه علاوه بل هیچا له جائز نهٔ دی چه دیته وګوری، ځکه دا عورت دے او عورت ته کتل جائز نهٔ دی اګرکه چا د خپلے ناپوهۍ د وجے ښکاره کړے هم وی.

په دے باندے دلائل دادی :

(١) الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ ﴾ نه تر ﴿ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ ﴾ پورے. (اونهٔ به ښکاره کوی خپل ډول. تردے ځائے پورے چه : نهٔ به وهی خپلے خپے دے دپاره چه د دوئ هغه ډول ښکاره شی کوم چه پټ دے).

نو دا آیتِ کریمه په دے دلالت کوی چه د ښځو دپاره قدمونه پټول واجب دی.

دا وجه ده ابن حزمؒ فرمائی : ددے نه په ډاګه معلومه شوه چه خپے او پونډۍ هغه اندامونه دی چه هغه پټولے شی او د هغے ښکاره کول جائز نهٔ دی.

[المحلی : ٣/٢٤٣].

(٢) ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دے، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (چا چه خپله جامه د کبر د وجے راښکله الله تعالیٰ به ورته د قیامت په ورځ (د رحمت په نظر) ونه ګوری. نو ام سلمے

عـرض وکـړو۔ نـو ښځې به د خپلو لمنو سره څهٔ کوی ؟ وې فرمایل : د نیمائی پونډئ نه به ئې ښکتـه ساتـی۔ هغې عـرض وکړو، بیا خو به د هغوئ قدمونه ښکاره شی۔ نبی ﷺ وفرمایل : نو بیا به ئې یو گز ښکته ساتی او ددې نه به ئې نهٔ زیاتوی)۔ [موطأ امام مالك، نسائی، ابوداود : ٢١٢/١، وغیرهم، مشکاة : ٢٧٤/٢].

نـو ددې حدیث نه ښکاره معلومه شوه چه د ښځې قدمونه عورت دې، ځکه نبی ﷺ ام سلمـه په خپلې وینا باندې برقراره وساتله چه (بیا خو به ئې قدمونه ښکاره شی) او داسې ئې ونه فرمایل چه باك نهٔ لری۔

او د ښځې دپاره لنگ پرتوگ راښکل جائز دی خو کبر او نخره ورله جائز نه ده۔

امام بیهقیؒ فرمائی : په دې کښې دلیل دې چه د ښځې قدم پټول واجب دی۔

[السنن الکبری : ٢٣٣/٢].

علامه شوکانیؒ فرمائی : دا حدیث دلیل دې چه د ښځې دپاره قدمونه پټول واجب دی۔

فتـاوی هیـئـة کبـار العلماء [٨٢٦/٢] کښې وائی : زیاتـه صحیـح خبره داده چه ښځو له قـدمـونـه پټـول واجب دی، د وجې ددې حدیث د ام سلمې k نـه۔ او پـه هـمدې باندې د نبی ﷺ د زمـانـې نـه اوسـه پـورې عـمـل را روان دې۔ او پـه دې پورې ځینې شرعی مسائل تړل شـوی دی۔لـکـه امام مالكؒ او نورو د ابراهیم بن عبد الرحمن بن عوف د ام ولدې نه روایت کـوی چـه دې د نبی ﷺ د بی بی، ام سلمې k نـه پـوښتـنـه وکړه چه زهٔ یوه داسې ښځه یم چه زما لمنه اوږده وی او په گنده ځائې کښې روانه یم۔ نو ام سلمې وفرمایل : رسول الله ﷺ وفرمایل : ددې نه پس چه کومه زمکه راځی، هغې سره دا پاکیږی۔

[مؤطأ : ٢٤/١، مشکاة : ٥٣/١].

او د بـنـوعبـد الاشهـل (قبیلې) یـوې ښـځې نه نقل دی، دا وائی : ما عرض وکړو، اې د الله رسوله ! جومات طرفته زمونږ یوه لاره تلې ده، نو کله چه باران وشی مونږ به څهٔ کوو ؟ وې فـرمـایـل : آیا دې نه پس داسې لاره نشته چه ددې نه پاکه وی ؟ هغه وائی : ما عرض وکړو، هو شته دې، وې فرمایل : نو دا د هغې په بدل کښې شوه۔

[ابوداود : ٦٠/١، مشکاة : ٥٣/١].

دا وجـه ده، پـخـوانـو مسـلـمـانانو به په اهلِ ذمه (کافرانو) باندې دا شرط تړلو چه د دوئ

زنانـه بـه خپلے خپے او پونـډۍ ښكاره كوى، دے دپاره چه د مسلمانانو ښځو سره ئے مشابهت رانشى۔

[اقتضاء الصراط المستقيم : ١/٣٢٠].

د بخارى او مسلم پـه حديث كښے دى : (دے ښځے لـه دے خپله خور خپل جلباب وركړى)۔ او جلباب په عربۍ كښے هغه څادر ته وائى چه ټول بدن پټوى۔

[فيض البارى : ١/٣٨٨، وانظر حجاب المرأة المسلمة، ص : ٣٧، المحلى : ٢/٢٤٨، انظر السلسلة الصحيحة : ١/٧٥٠، ٤/٤٧٨].

ددے دلائلو ذكر كولو نه پس ښكاره معلومه شوه چه د ښځے قدمونه عورت دے او دا به نۀ پـه مانځه كښے ښكاره كوى او نۀ د مانځه نه بهر۔ دارنګ ديته د سرو كتل جائز نۀ دى، ځكه د عورت نه نظر ښكته ساتل واجب دى۔

شيخ الاسلام ابن تيميۀ فرمائى : ښځے ته دا حكم نۀ دے شوے چه هغه دے په څۀ شئ سره خپلے خپے پټے كړى، نۀ په موزو او نۀ په جورابو سره۔ او نۀ ورته دا حكم شوے چه خپل لاسونه دے پـه دستانو وغيره سره پټ كړى۔ دينه معلومه شوه چه په ښځه باندے واجب نۀ دى چه په مانځه كښے دا اندامونه پټ كړى، هر كله چه ددے خواته پردى سړى نۀ وى الخ۔

[مجموع الفتاوى : ٢٢/١١٨].

زۀ وايم : ددے دپاره دليل د ام سلمے k حديث دے چه دے د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وكړه : آيا زنانه په داسے زغره او لوپټه كښے مونځ كولے شى چه په هغے باندے لنګ نۀ وى ؟ وے فرمايل : هركله چه زغره دومره فراخه وى چه ددے د قدمونو پاسنى طرفونه پټولے شى)۔

[ابوداود : ١/١٠١، حاكم، مشكاة : ١/٧٣].

او دا حديث صحيح دے۔ نو ثابته شوه چه كله ښځه د مانځه اراده وكړى نو دا به خپله لمن او خپل لنګ دومره را زوړند كړى چه د خپلو قدمونو پاسنى طرفونه پټ كړى۔ دارنګ كله چه د كوره وځى نو خپل ټول قدمونه پټول ورله واجب دى، ځكه كه دا پټ نۀ كړى نو د مزل پـه وخت بـه ئے قدم څۀ چه پونډۍ ښكاره شى لكه دا خبره په تجربے او

مشاهدے سره معلومه شوے ده۔
والله ولی التوفیق.
[وانظر: أحكام النساء لابن تيمية رحمه الله، ص: ٤٧].

کوم ځائے چه فتهو وی، هلته مونځ مکروه دے

٦١٧ – **سوال:** کوم ځائے کښے چه فتهوان وی هلته مونځ کیږی که نه؟ دارنګ که په جامه کښے فوتهو وی نو څۀ حکم دے؟

جواب: (د جوماتونو په احکامو) کښے ددے وضاحت وشو۔ مزید وایو چه: تصویر په هر صورت کښے حرام دے، البته د ضرورت حالات ددے نه مستثنیٰ دی، لکه په دویم جلد کښے ددے وضاحت شوے۔

نو هیڅ یو مسلمان له جائز نۀ دی چه په ځائے یا جامو کښے د ساه والا حیوان فوتهو او عکس جوړ کړی۔

پاتے شو دغه ځائے کښے مونځ کول: نو ظاهره داده چه دلته مونځ کول مکروه بلکه حرام دی هر کله چه ددے فوتهو او عکس عزت او احترام کیږی، ځکه د عائشے رضی الله عنها په حدیث کښے دی چه نبی ﷺ به په خپل کور کښے هیڅ داسے شے نۀ پریښوده چه په هغے کښے به فتهوان وو مګر هغه به ئے خامخا ماتولو۔

[صحیح بخاری، ابوداود].

او د احمدؒ په روایت کښے دی: (په خپل کور کښے به ئے هیڅ داسے جامه نۀ پریښوده چه په هغے کښے به فتهو وو، مګر هغه به ئے ورانوله)۔

دے حدیث نه معلومه شوه چه داسے جامے، پردے او فرشونه وغیره نۀ دی جوړول پکار چه په هغے کښے تصاویر او عکسونه وی۔

[نيل الأوطار: ١/٩٧].

بله دا چه: په دے کښے د کافرو سره مشابهت دے او دا جائز نۀ دے۔

په [فتاوی إسلامية: ١/٢٧٠] کښے دی: **سوال:** د ځینو ګینتهو په دننه طرف کښے د ځینے حیواناتو شکلونه وی، په دے کښے مونځ جائز دے که نه؟ او په کومو ګینتهو کښے چه د

صلیب شکل وی، په هغې کښې مونځ جائز دے که نه ؟

جواب : که په ګینټه کښې فتهو او عکس پټ وی اونۀ ښکاری نو په دے کښې باک نشته. اوکله چه فتهو او عکس ښکاری – برابره خبره ده که دننه وی اوکه بهر وی – نو دا جائز نۀ دے، ځکه د علی رضی الله عنه په حدیث کښې دی، نبی ﷺ ورته وفرمایل : (ته به هیڅ یو فتهو نۀ پریدے مګر هغه به ورانوے). دا شان هغه ګینټه اچول هم جائز نۀ دی چه په هغې باندے د صلیب شکل وی، مګر کله چه هغه وران او ختم کړی. ځکه حدیث کښې ثابته ده چه نبی ﷺ به هیڅ یو داسے شے نۀ لیدۀ چه په هغې کښې به صلیب وو، مګر هغه به ئے ورانولو. اهـ

دارنګ ددے فتاویٰ په بل ځائے کښې دی : په کومه مصلیٰ باندے چه بے ساه تصویرونه وی په هغې مونځ کول مکروه دی. او په کوم حدیث کښې چه راغلی چه نبی ﷺ عائشې k ته وفرمایل : (مونږ نه دے خپله نرئ پرده لرے کړه، ځکه ددے تصاویر ماته په مانځه کښې مخې ته راتلل).

[بخاری، مشکاة : ١/٧٢].

نو ددے نه د تصاویرو خواته د مونځ کولو جواز نۀ معلومیږی، ځکه په دے حدیث کښې د تصاویرو نه مراد ګلونه او د بے ساه شیانو فتهوان دی.

[ذکره ابن حجرؒ فی فتح الباری وعبید الله المبارکفوریؒ فی المرعاة : ١/٤٧٤].

ځکه نبی ﷺ د عائشے k د کور نه په دے وجه بند شوے وو چه د هغې په بالښت کښې تصویرونه وو، نو په دروازه ودریدۀ او داخل نشو.

البته دغه حدیث په دے دلالت کوی چه ګلونو او نقشونو وغیره ته کتلو سره مونځ نه ماتیږی، اګرکه مکروه ګرځی.

○ خو دلته دا اشکال کیدے شی چه نبی ﷺ به په مسجدِ حرام کښې او کعبے مبارکے ته نزدے مونځ کولو، حالانکه په کعبه کښې دننه او ګیر چاپیره بتان پراتۀ وو، نو آیا نبی ﷺ به دے طرفته په مانځه کښې توجه کوله اوکه نه ؟

ظاهره داده چه نبی ﷺ به دے طرفته توجه نۀ کوله، ځکه نبی اکرم ﷺ د بتانو او د هغې د عبادت سره سخت بغض او کینه لرله، نو بیا د مشرکانو سره څنګه مشابهت

وکړي؟ دارنګ نبي اکرم ﷺ ته هيڅ يو کافر او مشرك دا نۀ دي ويلي چه تابه هم د خپل دعوت نه مخکښې بتانو ته سجده کوله ! ښۀ سوچ وکړه !

په پليتو جامو کښې مونځ کول

٦١٨ – **سوال** : يو سړے په دے ګمان مونځ نۀ کوي چه ددۀ جامے ګنده دي، نو ددۀ دا عذر صحيح دے اوکه نه ؟

جواب : مونځ يوه داسے فريضه ده چه ددے پريښودل جائز نۀ دي۔ او کله چه د چا جامے ګنده وي نو په دۀ لازم دي چه څومره کيدے شي جامے دے پاکے کړي، څکه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ (خپلے جامے دے پاکے ساته)۔

په مانځه کښې جامے پاکے ساتل واجب دي۔ خو کله چه انسان ته پاکے جامے نۀ ملاويږي نو په همدے حالت کښې به مونځ کوي، او په دۀ باندے د مانځه راګرځول نشته۔ څکه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾ (د الله د احکامو دومره لحاظ ساتئ څومره چه ستاسو وس رسي)۔

او نبي ﷺ فرمائي : [وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ].

(کله چه زۀ تاسو ته د يو کار حکم وکړم، نو هغے ته د خپل وس مطابق راتګ کوئ)۔

[بخاري : ١٠٨٢/٢، مسلم : ٢٦٢/١].

او دے سړي هم د خپل وس مطابق کار کړے۔

او کله چه سړے مونځ کوي او په مانځه کښې دننه ورته پليتي ورسيږي، نو دا به خپل مونځ جاري ساتي، څکه نبي اکرم ﷺ په مسجدِ حرام کښې په مانځه ولاړ وو، او مشرکانو پرے د اوښانو پيروانونه، او د هغے غوشيان او وينه وا چوله، او ددے باوجود نبي اکرم ﷺ مونځ پوره کړو۔ [صحيح بخاري : ٣٨/١].

دارنګ په دے باندے د هغه صحابي حديث هم دليل دے چه هغۀ څوکدارئ ته ولاړ وو او په غشي ولږيدۀ، وينه ترے روانه وه او مونځ ئے جاري وساتو۔

[ابوداود، صحيح بخاري تعليقًا : ٢٩/١].

خو دا هله چه وينے ته پليته وويل شي۔

او کله چه انسان ته پته ولږی چه ددۀ په جامه یا څپلۍ پلیتی لږیدلے، نو که کیدے شی هغه دے د ځانه لرے کړی۔ لکه د ابو سعید خدری رضی الله عنه په حدیث کښے دی، دا وائی : (یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو ملګروته مونځ ورکولو چه ناګهانه ئے خپلے څپلۍ وښکلے او خپل ګس اړخ ته ئے کیښودے۔ خلکو چه دا ولیدل نو هغوئ هم خپلے څپلۍ وښکلے۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله مونځ پوره کړو، وے فرمایل : تاسو ولے خپلے څپلۍ وارتولے ؟ هغوئ ویل : مونږ تۀ ولیدلے چه خپلے څپلۍ دے وښکلے نو مونږ هم وښکلے۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ماته جبریل راغے او راته ئے وویل چه په دے دواړو کښے پلیتی ده۔ کله چه په تاسو کښے څوك جومات ته راشی نو هغه دے خپلو څپلو ته وګوری که په دے کښے ئے څۀ پلیتی ولیده نو هغه دے زمکے پورے راکاږی او په هغے کښے دے مونځ وکړی)۔ [ابوداود : ١٠٢/١، سنن الدارمی].

او کله چه انسان مونځ وکړی او په خپله جامه کښے ترے پلیتی هیره شی، بیا د مانځه نه پس ورته رایاد شی چه په دے کښے پلیتی وه، نو آیا مونځ به دوباره کوی اوکه نه؟

نو صحیح خبره داده چه مونځ به دوباره نۀ کوی، لکه په دے باندے دلیل د ابو سعید خدری رضی الله عنه دغه پورتنے حدیث دے، ځکه که د مانځه د صحت دپاره پاکوالے د پلیتۍ نه د ناخبرتیا باوجود شرط وے، نو بیا به رسول الله صلی الله علیه وسلم مونځ راګرځولے وے، حالانکه هغوئ دا کار ونۀ کړو۔

او د جامو پاکوالے دے اودسۍ سره فرق لری، ځکه دے اودسۍ نه پاکوالے ډیر مضبوط او بدن پورے خاص دے۔ [المغنی : ٧٥١/١].

علامه شوکانیؒ فرمائی : دا حدیث په دے دلالت کوی چه پاکوالے د مانځه د صحیح والی دپاره شرط نۀ دے ځکه نبی صلی الله علیه وسلم چه د خپلو څپلو ویستلو نه مخکښے کوم مونځ شروع کړے وو نو هغه ئے دغسے جاری وساتلو او دوباره ئے ونۀ کړو، نو دا دلیل دے چه پاکوالے د مانځه دپاره شرط نۀ دے۔

[نیل الأوطار : ١٢١/٢].

د ابوداود [٦١/١] په حدیث کښے دی : کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم صبا کړو نو څادر ئے راواخستۀ او وائے غوستلو، بیا وواتۀ او د سهار مونځ ئے پکښے وکړو، بیا کیناستۀ نو یو

سړی عرض وکړو، یا رسول الله ! دا د وینې نښه ده په څادر کښې، نو رسول الله ﷺ هغه سره د خوا اوشا علاقې نه ونیولو او ماته ئې را ولیږلو چه د غلام په لاس کښې راتاؤ شوې وو ......
او مونځ ئې را ونهٔ ګرځولو۔

بلکه شوکانیؒ ذکر کړی چه د جامې پاکوالې د مانځه دپاره شرط نهٔ دې۔

[نيل الأوطار: ١١٩/٢].

زما په نیز صحیح خبره داده چه پاکوالې ضروری دې، ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾ (خپلې جامې پاکې ساته)۔

دارنګ په دې باره کښې احادیث هم راغلی۔

په مانځه کښې اوګې پټول ضروری دی

٦١٩ – **سوال** : په مانځه کښې اوګې پټول ضروری دی اوکه نه ؟

جواب : صحیح داده چه په مانځه کښې اوګې پټول ضروری دی۔ په دې باره کښې صحیح حدیثونه راغلی :

اول : ابو هریره رضي الله عنه وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدُكُم فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيهِ مِنْهُ شَيْءٌ].

(په تاسو کښې دې څوك په یوه جامه کښې مونځ نهٔ کوی چه د هغې څهٔ برخه د هغهٔ په اوګو باندې نهٔ وی پرته)۔ [بخاری، مسلم].

دا مضبوطه نهی ده او دا د حراموالی غوښتنه کوی۔

دويم : ابو هریره رضي الله عنه وائی : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل ئې : (چاچه په یوه جامه کښې مونځ کولو نو د هغې دواړه طرفونه دې د ځان نه راوتاؤ کړی)۔ [صحيح بخاری : ٥٢/١].

نو دا قولی حدیثونه دی۔

دريم : په فعلی حدیث کښې ثابت دی چه نبی اکرم ﷺ د ام سلمې k په کور کښې په یوه جامه کښې مونځ کړې چه هغه ئې د ځانه راتاؤ کړې وه، او د هغې دواړه طرفونه ئې په خپلو دواړو اوګو باندې راچولی وو۔

[صحيح مسلم : ٢/٦١، مشكاة : ١/٧٢].

ابن قدامهؒ فرمائي : صحيح داده چه په اوګو باندے تار اچول کافي نۀ دي، ځکه نبي ﷺ فرمائي : څوك چه په تاسو کښے په يوه جامه کښے مونځ کوي نو د هغے دواړه طرفونه دے په خپله اوګه واچوي۔ (بخاري، مسلم، ابوداود)۔ بله دا چه په اوګو باندے د جامے اچولو نه مقصد ددے پټول دي او تار اچولو سره دا مقصد نۀ پوره کيږي اونۀ ديته پټوالے وائي۔ اوکوم صحابو نه چه دا نقل شوي دي نو - که دا صحيح شي - نو هغوئ ته به ددے نه سيوا بل څۀ نۀ ملاويدۀ۔ [المغني : ١/٦٥٥].

مبارکفوريؒ فرمائي : په دے حديث کښے چه د اوګو ښکاره کولو نه منع راغلے، دا د خلافِ اولىٰ دپاره اخستل شوے، نو که څوك په يوه جامه کښے مونځ وکړي او عورت ئے پټ کړے وي او اوګو باندے ئے نۀ وي اچولي نو ددۀ مونځ صحيح دے سره د کراهت نه اګرکه جامه فراخه وي۔ البته امام احمدؒ او بعضِ سلفؒ فرمائي : ددے کس مونځ صحيح نۀ دے، دے دپاره چه په ظاهر د حديث عمل وکړے شي، او همدا حقه خبره ده، ځکه د نهي همدا حقيقي معنىٰ ده او ددے نه اوړونکے شے نشته نو په همدے حقيقي معنىٰ باندے يقين پکار دے۔ [المرعاة :٢/٤٧١].

اوکه جامه تنګه وه، ددۀ عورت او اوګے ئے نۀ پټولے، نو بيابه پرے عورت پټوي او اوګے به پريدي۔ اوکه فراخه او اوږده وي نو بيا به دا دواړه پټوي۔ لکه د جابر ﷺ په حديث کښے دي، نبي ﷺ فرمائي : (کله چه تۀ په يوه جامه کښے مونځ کوے، نو که فراخه وه نو هغه د ځانه راتاؤ کړه، اوکه تنګه وه نو لنګ ترے ووهه)۔

د احمدؒ په روايت کښے دي : (کله چه جامه فراخه وه نو هغه د دواړو اوګو نه راتاؤ کړه او مونځ کوه، اوکه ددے نه نۀ راتاويده نو بيا ئے د بدن نه راتاؤ کړه او د څادر نه بغير مونځ کوه)۔

[صحيح مسلم : ١/١٩٨، مسند احمد، نيل الأوطار : ٢/٦٠، بيهقى : ١/١٩٨، المحلى : ٢/٣٩٠].

محمد بن حنفيهؒ فرمائي : د هغه چا مونځ نۀ کيږي چه په مانځه کښے خپلے دواړه اوګے پټے نۀ کړي۔ [المحلى بالآثار].

او د جابر ﷺ په کوم حديث کښے چه راغلي چه هغۀ داسے يو لنګ کښے مونځ وکړو چه هغه ئے د خپل څټ له خوا تړلے وو او جامے ئے موګى ته اچولے وے۔ نو دا حديث زمونږ

ددے خبرے سره منافی نۀ دے، ځکه د حدیث ددے الفاظو نه معلومیږی چه هغۀ خپلے دواړه اوګے پټے کړے وے۔

[انظر صحیح البخاری : ٥٢/١].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : په حدیث کښے چه دا منع راغلے نو دا د ابن عمرؓ، طاوسؒ، نخعیؒ، طحاویؒ، احمدؒ، ابن وهبؒ، ابن جریرؒ، محمد بن علیؒ په نیز او د امام شافعیؒ د یو روایت مطابق چه دۀ غوره کړے، دا د حرام والی دپاره ده۔ او همدا د امام بخاریؒ وینا ده۔

[فتح الباری : ٣٧٤/١].

د کعبے په شکل او فټو باندے مونځ کول

٦٢٠ – **سوال** : په کوم جانماز باندے چه د کعبے فټو وی، په هغے مونځ کول او د هغے دپاسه کیناستل جائز دی او که نه ؟

جواب : بهتره داده چه انسان په داسے جامو او جانمازونو مونځ ونۀ کړی چه په هغے کښے ګلونه او تصویرونه وی۔ ځکه رسول الله ﷺ چه کله په یوه ګلداره شړۍ کښے مونځ وکړو، نو وے فرمایل : (تاسو دا ابو جهم ته یوسۍ اوماله د هغۀ بے ګلونو شړۍ راوړۍ ځکه دے شړۍ زۀ د خپل مانځه نه مشغول وساتلم)۔ د بخاری په روایت کښے دی : (ما دیته په مانځه کښے کتل نو ماسره ویره شوه چه هسے نۀ ما د مانځه نه وانۀ ړوی)۔

[صحیح بخاری، مشکاة : ٧٢/١].

او پاتے شو په جانماز کښے د کعبے په صورت او فټو باندے کیناستل، نو دا جائز دی او په دے کښے د کعبے هیڅ قِسم سپکوالے نۀ راځی۔ او دا حکم د هغه جانماز هم دے چه په هغے باندے د مسجدِ نبوی فټو او عکس پروت وی، په هغے کیناستل جائز دی۔ بله دا چه د کعبے او د مسجدِ نبوی دپاسه کیناستل جائز دی، په دے کښے د بیعزتۍ څۀ خبره نشته۔ نو دغه شان ددے دواړو په فټوانو او عکسونو کیناستل هم روا دی۔ کله چه د الله تعالیٰ د دین د نښو نښانو بیعزتی په زړۀ کښے نۀ راولی نو دا کار جائز دے۔ ولے مناسبه داده چه په داسے قِسم مصلو او جانمازونو مونځ ونۀ کړے شی۔

که ښځه په مانځه کښې ولیدل شي نو مونځ ئې نۀ خرابیږي

٦٢١ - **سوال** : یوې ښځې په جومات یا بل داسې ځائې کښې مونځ وکړو چه یو سړي ولیدله نو آیا ددې مونځ خرابیږي اوکه نه ؟

جواب : صحیح داده چه کله ښځې د خپل مخ او ورغوو نه سیوا نور اندامونه نۀ وي ښکاره کړي، نو مونځ ئې فاسد نۀ دې، ځکه د ټولو مسلمانانو په دې اجماع ده چه ښځه په مانځه کښې خپل مخ او دواړه ورغوي ښکاره کولے شي۔ په دې باندې ددې دواړو اندامونو پټول واجب نۀ دي۔ البته د مانځه نه بهر ددې دواړو اندامونو ښکاره کولو کښې اختلاف دې، لکه چه دا خبره به په [کتاب النکاح] کښې راشي ان شاء الله تعالیٰ۔ او په دې جلد کښې هم عنقریب را روانه ده۔

د نبی ﷺ په زمانه کښې به مؤمنانې ښځې جومات ته حاضریدلې او د جَمعې مونځ به ئې کولو۔ نو بیا څنګه دا وویل شي چه د نارینه ؤ په کتو سره د ښځې مونځ خراب دې ؟

امام قرطبیؒ فرمائی : په عادت او عبادت دواړو کښې په عامه توګه مخ او دواړه ورغوی ښکاره کیږي، لکه په مانځه او حج کښې، نو مناسبه داده چه ددې دواړو استثناء وکړې شي۔ [تفسیر القرطبی : ٢٢٩/٢١].

ابن جریرؒ فرمائی : په دې خبره اجماع شوې۔

[حجاب المرأة المسلمة، ص : ١٨].

خو که مخ او دواړو ورغوو نه سیوا بل اندام ښکاره شو، او ښځې لپاره د هغې پټول ممکن وو، نو په دې سره ئې مونځ فاسدیږي۔

په مانځه کښې نستونړي رابډې کول منع دي

٦٢٢ - **سوال** : په مانځه کښې د سړي دپاره دواړه لیچې ښکاره کول څۀ حکم لري ؟

جواب : د مونځ کولو په وخت خپلې لیچې بربنډول او نستونړي راټولول منع دي۔

په بخاری او مسلم کښې د ابن عباس رضی الله عنه په حدیث کښې دي، نبی اکرم ﷺ فرمائی :

[أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلٰى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ، وَلَا نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَلَا الشَّعَرَ].

(ماته د الله له خوا امر شوے چه زهٔ په اووهٔ اندامونو سجده وکړم، او جامے او ویښتهٔ به ځانته نهٔ راټولولم).
امام نوویؒ فرمائی : په دے حدیث کښے د (کفت) معنیٰ راجمع کول او راټول دی. لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿اَلَمۡ نَجۡعَلِ الۡاَرۡضَ كِفَاتًا اَحۡيَاءً وَاَمۡوَاتًا﴾ (آیا مونږ زمکه راجمع کونکے نهٔ ده ګرځولے چه ژوندی او مړی راجمع کوی).
او په بل روایت کښے د (کف) لفظ راغلے، چه ددے هم دغه معنیٰ ده. یعنی جامه بندول او راټولول.
په دے کښے د علماؤ اتفاق دے چه په داسے حال کښے مونځ کول منع دی چه انسان خپله جامه یا نستونړے وغیره راغونډ او رابډے کړی. یا خپل ویښتهٔ په سر باندے غوټه کړی یا د پټکی لاندے خپل ویښتهٔ راغونډ کړی، دا ټول کارونه منع دی. او دا مکروهِ تنزیهی (یعنی خلافِ اولیٰ) دی. اوکه چا په داسے حالت کښے مونځ وکړو نو مونځ ئے وشو خو بد کار ئے وکړو. امام طبریؒ په دے مسئله کښے په اجماع سره دلیل نیولے. او ابن المنذرؒ د حسن بصریؒ نه نقل کړی، که چا دا وکړو نو مونځ به دوباره کوی.
امام ابن الاثیرؒ هم د (کفت) معنیٰ دا کړے او فرمایلی ئے دی د رکوع او سجدے کولو په وخت جامه راغونډول منع دی. [النهاية : ٤/١٤٨].
حافظ ابن حجرؒ فرمائی : مقصد دا چه خپلے جامے او ویښتهٔ به نهٔ راغونډوی. ددے حدیث د ظاهر نه معلومیږی چه په مانځه کښے به دننه دا کار نهٔ کوی. خو دا خبره قاضی عیاضؒ رد کړیده، چه دا خبره د جمهورو د مذهب خلاف ده، ځکه دویٔ دا کار د مونځ ګذار دپاره مکروه ګڼړی، برابره خبره ده که دا کارئے د مانځه د شروع کولو نه مخکښے کړے وی، اوکه په مانځه کښے دننه ئے کړے وی. دارنګ په دے باندے هم اتفاق دے چه په دے کار سره مونځ نهٔ فاسدیږی، خو ابن منذرؒ د حسن بصریؒ نه د مونځ راګرځولو وینا نقل کړے. په دے منع کښے حکمت دادے چه کله ځوك خپله جامه یا ویښتهٔ په زمکه باندے د لږیدو نه راپورته کړی نو دا د کبر سره مشابه کار دے.
[فتح الباری : ١/٢٣٥].
مبارکفوریؒ فرمائی : د جامے او ویښتو راغونډول دادی : چه خپل ویښتهٔ را غونډ کړی

او د ښځې شاته ئے وتړی او یا ئے د پټکی لاندے راجمع کړی او یا ئے په یو شئ سره وتړی۔ او یا جامه رابډے کړی یا د هغے مینځ وتړی او یا د هغے ول چرته ومنډی۔

بیا فرمائی: د ویښتانو د راغونډولو په منع کښے حکمت دا ښودلے شوے چه د ویښتانو په غوټو باندے شیطان کینی۔ لکه په سنن ابی داود کښے په جید سند سره د ابو رافع نه نقل دی چه حسن بن علی رضی الله عنه په داسے حال کښے مونځ کولو چه د خپل سر زلفے ئے د ښځې سره تړلے وے، نو ابو رافع رضی الله عنه ورله هغه پرانستے، او وے فرمایل: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلی دی چه دا د شیطان د کیناستو ځائے دے۔

[المرعاة : ٣/٢٠٦].

نو د پورتنی تحقیق نه معلومه شوه چه په مانځه کښے دننه او د مانځه د شروع کولو نه مخکښے خپلے لیچے بربنډول او خپل نستونړی رابډے کول جائز نهٔ دی، ځکه یو خو د دغه پورتنی حدیث خلاف راځی، بل دا چه دا د کبرجنو خلکو کار دے، حالانکه مونځ سره خشوع او سکون مناسب دے۔

په رد المحتار [٥٩٩/١] او ددے په متن کښے هم راغلی چه نستونړے یا لمن راغونډول مکروه دی، که د مانځه شروع کولو نه مخکښے وی اوکه په مانځه کښے دننه وی۔ دارنګ دا هم په راغونډولو کښے داخل دی چه جامه د مخے نه راغونډه کړے شی یا سجدے ته د ښکته کیدو په وخت د شانه راغونډه کړے شی۔

د کافر په هدیه کړے جامه کښے مونځ کول

٦٢٣ – **سوال** : په هغه جامه کښے د مونځ حکم څهٔ دے چه کافر ورته هدیه کړے وی یا د کافرانو د ملکونو نه راغلے وی ؟

جواب : کله چه په جامه باندے ښکاره څهٔ پلیتی نهٔ وی نو بیا پکښے مونځ کیږی۔ او د جامے په باره کښے دا تفتیش او تالاش کول واجب – بلکه مستحب هم – نهٔ دی او نهٔ د خرخونکی نه دا پوښتنه کول ضروری دی چه ستا دا جامه پاکه ده اوکه نه ؟ وجه داده چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے به د یمن او د کافرو د ملکونو نه جامے راتللے او نبی صلی الله علیه وسلم او د هغهٔ صحابه کرامو به اغوستلے، او ددے په باره کښے به ئے هیڅ تفتیش او تالاش نهٔ کولو۔

په دې خبره دليل د عقبه بن عامر رضي الله عنه حديث دې، دا فرمائى : (رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د وريښمو يوه چوغه هديه كړې شوه، نبى صلى الله عليه وسلم هغه واغوستله او بيا ئې پكښې مونځ وكړو، بيا چه كله واپس شو نو داسې زرئې وښكله لكه تۀ به وائې چه بد ئې وګڼړله، بيا ئې وفرمايل : دا د متقيانو سره مناسب نۀ ده).

[صحيح بخاري : ٢/٨٦٣].

نو دې حديث نه ثابته شوه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په دغه هديه كړې شوې جامه كښې مونځ كړې. پاتې شوه د كافرانو نه د هديه قبلولو مسئله، نو ددې وضاحت به په خپل ځائې كښې راشي ان شاء الله.

امام بخاريؒ باب تړلې : (په شامى چوغه كښې د مونځ كولو بيان).

[صحيح بخاري : ١/٥٢].

په مانځه كښې د جامې زوړندولو او خُلې پټولو حكم

٦٢٤ - **سوال** : په مانځه كښې د جامې زوړندولو او د خُلې پټولو د كراهت په باره كښې كوم حديث راغلې اوكه نه ؟

جواب : هو ! په مانځه كښې د جامې زوړندولو او د خُلې پټولو نه په حديث كښې منع راغلې.ابو هريره رضي الله عنه فرمائى : (رسول الله صلى الله عليه وسلم په مانځه كښې د جامې زوړندولو او د خُلې پټولو نه منع فرمايلې).

[ابوداود : ٦٤٢].

ددې حديث اسناد حسن دې.

دارنګ د ابو هريره رضي الله عنه په بل حديث كښې دى. (رسول الله صلى الله عليه وسلم په مانځه كښې د جامې زوړندولو نه منع فرمايلې).

[ابوداود : ٦٤٢].

ددې حديث سند صحيح دې.

پاتې شوه د امام ابوداودؒ دا خبره چه : د ابن جريجؒ نه نقل دى دا وائى : مابه عطاءؒ زياتره ليدلو چه په مانځه كښې د جامې زوړندولو په حالت كښې به ئې مونځ كولو. امام ابوداودؒ

وائي : دے وینا سره دغه پورتنے حدیث ضعیف ګرځي. نو د امام ابوداوُدؒ دا خبره صحیح نهٔ ده. ځکه کله چه سند صحیح وی نو د عطاء رحمه الله په عمل سره صحیح حدیث ضعیف نهٔ ګرځي. بلکه عطاءؒ خپله د جامے زوړندول مکروه ګنړلی دی، او یا ترے حدیث هیر شوے دے.

[کما فی بذل المجهود : ١/٣٥٥].

شیخ عظیم آبادیؒ فرمائی : امام خطابیؒ فرمائی : سدل دیته وائی چه جامه دومره زوړنده کړے شی چه زمکے ته ورسیږی. په نیل الاوطار کښے دی چه ابوعبیدهؒ په (غریب الحدیث) کښے وائی : سدل دیته وائی چه جامه زوړنده کړے شی او د هغے اړخ خپلے مخے ته ونهٔ تړی. که چرے وے تړی نو بیا دیته سدل نهٔ وائی. صاحب د النهایه وائی : سدل دیته وائی چه خپله جامه د ځانه راتاؤ کړی او لاسونه پکښے دننه پریدی او همدے حالت کښے رکوع او سجده کوی. او دا په قمیص او نورو ټولو جامو کښے راځی.

[عون المعبود : ١/٢٤٥].

خو قمیص اغوستل شرعًا سدل نهٔ دے، ځکه دا د نبی ﷺ نه ثابت دے.

ابن اثیرؒ فرمائی :ځینے وائی : سدل دیته وائی چه د څادر مینځ په خپل سر وا چوی او دواړه طرفونه ئے ښی او ګس اړخ ته زوړند وی او په اوګو باندے ئے نهٔ وی اچولی. جوهریؒ وائی : سدل جامے زوړندولو ته وائی. او په حدیث کښے دا ټولے معنے جاری کیدے شی.

په یو حدیث کښے راغلی چه جامه زوړندول د یهودو عمل دے. لکه عبد الرحمن بن سعید بن وهبؒ د خپل پلار په واسطه د علی رضي الله عنه نه روایت کوی چه دا را وواتهٔ او څهٔ خلك ئے ولیدل چه په داسے حال کښے ئے مونځ کولو چه جامے ئے زوړندے کړے وے، نو وے فرمایل : [كَأَنَّ الْيَهُودَ خَرَجُوا مِنْ قُهْرِهِمْ].

(ګویاکه یهود د خپل مِدُراس نه راوتی دی).

[أخرجه الخلال فی العلل، وأبوعبیدة فی الغریب].

قهر : د یهودو مدراس او مدرسے ته وائی.

دے حدیث نه ثابته شوه چه په مانځه کښے سدل کول حرام دی، او همدا د نهی حقیقی معنیٰ ده. او کومو علماؤ چه دیته جائز ویلی – لکه مالكؒ، عطاءؒ، مکحولؒ، زهریؒ، حسنؒ

- نو کیدے شي چه دوئ ته دا حدیث نۀ وی رسیدلے۔
او هرچه خُلۀ پټول دی په مانځه کښے نو دا د مجوسیانو سره مشابهت دے۔
مبارکفوریؒ فرمائی : خُلۀ پټول ځکه منع دی چه په دے کښے د تلاوت کولو او مشروع ذکرونو ویلو نه انسان بندیږی۔ بله دا چه که په لاس سره خُلۀ پټوی نو د لاس ترل چه سنت دی، پریښودل کیږی۔ اوکه په جامے سره ئے پټوی نو د مجوسو سره مشابهت راځی ځکه چه کله دوئ د اور عبادت کوی نو اُور بوځونه ئے تړلی وی۔
ابن حبانؒ فرمائی : په مانځه کښے د خُلے پټولو نه منع راغلے، البته د آسویلی د بندولو په وخت خُله پټول منع نۀ دی، ځکه حدیث کښے دی : (کله چه په تاسو کښے څوك په مانځه کښے آسویلے کوی نو هغه دے د خپل وس مطابق بند کړی۔ په بل روایت کښے دی : خپل لاس سره دے خپله خُله بنده کړی، هسے نۀ شیطان پکښے ننوځی)۔
امام خطابیؒ فرمائی : د عربو عادت دا وو چه په پټکو سره به ئے خُلے پټے کړے وے، نو په مانځه کښے ددے کار نه دوئ منع کړے شول۔ البته که آسویلے ورشی نو په دے وخت کښے به خُلۀ پټوی، د وجے د هغه حدیث نه چه په دے حقله راغلے۔
[المرعاة : ۲/۴۸۰].
رد المحتار [۱/۴۲۹] کښے دی : د ابو السعودؒ په نیز دا مکروه تحریمی دی۔
[بذل المجهود : ۱/۳۵۵].
ابـن قدامهؒ فرمائی : په مانځه کښے مخ یا خُلۀ پټول مکروه دی، د پورتنی حدیث د وجے۔ او پـه پوزه باندے وربوز تړل مکروه دی اوکه نه ؟ نو په دے کښے دوه روایته دی، یو دادے چه مکروه دے، ځکه ابن عمرؓ دا بدے گڼړلے۔
[المغنی : ۱/۶۵۹].
او همدا ظاهر قول دے، ځکه په پوزے پټولو سره خُلۀ هم پټیږی۔
او پـه احسـن الفتاوی [۳/۴۰۸] کښـے ئے چـه دا ویـلی چـه سدل جائز دے، نو دا خبره ئے صحیح نۀ ده۔ او د سدل چه کومه معنیٰ ئے کړے هغه هم صحیح نۀ ده۔

د څادر او طیلسان اچولو حکم

٦٢٥ - **سوال** : څادر او طیلسان په مانځه کښې یا د مانځه نه بهر اچول څهٔ حکم لری ؟ دارنګ د [اِشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ] معنیٰ او حکم څهٔ دے ؟

او د قمیص دپاسه څادر اغوستل جائز دی که نه ؟ لکه چه دا په پاکستان او افغانستان کښې د خلکو رواج دے۔ حالانکه په صحیح حدیث کښې ثابت دی چه دجال پسے به د اصفهان اویا (٧٠) زره یهودیان روان وی چه هغوئ به طیلسان اغوستے وی۔ او طیلسان څادر ته وائی۔ دارنګ په حدیث کښې د [اِشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ] نه منع راغلے، او دا د څادر اغوستلو سره لازمه ده، نو ددے مسئلے حل څهٔ دے ؟

جواب : په مانځه کښې دننه او د مانځه نه بهر د قمیص دپاسه څادر اچول جائز دی، برابره خبره ده که د یخنئ ختمولو دپاره ئے اغوندی اوکه د ډول او زینت دپاره۔ په دے باندے دلیل عام حدیثونه دی، لکه عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمائی : [كُلْ مَا شِئْتَ وَالْبَسْ مَا شِئْتَ مَا أَخْطَأَتْكَ اثْنَتَانِ : سَرَفٌ وَمَخِيلَةٌ].

(څهٔ چه دے زړهٔ غواړی خوره ئے او څهٔ چه دے زړهٔ غواړے اغونده ئے، تر څو پورے چه دوه خویونه در کښې نهٔ وی : اسراف او تکبر)۔

[مصنف ابن ابی شیبة :٥/٧١، وأخرجه البخاری تعلیقًا فی ترجمة باب: ٥/٢١٨٠، مشکاة : ٢/٣٧٧]

او د تابعینوؒ او د روستنو علماؤ د یوے ډلے نه نقل دی چه دوئ طیلسان هم اغوستے دے، لکه د سعید بن مسیبؒ نقل دی۔ عبید بن نسطاسؒ وائی : ما سعید بن مسیبؒ ولیدهٔ چه تور پټکے ئے په سر کړے وو او هغه به ئے روسته زوړند کړے وو۔ او ما هغه ولیدهٔ چه لنګ او طیلسان ئے اغوستے وو او موزے ئے په خپو کړے وے۔ په بل روایت کښې دی : داسے طیلسان وو چه د هغے بټنے د نرو ریښمو نه جوړے وے۔

[طبقات ابن سعد : ٥/٨٣١، سیر أعلام النبلاء : ٤/٢٤٢].

طیلسان : یوه جامه ده چه په اوګه باندے اچولے شی او د ټول بدن نه راتاویږی، د اغوستو دپاره اودلے شی، د بیلتون او ګنډلو نه خالی وی۔

[تعلیق زاد المعاد : ١/١٤٢].

په لسان العرب [۱۸۲/۸] کښې دی : دا د څادر يو قِسم دے۔او په منجد کښې دی : دا يو شين څادر دے چه خاص مشائخ او علماءئے اغوندی او دا د عجمو لباس دے۔

په مظاهر حق [۷٤/٥] کښې دی : طيلسان د څادر په شکل يوه معلومه جامه ده۔

امام ابن قيمؒ د سلفو او خلفو د يوے ډلے نه د طيلسان اغوستلو کراهت نقل کړے، هغه فرمائی : انس بن مالك ﷛ يوه ډله وليده چه طيلسانونه ئے اغوستی وو، نو وے فرمايل : دا د خيبر د يهودو سره ډير مشابه دی۔ او د ابن عمر ﷛ حديث ئے ذکر کړے چه نبی ﷺ فرمائی : (چاچه د چا سره مشابهت وکړو، هغه د هغوئ نه حساب دے)۔ [ابوداود، مستدرك]

او هر چه تَقَنُّعُ ده (يعنی په سر باندے کپړه اچول) نو دائے د حاجت د وجے کړے ده، لکه دا د هجرت په حديث کښے راغلی۔ او فرمائی : په سر باندے کپړه اچول طيلسان نهٔ حسابيږی۔

[زاد المعاد : ۱٤۲/۱].

ليکن د امام ابن قيمؒ د پورتنئ خبرے نه حافظ ابن حجرؒ جواب کړے، هغه فرمائی : د انس ﷛ د دغه اثر په مقابله کښے د ابن سعدؒ مرسل حديث راغلے، چه رسول الله ﷺ ته د طيلسان صفت وشو، نو وے فرمايل : (دا يوه داسے جامه ده چه ددے شکر نهٔ اداء کيږی)۔

[أخرجه ابن سعد : ۳۵۷/۱، ولم أره عند غيره].

او پاتے شو د يهودو په قيصه باندے دليل نيول، نو دا په هغه وخت کښے صحيح کيږی چه کله طيلسانونه د هغوئ شعار او علامه وه۔ حالانکه دا شعار د دوئ وس په دے زمانو کښے ختم شوے، او دا طيلسانونه په عامو مباحاتو کښے داخل دی۔ عز بن عبد السلامؒ دا په هغه نوو شيانو کښے ذکر کړے چه هغه مباح وی۔

بيا فرمائی : د نبی ﷺ نه نقل دی چه هغوئ به په سر باندے زياتره څادر اچولو، لکه د انس ﷛ په حديث کښے دی چه : رسول الله ﷺ به زياتره په سر باندے کپړه اچوله۔ [فتح الباری : ۲۲۵/۱۰].

او تَقَنُّعُ ديته وائی چه په څادر وغيره سره سر او د مخ زياتره برخه پټه کړے شی۔

[پورتنئ حواله : ۲۲۵/۱۰].

نو تَقَنُّعُ طيلسان سره نزدے ده ځکه طيلسان په اوګو او سر او بدن باندے وی، او تقنع په

سر او مخ باندې څادر اچولو ته وائی چه په دې باندې راغونډ شوې وی.

امام بخاریؒ باب تړلے : د تَقَنُّعُ بیان. ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : نبی صلی الله علیه وسلم په داسې حال کښې د کوره ووَاتهٔ چه غوړینه پټۍ ئے د سر نه تړلے وه. او انس رضی الله عنه فرمائی : نبی صلی الله علیه وسلم د خپل سر نه د څادر غاړه تاؤ کړې وه. بیا ئے د هجرت په قیصه کښې د عائشې رضی الله عنها حدیث پیش کړې، او په هغې کښې دا الفاظ دی : یو کس ابو بکر ته وویل : دغه دې رسول الله صلی الله علیه وسلم کپړه په سر اچولے راغې، په داسې ساعت کښې چه مونږ ته به په دې ساعت کښې نهٔ راتلو.

[صحیح بخاری : ۱/۸۲٤، باب التقنع].

د سر نه پټۍ تاوول اګرکه تَقَنُّعُ تـه نهٔ وائی خو د پټکی دپاسه یو زیاتی شے کیښودل دواړو ته شامل دی. او امام بخاریؒ په (المناقب) کښې د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړی چه : نبی صلی الله علیه وسلم په داسې حال کښې ووَاتهٔ چه څادر ئے اغوستے وو او په دواړو اوګو باندې ئے را چولے وو، او غوړینه پټۍ ئے د سر نه تړلے وه. [فتح الباری].

انس رضی الله عنه فرمائی : یو بانډه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه څادر راښکلو.

او د علی رضی الله عنه په هغه حدیث کښې دی چه په هغې کښې د حمزه رضی الله عنه د قتل کیدو قیصه ده. بیا نبی صلی الله علیه وسلم خپل څادر را وغوښتهٔ او هغه ئے واغوستو او بیا روان شو.

[صحیح بخاری : باب الأردية : ٥٤٥٧].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : رداء (څادر) هغه جامې ته وائی چه په شا یا د اوګو ترمینځه اچولے شی په هره طریقه سره چه وی.

امام بخاریؒ د خباب رضی الله عنه نه روایت کوی، دا وائی : مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړو، او هغوئ خپل څادر سره تکیه وهلے وه.

[صحیح بخاری : ۲/۸٦٤، باب البرود والحبر والشملة].

دارنګ د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت کوی، دا وائی : زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره روان وم او هغهٔ زړګو طرفونو والا نجرانی څادر اغوستے وو، نو یو بانډه چې رالاندې کړو او د څادر نه ئے په سختئ سره راښکلو تردې چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم شا ته وکتل چه د څادر طرف پکښې اثر کړې وو.

[پورتنئ حواله].

دارنګ امام بخاریؒ د سهل بن سعد رضي الله عنه نه نقل کړی، دا وائی : یوے ښځے برُده راوړه. سهل وائی : آیا تاسو برُده پیژنئ ؟ هغهٔ ویل : هو ! دا هغه څادر دے چه په غاړو باندے ئے کار شوے وی. په دے حدیث کښے دی : (نبی صلی الله علیه وسلم راوواتهٔ چه دغه لنګ ئے اچولے وو، بیا دغه لنګ د یو سړی کفن جوړ شو).

بیا ئے د عکاشه بن محصن رضي الله عنه حدیث نقل کړے، چه په هغے کښے دا الفاظ دی : (عکاشه بن محصن په داسے حال کښے ودریدهٔ چه خپل څادرئے پورته کولو، او عرض ئے وکړو، د الله نه وغواړه چه ما هم په دغه بے حسابه بے عذابه خلکو کښے شامل کړی).

بیا ئے د عائشے k حدیث ذکر کړے چه نبی صلی الله علیه وسلم په ګلدار څادر کښے وفات شو او په دے کښے پټ کړے شو.

بیائے د عائشے k هغه حدیث ذکر کړے چه په هغے کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیماریٔ ذکر دے، په هغے کښے دی: (رسول الله صلی الله علیه وسلم شروع شو چه په خپل مخ به ئے شړیٔ را چوله اوکله به ئے چه پکښے ساه خفه شوه نو د خپل مخ نه به ئے لرے کړه).

بیائے د عائشے k نه نقل کړی چه دے مونږ ته څادر او زیګ لنګ راوخکلو او وے فرمایل : د رسول الله صلی الله علیه وسلم روح په دے دواړو کښے اخستل شوے.

بیا ئے په ګلداره شړیٔ کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم مونځ ذکر کړے.

[صحيح بخاري : ٢/٨٦٤].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : جوهری وائی : [بُرُدَةٌ] تور خلور ګوټه څادر ته وائی چه په هغے کښے ګلان وی او بانډه چیان ئے اغوندی. او [شَمْلَةٌ] : هغه څادر ته وائی چه انسان ئے د ځانه راتاووی. او [نَمِرَةٌ] هغه څادر ته وائی چه په هغے کښے رنګدار خطونه وی، ګویا دا د پړانګ د څرمنے نه اغستے شوے. او [حِبَرَةٌ] هغه یمنی څادر ته وائی چه د مالوچو نه جوړ شوے وی. قرطبیؒ وائی : دیته حِبرة ځکه وائی چه دا ښائسته کولے او ډولے کولے شی. او [خَمِيْصَةٌ] هغه څادر (شړیٔ) ته وائی چه د تورے وړیٔ یا کچه ریښمو نه څلور ګوټه جوړه وی او ګلونه لری. او څادر ته هغه وخته پورے خمیصه نهٔ وائی چه ګلان پکښے نهٔ وی.

[فتح الباري].

نو ددے ټولو حدیثونو نه په ډاګه ثابته شوه چه ساده څادر، رنګدار او ګلدار څادر، شړیٔ،

او رومال استعمالول جائز دی، او دا په سر راچول جائز دی۔ او د قمیص دپاسه د یخنئ یا ډول دپاره څادر اچول هیڅ باك نهٔ لری۔

اسماء بنت ابی بکر i نه نقل دی چه دے یوه کسروی (ایرانی) طیلسانی چوغه راوویسته چه د هغے په دواړو نستونړو او د مخکښے روستو دواړو برخو په غاړو باندے د نرو ریښمو غاړه ګنډل شوے وه (د ریښمو پیته پرے کیښودل شوے وه) او وے فرمایل چه دا د رسول الله ﷺ چوغه وه چه د عائشے سره پرته وه۔ او هر کله چه عائشه وفات شوه نو هغه ما قبضه کړه۔ نبی ﷺ به دا اغوستله نو مونږ دا د بیمارانو دپاره وینځو او په دے سره شِفا او علاج حاصلولو۔

[صحیح مسلم : ٢/١٩٠].

طیلسان : سخت څادر ته وائی، مقصد دا چه دغه چوغه داسے سخته وه لکه د طیلسان پشان۔ [عون المعبود : ٤/٨٧، بذل المجهود : ٦/٤٦].

دارنګه د رسول الله ﷺ دپاره یوه طیلسانی چوغه وه۔ او هغه به ئے اغوستله۔

[مسند احمد : ٢/٢٥، ٦/٣٤٨].

په (الأدب المفرد) د امام بخاریؒ کښے دی: د باندے نه یو سړے راغے او شین طیلسانی څادر ئے اچولے وو۔ په دے حدیث کښے دی : نبی ﷺ د هغه د چوغے ګریوان ونیوهٔ او وے فرمایل : آیا زهٔ تانهٔ وینم چه تا دے عقله خلکو لباس اچولے دے)۔

په بل روایت کښے دی : په دغه چوغه کښے د نرو ریښمو بټنے لږیدلے وے۔

[کما فی الصحیحة : ١/١٣٤].

زیاد بن جریرؒ وائی : زهٔ عمر بن خطاب ﷺ ته راغلم او ما طیلسان اغوستے وو او بریتان مے غټ شوی وو، نو ما پرے سلام واچولو، هغویٔ جواب رانهٔ کړو، بیا مے دا شکل بدل کړو نو جواب ئے راکړو۔[الحلیة :٤/١٩٧].

او هر چه د [اِشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ] معنیٰ ده، نو ددے دوه تفسیره دی۔ د امام احمدؒ ځینے ملګری وائی : دادیته وائی چه انسان په اوګه باندے جامه ښکته واچوی، او ددے نه سیوا ئے بله جامه نهٔ وی۔ حنبلؒ د امام احمدؒ نه نقل کړی چه [اِشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ] دیته وائی چه سړے په اوګو څادر واچوی او لنګ نهٔ لری نو ددهٔ اړخ او عورت ښکاره کیږی۔ اوکه ددهٔ لنګ وی

نـو دا بیـا د محرم پشان څادر اغوستل دی، که چرے دا جائز نۀ وے نو نبی ﷺ به نۀ کولے.
ابـو بـکر په خپل سند سره د ابن مسعود رضی الله عنه نـه نقل کړی، دا وائی : رسول الله ﷺ ددے نه منـع کـړے چـه سړے یـوه جـامـه په داسے طریقه واغوندی چه د هغے ټول طرفونه په اوګو باندے واچوی، چه دیته [اَلصَّمَّاءِ] وائی. د امام شافعیؒ ځینے ملګری وائی: صماء دیته وائی چه جامه د ځانه راتاؤ کړی او بیا خپل لاس د سینے له خوا راوباسی. اصمعیؒ وائی : د عربو په نیز [اِشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ] داده چه جامه د خپل ټول بدن نه راتاؤ کړی او د هغے هیڅ یو طرف پرے نۀ ږدی، چه بیا ترے لاسونه هم نشی راویستلے. او دا د زیاتره اهلِ لغتو وینا ده.
ابن قتیبهؒ وائی : [صَمَّاءِ] ورتـه ځـکـه وائی چه دے هم ټول سوری بند کړی وی، لکه څنګه چه په یے سوری کانړی کښے نۀ شلیدل وی او نۀ سورے.

ابـو عبیدؒ وائی : هر چه فقهاء دی نو هغوئ وائی : دا دیته وائی چه انسان د ځان نه جامه راتاؤ کـړی او بـلـه جامه پرے پرته نۀ وی، بیا دا جامه د یو اړخ نه پورته کړی او په خپله یوه اوګه باندے ئے کیدی.

نـو د اهلِ لغتو د اول تفسیر مطابق پورتنئ طریقے سره جامه اغوستل ځکه مکروه دی چـه کـلـه انسان ته څۀ حاجت راپیښ شی لکه بعضِ حشرات وغیره د ځانه دفع کوی، نو دۀ تـه دا کـار کـول ګـرانـیـږی نـو پـه دے کښے مشقت او تکلیف دے. او د فقهاؤ د دویم تفسیر مطابق د انسان ځینے عورت ښکاره کیږی نو دا حرام دی، اوکه ښکاره نشی نو بیا مکروه دے. دارنګ د احتباء حکم هم دے کله چه دے سره عورت ښکاره کیږی نو حرامه ده. ځینے مالکیان وائی : که عورت ئے پټ وی نو بیا حرمت نشته.

[کتاب اللباس والزینة لمحمد بن عبد العزیز، ص : ٢٤٢].

هغه نرئ جامه اغوستل چه عورت نۀ پټوی

٦٢٦ – **سوال** : د هغه نرو جامو اغوستلو څۀ حکم دے چه هغه په مانځه کښے عورت نۀ پټوی ؟

جواب : مـونـځ ګذار باندے ضروری دی چه په خپل مانځه کښے عورت پټ کړی، او ددۀ دپاره جائز نۀ دی چه په بربنډه مونځ وکړی، برابره خبره ده که ښځه وی اوکه نر وی. د ښځے

عورت خو ډیر زیات سخت دے۔ او په دے باندے د مسلمانانو اجماع ده۔ او د سړی عورت د نامۀ او د زنګون ترمینځه دے، سره د دواړو یا یوے اوګے پټولو نه، خو په دے شرط چه په دے باندے قادر وی۔ څکه نبی ﷺ جابر رضی الله عنه ته فرمایلی وو: (که جامه فراخه وی نو د ځانه ئے راتاؤ کړه، او که تنګه وی نو بیا ترے صرف لنګ وتړه)۔ او نبی ﷺ د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښے فرمائی: (په تاسو کښے دے څوك په داسے یوه جامه کښے مونځ نه کوی چه د هغے څۀ برخه ئے په اوګه باندے نۀ وی راچولی)۔ [بخاری، مسلم]۔

او هر چه ښځه ده: نو ددے بدن د مخ نه سیوا نور ټول عورت دے۔ او ددے د ورغوو په باره کښے د علماؤ اختلاف دے، ځینے وائی: ددے پټول واجب دی، او ځینے وائی: ددے په ښکاره کولو کښے رخصت شته دے۔ نو په دے باره کښے معامله آسانه ده ان شاء الله۔ او ددے پټول بهتر دی، دے دپاره چه د علماؤ د اختلاف نه انسان ووځی۔

او هر چه د ښځے قدمونه دی: نو د جمهورو علماؤ په نیز په مانځه کښے ددے پټول واجب دی۔ امام ابوداوٗد د ام سلمے k نه نقل کړی، چه دے د نبی ﷺ نه پوښتنه وکړه، آیا ښځه به د لنګ نه بغیر په زغره او لوپټه کښے مونځ کوی؟ نبی ﷺ وفرمایل: هر کله چه زغره فراخه وی ددے د قدمونو پورتنۍ برخه پټوی۔

بعضِ علماؤ وائی: صحیح داده چه دا حدیث موقوف دے۔ [بلوغ المرام].

دے وجے نه په نارینه او زنانه دواړو باندے واجب دی چه د دوۍ جامے به داسے وی چه هغے سره عورت پټیږی۔ که چرے دا دومره نرۍ وی چه عورت نۀ پټوی نو په دے کښے بیا مونځ نۀ کیږی۔ دا شان په هغه جانګی (لنډ پرتوګ) کښے هم د سړی مونځ نۀ کیږی چه پتونان نۀ پټوی۔ دا شان کله چه ښځه داسے نرۍ جامے واغوندی چه عورت نۀ پټوی نو په دے کښے هم د ښځے مونځ نۀ کیږی۔

او مونځ په اسلام کښے د شهادتینو نه پس لوئے رکن دے، دے وجے نه په ټولو مسلمانانو – نارینه او زنانو – باندے لازم دی چه ددے اهتمام وکړی او ددے شرائط پوره کړی، او ددے د باطلیدو د اسبابو نه ځان وساتی۔ الله عز وجل فرمائی: ﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطىٰ﴾ (تاسو د مونځونو اهتمام کوئ خصوصًا د درمیانه مونځ)۔

او فرمائی: ﴿اَقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾ (مونځ ودروئ او زکاة ورکړئ)۔

او په دې کښې شك نشته چه د مانځه د شرائطو او ټولو واجباتو اهتمام کول، د مانځه په محافظت او اقامت کښې داخل دی، په کوم باندې چه امر شوې.

او کله چه د ښځې خواته ځوك پردې سړې وی نو په دې باندې واجب دی چه خپل مخ پټ کړی. دا شان په طواف کښې به ټول بدن پټوی، ځکه طواف د مانځه په حکم کښې دې.

[وګوره : الفتاوی الإسلامية : ۲۹۲/۱].

دا د ځینې معاصرینو علماؤ فتویٰ ده. مخ په مانځه کښې دننه او د مانځه نه بهر عورت دې که نه ؟ ددې مسئلې تفصیلی وضاحت مونږ ددې فتاویٰ په [کتاب النکاح] کښې کړې. او په راتلونکی مسئله کښې هم مونږ ددې مسئلې وضاحت کوو چه په مانځه او بهر د مانځه کښې د پردې کولو شرعی حیثیت څۀ دې ؟ ځکه دې مسئلې ته ډیر حاجت دې، او ددې فائدې ډیرې زیاتې دی.

د اسامه بن زید ﷛ په حدیث کښې دی، دا وائی : (ماته رسول الله ﷺ د مصر نه راغلې کتانی نرئ جامې واغوندولې، کومې چه هغوئ ته دحية الكلبی هدیه کړې وې، نو ما خپلې ښځې ته واغوستولې، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : څۀ وجه ده چه تۀ دغه مصری جامې نۀ اغوندې ؟ ما عرض وکړو، یا رسول الله ! ما خپلې ښځې ته واغوستولې، وې فرمایل : هغې ته حکم وکړه چه ددې لاندې ښیان اچوی ځکه ما سره اندیښنه ده چه هسې نۀ په دغه جامو کښې د هغې بدن ښکاره شی).

[مسند احمد : ۲۰۵/۵، طبرانی : ۳۷۶، بیهقی : ۲۳٤/۲، وإسناده محتمل التحسين قاله الأرناووط].

علامه شوکانیؒ فرمائی : حدیث نه معلومه شوه چه په زنانه باندې واجب دی چه خپل بدن په داسې جامې سره پټ کړی چه په هغې کښې اندامونه نۀ ښکاری، او داسې نرئ جامې به نۀ اچوی چه په هغې کښې دننه بدن ښکاره کیږی.

[نيل الأوطار : ۱۱۵/۲].

په یو حدیث کښې دی چه په آخر وخت کښې به داسې زنانه وی چه په ظاهره کښې به ئې جامې اغوستی وی ولې په حقیقت کښې به بربنډې وی.

[صحيح مسلم : ٥٧٠٤].

ooooooo

رفع الارتياب عن مسألة الحجاب

د شرعي پردې احکام او مسائل

پردۍ ښځې ته کتل او هغې سره خبرې اترې کول

٦٢٧ - **سوال** : پردۍ مسلمانې ښځې سره معامله کول څنګه دي؟ هغې ته کتل، هغې سره خبرې اترې کول، په هغې سلام اچول، د هغې بيمار پښتنه کول، ميلمنو ته د هغې خوراك څښاك پيش کول، د خپل کور نه وتل، اخستل خرڅول کول.

په دې باره کښې شرعي حکم څۀ دې؟ دارنګ د صحابه کرامو او سلفو z تعامل څنګه وو؟

ددې تفصيلي وضاحت وکړئ، ځکه په دې حقله ځينې خلك د تشدد نه کار اخلي، او ځينې نور خلك تساهل او نرمي کوي. تاسو د مسئلې شرعي حيثيت واضحه کړئ.

[وجزاكم الله خير الجزاء].

جواب : دا مسئله په ديني مسائلو کښې ډيره ضروري مسئله ده، او د مسلمان حاجت ورته ډير زيات دې خاصکر زمونږ په دې دور کښې، نو مونږ له په دې کښې ډير احتياط پکار دې.

اوس مونږ هغه احاديث او آثار ذکر کوو چه په دې حقله راغلي، بيا د الله عز وجل په توفيق سره ددې نه په عدل او انصاف سره مسائل راوباسو، کوم چه ددې موضوع سره اړه لري، ځکه حديث دليل هم دې او موضوع هم ده.

هغه حديثونه چه په دې باره کښې راغلي :

١ - **اول حديث** : سليمان بن يسارؒ وائي : ما عائشې k ته د ورتلو اجازه وغوښته، هغې

وویل : څوك ئے ؟ ما ویل : سلیمان۔ وے فرمایل : ستا څو مره بدلِ کتابت پاتے دے ؟ هغهٔ ویل : لس اوقے (څلور سوه شرعی روپئ)۔ هغے وفرمایل : راځه تهٔ تر هغه وخته پورے غلام ئے تر څو پورے چه په تا یوه روپئ هم پاتے وی۔

[السنن الكبرى للبيهقى : ٩٥/٧، وإسناده صحيح، كما فى الإرواء : ١٨٣/٦].

امام بیهقیؒ فرمائی : د قاسم بن محمدؒ نه نقل دی هغهٔ فرمائی : په امهات المؤمنین کښے چه به یوه زنانه وه او د هغے به مکاتب غلام وو، نو هغے به د هغهٔ نه پرده نهٔ کوله تر څو پورے چه به په دغه غلام باندے یوه روپئ هم پاتے وه۔ او کله به ئے چه روپئ پوره کړے نو هغے به ترے پرده کوله۔ او دا د نبی کریم ﷺ د بیبیانو خصوصیت وو۔

۲ – حدیث : اسماء بنت ابی بکر i په داسے حال کښے رسول الله ﷺ کره ورغله چه هغے نرئ جامے اغوستے وے، رسول الله ﷺ د هغے نه مخ واړولو، او ورته ئے وفرمایل : اے اسماء ! ښځه چه کله بلوغ ته ورسیږی نو مناسبه نهٔ ده چه ددے دوه اندامونو نه سیوا نور اندمونه د هغے ولیدلے شی، او نبی ﷺ خپل مخ او دواړو ورغوو ته اشاره وکړه۔

[ابوداود : ٢١٣/٢، بيهقى : ٢٢٦/٣، ٨٦/٧، مشكاة : ٣٧٧/٢].

ددے حدیث په سند کښے خالد بن دریك د عائشے k سره نهٔ دے ملاؤ شوے، نو دا منقطع دے، دارنګ په دے کښے سعید بن بشیر ضعیف دے۔ خو دا حدیث د خپلو شواهدو په وجه صحیح یا حسن دے۔

[انظر تلك الشواهد فى : حجاب المرأة المسلمة، ص : ٢٤، للشيخ الألبانىؒ].

۳ – حدیث : عقبه بن عامر رضی الله عنه وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : (تاسو په ښځو باندے مهٔ ورننه وځئ۔ نو د انصارو یو سړی عرض وکړو، د لیور په باره کښے څهٔ وائے ؟ وے فرمایل : لیور خو مرګ دے۔

[صحيح بخارى : ٧٨٧/٢، صحيح مسلم : ٢١٦/١، ترمذى : ٢٢٠/١].

امام ترمذیؒ فرمائی : ددے حدیث مقصد دادے چه پردو ښځو سره یواځے والے مهٔ اختیاروئ، لکه بل حدیث کښے دی : (کوم سړے چه د ښځے سره یواځے شی نو شیطان ئے خامخا دریم ګڼړے وی)۔ یعنی لیور به د ورندار سره یواځے والے نهٔ کوی۔

د ابن عباس رضی الله عنه په حدیث کښے دی : (څوك چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لری، نو

هغه دے د داسے ښځے سره نۀ یواځے کیږی چه د هغے او ددۀ ترمینځه محرم نۀ وی)۔

[قال المنذری فی الترغیب : ۳۸/۳ : رواه الطبرانی].

مبارکفوریؒ فرمائی : د حمو یعنی لیور نه مراد د خاوند ورور، ترۀ، د ترۀ ځوئے او خورئیے وغیره هغه سړی دی د کومو سره چه ددے ښځے نکاح کول حلال دی که چرے دے نکاح نۀ وے کړے۔ او په عامه توګه په دے حقله خلك د سستیٔ او چشم پوشیٔ نه کار اخلی او د خپلے ورندار سره یواځے والے کوی، نو په دے حدیث کښے لیور د مرګ سره مشابه شو۔ نو ددۀ نه سیوا خو به نور خلك په طریقه اولیٰ سره د ښځے سره یواځے والے نشی کولے۔ او دلته د (حمو) نه مراد سخر نۀ دے لکه د بعضِ خلکو خیال دے، ځکه سخر د محارمو نه دے۔

[تحفة الاحوذی : ۲/۲۰۷، صحیح مسلم : ۲/۲۱۶].

نو په دے حدیث کښے اشاره ده چه د پردۍ ښځے سره خِلوت ناروا دے، د محارمو سره هغے کره ورتلل نا روا نۀ دی۔ لکه په دے باندے د ابن عباس رضی الله عنه حدیث دلالت کوی چه (هیڅ یو سړے به پردۍ ښځے کره نۀ ورځی او نۀ به د هغے سره سفر کوی، مګر چه د هغے سره محرم یعنی نزدے خپلوان موجود وی۔

[بخاری، مسلم].

٤ – **حدیث** : عبد الله بن عمرو i وائی : د بنو هاشمو څۀ سړی اسماء بنت عُمیس کره ورغلل، او دا په دغه وخت کښے د ابو بکر رضی الله عنه ښځه وه۔ ابو بکر چه وکتل نو دا کارئے بد وګڼړلو او دا کارئے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ذکر کړو، او وے ویل چه زما د خیر نه سیوا بل ګمان نشته۔ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : بیشکه الله تعالیٰ د دغه کار نه هغه بیزاره کړے ده۔ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د منبر دپاسه ودریدۀ او وے فرمایل : هیڅ یو سړے دے د نن ورځے نه پس هغه ښځے کره نۀ ورځی چه د هغے خاوند په کور کښے نۀ وی، مګر که د هغۀ سره یو یا دوه کسان وی۔

[صحیح مسلم : ۲/۲۱٦، احمد : ۲/۱۷۱، ۱۸٦، بیهقی : ۷/۹۰].

ددے حدیث د ظاهر نه معلومه شوه چه دوه یا درے سړی د پردۍ ښځے سره خِلوت کولے شی۔او امام نوویؒ چه د امام شافعیؒ د مذهب دپاره ددے حدیث کوم تاویل کړے نو هغه د

ظاهر حدیث خلاف دے۔

۵ - حدیث : جابر رضی الله عنه وائی : زۀ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د اختر مانځه ته حاضر شوم، نو هغۀ د اذان او اقامت نه بغیر د خطبے نه مخکښے مونځ وکړو۔ بیا په داسے حال کښے ودریدۀ چه په بلال باندے ئے تکیه لګولے وه، نو د الله په تقویٰ باندے ئے امر وکړو او د هغۀ په طاعت ئے تیزی ورکړه، او خلکو ته ئے وعظ او نصیحت وکړو، بیا ښځو ته ورغے او هغوئ ته ئے وعظ او نصیحت وکړو، وے فرمایل : تاسو صدقے کوئ ځکه په تاسو کښے زیاتره ښځے د جهنم خشاك دے۔ نو د ښځو په مینځ کښے ناستے یوے داسے ښځے عرض وکړو چه د هغے اننګی تور او متغیره شوی وو، هغے وویل : ددے څۀ وجه ده یا رسول الله ؟ وے فرمایل : ځکه تاسو شکایتونه ډیر کوئ او د خاوند ناشکری کوئ۔ راوی وائی : ښځے شروع شوے چه د خپلو کالیو او ګانړو نه ئے صدقے ورکولے او د بلال په جامه کښے ئے خپلے والئ او ګوتمے اچولے۔

[صحیح مسلم : ۲۸۹/۱، نسائی : ۲۳۲/۱، دارمی : ۳۱٤/۱، بیهقی : ۲۹٦/۳، ۳۰۰].

ددے حدیث نه معلومه شوه چه دغه عرض کونکی ښځے خپل مخ ښکاره کړے وو۔

٦ - حدیث: د اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها په حدیث کښے دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر د فتنے په باره کښے خطبه وفرمایله۔ او د خطبے په آخره کښے ئے یوه خبره وکړه چه ما سمه وانۀ وریده۔ نو ما یو سړی ته، چه ماسره نزدے ناست وو، عرض وکړو، الله دے په تا کښے برکت واچوی ! رسول الله صلی الله علیه وسلم دا روستنئ څۀ خبره وکړه ؟ هغۀ وویل : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه : ماته وحی شوے چه تاسو به د دجال فتنے ته نزدے په خپلو قبرونو کښے په فتنه کښے غورزیږئ۔

[صحیح بخاری : ۱۸۳/۱، نسائی : ۲۸۸/۱، مشکاة : ۲٦/۱].

ددے حدیث نه دا دلیل نیول کیږی چه دا د صلاةِ کسوف خطبه وه، او صلاةِ کسوف د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځوئے ابراهیم د وفات کیدو په ورځ شوے وو، چه دا نهم (۹) هجری کال وو، او د پردے حکم ددے نه مخکښے په پنځم (۵) کال باندے راغلے وو۔

[کما فی : هذا الحبیب یا محب، ص : ۳۲٤، لأبی بکر الجزائریؒ].

نو په دے حدیث کښے پردی سړی سره د ښځے خبرے اترے او پوښتنه کول ذکر دی۔

۷ – **حديث** : انس رضي الله عنه وائی : درے کسان د رسول الله صلى الله عليه وسلم بيبيانو خواته راغلل چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د عبادت په حقله ئے پوښتنه کوله، او کله چه دوئ په دے خبر کړے شول نو ګوياکه دوئ دا عبادت کم وګڼړلو ...... تر آخره پورے۔

[بخاری : ٤٧٧٦، ومسلم بمعناه، مشكاة : ٢٧/١].

دے حديث نه معلومه شوه چه ښځے د سړو سره او سړی د ښځو سره خبرے کولے شی۔

۸ – **حديث** : ابن عباس رضي الله عنه وائی چه د خثعم قبيلے يوے ښځے د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په حجة الوداع کښے د اختر په ورځ پوښتنه کوله، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره فضل بن عباس رضي الله عنه شريك په سورلئ باندے روستو سور وو، او فضل ډير ښائسته سړے وو ...... په دے حديث کښے دی : نو فضل شروع شو چه دغه ښځے ته ئے کتلے، او دغه ښځه هم ښائسته ښځه وه۔ هغے هم فضل ته کتلے۔ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د فضل څنه ونيوله او مخ ئے ورله بل خوا واړولو۔

[بخاری : ٢٠٥/١، مسلم : ٣٤١/١، احمد : ٢١١/١].

امام ابن حزمؒ فرمائی : که چرے د ښځے مخ عورت وے چه د هغے پټول ضروری وے، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به د خلکو په حضور کښے دا په مخ ښکاره کولو باندے برقراره نهٔ پريښودلے، هغے ته به ئے خامخا حکم کړے وے چه په ځان باندے څهٔ پرده راوا چوی۔ اوکه چرے د دغه ښځے مخ پټ وے نو ابن عباس رضي الله عنه ته به د هغے د ښائسته والی او بدرنګ والی پته څهٔ لږيدلے ؟

[المحلی لابن حزمؒ].

او دا ښځه محرمه هم نهٔ وه، ځکه دا واقعه هغه وخت راپيښه شوے وه هر کله چه نبی صلى الله عليه وسلم جمرة العقبة ويشتلے وه، او هلته احرام نهٔ وی۔ [فتح الباری].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ابن بطالؒ ويلی دی چه په دے حديث کښے د فتنے د ويرے د وجے نه د نظر د ښکته ساتلو امر شوے۔ ددے تقاضا داده چه کله د فتنے انديښنه نهٔ وی نو بيا به نظر کول منع نهٔ وی۔ ددے تائيد دادے چه نبی صلى الله عليه وسلم د فضل مخ صرف په هغه وخت کښے واړولو کله چه هغهٔ په دغه ښځه کښے نظر واچولو او هغه ئے زړهٔ ته پريوته، نو نبی صلى الله عليه وسلم سره د هغهٔ د فتنے ويره پيدا شوه۔ او ددے حديث نه دا ثابته شوه چه انسان باندے خپله

بشری طبیعت او کمزورتیا غالبه کیږی، هغه دا چه ښځو ته میلان کوی او هغه ئے خوښیږی۔ دارنګ په دے حدیث کښے دلیل دے چه مؤمنانو ښځو باندے هغه اندازه پرده فرض نۀ ده کومه چه د نبی اکرم ﷺ په بیبیانو باندے فرض وه۔ ځکه که په ټولو ښځو باندے هم دغه پرده فرض وے نو نبی ﷺ به خثعمیه ښځے ته د مخ پټولو امر کړے وے، او یواځے د فضل په مخ اړولو به ئے اکتفاء نۀ کولے۔ دارنګ په دے کښے دلیل دے چه د ښځے دپاره مخ پټول فرض نۀ دی، ځکه د علماؤ په دے اجماع ده چه ښځه کولے شی چه په مانځه کښے خپل مخ ښکاره کړی اګرکه پردی سړی ئے وینی۔

[فتح الباری : ۱۱/۸].

د ابن بطالؒ دا پورتنئ خبرے ډیرے مضبوطے دی، په دے کښے د فکر کولو نه پس په دے مسئله کښے راغلی ټول اشکالات ختمیږی۔

۹ – **حدیث** : سهل بن سعد رضی الله عنه وائی : یوه ښځه رسول الله ﷺ ته راغله او عرض ئے وکړو، اے د الله رسوله ! زۀ درے له راغلے یم چه تاته خپل ځان دروبښم ! نو نبی ﷺ هغے ته وکتل او هغے ته ئے ښکته پورته وکتل، بیا ئے خپل سر مبارك ښکته کړو۔ کله چه ښځے ته معلومه شوه چه د نبی ﷺ دیته حاجت نشته، نو کیناستله ...... بیا ئے یو بل صحابی له په نکاح ورکړه۔

[بخاری : ٤٧٤٢، مسلم : ١٤٢٥، مشکاة : ٢٧٧/١].

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : حدیث نه معلومه شوه چه څوك د کومے ښځے سره د نکاح کولو اراده لری هغۀ له جائز دی چه د هغے د حُسن ځایونه وګوری اګرکه ددے نه مخکښے ئے د نکاح کولو اراده نۀ وه۔ [فتح الباری :۱۷۳/۹].

دا ښځه نبی ﷺ او نورو صحابه کرامو ولیدله ځکه چه ددے مخ ښکاره وو۔

۱۰ – **حدیث** : ام سلمه k نه روایت دے چه دا او میمونه دواړه د رسول الله ﷺ سره وے چه په دے کښے ابن ام مکتوم ړوند صحابی رامخامخ شو، او رسول الله ﷺ ته راداخل شو۔ نو رسول الله ﷺ مونږ دواړو ته وفرمایل : تاسو دواړه ددۀ نه پرده وکړئ۔ نو ما عرض وکړو، اے د الله رسوله ! آیا دا ړوند نۀ دے چه مونږ نۀ وینی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : آیا تاسو دواړه ړندے یاستئ، آیا تاسو هغه نۀ وینئ ؟

[احمد : ٦/٢٩٦، ترمذي، ابوداود : ٤١٢٢، مشكاة : ٢/٢٦٩].

ددې حديث سند ضعيف دې، په دې کښې نبهان مجهول راوي دې.

[إرواء الغليل : ١٨٠٦].

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : ددې سند قوي دې.

[فتح الباري : ٩/٢٧٦].

امام ابوداودؒ فرمائي : دا حکم د رسول الله ﷺ د بيبيانو پورې خاص وو. ځکه فاطمې بنت قيس k د ابن ام مکتوم په کور کښې عدت تير کړې وو. نبي ﷺ فاطمې بنت قيس ته فرمايلي وو چه : ابن ام مکتوم کره عدت تير کړه ځکه دا يو ړوند سړې دې، تهٔ به د هغهٔ خواته خپلې جامې ږدې.

د امام ابوداودؒ دا خبره ډيره په علم او تحقيق باندې بناء ده. لکه روستو راځي.

١١ - حديث : فاطمه بنت قيس k نه روايت دې چه ابو عمرو بن حفص ديته درې طلاقه ورکړل او هغه غائب وو ...... نو هغه رسول الله ﷺ ته راغله او دا ئې ورته ذکر کړو ...... رسول الله ﷺ ورته امر وکړو چه دا د ام شريك په کور کښې عدت تير کړې. بيا ئې وفرمايل : دا داسې ښځه ده چه زما صحابه هغې ته ډير ډير راځي، دې وجې نه تهٔ د ابن مکتوم ﷺ کره عدت تير کړه. ځکه دا يو ړوند سړې دې، تهٔ به د هغهٔ خواته جامې ږدې. په بل روايت کښې دي چه هغې ته ئې وفرمايل : تهٔ ام شريك kکره لاړه شه، او دا د انصارو يوه مالداره ښځه وه، د الله په لاره کښې به ئې ډير مال لږولو او هغې کره به ميلمانهٔ راتلل. هغه بي بي وائي : ما ويل : زهٔ به دا کار وکړم. خو نبي ﷺ بيرته وفرمايل : دا کار مهٔ کوه ځکه ام شريك کره ميلمانه ځي راځي، زهٔ بدې گڼړم چه ستا لوپټه به پريوځي او يا به ستا د دواړو پونډو نه جامه وغورزيږي او خلك به ستا هغه ځايونه ويني کوم چه تهٔ بدې گڼړې. دې وجې نه تهٔ د خپل ترهٔ ځوئې عمرو بن ام مکتوم ړوند کره نقل شه ...... دا د هغې د قبيلې يو سړې دې، ځکه که تهٔ د هغهٔ خواته خپله لوپټه ږدې نو هغه تا نهٔ ويني. هغه وائي : زهٔ بيا هغهٔ ته ورنقل شوم.

[صحيح مسلم : ١/٤٨٣].

شيخ البانيؒ فرمائي : دې حديث نه دا دليل نيول ښکاره دي چه مخ عورت نهٔ دې، ځکه

نبی ﷺ فاطمه بنت قیس په دے کار برقراره ساتلے چه دیته سړی په داسے حال کښے وګوری چه په دے باندے لوپټه پرته وی، نو ددے نه معلومه شوه چه ددے مخ پټول داسے ضروری نهٔ دی څنګه چه سر پټول ضروری دی۔ البته نبی ﷺ سره د دغه بی بی په حقله دا اندیښنه شوه چه ددے لوپټه به وغورزیږی او ددے هغه اندام به ښکاره شی چه د هغے ښکاره کول په نص سره حرام دی، نو نبی ﷺ ورته د احتیاط دپاره وفرمایل چه د ابن ام مکتوم ړوند رضی الله عنه کور کره نقل شه۔ او دا قیصه د نبی اکرم ﷺ د ژوند په آخیری دور کښے راپیښه شوے وه، څکه په دے حدیث کښے د تمیم ذکر راغلے او هغهٔ په نهم (۹) کال اسلام قبول کړے۔

[جلباب المرأة المسلمة، ص : ٦٦].

۱۲ – **حدیث** : سبیعه بنت الحارث k نه روایت دے چه دا د سعد بن خوله ښځه وه او هغه ددے نه په حجة الوداع کښے وفات شو، او هغه بدری صحابی وو، نو د هغهٔ د وفات کیدو د زمانے نه څلور میاشتے او لس ورځے لا تیرے شوے نهٔ وے چه هغے زیګون وکړو، نو کله چه هغه د نفاس نه پاکه شوه نو د هغے سره ابو السنابل بن بعکك مخامخ شو، او هغے رانجهٔ پورے کړی وو، نکریزے ئے لږولے وے او ځان ئے تیار کړے وو، نو هغهٔ ورته وویل : په خپل ځان باندے رحم وکړه، کیدے شی چه تهٔ د نکاح اراده لرے ؟ ستا د خاوند د وفات نه پس خو څلور میاشتے او لس ورځے لا نهٔ دی تیر شوی ! هغه وائی : زهٔ نبی ﷺ ته راغلم او د ابو السنابل دا خبره مے ورته وریاده کړه۔ نبی ﷺ وفرمایل : تا چه کله زیګون وکړو نو تهٔ د عدت نه ووتلے۔

[صحیح بخاری : ٨٠٢/٢، احمد : ٤٣٢/٦، مسلم]

دے حدیث نه ښکاره ثابته شوه چه د ښځے ورغوی او مخ د صحابه کرامو د زنانو په عُرف کښے د عورت نه نهٔ شمارل کیدل۔ که نهٔ وی نو بیا د سبیعه دپاره دا جائز نهٔ وو چه د ابو السنابل مخامخ ئے دا ښکاره کړی وے خصوصًا چه هغهٔ دیته د نکاح پیغام هم ورلیږلے وو او هغے انکار کړے وو۔

۱۳ – **حدیث** : د ابن عباس رضی الله عنه نه په صحیح حدیث سند سره نقل دی چه (یوه ښځه نبی ﷺ ته راغله چه بیعت ئے ورسره کولو او هغے نکریزے نهٔ وے مږلے نو نبی ﷺ ورسره

بیعت ونهٔ کړو تردے چه هغے نکریزے ومړلے)۔

[ابوداود : ۲/۲۲۰، بیهقی : ۸٦/۷].

۱٤ – حدیث : عطاء بن ابی رباحؒ وائی : ماته ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل : آیا زهٔ تاته یوه جنتئ ښځه نهٔ درښایم ؟ ما ویل ولے نه ! وے فرمایل : دغه توره ښځه ده، دا نبی صلی الله علیه وسلم ته راغلله او شکایت ئے وکړو، چه په ما میرگی راځی او بیا زهٔ ځان بربنډوم، تهٔ د الله نه ماله دعاء وغواړه۔ نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : که خوښه دے وی نو صبر وکړه او ستا دپاره جنت دے، اوکه خوښه دے وی زهٔ به درله دعاء وغواړم چه تا جوړه کړی (خو بیا به د جنت وعده نهٔ وی) نو هغے وویل : زهٔ صبر کوم، خو دومره ده چه تهٔ د الله نه وغواړه چه زهٔ ځان نهٔ بربنډوم۔ نبی صلی الله علیه وسلم هغے له دعاء وغوښته۔

[صحیح بخاری : ۸٤٤/۲، صحیح مسلم، مشکاة : ۱۳۷/۱].

نو دا حدیث دلیل دے په دے چه دغے تورے ښځے خپل مخ ښکاره کړے وو چه ابن عباس رضی الله عنه ولیدله۔ او دے حدیث نه ثابته شوه چه د ضرورت د وجے پردئ ښځے ته کتل، کله چه د فتنے ویره نهٔ وی، جائز دی۔

۱۵ – حدیث : ابن عباس رضی الله عنه وائی : (یوه ښځه وه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پسے به ئے مونځ کولو، ډیره زیاته ښائسته ښځه وه۔ ابن عباس وائی : قسَم په الله ! ددے پشان ښائسته ښځه ما هیڅکله نهٔ وه لیدلے، نو ځینے خلکو به مخکښے صف ته زور کولو، دے دپاره چه په هغے باندے ئے نظر ونهٔ لړی۔ او ځینے خلك به روستو روستو کیدل تردے چه په روستنی صف کښے به (ښځو ته نزدے) ودریدل۔ او کله به ئے چه رکوع وکړه نو لاسونه به ئے جدا کړل او د ترخونو لاندے به ئے هغے ته کتل۔ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو : ﴿وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِيْنَ﴾ (یقینًا مونږ په تاسو کښے هغه کسان پیژنو چه هغوئ مخکښے کیږی او هغه هم پیژنو چه روستو روستو کیږی)۔

[ترمذی : ۲۹٦/۵، ابن ماجه : ۳۳۲/۱، نسائی : ۱۱۸/۲، ابن حبان : ۱۲٦/۲، بیهقی : ۹۸/۲، مستدرك : ۳۵۳/۲، احمد : ۳۰۵/۱، الصحیحة :٦۰۸/۵، رقم : ۲٤۷۲].

دے حدیث کښے مخ ښکاره کولو ته اشاره ده، او دلیل دے چه په مانځه کښے مخ ښکاره کول جائز دی، دارنگ ځوانے ښځے هم جومات ته راتلے شی۔

١٦ - **حديث** : ابن مسعود رضي الله عنه وائي : رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه ښځه وليده او هغه ئے خوښه شوه، نو خپلے بي بي، سودے ته راغے او هغے خوشبوئے جوړوله، او هغے سره نورے ښځے هم ناستے وے، نو هغوئ د نبي صلى الله عليه وسلم د خوانه لاړے، نو نبي صلى الله عليه وسلم د هغے نه خپل حاجت پوره کړو. بيائے وفرمايل : (کوم سړے چه يوه ښځه ووينی او هغه ئے خوښه شی نو خپلے بي بي ته دے ورپاسيږی، ځکه ددے ښځے سره هم هغه شے دے کوم چه د هغے سره دے).

[سنن دارمي : ١٩٦/٢، ابن حبان : ٣٨٤/١٢، ترمذي : ٤٦٤/٣، شعب الايمان : ٣٦٧/٤، مشكاة : ٢٦٩/٢، صحيح مسلم].

ددے حديث سند صحيح دے.

١٧ - **حديث** : د عطاء بن ابي رباح نه په صحيح سند سره نقل دی، دا وائي : ما عائشه k وليده چه ګړو بزو دپاره به ئے اميلونه غښتل چه د ځان سره به ئے د هديه په توګه روانول.

[عبد الرزاق، التمهيد لابن عبد البر : ٢٢١/١٧].

١٨ - **حديث** : معاويه رضي الله عنه وائي : زۀ د ابو علي سره ابو بکر رضي الله عنه کره ورغلم نو ما (د هغۀ ښځه) اسماء وليده چه سپينه وه او د هغۀ په سر باندے ولاړه وه. او ابو بکر رضي الله عنه مے وليدۀ چه هغه هم سپين او نرے سړے وو.

[الكبير للطبراني : ٢٥/١٠/١، بسند جيد].

١٩ - **حديث** : ابراهيم بن عبد الرحمن بن عوف نه روايت دے چه (عمر بن خطاب رضي الله عنه په خپل آخري حج کښے د نبي صلى الله عليه وسلم بيبيانو ته اجازه ورکړے وه، او د هغوئ سره ئے عثمان بن عفان او عبد الرحمن بن عوف i ليږلي وو. ابراهيم وائي : عثمان به آواز کولو چه خبردار! دے بيبيانو ته به هيڅوك نزدے نۀ ورځی، اونۀ به ورته څوك ګوري. او دا بيبيانے د اوښانو دپاسه په کجاوو کښے ناستے وے. اوکله به ئے چه دمه کوله نو د دَرے په سر به ئے په دوئ باندے پړاؤ کولو. او عثمان او عبد الرحمن دواړه به د دَرے په روستنئ برخه کښے وو، او دغه بيبيانو ته به هيڅوك نشو ورختلے.

[طبقات ابن سعد : ١٥٢/٨].

ددے نه معلوميږی چه دغه بيبيانو به خپل بدنونه د استحباب په توګه پټول.

ځکه امام احمدؒ د یزید بن بابنوسؒ نه نقل کړی، دا وائی : زۀ او زما ملګرے عائشے k ته ورغلو او مونږ هغے سره د ملاقات دپاره اجازه وغوښته، نو هغے مونږ ته تکیه راوا چوله او خپل ځانته ئے پرده راښکله، نو زما ملګری ورته وویل : اے د مومنانو مورے ! تۀ د حیض په باره کښے څۀ وائے ......

[مسند أحمد : ٦/٢١٩].

ددے حدیث سند حسن دے۔

٢٠ – حدیث : امام عجلیؒ د عبید بن عمیر المکیؒ په حالاتو کښے لیکلی چه : په مکه کښے یوه ښائسته ښځه وه، او هغے خاوند لرلو۔ نو یو ورځ هغے خپل مخ ته په شیشه کښے وکتل، نو خپل خاوند ته ئے وویل : آیا تاته داسے څوك معلوم دے چه دا مخ ووینی او په فتنه کښے پرینه وځی ؟ هغۀ ویل : یو کس راته معلوم دے۔ هغے ویل : څوك دے ؟ خاوند ئے وویل : عبید بن عمیرؒ۔ هغے وویل : ماته اجازه وکړه، زۀ هغه په فتنه کښے اچوم ! خاوند ئے وویل : ما درته اجازت وکړو۔ نو هغه ښځه عبیدؒ ته راغله او د مسئلے پوښتنه ئے ترے کوله، نو هغه د هغے سره د مسجدِ حرام په یو ګوټ کښے یواځے شو۔ هغه ښځه وائی: ما هغۀ ته د سپوږمۍ د ټکړے پشان سپین مخ ښکاره کړو۔ نو عبید بن عمیرؒ وویل : اے د الله وینځے ! الله نه ویریږه !

[کتاب الثقات للعجلی].

٢١ – حدیث : جریر بن عبد الله رضی الله عنه وائی : ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د ناڅاپه نظر په حقله پوښتنه وکړه، نو وے فرمایل : خپل نظر اړوه۔

[صحیح مسلم : ٥٧٧٠، مشکاة : ٢/٢٦٨، ابوداود : ٢١٤٨، أحمد : ٤/٣٦١].

دے حدیث نه هم د مخ ښکاره والے معلومیږی۔

امام نوویؒ د قاضی عیاضؒ نه نقل کړی، هغه وائی : علماؤ ویلی دی چه دا حدیث دلیل دے چه په ښځے باندے په لاره کښے دا واجب نۀ دی چه خپل مخ پټ کړی، صرف دا ورله مسنون او مستحب دی۔ او نارینه ؤ باندے واجب دی چه په ټولو حالاتو کښے به د هغے نه خپل نظر ښکته ساتی، سیوا د یو شرعی صحیح مقصد د وجے نه، چه هغه د ګواهئ په وخت، علاج کولو په وخت، د نکاح کولو په اراده، یا د وینځے اخستو په وخت یا د اخستلو

او خرخولو وغيره په حالت کښې کتل دي. او په دې حالاتو کښې د ضرورت مطابق کتل مباح دي نۀ زياتي کتل.

[شرح مسلم : ٢١٢/٢، ونحوه فى المرقاة : ١٩٧/٦].

٢٢ – حديث : د علي رضي الله عنه په حديث کښې دي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دۀ ته وفرمايل: .[يَا عَلِيُّ ! لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ، فَإِنَّ لَكَ الْأُوْلىٰ وَلَيْسَتْ لَكَ الآخِرَةُ].

(اې علي ! بار بار نظر مۀ کوه، ځکه ستا دپاره د اولنى نظر اجازه شته نۀ د روستنى نظر).

[ابوداود : ٢٩٩/١، احمد : ٣٥٣/٥، مستدرك : ١٩٤/٣، وغيره، ددې حديث سند صحيح دې].

دې حديث نه هم د مخ ښکاره کولو جواز معلوميږي.

٢٣ – حديث : امام بيهقيؒ په صحيح سند سره د عائشې k نه نقل کړې دي چه هغې د محرمې ښځې په حقله وفرمايل : (که د هغې خوښه شي نو په خپل مخ به جامه راواچوي).

[السنن الكبرى : ٤٧/٥].

دې حديث کښې عائشې k په مخ پټولو کښې اختيار ورکړې، نو دا واضح دليل دې په دې چه مخ د هغې په نيز عورت نۀ دې، که نۀ وي نو په هغې باندې به ئې ددې پټول ضروري ګرځولى وې.

٢٤ – حديث : ابو هريره رضي الله عنه وائي : يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم د کوره را ووتۀ نو ناڅاپه د ابو بکر او عمر i سره مخامخ شو. په دې حديث کښې دي چه دوئ درې واړه د يو انصاري کور ته ورغلل، او هغه په کور کښې نۀ وو. کله چه د هغۀ ښځې رسول الله صلى الله عليه وسلم وليدۀ نو هغۀ ته ئې هرکلې ووايۀ. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : فلانې څۀ شو ؟ هغې ويل : مونږ له خوږې اوبۀ راوړي ......تر آخره پورې.

[صحيح مسلم : ٥٤٣٤، مشكاة : ٣٦٨/٢].

دې حديث نه ثابته شوه چه ښځه د سړو سره خبرې کولې شي دارنګ هغوئ ته هر کلې ويلې شي. دارنګ ثابته شوه چه ښځې سړو ته او سړي ښځو ته کتلې شي.

٢٥ – حديث : اسماء بنت يزيد k وائي : رسول صلى الله عليه وسلم زمونږ د ښځو په يوه ډله باندې تير شو او په مونږه ئې سلام واچولو. د ترمذي په روايت کښې دي : هغوئ ته ئې د لاس په اشارې سره سلام وکړو.

[ابوداود: ۵۱۸/۴، ابن ماجه: ۱۲۲۰/۲، ترمذی: ۵۸/۵، وهو حدیث صحیح].

۲۶ – حدیث: بریدة ﷛ **وائی: رسول الله** ﷺ **یوے غزا ته ووائۀ او کله چه را واپس شۀ نو یوه توره وینځه راغله او عرض ئے وکړو، اے د الله رسوله! ما دا منښته کړے که الله تۀ روغ رمټ راواپس کړے نو زۀ به ستا مخے ته چمبه وهمه او سندرے به ویمه. نو رسول الله** ﷺ **ورته وفرمایل: که تا واقعی منښته کړے وی نو چمبه ووهه، اوکه منښته دے نۀ وی کړی نو مۀ ئے وهه. نو هغے چمبه وهل شروع کړل. دے کښے ابو بکر، علی او عثمان** j **راننوتل او هغے دغسے چمبه وهله. او کله چه عمر** ﷛ **راننواتۀ نو چمبه ئے وارتوله او د هغے دپاسه کیناستله. نو نبی** ﷺ **وفرمایل: عُمَره! شیطان هم درنه یریږی ......).**

[ترمذی: ۳۶۹۰، وقال حدیث صحیح غریب، مشکاة: ۵۵۸/۲]

نو دے حدیث نه ثابته شوه چه په سندرو باندے د ښځے آواز مباح دے.

[کما قال ملا علی قاریؒ فی المرقاة].

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی: هر چه د سړو مخامخ د آزادو او اصیلو ښځو د چمپے سره سندرے ویل دی، نو دا صرف په ودونو او خوشحالیو کښے مباح دی. لکه د هغه ښځے حدیث شو چه هغے د چمپے وهلو او سندرو ویلو منښته کړے وه. خو د نارینه او زنانو دپاره سندرے ویونکے ښځے مقررول په هر حالت کښے منکر او خلافِ شرع کار دے. او ددے ښځے حالت د هغه ښځے نه جدا دے چه د هغے کار دا نۀ وی. دارنګ په دے کار باندے د عوض اخستو حکم هم دغسے دے.

۲۷ – حدیث: د عائشے k **په حدیث کښے دی: (رسول الله** ﷺ **وفرمایل: اے عبد بن زمعه! دا ماشوم ستا شو، ځکه بچے د بسترے حسابیږی او زنا کار د بچی نه محرومه وی. بیائے سودے** k **ته وفرمایل: تۀ ددۀ نه پرده کوه. او دا ئے ورته ځکه وفرمایل چه نبی** ﷺ **په هغۀ کښے د عتبه مشابهت لیدلو. نو هغه دغه بی بی تر مرګه پورے ونۀ لیدله.**

[بخاری: ۱۰۰۷/۲، مسلم: ۴۷۰/۱، مشکاة: ۲۸۷/۲].

نو په دے حدیث کښے د دغه بی بی د خپل ورور نه شرعًا او ظاهرًا پرده راغلے ده، او دا پرده د تقویٰ په توګه ده.

۲۸ – حدیث: عائشه k **وائی: رسول الله** ﷺ **ناست وو چه ځۀ شور او د ماشومانو**

آوازونه ئے واوریدل، نو رسول الله ﷺ چه ودریدۀ نو ناڅاپه یوه حبشی ښځه وه چه ګډا ئے کوله او د هغے نه ګیر چاپیره ماشومان راجمع شوی وو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : اے عائشے ! راشه وګوره۔

[ترمذی : ٥/٦٢١، السنن الکبری للنسائی : ٥/٣٠٩]

٢٩ – حدیث : ابو جحیفه رضی الله عنه وائی : نبی ﷺ د سلمان او ابودرداء ترمینځه ورورولی قائمه کړه، نو سلمان د خپل ورور ابودرداء ملاقات له لاړ، نو د هغۀ ښځه ئے په زړو جامو کښے ولیدله۔ سلمان ورته وویل : څۀ وجه ده چه ډول او زینت دے پریښے دے ؟ هغے ویلے : ستا ورور ابودرداء په دنیا کښے څۀ حاجت نۀ لری ...... تر آخره پورے۔

[صحیح بخاری : ١/٢٦٤، ترمذی : ٢٤١٣].

٣٠ – حدیث : ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه دۀ وفرمایل : (الله دے په خالونو لړونکے ښځه لعنت وکړی) ...... نو دۀ ته یوه ښځه راغله او وے ویل : زۀ خبره شوے یم چه تا په داسے داسے ښځه لعنت ویلے ......تر آخره پورے۔

په دے حدیث کښے ددے ښځے اوړدے خبرے ذکر دی۔

[صحیح بخاری : ٤٦٠٤، صحیح مسلم : ٢١٢٥، مشکاة : ٢/٣٨١].

نو دے حدیث نه معلومه شوه چه ښځه په دینی مسائلو اونورو خبرو کښے د سړی سره خبرے اترے کولے شی، په دے شرط چه هغے سره خِلوت ونۀ کړی۔

قاضی عیاضؒ وائی : علماؤ ویلی دی : دا حدیث دلیل دے چه په ښځه باندے مخ پټول واجب نۀ دی بلکه دا ورله مسنون او مستحب دی۔او په سړو باندے په ټولو حالتونو کښے واجب دی چه ښځے ته به نۀ ګوری، سیوا د یو شرعی صحیح غرض نه۔

[شرح مسلم للنووی: ٢/٢١٢، مرقاة : ٦/١٩٧].

د حجاب او پردے متعلق قرآنی آيتونه او د هغے تفسير

۱ - **اول آيت** : الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَاسْئَلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ ﴾.

(او کله چه تاسو ددے بيبيانو نه څۀ سامان غواړئ نو د پردے نه اخوائے ترے غواړئ، دا کار ستاسو او د دوئ د زړونو دپاره ډير د پاکيزګئ سبب دے).

دا د الله تعالىٰ له خوا مضبوط امر دے په دے چه ښځے به پرده کوی او خپل مخونه به هم پټوی. اشرف على تهانوی صاحب په خپل کتاب [القول الصواب فی تحقيق مسألة الحجاب] کښے وائی : دا آيت د نبی ﷺ د بيبيانو پورے خاص نۀ دے، ځکه اعتبار د الفاظو عموم له دے، نۀ خصوصی سبب لره. بلکه دا چه الله تعالىٰ ددے حکم دپاره علت ذکر کړے، لکه فرمائی : ﴿ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ ﴾ (دا کار ستاسو او د دوئ د زړونو دپاره ډير د پاکيزګئ سبب دے). سره ددے چه د امهات المؤمنين نه علاوه په نورو ښځو کښے فتنه زياته ده، نو د هغوئ حکم به په دے مسئله کښے د دوئ نه هم زيات سخت او مضبوط وی.

خو مخکښے د ابن بطالؒ خبره په دے حقله تيره شوه چه په دے مسئله کښے د نبی اکرم ﷺ د بيبيانو حکم د نورو مومنانو د ښځو نه مختلف او جدا دے. دغه شان دا خبره مخکښے امام ابوداودؒ هم کړے ده.

۲ - **دويم آيت** : الله تعالىٰ فرمائی :

﴿ وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوِ التّٰبِعِيْنَ غَيْرِ اُولِى الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ [النور، آيت : ۳۱].

(او اے زما نبی ! تۀ مومنانو ښځو ته ووايه چه هغوئ خپل نظرونه ښکته لری او دَ خپلو شرمګاهونو حفاظت کوی، او خپل ډول نۀ ښکاره کوی، سيوا دَ هغے نه چه هغه ښکاره

کیږی، او په خپلو ګریوانونو دے خپلے ځادرے اچوی، او خپل ډول او سینګار دے دهیڅچا مخامخ نۀ ښکاره کوی، سیوا دَ خپلو خاوندانو نه، یا دَ خپلو پلرونو نه، یا دَ خپلو سخرانو نه، یا دَ خپلو ځامنو نه، یا دَ خپلو خاوندانو دَ ځامنو نه، یا دَ خپلو ورونو نه، یا دَ خپلو وریرونو نه، یا دَ خپلو خوریانو نه، یا دَ خپلو ښځو نه، یا دَ خپلو غلامانو نه، یا په کور کښ دَ اوسیدونکو هغه خلقو نه سیوا چه هغوئ دَ ښځو خواهش نۀ لری، یا دَ هغے ماشومانو نه سیوا کوم چه لا اوسه پورے دَ ښځو په شرمګاهونو خبر شوی نۀ وی، او خپلے خپے په زمکه مه راکاږئ، دے دپاره چه ددے پټ ډول خلقو ته معلوم شی، او اے مومنانو ! تاسو ټول په یو ځائے دَ الله په دربار کښ توبه کړئ، دے دپاره چه کامیاب شئ)۔

ابن کثیرؒ ددے آیتِ کریمه په تفسیر کښے فرمائی : یعنی ښځے به پردو سړو ته د ډول او ښائست هیڅ شے نۀ ښکاره کوی، سیوا د هغه شئ نه چه د هغے پټول ممکن نۀ وی۔ ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی : لکه ځادر او جامے شوے، او دا هم په هغه طریقه، کومه طریقه چه د عربو د ښځو عادت وو چه هغوئ به غټ پړونی په سرولو چه د هغے جامے به ئے پټے کړے وے، او د جامو صرف لاندے طرف به ښکاره کیدۀ۔ نو ددے ښکاره کول ښځے له جائز دی ځکه ددے پټ ساتل ممکن نۀ دی۔ ددے مثال لکه د ښځو په لباس کښے هغه لنګ وغیره چه هغه ښکاری او پټول ئے ممکن نۀ وی۔ د ابن مسعود رضی الله عنه دا وینا حسنؒ، ابن سیرینؒ، ابو الجوزاءؒ او ابراهیم نخعیؒ او نورو هم ویلے ده۔

○ او اعمشؒ دَ سعید بن جبیرؒ په واسطه د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کوی، چه : ﴿ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ﴾.

(ښځے به ډول نۀ ښکاره کوی مګر هغه چه ددے نه ښکاره کیږی)۔

فرمائی : ددے نه مراد د ښځے مخ او دواړه ورغوی او ګوتمۀ ده۔ د ابن عمر، عطاء، عکرمه، سعید بن جبیر، ابو الشعثاء، ضحاك، ابراهیم نخعی – رحمهم الله – او نورو نه ددے پشان خبره نقل شوے۔ او په دے کښے دا احتمال شته چه دا د هغه زینت او ډول تفسیر وی چه ښځے د هغے د ښکاره کولو نه منع شوی دی۔

لکه ابو اسحاق سبیعیؒ د ابو الاحوصؒ په واسطه د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت کوی چه : ﴿ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ ﴾ (ښځے به خپل ډول نۀ ښکاره کوی) ددے نه مراد والئ، د مټ کړه، د خپے

پانزیب او د غاړې امیل دے۔ او په همدے سند سره د هغهٔ نه نقل دی چه زینت او ډول دوه قِسمه دے۔ یو ډول هغه دے چه صرف خاوند ئے وینی لکه ګوتمه او بنګړے۔ او بل ډول هغه دے چه پردی خلك ئے وینی لکه ظاهری جامے۔

زهریؒ فرمائی: دا کوم کسان چه الله ذکر کړی چه دوئ د ښځے محارم دی، نو دوئ ته به د بنګړو، لوپټو او والیو نه علاوه بل شے نهٔ ښکاره کوی۔ او هر چه عام خلك دی، نو هغوئ ته به د ګوتمے نه سیوا بل شے نهٔ ښکاره کوی۔

امام مالكؒ د امام زهریؒ نه نقل کوی چه [اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنۡهَا] نه مراد ګوتمهٔ او پانزیب دے۔ او کیدے شی چه ابن عباس او د هغهٔ پیرویانو د [مَا ظَهَرَ مِنۡهَا] تفسیر په مخ او ورغوو سره کړے وی۔ او همدا د جمهورو په نیز مشهوره ده۔

ددے تائید د عائشے k په هغه حدیث سره هم کیږی چه په هغے کښے راغلی چه: اسماء بنت ابی بکر i په داسے حال کښے رسول الله ﷺ کره ورغله چه هغے نرئ جامے اغوستے وے، رسول الله ﷺ د هغے نه مخ واړولو، او ورته ئے وفرمایل: اے اسماء! ښځه چه کله بلوغ ته ورسیږی نو مناسبه نهٔ ده چه ددے دوه اندامونو نه سیوا نور اندمونه د هغے ولیدلے شی، او نبی ﷺ خپل مخ او دواړو ورغوو ته اشاره وکړه۔

[ابوداود: ٢/٢١٣، بیهقی: ٣/٢٢٦، ٧/٨٦، مشکاة: ٢/٣٧٧].

خو ابوداود او ابو حاتم رازیؒ ویلی: دا مرسل دے۔ خالد بن دریك د عائشے k سره نهٔ دے ملاؤ شوے، نو دا منقطع دے، دارنګ په دے کښے سعید بن بشیر ضعیف دے۔ خو دا حدیث د خپلو شواهدو په وجه صحیح یا حسن دے۔

[انظر تلك الشواهد فی: حجاب المرأة المسلمة، ص: ٢٤، للشیخ الألبانیؒ].

○ قرطبیؒ په خپل تفسیر کښے فرمائی: الله تعالیٰ ښځو ته حکم کړے چه دوئ به کتونکو سړو ته خپل ډول نهٔ ښکاره کوی، سیوا د هغه شیانو نه چه د آیتِ کریمه په روستنئ برخه کښے ذکر دی، دے دپاره چه هغوئ په فتنه کښے پرے نهٔ وځی۔ بیا الله د هغه ډول استثناء کړے چه هغه ښکاره کیږی۔ ددے په اندازه کښے د خلکو اختلاف دے۔ ابن مسعود رضی الله عنه وائی: ظاهر زینت جامو ته وائی۔ او سعید بن جبیرؒ ورسره مخ هم ذکر کړے۔

دارنګ سعید بن جبیرؒ، عطاء او اوزاعیؒ وائی: د ظاهری ډول نه مراد مخ، ورغوی او

جامے دی۔

○ ابـن عبـاس، قتـاده او مسـور بـن مـخـرمـه وائی : ظاهری ډول رنجو، بنګړو، نکریزو، والـۍ او د خپـو د ګـوتـو کـړۍ او نیـمـائـی څنګلے ته وائی۔ چه دا شیان ښځه هر هغه چاته ښکـاره کـولے شی څوك چه دیته ورځی۔ امام طبریؒ د قتادةؒ نه د نیمائی لیچے په مضمون کښے د نبی ﷺ نه یو حدیث هم روایت کړے۔ او بل حدیث ئے د عائشے k نه روایت کړے چه نبی ﷺ وفرمایل : (کومه ښځه چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لری، کله چه بالغه شی نـو دابـه خپل مخ او دے ځائے پورے خپل لاسونه نۀ ښکاره کوی، او نبی ﷺ نیمائی لیچه ونیوله)۔

○ ابـن عـطیـهؒ وائی : د آیتِ کریمه د الفاظو نه ماته ښکاره کیږی چه ښځے ته دا حکم دے چـه بـدن بـه نـۀ ښکاره کوی او څومره چه کیدے شی خپل ډول به پټوی، او کوم شیان چه ښکـاره کیـږی د ضـرورت د وجے د هغے استثناء راغلے، لکه د حرکت یا د بل ضروری څیز دپـاره، یا د یو کار سمولو دپاره۔ نو کوم څیز چه د ضرورت په وجه د ښځو نه ښکاره شی نو دا معاف دے۔

○ زۀ وایـم : دا ښـه ویـنـا ده، خو دومره ده چه په عامه توګه د مخ او ورغوو ښکاره کول په عـادت او عبـادت لـکـه مـونـځ او حـج کښے راځی، دے وجے نه صحیح داده چه استثناء دے دواړو سره لږیږی۔ پـه دے بـانـدے دلیـل د اسـمـاء (دغه پورتنے) حدیث دے۔ بیا فرمائی : د احتیـاط له مخه دا قوی خبره ده او په دے کښے د خلکو د فساد لحاظ ساتل شوے، نو ښځه به د خپل ډول نه صرف ظاهری مخ او ورغوی ښکاره کوی۔

زمـونـږ پـه عـلماؤ کښے ابن خویز منداذؒ ویلی دی چه کله ښځه ډولی وه او ددے په مخ او ورغـوو ښـکـاره کـولو سره فتنه جوړیده نو په دے باندے ددے پټول واجب دی۔ اوکه ښځه بو ډۍ یا بدرنګه وه نو هغه خپل مخ او ورغوی ښکاره کولے شی۔

بیـا فـرمـائی : زینت ظاهر هم وی او باطن هم۔ نو ظاهری ډول هر وخت هر چا دپاره مباح دے برابره خبره ده که محارم وی اوکه پردی۔ او مخکښے مونږ په دے کښے د علماؤ اختلاف ذکـر کـړے۔ او هـر چـه پـټ ډول دے نـو ددے ښـکـاره کـول صرف هغه چاته روا دی د کومو نومونه چه الله تعالىٰ په دے آیت کښے اخستی دی یا د دوئ قائم مقام وی۔

[تفسیر القرطبی : ١٢/٢٢٨].

نو امام قرطبیؒ ته وګوره چه هغهٔ احتیاط په دے کښے ګرځولے چه ښځه خپل مخ او ورغوی ښکاره کړی۔ او د ابن خویز منداد‌ؒ وینا د هغهٔ خپل اجتهاد دے۔

○ ابن جریر طبریؒ د مفسرینو ویناګانو ذکر کولو نه پس فرمائی : په دے ټولو ویناګانو کښے حقه وینا د هغه چا ده چه هغوئ وائی : ددے نه مراد مخ او ورغوی دی۔ دارنګ په دے کښے رانجهٔ، ګوتمه، بنګړی او نکریزے هم داخلے دی۔ او زمونږ ددے خبرے دلیل دادے چه د ټولو علماؤ په دے اتفاق دے چه هر مونځ کونکے به په مانځه کښے خپل عورت پټوی، او د ښځے دپاره جائز دی چه خپل مخ او ورغوی په مانځه کښے ښکاره کړی۔ دارنګ هغے له ضروری دی چه ددے نه سیوا د بدن نوره برخه به پټوی۔ صرف په یو روایت کښے راغلی چه نبی ﷺ ښځے له دا مباح کړی چه هغه د خپلے لیچے نه نیمائی برخه ښکاره کړی، نو هر کله چه ددے ټولو علماؤ په دے اجماع ده نو ددے نه دا خبره معلومیږی چه ښځے له جائز دی چه د خپل بدن هغه برخه ښکاره کړی چه هغه عورت نهٔ وی، لکه څنګه چه دا کار سړو له جائز دے۔ ځکه کوم شے چه عورت نهٔ دے نو د هغے ښکاره کول حرام نهٔ دی۔ او هرکله چه ښځے له ددے ښکاره کول جائز شو نو ددے نه معلومه شوه چه دا اندامونه الله تعالیٰ په دے آیتِ کریمه کښے مستثنیٰ کړی دی چه : ﴿اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ ځکه همدا اندامونه ددے نه ظاهر دی۔

[تفسیر الطبری :١٨/٩٤]

○ شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ د دغه آیتِ کریمه ذکر کولو نه پس فرمائی :

الله سبحانه وتعالیٰ نارینه او زنانه دواړو ته د نظر ښکته کولو او عورتونو حفاظت کولو امر کړے، لکه څنګه ئے چه دوئ ټولو ته د توبے امر کړے۔ او زنانو ته ئے په خصوصی توګه د پردے کولو امر کړے، او دا چه دوئ به خپل زینت صرف خپلو خاوندانو او هغه چاته ښکاره کوی کوم چه الله تعالیٰ په دے آیت کښے ذکر کړی دی۔ او د ﴿مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ یعنی ظاهری زینت نه مراد ظاهری جامے دی چه ښځے دپاره ددے ښکاره کول جائز دی، هر کله چه په دے کښے بل څهٔ ناروا خبره نهٔ وی، ځکه ښځے دپاره ددے د ښکاره کولو نه بغیر چاره نشته۔ او دا د ابن مسعود رضی الله عنه او د امام احمدؒ مشهور قول دے۔

او ابن عباس ﷺ وائی : د ظاهری زینت نه مراد مخ او دواړه لاسونه دی. اودا د امام احمدؒ دویم قول دے.او د علماؤ د یوے ډلے لکه شافعیؒ وغیره وینا ده. او الله سبحانه وتعالیٰ ښځو ته حکم کړے چه دوئ دے خپل پړونی رازوړند کړی دے دپاره چه ونۀ پیژندل شی او تکلیف ورته ونه رسیږی، نو دا هم د اولنی قول دپاره دلیل دے. عبیدة السلیمانیؒ او نورو ذکرکړی چه د مسلمانانو ښځو به د خپلو سرونو دپاسه په خپلو ځانونو باندے لوئے پړونی راچولی وو تردے چه د هغوئ به صرف د لارے لیدلو دپاره سترګے ښکاره کیدلے. او په صحیح بخاری کښے ثابت دی چه محرمه ښځه د نقاب او دستانو اچولو نه منع شوے. دے نه معلومیږی چه نقاب او دستانے په هغه ښځو کښے مشهورے وے چه هغوئ احرام نۀ دے تړلے، او ددے غوښتنه داده چه د ښځو مخونه او لاسونه دے پټ وی.

بیا ئے د اصیلو ښځو د پردے او د وینځو د پردے یادوونه کړے او فرمایلی ئے دی :

په صحیح بخاری کښے ثابت دی چه (نبی ﷺ کله د صفیه k سره وادۀ وکړو نو صحابو وویل : که نبی ﷺ په دے باندے پرده رازوړنده کړه نو دابه د مومنانو مور وی، اوکه پرده ئے پرے رازوړنده نۀ کړه نو دابه وینځه وی.نو نبی ﷺ په هغے پرده رازوړنده کړه). او په ښځو باندے به ئے پرده په دے وجه رازوړندوله چه د هغوئ مخونه او لاسونه ښکاره نشی. او حجاب (پرده) په اصیلو ښځو پورے خاص ده، نۀ په وینځو پورے. لکه چه دا د نبی ﷺ او د هغۀ د خلفاؤ په زمانه کښے سنت او عادت وو چه اصیلے (ازادے) ښځے به پرده کوله او وینځے به پرده نۀ کوله. عمر ﷺ به چه کله یوه وینځه ولیدله چه پرده به ئے کوله نو هغه به ئے وهله او ورته فرمایل به ئے : اے ککړے ! آیا تۀ د اصیلو ښځو سره مشابهت کوے ! نو د وینځے به سر، لاسونه او مخ ښکاره کیدۀ.

[مجموع الفتاوی : ۳۷۱/۱۵].

شیخ البانیؒ د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په دے خبره رد کړے چه د اصیلے او د وینځے د پردے ترمینځه فرق دے، او د نبی کریم ﷺ زمانے ته ئے ددے سنت نسبت کول ناشنا ګڼړلی دی، او هغه وائی : که دا خبره په نص صریح کښے راغلے وے نو بیا خو دا د اختصاص دپاره پوره دلیل وو. [جلباب المرأة المسلمة، ص : ۹۵].

حافظ ابو الحسن بن القطان الفاسیؒ هم دا غوره کړے چه ښځے له د مخ او ورغوو ښکاره

کول جائز دی څنګه چه د نبی ﷺ او روستنو زمانو کښې عادت را روان دے، لکه چه دا خبره تفصیلی طور سره شیخ البانیؒ ذکر کړے، او په دے باره کښې ئے د ابن عباس رضی الله عنه تفسیر غوره کړے۔

[النظر فی أحكام النظر: ٢/١٤، جلباب المرأة المسلمة، ص: ٥٢].

او د ابن مسعود رضی الله عنه د وینا نه ئے جواب کړے چه په صحابه کرامو کښې ددۀ نه علاوه بل هیچا دا وینا نۀ ده کړے۔ بله دا چه: ددے آیتِ کریمه د روستنئ برخې سره د هغۀ دغه وینا سمون نۀ خوری، څکه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ ......﴾ (او ښځے به خپل ډول نۀ ښکاره کوی مګر خپلو خاوندانو ته ......)۔

نو اولنے زینت بعینه دویم زینت دے، څکه معرفه چه دوباره معرفه ذکر شی نو دویمه بعینه اولنئ وی، نو بیا خو ددے دا معنیٰ شوه چه پلاران او هغه څوك چه په دغه آیت کښې ذکر شوی، دوئ لپاره جائز نۀ دی چه د ظاهری جامو نه سیوا د ښځے د زینت نورو ځایونو ته وګوری! (حالانکه دا خبره درست نۀ ده)۔

داوجه ده، ابو بکر جصاصؒ فرمائی: د ابن مسعود رضی الله عنه دا وینا چه د [مَا ظَهَرَ مِنْهَا] نه مراد جامے دی، دا هیڅ معنیٰ نۀ لری، څکه دا خبره معلومه ده چه دلته ذکر د زینت دے او مراد ترے د زینت اندام دے۔ څکه ښځه د خپل ډول او سینګار سامان سرو ته ښکاره کولے شی په دے شرط چه هغه ئے نۀ وی اغوستی، لکه ګاڼړه، پانزیب، امیل۔ نو معلومه شوه چه د زینت نه مراد د زینت ځایونه دی، لکه وریسے فرمائی: ﴿وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ﴾ نو دلته د زینت نه مراد د زینت ځایونه دی۔ دے وجے نه ددے نه جامے اخستل هیڅ معنیٰ نۀ لری، هرکله چه ددے صرف جامے ښکاری او د بدن بله هیڅ یوه برخه ئے نۀ ښکاری، لکه څنګه چه دا په هغه وخت کښې هم لیدلے شی چه ښځے دا اغوستی نۀ وی۔

[أحكام القرآن للجصاص: ٣/٣١٦].

٣ – دریم آیت: الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا [٥٧] وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا [٥٨] يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنٰتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ

اللّٰهُ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴾ [٥٩] [احزاب].

(اے زما نبی! تهٔ خپلو ښځو ته او خپلو لونړو ته، او د مومنانو ښځو ته ووايه چه دوئ د خپلو څادرونو برخه په خپلو ځانونو اچوی، دا دے خبرے ته زيات نزدے ده چه دوئ به پيژندلے کيږی او دوئ ته به هيڅ تکليف نهٔ رسول کيږی، او الله ډير بخښونکے، بيحده مهربان دے).

ابو الحسن بن القطانؒ فرمائی :

سوال : هر کله چه ښځے دپاره د هغے مخ او ورغوی ښکاره کول معاف دی – اګرکه هغه د خپل وس مطابق په پردے کولو ماموره ده – دا د دغه پورتنی آيتِ کريمه ﴿يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلۡ لِّاَزۡوَاجِكَ ...... ﴾ خلاف معلوميږی.

جواب : د غټ پړونی رانزدے کولو داسے معنیٰ ممکنه ده چه هغه زمونږ د خبرے سره تعارض نهٔ لری، هغه دا چه ددے معنیٰ داده چه مومنانے ښځے به خپل ځانته پړونی په داسے طريقه سره رانزدے کوی چه د هغے سره اميلونه او والیٔ ښکاره نشی. لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوۡبِهِنَّ﴾ (خامخا دے دوئ خپلے لوپټے په خپلو ګريوانونو باندے راوا چوی).

ځکه دغه آيت کښے د پړونو رانزدے کول ذکر مطلق شوے، نو کله چه ددے نه يو قِسم رانزدے کيدل واخستے شی نو د ذمه واریٔ نه انسان وځی. او ددے رانزدے کولو نه هر قِسم رانزدے کول مراد نهٔ دی.

[إحكام النظر في أحكام النظر : ٢/٢٤، لأبي الحسن بن القطانؒ، جلباب المرأة المسلمة، ص : ٥٧، للألبانيؒ].

ابو حيان اندلسیؒ هم په هغه چا رد کړے چه هغوئ د وينځے او د اصيلے ښځے په پرده کښے فرق کړے، هغه په خپل تفسير کښے فرمائی :

ظاهره داده چه ﴿نِسَآءِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ﴾ (د مومنانو ښځے) وينځو او اصيلو دواړو ته شامل دے، بلکه په وينځو کښے فتنه ډيره ده ځکه د دوئ تصرفات او کارونه ډيروی، په خلاف د اصيلو ښځو نه، دے وجے نه ثوك چه وينځے د ښځو د عموم نه وباسی نو هغه به واضح دليل پيش کوی.

[تفسير البحر المحيط : ٧/٢٥٠].

دا خبره ددۀ نه مخکښې ابو الحسن بن قطانؒ کړې۔

امام ابن حزمؒ فرمائی : پاتې شو د وینځې او اصیلې ښځې ترمینځه فرق کول، نو د الله دین یو دے او خِلقت او طبیعت په وینځو او اصیلو دواړو کښې یو شان دے، تر څو چه ددے دواړو ترمینځه په فرق کولو باندے نص راشی نو بیا به د هغې مطابق عمل کیږی۔

او هغه خلك خطا شوی دی چه هغوئ په دے آیت کریمه کښې وائی :﴿ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ذٰلِكَ اَدْنٰى اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ﴾ چه الله تعالیٰ ددے امر ځکه کړے چه فاسقانو خلکو به د خپل فسق د وجې ښځو ته راپیښیدل، نو اصیلو ښځو ته امر وکړے شو چه دوئ غټې پړونې واغوندی دے دپاره چه فاسقانو ته پته ولږی چه دوئ اصیلې دی نو بیا به ورته تعرض نۀ کوی۔

مونږ ددے فاسد تفسیر نه بیزاره یو، او دا د یو عالم خویدل یا د یو فاضل او عاقل غلطی، یا د دروغژن فاسق سړی افتراء ګڼړو. ځکه ددے نه خو دا معلومیږی چه الله تعالیٰ فاسقان خلك د مسلمانانو په عزتونو باندے راپریښی دی۔ حالانکه دا یو مصیبت دے۔ ځکه د ټولو مسلمانانو په دے اتفاق دے چه اصیلې ښځې سره زنا کول داسې حرام دی څنګه چه د وینځې سره حرام دی، دارنګ کوم کس چه د اصیلې ښځې سره زنا وکړی، هغۀ له به داسې حد ورکولے شی څنګه چه د وینځې سره زنا کونکی له حد ورکولے شی، دارنګ اصیلې ښځې ته راپیښیدل داسې حرام دی څنګه چه وینځې ته راپیښیدل حرام دی، په دے کښې هیڅ فرق نشته۔ هم دا وجه ده چه د رسول الله ﷺ نه پس د هر چا خبره به هله د عمل وړ وی کله ئے چه رسول الله ﷺ ته منسوب کړی۔

[المحلی لابن حزمؒ: ۲/۲٤۷، مسأله نمبر : ۲٤۹].

شیخ البانیؒ فرمائی : ابن حزمؒ هغه اثر ته اشاره کوی کوم چه د عمر فاروق – رضی الله عنه – نه نقل دے چه هغۀ د وینځې او اصیلې ښځې ترمینځه په پرده کښې فرق کړے. دا آثار زیلعیؒ بیهقیؒ او ابن ابی شیبهؒ ذکر کړی دی۔

[نصب الرایة : ۱/۳۰۰، السنن الکبری : ۲/۲۲٦، المصنف لابن ابی شیبة : ۲/۲۸].

بیا شیخ البانیؒ فرمائی : د عمر بن خطاب ؓ نه په دے حقله راغلی آثار صحیح دی. او ابن حزمؒ روستو په [المحلی : ۳/۲۲۱] کښې په ډاګه ویلی چه په دۀ باندے دا آثار پټ نۀ دی

پاتے شوی۔ خو هغه وائی : د رسول الله ﷺ نه سیوا د بل هیچا خبره دلیل نهٔ دے۔ او ابن حزمؒ د خپل تائید دپاره د عائشے k حدیث ذکر کړے چه (نبی ﷺ هغے کره ورغے نو د هغے یوے وینځے پرده وکړه، نبی ﷺ وفرمایل : آیا دا بالغه شوے ؟ خلکو ویل : هو ! نو نبی ﷺ د خپل پټکی نه څۀ برخه پریکړه او وے فرمایل : په دے ځان پټ کړه)۔

دا حدیث ابن ماجه [۲۱٤/۱] او ابن ابی شیبهٓ .[۲/۲۷/۲] په ضعیف سند سره ذکر کړے۔ په دے کښے عبد الکریم بن ابی المخارق راوی ضعیف دے۔

خلاصه

○ د ابن عباسؓ، ابن عمرؓ، سعید بن جبیرؒ، عطاءؒ، ابراهیم نخعیؒ او نورو فتویٰ داده چه ښځے لپاره خپل مخ او دواړه ورغوی ښکاره کول جائز دی۔ او ددے نه سیوا نور اندامونه به پټ ساتی، د دغه پورتنو دلائلو د وجے نه۔

لکه دا مضمون امام ابن حزمؒ په [المحلی : ۲٤۷/۲] کښے په تفصیلی توګه ذکر کړے او دا فتویٰ ئے ورکړے او ځینے نصوص ئے په دے حقله ذکر کړی۔ دغه شان حافظ ابو الحسن بن القطانؒ هم دا فتویٰ لری۔

شیخ البانیؒ په دے حقله یوه مستقله رساله لیکلے، او د حجاب (پردے) د مسئلے دپاره ئے اته (۸) شرطونه لیکلی:

۱ – د مخ او دواړو ورغوو نه علاوه د ښځے ټول بدن به پټ وی۔

۲ – جلباب (د سر نه واخله قدمونو پورے برقع) به بذاتِ خود ډولی نهٔ وی۔

۳ – جلباب (یا څادری) به نرئ نه وی بلکه مضبوطه به وی۔

٤ – تنګه به نهٔ وی بلکه فراخه به وی۔

۵ – خوشبویه او عطرینه به نهٔ وی۔

٦ – د نارینه د لباس سره به مشابه نهٔ وی۔

۷ – د کافرو ښځو د لباس سره به مشابه نهٔ وی۔

۸ – د شهرت لباس به نهٔ وی۔

او په دے باره کښے ئے د دلائلو په ذکر کولو کښے ښۀ خواری کړے ده۔

او دا ئے فرمايلي چه : ښځے لپاره مخ او ورغوى پټول مستحب دى، په هغے واجب نۀ دى. ځکه که مونږ پرے دا واجب وګرځوو نو ډير هغه احاديث او قوى دلائل به مونږ ضائع کړو، کوم چه په دے باره کښے راغلى. او مونږ به په دين کښے په غُلو کښے واقع شو.

او همدا خبره ملا على قاريؒ او امام نوويؒ غوره کړے.

[المرقاة : ۱۹۷/۶، شرح مسلم للنووى].

○ زۀ وايم : د مخکښے نه معلومه شوه چه حجاب او شرعى پرده په يو څو قِسمه ده :

اول قسم پرده : دا چه ښځه خپل شخص او بدن ټول پټ کړى.

په دے باندے دليل د الله تعالىٰ دا وينا ده :

﴿ وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَاسْئَلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ﴾

(کله چه تاسو ددے بيبيانو نه څۀ سامان غواړئ نو د پردے نه اخو ائے ترے غواړئ).

او نبى ﷺ فرمائى : [اَلْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَاِذَا خَرَجَتِ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ]

(ښځه ټول په ټوله عورت دے، نو کله چه دا د کوره ووځى نو شيطان ئے د خلکو په نظر کښے نيغه نيغه کوى).

دارنګه په کور کښے د ښځے مونځ کول بهتر دى. او داسے نور دلائل شو.

خو په ښځه باندے دا قِسم پرده کول واجب نۀ دى، ځکه ددے هيڅوک قائل نۀ دى.

دويم قسم پرده : چه ښځه د پردو سړو نه ټول بدن پټ کړى، سره د مخ او د دواړو ورغوو نه. په دے باندے مخکښے دلائل ذکر شو. چه يو د هغے نه دا ارشاد د نبى ﷺ دے چه سودے – رضى الله عنها – ته ئے فرمايلى وو : [اِحْتَجِبِیْ مِنْهُ] (ددۀ نه پرده کوه).

دارنګه نبى ﷺ فرمائى : محرمه ښځه به نۀ مخ پټوى او نۀ به دستانے اچوى).

دارنګه حديث کښے دى : (مؤمنانو ښځو به پرده کوله کله به چه په دوئ باندے قافله تيريدله).

خو آيا دا قِسم پرده په ښځو واجبه ده اوکه نه ؟ نو ظاهره داده چه واجبه نۀ ده، ځکه مخکښے ډير دلائل ذکر شو چه ښځه خپل مخ او ورغوى ښکاره کولے شى.

دريم قسم پرده : چه د مخ او ورغوو نه سيوا خپل ټول بدن پټ کړى. خو دے دپاره شروط دى، هغه دا چه : د پردو سړو مخامخ به ډول نۀ کوى. او په غير د ضرورت نه به نۀ

وځی۔ او خلك به په فتنه كښې نهٔ اچوی۔

نو اول قِسم پرده بهتره ده۔ دويم قِسم سنت ده۔ او دريم قِسم واجب ده۔ والله أعلم.

○ دے وجے نه د وروړ ښځے (ورندار) ته او د تـرهٔ لور او د ماما لور او د ترور لور وغيره ته ورتلل جائز دی خو په دے لاندينو شرطونو سره :

اول شرط : چه دغه ښځو سره به مصافحه نهٔ کوی، ځکه دوئ سره مصافحه کول حرام دی۔ عائشه k فرمائی : (قسم په الله ! د رسول الله ﷺ لاس د پردئ ښځے د لاس سره نهٔ دے لګيدلے)۔

دويم شرط : دے ښځو سره به يواځے کيږی نهٔ۔ بلکه د نورو محارمو سره به دوئ ته ورځی۔ لکه مخکښے د عقبه بن عامر رضي الله عنه په حديث کښے تير شو چه رسول الله ﷺ وفرمايل : (تاسو په ښځو باندے مهٔ ورننه وځئ۔ نو د انصارو يو سړی عرض وکړو، د ليور په باره کښے څهٔ وائے ؟ وے فرمايل : ليور خو مرګ دے۔

[صحيح بخاری : ۷۸۷/۲، صحيح مسلم : ۲۱٦/۱، ترمذی : ۲۲۰/۱].

امام ترمذیؒ فرمائی : ددے حديث مقصد دادے چه پردو ښځو سره يواځے والے مهٔ اختياروئ، لکه بل حديث کښے دی : (کوم سړے چه د ښځے سره يواځے شی نو شيطان ئے خامخا دريم ګرځے وی)۔ يعنی ليور به د ورندار سره يواځے والے نهٔ کوی۔

په بخاری او مسلم کښے د ابن عباس رضي الله عنه په حديث کښے دی : (څوك چه په الله او په ورځ د آخرت ايمان لری، نو هغه دے د ښځے سره نهٔ يواځے کيږی او نهٔ دے د هغے سره شريك سفر کوی، مګر که هغے سره محرم وی)۔

دارنګ د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه په حديث کښے مخکښے تير شو چه : بيا رسول الله ﷺ د منبر دپاسه ودريدهٔ او وے فرمايل : هيڅ يو سړے دے د نن ورځے نه پس هغه ښځے کره نهٔ ورځی چه د هغے خاوند په کور کښے نهٔ وی، مګر که د هغهٔ سره يو يا دوه کسان وی۔

[صحيح مسلم : ۲۱٦/۲، احمد : ۱۷۱/۲، ۱۸٦، بيهقی : ۹۰/۷].

امام نوویؒ فرمائی : ددے حديث د ظاهر نه معلوميږی چه دوه او درے سړی د پردئ ښځے سره خلوت کولے شی۔

ددے دواړو حديثونو نه د عادت په توګه مخ ښکاره کول معلوميږی۔

دريم شرط : سړے به تورن او تهمتي نهٔ وي، ځکه د فتنے او تهمت والا سړے د کوره وښکل واجب دی، لکه څنګه چه نبی اکرم ﷺ (هيت) نومے هيجړا د کوره وښکلے وو۔

دے وجے نه ابن تيميه رحمه الله نه د هغه سړی په باره کښے پوښتنه وشوه چه هغه خپلے ورندار يا ترهٔ يا ترور لوريانو کره ورځی، دا ورله جائز دی اوکه نه ؟

هغهٔ په جواب کښے وفرمايل : دغه ښځے سره خِلوت کول جائز نهٔ دی، البته که د خِلوت او تورن کيدو نه په غير د نورو محارمو سره ورځی نو دا جائز دی۔

[مجموع الفتاوی : ٣٢/٩].

څلورم شرط : ښځه به په پرده کښے وی، د مخ او ورغوو نه سيوا نور بدن به ئے نهٔ ښکاری، دارنګ خوشبوئے به ئے نهٔ وی استعمال کړی او ډول سينګار به ئے هم نهٔ وی کړے۔ لکه چه مخکښے تير شو۔

پنځم شرط : سړے به ورته نيغ نيغ نهٔ ګوری او نهٔ به ښځه سړی ته نيغ نيغ ګوری، ځکه الله تعالیٰ د نظر ښکته ساتلو امر کړے، او ددے فوائد او نقصانات ئے بيان کړی۔

په دے پورتنو شرطونو باندے دغه پورتنو ښځو ته ورتلل جائز دی۔ او ددے په جواز باندے بل دليل دا هم دے چه زياتره خلك دے کار ته حاجت لری، ځکه په يو کور کښے ورونه شريك وسيږی، او په ورندار باندے ئے نظر لږی، نو مخ او ورغوی پټولو کښے ډير تکليف وی۔ نو ځکه شريعت ددے اجازه ورکړے۔ د شريعت بنياد په يُسر او سهولت دے۔

دارنګ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ (څوك چه په لوږه کښے پريشانه شو او ګناه ته کږيدونکے نهٔ وو، نو بيشکه چه الله بښونکے مهربانه دے)۔

دا د محققينو علماؤ رائے او وينا ده۔

او جمهور علماء وائی : ښځه باندے مخ او دواړه لاسونه پټول د ليور او د نورو پردو سړو نه واجب دی۔او پردو سړو په مخکښے مخ او لاسونه ښکاره کول جائز نهٔ دی۔ دليل دا بيانوی چه مخ او لاسونه ښکاره کول د فتنے او حرامو کښے د غورزيدو سبب ګرځی، نو ځکه ددے پټول واجب لغيره دی۔ خو تا مخکښے ددے خبرے حيثيت وپيژندهٔ۔

دا خو د مخ او ورغوو حکم دے۔

هر چه قدمونه دي، نو مخکښې په مسئله نمبر (٦١٢) کښې تير شو چه راجحه داده چه د قدمونو پاسنې طرفونه عورت دے، نۀ دننه طرفونه. او دا د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ وينا ده. او په دے باندے د ام سلمے k حديث دليل دے، چه دے عرض وکړو (نو بيا به ښځے د خپلو لمنو سره څۀ کوي ؟ نبي ﷺ وفرمايل : (د نيمائي پونډۍ نه به ئے) يو ليشت ښکته زوړندوي، هغے عرض وکړو، بيا خو به د دوئ قدمونه ښکاره شي ! نبي ﷺ وفرمايل : نو بيا دے دا يو ګز ښکته زوړند کړي،ددے نه به ئے نۀ زياتوي).

[ترمذي : ٤/٢٢٣، نسائي : ٥٣٣٦، مشكاة : ٢/٣٧٤، حديث صحيح].

امام شوكانيؒ فرمائي : حديث نه معلومه شوه چه ښځے له د قدمونو پټول واجب دي.

[نيل الأوطار : ٢/٥٧].

نو ثابته شوه چه ښځے دپاره اخستل، خرخول، سرو سره خبرے كول، ګواهي اداء كول، د كوره وتل، دا هر څۀ د ضرورت په وخت جائز دي. او شرط دادے چه د فتنے نه به په امن وي، دارنګه پورتنۍ شرعي حجاب او پرده به ئے اختيار كړے وي.

دا خبره ياده لره : چه د حجاب په باره كښې راغلو حديثونو كښې هيڅ تعارض او تناقض نشته. په دے شرط چه تۀ دا خبره وپيژنے چه يو د نبي اكرم ﷺ د بيبيانو پرده ده، او بله د نورو مومنانو ښځو پرده ده. دارنګه په دے كښے د نبي ﷺ او د نور امت ترمينځه فرق دے، لكه دا خبره د حافظ ابن حجرؒ، د ابن بطالؒ او امام ابوداودؒ په كلام كښې تيره شوه.

○ زما په نيز راجحه داده : چه ښځه دے په بازارونو كښې مخ نۀ ښكاره كوي، ځكه په دے كښې ضرورت نشته دے. البته د خپلوانو په ملاقات كښې ضرورت شته دے.

ښۀ سوچ وكړه، تادي مۀ كوه، ځكه دا ډيره مهمه مسئله ده.

[وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه أجمعين].

دستانو سره مونځ كول

٦٢٨ – **سوال** : په مانځه كښې دستانے اچول څۀ حكم لري ؟ خاصكر كله چه څوك امامتي كوي ؟

جواب : نارينه او زنانو دواړو دپاره په مانځه كښې او مانځه نه بهر دستانے اغوستل جائز

دی او په دې حالت کښې امامتی کول جائز دی، ځکه دیته کله د یخنئ وغیره لرې کولو دپاره ضرورت راپیښیږي، او ددې نه صرف د احرام په حالت کښې منع راغلې. دارنګ د ښځې دپاره په مانځه کښې دستانې اغوستل واجب نهٔ دی ځکه په دې امر نهٔ دې راغلې.

[الفتاوى الإسلامية: ١/٢٩٧].

ټائی او پتلون اچولو حکم

٦٢٩ - **سوال**: په مانځه کښې او مانځه نه بهر پتلون او ټائی (یوه ټوټه چه مرئ ته راځوړندولې شی) اغوستل جائز دی او که نه؟ په داسې حال کښې چه نن صبا ټائی اچول د نصاراؤ شِعار او خاصه نښه ګرځیدلې ده.

جواب: دلته درې مسئلې دی. (١) ښځو دپاره پتلون اغوستل. (٢) نارینه ؤ دپاره پتلون اغوستل. (٣) د ټائی حکم.

١ - **اوله مسئله**: ښځو له پتلون اچول د ګڼرو وجو نه حرام دی:

اوله وجه: په پتلون اغوستو سره د ښځې د بدن تحدید کیږي او هغه زِګ راوځی او پتلون په عامه توګه تنګ وی چه په دې کښې د بدن اندامونه جدا جدا راوتی ښکاری، دې وجې نه په دې کښې ښځه داسې ښکاری لکه بربنډه. او دا د فتنې او فساد ذریعه ګرځی.

دویمه وجه: په پتلون اغوستو کښې د ښځو مشابهت د سړو سره راځی. او نبی ﷺ (په هغه سړو لعنت ویلې چه هغوئ د ښځو سره مشابهت اختیاروی، او په هغه ښځو ئې لعنت ویلې چه هغوئ د سړو سره مشابهت اختیاروی).

[هيئة كبار العلماء: ٢/٨٣٩].

دریمه وجه: په دې کښې د کافرو ښځو سره مشابهت دې. او دا هم حرام دې.

نو په ښځه واجب دی چه داسې ځادری او پړونې واچوی چه د سر نه تر قدمونو پورې پکښې پټه وی، لکه مخکښې دا په (٦٢٥) نمبر مسئله کښې تیره شوه.

دې وجې نه ښځې له پتلون اچول جائز نهٔ دی. د افسوس خبره داده چه نن صبا مسلمانانو ته په لباس کښې د کافرانو عادتونه راننوتی دی. ددې وجه په دین کښې د فقاهت کمیدل او د خواهشاتو غلبه ده. والله المستعان.

دویمه مسئله : د نارینه ؤ دپاره د پتلون اچولو حکم هم دادے چه دا جائز نهٔ دے، ځکه په دے سره د سړی د اندامونو تحدید کیږی (نیغ نیغ راوځی) او سړے پکښے داسے ښکاری لکه بربنډ، ددهٔ روستنئ برخه پکښے بیخی په تحدید سره ښکاره کیږی، حالانکه عورت پټول لکه څنګه چه ښځے له واجب دی، سړی له هم واجب دی. الله تعالیٰ د فرجونو او شرمګاهونو په پټولو امر کړے، لکه فرمائی : ﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حَافِظُوْنَ ﴾ (مومنان هغه خلك دی چه دوئ د خپلو شرمګاهونو حفاظت کونکی دی).

د شرمګاه حفاظت د زنا، نه هم کیږی او د بربنډولو او عورت تحدید کولو نه هم وی.

○ بله دا چه په پتلون اغوستو کښے د کفارو سره مشابهت دے، ولے دا نن صبا د هغوئ خاص لباس دے. حالانکه کافرانو سره مشابهت اختیارول حرام دی، خصوصًا د لباس په حقله، ځکه لباس په زړهٔ باندے ډیر اثر کوی.

دا وجه ده، شیخ الاسلام ذکر کړی چه کافرانو سره ځان مشابه کول حرام دی، بلکه لازمه ده چه مونږ د صحابه کرامو او اولنوعربو اقتداء وکړو، هغه فرمائی : امام بخاریؒ په خپل صحیح کښے د عمر بن خطاب رضی الله عنه نه نقل کړی چه هغهٔ د فارس په ښارونو کښے وسیدونکو مسلمانانو ته لیکلی وو چه : تاسو د مشرکانو د لباس اغوستو نه ډډه وکړئ. نو دا د مشرکانو د هر ډول لباس نه د مسلمانانو منع کول دی.

امام احمدؒ په مسند کښے د عمر بن خطاب رضی الله عنه نه نقل کړی چه هغه فرمائی : تاسو لنګ او څادر اغوندئ او څپلئ پخپو کوئ او موزے او پرتوګونه اغوندئ او تهپونه وهئ (پهلوانی کوئ) او سخت ژوند اختیار کړئ او ښے ولئ او د معد بن عدنان یعنی عربو (زیګ) لباس خپل کړئ او د عجمو لباس پریدئ او ریښمو نه ځان وساتئ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم دے نه منع کړے او فرمایلی ئے دی چه تاسو ریښم مهٔ اغوندئ سیوا د دومره اندازے نه، او رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو دوو ګوتو سره اشاره وکړه. او امام احمدؒ په خپل سند سره د ابو عثمانؒ نه نقل کوی چه دا وائی : مونږ ته د عمر رضی الله عنه خط په داسے حال کښے راغے چه مونږ د عتبة بن فرقد سره وو، په هغے کښے دا وو چه : اے عتبه بن فرقده ! تاسو د خوش عیشئ او د مشرکانو د لباس او د ریښمو د لباس نه خپل ځانونه وساتئ.

[مسند احمد : ۱/ ٤۳، اقتضاء الصراط المستقیم : ۱/ ۳۲۸].

نو دلته عمر رضي الله عنه د بنو معد بن عدنان د لباس امر کړے او دا د عربو لباس دے، او د عجمو او د مشرکانو د لباس نه ئے منع کړے، او دا عامه خبره ده۔ او مخکښے تیر شو چه دا په یو مرفوع حدیث کښے هم راغلی۔

[انظر هذا الأثر فی المصنف لعبد الرزاق : ١١/٨٤، رقم : ١٩٩٩٣، بخاری ٥٨٢٨، ٢/٨٦٧، مسلم، فتح الباری : ١٠/٢٣٤].

نو په دے حدیث کښے د لنګ او څادر او پرتوګ اچولو امر شوے او پتلون اچونکے ددے نه اعراض کونکے دے۔ او په دے کښے د ټولو مشرکانو د لباس اچولو نه منع شوے۔

○ بله دا چه د پتلون پینځے په عامه توګه اوږدے وی او په مانځه کښے او مانځه نه بهر انسان په دے کښے خپلے ګیټیٔ پټے کړے وی، حالانکه دا کار حرام دے، نو یوائځے همدا وجه هم ددے د حرمت دپاره کافی ده۔

○ دارنګ پتلون د هغه اولنو عربو لباس نۀ وو، د کومو د لباس خپلولو چه مونږ ته امر شوے۔

○ دارنګ پتلون اچول د متقیانو او د علم اودین والو لباس نۀ دے۔ بلکه پتلون مونږ صرف په فاسقانو او هغه خلکو کښے لیدلے چه هغوئ د فرنګیانو او عیسایانو او برتهش ټاپپ خلکو نه متاثره وی۔ [اِلَّا مَنۡ رَّحِمَ رَبُّكَ].

نو په دے دلائلو کښے د سوچ کولو نه پس د دکتور محمد بن عبد الرزاق عمرو دا خبره خطا ده چه پتلون اچول مباح دی او په دے کښے د کفارو سره تشبه نشته، او د تشبه او مشابهت ترمینځه ئے فرق کړے۔

[کما فی أحکام اللباس والزینة ص : ٣٣٣].

د سعودی د مستقلے کمیټیٔ علماء فرمائی : په لباس کښے اصل اباحت دے، ځکه دا عادی شیان دی، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِيۡنَةَ اللّٰهِ الَّتِیۡۤ اَخۡرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزۡقِ ﴾ (ورته ووایه ! د الله تعالیٰ هغه زینت چا حرام کړے چه هغه ئے د خپلو بندګانو دپاره راویستے دے او پاکیزه رزقونه)۔

البته کوم شیان چه په شرعی دلیل سره د هغے حرمت ثابت وی نو هغه به ددے قاعدے نه بهر وی، لکه نارینه ؤ دپاره ریښم شو او هغه لباس شو چه د نری والی په وجه په هغے

کښې د اخوا نه عورت ښکاری او د څرمنې رنګ ښائی، یا هغه د تنګ والی په وجه عورت جدا جدا ښکاره کوی، ځکه په دې وخت کښې دا داسې دې لکه چه عورت ئې ښکاره کړې وی. او عورت ښکاره کول حرام دی.

بیا د پتلون په باره کښې فرمائی: بهتره داده چه په هغه ښارونو کښې ئې وانه غوندی په کوم کښې چه رواج نۀ وی.

[فتاوی اللجنة الدائمة: ۳۰۸/۳].

شیخ البانیؒ د دوو وجهو نه د پتلون اغوستل حرام ګنړی: یو د مشابهت د وجې، او بل د عورت د نیغ راوتو د وجې.

فتاویٰ رشیدیه [ص: ۷۰] کښې دی: د هندوستان په علاقه کښې پتلون د کفارو سره مشابهت حسابیږی، ځکه دا لباس دلته کښې رواج نۀ دې، البته د هغه ښارونو حکم جدا دې چرته چه پتلون هر انسان اغوندی.

احسن الفتاوی [۴۰۳/۳] کښې دی: ښځې لپاره په هغه تنګه جامه کښې مونځ کول مکروه تحریمی دی چه په هغې کښې د هغې اندامونه بیل راوتی وی.

[انظر رد المحتار: ۳۸۱/۱].

دارنګ هر هغه لباس مکروه دې چه هغه اندامِ مخصوصه بیل بیل راوباسی، یا خو په دې وجه چه نرې وی یا تنګ وی، اګر که د مانځه نه بهر هم وی، ځکه دا د سلفوؒ لباس نۀ وو. البته که عورت په دې وجه په جامه کښې دننه ښکاری چه جامه لونده شوې وی یا هواء وی، نو بیا بیله خبره ده.

[شرح الدردیر علی مختصر الخلیل: ۹۲/۱، أحکام اللباس والزینة ص: ۱۰۱].

نو په دې کښې په هغه چا رد دې چه هغه پتلون ته مباح وائی، لکه د [کتاب اللباس والزینة] مؤلف شو.

دریمه مسئله: ټائی د نصاراؤ شِعار او خاصه نښه ده، نو ددې اچول جائز نۀ دی.

امام ابو البرکاتؒ فرمائی: ټائی اچول جائز نۀ دی ځکه که دا د صلیب په شکل وی نو بیا حرامه ده، او که ددې په شکل نۀ وی نو دا د کافرانو خاصه نښه ده.

[الفتاوی البرکاتیة ص: ۲۹۵].

د سعودي د مستقلې کميټې علماء فرمائي : کافرو سره د مشابهت نه مراد په هغه عاداتو کښې مشابهت دے چه هغه دوئ پورې خاص وي، دارنګ په هغه شيانو کښې مشابهت چه دوئ په خپل دين کښې د ځانه جوړ کړے وي که هغه عقائد وي اوکه عبادات وي، لکه دوئ سره په ګيره خرئيلو کښې مشابهت او د زنار په تړلو کښې مشابهت شو ...... او په څټ کښې يا په کورونو کښې د صليب په زوړندولو کښې يا په لاس کښې د صليب په خال جوړولو کښې مشابهت شو۔

[فتاوى اللجنة الدائمة : ٣/٣٠٧].

احسن الفتاوىٰ [٣/٤٢٩] کښې وائي : په ټائي کښې مونځ کول مکروه تحريمي دي۔

که د عورت ځينې برخه ئے ښکاره شوه نو مونځ فاسد دے اوکه نه ؟

٦٣٠ – **سوال** : يو سړے مونځ کوي او د عورت څۀ برخه ئے ښکاره شي نو ددۀ مونځ فاسديږي اوکه نه ؟ اوکه په دے حالت کښې ددۀ خواته څوك نۀ وي نو هم فاسديږي اوکه نه؟

جواب: په مانځه کښې د عورت هيڅ يوه برخه ښکاره کول جائز نۀ دي، مونځ فرض وي که نفل۔ او د سړي د عورت اندازه د نامۀ نه تر زنګون پورے ده۔ نو دا برخه پټول ضروري دي او کله چه د زنګون يا ددے نه پورته څۀ برخه ښکاره شي نو مونځ باطل دے، برابره خبره ده که مونځ کونکے يواځے وي يا د چا په خوا کښې وي بلکه که په توره تيارۀ کښې هم وي۔ او عورت به داسے پټوي چه ښکاره خرمن به ئے نۀ ښکاري، نو داسے لباس اغوستل د عورت پټولو دپاره کافي نۀ دي چه هغه نرے او شفاف وي يا لنډ وي چه د رکوع يا سجدے په وخت ئے ترے د کوناټو دپاسه برخه يا د پټلون يا د زنګون څۀ برخه ښکاري۔ او برابره ده که لباس وړوکے لنګ او پرتوګ وي يا چوغه يا څادر يا توليه وغيره وي۔

[انظر الفتاوى الإسلامية : ١/٣٨٦].

خو دا هله چه سړے په يو داسے لباس اغوستلو باندے قادر وي چه د هغۀ عورت پټ کړي۔ اوکه انسان داسے مسکين او غريب وي چه د لباس لږه برخه ورته ملاويږي يا معذور وي، نو ددۀ مونځ په هر حالت کښې صحيح دے۔ ځکه په صحيح بخاري کښې ثابته شوے ده چه اصحابِ صُفه ؤ به لنډ لنګونه تړل نو نبي اکرم ﷺ به ښځو ته امر کولو چه دوئ

خپل سرونه تر هغه وخته پورې د سجدې نه نۀ پورته کوی تر څو چه سړی لا نیغ ناستی نۀ وی، دې دپاره چه هسې نه د ښځو نظر د نارینه ؤ په عورتونو باندې ولړی۔ او نبی ﷺ دغه کسانو ته دا امر نۀ کولو چه دوئ دې د جماعت مانځه ته نۀ راځی او نۀ ئې ورته د مونځ راګرځولو امر کړې۔

○ او دا خبره یاد لره چه کله په مانځه کښې عورت ښکاره شی نو که لږ وی اوکه ډیر، مونځ فاسد دې۔ او احنافو سره په دې خبره هیڅ دلیل نشته چه دوئ وائی : که د عورت څلورمه برخه د درې سبحان الله ویلو په اندازه ښکاره شوه نو مونځ خرابیږی۔ په فقه حنفی کښې دا ((څلورمې برخې)) ډیرې زیاتې دی۔

بنا په دې په هغه جامو کښې مونځ نۀ کیږی چه هغه د شفافیت او نری والی د وجې بدن، خصوصًا عورت او اوګې نۀ پټوی۔ البته که ددې جامو لاندې هغه کپړه واغوندی چه هغه بدن پټوی نو بیا کیږی او دا حکم نارینه او زنانو دواړو ته شامل دې۔

[الفتاوی الإسلامیة : ١/٢٧١].

مانځه دپاره عورت پټول شرط دی

٦٣١ – **سوال** : د مانځه دپاره عورت پټول شرط دی اوکه نه ؟

جواب : د علماؤ په دې اتفاق دې چه په هر صورت کښې عورت پټول فرض دی، خو په دې کښې اختلاف دې چه د مانځه د صحت دپاره د عورت پټول شرط دی اوکه نه ؟

نو د جمهورو علماؤ په نیز د مانځه دپاره عورت پټول شرط دی، په دې شرط چه په دې باندې قادر وی۔ دې وجې نه څوك چه خپل عورت پټول پریدی او دغسې مونځ وکړی نو ددۀ مونځ فاسد دې، برابره خبره که بربنډ شوې عورت ډیر وی اوکه لږ، او برابره خبره ده که دا عورت د نارینه وی اوکه د زنانه، او برابره خبره ده که دا انسان د خلکو مخامخ مونځ کوی اوکه یواځې وی۔

(١) جمهورو علماؤ دپاره دلیل دا آیتِ کریمه دې : ﴿ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ ﴾ (تاسو د هرې سجدې په وخت خپل لباس خپل کړئ)۔

په دې کښې امر د وجوب دپاره دې، او دا آیتِ کریمه اګرکه د طواف په باره کښې نازل

شوې خو ددې الفاظ عام دی، مانځه ته هم شامل دی۔

(۲) د عائشې k په حدیث کښې دی، رسول الله ﷺ فرمائی : [لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ صَلَاةَ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ] (الله د بالغې جینئ مونځ د لوپټې نه بغیر نۀ قبلوی)۔

[ترمذی : ۱/۸٦].

○ د ځینې مالکیانو رائې داده چه عورت پټول د مانځه دپاره شرط نۀ دې۔ خو د دوئ دا رائې ضعیفه ده۔

[احكام اللباس والزينة ص : ۹۱، نهاية المحتاج : ۲/٥، الإقناع : ۱/۱۰٥، أحكام القرآن للجصاص : ۳/۳۸، كتاب الأم : ۱/۷٦].

امام بخاریؒ فرمائی : په جامو کښې مونځ کول ضروری دی، ځکه الله تعالیٰ فرمائی :﴿خُذُوا زِيْنَتَكُمْ﴾.

په پلیتو جامو کښې به مونځ کوی اوکه په بربنډه ؟

٦۳۲ - **سوال** : کله چه جامه توله ګنده وی یا ددې ځینې برخه ګنده وی، نو په دې جامه کښې به مونځ کوی اوکه په بربنډه ؟ اوکه په یو پلیت ځائې باندې ثوك جامه واچوی او مونځ پرې دپاسه وکړی نو ددې څۀ حکم دې ؟

جواب : په پلیته جامه کښې مونځ نۀ کیږی اونۀ د پلیتې جامې دپاسه مونځ کیږی، ځکه د پلیتئ نه پاکیدل د مانځه د صحیح کیدو دپاره شرط دی۔ او دلته دا شرط نۀ دې موجود۔

خو دا حکم هله دې چه کله بله پاکه جامه ورته ملاویږی۔ اوکه بله پاکه جامه ورته نۀ ملاویده نو بیا په دې کښې د علماؤ اختلاف دې۔ راجحه خبره داده چه : په همدې جامه کښې به مونځ کوی او په بربنډه به مونځ نۀ کوی۔ ځکه دا یو داسې شرط دې چه مونځ ګذار ددې د پوره کولو نه عاجزه دې، نو دا شرط ددۀ نه ساقط شو۔ ولې چه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ (الله نه د خپل وس مطابق یریږئ)۔

او نبی ﷺ فرمائی : [إِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ].

[بخاری، مسلم].

(کله چه زۀ تاسو ته د یو شئ امر وکړم نو هغې ته د خپل وس مطابق راتګ کوئ)۔
نو کوم کس چه دے پلیته جامه کښې مونځ کوی، نو دا د خپل وس مطابق د الله نه یریدلے دے نو په دۀ هیڅ شے لازم نۀ دے۔

بل دا چه : قبلے ته مخ کول فرض دی او د عذر د وجے دا ساقطیږی، نو دا شان لباس هم د مانځه د شرائطو نه دے او د عذر د وجے ساقطیږی۔ نو د پلیتے جامے نه ځان ساتل هم ساقطیږی۔

بل دا چه : د پلیتئ نه ځان ساتل اختلافی دی، او عورت پټول اتفاقی دی، نو غوره داده چه په هغه شئ باندے راتګ وکړی په کوم کښې چه د علماؤ اتفاق دے، او هغه شے پریدی چه په هغے کښې د علماؤ اختلاف دے۔

[المغنی : ٥٩٥/١، فتح القدیر : ٢٦٣/١، لابن الهمام].

○ او کله چه څوك په یو پلیت ځائے باندے جامه واچوی یا بزګے او فرش واچوی او دغه جامه او فرش پیړوی نو ددے دپاسه مونځ جائز دے، ځکه دا شرط نۀ ده چه د زمکے دننه طرف به هم پاك وی۔

[انظر : رد المحتار : ٣٧٤/١].

په مانځه کښې ماشوم بارول او په پلیته سورلئ مونځ کول

٦٣٣ - **سوال** : یو کس په داسے حال کښې مونځ کوی چه ماشوم ئے په اوګه کړے، یا ئے د ماشومانو جامے په ځان اچولی، یا په پلیته سورلئ مونځ کوی، نو آیا په دے حالتونو کښې مونځ کیږی ؟

جواب : سړی لـه جائز دی چه بے اودسه کس یا ماشوم په مانځه کښې بار کړی اګرکه غالبه داوی چه ماشوم په خپله جامه باندے متیازے کوی، دارنګ په پلیته سورلئ مونځ کول جائز دی۔

دلیل دادے چه د ابو قتاده رضي الله عنه په حدیث کښې دی (رسول الله صلى الله عليه وسلم به په داسے حال کښې مونځ کولو چه خپله نمسئ امامه د زینب لور به ئے په اوګه کړے وه، اوکله به ئے چه رکوع کوله نو هغه به ئے کینوله، او کله به چه ودریدۀ نو هغه به ئے په اوګه کړه)۔

[بخاری، مسلم].

دے حدیث نه ثابته شوه چه په مانځه کښے ماشومان پورته کول جائز دی اګرکه د ماشومانو جامے پلیتے هم وی، ځکه عام طور سره ماشومان په خپل ځان او جامو باندے متیازے کوی.

○ ابو هریره رضي الله عنه وائی : (مونږ به د نبی صلی الله علیه وسلم سره د ماسختن مونځ کولو، اوکله به چه نبی صلی الله علیه وسلم سجده کوله نو حسن او حسین دواړو به د هغهٔ په شا باندے راټوپ کړے، اوکله به چه نبی صلی الله علیه وسلم سر راپورته کړو نو دواړه به ئے د شانه راونیول او په نرمئ سره به ئے په زمکه کینول. اوکله به چه نبی صلی الله علیه وسلم بیا سجدے له لاړو نو هغه دواړو به بیا دا کار کولو، تردے چه نبی صلی الله علیه وسلم به خپل مونځ پوره کړو، بیا به ئے په دوئ کښے یو کس په خپلو پتونانو باندے کینولو. ابو هریره وائی : زهٔ ورپاسیدم او عرض مے وکړو، اے د الله رسوله ! زهٔ به دا دواړه کورته بوځم. نو مابه رنړا وکړه او نبی صلی الله علیه وسلم به دواړو ته وفرمایل : ځئ (بچو) مور له مو لاړ شئ. نو په دغه رنړا کښے به دا دواړه خپل کورته ننوتل).

[مسند أحمد].

○ او د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دے، دا وائی : (ما نبی صلی الله علیه وسلم ولیدهٔ چه خیبر ته روان وو او د خرهٔ دپاسه ئے مونځ کولو).

[أخرجه أحمد ومسلم والنسائی وأبوداود].

○ انس رضي الله عنه نه روایت دے چه دهٔ نبی صلی الله علیه وسلم په داسے حال کښے ولیدهٔ چه خیبر ته روان وو او قبله ئے شاته وه او د خرهٔ دپاسه ئے مونځ کولو.

[رواه النسائی].

ددے حدیثونو نه معلومه شوه چه د خرهٔ دپاسه مونځ کول جائز دی حالانکه دا پلیت دے، یا ترے پلیتی نهٔ جدا کیږی. ددے مسائلو دلائل مشهور دی.

[انظر نیل الأوطار : ١/١٢٦].

ښځه په یوه جامه کښے یا سرے په یو جانګی کښے مونځ کولے شی که نه ؟

٦٣٤ - **سوال** : آیا ښځے له روا دی چه په یوه جامه کښے مونځ وکړی ؟ او سړے په

جانګۍ کښې مونځ کولے شی که نه ؟

جواب : هو ! په يوه جامه کښې ښځه مونځ کولے شی هر کله چه په دغه جامه کښې ددے تهول بدن پټ شوے وی۔ دارنګ سړی له جائز دی چه په قميص او جانګۍ کښې مونځ وکړی۔ خو په دے شرط چه عورت او دواړه اوګے به ئے پټے کړی وی۔

امام بخاریؒ فرمائی : عکرمهٔ ويلی دی چه ښځه په يوه جامه کښې خپل ځان پټ کړی نو مونځ ئے جائز دے۔ بيا ئے د عائشے k حديث ذکر کړے، دا وائی : (رسول الله ﷺ به د سهار مونځ کولو او د هغهٔ سره به مومنانو ښځو هم شريك مونځ کولو چه هغوئ به د خپلو ځانونو نه غټ څادرونه راتاؤ کړی وو، بيا به خپلو کورونو ته په داسے حال کښې واپس کيدلے چه هيچا به نهٔ پيژندلے)۔

[صحيح بخاری : ١/٥٤، باب فی کم تصلی المرأة من الثياب].

دارنګ امام بخاریؒ د ابو هريره ﷺ نه روايت کوی (يو سړے ودريدهٔ او د نبی ﷺ نه ئے په يوه جامه کښې د مونځ په حقله پوښتنه وکړه۔ نبی ﷺ ورته وفرمايل : آيا په تاسو کښې هر يو کس ته دوه جامے ملاويږی ؟ بيا يو سړی د عمر ﷺ نه پوښتنه وکړه، نو هغه وفرمايل : کله چه الله فراخی پيدا کړی نو تاسو هم فراخی پيدا کوئ۔ يو سړے دے خپل ځانته خپلے جامے راغونډے کړے۔ يو سړے دے په لنګ او څادر کښې مونځ وکړی۔ په لنګ او قميص کښې دے مونځ وکړی۔ په لنګ او چوغه کښې دے مونځ وکړی۔ په پرتوګ او څادر کښې، په قميص او پرتوګ کښې۔ په پرتوګ او چوغه کښې۔ په جانګۍ او جانګۍ کښې۔ په چوغه او قميص کښې دے مونځ وکړی۔ راوی وائی : زما خيال دے چه داسے ئے هم وفرمايل چه : په جانګۍ او څادر کښې دے مونځ وکړی)۔

[صحيح بخاری : ١/٥٢، باب الصلاة فی القميص والسراويل والتبان والقباء].

عينکو سره مونځ کول

٦٣٥ – **سوال** : په چشمو (عينکو) کښې مونځ کيږی اوکه نه ؟

جواب : هو ! په دے کښې مونځ کول باك نهٔ لری خو کله چه په پوره توګه په سجده کښې تندے او پوزه لږولے شی۔ ځکه دا ډول دے او په ډولی حالت کښې مونځ کول پکار دی۔ خو

که په دے باندے څوك كبر كوی یا ئے په خشوع کښے فرق راځی، نو بیا ئے وښکل پکار دی۔ لنډه دا چه د ضرورت د وجے په چشمو کښے مونځ کول جائز دی، هر کله چه په دے سره د مانځه په شرط یا مستحب کښے څۀ خلل نۀ راځی۔ والله أعلم.

نارینه او زنانه له سپین زر اغوستل جائز دی

٦٣٦ - **سوال** : نارینه دپاره سپین زر اغوستل جائز دی که نه ؟

جواب : صحیح خبره داده چه د نارینه او زنانه دواړو دپاره - د خوراك څکاك نه سیوا په نورو طریقو سره - سپین زر استعمالول جائز دی۔ ددے دلائل دادی :

○ **اول دلیل** : د سړو دپاره د سپینو زرو د استعمالولو نه په هیڅ نص کښے منع نۀ ده راغلے، پاتے لا د ښځو دپاره۔ که چرے دا حرام وے نو خامخا به ددے نه منع راغلے وے، لکه څنګه چه په خوراك څکاك کښے ددے د استعمالولو نه منع راغلے۔ سره ددے چه دے مسئلے ته د خلکو ډیر زیات ضرورت دے، نو هرکله چه ددے نه منع رانغله نو دا د جواز او اباحت دلیل دے۔ البته که په نص یا اجماع کښے ددے حرمت راشی نو بیا به حرام وی۔ لکه په (دویم جلد) کښے ددے مسئلے تفصیلی وضاحت شوے۔

○ **دویم دلیل** : ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دے، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل :

[مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُحَلِّقَ حَبِيبَهُ حَلْقَةً مِنْ نَارٍ فَلْيُحَلِّقْهُ حَلْقَةً مِنْ ذَهَبٍ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُطَوِّقَ حَبِيبَهُ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَلْيُطَوِّقْهُ طَوْقًا مِنْ ذَهَبٍ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُسَوِّرَ حَبِيبَهُ بِسِوَارٍ مِنْ نَارٍ فَلْيُسَوِّرْهُ بِسِوَارٍ مِنْ ذَهَبٍ، وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِالْفِضَّةِ فَالْعَبُوا بِهَا].

(څوك چه دا غواړی چه خپل محبوب ته د اور یوه کړۍ واچوی نو د سرو زرو کړۍ دے ورته واچوی، او څوك چه دا خوښوی چه خپل محبوب ته د اور امیل واچوی نو هغه دے ورته د سرزرو امیل واچوی۔ او څوك چه دا خوښوی چه خپل محبوب ته د اور بنګړے واچوی نو هغه دے ورته د سرو زرو بنګړے واچوی۔ خو تاسو له پکار دی چه سپین زر استعمالوئ او په دے باندے لوبے وکړئ)۔

[ابوداود : ٢/٢٣٠، مشکاة : ٢/٣٧٩، ددے حدیث سند صحیح دے].

نو په دے حدیث کښے نارینه ؤ ته خطاب دے۔ او د لوبو نه مراد په هره طریقه سره ددے د

استعمالولو اجازت دے۔ او دا ښۀ ښکاره او په ډاګه نص دے۔ نو څوك چه ددے نه سرې مستثنیٰ کوی نو دا په دے حدیث کښے بے دلیله تخصیص کول دی۔

○ **دریم دلیل** : انس رضی الله عنه وائی : [کَانَتْ قُبَيْعَةُ سَيْفِ رَسُوْلِ اللّٰه ﷺ مِنْ فِضَّةٍ].

(د رسول الله ﷺ د تورے موټے د سپینو زرو نه جوړ شوے وو)۔

[شمائل الترمذی، ص : ۷، ابوداود : ۱/۳۵۵، دارمی : ۲/۱٤٠، نسائی : ۲/۳٠۱، مشکاة : ۲/۳۳۸].

دے حدیث نه معلومه شوه چه د ګوتمے نه سیوا په نورو شیانو کښے هم د سپینو زرو استعمالول جائز دی۔

○ **څلورم دلیل** : اسلامی شریعت د چاندئ ګوتمۀ په غیر د څۀ استثناء نه د نارینه دپاره جائزه ګرځولے۔ او په کوم حدیث کښے چه دا راغلی چه (نبی ﷺ د بادشاه نه سیوا د بل چا دپاره د ګوتمے استعمالولو نه منع کړے)۔

[ابوداود : ٤٠٤٩، نسائی، مشکاة : ۲/۳۷٦].

نو دا حدیث د ابو عامر راوی د مجهولتیا په وجه ضعیف دے۔

دا شان هغه حدیث هم ضعیف دے چه په هغے کښے راغلی دی چه : (یو سړی عرض وکړو، اے د الله رسوله ! د کوم شئ نه زۀ ګوتمۀ جوړه کړم ؟ وے فرمایل : د سپینو زرو نه خو یو مثقال ته به ئے نۀ رسوے)۔

[ابوداود : ٤۲۲۳، ترمذی، مشکاة : ۲/۳۷۸].

دا حدیث د عبد الله بن مسلم المروزی ابو طیبه په وجه ضعیف دے، کله چه تفرد او یواځے والے وکړی۔ ابن حبانؒ فرمائی : دا خطا کیږی او مخالفت هم کوی۔

[آداب الزفاف للشیخ الألبانیؒ ص : ۱٤٦، کتاب الثقات لابن حبانؒ].

○ حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائی : رسول الله ﷺ نه ثابته ده چه د هغوئ ګوتمۀ د چاندئ وه او غمے ئے هم ددے نه جوړ وو۔ او د رسول الله ﷺ د تورے موټے هم د سپینو زرو وو۔ او د نبی ﷺ نه هیڅ یو داسے حدیث نۀ دے نقل چه په هغے کښے د سپینو زرو د لباس یا د ګاڼړے نه منع راغلے وی۔ لکه څنګه چه د هغوئ نه ثابت دی چه هغوئ د سپینو زرو په لوښو کښے د اوبو څکلو نه منع فرمایلے۔ حالانکه د لوښو باب د لباس او د ګاڼړے د باب نه زیات تنګ دے۔ دا وجه ده، زنانو دپاره په لباس او ګاڼړه کښے هغه شیان استعمالول

جائز دی د کوم لوښی استعمالول چه دوئ له منع دی. دے وجے نه د یو شئ د لوښی استعمالولو د حرمت نه دا نۀ معلومیږی چه ګنے د هغے لباس او ګانړه اچول هم حرام دی.

او په سننو کښے د نبی ﷺ نه نقل دی (هر چه سپین زر دی نو په دے باندے تاسو لوبے وکړئ) اوس چه څوك ددے نه منع کوی نو دا به یا نص پیش کوی او یا اجماع، که چرے په دے دواړو کښے یو ثابت شی نو ښه ده، کـه نـۀ وی نـو د نارینه ؤدپاره ددے په حرام ګنړلو باندے زړۀ نۀ مطمئن کیږی.

او نبی ﷺ په یو لاس کښ سرۀ زر او په بل کښے ریښم ونیول او وے فرمایل : دا دواړه زما د امت په نارینه ؤ باندے حرام دی، زنانو دپاره حلال دی.

[زاد المعاد : ٣٤٩/٤، لابن قیمؒ، راجع نصب الرایة : ٢٢٢/٤].

نو دا بل دلیل دے چه ددے نه صرف د سرو زرو حراموالے معلومیږی نۀ د سپینو زرو.

وبالله التوفیق.

○○○○○○○○

باب السترة

الفساد لمن يترک السترة بالعناد

د سُترے احکام او مسائل

سترے ته ودریدل واجب دی

٦٣٧ - **سوال** : (١) د سترے څۀ حکم دے، ستره ودرول واجب دی که مستحب ؟ ځینے خلك ددے اهتمام نۀ کوی۔ (٢) او د سترے حکم صحراء پورے خاص دے اوکه په جومات کښے هم ددے ودرول شته ؟

جواب : (١) صحیح خبره داده چه ستره ودرول د مسبوق نه علاوه د هر مونځ کونکی دپاره واجب دی، لکه روستو راځی۔

په دے باندے دلیل دا حدیث دے :

[إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيُصَلِّ إِلَى سُتْرَةٍ وَلْيَدْنُ مِنْهَا، وَلَا يَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا، فَإِنْ جَاءَ أَحَدٌ يَمُرُّ فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ]. وَفِيْ رِوَايَةٍ : [فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَمُرُّ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا].

(په تاسو کښے چه څوك مونځ کوی هغه دے سترے ته مونځ کوی او هغے ته دے نزدے ودریږی، او هیڅوك دے نۀ پریدی چه ددۀ او د سترے ترمینځه تیر شی۔ که چرے یو کس راشی او تیریدل غواړی نو هغۀ سره دے جنګ وکړی ځکه دا شیطان دے۔ په بل روایت کښے دی : ځکه شیطان ددۀ او د سترے ترمینځه تیریږی)۔

[ابن ابی شیبه : ١/٢٧٩، ابوداود : ١/١١١، ابن ماجه، ابن حبان : ٤/٤٨، بیهقی : ٢/٢٦٧، وإسناده حسن، وصححه ابن حبان].

ابن عمر ﷺ وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [لَا تُصَلِّ إِلَّا اِلٰی سُتْرَةٍ، وَلَا تَدَعْ أَحَدًا یَمُرُّ بَیْنَ یَدَیْكَ فَإِنْ أَبٰی فَتُقَاتِلُهُ فَإِنَّ مَعَهُ الْقَرِیْنَ].

(د سترے نه بغیر مونځ مکوه، او هیڅوك مۀ پریده چه ستا مخے ته تیر شی، که هغه انکار کوی نو جنګ ورسره وکړه ځکه د هغۀ سره شیطان ملګرے دے).

[صحیح ابن خزیمة : ۹/۲، صحیح ابن حبان : ۴۵/۴، صحیح مسلم مختصرًا، مستدرك :۲۵۱/۱، بیهقی : ۲۶۸/۲].

سبره بن معبد ﷺ وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [لِیَسْتَتِرْ أَحَدُکُمْ فِیْ صَلَاتِهٖ وَلَوْ بِسَهْمٍ] **(په تاسو کښې دے یو کس سترے ته مونځ کوی اګرکه هغه غشے ولے نۀ وی).**

[احمد : ۴۰۴/۳، ابن خزیمه : ۱۳/۲، مستدرك : ۲۵۲/۱، بیهقی : ۲۷۰/۲، وصححه الشیخ فی الصحیحة].

طلحه ﷺ وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : (خامخا دے په تاسو کښې خپلے مخے ته د پالان د روستنی لرګی پشان شے وګرځوی).

[أخرجه ابن الجارود فی المنتقی : ۶۵/۱].

ددے تولو حدیثونو نه ثابته شوه چه ستره ودرول واجب دی ځکه په دے امر او تاکید راغلے۔او په دے باره کښے ډیر حدیثونه راغلی چه شیخ محمد بن رزق طرهونیؒ په [احکام السترة ص : ۹- ۱۲] **کښے ذکرکړی۔**

او په حدیث کښے سترے ته د نزدے ودریدو امر راغلے، لکه سهل بن ابی حثمه – رضی الله عنه – وائی : نبی ﷺ وفرمایل : (کله چه په تاسو کښے څوك سترے ته مونځ کوی نو هغے ته دے نزدے ودریږی، دے دپاره چه شیطان پرے مونځ مات نۀ کړی).

[ابن ابی شیبه : ۲۷۹/۱، حمیدی : ۱۹۶/۱، احمد : ۲/۴، ابوداود، طحاوی، بیهقی وغیره].

دا حدیث صحیح دے۔

په بل روایت کښے دی : (کله چه په تاسو کښے څوك مونځ کوی، نو ستره دے ودروی او هغے ته دے نزدے ودریږی ځکه شیطان ددۀ مخے ته تیریږی).

[صحیح ابن خزیمة : ۱۰/۲].

عائشه k فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [اِرْهَقُوا الْقِبْلَةَ] **(قبلے ته نزدے ودریږئ).**

[أخرجه البزار کما فی کشف الأستار : ۲۸۳/۱، مجمع الزوائد : ۵۹/۲].

د سترے د ودرولو او دیته د نزدے ودریدلو امر د صحابه کرامو j نه هم راغلے، لکه د ابن

عمر رضي الله عنه نه په صحیح سند سره نقل دی، هغه فرمائی : (کله چه په تاسو کښې څوك مونځ کوی نو سترې ته دې مونځ کوی او هغې ته دې نزدې ودریږی، دې دپاره چه شیطان ددهٔ مخې ته تیر نشی)۔[ابن ابی شیبه : ۲۷۹/۱].

ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی : (په تاسو کښې دې څوك په داسې حال کښې مونځ نهٔ کوی چه ددهٔ او د قبلې ترمینځه ډیر ځائے وی)۔

[مصنف عبد الرزاق : ۱٦/۲، ابن ابی شیبه : ٦۷۹۱].

د ابن مسعود رضي الله عنه نه دا هم نقل دی چه څلور شیان د سخت زړتیا او ظلم نښه ده، یو پکښې داده چه انسان بې سترې مونځ کوی۔

[ابن ابی شیبه : ٦۱/۲، بیهقی : ۲۸٥/۲، بإسناد صحیح].

○ په دې حدیثونو او آثارو کښې د سترې دا حکم عام دې، صحراء او جومات دواړو ته شامل دې، په ټولو ځایونو کښې د سترې ودرول واجب دی، سیوا د هغه ځایونو نه چه شریعت د هغې استثناء کړې۔ نو څوك چه د سترې د حکم نه جومات وباسی یا د وړوکی او غټ جومات فرق کوی، نو دهٔ سره د رائې نه سیوا بل هیڅ دلیل نشته۔ ځکه د صحابه کرامو j نه ثابته ده چه هغوئ به په جومات او غیر جومات هر ځائے کښې د سترې اهتمام کولو۔

لکه امام بخاریؒ د قره بن ایاسؓ نه نقل کړی، دا وائی : زهٔ عمر رضي الله عنه په داسې حال کښې ولیدم چه ما د دوه ستنو ترمینځه مونځ کولو، نو زما څټ ئې ونیولو او سترې ته ئې رانزدې کړم، او وې فرمایل : سترې ته مونځ کوه۔

[صحیح بخاری تعلیقًا : ۷۲/۱، ووصله ابن ابی شیبه : ۳۷۰/۲].

نو د خلیفهٔ راشد دې عمل ته وګوره چه د سترې څومره اهتمام کوی، په مانځه کښې خلك سترې ته راکاږی !!

محمد بن سیرینؒ فرمائی : عمر بن خطاب رضي الله عنه یو سړې ولیدهٔ چه مونځ ئې کولو او مخې ته ئې ستره نهٔ وه، نو د هغهٔ مخې ته کیناستهٔ او وې فرمایل : تادی مهٔ کوه۔ کله چه فارغه شه نو عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل : کله چه په تاسو کښې څوك مونځ کوی نو سترې ته دې مونځ کوی، دې دپاره چه شیطان ددهٔ او د مانځه ترمینځه خنډ واقع نشی۔

[مصنف عبد الرزاق : ۲/۱۵].

دا اثر مرسل دے، خو ابن سيرينؒ ثقه دے، دا صرف د ثقه نه ارسال کوی۔

[کما فی التمهید : ۱/۳۰، انظر المطالب العالية : ۱].

ظاهره داده چه د عمر فاروق رضي الله عنه دا کیناستل په جومات کښے وو۔

ابـو اسـحـاق سبيـعيؒ فرمائی : پنځه خبرے د ظلم او زیاتی نه حسابیږی، یوه دا چه انسان په جومات کښے مونځ کوی او خلك ددهٔ مخے ته تیریږی ......

[مصنف عبد الرزاق : ۲/۲٦، بإسناد صحیح].

عـلامـه شـوکـانـیؒ فرمائی : دے نه معلومه شوه چه ستره ودرول واجب دی، ددے تائید د ابن سيرينؒ، او د سبره بن معبد جهنی د حدیثونو نه هم کیږی۔

[نیل الأوطار : ٤/٤].

دارنـګـه فـرمـائـی : امـر د وجـوب دپاره دے، که چرے د سترے په باره کښے راغلی امرونه استـحباب طرفته اوښتلے شی نو صحیح ده که نهٔ وی نو دا د وجوب دپاره دی۔ ابن خزيمهؒ فـرمـائـی : نبی صلی الله علیه وسلم د سترے نه بغیر د مونځ کولو نه منع فرمایلے، نو هغه شئ ته ځنګه راتګ وکړے شی چه د هغے نه ئے منع فرمایلے۔

[السيل الجرار : ۱/۱۷٦، صحیح ابن خزیمة : ۲/۲۸].

○ او پـه هیـڅ یـو صـحـیـح حـدیث کښے دا نـهٔ دی ثابت چه نبی صلی الله علیه وسلم د سترے نه په غیر مـونځ کړے وی۔ بلکه په صحیح بخاری کښے د انس رضي الله عنه نه روایت دے، دا وائی : (ما د نبی صلی الله علیه وسلم صـحـابـه لیدلی دی چه کله به د ماښام اذان وشو نو ستنو ته به ئے منډے وهلے، ترد ے چه نبـی صلی الله علیه وسلم بـه راووتـهٔ)۔ پـه بـل روایت کښے دی : (د ماښام مانځه نه مخکښے به ئے دوه رکعته کول)۔

[صحیح بخاری : ۱/۷۲].

نو وګوره ! د صحابه کرامو رضي الله عنهم دے عمل ته چه د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے به ئے کولو۔

نـافـعؒ فـرمائی : ابن عمر رضي الله عنه تـه بـه چـه کـلـه د جـومـات سـتـنـه ملاؤ نشوه، نو ماته به ئے وفرمایل : ماته شا راواړوه۔

[ابن ابی شیبه : ۱/۲۷۹، بسند صحیح].

سلمه بن اکوع رضی الله عنه به په صحراء کښې کانړی ودرول، اوکله به ئې چه د مانځه اراده وکړه نو هغې طرفته به ئې مونځ کولو۔

[ابن ابی شیبه : ۲۷۸/۱].

شوکانیؒ فرمائی : دا خبره د یادولو وړ ده چه په دې حقله راغلی حدیثونه د ستنو او آبادئ ترمینځه فرق نهٔ کوی۔ او همدا هغه حکم دې چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه د سترې په باره کښې راغلې، برابره خبره ده که آبادئ کښې وی اوکه په صحراء کښې۔

[نیل الأوطار : ۵/٤].

○ پاتې شو، د صحیح بخاری هغه حدیث چه په هغې کښې راغلی [يُصَلِّيْ إِلىٰ غَيْرِ جِدَارٍ] (نبی صلی الله علیه وسلم د دیوال نه علاوه ته مونځ وکړو)۔

نو ددې نه د سترې عدمِ وجوب نهٔ معلومیږی، بلکه ددې نه د سترې وجوب معلومیږی، ځکه په دې حدیث باندې امام بخاریؒ باب تړلې : (باب دې په بیان د سترې د امام کښې)۔ بله دا چه : (غَيْرُ) صفتیه ده، تقاضا د موصوف کوی چه هغه (شئ) دې، نو معنیٰ دا شوه چه یو داسې شئ ته به ئې مونځ کولو چه هغه د دیوال نه سیوا وو۔ ځکه د دیوال ذکر کولو همدا فائده ده، چه سترې ته ئې مونځ کړې دې خو هغه ستره دیوال نه وو، بلکه د دیوال نه سیوا بل څهٔ وو۔ اوکه چرې مقصد دا وې چه بې سترې ئې مونځ کړې دې، نو بیا خو داسې ویل پکار وو چه [يُصَلِّيْ إِلىٰ غَيْرِ سُتْرَةٍ]۔

دې وجې نه د صحیح حدیثونو نه صرف د سترې وجوب او اهتمام معلومیږی۔ ځینې ناپوهان د سترې هیڅ اهتمام نهٔ کوی، بلکه وائی چه سترې ته مونځ کول خو د بتانو عبادت کول دی۔ نو دا د دوئ ښکاره جهالت او ناپوهی ده۔

سوال : د سترې فائدې څهٔ دی ؟

جواب : د سترې فائدې دادی :

دا خبره یاده لرل پکار دی چه مونږ مسلمانان یو، کله چه مونږ ته د الله او د هغهٔ د رسول (صلی الله علیه وسلم) امر راشی نو ددې خبرې نه بې فکره کیدل پکار دی چه په دې امر کښې به څهٔ فائده وی ؟ ځکه مونږ ته په یقینی توګه معلومه ده چه الله او د هغهٔ رسول (صلی الله علیه وسلم) مونږ ته صرف د هغه کار امر کوی په کوم کښې چه زمونږ ګټه او فائده ده۔

الله تعالیٰ فرمائی :﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ﴾ (هیڅ یو مؤمن سړی او مؤمنې ښځې له دا نشي کیدے چه کله الله او رسول د څۀ خبرې فیصله وکړی چه دوئ له دے ددے دواړو په کار کښې څۀ اختیار وی).

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴾ (که چرے تاسو ددۀ خبره ومنئ نو په سمه لار به روان شئ او د رسول (الله ﷺ) په ذمه خو صرف ښکاره رسول دی).

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا [٦٦] وَإِذًا لَآتَيْنَاهُمْ مِنْ لَدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا [٦٧] وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا [٦٨] وَمَنْ يُطِعِ اللهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا ﴾ [٦٩]. [آل عمران].

(او که دے خلقو هغه څه کړی وے د کوم چه دوی ته نصیحت کیږی نو دوی دپاره به زیات غوره وے او دوی لره په دین باندے ثابت قدم ساتلو دپاره به زیات مؤثر وے ۞. او خامخا په دغه وخت کښې به مونږ د خپل طرف نه دوی ته لوئی اجر ورکړے وے ۞. او دوی به مو په نیغه لاره روان کړی وے ۞. او کوم خلق چه د الله او د رسول اطاعت کوی نو دوی به (په جنت کښې) د هغه خلقو سره وی چه هغوی باندے الله انعام کړے، یعنی انبیاء او صدیقین او شهیدان او صالحینو سره، او دا خلق به ډیر ښائسته ملګری وی ۞).

دومره ده چه په نصوصو کښې د ځینو احکامو فوائد راغلی وی یا علماؤ ځینے فائدے ددے نه معلومے کړے وی، نو د هغے ذکر کول او په هغے کښې د پروت خیر او ښیګړے نه ځان خبرول باك نۀ لری.

امام نوویؒ فرمائی : علماؤ ویلی دی چه : په ستره ودرولو کښې حکمت دادے چه د سترے نه اخوا نه خپل نظر بند کړے شی، او هغه ځوك منع کړے شی چه هغه دۀ ته نزدے تیریږی. قاضی عیاضؒ نقل کړیدی چه هغه وائی : زمونږ مذهب دادے چه ستره په هر حالت کښې مشروع ده، ځکه په دے باره کښې راغلی حدیثونه عام دی. (لکه د سهل بن ابی حثمهؓ وغیره په حدیث کښې راغلی).

بله دا چه ستره ددۀ نظر ساتی، او شیطان ددۀ د مانځه د خرابولو او ددۀ په مخ کښې د

تیریدلو نه بندوی، لکه په دے باره کښے حدیثونه راغلی. بله دا چه کوم انسان د مونځ کونکی مخے ته تیریږی نو ددهٔ د مانځه اجر او ثواب په دے سره کمیږی، نو ستره ددے اجر کمولو نه ددهٔ مونځ ساتی. دارنګه ځینے حیوانات د مونځ کونکی مخے ته تیریدو سره مونځ خرابوی، نو ستره ددے نه مونځ ساتی.

دا شان په دے کښے نورے ډیرے فائدے کیدے شی کومے چه شارع حکیم ته معلومے دی.

[انظر: شرح مسلم للنووی: ۱/۱۹۵].

د امام ستره مقتدی له هم کافی ده

۶۳۸ - **سوال**: مقتدی له هم ستره ودرول واجب دی اوکه نه د امام ستره ددهٔ دپاره کافی ده؟

جواب: صحیح داده چه د جماعت په مانځه کښے ستره ودرول د امام ذمه واری ده. او کوم صفونه چه د امام نه روستو وی په هغے کښے په هر یو مونځ کوونکی باندے واجب نهٔ دی چه ستره ودروی. او دا دے ځوك هم نهٔ وائی چه د روستنی صف دپاره ستره مخکنے صف دے. ځکه دا کار په اولنی صف کښے نشی کیدے. حالانکه د اولنی صف مخے ته تیریدل جائز دی هر کله چه امام ستره ودرولے وی، لکه په دے باندے ګڼړ دلائل دی. امام زرقانیؒ فرمائی: په دے وخت کښے ستره حکمی ده نهٔ حقیقی.

[انظر شرح الزرقانی علی مختصر خلیل: ۱/۲۰۸].

بیا که امام ستره ونه درولـه نو کوتاهی ددهٔ ده. په صحیح حدیث کښے راغلی دی:

[يُصَلُّوْنَ لَكُمْ فَإِنْ أَحْسَنُوْا فَلَكُمْ وَلَهُمْ، وَإِنْ أَخْطَأُوْا فَلَكُمْ وَعَلَيْهِمْ].

(امامان تاسو ته مونځونه کوی نو که دوئ ښهٔ مونځونه کول نو ستاسو هم فائده او د دوئ هم فائده. اوکه دوئ خطا شو نو ستاسو مونځ وشو او وبال په دوئ دے).

[أخرجه البخاری وأحمد].

او په دے وخت کښے په هر مقتدی باندے د خپل ځان دپاره ستره ودرول یا مخے ته تیریدونکے منع کول واجب نهٔ دی. ددے وجه روستو راځی هغه دا چه نبی اکرم ﷺ هیڅ یو مقتدی ته دا امر نهٔ دے کړے چه ستره ودروی. او د بل چا په کار سره د انسان نه یو واجب شے نهٔ ساقطیږی. بله دا چه د هر یو مقتدی په دے باندے خبریدل هم آسان نهٔ دی

چه آيا ددهٔ امام ستره ودرولے اوكه نه ؟ دے دپاره چه هغهٔ له ستره تالاش كړى۔ او په سلفو كښے د هيچا نه هم دا نقل نهٔ دى چه هغهٔ د امام په باره كښے تالاش كړے وى چه آيا ددهٔ امام ستره ودرولے اوكه نه ؟

نو صحيح خبره داده چه په مقتدى باندے ستره نشته، او نهٔ به هغه څوك منع كوى چه هغه ددهٔ مخے ته تيريږى، هر څوك چه وى۔

په دے باندے ګڼړ **حديثونه** دليل دے :

اول حديث : ابن عباس رضي الله عنه وائى : (زهٔ او - زما ورور - فضل دواړه په خره باندے سوارهٔ راغلو او رسول الله صلى الله عليه وسلم په عرفات كښے وو، نو مونږ د صف د ځينے برخے مخے ته تير شو او هلته مو پرېښو واچولو او خره مو پريښوده چه څريدله، او مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په مانځه كښے داخل شو، نو مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم هيڅ ونهٔ ويل)۔

[صحيح مسلم : ١/١٩٦، حميدى : ١/٢٢٤].

نو ابن عباس او فضل i دواړه په خره باندے سوارهٔ د اولنى صف مخے ته تير شو او دوئ لره هيچا هم منع نهٔ كړل او نهٔ د دوئ خره منع شوه۔ او نهٔ په دوئ چا رد وكړو، نهٔ نبى اكرم صلى الله عليه وسلم او نه صحابو۔

او دا حديث په دے دلالت نهٔ كوى چه ګنے نبى صلى الله عليه وسلم ستره نهٔ وه ودرولے، ځكه دا حديث ددے دپاره بيان شوے چه د امام ستره مقتديانو لپاره كافى ده۔ د سترے د تمامو مسائلو دپاره نهٔ دے بيان شوے۔ ښهٔ سوچ وكړه !

امام نووىؒ فرمائى : دے حديث نه معلومه شوه چه د امام ستره د مقتديانو دپاره كافى ده۔ [شرح مسلم : ١/١٩٦].

دويم حديث : ابن عباس رضي الله عنه وائى : (ما په عرفات كښے د نبى صلى الله عليه وسلم مخے ته وړه نيزه ناله كړه، نبى صلى الله عليه وسلم هغے ته مونځ وكړو، او خرهٔ به ددے نيزے نه اخوا تيريدل)۔

[مسند أحمد : ١/٢٤٣، صحيح ابن خزيمة : ١/٢٦].

دريم حديث : امام بخارىؒ د ابو جحيفه رضي الله عنه نه روايت كوى : [أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم صَلَّى بِهِمْ بِالْبَطْحَاءِ وَبَيْنَ يَدَيْهِ عَنَزَةٌ : الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ، تَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ] وَفِيْ رِوَايَةٍ : [يَمُرُّ مِنْ وَرَائِهَا الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ]. وَفِيْ أُخْرَى : [النَّاسُ وَالدَّوَابُّ يَمُرُّوْنَ بَيْنَ يَدَيِ الْعَنَزَةِ].

(نبی ﷺ دوئ تـه پـه خوړ کښې مونځ وکړو اوددۀ مخې ته د سترې په توګه وړه نیزه ناله شوې وه، د هغـۀ مـخې ته به ښځه او خر تیریدۀ)۔ په بل روایت کښې دی : (د دغه سترې نه اخوا به ښځه او خر تیریدۀ۔ په بل روایت کښې دی : (خلك او ځناور به د دغه نیزې مخې ته تیریدل)۔ [صحیح بخاری : ۷۲/۱].

نـو دې حـدیث نـه مـعـلـومه شوه چه نیزه به صرف د نبی اکرم ﷺ مخې ته د سترې په توګه ولاړه وه۔ او نبی اکرم ﷺ هیڅ یو مقتدی ته د سترې ودرولو امر نۀ دې کړې۔

ځلورم حدیث : عبد الله بن عمرو ﷛ وائی : (مونږ د رسول الله ﷺ سره د اَذَاخِرُ نو مې کنډو نـه راکـوز شـو، نـو نبـی ﷺ دیوال قبله جوړه کړه او مونځ ئې ورته وکړو او مونږ هغۀ پسې روسـتـو ولاړ وو، نـو یـوه بـزه راغـلـه چه د هغۀ مخې ته تیریدله نو نبی ﷺ به منع کوله او هغې بـه د تـیـریـدو کـوشش کولو، تردې چه د نبی ﷺ خیټه دیوال پورې پیوسته شوه او هغه بزه د نبی ﷺ شاته تیره شوه)۔

مـطلب دا چه نبی ﷺ دا کوشش کولو چه بزه د هغۀ او د سترې ترمینځه تیره نشی، او نبی ﷺ دا باك ونه کړو چه هغه د نبی ﷺ شاته او د اولنی صف والو مخې ته تیره شی۔

او د نبـی ﷺ نـه دا پـه تـواتـر سره ثابت دی چه هغۀ به په خپل جومات کښې سترې ته مـونـځ کـولـو او د روسـتـنـو مـقـتـدیانو دپاره به ستره نۀ وه۔ په دې باب کښې ګڼړ حدیثونه راغلی۔ لکه په [احکام السترة] کښې دا وګوره۔

امـام تـرمـذیؒ فـرمـائی : په همدې خبره د اهلِ علمو عمل دې، دوئ وائی : د امام ستره د مقتدیانو ستره ګڼړلې کیږی۔ [ترمذی : ۷۹/۱].

امام عبد الرزاقؒ فرمائی : په همدې مونږ هم عمل کوو۔

[مصنف عبد الرزاق : ۱۹/۲].

داسې خبره علامه ابن همامؒ او نورو علماؤ هم کړې۔

[فتح القدير : ۱۹۰/۱، الفقه على المذاهب الأربعة : ۱۹۰/۱].

مسبوق باندې ستره ودرول واجب نه دی

۶۳۹ - **سوال** : آیا مسبوق باندې لازم دی چه سترې ته رامخکښې شی او یا ځان دپاره

ستره ودروي ؟ ځینې علماؤ په دۀ هم ستره واجبه کړې، نو ددې حیثیت څۀ دې ؟

جواب : په مسبوق ستره نشته دې، ځکه نبي ﷺ هیڅ یو مقتدي ته د سترې امر نۀ دې کړې، نۀ مسبوق ته او نۀ بل چاته. حالانکه نبي اکرم ﷺ ته دا معلومه وه چه د ډیرو خلکو نه یو رکعت دوه رکعته د امام سره فوت کیږي، او ددې باوجود ئې مسبوق ته د سترې امر نۀ دې کړې. که چرې دا کار نبي ﷺ کړې وې نو خامخا به مونږ ته دا رانقل شوې وو.

بله دا چه : په صحیح مسلم کښې ثابت دي چه مغیره بن شعبه رضي الله عنه فرمائی : (مونږ خلکو ته په داسې حالت کښې ورسیدو چه هغوئ مونځ ته ودریدلي وو او عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه ورته مونځ کولو او دوئ ته ئې یو رکعت کړې وو، او کله چه هغۀ ته پته ولږیده چه نبي ﷺ راغې نو هغۀ د روستو کیدو اراده وکړه، نبي ﷺ ورته اشاره وکړه (چه مه روستو کیږه) نو نبي ﷺ د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه پسې یو رکعت وکړو، او کله چه هغۀ سلام واړولو نو نبي ﷺ ودریدۀ او زۀ هم ودریدم، او کوم رکعت چه مونږ نه تلې وو هغه مو پوره کړو).

[صحیح مسلم، مشکاة : ۱/۵۳].

نو دا خلك په سفر کښې وو، او ظاهره داده چه دوئ په صحراء کښې مونځ کولو، نو نۀ نبي ﷺ ستره ودرولې وه (هر کله چه مقتدي وو او یو رکعت ترې تلې وو) او نۀ مقتدیانو صحابه کرامو ستره ودرولې وه. بس د امام ستره دې ټولو له کافي وه.

بله دا چه : د مسبوق او مقتدي دپاره د سترې اهتمام کول ډیر ګران کار دې، هغه داسې چه کله د مقتدیانو صفونه ډیر وي او جومات غټ وي یا په صحراء کښې یا په عیدګاه کښې مونځ کوي، نو د مقتدیانو یا مسبوقینو دپاره ستره ودرول نشي کیدې، نو دوئ به څۀ کوي ؟

هو ! که د مسبوق مخې ته دیوال یا بل شې نزدې وي او هغه ورته ورمخکښې شي نو په دې کښې څۀ باك نشته. ځکه د عذر د وجې په مانځه کښې مخکښې روستو کیدل ثابت دي. او د سترې اهتمام به د خپل وس مطابق کوي.

دا وجه ده، امام مالك رحمه الله فرمائی : ځوك چه د امام د سلام اړولو نه پس مونځ پوره کولو

دپاره ودریږی نو په دے کښے باك نشته چه دا لږ مخکښے یا روستو شی یا ښی یا ګس اړخ ته ستنے ته لږ ورکوږ شی او سترے ته ځان برابر کړی، خو دا هله چه ستره نزدے وی. اوکه لرے وه نو بیا به دغسے ودریږی او د خپل وس مطابق به مخے ته تیریدونکے منع کوی.

[شرح الزرقانی علی مختصر خلیل : ١/٢٠٨].

محمد بن رزقؒ فرمائی : د امام مالكؒ دا خبره د اخستو وړ ده، ځکه مسبوق په هغه طریقه په مونځ کښے داخل شوے ځنګه چه دۀ ته امر شوے وو، او په دۀ باندے په دے وخت کښے ستره نشته، او ددۀ حالت د هغه چا سره مشابه دے چه هغه د ځناور نه ستره جوړه کړے وه او هغه ځناور روان شو. نو په دے حالت کښے ددۀ ځۀ کوتاهی نشته، خو که دے په دے حالت کښے سترے ته په آسانئ سره ودریدے شی نو دا کار دے وکړی، دے دپاره چه خلك په ګناه کښے وانۀ چوی. اوکه په آسانئ سره سترے ته نشی ودریدے نو بیابه مخے ته تیریدونکے منع کوی.

او څوك چه وائی : مسبوق به خامخا سترے ته ځان رسوی. او په دلیل کښے دا حدیث پیش کوی چه (سترے ته دے نزدے ودریږی).

نو ددۀ دپاره په دے حدیث کښے هیڅ دلیل نۀ جوړیږی، ځکه دا امر په اتفاق د علماؤ سره د مانځه د شروع کولو نه مخکښے متوجه دے، د مونځ شروع کولو نه پس نۀ دے متوجه. لکه په دے خبره باندے د دغه حدیث باقی الفاظ دلالت کوی.

پاتے شو د ابن عمر رضی الله عنه هغه اثر چه علی بن الجعدؒ په خپل سند سره د زیاد بن جبیرؒ نه نقل کړے، دا وائی : (ما ابن عمر ولیدۀ چه دۀ یو رکعت کړے وو او خپلے مخے ته ئے خالی ګاه ولیدله او ورمخکښے شو).

نو دا اثر زمونږ د پورتنئ خبرے خلاف نۀ دے، ځکه دا خپلے مخے ته نزدے ورمخکښے کیدل دی، او دا جائز دی.

که مقتدی ے اودسه شی نو جومات نه به ځنګه وځی ؟

٦٤٠ - **سوال** : کله چه مقتدی په مانځه کښے ے اودسه شی نو دابه ځنګه وځی ؟ ځکه که دا وځی نو د مونځ کونکو مخے ته تیریدل راځی. اوکه دغسے ایسار وی نو جماعت

ترے فوت کیږی نو دا کس به څۀ کوی ؟

جواب : صحیح داده چه د مونځ کونکو مخے ته به تیریږی، ځکه د مخکنۍ مسئلے نه معلومه شوه چه د امام ستره د مقتدیانو لپاره کافی ده۔ کله چه امام ستره ودرولی وی نو په هر صورت کښے د مقتدیانو مخے ته تیریدل جائز دی۔ لکه د ابن عباس رضی الله عنه په حدیث کښے مخکښے تیر شو چه هغه وائی : زۀ د صف د ځینے برخے مخے ته تیر شوم، نو په ما باندے په دے کار کښے هیچا رد ونۀ وکړو۔

[بخاری، مسلم].

د سترے اندازه

٦٤١ – **سوال** : د سُترے اندازه څۀ ده ؟

جواب : د سترے د اوږد والی اندازه داده چه دا به د پالان د روستنی لرګی هومره وی۔ ددے نه به وړه او لنډۍ نه وی۔

طلحه رضی الله عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (کله چه په تاسو کښے چا خپلے مخے ته د پالان د روستنی لرګی هومره شے ودرولے وی، نو مونځ دے کوی او په هغه چا دے هیڅ باك نۀ کوی ثوك چه ددے نه اخوا تیریږی)۔

[صحیح مسلم : ١٩٧/١].

عائشه k فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د تبوك د غزا په موقعه د مونځ ګذار د سترے په حقله پوښتنه وشوه، وے فرمایل : د پالان د روستنی لرګی هومره۔

[صحیح مسلم : ١٩٧/١].

ابو ذر رضی الله عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (کله چه په تاسو کښے ثوك مانځه ته ودریږی نو ددۀ د پالان د روستنی لرګی پشان شے ستره جوړیږی۔ اوکله چه ددۀ مخے ته د پالان د روستنی لرګی هومره شے نۀ وی، نو ددۀ مونځ د خرۀ، ښځے او تور سپی په تیریدو سره ماتیږی)۔ [صحیح مسلم : ١٩٧/١].

ابو هریره رضی الله عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (ښځه، خر او سپے مونځ خرابوی، او د پالان د روستنی لرګی پشان شئ سره ددے نه ساتنه کیږی)۔

[صحیح مسلم : ۱/۱۹۷].

ددې حدیثونو نه په ډاګه ثابته شوه چه په اوړد والی کښې د سترې اندازه د پالان د روستنی لرګی هومره شې دې. چه ددۀ مخې ته وی نو بیا چه هر څوك تیریږی دۀ له ضرر نۀ ورکوی. او کله چه دومره شې انسان ته ملاویږی نو بیا ددې نه کم شې ستره جوړول جائز نۀ دی. که چرې ددې نه کم شې ستره جوړول جائز وې نو خامخا به نبی اکرم ﷺ بیان کړې وې په داسې حال کښې چه د هغۀ نه په دې باره کښې پوښتنه شوې او هغوئ په دغه اندازې سره جواب ورکړې. او قانون دادې چه کومې خبرې بیانولو ته ضرورت وی نو د هغې بیان د خپل وخت نه روستو کول جائز نۀ دی.

اوس د مُؤْخِرَةُ الرَّحل (یعنی د پالان د روستنی لرګی) اندازه څۀ ده ؟

نو ابن جریجؒ د عطاءؒ نه نقل کوی هغه فرمائی : مخکنو خلکو به چه کله مونځ کولو نو د پالان روستنې لرګې به ئې ستره جوړوله. ابن جریجؒ وائی : ما عرض وکړو : ددې اندازه څومره ده ؟ وې فرمایل : یو ګز (یو لاس). ابن جریجؒ وائی : ما د ثوریؒ نه واوریدل چه د عطاءؒ په خبره ئې فتویٰ ورکوله.

[مصنف عبد الرزاق : ۹/۲، ابوداود : ۱۰۶/۱، ابن خزیمة : ۱۱/۲، وهو أثر صحیح].

دارنګ ابن جریجؒ فرمائی : ما عطاءؒ ته وویل : که چرې ما سره یو ګز امسا وی، او د هغې نه د څلورو ګوتو په اندازه په زمکه خخه شوې وی او د زمکې د سطح نه ئې چه واخلې نو د یو ګز نه کمه وی، نو دا ستره جوړیدې شی که نه ؟ وې فرمایل : نه ! تردې چه د زمکې د سطح نه پوره یو ګز وی. [مصنف عبد الرزاق : ۱۵/۲].

معمرؒ وائی : ما د قتادهؒ نه واوریدل چه هغۀ نه د هغه دُرمې په باره کښې پوښتنه وشوه چه مونځ ګذارئې خپلې مخې ته ستره جوړوی، وې فرمایل : ددې نه ستره هله جوړیږی چه دا یو ګز او یوه لیشت وی. [مصنف عبد الرزاق : ۱٤/۲].

نو د عطاءؒ د اولنئ خبرې نه معلومه شوه چه د صحابه کرامو j په زمانه کښې به خلکو د یو ګز نه ستره جوړوله. او همدا هغه زمانه وه چه په دې کښې به تشریع او قانون نازلیدۀ.

نافعؒ فرمائی : (ابن عمر به د سترې نه بغیر مونځ نۀ کاوۀ. او د هغۀ د پالان روستنې لرګې

یو گز وو۔ او هغه به کله خپل اوښ په پلنو کینولو او هغې طرفته به ئې مونځ کولو۔
[مصنف عبد الرزاق : ٢/٩].

نو ثابته شوه چه د سترې کمه اندازه یو گز دې۔

○ او هرچه ددې پلنوالې دې : نو ددې اندازه په حدیثونو کښې نۀ ده ثابته۔ په دې کښې دا پابندی نشته چه ګڼې خامخا به د یوې گوتې هومره پیړه وی یابه ددې نه کمه یا زیاته وی۔ ځکه نبی اکرم ﷺ وړې نیزې او امسا او نورو شیانو طرفته مونځ کړې دې۔او دا معلومه ده چه دا شیان نری دی۔

امام ابن خزیمهؒ هم فرمائی : په احادیثو کښې چه د پالان د لرگی اندازه راغلې نو دا په اوږد والی کښې ده، نۀ په پیړوالی کښې۔ ځکه نبی ﷺ دپاره به حربه (یعنی وړوکې نیزه) ناله شوه، او ددې پلنوالې د پالان د لرگی د پالان پشان نۀ دې۔ دارنګ د غشی نه هم ستره جوړول راغلی دی، نو ددې نه هم مقصد اوږد والې دې نۀ پلنوالې۔
[صحیح ابن خزیمه : ٢/١٢].

ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : کله چه ستره د پالان د روستنی لرگی هومره وی نو که د ویښتۀ هومره هم نرئ وی نو کافی ده۔ [مصنف عبد الرزاق : ٢/١٢].

او دا د عامو علماؤ وینا ده چه د سترې اندازه د پالان د لرگی هومره ده۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : فقهاؤ دا معتبره گڼلې چه د سترې کمه اندازه داده چه دابه د پالان د لرگی برابر وی۔ [فتح الباری : ١/٥٨١].

علامه ابن حزمؒ هم دا خبره کړې چه د سترې کمه اندازه اوږد والې دادې چه د پالان د لرگی هومره وی یعنی یو گز به وی۔ او پلنوالی او پیړوالی لۀ ئې اعتبار نشته که هر څومره وی نو ددې نه ستره جوړیدې شی۔
[المحلی : ٤/١٢].

○ او د بعضو سلفوؒ په کومو آثارو کښې چه راغلی چه هغوئ به د خپلو تڼیو (خولو) نه ستره جوړوله۔ لکه شریکؒ په فرض مانځه کښې خپلې مخې ته تڼیئ کیښودله او مونځ ئې وکړو۔ (ددې سند صحیح دې)۔ او شعبیؒ نه نقل دی چه دۀ به چابك وارتولو او مونځ به ئې ورته کولو۔ او حسن بصریؒ وائی : نهر هم ستره جوړیدې شی۔

[ابوداود : ۱/۱۰۷، ۱۷۰، ابن ابی شیبه : ۱/۲۷۸].

عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل دی چه هغهٔ خپله تهٔپۍ ستره وګرځوله۔

[مصنف عبد الرزاق :۲/۱۶].

دا اثر ضعیف دے، په دے کښے دوه مبهم روایان دی۔

نو په دے آثارو کښے ځینے آثار ضعیف دی۔ او کوم چه صحیح دی نو هغه په عذر باندے حمل دی، چه دوئ ته ستره نهٔ ملاویده نو ځکه ئے دا کارونه کړی۔

دارنګه په کوم حدیث کښے چه خط راغلے، هغه هم ضعیف دے۔

[ابوداود : ۱/۱۰۷، حمیدی : ۲/۴۳۶، ابن ابی شیبه : ۲/۵۳۵، عبد الرزاق : ۲/۱۲، ابن ماجه].

دے وجے نه کله چه ستره ملاویږی نو خط به نهٔ راکاږی۔ ځکه ستره ودرول ضروری دی، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په ستره ودرولو امر کړے او د سترے نه بغیر مونځ کولو نه ئے منع فرمایلے۔ او خپله ئے په ستره عمل کړے دارنګ د هغوئ نه پس د هغوئ ملګرو د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے او د هغے نه روستو هم په ستره عمل کړے۔ نو بیا دا دومره مضبوط حکم ځنګه د دغه پورتنو آثارو د وجے پریښودلے شی ؟

دارنګ په کوم حدیث کښے چه راغلی دی چه (په تاسو کښے دے یو کس ستره ودروی اګرکه غشے هم وی)۔ [مصنف ابن ابی شیبه : ۱/۲۷۸، بیهقی : ۲/۲۷۰].

نو غشے هم د یو ګز نه کم نهٔ وی۔ او یا دا د عذر په حالت باندے حمل دے۔

[انظر احکام السترة].

لیکن امام صنعانیؒ فرمائی : د پالان روستنے لرګے د ګز دوه دریمے برخے دی، او ستره د هر هغه شئ نه جوړیدے شی چه خپلے مخے ته ئے ودروی۔ بیا فرمائی : د نبی صلی الله علیه وسلم دا ارشاد چه (اګرکه غشے ولے نهٔ وی) په دے کښے اشاره ده چه هر قِسم ستره ودرول جائز دی، که هغه پیړه وی اوکه نرئ۔ دارنګه دا ترے معلومیږی چه د سترے کمه اندازه د پالان د لرګی هومره نهٔ ده، ځنګه چه بعضو ویلی دی۔

[سبل السلام : ۱/۲۹۴].

څومره اندازه پورې مونځ کونکی مخې ته تیریدل ګناه ده ؟

٦٤٢ – **سوال** : که د مونځ کونکی مخې ته ستره نۀ وی، نو د هغۀ مخې ته تیریدل جائز دی که نه ؟ او څومره اندازه کښې تیریدل مخې ته تیریدل حسابیږی ؟

جواب : په ګڼرو حدیثونو کښې د مونځ ګذار مخې ته تیریدل حرام کړې شوی دی۔ نبی اکرم ﷺ فرمائی : (که چرې د مونځ ګذار مخې ته تیریدونکے ددې د ګناه نه خبر وې، نو څلویښتو پورې ودریدل به ورله ددې نه غوره وې چه د هغۀ مخې ته تیر شی)۔

[صحیح بخاری].

د ابن ماجه په حدیث کښې سلو کالو پورې ودریدل راغلی۔

کعب الاحبارؒ فرمائی : که چرې د مونځ کونکی مخې ته تیریدونکے ددې د ګناه نه خبر شی نو په زمکه ډوبیدل به د هغۀ مخې ته تیریدو نه ښۀ وګڼړی)۔

[موطأ مالك : ١٢١/١، عبد الرزاق : ٢٠/٢، بإسناد صحیح، مشكاة : ٧٠/١].

او کله چه د مونځ کونکی مخې ته ستره نۀ وی او یائې ودرولے نۀ وی، نو بیا هم د هغۀ مخې ته تیریدل جائز نۀ دی۔ او هغه څوك غلط شوې چه هغه وائی : په دې وخت کښې دا ګناه د مونځ کونکی ده، نۀ د تیریدونکی۔

صحیح خبره داده چه : دواړه ګنهګار دی، ځکه دې دواړو د نبی اکرم ﷺ د حکم خلاف کړې۔

○ پاتې شوه دا خبره چه څومره اندازې پورې د مونځ ګذار مخې ته تیریدل جائز دی ؟

نو په دې حقله د علماؤ ګڼړ اقوال دی، خو زیات صحیح پکښې دوه قوله دی :

اول قول : دادې چه څومره اندازه پورې انسان کاڼړې ویشتلے شی، هغې پورې د مونځ کونکی مخې ته تیریدل ناجائز دی۔

دلیل : د ابن عباس رضی الله عنه حدیث دې، عکرمه وائی : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې، دا وائی : زما ګمان دې چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی :

[إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى غَيْرِ سُتْرَةٍ فَإِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْحِمَارُ وَالْخِنْزِيرُ وَالْيَهُودِيُّ وَالْمَجُوسِيُّ وَالْمَرْأَةُ وَيُجْزِئُ عَنْهُ إِذَا مَرُّوا بَيْنَ يَدَيْهِ عَلَى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ].

(په تاسو کښې چه څوك بې ستره مونځ کوی، نو ددۀ مونځ خر، خنزیر، یهودی، مجوسی او ښځه ماتوی، او ددې نه دا کافی ده چه دویٔ د هغۀ مخې ته دومره اندازه کښې تیر شی لکه د کانړی ویشتل)۔

[ابوداود: ۱۰۹/۱، طحاوی: ۴۵۸/۱، بیهقی: ۲۷۵/۲].

امام ابوداودؒ فرمائی: ما دا حدیث صرف د محمد بن اسماعیل نه اوریدلے، او زما خیال دے چه دے پکښې غلط شوے، ځکه هغۀ به مونږ ته د خپل یاداشت نه حدیثونه بیانول۔

○ ظاهره داده چه دا د ابن عباس رضی الله عنه خپل موقوف اثر دے۔ او د عکرمهٔ خپله وینا هم دغسې ده۔

[کما رواه عبد الرزاق فی المصنف: ۲۷/۲].

او دا حدیث په بل سند سره مرفوع هم روایت شوے، خو هغه ضعیف دے، په هغې کښې عبیس بن میمون راوی ضعیف دے، بے شماره خلکو دا پریښے دے۔

په دے قول باندے دا مناقشه کیدے شی چه په دے باره کښې صحیح مرفوع حدیث نشته۔ صرف دوه ضعیف حدیثونه پکښې راغلی۔ یو دغه مخکنے دے، او بل ابن ابی حاتمؒ په کتاب العلل [۱۷۷/۱] کښې نقل کړے، او په هغې کښې هم دغه مذکوره عبیس راوی دے۔

دارنګ په دے دا اعتراض هم کیدے شی چه دا خو د قطع په حقله دے، نۀ د تیریدو په حقله۔ ځکه په دے کښې دا راغلی چه (ددۀ مونځ قطع کوی)۔ بله دا چه په دے کښې یهودی او مجوسی وغیره کافر ذکر شوی، حالانکه کفر یو باطنی شے دے چه په دے باندے صرف الله خبریدے شی۔

دویم قول: دادے چه مخې ته د تیریدو اندازه درے ګزه دی۔

○ شوافع وائی: هغه اندازه چه په هغې کښې د مونځ کونکی او د سترے ترمینځه تیریدل حرام دی، دا درے ګزه یا ددے نه کمه فاصله ده۔

○ حنابله وائی: که چا ستره نۀ وی ودرولی، نو په درے ګزو کښې دننه تیریدل حرام دی، او دا ګزونه به د مونځ کونکی د قدم نه حسابیږی۔

○ او احنافو د غټ جومات او د صحراء او د وړوکی جومات ترمینځه فرق کړے۔ وائی:

په وړوکی جومات کښې تیریدل جائز نهٔ دی۔ او په غټ جومات او په صحراء کښې تیریدل جائز دی، خو بیا به هم د مونځ کونکی د قدم نه واخله تر سجدے د ځائے پورے نهٔ تیریږی۔ او اخوا تیریدل جائز دی۔

[انظر الفقه علی المذاهب الأربعة : ١/١٩٢].

○ مالکیه وائی : که څوك ے سترے مونځ کوی، نو صرف ددهٔ د رکوع او د سجدے په ځائے کښې تیریدل حرام دی۔

○ ابو محمد بن حزمؒ فرمائی : څوك چه د مونځ کونکی مخے ته په داسے حال کښې تیریږی چه ددهٔ او د هغهٔ ترمینځه د درے گزو نه زیاته فاصله وی، نو تیریدونکے گنهگار نهٔ دے۔ او نهٔ مونځ کونکے دا کس منع کولے شی۔ اوکه په درے گزه کښې یا ددے نه په کمه اندازه کښې د مونځ کونکی مخے ته تیر شو، نو تیریدونکے گنهگار دے۔ البته که د مونځ کونکی ستره د درے گزو نه کمه وه نو بیا په تیریدونکی باندے گناه نشته چه د هغے نه اخوا یا د هغے دپاسه تیریږی۔ او فرمائی : مونږ د سترے نه په لرے والی کښې ددے اندازے نه زیاته اندازه نهٔ ده موندلے، نو همدا حد بندی مقرر شوه۔

[المحلی لابن حزمؒ].

شیخ ابن بازؒ فرمائی : که مونځ کونکی ستره نهٔ وه ودرولے او تیریدونکے د هغهٔ د مخے نه لرے تیر شو، نو دا د گناه نه بچ پاتے شو، ځکه چه کله عرفًا د هغهٔ نه لرے دے نو دهٔ ته د هغهٔ مخے ته تیریدونکے نهٔ ویل کیږی، داسے دے لکه د سترے نه اخوا تیریدونکے۔

[حاشیة فتح الباری : ١/٥٨٢].

او همدا قول شیخ محمد بن رزقؒ غوره او راجح گڼلے۔او فرمائی چه دا قول د راتلونکو وجو نه راجح دے :

(١) دا یو داسے تاکلے اندازه ده چه په دے کښې اختلاف نشته۔ او چا چه د رکوع او سجدے اندازه ټاکلے نو هغه د خلکو د اوږدیدو او د رکوع او سجدے د اداء کولو د کیفیت د مختلف کیدو د وجے مختلفه کیږی۔ او د درے گزو اندازه یوه ټاکلے ضابطه ده۔

(٢) الله تعالیٰ مونږ ته امر کړے چه د مونځ کونکی مخے ته تیریدونکے به منع کوو، او هغه مونږ په داسے خبره نهٔ مکلف کوی چه د هغے طاقت مونږ نهٔ لرو۔ او کله چه مونځ

کونکے د دوه سجدو ترمینځه یا په قعده کښې ناست وی، نو دا په دے قادر نهٔ وی چه د درے گزو نه په زیاته فاصله کښې مخے ته تیریدو نکے منع کړی۔ نو دا قوی قرینه ده په دے خبره چه د [بَيْنَ يَدَيْهِ] نه مراد همدا عرفی اندازه ده چه درے گزه دی۔

(۳) د [بَيْنَ يَدَيْهِ] یعنی (د مونځ کونکی د مخے نه) نه مراد هغه ځائے دے چرته چه د مونځ کونکی لاسونه رسیږی۔ او دا د مونځ کونکی د قدم نه درے گزه فاصله ده۔

(٤) د مونځ کونکی مخے ته د سترے په ودرولو امر راغلے، او دا خبره هم ثابته ده چه دهٔ له ددے نه لرے والے جائز نهٔ دے، نو ددے آخری حد او اندازه داده چه ددهٔ او د سترے ترمینځه درے گزه فاصله وی، نو دا د [بَيْنَ يَدَيْهِ] ضابط او قاعده ده۔

[أحكام السترة، ص : ٥٤].

(٥) بله وجه د ترجیح داده چه په [بَيْنَ يَدَيْهِ] کښې عرف معتبر دے، او همدا درے گزه د مونځ کونکی مخه کنټرل کیږی۔ نو همدا اندازه ټاکل به بهتر وی۔ ان شاء الله۔

دارنګ راتلونکے مسئلے سره هم ددے قول تائید کیږی۔

مونځ کونکی او سترے ترمینځه اندازه

٦٤٣ – **سوال** : مونځ کونکی او سترے ترمینځه څومره اندازه پکار ده ؟

جواب : په دے حقله دوه حدیثونه راغلی :

اول حدیث : سهل بن سعد رضي الله عنه فرمائی : (د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مصلے او د دیوال ترمینځه به د چیلۍ تیریدو برابر ځائے وو)۔

[بخاری : ٧١/١، مسلم : ١٩٧/١].

په بل روایت کښې دی : (د نبی صلى الله عليه وسلم د ودریدو او د قبلے ترمینځه به د چیلۍ د تیریدو هومره ځائے وو)۔ [أخرجه أبوداود بإسناد صحيح : ١٠٨/١].

دا اندازه به په عامه توګه د نبی اکرم صلى الله عليه وسلم په جومات کښې وه۔

امام نوویؒ فرمائی : د مصلے نه مراد د هغهٔ د سجدے ځائے دے، لکه دا د راتلونکی حدیث سره موافقه خبره ده۔

دویم حدیث : نافعؒ وائی : (ابن عمر رضي الله عنه به چه کله کعبے ته ننواتهٔ نو ننوتو سره سم به

مـخـامـخ لاړ او دروازه بـه ئـے شـاتـه پـرېښوده تردے چه ددۀ او د هغه ديوال ترمينځه چه ددۀ مـخـامـخ بـه وو، تـقريبًا درے گزه فاصله شوه، نوپه هغه ځائے کښے به ئے مونځ کولو د کوم ځائے په باره کښے چه دۀ ته بلال خبر ورکړے وو چه نبی ﷺ په هغے کښے مونځ کړے)۔

[صحيح بخاری : ۱/۷۲].

او سترے ته د نزدے وردېدو همدا تفسير د سلفؒ نه راغلے۔ عطاءؒ فرمائی : ويلے کيږی چه کمه هغه اندازه چه ستا او د ستنے ترمينځه وی درے گزه ده۔

[مصنف عبد الرزاق : ۲/۱٦].

امـام نـوویؒ فـرمـائـی : زمونږ ملگرو ويلی دی : مناسبه ده چه سترے ته نزدے ودريږی، د درے گزو نه به درميانی فاصله نۀ زياتوی۔ [شرح مسلم للنوویؒ].

امـام بـغـویؒ فرمائی : په دے باندے د اهلِ علمو عمل دے چه دویٔ سترے ته دومره نزدے ودريـدل مستـحـب گنړی چه د مونځ کونکی او د سترے ترمينځه او دارنگه د دوه صفونو تـرمـيـنـځـه دومـره انـدازه وی چـه په هغے کښے په آسانئ سره سجده کول ممکن وی۔ بيا فرمائی : عطاءؒ فرمائی : ددے کمه اندازه درے گزه ده، او همدا د شافعیؒ او احمدؒ وينا ده۔

مهـنـاؒ وائـی : ما د احمدؒ نه پوښتنه وکړه: يو سړے مونځ کوی نو څومره فاصله به د قبلے ترمينځه لری ؟ وے فرمايل : څومره چه کيدے شی قبلے ته به نزدے ودريږی۔

[شرح السنة :۲/٤٤۷].

ابـن حزمؒ فرمائی : د علماؤ په دے اتفاق دے چه څوك سترے ته دومره اندازه نزدے ودريدۀ چه پـه هـغـے کښے گډه بزه تيريدلے شوه تر درے گزو پورے، نو دۀ خپله ذمه واری پوره کړه۔ ابن تيميه رحمه الله د ابن حزمؒ په دے خبره خاموشی اختيار کړے۔

[كما فی مراتب الإجماع ونقده ص : ۳۰].

او امـام ابـن حزمؒ د هغه چا مونځ باطل گنړی چه سترے ته نزدے نۀ ودريږی، په دے شرط چه دۀ ته پته وی چه دا ددۀ ستره ده۔

او جـمـهـور عـلـمـاء ددۀ مـونـځ بـاطل نۀ گنړی، خو دا کس گنهگار گنړی، ځکه دۀ په دے حقله د نبی اکرم ﷺ د حکم خلاف ورزی کړے۔

[ملخصًا من أحكام السترة].

او دابن الفضل په کوم حدیث کښې چه دا راغلی چه (دۀ په داسې حال کښې مونځ وکړو چه ددۀ او د سترې ترمینځه اووه ګزه فاصله وه). نو دا حدیث ضعیف دے. په دے کښې ابو اسحاقؒ باندے اختلاط او ګډوډی راغلے. یا مونږ وایو : سترے ته د نزدے ودریدو امر به دۀ ته نۀ وی رسیدلے. یا وایو : د الله او د هغۀ د رسول (ﷺ) د خبرے نه سیوا د بل هیڅ خبره حجت او دلیل نۀ دے.

هغه شیان چه هغه ستره جوړولے شی

٦٤٤ - سوال : کوم کوم شی نه ستره جوړول جائز دی ؟

جواب : مخکښے تیر شو چه کوم شے د پالان د روستنی لرګی هومره وی، هغه ستره جوړیدے شی. او په سنتِ نبویه (ﷺ) کښې راتلونکی شیان ستره جوړه کړے شوے :

دیوال، لنډۍ نیزه، وړه امسا، کونټۍ، امسا، ستنه، اوښه، اوښ، پالان، وُنه، کټ، اوده ښځه. (لکه د عائشے k په حدیث کښې دی : ما خپل ځان لیدلے چه زۀ به په کټ پرته ووم او نبی ﷺ به راغے او د کټ مینځ ته به ئے مونځ کاوۀ).

[بخاری : ١/٧٢].

دارنګ پوړ او بزکی ته مونځ راغلے. او ابن عمر رضی الله عنه به د خپل شاګرد نافعؒ نه ستره جوړوله. حسن بصریؒ فرمائی : یو سړے د بل سړی دپاره په مانځه کښې ستره جوړیږی.

[ابن ابی شیبه : ١/٢٧٩].

البته قبر طرفته مونځ صحیح نۀ دے او نۀ قبر ستره جوړیدے شی، ځکه نبی ﷺ فرمائی : (تاسو قبرونو طرفته مونځ مۀ کوئ او مه په هغے دپاسه کینئ).

[صحیح مسلم : ١/٧٢].

دارنګ هر هغه شئ ته مونځ کول مکروه دی چه د مونځ کونکی زړۀ مشغولوی. لکه د انس رضی الله عنه په حدیث کښې راځی : د عائشے k یوه نرۍ پرده وه چه په هغے سره ئے د کور یو قونج پټ کړے وو، نو نبی ﷺ وفرمایل : (زمونږ نه خپله دا پرده اخوا کړه، ځکه ددے تصویرونه ماته بار بار په مانځه کښې راتلل).

[صحیح بخاری : ١/٥٤].

ددے مسائلو دلائل د حدیثو په کتابونو کښے په ډیر واضح انداز سره ذکر شوی، دلته د هغے ذکر کول ضروری نهٔ دی۔

سترے ته بیخی مخامخ ودرېدل

٦٤٥ – **سوال** : ځینے علماء وائی : سترے ته بیخی مخامخ ودریدل جائز نهٔ دی، بلکه ستره به خپلے ښئ یا ګسے وروځے ته برابر ګرځوی، آیا دا خبره صحیح ده ؟

جواب : دا کار ځینے علماؤ مستحب ګرځولے، او په دلیل کښے ئے دا حدیث پیش کړے : مقداد بن اسود رضی الله عنه فرمائی : (رسول الله صلی الله علیه وسلم ما لیدلے چه کله به ئے لرګی یا ستنے یا وُنے طرفته مونځ کولو، نو هغه به ئے خپل ښی یا ګس اړخ ته ګرځولو، او هغے ته به بیخی مخامخ نهٔ ودریدهٔ)۔

[ابو داود : ١/١٠٧، مسند أحمد : ٤/٦، مشكاة : ١/٧٠].

خو دا حدیث ضعیف دے۔ په دے کښے درے مجهول راویان راغلی، ضباعه، مهلب بن حجر، او ولید بن کامل۔ او ددے په متن کښے بله بیماری هم شته۔

دے وجے نه سترے ته په هره طریقه ودریدل جائز دی، که ښی او ګس اړخ ته ئے ګرځوی او که بیخی مخامخ ورته ودریږی، ټول جائز دی۔ ددے نه هیڅ مانع نشته۔

په مکه او مسجدِ حرام کښے هم سترے ته مونځ کول ضروری دی

٦٤٦ – **سوال** : په مکه او مسجدِ حرام کښے ستره ودرول ضروری دی او که نه ؟

جواب : ظاهره داده چه سترے ته مونځ کول په هر ځائے کښے ضروری دی، په دے باره کښے د مکے او غیر مکے فرق نشته۔ دارنګ د مسجدِ حرام او نورو جوماتونو ترمینځه فرق نشته۔ په دے باندے دلائل دادی :

اول دلیل : د سترے ودرولو په باره کښے چه کوم امرونه راغلی، هغه مطلق دی، په هغے کښے د هیڅ یو مکان تخصیص نشته۔ که چرے د مکے حکم د نورو ښارونو نه جدا وے نو خامخا به نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ددے وضاحت فرمایلے وے۔ او هر کله ئے چه ددے بیان ونهٔ کړو، نو معلومه شوه چه په دے حقله ددے ټولو حکم یو شان دے۔

دویم دلیل : ابو جحیفه رضي الله عنه وائی : (رسول الله صلى الله عليه وسلم په غرمه کښې را ووائهٔ او په خوړ کښې ئے د ماسپخین او مازیگر مونځونه دوه دوه رکعته وکړل، او خپلے مخے ته ئے وړه نیزه ناله کړه، او اودس ئے چه کولو نو خلکو د هغهٔ د اوداسهٔ اوبهٔ په ځانونو پورے راښکلے)۔

[صحیح بخاری : ۲۱/۱، باب السترة بمكة].

او مخکښے تیر شو چه نبی اکرم صلى الله عليه وسلم په کعبه شریفه کښې دننه مونځ وکړو، او دیوال ئے خپله ستره وگرځوله۔

عبد الله بن ابی اوفیٰ رضي الله عنه وائی : (رسول الله صلى الله عليه وسلم عمره وکړه او د بیت الله نه ئے طواف وکړو او د مقام ابراهیم شاته ئے دوه رکعته وکړل او د هغهٔ سره هغه څوك وو چه دا ئے د نورو خلکو نه پټولو)۔

[صحیح بخاری، کتاب الحج : ۲۳۸/۱].

د جابر رضي الله عنه په حدیث کښې دی : (نو نبی صلى الله عليه وسلم مقام ابراهیم د خپل ځان او د بیت الله ترمینځه وگرځولو ...... او دوه رکعته ئے وکړل)۔

[صحیح مسلم : ۳۹٤/۱].

دریم دلیل : یحیی بن ابی کثیرؒ وائی : ما انس بن مالك رضي الله عنه په مسجدِ حرام کښې ولیدهٔ چه امسا ئے ودرولے وه او هغے ته ئے مونځ کولو۔

[مصنف ابن ابی شیبه : ۳۷۷/۱، بإسناد صحيح].

څلورم دلیل : صالح بن کیسانؒ وائی : (ما ابن عمر رضي الله عنه ولیدهٔ چه په کعبه کښې ئے دننه مونځ کولو، او هیڅوك ئے خپلے مخے ته نهٔ پریښودلو چه تیر شی بلکه هغه به ئے واپس کولو)۔

[أخرجه البخاری تعلیقًا : ۷۲/۱، وأبو نعیم فی کتاب الصلاة، وذکره ابن حجر فی تغلیق التعلیق : ۲٤۷/۲].

نو ددے دواړو صحابه کرامو j هیڅ یو مخالف نهٔ دے موجود، او دا د ډیرو علماؤ په نیز د اجماع غونته حیثیت لری۔

○ یو ضعیف حدیث ددے په خلاف راغلے، حافظ ابن حجرؒ فرمائی : امام بخاریؒ ددے حدیث په ضعف باندے خبردارے ورکړے، او دا ئے ښودلے ده چه په هر ځائے کښې ستره ودریدل مشروع دی، د مسجدِ حرام او غیر مسجد حرام هیڅ فرق نشته۔ حافظ فرمائی: او

همدا د شوافعو معلومه رائے هم ده۔ چه په دواړو کښے د مونځ ګذار مخے ته تیریدل منع دی۔ [فتح الباری : ۵۷٦/۱].

او همدا رائے د مالکیه ؤ هم ده۔

[الفقه علی المذاهب الأربعة : ۱۹۲/۱].

○ او د مُطَلِّبُ په کوم حدیث کښے چه راغلی چه دا وائی : (ما رسول الله ﷺ ولیدهٔ چه د بیت الله نه ئے اووه ګردشه طواف وکړو، بیائے بیت الله ته مخامخ د مقام ابراهیم اړخ ته دوه رکعته وکړل، او ددهٔ او د طواف کونکو ترمینځه هیڅوك نهٔ وو)۔

[عبد الرزاق : ۳۵/۲، أحمد : ۳۹۹/٦، نسائی، ابوداود : ۲۰۱٦، ابن ماجه، مستدرك : ۲۵٤/۱، بیهقی : ۲۳۷/۲، وصححه الحاکم وسکت علیه الذهبی].

نو ددے حدیث نه دلیل نیول، د راتلونکو وجو نه صحیح نهٔ دی :

اوله وجه : ددے حدیث سند صحیح نهٔ دے۔ په دے کښے اضطراب موجود دے۔ (ددے سند کتلو دپاره اصل عربی کتاب ته رجوع وکړه)۔

دویمه وجه : که ددے حدیث صحت هم ومنل شی نو بیا هم ددے نه دلیل نهٔ نیول کیږی، ځکه دا حدیث هله دلیل ګرځی چه کله د سترے نشتوالے ومنل شی، حالانکه د حدیث الفاظ مختلف دی، په ځینو کښے راغلی چه (د نبی ﷺ او د طواف کونکو ترمینځه هیڅوك نهٔ وو)۔ او په ځینو کښے راغلی چه (ددے دواړو ترمینځه ستره نهٔ وه)۔

امام سندیؒ د اولنی روایت په تشریح کښے فرمائی : البته مقام ابراهیم هم د سترے جوړیدو دپاره کافی دے، دے وجے نه دا حدیث د هغه چا دلیل نهٔ ګرځی چه هغوئ وائی : په مکه کښے سترے ودرولو ته حاجت نشته۔ ښهٔ سوچ پکار دے !

[حاشیة السندی علی النسائی : ٦۷/۲].

او په دویم روایت کښے چه د سترے نشتوالے راغلے، نو ممکنه ده چه نبی ﷺ خپلے مخے ته خط راښکلے وی او دا حدیث د هغه چا دلیل وی چه هغوئ په خط باندے قائل وی، لکه په یو ضعیف حدیث کښے راغلی : ابو محذوره رضی الله عنه وائی : (ما رسول الله ﷺ ولیدهٔ چه د بنی شیبه دروازے له خوا جومات ته ننواتهٔ تردے چه د کعبے مخے ته راغے او قبلے ته ئے مخ کړو او خپلے مخے ته ئے په پلنو باندے خط راښکهٔ، بیائے تکبیر وکړو او

مونځ ئے وکړو او خلکو به د خط او د کعبے ترمینځه طواف کولو)۔

[اتحاف الخيرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة :۲/ ۳۱].

او دا هم کیدے شی چه ستره وی او مطلب بن ابی وداعه رضی الله عنه ورته خیال شوے نهٔ وی، ځکه ستره کله غشے وی، کله چابك او کله بل داسے شے وی چه په هغے کله نظر نهٔ لږی۔

دریمه وجه : که حدیث صحیح هم ومنل شی او دلیل نیول پرے هم صحیح شی، نو ددے باوجود په دے کښے ګنړ احتمالات شته دے۔ هغه دا چه :

(أ) دادے د سترے د امر نه مخکښے واقعه وی، ځکه په حجة الوداع کښے نبی صلی الله علیه وسلم مقامِ ابراهیم د خپل ځان او د کعبے ترمینځه وګرځولو، لکه دا په صحیح حدیث کښے ثابت دی۔

(ب) که دا واقعه د سترے د امر نه روستو وی، نو بیا هغه مسافت چه د نبی صلی الله علیه وسلم او د مطاف ترمینځه وو، دا د درے ګزو نه کم وو چه په دے کښے د مونځ ګذار مخے ته تیریدل جائز نهٔ دی، لکه مخکښے تیر شو۔ نو ددے حدیث نه صرف د سترے نهٔ ودرول معلومیږی۔ او هر چه تیریدل دی نو هغه ترے نهٔ معلومیږی۔

(جـ) دا حکم دے صرف مسجدِ حرامه پورے خاص وی، ټولے مکے ته دے شامل نهٔ وی۔ لکه حدیث کښے ثابت دی چه د مکے په خوړ کښے هم نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ستره ودرولے ده۔

(د) ستره نهٔ ودرول دے صرف د طواف د دوه رکعتونو پورے خاص وی، ځکه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په کعبه کښے او د مکے په نورو ځایونو کښے ستره ودرولے ده۔

(هـ) علامه شوکانیؒ فرمائی : دا خبره معلومه ده چه د نبی صلی الله علیه وسلم فعل د هغویٔ د هغه وینا سره ټکراؤ نهٔ خوری چه هغه مونږ پورے خاص وی۔

[نيل الأوطار : ۳/ ۹].

څلورمه وجه : چونکه په دے حدیث کښے ضعف او نور احتمالات دی، په دے وجه دا حدیث د هغه صحیح حدیثونو مقابله نشی کولے چه په هغے کښے د سترے عام حکم راغلے کوم چه مونږ مخکښے ذکر کړل۔ بلکه هغه حدیثونه ددے حدیث په نکارت او شذوذ باندے دلالت کوی۔ والله أعلم.

د مُطَّلِبُ بن ابی وداعه د پورتنی حدیث پشان خبره د حسن بن علی نه هم روایت شوے چه (رسول الله صلی الله علیه وسلم مونځ وکړو او نارینه اوزنانه ټولو د هغهٔ مخے ته د حجرِ اسود خواته یے

له سترې طواف کولو)۔ [أخرجه الطبراني : ٣/٨٥].

خو دا حدیث ثابت نهٔ دے۔ هیثمیؒ وائی : په دے کښې یاسین الزیات متروك راوی دے۔

[مجمع الزوائد : ٢/٦٣].

امام بخاریؒ وائی : دا منکر الحدیث دے۔ نسائیؒ وائی : دا پریښودل شوے دے۔ ابن حبانؒ وائی : دا منګړت حدیثونه روایت کوی۔

[انظر لسان المیزان : ٦/٢٣٨].

دا حدیث سره د بطلان نه، د هغه صحیح حدیثونو سره ټکراؤ دے چه په هغے کښې دا راغلی چه د ښځے تیریدو په وجه مونځ ماتیږی۔ لکه مخکښې تیر شو۔

○ **سوال : د ابن عباس رضی الله عنه په حدیث کښې راغلی چه نبی صلی الله علیه وسلم په منیٰ کښې بے سترے مونځ وکړو۔ نو معلومیږی چه په مکه کښې ستره ودرول ضروری نهٔ دی۔**

جواب : (١) په دے حدیث کښې دا نشته چه بے له سترے ئے مونځ کړے۔ لکه ددے تحقیق مخکښې تیر شو۔

(٢) په دے حدیث کښې اختلاف دے چه دا کارئے په منیٰ کښې کړے که په عرفات کښې، زیاته نزدے خبره داده چه دا په عرفات کښې وو۔

(٣) د نبی کریم صلی الله علیه وسلم عملی طریقه دا وه چه هغوئ به په مکه مکرمه کښې هم ستره ودروله، نو بیا د مکے تخصیص د کوم ځائے نه معلوم شو چه نبی صلی الله علیه وسلم به په دے کښې ستره نهٔ ودروله۔

هغه آثار چه د مکے د تخصیص په باره کښې راغلی

طاوسؒ فرمائی : په مکه کښې مونځ لره هیڅ شے نهٔ ماتوی، که ښځه ستا مخے ته تیره شوه نو هیڅ ضرر نهٔ درکوی۔

[مصنف عبد الرزاق : ٢/٣٥].

خو ددے نه دا نهٔ معلومیږی چه په مکه کښې ستره ودرول نشته، او نهٔ ترے دا معلومیږی چه د مونځ ګذار مخے ته تیریدل جائز دی۔ په دے کښې خو صرف دا دی چه په مکه کښې د مونځ ګذار مخے ته تیریدو سره مونځ نهٔ ماتیږی۔ او په دے خبره نهٔ د کتاب الله

نه دلیل شته، نۀ د سنت نه. او د الله او د هغۀ د رسول (ﷺ) د خبرے نه سیوا د بل هیچا خبره دلیل نۀ دے.

ابو عامر وائی : ما ابن الزبیر رضی الله عنه ولیدۀ چه په جومات کښے ئے مونځ کولو، نو یو ے ښځے به د هغۀ مخے ته د تیریدو اراده وکړه او هغه به سجده کوله، نو کله به چه ښځه تیره شوه هغۀ به د هغے د خپو په ځائے کښے سجده وکړه.

[مصنف عبد الرزاق : ۳۵/۲].

ددے اثر په سند کښے عبد العزیز بن جریج دے، او ددۀ په حدیث کښے کمزوری ده. او د ابو عامر پته نۀ لږی چه څوك دے. نو دا اثر ضعیف دے. اوکه چرے صحیح هم شی نو دا به په دے حمل وی چه دۀ ته هغه احادیث نۀ وو رسیدلی چه په هغے کښے راغلی چه د مونځ گذار مخے ته تیریدونکے به منع کولے شی، دارنګ هغه احادیث چه په هغے کښے په تیریدو سره د مونځ ماتیدو ذکر راغلے.

عمرو بن دینارؒ وائی : ما محمد بن حنفیۃؒ ولیدۀ چه د مِنیٰ په جومات کښے ئے مونځ کولو او خلکو ددۀ مخامخ مونځ کولو نو دے کښے ددۀ د خاندان نه یو ځوان راغے او ددۀ مخے ته کیناستۀ.

[مصنف ابن ابی شیبه : ۲۷۸/۱، مصنف عبد الرزاق : ۳۳/۲].

دا اثر خو بیخی حجت نشی جوړیدے، ځکه په دے کښے خو اول دا نشته چه هغۀ بے سترے مونځ کولو. بلکه کیدے شی چه هغۀ خپلے مخے ته کوم مونځ گذار ستره جوړه کړے وی. بیا که په دے کښے دا هم په ډاګه شی چه هغۀ ستره نۀ وه ودرولے، نو ممکنه ده چه هغۀ خط راښکلے وی. او یا هغۀ ستره ودرولی وی خو هغه پاسیدلی وی لکه اوښ یا ناست انسان وغیره. او یا هغه مسبوق وو او خپل مانځه پوره کولو ته پاسیدلے وی. دارنګه په دے روایت کښے دا نشته چه څوك ددۀ مخے ته تیر شوے دے. هو ! د عبد الرزاق په روایت کښے د خلکو د مونځ کولو په ځائے د دوئ د تیریدو یادوونه شوے. خو د مُصَنَّفْ په دے طبع کښے ډیرے خطایانے واقع شوی، بله دا چه ابن ابی شیبه د عبد الرزاق نه زیات ثقه دے. بله دا چه : که دا ثابت شی نو ددے نه په ډاګه دا نۀ معلومیږی چه ګنے خلك ددۀ او د سترے ترمینځه تیریدل. ځکه [بَيْنَ يَدَيْهِ] یعنی مخے ته تیریدل کله دیته وائی چه د سترے

نه اخوا تیر شی، لکه د ابو جحیفه وغیره په حدیث کښې راغلی۔
او دا اثر زمونږ دلیل دے ځکه دغه ځوان له دے الله جزائے خیر ورکړی، کله ئے چه محمدؒ ولیدهٔ چه دهٔ په داسے حال کښې مونځ کولو چه مخے ته ئے ستره نهٔ وه، نو هغه راغے او ددهٔ مخے ته کیناستهٔ، دے دپاره چه ددهٔ مونځ محفوظ پاتے شی او ددهٔ دپاره شرعی ستره جوړه شی۔او ما سره هم یو ځل دا کار شوے وو، زهٔ مسبوق ووم او زما خواته داسے شے نهٔ وو چه ما ترے ستره جوړه کړے وے، نو زمونږ یو طالب علم ملګرے راغے کوم چه ماسره درسونه ویلی وو او زما مخے ته کیناستهٔ، نو زما سینه د هغهٔ په دے کار سره یخه شوه۔ الله تعالیٰ دے ورله جزائے خیر ورکړی !
عبد الرزاق وائی : ما ابن جریجؒ ولیدهٔ چه د مِنیٰ په جومات کښې ئے د منارے ګس اړخ ته مونځ کولو او د هغهٔ مخے ته ستره نهٔ وه، نو دے کښې یو هلك راغے او د هغهٔ مخے ته کیناستهٔ۔ [مصنف عبد الرزاق : ۲/۳٦].
د ابن جریجؒ په دے اثر کښې هم هغه شان خبره ده کومه چه د ابن الحنفیهؒ په اثر کښې تیره شوه۔ او دا احتمالات هله دی چه کله دا ومنلے شی چه دغه علماؤ ته د سترے د ضروری ودرولو دلائل رسیدلی وی۔ بهر حال د نبی اکرم ﷺ نه سیوا د چا قول او فعل شرعی حجت او دلیل نهٔ دے۔ ځکه مخکښې ددے مسئلے په شروع کښې هغه صحیح حدیثونه ذکر کړے شول چه په هغے کښې په مکه کښې هم ستره ودرول راغلی۔ او د هغهٔ د صحابو نه هم په صحیح سندونو سره ثابت دی چه هغوئ به په حرم شریف کښې هم ستره ودروله۔ او هغه څوك به ئے منع کولو چه د دوئ مخے ته به تیریدهٔ۔ لکه ابن عمر او انس j۔

که دوه کسه مونځ کونکی مخے ته تیر شی نو کوم یو ګنهګار دے ؟

٦٤٧ – **سوال** : کله چه دوه کسان په یو ځل د مونځ کونکی مخے ته تیر شی چه یو کس د بل دپاره ستره وګرځیدله، نو په دے صورت کښې کوم یو کس ګنهګار دے ؟ اولنے، که دویم اوکه دواړه ؟
جواب : اولنے کس ګنهګار شو، ځکه همدا د مونځ کونکی مخے ته تیریدونکے دے۔ او هر چه دویم کس دے نو دغه اولنے کس ددهٔ دپاره ستره جوړه شوه۔ البته دویم کس به په

هغه صورت کښې ګنهګار وی هر کله چه ددهٔ وس کیدهٔ چه دهٔ په خپل لاس یا ژبې سره د خلافِ شرع کار نه منع کړې وې، او بیا ئې هم منع ونهٔ کړه۔ دا شان که تیریدونکی کس سره څهٔ داسې شې وی چه هغه د مونځ کونکی مخې ته کیدی او هغه ستره جوړه شی او بیا د هغې نه اخوا تیر شی، خو کله چه دغه کس تیریدهٔ نو دهٔ هغه ونیولو، نو امید دې چه په دهٔ به څهٔ ګناه نهٔ وی۔

[كما في أحكام السترة ص ٥٦].

○ او د احنافو دا خبره چه: په سورلۍ باندې د سور سړی د تیریدو حیله داده چه کله دا د مونځ کونکی مخې ته د تیریدو اراده وکړی نو دا دې کوز شی او د څناور شاته دې تیر شی نو څناور به ددهٔ دپاره ستره شی او تیریدونکې به ګنهګار نهٔ وی۔ نو د دوئ دا خبره غلطه ده: ځکه څنګه چه د انسان تیریدل ناروا دی، دا شان د څناور تیرول هم ناروا دی۔ ځکه مخکښې تیر شو چه نبی اکرم ﷺ هغه چیلۍ هم منع کوله چه هغې د نبی اکرم ﷺ مخې ته د تیریدو کوشش کولو۔ وبالله التوفيق.

مونځ کونکی مخې ته تیریدونکې به منع کولې شی

٦٤٨ – **سوال**: څوك چه مونځ کونکی مخې ته تیریږی نو دا به منع کولې شی که نه؟ او کله ئې چه دیکه کړی او هغه مړ شی نو په دهٔ باندې قصاص یا دیت یا کفاره شته او که نه؟

جواب: کله ئې چه دیکه کړو او هغه مړ شو نو په دهٔ باندې هیڅ قصاص، یا دیت یا کفاره نشته، او همدا د تهولونه زیات صحیح قول دې۔

ددې دلیل دادې چه په ګڼړو حدیثونو کښې د مونځ ګذار مخې ته تیریدونکی په حقله راغلی چه دا به دیکه کولې شی، او نبی ﷺ په دې امر کړې۔

ابن عمر رضي الله عنه وائی: رسول الله ﷺ وفرمایل:

[إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّيْ فَلَا يَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّ مَعَهُ الْقَرِيْنُ].

(کله چه په تاسو کښې څوك مونځ کوی نو هیڅوك دې نهٔ پریدی چه ددهٔ مخې ته تیر شی، که هغه انکار وکړی نو جنګ دې ورسره وکړی ځکه دهٔ سره شیطان ملګرې دې)۔

[صحیح مسلم : ۱۹۷/۱].

ابو صالحؒ وائی : ما ابو سعید خدری رضی الله عنه ولیدهٔ چه د جُمعے په ورځ ئے سترے ته مونځ کولو، دے کښې د بنو معیط قبیلے یو ځوان اراده وکړه چه د هغهٔ مخے ته تیر شی نو ابو سعید په سینه کښې وواهۀ. هغه ځوان وکتل او د هغهٔ مخے ته د تیریدو نه سیوا ئے بل ځائے ونه موندهٔ، نو هغه دوباره تیریدل وغوښتل، نو ابو سعید د اولنی ځل نه هم په سخته طریقه سره دیکه کړو، نو هغه ځوان ورته کنځلے وکړے او بیا مروان ته ورغے او د ابو سعید ددے کار شکایت ئے ورته وکړو. ابو سعید د هغهٔ شاته مروان ته ورغے، نو مروان ورته وویل : ابو سعیده ! خپل ورارهٔ سره دے دا کار ولے کړے ؟ هغهٔ ویل : ما د نبی صلی الله علیه وسلم نه آوریدلی دی چه فرمایل ئے : (کله چه په تاسو کښې څوك سترے ته مونځ کوی او یو کس د هغهٔ مخے ته تیریدل غواړی نو هغه دے دیکه کړی، اوکه منع نشو نو جنګ دے ورسره وکړی ځکه چه دا شیطان دے).

[صحیح بخاری : ۷۲/۱].

د ابن خزیمهؒ په روایت کښې دی : (دوه ځله دے منع کړی که بیا ئے هم انکار وکړو نو جنګ دے ورسره وکړی). بل روایت کښې دی : (ځکه دا شیطان دے).

[صحیح ابن خزیمه : ۱٦/۲].

نو دے حدیث نه ډیرے مسئلے معلومیږی چه دا ځائے د هغے د بیان نهٔ دے. خو د فائدے دپاره یو څو مسئلو ته اشاره کیږی :

(۱) په جومات کښې ستره ودرول شوے، ځکه د جُمعے مونځ غالبًا په جومات کښې کیږی.

(۲) د ضرورت په وخت په مانځه کښې تصرف کول جائز دی.

(۳) ناپوهه وهل او د خلکو د ناپوهئ د وجے سنت نهٔ پریښودل. زمونږ د زمانے مداهنین ددے الټه روان دی.

(٤) خپل مونځ د اِنسی او جنی شیطان نه ساتل.

خلاصه دا چه : هر کله شریعت ددهٔ د دیکه کولو اجازت ورکړو، نو که دے مړ شو نو په دهٔ به هیڅ قِسم قصاص، دیت یا کفاره نهٔ وی.

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : زمونږ ملګرو ویلی: د مونځ ګذار مخے ته تیریدونکے به اول په نرمئ سره منع کولے شی، که انکار وکړی نو بیابه ورسره سختی کولے شی اګرکه دا کار د هغهٔ وژلو ته ورسیږی۔ نو که هغه ووژل شو نو په دیکه کونکی باندے هیڅ شے نشته، ځکه شارع دهٔ لپاره د هغهٔ سره جنګ کول روا کړی دی، او قانون دادے چه په جائز جنګ کښے ضمان او تاوان نهٔ وی۔ [فتح الباری : ۵۸۳/۱].

همدا خبره امام نوویؒ او امام ابن حزمؒ هم کړے۔ ابن حزمؒ فرمائی : په همدے باندے نبی ﷺ خپله هم عمل کړے، ځکه هغوئ سرکشه پیرے نیولے وو او اراده ئے وه چه هغه د جومات په یوه ستنه پورے وتړی، خو بیائے پریښودهٔ۔ او یو ځل ابلیس ورته د اور یوه بله لمبه راوړه نو نبی ﷺ درے ځله وفرمایل : په الله پورے تانه پناه ! بیا نبی ﷺ ورمخکښے شو چه راوے نیسی۔

[شرح مسلم : ۱۹۷/۱، المحلی : ۱۳۲/۳].

په بل حدیث کښے دی : (شیطان اراده وکړه چه زما مخے ته تیر شی نو ما ورله مرئ خفه کړه تردے چه د هغهٔ د ژبے لوندوالے ما په خپل لاس کښے بیامونده)۔

[طبرانی : ۲۸۰/۲، عبد الرزاق : ۲٤/۳، أحمد : ۱۰٤/۵].

او ابن عمر رضی الله عنه به هیڅوك نهٔ پریښودهٔ چه د هغهٔ مخے ته تیر شی، که هغه به نارینه وو که زنانه۔ [مصنف عبد الرزاق : ۲۰/۲].

او ابو سعید خدری رضی الله عنه عبد الرحمن بن حارث بن هشام دیکه کړو او وے غورزولو، نو دهٔ ته چا وویل : آیا تهٔ د عبد الرحمن سره هم دا کار کوے ؟ وے فرمایل : قسَم په الله ! که هغهٔ انکار کړے وے مګر دا چه زهٔ هغه د ویښتو نه راونیسم نو مابه خامخا رانیولے وے۔ [مصنف ابن ابی شیبه : ۲۵۳/۱].

او دا د جنګ کولو معنیٰ ده۔ او د تاویل کونکو خبره صحیح نهٔ ده۔

عمرو بن دینارؒ وائی : زهٔ په ابن عمر تیر شوم او هغه د خپل مانځه په آخره قعده ناست وو، او دے دپاره ورتیر شوم چه زهٔ ګورم چه هغه څهٔ کوی؟ نو هغه د خپل ځائے نه راپورته شو او زهٔ ئے په سینه کښے ووهلم۔

[بخاری تعلیقًا : ۷۲/۱، وأخرجه ابن ابی شیبه : ۲۸٤/۱].

د ابن ابی شيبهؒ په روايت کښې دی، عمرو وائی : ما اراده وکړه چه زۀ د ابن عمر ﷺ مخې ته تير شم او زۀ هلك ووم نو هغۀ زۀ په تسبيح سره منع کړم۔ په بل روايت کښې دی : نو هغه راپسې داسې راپاسيدۀ چه زۀ ئې ويرولم او زۀ ئې لرې کړم۔

او کله چه تاته پته نۀ وی او ستا مخې ته يو سرکشه شيطان تيرېږی نو په دې کښې ستا څۀ ګناه نشته، هر کله چه تا خپله ذمه واری پوره کړې وی او ستره دې ودرولې وی او هغې ته نزدې ولاړ ئې۔ کيدې شی چه شيطان د انسان مخې ته د تيريدو وس نۀ لری مګر کله چه ورسره انسان يا حيوان وی۔

سعيد بن جبيرؒ، ايوب سختيانیؒ ته وفرمايل : که تا د ابن عمر غوندې کار وکړو، نو خلك به دې پوزه ماته کړی۔ (ځکه چه تۀ د ابن عمر غوندې رعب او هيبت نۀ لرې)۔

[ابن ابی شيبه : ١/٢٨٣].

عثمان او علی i فرمائی : د خپل وس مطابق خلك منع کوئ۔

په دې باب کښې ډير آثار راغلی چه دا په [مصنف ابن ابی شيبه، مصنف عبد الرزاق او أحكام السترة] کښې وګورئ۔

نو ثابته شوه چه ديکه کول واجب دی، او جنګ کول ضروری دی هر کله چه څوك په مخ کښې د تيريدو نه نۀ منع کيږی، او دا د جهاد فی سبيل الله يوه برخه ده۔ ښۀ سوچ وکړه۔

مخې ته تيريدونکے کس به بيرته نشی واپس کولے

٦٤٩ – **سوال** : کله چه مونځ کونکی مخې ته تيريدونکے تير شی او مونځ کونکی ته پته نۀ وی، او يا ورته پته وی خو هغه په تادئ سره تير شی، چه مونځ کونکے هغه منع نۀ کړې شی، نو آيا دا کس به بيرته راواپس کوی ؟

جواب : ابن مسعود ﷺ نه نقل دی چه بيرته به ئې واپس کوی۔

[فتح الباری : ١/٥٨٤].

خو صحيح خبره هغه ده کومه چه جمهورو علماؤ کړې چه څوك مخې ته تير شو نو بيرته به ئې نۀ راواپس کوی۔ ځکه د منع کولو نه مقصد دادې چه تير نشی، او کله چه هغه تير شی نو بيا واپس کولو ته ضرورت نشته۔ ځکه کوم حديث چه د تيريدونکی په

منع كولو كښې راغلې، هغې نه په ډاګه معلوميږي چه مقصد په دې كښې د تيريدو نه منع كول دي. او كله چه تير شي نو بيا د هغهٔ په واپس كولو كښې څهٔ فائده ؟

شعبيؒ فرمائي : كله چه تا مونځ كولو او څوك دې مخې ته تير شو نو هغه دوباره مهٔ واپس كوه.

[مصنف عبد الرزاق : ٢/٢٥، مصنف ابن أبي شيبه : ١/٢٨٢].

او كله چه په پوره توګه نهٔ وي تير شوې، نو بيا به واپس كولې شي، لكه حسن بصريؒ نه نقل دي چه دهٔ يو سړې تيريدو سره را واپس كړو.

[مصنف عبد الرزاق : ٢/٢٥].

څناور به هم مخې ته تيريدو نه بندولې شي

٦٥٠ – **سوال** : څناور به مونځ كونكي مخې ته تيريدو نه منع كولې شي كه نه ؟

جواب : هو ! په ګڼړو حديثونو كښې ثابته ده چه نبي اكرم ﷺ څناور هم مخې ته د تيريدو نه منع كړي. لكه مخكښې تير شو چه نبي اكرم ﷺ هغه چيلۍ منع كړه كومې چه د هغوئ مخې ته د تيريدو كوشش كولو.

په حديث كښې دي: نبي ﷺ په مانځه كښې پيشو منع كړه چه د هغهٔ مخې ته تيره شي. [مصنف عبد الرزاق : ٢/٢٥].

د طلحه رضي الله عنه په حديث كښې دي : (مونږ به مونځ كولو او څناور به زمونږ مخې ته تيريدل، نو دا خبره رسول الله ﷺ ته وكړې شوه، نو هغوئ وفرمايل : د پالان د روستني لرګي پشان شې چه ستاسو مخې ته وي نو بيا چه كوم شې تيريږي، هغه تاسو ته ضرر نهٔ دركوي).

[صحيح مسلم : ٢/٥٥].

كه څناور وغيره مخې ته تيريږي نو سترې طرفته تلل پكار دي

٦٥١ – **سوال** : (١) آيا انسان سترې طرفته تللې شي هر كله چه څناور يا انسان دهٔ مخې ته تيريږي، دې دپاره چه هغه دهٔ مخې ته تير نشي ؟ (٢) او مخې ته تيريدونكي كس منع كولو او هغهٔ سره په جنګ كولو كښې څهٔ حكمت دې ؟

جواب: سترې ته تلل په سنتِ مطهره کښې ثابت دي.

عبد الله بن عمرو ﷺ وائي: مونږ رسول الله ﷺ سره د اَذَاخِر کنډو نه راکوز شو نو دې کښې د مانځه وخت شو، نبي ﷺ ديوال طرفته مونځ وکړو او هغه ئې قبله جوړه کړه او مونږ د هغهٔ شاته وو، دې کښې يوه بزه راغله چه د هغهٔ مخې ته تيريدله، نو نبي ﷺ لګيا شو چه هغه ئې منع کوله تردې چه د نبي ﷺ شا ديوال سره جوخته شوه او هغه بزه د نبي ﷺ شاته تيره شوه.

[ابوداود: ١٠٧/١].

ابن عباس ﷺ وائي: نبي ﷺ مونځ کولو نو يوه چيلئ د هغهٔ مخې ته تيريدله نو نبي ﷺ هغې سره قبلې طرفته وړاندې کيدلو تردې چه خپله خيټه ئې قبلې سره جوخته کړه.

[صحيح ابن خزيمه: ٢٠/٢، ابن حبان: ٤٨/٤، حاکم: ٢٥٤/١].

○ په دې باب کښې نور حديثونه هم شته، چه ددې نه معلوميږي چه کله کوم حيوان يا انسان ددهٔ مخې ته تيريږي نو دې سترې طرفته وړاندې کيدې شي. او په مانځه کښې مزل کول د صلاةِ کسوف په حديث کښې راغلي، دارنګ د عائشې k په هغه حديث کښې چه په هغې کښې به نبي ﷺ هغې دپاره دروازه پرانستله. دارنګ د نبي اکرم ﷺ د بيمارئ په حديث کښې. او په هغه حديث کښې چه په هغې کښې نبي اکرم ﷺ ابو بکر ﷺ ته د مخکښې پاتې کيدو امر کړې او هغه روستو شو. او مخکښې تير شو چه عمر فاروق ﷺ يو سړې ستنې ته رانزدې کړې وو، هرکله چه هغه بې سترې ولاړ وو. ښهٔ سوچ وکړه!

(٢) او د تيريدونکې د منع کولو حکمت الله او رسول (ﷺ) ته ښهٔ معلوم دې.

١ – **يو** حکمت پکښې دادې چه دا کار ځکه کيږي چه څوك ددهٔ مونځ تهول مات نهٔ کړي، يا ددې ځينې برخه ماته نهٔ کړي. لکه روستو راځي.

ابن مسعود ﷺ فرمائي: څوك چه دا کولې شي چه خپلې مخې ته هيڅوك تيريدو ته پرې نهٔ ږدي نو هغه دې دا کار وکړي، ځکه د مونځ کونکي مخې ته تيريدونکې د هغه کس اجر او ثواب کموي، د چا مخې ته چه تير شوې دې.

[مصنف عبد الرزاق: ٢٤/٢، ابن ابي شيبه: ٢٨٣/١، دا حديث صحيح دې].

دويم: تيريدونکې د ګناه نه ساتي:

عبد الله بن شقيق وائي : عمر بن خطاب رضي الله عنه په يو سړي تير شو چه بے سترے مونځ ئے کولو۔ کله چه هغه وزګار شو، نو وے فرمايل : که تيريدونکے او تير شوے کس د هغه ګناه نه خبر شي کوم چه د دوئ کيږي، نو دا کار به ئے نهٔ وے کړے۔

[مصنف عبد الرزاق : ٢/٢٤، انظر فتح الباري : ١/٥٨٤].

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : ددے دواړو آثارو غوښتنه داده چه د مونځ ګذار مخے ته تيريدل منع کول دا د هغه نقصان د وجے دي چه د مونځ کونکي مونځ سره اړه لري او تيريدونکي پورے خاص نهٔ دي۔ [فتح الباري : ١/٥٨٤].

دريم : دے سره د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم په حکم عمل راځي، چه په دے کښے د دنيا او آخرت پوره کاميابي ده۔

و بالله التوفيق.

مونځ ماتوونکي شيان او ماتولو معنیٰ

٦٥٢ - **سوال** : هغه کوم شيان دي چه مونځ ماتوي او ماتولو نه مراد څهٔ دے ؟

جواب : اول مونږ په دے حقله راغلي حديثونه ذکر کوو، بيا دے سره اړه لرونکي مسائل ذکر کوو :

١ - ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے، نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي : [يَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ وَالْكَلْبُ، وَيَقِي مِنْ ذٰلِكَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ].

(مونځ لره ښځه، خر او سپے ماتوي او د پالان د روستني لرګي پشان شے ودرول مونځ لره ددے ماتولو نه بچ ساتي)۔ [صحيح مسلم : ١/١٩٧].

٢ - عبد الله بن صامت وائي : ابو ذر رضي الله عنه فرمائي : رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمايلے : (کله چه په تاسو کښے څوك مانځه ته ولاړ وي نو ددهٔ دپاره د پالان د لرګي هومره شے ستره جوړيږي۔ اوکه ددهٔ مخے ته د پالان د لرګي برابر شے نهٔ وي نو بيا ددهٔ مونځ خر، ښځه او تور سپے ختموي۔ راوي (عبد الله بن صامت) وائي : ما عرض وکړو، اے ابو ذره ! څه وجه ده چه تور سپے ئے ماتوي او سور او زيړ ئے نهٔ ماتوي ؟ هغهٔ ويل : اے ورارهٔ ! ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه څنګه چه تا مانه پوښتنه وکړه، نو هغوئ وفرمايل : تور سپے شيطان وي)۔

[صحیح مسلم : ١/١٩٧].

په بل روایت کښې دی : (او حائضه ښځه).

[مصنف عبد الرزاق : ٢/٢٦].

٣ – ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دے، نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی : [يَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْكَلْبُ الْأَسْوَدُ وَالْمَرْأَةُ الْحَائِضُ].

(تور سپے او بالغه ښځه مونځ ماتوی).

[احمد : ١/٣٤٧، ابوداود : ١/١٠٩، ابن ماجه : ١/٣٠٥، نسائی، طحاوی : ١/٤٥٨، ابن خزیمة : ٢/٢٢، ابن حبان : ٤/٥٣، بیهقی : ٢/٢٧٤، وهو صحیح].

٤ – عائشه k وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د مسلمان مونځ له هیڅ یو شے نۀ ماتوی، سیوا د خرۀ، کافر، سپی او ښځے نه. نو عائشے k عرض وکړو، یا رسول الله ! یقیناً مونږ خو د بدو ځناورو سره ملګری کړے شو.

[احمد : ٦/٨٤، مجمع الزوائد : ٢/٦٠، قال الهیثمی : رجاله موثقون، وقال العراقی : رجاله ثقات، انظر نیل الأوطار : ٣/١٢، وإسناده صحیح، وقال العراقی : ولم أقف له علی علة أو علی من أعله غیر أن فی سنده راشد بن سعد وثقه الجمهور، وربما کانت لفظة الکافر وهمًا منه].

په دے حدیث کښې د (کافر) لفظ وَهُم او شاذ دے.

٥– انس رضي الله عنه وائی : ښځه، خر او سپے مونځ ماتوی.

[ابن ابی شیبه : ١/٢٨١، بإسناد صحیح].

٦ – ابن عباس رضي الله عنه وائی : تور سپے او بالغه جینۍ مونځ ماتوی.

[ابن ابی شیبه : ١/٢٨١، عبد الرزاق : ٢/٢٨، بإسناد صحیح].

٧ –عائشه k فرمائی : د تور سپی نه سیوا بل هیڅ شے مونځ نۀ ماتوی. [ابن ابی شیبه : ١/٢٨١].

په دے روایت کښې حکم عنعنه کړے، او هغۀ به کله نا کله تدلیس کولو.

٨ – معاذ رضي الله عنه نه روایت دے : تور سپے مونځ ماتوی.

[ابن ابی شیبه : ١/٢٨١].

په دے روایت کښې لیث بن ابی سلیم دے، او باقی راویان ثقه دی.

۹ – ابن عمر رضي الله عنه وائی : سپے مونځ ماتوی۔ او د حکم نه نقل دی چه خر مونځ ماتوی۔
۱۰ –د ابو الاحوصؒ، مجاهدؒ، مکحولؒ، حسن بصریؒ، عکرمهؒ او عطاءؒ نه نقل دی چه دوئ په دے حقله د مانځه د ماتولوقائل دی، خو سره د لږ شان اختلاف نه په دے کښے۔
[ابن ابی شیبه، عبد الرزاق].

○ د پورتنو **حدیثونو نه** دا راتلونکی **مسائل** معلومیږی :

۱ – **مسئله** : په دے حدیثونو کښے چه د مانځه کومه قطع او ماتول ذکر شوی، نو دا د صحیح قول مطابق په خپله حقیقی معنیٰ کښے مستعمل دی، چه ددے معنیٰ ده : د مونځ باطل والے۔ او همدا معنیٰ صحابه کرامو فهم کړے ده۔

لکه د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل دی چه ددهٔ مخے ته کُوترے تیر شو نو یو رکعت ئے کړے وو هغه ئے بیرته راوګرځولو۔ [ابن ابی شیبه : ۲۸۲/۱].

ابن حزمؒ فرمائی : دا ډیر زیات صحیح سند دے۔ [المحلی : ١٥/٤].

او حکم غفاری رضي الله عنه خلکو ته مونځ کولو نو ددهٔ د ملګرو مخے ته خر تیر شو نو هغهٔ مونځ دوباره وکړو۔ [مصنف عبد الرزاق : ١٨/٢].

د ابو ذر رضي الله عنه په مرفوع حدیث کښے راغلی چه : [تُعَادُ الصَّلَاةُ مِنْ مَمَرِّ الْحِمَارِ وَالْمَرْأَةِ وَالْكَلْبِ الْأَسْوَدِ......].

(د مونځ ګذار مخے ته د خرهٔ، ښځے او تور سپی د تیریدو د وجے به مونځ راګرځولے شی)۔
[صحیح ابن خزیمة : ٢١/٢، ددے سند صحیح دے].

په دے حدیث کښے د (قطع) تفسیر راغلے دے، چه بطلان د مانځه دے۔

سوال : کیدے شی چه دا روایت بالمعنیٰ وی ؟

جواب : راوی په خپل روایت د هر چانه ډیر ښهٔ پوهه وی۔

لکه حدیث کښے دی : (نبی صلی الله علیه وسلم مونځ کولو نو یو هلك په خرهٔ باندے سور تیر شو، نو هغه د نبی صلی الله علیه وسلم او د کهجورے د هغه ونے ترمینځه تیر شو چه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ستره جوړه کړے وه، نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : دے هلك زمونږ مونځ مات کړو)۔
[ابوداود : ١٠٩/١، بیهقی : ٢٧٥/٢].

په دے حدیث کښے یو مستور راوی دے۔ او د احمدؒ په روایت کښے مجهول راوی دے۔

[مسند احمد : ٤/٦٤].

او د (قطع) نه مراد د خشوع قطع والے نۀ دے، لکه څنګه چه بعضو ويلی دی. ځکه د شرع الفاظ به په خپلو حقيقی معنو باندے حملولے شی، تر څو چه ددے نه اړونکے راشی.

٢ - **مسئله** : د دغه پورتنو شيانو تيريدل مونځ باطلوی. کيناستل او ډډه وهل ئے مونځ نۀ ماتوی. لکه په دے باندے د ابو ذر رضي الله عنه حديث دليل دے. دارنګ بل حديث کښے دی: (مونځ لره سپے، خر او ښځه ماتوی) يعنی ددے شيانو تيريدل مونځ ماتوی. ځکه همدا معنىٰ ددے الفاظو نه زر ذهن ته راځی.

ددے وجه داده چه نبی صلى الله عليه وسلم په خرۀ سور وو او مونځ ئے کولو په داسے حال کښے چه خيبر طرفته ئے مخ کړے وو. او دا خر د نبی صلى الله عليه وسلم مخے ته نۀ تيريدۀ.

عائشه k فرمائی : (زۀ به د نبی صلى الله عليه وسلم مخے ته اوده ووم، او زما خپے به د نبی صلى الله عليه وسلم قبلے طرفته وے، کله به ئے چه سجده کوله نو زۀ به ئے وخوکنډلم نو ما به خپلے خپے راغونډے کړے، او کله به چه هغه پاسيدۀ نو ما به خپے خورے کړے. عائشهؓ فرمائی : په دغه وخت کښے په کوټو کښے ډيوے نۀ وے).

[صحيح بخاری : ١/٧٤].

او هرچه د ابن عباس رضي الله عنه حديث دے چه : (خرے او سپیٔ دواړو د نبی صلى الله عليه وسلم مخے ته لوبے کولے).

نو دا حديث ضعيف دے. اوکه ثابت شی نو دا دواړه نۀ وے تيرے شوے. او خبره په تيريدو کښے ده.

٣ **مسئله** : د غټے جينئ تيريدل مونځ ماتوی. که وړه جينئ مخے ته تيره شوه نو مونځ نه ماتوی. ددے دليل دادے چه په حديث کښے لفظ د [اَلْحَائِضَةُ] راغلے، چه ددے نه مراد بالغه جينئ ده. او د حائضے نه مراد دا نۀ دے چه ګنے وينه پرے روانه وی. لکه د ځينے خلکو خيال دے.

بله دا چه (ښځے) نه مراد خپله لويه جينئ ده، نۀ ماشومه.

قتادهؒ فرمائی : کومه جينئ چه لا وخت ته نۀ وی رسيدلی، هغه مونځ نۀ ماتوی.

[مصنف عبد الرزاق : ٢/٢٨].

لکه ام سلمه k وائی : نبی ﷺ مونځ کولو نو د هغهٔ مخے ته عبد الله یا عمر بن ابی سلمه تیر شو، نبی ﷺ لاس سره اشاره وکړه، نو هغه واپس شو، بیا زینب بنت ام سلمه تیره شوه، نو نبی ﷺ لاس سره اشاره وکړه، نو هغه تیره شوه. کله چه رسول الله ﷺ مونځ وکړو نو وے فرمایل : دا ډیرے زورورے دی !

ددے حدیث سند په شوا هدو کښے گذاره حال دے. ځکه په دے روایت کښے ام محمد مقبوله ده.

ددے تائید د هغه حدیث نه هم کیږی چه په هغے کښے نبی ﷺ خپله نمسئ امامة بنت ابو العاص په مانځه کښے په اوګه کړے وه، او کله به ئے چه سجده کوله نو کینوله به ئے. نو هغه به کله راتلله او د نبی ﷺ مخے ته به ئے لوبے کولے. والله أعلم.

٤ – **مسئله** : صرف تور سپی تیریدو سره مونځ ماتیږی، په هر سپی سره نهٔ ماتیږی، ځکه په روایاتو کښے د سپی سره همدا قید لړیدلے. او د ابو ذر ﷛ سوال هم په همدے دلالت کوی. ځکه که ټولو سپو مونځ ماتولے نو نبی ﷺ به ورته داسے جواب ورکړے وے چه د سپو ترمینځه فرق نشته. او د تور او سپین ترمینځه به ئے فرق نهٔ وے کړے. او په کومو روایتونو کښے چه سپے مطلق راغلے نو په هغے کښے به هم دا قید مراد وی.

٥ – **مسئله** : د کافر په تیریدو سره مونځ نهٔ ماتیږی، ځکه په هیڅ یو صحیح حدیث کښے په دے حقله لفظ د کافر نهٔ دے راغلے. او مخکښے نزدے تیر شو چه د عائشے k په حدیث کښے د (کافر) لفظ وَهم دے. بله دا چه کفر یو اعتقادی او باطنی شے دے، د الله تعالیٰ نه سیوا دا څوك نشی معلومولے. ډیر خلك دی چه په ظاهره کښے مسلمانان دی، خو دننه کافر وی. دے وجے نه په دغه حدیث کښے دغه لفظ شاذ دے.

٦ – **مسئله** : ښځه چه د ښځے مخے ته تیره شی نو د هغے مونځ مات شو، ځکه په ټولو احکامو کښے زنانه د نارینه سره شریکه ده، سیوا د هغه مسائلو نه چه په هغے کښے په نص سره د ښځے او د سړی فرق راغلے وی. او دلته د مانځه په بطلان کښے د ښځے او د سړی فرق نهٔ دے راغلے. دے وجے نه کوم شے چه د نارینه مونځ خرابوی، هغه د زنانه مونځ هم خرابوی.

او نبی ﷺ په دے حقله د ښځے تخصیص هم نهٔ دے کړے چه گنے د ښځے مخے ته د ښځے

په تیریدو سره مونځ نۀ خرابیږی۔

○ دا کوم چه تیر شو چه د مانځه د قطع والی نه مراد ماتیدل دی، دا د امام احمدؒ په دوه قولونو کښې یو قول دے، او دے لره تقی الدین بن تیمیہؒ اختیار کړے، او فرمائی : دا د امام احمدؒ مذهب دے۔ [تیسیر العلام : ۱/ ۲۵۸].

د امام احمدؒ دویم قول دادے چه دغه شیان مونځ ماتوی خو زما په زړۀ کښې د ښځے او د خرۀ د مانځه ماتولو په باره کښې څۀ خبرے اترے شته۔ خو دا قول د اولنی قول مقابله نشی کولے۔

ابن حبانؒ فرمائی : په صحیح حدیثونو کښې راغلی چه نبی ﷺ د خرۀ، سپی او ښځے د تیریدو د وجے د مونځ راګرځولو امر کړے۔

[کتاب المجروحین : ۱/ ۳۰].

همدا رائے د ابن حزمؒ هم ده، البته هغه مطلقًا د مونځ د ماتوالی قائل دے، اګرکه وړه ماشومه تیره شی یا د تور نه علاوه بل سپے تیر شی، او نۀ د تیریدو تخصیص کوی۔ خو مونږ چه کومه خبره ذکر کړه، همداصحیح ده۔

ابن قیم رحمه الله فرمائی : که ستره نۀ وی نو د نبی ﷺ نه ثابت دی چه د ښځے، خرۀ او تور سپی په تیریدو سره مونځ ماتیږی۔ او دا د ابوذر، ابو هریره، ابن عباس، او عبد الله بن مغفل رضی الله عنه په حدیثونو کښے د نبی ﷺ نه ثابت دی۔ ددے حدیثونو په مقابله کښے چه کوم حدیثونه راغلی، نو هغه دوه قسمه دی :

(۱) صحیح غیر صریح۔ (۲) صریح غیر صحیح۔ دے وجے نه اول قِسمه حدیثونه به ددے معارض په وجه نشی پریښودلے۔ او نبی ﷺ به په داسے حال کښے مونځ کولو چه عائشه k به د هغۀ قبلے طرفته اوده وه، نو دا په مخکښے تیریدل نۀ حسابیږی، ځکه د یو انسان دپاره د مونځ ګذار مخے ته تیریدل حرام دی، لیکن د هغۀ مخے ته ایساریدل (کیناستل ودریدل) مکروه هم نۀ دی۔ دغه شان د ښځے په تیریدو سره مونځ ماتیږی، نۀ په مخکښے ایساریدو سره۔ والله أعلم.

[زاد المعاد : ۱/ ۷۹].

علامه شوکانیؒ فرمائی : په دے حقله د راغلو حدیثونو نه همدا معلومیږی چه سپے،

ښځه او خر مونځ قطع کوی، او د قطع کولو نه مراد ماتول دی۔ او همدا د صحابه کرامو د يوے ډلے مذهب دے۔ بيا ئے اوږده خبره ذکر کړے او دائے ثابته کړے چه دغه پورتنی درے شيان: تور سپے، خر او بالغه ښځه مونځ ماتوی۔

[نيل الأوطارو : ١٢/٣].

علامه سندیؒ فرمائی: ددے حديث ظاهر دادے چه د دغه شيانو تيريدل مونځ باطلوی، او ددے يوه ډله قائله ده۔

[حاشية السندی علی النسائی : ٦٤/٢].

هغه دلائل چه په دغه شيانو تيريدو سره مونځ نۀ ماتيږی، او د هغے حيثيت:

ځينے خلکو په دے باندے دلائل ذکر کړی چه مونځ لره هيڅ شے نۀ ماتوی۔ هغه دادی:

اول دليل: د ابو سعيد خدری رضي الله عنه حديث دے، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: [لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ وَادْرَؤُا مَا اسْتَطَعْتُمْ].

(مونځ لره هيڅ شے نۀ ماتوی، او د خپل وس مطابق تيريدونکے بندوئ)۔

[ابوداود: ١١١/١، ابن ابی شيبه: ٢٨٠/١، بيهقی: ٢٧٨/٢، شرح السنة للبغوی: ٤٦١/٢، العلل المتناهية لابن الجوزی: ٤٤٩/١].

جواب: ددے حديث سند ضعيف دے، په دے کښے مجالد بن سعيد قوی نۀ دے او په آخر عمر کښے ئے حافظه خرابه شوے هم وه۔ او ددۀ نه روايت کونکے ابو وداك دے، او دا رشتينے دے خو غلطيږی۔ او په دے کښے بله بيماری هم شته او هغه دا چه ددے اولنے جزء په بعضو سندونو کښے موقوف راغلے۔ [کما فی التهذيب: ٤٠/١٠].

حافظ ابن حجرؒ دا حديث ضعيف ګرځولے۔ [فتح الباری: ٥٨٨/١].

ابو حاتمؒ فرمائی: د ابو ذر رضي الله عنه مرفوع حديث چه (تور سپے مونځ ماتوی) دا د ابو سعيد خدری رضي الله عنه ددے حديث نه زيات صحيح دے چه (مونځ لره هيڅ شے نۀ قطع کوی)۔

[انظر العلل: ٧٦/١].

او په طبرانی [١٩٣/٨] اودارقطنی [٢٦٧/١] کښے دا حديث د ابو امامه نه مرفوعًا راغلے، او د هغے په سند کښے عفير بن معدان راوی ضعيف دے۔ احمدؒ فرمائی: ضعيف منکر الحديث دے۔

دارنګ په [دارقطني : ۲٦۸/۱] او [العلل المتناهية] د ابن الجوزيؒ کښې دا د ابن عمر رضی الله عنه نه نقل شوے۔ او په دے کښې اسحاق بن فروه متروك راوي دے۔ ابن حبانؒ فرمائي : ددے حديث سند او متن دواړه التړه شوي دي۔

[المجروحين : ۳۰/۱].

ديته نزدے الفاظ په طبراني کښې د جابر رضی الله عنه نه نقل شوي، او په دے کښې عيسى بن ميمون ضعيف دے۔ حافظ فرمائي : پريښودلے شوے دے، او ضعيف دے۔

[نصب الراية : ۷۷/۲، فتح الباري : ۵۸۸/۱].

په مسند احمد [۱۳۸/۱] او الکامل د ابن عدي [۸۰۵/۲] کښې د علي رضی الله عنه نه موقوفًا راغلے۔ او ددے په سند کښې حصين المزني مجهول دے۔

او په دارقطني [۲٦۷/۱، او بيهقي : ۲۷۷/۲] کښې د انس رضی الله عنه په مرفوع حديث کښې صخر بن عبد الله بن حرمله دے، او دا مقبول دے، چه په شواهدو کښې کار ورکوي او ددے شواهد نشته۔ او په دے کښې بله بيماري هم شته او هغه مخالفت دے۔

امام نوويؒ فرمائي : [لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ] دا حديث ضعيف دے۔

[شرح مسلم للنووي : ۱۹۰/۱].

دويم دليل : عائشه k به د نبي صلی الله علیه وسلم مخے ته پرته وه۔

جواب : دے حديث نه مدعىٰ نۀ ثابتيږي، ځکه دے حديث کښې تيريدل نشته بلکه په دے کښې د مونځ ګذار مخے ته ناسته او ملاسته ذکر ده، نۀ تيريدل۔

[كما قال ابن بطال وابن خزيمة، نيل الأوطار : ۱۰/۳، صحيح ابن خزيمة : ۱۲/۲].

او مخکښې د زينب بنت ام سلمه k د تيريدو حديث تير شو، خو دا حديث د کمزورئ باوجود په دے خبره دلالت کوي چه وړه جينئ مونځ نۀ ماتوي۔

دريم دليل : د فضل بن عباس رضی الله عنه په حديث کښې دي : (مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسے حال کښې راغے چه مونږ په خپل ميدان کښې وو، او د هغۀ سره عباس هم وو، نو نبي صلی الله علیه وسلم په صحراء کښې مونځ وکړو چه د هغۀ مخے ته ستره نۀ وه، او زمونږ يوه خره او يوه سپئ دواړو د هغۀ مخے ته لوبے کولے، نو نبي صلی الله علیه وسلم په دے هيڅ باك ونۀ کړو۔

[مسند احمد : ۲۱۱/۱، ابوداود : ۹۱۰/۱، نسائي، طحاوي : ٤۵۹/۱، دارقطني، بيهقي : ۲۷۸/۱].

جواب : دا حدیث ضعیف دے۔ ځکه دا د عباس بن عبید الله او د فضل ترمینځه منقطع دے، او عباس ملاقات د فضل سره نۀ دے شوے۔ او عباس ضعیف مقبول دے۔

بله داچه : دا الفاظ چه (د هغۀ مخے ته ستره نۀ وه) صرف یحیی بن ایوب ذکر کړی۔ حالانکه حدیث ددے نه بغیر راغلے، او یحیی رشتینے راوی دے خو کله خطا کیږی نو ددۀ ځانګړتیا قبوله نۀ ده۔

بله داچه : په دے حدیث کښے د سپیٔ او خرے مخے ته تیریدل نۀ دی ثابت۔ یا داچه نبی ﷺ به خط راښکلے وی او فضل ته به نۀ وی ښکاره شوے۔

بله داچه : په دے حدیث کښے دا نشته چه دغه دواړه د نبی ﷺ مخے ته نزدے وے، کیدے شی چه د هغویٔ نه د درے ګزو فاصلے نه اخوا وے۔

بله داچه : دا پته هم نۀ لږی چه دغه سپیٔ توره هم وه چه مونځ خراب کړی۔

[انظر المحلی : ٤/١٨، نیل الأوطار : ٣/١١، حاشیة السندی علی النسائی : ٢/٦٥].

څلورم دلیل : ابن عباس رضی الله عنه د صف د ځینے برخے مخے ته تیر شو او هغه په خرۀ باندے سور وو۔

جواب : ددے نه دلیل نیول صحیح نۀ دی، ځکه د امام ستره د مقتدیانو دپاره کافی ده۔

پنځم دلیل : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : ډیر کرته به ما رسول الله ﷺ په داسے حال کښے لیدلو چه مونځ به ئے کولو او خرۀ به د هغویٔ مخے ته خوزیدل۔

[طبرانی : ١١/١٤٤].

جواب : دا حدیث د ابن عباس رضی الله عنه د مخکنی حدیث نه مختصر شوے۔ چه په هغے کښے دا راغلی وو چه خر د ځینے صف مخے ته تیر شو۔

بله داچه : په دے حدیث کښے لیث بن ابی سلیم دے، او ددۀ نه روایت کونکے ابو جعفر الرازی سیٔ الحفظ دے، نو دا حدیث سخت ضعیف دے۔ او په دے کښے د سترے د ودرولو او نۀ ودرولو هیڅ ذکر هم نشته۔

شپږم دلیل : نبی ﷺ د خرۀ دپاسه مونځ کړے او هغه خیبر ته روان وو۔

جواب : خبره د مونځ ګذار مخے ته په تیریدو کښے ده۔ او په دے صورت کښے خر مخے ته نۀ دے تیر شوے، بلکه هغه مخے ته وسیدلو۔ او دغه خر خپله د نبی ﷺ دپاره ستره وه۔

یا مونږ وایو : د سورلۍ دپاسه د مونځ کولو په وخت ستره ودرول واجب نۀ دی، دا صورت د سترے د عام حکم نه مستثنیٰ دے۔

اووم دلیل : عثمان رضی الله عنه نه نقل دی : (د مسلمان مونځ لره هیڅ شے نۀ قطع کوی، او څومره چه کیدے شی دوئ منع کوئ)۔

او د علی رضی الله عنه نه هم دغسے اثر دے۔ خو د عثمان رضی الله عنه د اثر سند صحیح دے، او د علی رضی الله عنه اثر ثابت نۀ دے، ځکه په دے کښے حارث اعور دے۔او دا ضعیف او دروغژن دے۔

[انظر المصنف لابن ابی شیبه : ١/٢٨٠، بیهقی : ٢/٢٧٨، مصنف عبد الرزاق : ٢/٣٠، انظر فتح الباری : ١/٥٨٨].

جواب : ممکنه ده چه دے دواړو صحابه کرامو i ته د قطع الصلاة حدیثونه نۀ وی رسیدلی۔

اتم دلیل : ابن عمر رضی الله عنه نه نقل دی : مونځ لره هیڅ شے نۀ ماتوی۔

[مالك : ١/١٣٢، ابن ابی شیبه : ١/٢٨٠، بیهقی : ٢/٢٧٩].

جواب : دا د هغه وخت خبره ده کله چه هغوئ ته لا د قطع حدیث نۀ وو رسیدلے، او کله چه ورته ورسیدۀ نو عمل ئے پرے کړے، لکه مخکښے تیر شو چه هغۀ د کُوتری د تیریدو په وجه مونځ راګرځولے وو۔

نهم دلیل : عائشه k فرمائی : اے عراقیانو ! تاسو مونږ د سپو او د خرو سره پیوسته کړو، خبره داده چه مونځ لره هیڅ شے نۀ قطع کوی۔

[مصنف عبد الرزاق : ٢/٣٠].

جواب : ددے اثر سند ضعیف دے، ځکه ابراهیم نخعیؒ د عائشے k نه آوریدل نۀ دی کړی۔دارنګ په دے کښے حماد رشتینے راوی دے خو دے ډیر اوهام لری۔ حالانکه د عائشے k نه ثابت دی چه هغے د نبی صلی الله علیه وسلم نه د قطع حدیث روایت کړے دے۔

او یا ددے د دغه وینا مقصد دادے چه د دغه شیانو مخے ته تیریدل مونځ قطع کوی، او د مونځ ګذار مخے ته کیناستل ئے مونځ نۀ قطع کوی۔

لسم دلیل : د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه د هغۀ مخے ته د ښځے او د سپی ذکروشو کوم چه مونځ قطع کوی۔ نو ابن عباس وفرمایل : الله تعالیٰ ته پاکیزه کلمے خیژی، نو دغه شیان ئے نشی قطع کولے۔

جواب : ددے سند ضعيف دے، په دے کښے سماك بن حرب د عکرمه نه روايت کوی، او د هغهٔ نه ددهٔ روايت مضطرب دے۔ او سفيان ثوریؒ چه ددهٔ نه روايت کوی، هغهٔ دهٔ ته ضعيف ويلی۔ بله دا چه : ډير شيان مونځ ماتوی لکه يے اودسی وغيره۔

يولسم دليل : حذيفه ﷛ نه نقل دی : مونځ لره هيڅ شے نهٔ قطع کوی، او د وس مطابق تيريدونکی منع کوئ۔

[مصنف ابن ابی شيبه : ١/٢٨٠].

جواب : ددے سند ضعيف دے، ځکه کعب بن عبد الله د حذيفهؓ سره نهٔ دے ملاؤ شوے، بله دا چه دا به ډير خطا کيدهٔ۔

دارنګ د جابر ﷛ نه هم داشان روايت راغلے، د هغے په سند کښے ابراهيم بن يزيد الخوزی دے، او دا پريښودل شوے دے۔

نو د پورتنی تحقيق نه ثابته شوه چه په دے باب کښے - د عثمان، ابن عمر او علی j د آثارو نه سيوا بل - هيڅ اثر نهٔ دے ثابت۔ او د دغه آثارو توجيه تا مخکښے وپيژندله۔

○ دا شان د شعبیؒ، عروهؒ، قاسمؒ، سعيد بن مسيبؒ، عبيدهؒ او زهریؒ نه نقل دی چه دوئ به دا فتویٰ ورکوله چه : مونځ لره هيڅ شے نهٔ ماتوی۔ خو دا خبره معلومه ده چه د صحيح احاديثو په مقابله کښے د هيچا خبره دليل نهٔ دے۔

بله دا چه : دغه ائمه کرامؒ ته به دغه حديثونه نهٔ وی رسيدلی۔

خلاصه دا چه : [لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ] حديث په تمامو سندونو سره ضعيف دے۔

اوکه دا صحيح هم ومنل شی نو دا عام دے چه ددے نه به دغه درے شيان مستثنیٰ وی۔ ځکه د جمهورو علماؤ مذهب دادے چه عام به په خاص باندے بناء وی۔

اوکه مونږ دا هم ووايو چه عام او خاص کښے تعارض دے، نو بيابه هم خاص، د قوت په وخت په عام باندے راجح وی۔

[ملخصًا من نيل الأوطار : ٣/١٣].

مسئله : پيشو مونځ نهٔ ماتوی۔ او هرچه دا قول د عائشے k دے چه : تاسو مونږ لره د سپی او خرهٔ پشان وګرځولو۔ يقينًا مونځ خو سپے، خر او پيشو ماتوی۔

نو دا موقوف حديث دے، او ددے پوره سند هم نشته۔ ابن حزمؒ دا معلق ذکر کړے۔

[المحلی : ٤/٢٠].

بلکه د ابو هريره رضي الله عنه په حديث کښې دی: نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی : (پيشو مونځ نهٔ ماتوی، ځکه دا خو د کور د سامان پشان ده).

[ابن ماجه : ١/١٣١، ابن خزيمة :٢/٢٠، حاکم : ١/٢٥٤].

ددې حديث په مرفوع والی او موقوف والی کښې اختلاف دے، ابن خزيمهؒ موقوف والی ته ترجيح ورکړې.

او په کوم حديث کښې چه راغلی دی : عکرمه وائی : ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے، دا وائی : زما ګمان دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلی دی :

[إِذَا صَلّٰى أَحَدُكُم إِلٰى غَيْرِ سُتْرَةٍ فَإِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْحِمَارُ وَالْخِنزِيْرُ وَالْيَهُوْدِيُّ وَالْمَجُوْسِيُّ وَالْمَرْأَةُ وَيُجْزِئُ عَنْهُ إِذَا مَرُّوْا بَيْنَ يَدَيْهِ عَلٰى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ].

(په تاسو کښې چه څوک بے سترې مونځ کوی، نو ددهٔ مونځ خر، خنزير، يهودی، مجوسی او ښځه ماتوی، او ددے نه دا کافی ده چه دوئ د هغهٔ مخے ته دومره اندازه کښې تير شی لکه د کاڼړی ويشتل).

[ابوداود : ١/١٠٩، طحاوی : ١/٤٥٨، بيهقی : ٢/٢٧٥، مشکاة : ١/٧١].

نو دا حديث مرفوعًا ضعيف دے. صحيح داده چه دا د عکرمهؒ خپله خبره ده.

[کما أخرجه ابن ابی شيبه :١/٢٨١].

او يا د ابن عباس رضي الله عنه وينا ده. بهر حال دا حديث مرفوعًا ثابت نهٔ دے. دے وجے نه د مونځ ګذار مخے ته که کافر تير شی نو مونځ نهٔ ماتيږی.

[وهذا الذی اختصرناه من کتاب الستره، لمحمد بن رزق طرهونی، وهو کتاب مفيد فی هذه المسألة].

وبالله التوفيق.

د [اِلٰی غَيْرِ جِدَارٍ] معنیٰ:

٦٥٣ - سوال : د ابن عباس رضي الله عنه حديث دے : [يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ بِمِنًى اِلٰى غَيْرِ جِدَارٍ] (نبی صلی الله علیه وسلم په منیٰ کښې د ديوال نه بغير مونځ کولو).

دا حديث صحيح دے که نه ؟ او د سترے په عدمِ وجوب دلالت کوی اوکه نه ؟

جواب : دا حدیث امام بخاریؒ، امام مسلمؒ، امام مالكؒ او نورو روایت کړے۔

[صحیح بخاری : ٧١/١، صحیح مسلم : ٥٠٤، مؤطا مالك].

خو ددے نه دا نهٔ معلومیږی چه ګنے بے سترے ولاړ وو۔ د راتلونکو وجو نه :

اوله وجه : دا لفظ د امام مالكؒ په نهه شاګردانو کښے صرف درے کسانو ذکر کړے۔

لکه دیته امام بیهقیؒ اشاره کړے۔ [السنن الکبری : ٢٧٧/٢].

دارنګه امام ابن خزیمهؒ دیته اشاره کړے چه دا لفظ شاذ دے۔

[صحیح ابن خزیمة : ٢٧/٢].

دویمه وجه : په دے کښے (غیر) صفتیه ده، موصوف غواړی۔ او موصوف ئے (شئ) دے۔ نو معنیٰ دا شوه چه داسے شئ ته ئے مونځ کولو چه هغه د دیوال نه سیوا بل شے وو۔

داوجه ده، امام بخاریؒ په دے حدیث دا باب تړلے : (د امام ستره د مقتدیانو ستره ده)۔

دریمه وجه : که چرے د دواړو حدیثونو تعارض ومنل شی نو بیا به قول مقدم وی په فعل باندے۔ [نیل الأوطار : ٦/٣].

د خط راښکلو حکم

٦٥٤ – **سوال** : مونځ کونکی مخے ته د خط راښکلو په حقله کوم حدیث ثابت دے ؟

جواب : په دے حقله د ابو هریره رضی الله عنه حدیث راغلے، نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

[إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ شَيْئًا فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيَنْصِبْ عَصًا فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ فَلْيَخُطَّ خَطًّا ثُمَّ لَا يَضُرُّهُ مَا مَرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ].

(کله چه په تاسو کښے څوك مونځ کوی نو خپلے مخے ته دے څهٔ شے ودروی، که نهٔ ئے مومی نو امسا دے ودروی، که هغه هم نهٔ مومی نو خط دے راکاږی، بیا که ددهٔ مخے ته څوك تیریږی نو پرواه نهٔ کوی)۔

[مصنف عبد الرزاق : ١٢/٢، احمد، ابن ابی شیبه : ٥٣٥/٢، ابوداود : ١٠٩/١، وغیره].

دا حدیث د سترے په وجوب باندے دلالت کوی، اوکله چه ستره نهٔ وی نو خط به راکاږی۔ خو دا حدیث د سند په لحاظ مضطرب دے۔

[وجعله ابن الصلاح مثالا للمضطرب، انظر مقدمته ص : ٨٥، والتلخیص الحبیر : ٢٨٦/١].

ددې حدیث یو راوي سفیان بن عیینهؒ به دا حدیث ضعیف ګرځولو، او فرمایل به ئې : اسماعیلؒ به چه کله دا حدیث بیانولو نو فرمایل به ئې : آیا تاسو سره داسې شې شته چه دا حدیث پرې مضبوط وتړئ.

[السنن الکبری للبیهقی : ٢/٢٧١].

دارنګ په دې کښې ابو عمرو بن حریث مجهول راوي دې. امام شافعیؒ، ابن حزمؒ، بغویؒ او سفیانؒ وغیره ورته ضعیف ویلې. [أحکام السترة ص : ١٠٠].

د خط راښکلو په باره کښې یو بل حدیث هم راغلې. ابو محذوره رضی الله عنه وائی: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیده د چه د بنی شیبه دروازې له خوا جومات ته ننواتۀ تردې چه د کعبې مخې ته راغې او قبلې ته ئې مخ کړو او خپلې مخې ته ئې په پلنو باندې خط راښکۀ بیا ئې تکبیر وکړو او مونځ ئې وکړو او خلکو د خط او د کعبې ترمینځه طواف کولو.

[أخرجه أبو یعلیٰ].

خو دا حدیث ضعیف دې، ځکه په دې کښې حسان بن عباد مجهول دې، او ابراهیم پکښې ضعیف دې.

دې وجې نه خط باندې به صرف په هغه صورت کښې عمل کولې شي چه ستره نۀ وي. ځکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿فَاتَّقُوا اللهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾.

اودۀ یا خبرې کونکی شاته مونځ

٦٥٥ - **سوال** : اودۀ یا خبرې کونکی ته مونځ کول جائز دی او که نه ؟

جواب : صحیح داده چه د اودۀ یا خبرې کونکی کس شاته مونځ کول جائز دی، مګر که په مانځه کښې ئې خلل او نقصان واقع کیدۀ نو بیا د خپل مونځ اصلاح او په داسې ځائې کښې کول، چرته چه خشوع نۀ خرابیږی، واجب دی. ځکه خشوع د مانځه روح دې. او دا خبره د دین د ضروریاتو نه معلومه ده.

او د ابن عباس رضی الله عنه په کوم حدیث کښې چه راغلی چه نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (تاسو د اودۀ او خبرې کونکی شاته مونځ مۀ کوئ).

نو دا حدیث ضعیف دې، په دې کښې ابو المقدام هشام بن زیاد پرېښودل شوې راوي

دے، او د حاکم په سند کښے محمد بن معاويه دروغژن راوی دے۔

دے حديث ته شيخ البانیؒ حسن ويلی۔

[صحيح ابوداود : ١/١٠٧، إرواء الغليل : ٢/٩٤].

امام خطابیؒ فرمائی : دا حديث د نبی ﷺ نه ثابت نهٔ دے، ځکه ددے سند ضعيف دے۔

امام ابوداودؒ فرمائی : ددے حديث ټول سندونه سخت ضعيف دی۔

[أحكام السترة للشيخ طرهونیؒ، وقد حقق القول فيه فأفاد وأجاد].

نو ثابته شوه چه دغه دواړو کسانو شاته مونځ کول جائز دی۔

ددے تائيد دا هم دے چه د عائشے k په حديث کښے دی : هغه به اوده وه او رسول الله ﷺ به هغے ته مونځ کولو۔ [بخاری، مسلم].

او په هيڅ صحيح حديث کښے ددے نه منع نهٔ ده راغلے، او اصل برائت او جواز دے تر دے چه منع راشی، او منع نهٔ ده راغلے۔

وبالله التوفيق.

د چا مخے يا شاته مونځ کول

٦٥٦ – **سوال** : د يو سړی مخے ته يا د هغهٔ شاته دارنګ لرګی ته مونځ کول جائز دی اوکه نه؟ ددے نه منع راغلے اوکه نه؟

جواب : په دے باره کښے په ضعيفو حديثونو کښے راغلی چه دے شيانو ته مونځ مهٔ کوئ، خو هغه صحيح نهٔ دی۔

لکه د علی رضی الله عنه نه نقل دی، رسول الله ﷺ يو سړے وليدهٔ چه بل سړی ته ئے مونځ کولو نو هغهٔ ته ئے امر وکړو چه مونځ راوګرځوه۔ هغهٔ ويل : يا رسول الله! ما خو چه مونځ کولو نو تاسو راته کتل۔ [كشف الأستار : ١/٢٨١].

دا حديث ضعيف دے، ددے په سند کښے عبد الاعلیٰ ثعلبی ضعيف راوی دے۔

[مجمع الزوائد : ٢/٦٢].

دارنګ ددے په سند کښے د بزار شيخ احمد بن محمد داسے راوی دے چه ددهٔ حديث دليل نهٔ دے۔

هلال بن يساف ؒ وائی : عمر ؓ يو سړے وليدهٔ چه د بل سړی مخامخ ئے مونځ کولو، نو دُره وئے ورته رامخامخ کړه او وے فرمايل : په داسے حال کښے مونځ کوے چه دا درته مخامخ دے؟ او هغه بل سړی ته ئے وفرمايل: دے مونځ کوی او تهٔ ورته مخامخ؟

[مصنف عبد الرزاق : ٢٧/٢].

خو دا حديث د هلال او د عمر ترمينځه منقطع دے، ځکه هغهٔ ورسره ملاقات نهٔ دے کړے. دارنګ په دے کښے اعمش ؒ مدلس دے او شاهد ورله نشته.

دارنګ د ابن عباس ؓ په حديث کښے دی، نبی ﷺ فرمائی : (خبردار ! هيڅ يو کس دے بل کس طرفته مونځ نهٔ کوی، او نهٔ دے قبر طرفته مونځ کوی).

[ذكره ابن حبان فی المجروحين : ٣٠٢/١].

ددے په سند کښے جبارة بن المغلس راوی ضعيف بلکه دروغژن دے. دارنګ په دے کښے رشدين بن کريب ضعيف دے.

دارنګ د جابر ؓ په حديث کښے دی : رسول الله ﷺ لرګی طرفته د مونځ کولو نه منع کړے.

[العلل المتناهية لابن الجوزی : ٤١٦/١].

دا حديث هم ثابت نهٔ دے، ځکه په دے کښے سليمان بن ابی داود الحرانی دے، امام ذهبی ؒ فرمائی : بے شماره خلکو ضعيف کړے. ابو حاتم ؒ فرمائی : سخت ضعيف دے.

نو ثابته شوه چه پورتنو شيانو طرفته د مونځ کولو نه منع په صحيح حديث کښے نهٔ ده راغلے، بلکه په سنتِ مطهره کښے ددے برعکس ثابت دی.

وبالله عز وجل التوفيق.

OOOOOOOOO

د سترے د مسائلو تکمیل

۱ – **اول** : کله چه امام ستره ودرولی وی نو د مقتدیانو مخے ته تیریدل شریعت جائز کړی دی۔ زما په ذهن کښے ددے حکمتونه دادی :

○ یو خو دا چه د جماعت ودریدو نه پس جومات ته راتلونکو ته سهولت او آسانی وی، ځکه که دا نۀ وے نو بیا به جومات ته خلك صرف د صفونو د شانه راتللے۔ او د جومات نورے دروازے به بندے وے۔

○ په دے کار سره په اولنو صفونو کښے خلل او نیمګړتیا پوره کیږی۔ که د مقتدیانو مخے ته تیریدل جائز نۀ وے نو بیا دا کار نۀ حاصلیدۀ۔

○ که مونځ کونکی ته د وتلو ضرورت راشی نو هغه کولے شی چه په صفونو کښے د مقتدیانو مخے ته تیر شی، که دا نۀ وے نو بیا به ئے انتظار کولے او مونځ به ترے فوت شوے وے۔

۲ – **دویم** : که د امام او د سترے ترمینځه داسے شے تیر شو چه مونځ ماتوی، نو د امام مونځ باطل شو۔ په مقتدیانو لازم دی چه دوئ د هغۀ په ځائے بل امام جوړ کړی، لکه څنګه چه په هغه صورت کښے امام جوړولے شو چه اولنی امام ته څۀ داسے شے راپیښ شوے وے چه د مونځ نه ئے وښکلو۔ او یا دے مقتدیان ځانله ځانله مونځ پوره کړی۔ او د امام د مونځ د ماتیدو د وجے د دوئ مونځ نۀ ماتیږی، ځکه په دے ماتیدو څۀ دلیل نشته۔ او کله چه د امام مونځ مات شو نو په هر مقتدی باندے لازم دی چه د خپل وس مطابق ځانله ستره ودروی، ځکه دا وس د مقتدی کیدو نه ووتۀ۔ البته که دے مقتدیانو بل امام ونیولو نو بیا د امام دپاره ستره ضروری ده، نۀ د مقتدیانو دپاره۔

۳ – **دریم** : کله چه د امام مخے ته هغه شے تیر شی چه هغه د مانځه اجر او ثواب کموی، نو بیا دا ګناه د امام ده هر کله چه د هغے په دفع کولو کښے هغۀ کوتاهی کړے وی، په مقتدیانو هیڅ شے نشته۔

٤ – **څلورم** : د کعبے په چت باندے که مونځ جائز وګڼړل شی، نو د تیریدونکو نه پورته والے به ستره ګڼړل کیږی، هر کله چه دا پورته والے د سترے د اندازے برابر وی۔ دے وجے نه د

لاندې تیریدونکو نه به دا ستره ودرونکې حسابیږي. خو دا خبره ضروري ده چه ددۀ او د کعبې د غاړې مورګې ترمینځه فاصله به درې ګزه یا ددې نه کم وي. دې دپاره چه سترې ته نزدې کیدل موجود شي. اوکه نۀ وي نو ددۀ او د غاړې ترمینځه چه څومره فاصله ده، دا به د شیطان تیریدو دپاره خالي ځائے وي.

٥ – **پنځم** : کله چه څوك دیوال سره په دې شان پیوسته مونځ کوي چه که څوك ددۀ مخې ته تیریږي نو دیوال ئې منع کوي، نو دا کس به هم ستره ودروي، دې دپاره چه د نبوي امر تعمیل وکړې شي. نو دا کس اګرکه د انسان او د حیوان د تیریدو نه په امن دې خو د شیطان تیریدو نه په امن نۀ دې، ځکه شیطان یو نرې جسم لري، عینِ ممکنه ده چه ددۀ او د دیوال ترمینځه تیر شي.

٦ – **شپږم** : که مونځ کونکې وړوکې ماشوم وي، بلوغ ته نۀ وي رسیدلے، نو ددۀ مخې ته هم تیریدل په هیڅ حالت کښې روا نۀ دي. وجه داده چه دا هم د شریعت له مخه مونځ کونکې ګڼرل کیږي. او دا خبره ثابته ده چه ماشوم لویو لویو صحابه کرامو – رضی الله عنهم – ته د نبي اکرم ﷺ په زمانه کښې امامتي کړې. لکه دا حدیث په بخاري او مسلم وغیره کښې ثابت دې. دارنګ دوئ ته د مانځه د امر کولو په حقله امرونه راغلي او په هغې باندې د دوئ وهل راغلي. نو هر کله چه د ماشوم مونځ شرعي مونځ شو، نو ددې هم سپکاوے نۀ دې پکار.

٧ – **اووم** : که مونځ کونکې د هغه ډلو سره تعلق لري چه هغوئ د اسلام نه بهر دي، لکه رافضیان (شیعه ګان) او داسې نور، نو د دوئ مخې ته هم تیریدل مناسب نۀ دي، اګرکه د دوئ دا مونځ، مونځ نۀ دې. وجه داده : کیدې شي چه په دوئ کښې یو کس په خپل زړۀ کښې روغه عقیده لري او ددې د ښکاره کولو نه یریږي او د خپل ژوند د بچ ساتلو دپاره د دوئ نه جدا کیدې نشي. بله دا چه : د دوئ د مانځه مخې ته په تیریدو سره د انسان په زړۀ کښې ددې کبیره ګناه اثر کمیږي. او که دا کار ځینې عوام ووینې نو دا ګمان کوي چه د مونځ ګذار مخې ته تیریدل باك نۀ لري. او یا به دا تیریدونکې انسان په فسق باندې تورن شي او یا به پرې رد وکړې شي او داسې کار به رامنځته شي چه د هغې انجام ښۀ نۀ دې.

او همدا حکم د هغه چا د مانځه هم دې چه شارع د هغۀ مونځ باطل ګڼړلے وي، لکه یو

سړے په داسے حال کښے نفلو ته ودریدۀ چه فرض مونځ دپاره اقامت وکړے شو، نو دا مونځ ددۀ شرعًا مونځ نۀ دے، خو مناسبه ده چه ددۀ مخے ته هم تیریدل ونۀ وکړے شی، دے دپاره چه دغه پورتنئ خرابیانے رامنځته نشی۔ مګر دا که د هغۀ مخے ته په نۀ تیریدو او انتظار کولو سره جماعت ضائع کیدۀ۔ خو بیا هم د هغۀ شاته د تیریدو کوشش پکار دے، ځکه ممکنه ده چه دغه مونځ ګذار ته دا مسئله معلومه وی چه مخے ته تیریدونکی سره جنګ کول جائز دی، نو هغه به د جنګ اراده وکړی۔ دے وجے نه د داسے کارونو نه ځان ساتل ضروری دی۔

٨ – **اتم**: مونځ کونکی باندے لازمه ده چه هر هغه شے منع کړی چه ددۀ مخے ته تیریږی، لکه مخکښے تیر شو۔ البته که داسے شے وی چه د هغے دفع کول او منع کول ګران وی او په سلفو کښے د هیچا نه د هغے د منع کولو کوشش نۀ وی راغلے، لکه واړۀ واړۀ حشرات مثلاً مچ، ماشے، میږے او داسے نور۔

اوکه تیریدونکے شے د جماداتو سره تعلق لری نو هغه په دے حدیث کښے نۀ دے داخل چه (هیڅوك دے نۀ پریدی چه د هغۀ مخے ته تیر شی)۔ ځکه جماد ته (هیڅوك) نۀ ویلے کیږی۔ مثلًا ګیند، والی بال وغیره شو۔ اوکه دائے د اطمینان په توګه منع کړو، نو هم باك نۀ لری۔

٩ – **نهم**: کله چه د مونځ کونکی مخے ته تیریدونکے ښځه یا غیر مکلف ماشوم وی، نو دا به هم مونځ کونکے منع کوی۔ چونکه ښځه د سړی مال اخستل غواړی نو د هغے منع کول د سړی دپاره جائز دی نو د مونځ مرتبه خو د مال نه هم زیاته ده۔ دے وجے نه که سړے په دے منع کولو کښے د ښځے مسه کولو یا نیولو ته محتاجه شو نو په دے کښے په هغۀ باندے هم ګناه نشته هر کله چه هغه د تیریدو ضد وکړی۔ خو بهتره داده چه په دے صورت کښے سړے سترے طرفته ورمخکښے شی تردے چه ښځه د هغۀ شاته تیره شی۔ او د ماشوم منع کول خو آسان دی۔ خوکه بیا هم ماشوم نۀ پوهیدو نو مونځ کونکے به سترے طرفته ورمخکښے شی، لکه څنګه چه دا کار د ځناورو سره کوی۔

١٠ – **لسم**: که مونځ کونکی خپل ځان وخوزولو او ددۀ مخے ته سړے یا بل څوك وو، نو دابه مخے ته تیریدل نۀ ګنړل کیږی، ځکه اعتبار د مونځ ګذار مخے ته تیریدونکی سړی لره دے۔ او دلته د نسبت قوانین نۀ چلیږی۔

د سترے د مسائلو خلاصه او نچوړ

○ ستره يو داسے شے دے چه مونځ کونکے ئے د خپل ځان او تيريدونکو مخے ته ودروی۔
○ د سترے اندازه کم نه کم يو ګز (لاس) دے، يعنی (٤٥) سينتهی ميتر۔ اوکه ددے اندازے والا شے ورته نۀ ملاويږی نو بيا که هر څومره شے خپلے مخے ته ودرول غواړی، ودرولے ئے شی اګرکه خط ولے نۀ وی۔
○ مونځ کونکے به د خپلے سترے نه د درے ګزو د اندازے نه زيات وړاندے نۀ ودريږی۔ که ددے نه زيات شو نو ګنهګار دے او مونځ ئے صحيح دے۔ دومره ده چه ددۀ دا مونځ د شيطان خرابولو ته پيش کړے شوے دے۔ او د سترے ودرولو حکم عام دے، صحراء وی که آبادی، د چا د تيريدو خطره وی اوکه نۀ، په ټولو صورتونو کښے ستره ودرول ضروری دی۔
○ مونځ کونکی مخے ته تيريدل حرام دی، دا هغه لويه ګناه ده چه د اور دپاره سبب ګرځی، برابره خبره ده که مونځ کونکے لوئے وی که ماشوم، ستره ئے ودرولی وی اوکه نه۔ که ستره ئے ودرولی وی نو ددۀ او د سترے ترمينځه تيريدل حرام دی، اوکه نۀ وی ودرولی نو ددۀ د قدم د ځائے نه واخله تر درے ګزو پورے دننه تيريدل حرام دی۔ او د درے ګزو نه اخوا جائز دی۔

دا شان که مونځ کونکے په لاره کښے ولاړ وی که په دروازه کښے، دارنګ تيريدونکی ته بله لاره ملاويږی اوکه نه، په ټولو صورتونو کښے د هغۀ مخے ته تيريدل ګناه ده۔ البته ددے ټولو حالاتو نه مقتدی مستثنیٰ دے۔
○ په دے حکم کښے فرض او نفل ټول برابر دی۔
○ په فرض يا نفل مونځ کونکی باندے واجب دی چه خپلے مخے ته تيريدونکے منع کړی، تيريدونکے انسان وی که حيوان، لوئے وی که وړوکے۔ که دا کارئے ونۀ کړو نو ګنهګار دے۔ او په منع کولو کښے به ترتيب اختياروی۔ تردے که هغۀ سره خبره جنګ جګړے ته ورسيده نو هم خير دے ځکه هغۀ سره شيطان دے۔ البته که د هغۀ د منع کولو قصد ئے

وکړو او هغه پرے زورور شو، نو په دۀ باندے هیڅ شے نشته ان شاء الله تعالیٰ، هر کله ئے چه خپل کوشش کړے وی۔

○ که تیریدونکے ئے دیکه کړو او هغه مړ شو نو وینه ئے توت لاړه، په دیکه کونکی باندے هیڅ شے نشته، نۀ قصاص، نۀ دیت او نۀ کفاره۔

○ که تیریدونکے په تیریدو کښے کامیاب شو، نو که دا په درے شیانو کښے یو شے وی : تور سپے وی یا خر وی او یا بالغه ښځه وی، نو مونځ مات شو۔ او دے مونځ له هیڅ اعتبار نشته، د سره به ئے راګرځوی۔ اوکه تیریدونکے ددے درے شیانو نه سیوا بل شے وی، نو د تیریدو په وجه د مونځ کونکی د مانځه اجر او ثواب کم شو۔

○ په دے حکم کښے مکه او نور ټول ملکونه برابر دی، چه ستره ودرول پکښے واجب دی، د مونځ ګذار مخے ته تیریدل حرام دی، او د تیریدونکی منع کول ضروری دی۔

○ دارنګ په دے احکامو کښے د نارینه او زنانه ترمینځه هم فرق نشته۔

○ په شیطانانو کښے ځینے شیطانان مونځ ماتوی او ځینے نور د هغے اجر او ثواب کموی۔ او د شیطان رد کول، سترے ته په نزدے ودریدو سره راځی۔

○ قبر ستره ګرځول جائز نۀ دی، او هغه شیانو طرفته مونځ کول مکروه دی چه هغه انسان د مانځه نه غافله کوی لکه رنګدار او نور شیان شو۔ او ددے نه سیوا نورو شیانو طرفته مونځ کول مباح دی هر کله چه د حرام شئ سره ګډ شوی نۀ وی۔

دا د سترے یو څو مسائل دی، چه دے سره د سترے وضاحت کیږی او اشکالات اوشبهات ختمیږی۔ ددے نه اندازه لږول پکار دی چه ستره څو مره اهم شے دے! حالانکه زمونږ په دے ملکونو کښے زیاتره مسلمانانو دا مسائل شاته ګذار کړی، بلکه ددے نه ناخبره دی او دا قابلِ تعجب شے ګڼړی !!

دے وجے نه په داعیانو ملګرو دا واجب دی چه په ښائسته طریقے سره ددے مسائلو وضاحت وکړی۔ او توفیق ورکونکے الله تعالیٰ دے۔

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين !

○○○○○○○○

د لوئے الله نه غواړم چه زمونږ د ټولو خاتمه په نیکئ او ښۀ عملونو باندے وګرځوی، او مونږ ټولو له په خپل فضل او کرم سره جنت راکړی او د جنتی حورو خاوندان مو جوړ کړی، او په خپل دربار کښے قرب او جوار رانصیب کړی ! آمین !

وصلی اللّٰه علیٰ نبینا محمد وآله وصحبه أجمعین !

یا الله ! په دے کتاب سره مؤلف، مترجم، لوستونکو، مطالعه کونکو، لیکونکو او ددے په چاپولو کښے مدد کونکو ټولو له نفع ورکړے۔ او ټولو پښتنو ورونو خویندو دپاره ئے د خیر او ښیګړے ذریعه وګرځوے۔ آمین یا رب العالمین !

وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

تاریخ اختتام ترجمه : ٢٧ جمادی الثانية : ١٤٣٣هـ موافق : ١٨ مئ ٢٠١٢ء.

OOOOOOOOO

د دین خالص دریم جلد
پښتو ترجمه پوره شوه

i ﷺj ﷺk i ﷺ

فهرست فتاوى الدين الخالص (۳ جلد)

کتاب المساجد و مواضع الصلاة ٣٥٥

OOOOOOO